فتاوی دارالعلوم دیوبند

پښتو

مکمل او مدلل

له افاداتو

حضرت مفتی عزیز الرحمن عثمانی صاحب

تر هدایت لاندې

حکیم الاسلام حضرت مولانا محمد طیب صاحب

ترتیب

مولانا محمد ظفیر الدین صاحب

تخریج او نوي زیاتونه

مولانا محمد یامین صاحب

خپرونکي

محمد ساجد

مکتبه رشیدیه

سرکي روډ کوټه

بسم الله الرحمن الرحيم

مکمل اومدلل

ددارالعلوم دیوبندفتاوی

څورلسم ټوک

ترتیب کوونکي

محمدامین پالن پوري

خپروونکې

رشیدیه کتابخانه سرکي روډ کوټه

د کتاب پیژندنه

دکتاب نوم: **ددارالعلوم دیوبندفتاوی (څورلسم ټوک)**
له افاداتو: د مولوي مفتي حضرت مولانا عزیزالرحمن (عثماني) صاحب
ترتیب کوونکی: محمدامین پالن پوری صاحب
پښتوژباړه: مولنا مفتي محمد ابراهیم صاحب
دکمپیوزاوترجمې چارې: دنورالقرآن اداري دکمپیوزاوترجمې څانګه کاسي روډ کوټه.
کمپوزر: مولوي سفرمحمد(عابد)
خپروونکې: رشیدیه کتابخانه سرکي روډ کوټه.
چاپوونکی: الحاج محمد ساجد.
چاپ ځای: لاهور.
چاپ کال: ۲۰۱۰ داکتوبرمیاشت.

یادونه: ددې کتاب په اړه ددوهم ځل چاپولوپروخت تاسودهرډول غوښتنې اومشورې په صورت کې له موږسره په دې نمبررابطه کولای شئ.

(۱) رشیدیه کتاب خانه: ۰۸۱۲۲۲۳۳.
(۲) الحاج محمد ساجد..........: ۰۳۳۳۷۸۲۵۴۸۴.

ارشد سلمان وہاب پرنٹرز لاہور

په دارالا فتاووکې دوخت درواج شويونسخوبرابرله تخريجه سره په روانه اومعياري پښتوژبه له اردوژبې څخه ژباړل شوې بشپړه اومکمله نوې کمپيوټري نسخه:

ددار العلوم ديوبند فتاوى

له نويوزيادتونو سره

خورلسم ټوک

كتاب البيع

له افاداتو

دلوئ مفتي عارف بالله ددارالعلوم ديوبندلومړی مفتي

حضرت مفتي عزيزالرحمن عثماني صاحب

ترهدايت لاندي

ددرالعلوم ديوبنددمهتمم حكيم الاسلا م حضرت مولا نا محمدطيب صاحب

ترتيب

ددیوبنددرالعلوم فتاوى دترتيب دشعبې دمشرمولا نا محمدظفيرالدين صاحب

تخريج اونوې زياتونه

دملتان دجامعه خيرالمدارس دفاضل مولنامحمديامين صاحب

خپروونکې

رشيديه كتاب خانه سركي روډ كوټه.

بسم الله الرحمن الرحیم

د څورلسم ټوک د مضا مینو فهرس

دوقف پاته کتاب

Scanned with CamScanner

بسم الله الرحمن الرحيم

دترتیب کوونکې وینا

الحمد لله وکفی وسلامٌ علی عباده الذین اصطفی اما بعد:

له ډیري اوږدې مودې وروسته دفتاوی دارالعلوم دېوبند دیارلسم ټوک درې میا شتې مخکې خپورسوی ووچي پکې دشراکت، ویش، مضاربت اووقف مسئلې دي اوس څورلسم ټوک خوزیږي په دې کې دوقف پاته مسئلې، دمسجدونوآد اب، دقرآن کریم آداب، دهدیرې آداب، درانیولواوخرڅولو مسئلې اودسود، خماراوبیمې حکمونه دي.

ددیارلسم ټوک په څیرپه دې ټوک کې هم موږدهرسوال په پای کې دلړی شمیره اوهجرې سنه لیکلې ده ترڅوک وروسته اړتیاسې نوپه مراجعت کولوکې آساني وي اوکومې فتاواوې چي په عربي یافارسي وي دهغوئ موپه اردوکې ترجمه کړې ده اودنا مشهوروټکومودقوسینوپه مینځ کې یاپه حاشیه کې لنډه څرګند ونه کړې ده ترڅوعام لوستې هم دمفتي صاحب له فتواووڅخه استفاده وکړي دارازپه عنوانونواودترقیم په ښبوموټولې فتاواوې ښکلې کړې دي اوچیري چي موا اړتیا محسوسه کړې ده په حاشیه کې موحوالې ورکړې دي اودمفتي صاحب دحوالوتخریج موکړی دی.

لنډه داچي بنده اودبنده دواړومرسته کونکیومفتي مصطفی امین پالن پورې سلمه اومفتي محمدیونس دهلوي سلمه ددغه ټوک له غوره څخه غوره جوړولو پوره هڅه کړې ده اودتصحیح موپوره اهتمام کړی دی له دې سره، سره دغلطیو احتمال سته، ځکه وګرانولوستونکیوته عرض دی چي که چیري کومه غلطي په نظردرشي نوموږته دې خبرتیاراکړي ترڅوپه بل چاپ کې یې تصحیح کړو.

دمخکي ټوک په څيرچي کله داټوک پوره شونومونږ دادحضرت مولانامفتی سعيداحمدصاحب پالن پوري شيخ الحديث اوصدرالمدرسين دارالعلوم دېوبنددامت برکاتهم په خدمت کې وړاندې کړکوم چي زمونږ دکارعلمي څارنه کوي نومونږ ددرس اوتصنيف بوختياووسره ،سره ټوله فتاوی په غوروکته اوپه ګڼ شميرځايونوکې يې ارزښتناکې حاشيې ورباندي وليکلې دنومونږ ترکتنې اوتصويب وروسته دغه ټوک خوريږي.

په پای کې مونږدشوری دټولوغړيوپه تيره بيادحضرت مولانامرغوب الرحمن صاحب ،حضرت مولاناغلام رسول صاحب خاموش ،حضرت مولاناعبدالحق صاحب مدارسي ،حضرت مولانابدرالدين صاحب اجمل اوحضرت مولاناسعيد احمدصاحب پالن پوري دامت برکاتهم العاليه ته دزړه له کومې مننه وايوچي ددغوبزرګانوپه توجهاتواوپه ښکلوهڅودفتاوی دغه ټوک په عام منظرراوان دی الله رب العزت دې ددوئ دمهرباني سايه اوږده کړي

آمين يارب العالمين محمدامين پالن پوری
۲۲/ربيع الثانی سنه ۱۴۳۰ھ

باته کتاب الوقف

دمسجدونولپاره دنامسلمان دورکړې حکم

دمسجدونولپاره دنامسلمان ورکړې دوه قسمه دي نقل کيدوونکی شيان اوجائيدادپه لومړی مسئله کي په فتاواوکې اختلا ف نشته يعنی که کوم نامسلمان روپۍ ،ډيوه (څراغ) ،بوری (پوزی) په نيت دثواب مسجدته ورکړي نودهغه په مسجدکې صرفول صحيح دي په ټولوفتاواوکې همداخبره ده اوکه دشرم په وجه يادخلګوله پېغوره يې ورکړي نوددې په مسجدکې صرفول جائزنه دي.

اوپه دوهمه مسئله کې يعنی نامسلمان کوم جائيدادومسجدته وقف کړي يامسجدجوړ کړي مسلمانانوته يې وسپاري يايې پخپله متولي شي ددې په هکله په فتاواوکي اختلا ف دی په ځينوکې دې ته هم صحيح ويل شوې دي اوپه ځينوکې يې صحيح نه دې ورته ويلې اوپه فتوی شميره: ۸۱۹کې تفصيل دی اوداختلا ف وجه داده چي دامنل شوی اصل دی چي که نامسلمان دقربت (ثواب) په نيت يعنی دثواب کارېې وبولې ورېې کړي نوصحيح دی په لومړی مسئله کي يې همدې اصل ته اعتبارورکړی دی خوپه دوهمه مسئله کې خبره په دې کې ده چي اعتباردنامسلمان ورأيه اوعقيدې ته ده که دده ومذهب ته ؟ دنامسلمان په رأيه مسجدجوړول دثواب کارکېدلای شي خودده دمذهب له مخې داقربت نه دی که اولې خبرې ته اعتبارورکړل شي وقف صحيح کيږي اوپه دوهم صورت کې وقف نه صحيح کيږي ،ځکه فتاواوې بيلابېلې شوې چااولې خبرې اعتبارکړی دی دجوازحکم يې ورباندي لګولی دی اوپه زياتره فتاواوو کې ددوهمې خبرې اعتبارکړی دی دناجائزوالې حکم يې ورباندي لګولی دی.

خوپه فتاوی رشيديه (مخ : ۵۳۷، جسيم) اونوروکې دي چي دامسجدګرځي يعنی حضرت ګنګوهي قدس سره اونورو

دنامسلمان ورأيې ته اعتبارورکړی دی دده دمذهب اعتبارېږي نه دی کړی اوپه امدادالفتاوی(۲ / ۶۲۷زکريا) کې ودوهمې ته ترجيح ورکړې ده اودنامسلمان دمذهب له مخې مسجدجوړول دثواب کارنشي کيدای نوداسي وقف صحيح نه دی خوکله چي په اوله مسئله کې دده ورأيې ته اعتبارورکړی دی نوپه دوهمه مسئله کې هم دده ورأيې ته اعتباربايدورکول شي ،ځکه په کفايت المفتی اونوروکې يې دوقف صحيح کېدو فتوی ورکړې ده.

امادقربت اوثوابه څخه پرته يې بل اړخ ته هم کتل پکاردي هغه داچي دنامسلما ن يادده دقول له لورې دامتنان (پېغورولو) اندېښنه نه وي که داسي اندېښنه وي چي په آينده کې دوئ ويلای شي چي دامسجدموږجوړکړی دی نودوقف په اړه احتياط غوره دی دارازدنامسلمان دمسجدلپاره غټه چنده وي اويادشوی احتمال وي نوهم احتياط کول پکاردي اوداسي چنده قبلول پکارنه دي اوپه بې ازرښته شيانواولږچنده کې دااندېښنه نشته نوددې قبلول کومه پروانلري ۱۲ سعيداحمدپالن پوري)

دمسجدپه ودانې کې دهندوروپۍ صرفول څرنګه دي ؟

سوال (۸۰۱) دمسجدپه تعميرکې که هندوځه روپۍ ورکړي نوصرفول يې صحيح دي ،که نه ؟ له [ماکان للمشرکين ان يعمروامساجدالله] (سورة توبه آيت : ۱۷) څخه څه مراددي ؟(۷۷۴/ ۱۳۳۷ھ)

جواب دآيت کريمه : [ماکان للمشرکين ان يعمروامساجدالله الآية] (سورة توبه آيت ۱۷) حاصل همدومره دي چې مشرکان تعميردمسجدنه کوي اومشر کانوته دانه ښايي ، نورکه کفارثواب وبولي دمسجدتېل ، صفونه ، کوزې اونورورکړي يادمسجدپه ودانولوکې روپۍ ورکړي نوددې منع نشته اوحنفي فقهاء دکافردوقف دجائز کېدو داشرط ليکلی دی چي دمسلمانانوپه نزداودد وئ په نزددهغه تقرب اوثواب وي(۱)

دهندودجوړکړې مسجدحکم

سوال:(۸۰۲) دهندوپه جوړکړې مسجدکې لمونځ جائزدی ،که نه ؟(۱۹۲۲/ ۱۳۴۰ھ)

ځواب : دهندوجوړکړی مسجداوعيدګاه نشي وقف کېدای ولې چي دهندوو مسجداونوروته وقف کول صحيح نه دي ،ځکه ده ته په کاروچي روپۍ يې ومسلمان ته ورکړې وای په هغه باندې يې عيدګاه جوړه کړې.البته لمونځ پکښې کيدای سي

(۱)ان شرط وقف الذمی ان يکون قربة عندناوعندهم(الشامی ۲/ ۴۱۰شرائط الوقف

سوال (۸۰۳) که کوم کافرپه هندوستان کې دثواب په نيت يادمسلمانانودخوا خوږۍ په غرض مسجدجوړکړي اودهغه اهتمام اوانتظام پخپل لاس کې واخلي يادمسلمانانودمصالحوپه نظرساتلوله امله دده ټول حقوق ومسلمانانوته وسپاري نوآيادآيت کريمه [ما کان للمشرکين ان يعمروامساجدالله] (سورة توبه: آيت ۱۷] دعموم په وجه داسي مسجددمسجدپه حکم کې بلل کيږي ؟اولمونځ پکي رواکيږي ،که نه ؟(۲۵۸۸/ ۱۳۴۰ھ)

ځواب داسي مسجددمسجدپه حکم کې نه دی اودشرعي مسجدحکم دده لپاره نشته اوکوم ثواب چي په مسجدکې دلمانځه کولودی هغه په دې کې نه حاصليږي که څه هم لمونځ خوبه وشي لکه چي صاحب دتفسيراحمدي (۱) ددې څرګندونه فرمايلې ده قوله تعالی [مَاکَانَ لِلْمُشْرِکِيْنَ اَنْ يَعْمُرُوْامَسَاجِدَاللهِ الاية] والمعنی ماصح للمشرکين وما استقام لهم تعميرالمساجدحال کونهم شاهدين علی انفسهم بالکفريعنی لايستقيم لهم الجمع بين المتنافيين : عمارة بيت الله وعمارة غيره انمايعمرمساجدالله من آمن بالله واليوم الآ خرواقام الصلوة وآتی الزکوة ولم يخش الا الله ای المؤمنون الجامعون للکمالات العلمية والعملية فالمقصودان الله تعالی منع المشرکين

(۱) دالتفسيرات الاحمدية فی بيان الآ يات الشرعية دليکوال نوم احمددی اودپلارنوم يې ابوسعيددی دملاجيون په لقب مشهوردی دده دنسب لړۍ دلومړي خليفه ښاغلی ابوبکرصديق رضی الله عنه سره يوځای کيږي دده دنيکه ګانواصل وطن مکه معظمه ده بيادده کورنۍ هندوستان ته راغله دلکهنوپه شاوخوادرأی بريلي ولسوالي دامېټي په کلي کې اباده شوه ملاجيون په همدغه امېټي کلي کي په (سنه ۱۰۴۸هج) کي پيداشوی دېرساده ،خاکسار،له ځان ښکارونې څخه نابلده اوديادانښت په قوت کې يوازي وواودارازدسلطان اورنګ زېب عالمګيررحمه الله دی استاذووده ده له تصنيفاتوڅخه التفسيرات الاحمديه فی بيان الآيات الشرعيه ډيرمشهوراومقبول دی اوتردېرې مودې په درس کې داخل وواوپه هندوستان کې ترتولومخکې دقرآن داحکاموپرموضوع باندي ده داکتاب وليکی چي پکې ده دکم اوزياتوپنځه سوه آياتونوتشريح دحنفي مذهب له مخې وکړه اودخوندخبره لاداده چي نوموړی دطالبۍ په زمانه کې داليکلی دی لکه چي دکتاب په پای کې پخپله نوموړی بيان کوي اوله دې پرته يې نورهم ډيرتصنيفونه شته چي پکې نورالانوارشرح المناردده ژوندی يادوګاردی چي نن هم په نصاب درس کې داخل دی دی په سنه (۱۱۳۰هج) په دهلی کې وفات شو [اناالله واناالیه راجعون] الله رب العزت دې ده ته په جنت الفردوس کې لوړمقام ورکړي آمين.

عن تعمیرالمساجدحال کونهم علی الشرک [الی ان قال] فان ارادکافران یبنی مساجداویعمرهایمنع منه وهوالمفهوم من النص وان لم یدل علیه روایة الخ (۱) (ص : ۲۴۰ تفسیراحمدی) وقال فی ردالمحتار: [ان شرط وقف الذمی ان یکون قربة عندناوعندهم الخ (۲) وقال قبیله : [مالووقف الذمی علی حج اوعمرة مع انه لایصح الخ (۲) له دغوعبارتونوڅخه ښکاره ده چي دکافرمسجدوقف کول یامسجدجوړول اوترمیمول صحیح نه دي اوهغه مسجدنه ګرځي فقط.

سوال (۸۰۴) دهندوپه محکه کې دده بې اجازې یومسجدجوړکړل شوداشرعی مسجددی ،که نه ؟

ب: که هغه هندودغه محکه اوس وقف کړي نومسجدبه شرعي شي اوکه نه ؟

ج : که دغه ځای چې دهندوملک دی کوم مسلمان له ده څخه رانیسي وقف یې کړي نوشرعاً څه حکم دی ؟(۱۷۲۰/ ۳۲- ۱۳۳۳ه)

ځواب په اول اودوهم صورت کې داشرعی مسجدنشو، په اول صورت کې خوښکاره دی اوپه دوهم صورت کې ،ځکه چې وقف کول دهندودمسجدلپاره صحیح نه دی په دریم صورت کې وقف صحیح کیږي اومسجدشرعی مسجد ګرځي.

سوال (۸۰۵) یوهندواراده لري چې مسجدجوړکړي خوددې ځای علماء اونورخلګ وایې چې په دغه مسجدکې دمسلمانانولمونځ نه کیږي ،ځکه چې دی هندودی دده ګټه ناروادده دنده شراب خرڅول دي اودمکانونوکرایه هم ده په دې اړه چې څه وفرمایې هماغسي به عملي کیږي(۱۰۵۵/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

ځواب : دهندودامدنی په اړه خوڅه بحث کولوته اړتیانشته ،ځکه چې دشراب خرڅولواونوروآمدني دده په هکله صحیح ده کله که دی ومسلمانانوته له دغه آمدني څخه څه ورکړي

(۱) التسفیرات الاحمدیة فی بیان الآ یات الشرعیة ص : ۲۶۳- ۲۶۴سورة البراة المطبوعة : مطبع اخوان الصفاء . (۲) الشامی : کتاب الوقف ،شرائط الوقف ۳/ ۳۹۲ط رشیدیه.

نوددوئ لپاره هم حَلاله ده خودهندوجوړکړی مسجدشرعی مسجدنه دی ،ځکه چې ددې صورت داکېدای شي چې دغه هندوکوم مسلمان ته روپۍ وبخښي اوهغه مسلمان که یووي اوکه څوک کسان وي په دغوروپیومسجدجوړکړي اووقف یې کړي نوداڅه پروانلري هغه به شرعي مسجدشي قال فی ردالمحتار: ان شرط وقف الذمی ان یکون قربة عندناوعندهم کالوقف علی الفقراء اوعلی مسجدالقدس بخلا ف الوقف علی بیعة فانه قربة عندهم فقط اوعلی حج اوعمرة فانه قربة عندنافقط فافادان هذاشرط لوقف الذمی فقط لان وقف المسلم لایشترط کونه قربة عندهم بل عندناکوقفناعلی حج وعمرة بخلا فه علی بیعة فانه غیرقربة عندنابل عندهم (۱) فقط.

دهندوپرورکړې محکه دمسجدجوړولوحکم

سوال (۸۰۶) هندودخپل کلي وټولومسلمانانوته یوه ټوټه محکه هبه کړه اووایې چې ستاسواختیاردی چې څه پرجوړوئ پرجوړیې کړئ.نوپردغه محکه دمسجدجوړول جائزدي ،که نه ؟(۱۳۴۵/۳۰۹۳)

ځواب په دې صورت کې مسلمانان پردغه محکه وروسته له مالک جوړېدو مسجدجوړولای شي اودابه دمسلمانانوله لورې وقف وي نوشرعی مسجد ګرځي لنډه داچې دمسلمانانوپه ملک کې راتلل اودمسلمانانوله لورې مسجد کېدل اووقف کېدل ضروري دی خودارازهبه خودمشاع دهبه (۲) کېدوپه وجه صحیح نه وي ،ځکه دجائزکېدوطریقه داده چې دهبې پرځای ددغه هندوله لورې بیع وي اوکوم مسلمانان چې مشتریان (رانیوونکې) وي دهغوئ نومونه معلوم وي که څه هم هرڅومره وي خومعلوم وي اوکه هبه وي توبیادې دیومسلمان په نوم وي هغه دې قبضه ورباندې وکړي له خپل لورې دې مسجدورباندې جوړکړي فقط.

سوال (۸۰۷) زیدویوه هندوته وویل چې ماته دمسجدجوړولولپاره یوه ټوټه محکه راکړه هغه په هبه کې بې له کومې هبې پانې اوبې له قوالې له لیکنې دخولې په وینا یوه ټوټه محکه وده ته ورکړه زیدپه دغه محکه کې جامع مسجدجوړکړ اوپخپله ددغه مسجدوقف کوونکې اومتولي شواوله دوودرېیوکلوراهسې لمونځ کوونکې پکې

(۱) الشامی کتاب الوقف-شرائط الوقف ۳/ ۳۹۴ط رشیدیه.
(۲) مشاع یعنی مشترک (ګډ) کله چې هبه کوونکی محکه دکلې وټولومسلما نانوته هبه کړه ،ځکه داهبه دمشاع ده سعیداحمد.

دجمعې لمونځ اداکوي اودارازد مځکې مالک داشرط لګولی ووچي کله زماورته ضرورت وي یازمازړه وغواړي نومسجدبه له دې ځایه پورته کوم اومځکه به پخپل تصرف کې راولم آیاپه دې کې لمونځ صحیح کیږي ، که نه ؟ (۷۰/ ۱۳۴۲هج).

ځواب که دغه هندودادمځکې ټوټه وزیدته هبه (وبخښي) لکه چي په سوال کې لیکلې دي اوبیازیدپه دې کې مسجدجوړکړاووقف یې کړنوداوقف صحیح شو اوهغه مسجدشولمونځ پکې صحیح دی اوهبه په فاسدوشرطونونه باطلیږي [والهبة لاتبطل بالشروط(۱) (درمختار) اوکله چي دهندوهبه دزیدپه نامه صحیح شوه نوزیدددغه ټوټې مځکې مالک شو ،ځکه نودده دخپلې مملوکه مځکې وقف کول په اتفاق سره صحیح شو کمافی الشامی : افادان الواقف لابدان یکون مالکا له وقت الوقف ملکاباتاولوبسبب فاسدالخ (۲) .

دهندوپه وقف کړې مځکه کې دمسجدجوړولواوپکې دلمونځ کولوحکم

سوال (۸۰۸) په هندوباندې مځکه وقف کړه مسجدیې ورباندې جوړکړپه دغه مسجدکې دجمعې لمونځ اوپنځه وخته لمونځ جائزدی اوکه نه ؟(۱۴۱۹/ ۱۳۴۵هج)

ځواب دهندووقف دمسجدلپاره صحیح دی ،ځکه چي دکافروقف هغه وخت صحیح کیږي چي دکوم کارلپاره دی وقف کړي هغه دده په نزداوزموږپه نزدپه اتفاق سره دقربت اوثواب کاروي لکه چي په ردالمحتارکې ددرمختاردقول [وان یکون قربةً فی ذاته الخ] په شرح کې لیکلې دي [لمافی البحروغیره : ان شرط وقف الذمی ان یکون قربة عندناوعندهم الخ(۳) نوردجمعې اونورلمونځ په دې کې صحیح دی وقف که صحیح وي اوکه نه وي اومسجدکه وي اوکه نه وي ،ځکه چي دجمعې اوپنځه وخته لمونځونوجائزکېدولپاره دمسجدکېدل اودهغه ځای وقف کېدل شرط نه دی اودمالک اجازه ښکاره ده چي شته فقط.

(۱) وحکمهاانهالاتبطل بالشروط الفاسدة (الدرمع الرد (۴/ ۵۲۷) اوائل کتاب الهبة ط رشیدیة (۲) الشامی (۳/ ۳۹۴) کتاب الوقف شرائط الوقف ط رشیدیه(۳) الدرمع الرد((۳/ ۳۹۴) کتاب الوقف ، شرائط الوقف ط رشیدیه.

دهندوپه روپیو دمسجدترمیمول څرنګه دی ؟

سوال (۸۰۹) یومسجدجوړښت غواړي یوهندودترمیمولولپاره څه روپۍ ورکول غواړي په دغوروپونړول شوی مسجدجوړول جائزدی ، که نه ؟(۱۵۲۲/ ۱۳۴۳)

ځواب دهندوروپۍ په مسجدکې لګول صحیح دی کله چي دی دادخیرکاربولي روپۍ ورکوي چي په دې شرط باندې په شامي کې دکافروقف هم جائزلیکلی دی چي کوم کاردمسلمانانوپه نزدهم قربت وي اودکافرانوپه نزدهم دقربت اوثواب کاروي په هغه کې دهندووقف صحیح دی اودروپیوپه مسجدکې لګولودجوازپه هکله بل تاویل هم دجائزکېدوکیدلای شي هغه داچي هندومسلمان ته روپۍ ورکړي ترڅومسلمان هغه په مسجدکې ولګوي فقط.

دنامسلمان ومسجدیامدرسې ته دروپیوورکولواوجائدادوفقولوحکم

سوال (۸۱۰) ومسجدیااسلامی مدرسه ته کوم هندویاهندوانۍ روپۍ ورکړي یاکوم جائدادوقف کړي نوداشرعاً صحیح دی اوکه نه ؟ دناجائزوالي په صورت کې اوس په دې جائدادڅه وکړو ؟(۹۱۲/ ۱۳۳۸هج)

ځواب روپۍ که درکړي نوپه مدرسه اومسجدکې یې صرفول صحیح دي اووقف دکافرومسجداومدرسې ته صحیح نه دی هغه وقف کړي جائداد همدغه کافرملک دی ددې صورت دجوازداکېدلای شي چي دغه هندوکوم مسلمان ددې جائدادمالک جوړکړي بیاهغه مسلمان دادمسجداونورولپاره وقف کړي.

دهندوپه مسجدکې دلمانځه کولولپاره درۍ ورکول

سوال (۸۱۱) څه هندویم ، مایوه سطرنجي (درۍ) په مسجدکې دلمانځه کولو لپاره ورکړې وه خومسلمانانوبیرته راواپس کړه حال داچي څه نه سوداخلم اونه بت لمانځنه اونورکوم (۲۳۸/ ۳۳-۱۳۳۴ه)

ځواب ددغه سرتنجۍ په مسجدکې هموارول اوورباندې لمونځ کول صحیح دی مسجدوالوته پکاروو چي دادرۍ یې واپس کړې نه وای.

دکافردمسجد لپاره کوزې اوفرشونه ورکول

سوال : (۸۱۲) کافرکه پخپلوروپو مسجد جوړکړي یاپه کوم مسجدکې کوزه ،فش اونوردمسجد دخرڅ لپاره ورکړي نوڅه حکم دی (۱۴۲/ ۳۶ـ۱۳۳۶هج)

ځواب : په شامی کې راغلې دي چي دکافردوقف دصحیح کېدوشرط دادی چي هغه کاردثواب وي ددوئ په نزدهم اودمسلمانانوپه نزدهم لمافی فی البحروغیره ان شرط وقف الذمی ان یکون قربة عندناوعندهم کالوقف علی الفقراء اوعلی مسجد القدس بخلاف الوقف علی بیعة بانه قربة عندهم فقط اوعلی حج اوعمرة فانه قربة عندنافقط الخ (۱) په همدې وجه دکافرپه مسجدجوړولووقف کول صحیح نه دي خوکه فرش ورکړي نوجائزدی ،ځکه چي داکارونه دوئ تقریب اوثواب بولي.

په مسجدکې دبلولولپاره دکاډیوه (څراغ) ورکول

سوال : (۸۱۳) الف : که کوم سړی له هندوانواومشرکانوڅخه له خپل طرفه روغن اونورورکړي په کوم مسجدکي څراغ په بل کړي نوداکارشرعاجائزدی ،که نه ؟
(ب) که دوئ دڅراغ (ډیوې) بلولوپه وجه ومؤذن ته هم څه روپۍ ورکړي نودمؤذن لپاره اخستل اوپه خپل کارکې کارول صحیح دی ،که نه ؟(۱۲۰۰ / ۱۳۴۲)

ځواب : لایف) کافرکه مسجد ته تېل دبلولولپاره ورکړي نودهغه اخستل اوپه مسجدکې بلول صحیح دي.
(ب) دمسجد دمؤذن لپاره دغه روپۍ اخستل اوپه خپل کارکې یې استعمالول صحیح اوجائزدي فقط.

دمسجدپه څلوردېوالې کې دهندوتالاب اوڅاه جوړول

سوال : (۸۱۳) یوه هندو دمسجد په څلوردېوالې کې یوتالاب دلمونځ کونکیو لپاره اویوه څاه پخپل ځاني خرڅ جوړول غواړې ،مسلمانان ودغه هندوته ددې کاراجازه کولای شي ،کنه ؟(۲۷۲۵/ ۱۳۴۵)

(۱) الشامی (۳۹۴/۳) کتاب الوقف-شرائط الوقف ط رشیدیه.

ځواب : داڅه پروانلري ،ځکه چي دغه هندوهمداکارپه ثواب ګڼلوکوي اود مسلما نانوپه مذهب کي همداکاردثواب اوقربت دی ،ځکه نودشامی دلاندي لیکلې عبارت په باعث داوقف صحیح دی لمافی البحروغیره [ان شرط وقف الذمی ان یکون قربة عندناوعندهم کالوقف علی الفقراء اوعلی مسجدالقدس الخ (۱) فقط.

د هندوڅه مځکه ومسجدته ورداخلول

سوال : (۸۱۵) زیدقصدادیونامسلمان هندومځکه بېله اجازې اوبېله رضاو مسجد ته ورګډه کړه اندازاله شلوکالوراهیسي په مسجدکي لمونځ کیږي دزیدله وفات وروسته دامعامله دده له وارثانوڅخه معلومه شوه په دې صورت کې په مسجدکې لمونځ جائزدی ،کنه ؟ اودمسجد پرځای پرېښودولپاره ددغه نامسلمان خوشحالول پکاردي ،که نه ؟ (۱۴۹۷/ هج ۱۳۴۳)

ځواب : که داتحقیق وشي اوپه شرعي طریقه ثابت شي چي دهندوڅه مځکه ومسجد ته ورګډه کړل شوې ده نوله دغه هندوڅخه یادده له وارثانوڅخه دغه مځکه رانیسي یااجازه ځیني واخلي معامله صفاکړي نورنودزیددوارثانوپه وینا ددې خبرې یقین مه کوئ چي مسجد ته دهندومځکه ورداخله کړې ده اولمونځ پکې صحیح دی فقط.

دهندودوقف کړې مځکې امدني دمسجدپه اړتیاووکې لګول

سوال : (۸۱۲) یوهندومځکه دنکوړمسجدلپاره وقف کړې ده اودوقف په پاڼه کې یې څرګنداختیاورکړی دی چي دوقف کړې مځکې آمدني یې په مسجدکې لګوي اودمسافرولپاره مکانونه تعمیرکړي امامسجدپه دې ځای کې مه جوړوئ آیاپه دغه صورت کې ددغه وقف کړې مځکې آمدني دمسجدپه اړتیاوو کې لګول شرعاً جائزدي ،که نه ؟(۹۴۰/ ۱۳۴۰)

ځواب : دفقهې په روایتونوسره دکافروقف کول دمسجدلپاره صحیح نه دی یعنی کوم صورت چي په سوال کې لیکل شوی دی چي ددغه وقف کړې مځکې آمدني په مسجدکې ولګوي

(۱) الشامی (۳۹۴/۳) کتاب الوقف-شرائط الوقف ط رشیدیه.

دکافردمسجد لپاره کوزې اوفرشونه ورکول

سوال : (۸۱۲) کافرکه پخپلوروپو مسجدجوړکړي یاپه کوم مسجدکې کوزه ،فش اونوردمسجددخرڅ لپاره ورکړي نوڅه حکم دی (۱۴۲/ ۳۶_۱۳۳۶هج)

ځواب : په شامی کې راغلې دي چي دکافردوقف دصحیح کېدوشرط دادی چي هغه کاردثواب وي ددوئ په نزدهم اودمسلمانانوپه نزدهم لمافی فی البحروغیره ان شرط وقف الذمی ان یکون قربة عندناوعندهم کالوقف علی الفقراء اوعلی مسجدالقدس بخلاف الوقف علی بیعة بانه قربة عندهم فقط اوعلی حج اوعمرة فانه قربة عندنافقط الخ (۱) په همدې وجه دکافرپه مسجدجوړولووقف کول صحیح نه دي خوکه فرش ورکړي نوجائزدی ،ځکه چي داکارونه دوئ تقریب اوثواب بولي.

په مسجدکې دبلولولپاره دکاډیوه (څراغ) ورکول

سوال : (۸۱۳) الف : که کوم سړی له هندوانواومشرکانوڅخه له خپل طرفه روغن اونورورکړي په کوم مسجدکي څراغ په بل کړي نوداکارشرعاجائزدی ،که نه ؟

(ب) که دوئ دڅراغ (ډیوې) بلولوپه وجه ومؤذن ته هم څه روپۍ ورکړي نودمؤذن لپاره اخستل اوپه خپل کارکې کارول صحیح دی ، که نه ؟(۱۲۰۰ / ۱۳۴۲)

ځواب لایف) کافرکه مسجدته تېل دبلولولپاره ورکړي نودهغه اخستل اوپه مسجدکې بلول صحیح دي.

(ب) دمسجددمؤذن لپاره دغه روپۍ اخستل اوپه خپل کارکې یې استعمالول صحیح اوجائزدي فقط.

دمسجدپه څلوردېوالې کې دهندوتالاب اوڅاه جوړول

سوال : (۸۱۳) یوه هندودمسجدپه څلوردېوالې کې یوتالاب دلمونځ کونکیو لپاره اویوه څاه پخپل ځاني خرڅ جوړول غواړې ،مسلمانان ودغه هندوته ددې کاراجازه کولای شي ،کنه ؟(۱۳۴۵/۲۷۲۵)

(۱) الشامی (۳۹۴/۳) کتاب الوقف–شرائط الوقف ط رشیدیه.

ځواب : داڅه پروانلري ،ځکه چي دغه هندوهمداکارپه ثواب ګڼلوکوي اود مسلمانانوپه مذهب کې همداکاردثواب اوقربت دی ،ځکه نودشامی دلاندې لیکلې عبارت په باعث داوقف صحیح دی لمافی البحروغیره [ان شرط وقف الذمی ان یکون قربة عندناوعندهم کالوقف علی الفقراء اوعلی مسجدالقدس الخ (۱) فقط.

د هندوڅه مځکه ومسجدته ورداخلول

سوال : (۸۱۵) زیدقصدادیونامسلمان هندومځکه بېله اجازې اوبېله رضاو مسجدته ورګډه کړه اندازاله شلوکالوراهیسي په مسجدکې لمونځ کیږي دزیدله وفات وروسته دامعامله دده له وارثانوڅخه معلومه شوه په دې صورت کې په مسجدکې لمونځ جائزدی ،کنه ؟ اودمسجد پرځای پرېښودولپاره ددغه نامسلمان خوشحالول پکاردي ،که نه ؟(۱۴۹۷/ هج ۱۳۴۳)

ځواب : که داتحقیق وشي اوپه شرعي طریقه ثابت شي چي دهندوڅه مځکه ومسجدته ورګډه کړل شوې ده نوله دغه هندوڅخه یادده له وارثانوڅخه دغه مځکه رانیسي یااجازه ځیني واخلي معامله صفاکړي نورنودزیددوارثانوپه وینا ددې خبرې یقین مه کوئ چي مسجدته دهندومځکه ورداخله کړې ده اولمونځ پکې صحیح دی فقط.

دهندودوقف کړې مځکې امدني دمسجدپه اړتیاووکې لګول

سوال : (۸۱۶) یوهندومځکه دنکوړمسجدلپاره وقف کړې ده اودوقف په پاڼه کې یې ښکارند اختیارورکړی دی چي دوقف کړې مځکې آمدني یې په مسجدکې لګوي اودمسافرولپاره مکانونه تعمیرکړي امامسجدپه دې ځای کې مه جوړوئ آیاپه دغه صورت کې ددغه وقف کړې مځکې آمدني دمسجدپه اړتیاوو کې لګول شرعاً جائزدي ،که نه ؟(۱۳۴۰/۹۴۰)

ځواب : دفقهې په روایتونوسره دکافروقف کول دمسجدلپاره صحیح نه دی یعنی کوم صورت چي په سوال کې لیکل شوی دی چي ددغه وقف کړې مځکې آمدني په مسجدکې ولګوي

(۱) الشامی (۳۹۴/۳) کتاب الوقف–شرائط الوقف ط رشیدیه.

داوقف صحیح نه دی امادديِ دجائزېدوداصورت اوس کېدای شي چي دغه مځکه خوتراوسه وقف شوې نه ده اودهمدغه هندوملک ده ،ځکه ده ته دې داوويل شي چي کوم معتبرمسلمان ددې مسلمان ددې مالک جوړکړه چي هغه يې بباله خپل طرفه ومسجد ته وقف کړي – فقط

دهندوپروقف کړې مځکه دجوړشوې مسجدحکم

سوال: (۸۱۷) مسلمانانودمځکې ومالک هندوته دمسجدجوړولوخواست وکړهغه اجازه ورکړه اوپرچه يې ورولیکله مسلمانانوورباندي خام مسجدجوړ کړوروسته نوموړي هندودهندوانوپه وینا پرمسلمانانوزوروکړچي تاسومسجد ونړوئ ،ځکه نو مسلمانانومسجد شهيد کړپه دې اړه شرعاً څه حکم دی ؟(۱۳۴۱/۲۳۴ه)

ځواب: مسئله داده : چي کافرهندوکه مسجد جوړکړی اووقف يې کړنوهغه صحيح نه دی اومسجدونه ګرځيدی اوکه دغه کافرهندوومسلمانانوته مځکه په ملک ورکړه مسلمانانودغه مځکه دمسجدلپاره وقف کړه اومسجديې ورباندي جوړکړنوهغه مسجدشونوپه دوهم صورت کې ددغه مسجدنړول اودمسجدوالی له حکم څخه ايستل صحيح نه دی داځای دهميشه لپاره مسجد شومسلمانانوته پکاردي چي بيادا جوړکړي اومسجدجوړکړي اوپه اول صورت کې دغه مځکه ددغه هندوده مسجدنه شوهغه چي څه غواړې په کولای يې شي فقط.

په وقف شوې مسجدباندي دچادملکيت دعوی صحيح نه ده

سوال: (۸۱۸) په يوهندوولايت کې مسجدونه نړول کيږي مسلمانان په دې خبرغمجن اوبې تابه شول نژدې له سلوکلونوراهيسي ترنته پورې دخلنه جوړېدواولس دوولس کاله مځکې دمسجدونودترميمولويا پوخ جوړولوپروخت هم په نه منع کولوسره دحکومت دعوی بېله کوم ليکلې ثبوت دمنلووړده ،که نه ؟(۱۳۴۲/۲۲۷۷ه)

ځواب: مسجدونه وقف دي اوپروقف باندي دچادملکيت دعوی صحيح نه ده لکه چي مشهوره مسئله ده اودفقهې په کتابونوکې څرګنده شوې ده [الوقف لايملک ولايملک.

(الدرمع الرد۳/۴۰۲ کتاب الوقف ط رشيديه)

يعنی وقف دچاملک نه دی اوپه دې کې کوم تصرف دچالکه بيع ،هبه ، ګرواونورصحيح نه دي.

په پټه مسلمان شوې هندوکه دمسجداونورولپاره خپل جائيدادوقف کړ

سوال: (۸۱۹) يوهندوسړی پټ مسلمان شواركان داسلام لمونځ ، روژه اوتلاوت اداکوي خودخپل مسلمان کېدواعلان نه کوي پخپله کورنۍ کې دنوروهندوانوپه څيرشامل دی داسړی په همدغه موجوده حالت کې داسلامي ديني مدرسې اومسجدونولپاره وقف کول غواړې نودداسي سړي وقف کول شرعاجائزاومعتبردی ،که نه ؟داسړی خپل جائداددخپل موراوپلارله لورې وقف کول غواړې موراوپلاريې دکفرپه حال کې وفات شوې دي آياداسي موراوپلارله لورې وقف کول صحيح دي ،که نه ؟ داسړی دوقف له آمدني څخه دخپلوځينومامورينولپاره هم څه مقررول غواړې هغه مامورين که هندوان وي ،که مسلمان ؟(۱۳۴۵/۷۱۹ه)

ځواب: دوقف دجائزکېدواونافذېدولپاره داشرط دی چي دکوم کارلپاره وقف کړي هغه کاردثواب اوقربت وي اووقف کوونکی دقربت اوثواب په نيت وقف کړي نودکوم مسلمان وقف کول دمسجديادينې مدرسودمرستې لپاره صحيح دی اودکافردوقف دجائزکېدواوصحيح کېدولپاره داشرط دی چي دکوم کارلپاره وقف کوي دده په عقيده هم دثواب کاروي نوکه يادشوی وقف کوونکی مسلمان وبلل شي لکه چي دده په پټه دايمان اوداسلام دارکانوله اداکولوڅخه چي ښکاريږي نووقف کول دده دمسجدونواومدرسواونورودينې کارونولپاره بېله شکه صحيح اونافذدی که څه هم دی داووايې چي زه دخپل موراوپلارله لورې يعنی دوئ ته دثواب رسولولپاره وقف کوم اوموراوپلارددده دکفرپه حال کې مړه دی ولي چي وقف کوونکی مسلمان دی اوهمدی مالک دی ده ته دوقف کولواختياردئ دموراوپلارله لورې دده ويل لغوه دي په دې وينادوقف په جائزکېدوکې څه شبه نه راځي کله چي وقف کوونکی مسلمان وبلل شي.

اماکه دغه وقف کوونکی داسلام داعلان نه کولواودکفردرواجونوداداکولوپه وجه دظاهرپه اعتبارپه کفرکې وشمېرل شي لکه څرنګه چي پخپله دی خپل ځان په کفاروکې شامل اوداخل ښکاره کوي نوبياده دوقف دصحيح کېدو

لپاره علماء حنفي فقهاؤداشرط لګولی دی چي دکوم کارلپاره وقف کړی هغه دکفارودعقېدې سره هم دقربت اوثواب کاروي لنډه داچي مسلمانان اوکافران دواړې ډلې ددې دخیردکارکېدواوقربت کېدوعقیده لري ددې شرط په وجه دکفاروووقف دمسجدونواودیني مدرسولپاره نه صحیح کیږي ،ځکه چي دکفاروپه مذهب اوعقیده مسجداواسلامي مدرسه دقربت اوثواب کارنه دی که څه هم دکوم خاص یوسړی عقیده ددوئ دقربت اوثواب وي.

لکه چي علامه شامی رحمه الله ددرمختارددې قول: [وان یکون]قربة فی ذاته معلوما(منجزا)لامعلقاً الخ] په شرح کې لیکي : [ای بان یکون من حیث النظرالی ذاته وصورته قربة والمرادان یحکم الشرع بانه لوصدرمن مسلم یکون قربة حملاعلی انه قصدالقربة لکنه یدخل فیه مالووقف الذمی علی حج اوعمرة مع انه لایصح ولواجری الکلام علی ظاهره لایدخل فیه وقف الذمی علی الفقراء لانه قربة من الذمی ولوحمل علی ان المرادماکان قربة فی اعتقادالواقف یدخل فیه وقف الذمی علی بیعة مع انه لایصح فتعین ان هذاشرط فی وقف المسلم فقط بخلا ف الذمی لمافی البحروغیره ان شرط وقف الذمی ان یکون قربة عندنا وعندهم کالوقف علی الفقراء اوعلی مسجدالقدس بخلا ف الوقف علی بیعة فانه قربة عندهم فقط اوعلی حج اوعمرة فانه قربة عندنافقط فافادان هذا شرط لوقف الذمی فقط لان وقف المسلم لایشترط کونه قربة عندهم بل عندنا کوقفناعلی حج وعمرة بخلافه علی بیعة فانه غیرقربة عندنابل عندهم الخ (۱)] نومناسب دادي چي دغه وقف کوونکی کوم چي په پټه مسلمان دی دخپل اسلام اعلان وکړي بیابې وقف کړي ترڅودوقف په صحیح کېدوکې کومه شبه پاته نشي اودمامورینولپاره چي دوقف له آمدني څخه کوم مقررکړل شي دوقف صحیح کېدوپه صورت کې داشرط معتبریږي مامورکه هندوي اوکه مسلمان ،ځکه چي دوقف کوونکي وشرط ته اعتباروي [قال فی الدرالمختار: وجازعلی ذمی لانه قربة الخ ولاشک ان التصدق علی اهل الذمة قربة الخ(۲)] شامی فقط

(۱) ردالمحتارعلی الدرالمختار (۳/ ۳۹۴) کتاب الوقف شرائط الوقف ط رشیدیه (۲) الدرمع الرد(۳/ ۳۹۵) کتاب الوقف مطلب شرائط الواقف معتبرة الخ ط رشیدیه.

دمسجدپه ترمیم کې له هندواوشیعه څخه چنده غوښتل څرنګه دي ؟

سوال: (۸۲۰) دمسجد په ترمیم اونوروکې دهندواوشیعه څخه چنده غوښتل صحیح دي که نه ؟ (۱۱۲۲/ ۱۳۳۴۳۳ه)

ځواب: له یادوشویوکسانو څخه چنده غوښتل صحیح ده فقط.

دعیسایې پرورکړې مځکه که مسلمان پخپل خرڅ مسجدجوړکړي

سوال: (۸۲۱) یوعیسایې څه مځکه ومسلمانانو ته بېله قیمته په دې غرض ورکوي چي مسلمانان وربانديې پخپل خرڅ مسجدجوړکړي مسلمانان پردغه مځکه مسجدجوړولای شي ،که نه ؟ (۱۳۳۲/ ۱۳۴۲هج)

ځواب: جوړولای یې شي اوهغه مسجد ګرځي.

په هندومعمارانو جوړوونکو دمسجدجوړول صحیح دی

سوال: (۸۲۲) دمسجدودانول په هندومستري شرعاً جائزدی ،که نه که جائزوي نوله آیت کریمه [اِنَّمَایَعْمُرُ مَسَاجِدَاللهِ الخ] (سورة توبه آیت (۱۷) څخه څه مراددي ؟ (۱۵۱۷/ ۱۳۴۱ه)

ځواب: په هندومعمارانومسجدجوړول صحیح دي لکه چي دټولوسلفواوخلفو علماؤبېله انکاره دامعمول به کېدی ددې څرګنددلیل دی اوله آیت اِنَّمَایَعْمُرُ مَسَاجِدَاللهِ مَنْ آمَنَ بِاللهِ الا یة] (سورة توبه آیت : ۱۷) څخه مرادد مسجدمعنوی آبادول دي لکه کوم څخه چي دالله رب العزت ذکر ،دلمانځه قائمول اوپه مسجدکې کښېنستل اونورمراددي قال فی الجلا لین [مَاکَانَ لِلْمُشْرِکِیْنَ اَنْ یَعْمُرُوْامَسَاجِدَاللهِ بالافرادوالجمع بدخوله والقعودفیه الخ (۱) وفی الحدیث مرفوعاً : اذارأیتم الرجل یتعاهد المسجدفاشهدواله بالایمان فان الله یقول: (۲اِنَّمَایَعْمُرُ مَسَاجِدَاللهِ مَنْ آمَنَ بِاللهِ فقط.

(۱) تفسیرجلالین مخ: ۱۵۲سورة توبه آیت: ۱۷چاپ دیوبند. (۲) عن ابی سعید الخدری رضی الله تعالی عنه قال: قال رسول اللهصلی الله علیه وسلم: اذارأیتم الرجل یتعاهد المسجدفاشهدواله بالایمان فان الله یقول: اِنَّمَایَعْمُرُ مَسَاجِدَاللهِ مَنْ آمَنَ بِاللهِ والیوم الآخررواه الترمذی وابن ماجه والدارمی (مشکوة المصابیح: ص: ۶۹کتاب الصلوة باب المساجدومواضع الصلوة)

دمسجدضراراونوې مسجدپه اړه مسئلې

دمسجددليري والې له امله بل مسجدجوړول

سوال : (۸۲۳) زموږپه سیمه کې یومسجددی اوډیرلیري دی نودلته بل مسجد جوړول صحیح دي اوکه نه ؟ اواول مسجد داختردلمانځه لپاره خاصول هم جائزدي ، که نه ؟ (۳۲/۲۹۹ ۱۳۳۳ھ)

ځواب : دوهم مسجدجوړول دسوال دصورت سره سم صحیح دی اوداول مسجد داختردلمانځه لپاره خاصول هم جائزدي فقط.

سوال : (۸۲۴) یومسجدله کورنولیري دی په دې وجه پکې داذان اوڅراغ لګولو بندوبست نشته ، ځکه خلک غواړې چي دامسجدله دې ځایه وکورونوته نژدي رانقل کړي په دې صورت کې څه حکم دی ؟ (۳۴/۵۴۹_۱۳۳۳ھ)

ځواب : دکوم مسجد مسجدوالی باطلول صحیح نه دي کوم ځای چي یوځل مسجد شوهغه به همیشه مسجدوي اماکه ددغه مسجد دليري والې په وجه نژدي مسجد جوړکړي داهم صحیح دی خوهغه اول مسجدبه هم مسجدوي.

سوال : (۸۲۵) یوخام مسجد جوړشوی دی اوس کلیوال دابل ځای پوخ جوړول غواړي ، ځکه چي دغه دوهم ځای دکلي په مینځ کې دی اول مسجدله کلي لیري دی که بل ځای نوی مسجد جوړکړي نومخکنی خام مسجد شهید کړي پرهغه ځای کورجوړولای شي یایې په کوم بل مصرف کې راوستلای شي ، که نه ؟ (۸۹۸/ ۱۳۴۳ھ)

ځواب : بل ځای که مسجد جوړولوته اړتیاده نوپوخ مسجد په بل مناسب ځای کې جوړول جائزدي خومخکنی خام مسجدبه هم مسجدوي له هغه څخه دمسجد حکم نه زائلیږي ، ځکه چي کوم ځای مسجد شي هغه به همېشه ترقیامته پورې مسجدوي دهغه خوندي کول ضروري دي اوپردغه ځای بل کورنشي جوړولای اودچاپه ملک کې داځای نشي راتلای فقط.

سوال : (۸۲۶) زموږپه کلي کې یومسجدله پخواڅخه جوړدی اوس ددغه مسجدد کهن وطرفته دکلي آبادي زیاتیږي مسجد یوطرفته پاته شوله مسجد څخه کورونه لیري دي په دې وجه کلیوال لمونځ کولوته نه راځي اوامام هم دیوځېوالې له امله په وهم کې وي ، ځکه نوتجویزدادی چي مسلمانان چیري آباددي دهغوئ په مینځ کې اوپه پراخ ځای کې نوی مسجدجوړشي اوزوړ مسجدله څلوروطرفونوپه کلک دېوال خوندي کړي په خښتواونورویې بندکړي چي بې ادبې یې ونشي په دې صورت کې نوی پوخ مسجد جوړول روادي ، که نه ؟ (۳۲/۲۰۷۲_۱۳۳۳ھ)

ځواب : نوی پوخ مسجدجوړول دیادشوې ضرورت په وجه جائزدی اودپخواني مسجد دنه ابادېدوپه صورت دده په هماغه صورت خوندي کول پکاردي چي په سوال کې لیکلې دي دفقهې له کتابونو څخه همدارازحکم معلومیږي فقط.

دیوه مسجدپه شتون کې بل مسجدجوړول

سوال : (۸۲۷) (الف) آیادیوه مسجد په شتون کې له هغه څخه لیري په بل کلي کې بل مسجد جوړول منع دي ؟

(ب) په کوم صورت کې چي بل مسجدجوړوونکی اهل سنت والجماعت حنفیان وي اودغه ډله دمفسدینوله ضرراوشرڅخه دځان ساتلولپاره بل مسجد جوړوي نوآیانوی مسجدبه مسجدضراروي ؟

(ج) آیادمسجدونومتولیان اوانتظام کوونکې دمسجدونوپه آمدني اوخرځ کې دخپلوخواهشاتوسره سم بې له جائزاوناجائزطریقې بېلوالی پخپله دمسلمانانوله مشورې پرته تصرف کولای شي ؟ اودیقینې غلبې اوفاحش غبن سره دمسلمانانوپرغوښتنه له حساب اوکتاب څخه انکاراوځان پېچنه جائزده ؟

(د) دآمدنی اوخرڅ دحساب پرغوښتنه دمتولي اومنتظم داځواب چي پخپلو روپونوی مسجد جوړکړي حساب ګوري اوپه آینده کې تاسوپه دې مسجد کې ګام مه ږدئ کنې

ستاسوپه هکله به ښه نه وي اودمتولی بده خوله ،سرکښي اوپه ډول ،ډول تکلیفونورسول اودنوی مسجدجوړوونکوته منافقان اونوی مسجدته مسجدضراروېل څرنګه دي ؟کله چي نیت ددوئ صحیح وي دضرررسولواراده نلري ؟(۱۸۴۵/ ۱۳۳۹ه)

ځواب (الف) منع نه دی بلکه دآیت کریمه [اِنَّمَا يَعْمُرُ مَسَاجِدَ اللّٰهِ مَنْ آمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ] سورة توبه: آیت: ۱۷) اوحدیث شریف [من بنی الله مسجدا بنی الله له بیتاً فی الجنة] الحدیث (۱) له اطلا ق سره سم داخلا ص په نیت مسجدجوړول دایمان نښه اوجنت ته دداخلېدوسبب دی.

(ب) نوی دوهم مسجدجوړول هیڅکله په دې صورت کې دمسجدضرارپه حکم کې نشي راتلای اوپرمسلمانانودحسن ظن (ښه ګمان) کولوامردی اوبدګماني حرامه ده [لقوله تعالی [ا یَا أَیُّهَا الذِینَ آمَنُوا اجْتَنِبُوا کَثِیرًا مِنَ الظَنِّ إِنَّ بَعْضَ الظَنِّ إِثْمٌ لایة] (سورة حجرات آیت:۱۲)

اوپه حدیث شریف ي راغلې دي: [انماالاعمال بالنیات وانماالامرئ مانوی] الحدیث (۲) نودمسلمانانوجوړکړي مسجدته دمسجدضرارحکم ورکول حرام اوناجائزدي اوبدګماني کوونکي ګنهګاراوفاسقان دي.

(ج) دمسجدونودمتولیانواوانتظام کوونکودافرض جوړیږي چي دآمدن اوخرڅ حساب صفاوساتي اوله غبن اوبېځایه تصرفاتوڅخه پرهیزوکړي اوصفا حساب وکړي اوله ورکړي دتهمت له ځایونودې ځان وژغوري.

(د) دنوموړی متولی له لورې جواب بې ځایه اوناجائزدی اومسلمانانوته ښکنځل کول بد ،ردورته ویل پخپله کبیره ګناه اودفسق اومعصیت باعث دی اوداسي بده ژبی اوخائن کړي بل امانتداره سړی دې متولي وټاکي اودنوې مسجدجوړوونکوته دکومونیت اوغرض چي اصلاح اواخلاص دی منافقان ویل اودوئ وجوړکړي مسجدته مسجدضرارویل حرام اوګناه ده داټول کارونه په دغه فتوی کې داسي دي چي ترڅودی توبه ونه کاږي اودآمدن اوخرڅ حساب صفانکړي له خانه دخیانت الزام پورته نکړي ترهغودی دمتولي جوړېدووړنه دی دعزل وړدی فقط.

(۱) مشکوة المصابیح ص:۶۸-باب المساجدومواضع الصلوة.
(۲) صحیح البخاری:۲/۱باب کیف کان بدؤالوحی.

ددوومسجدونوپه شتون کې دریېم مسجدجوړول

سوال (۸۲۸) په یوه کلي کې دوه مسجدونه له پخواڅخه وودیوه مسجدامام کلپوال لیري کړي پردې څوکسانویودریېم خام مسجدجوړکړدامسجدشو ،که نه ؟ پردې ځیني خلګ اعتراض لري اونړول یې غواړې په دې هکله څه حکم دی ؟(۱۳۴۲/۲۱۵)

ځواب دغه دریېم مسجدچي خام جوړشومسجدوګرځیدی اوپه دغه مسجدکې چي کوم لمونځونه کیږي دمسجدثواب پکي حاصلیږي نړول دده جائزنه دي ،ځکه چي فتوی دمسجدپرتابید باندي ده یعنی کوم ځای چي یوځل مسجدشي هغه به همیشه مسجدوي دهغه نړول اوویرانول جائزنه دی.

دلمونځ کونکیوداړتیاپه خاطرنوي مسجدجوړول

سوال (۸۲۹) یوځای زیدیومسجدجوړکړورسره نژدي دغویواونوروتړلوځای جوړکړچي له امله یې مسجدته بدبوئ راځي اولمونځ کونکیوته تکلیف وي اوبل داچي دمسجددلیري والي په وجه ولمونځ کونکیوته په جماعت کې شریکېدل ستونزمن دی په همدي وجه دلمونځ کونکیودهوساینې لپاره عمریومسجدځای په مینځ کې جوړولواراده وکړه زیداوده خپلوان ورته خفه دي زیدوایې چي که بل مسجد جوړشونوزمانوم به زیدنه وي په دې صورت کې دمسجدجوړولوڅه حکم دی ؟ اودزیدلپاره څه حکم دی ؟(۹۰۷/۳۲-۱۳۳۳ه)

ځواب بل پوخ مسجدددغه ځای په مینځ کې جوړول چي ورڅخه وټولومسلمانانوپه لمونځ اوجماعت کولوکې هوسیاینه وي اوپه اطمینان سره پکي لمونځ کوي دثواب کاراوډیرښه دی دزیددنفس کولوپه وجه خفګان اومخالف جوړېدل بداوګناه ده قال الله تعالی [ومن اظلم ممن منع مساجدالله ان یذکر فیهااسمه وسعی فی خرابهاالایة (سورة بقره آیت: ۱۱۴) وقال تعالی انمایعمر مساجدالله من آمن بالله الایة (سورة توبه آیت: ۱۸) نوعمرته پکاردي چي بېله شکه اوشبهې پوخ مسجدپه نېک نیت سره جوړکړي الله تعالی یې پوره کوي اوڅوک چي مخالفت کوونکی وي هغه به تاواني اوزیانمن وي

دنوي مسجدبدلون جائزنه دی

سوال: (۸۳۰) په یوه کلي کي څلورمسجدونه دي اوپه هرمسجد کې پنځه وخته لمونځ اودجمعې لمونځ کیږي څوورځې کیږي چي پنځلس شل کسانویونوی مسجدله زاړه مسجدڅخه پردرې سوه ګزه واټن باندي جوړکړپه دي کې دجمعې اوپنځه وخته لمونځونه کیږي اودنوې مسجدجوړوونکیونیت دزاړه مسجدپه جماعت کې دبېلتون اومؤمنانوته دضرررسولونه دی ددې ځای مولویان فرمایې چي دامسجدصحیح دی په داسې صورت کې دنوې مسجدانتقالول صحیح دي ؟(۳۸۵/ ۳۳-۱۳۳۴ه)

ځواب: دمسجدونوترمینځ دلیرې والي لپاره کوم شرعی حدنشته داړتیاسره سم هرڅول لیرې اونژدې مسجدونه جوړول صحیح دي نوکله چي دنوې مسجداودغه مسجدپه حکم دمسجدضرارنه دی دجمعې لمونځ اوپنځه وخته پکې اداکول صحیح دي اوکله چي داځای سم شرعی مسجدوګرځیدی نواوس بدلول دده جائزنه دي ،ځکه چي کوم ځای یوځل مسجدوګرځي هغه دهمېشه لپاره مسجدوي کماصرح فی الشامی [ان الفتوی علی قول ابی یوسف رحمة الله تعالی فی تأبید المسجد(۱) فقط.)

دفسادختمولوپه غرض نوی مسجدجوړول

سوال: (۸۳۱) یوشیعه له یوسني څخه په دې شرط مځکه بېله عوضه واخسته چي ترمسجد جوړېدووروسته به ټولومسلمانانوته دعبادت کولوبرابرحق وي ،ځکه نوله مسجدودانېدووروسته تراوسه سنیانوپنځه وخته لمونځونه اوتراویح کولې سږکال چي کله دتراویحووخت راغلی نودودانوونکې زوئ دلمونځ کولوڅخه منع وکړه سنیانوخپل ددیرشوکلونوحق پرېښوداوس وهمدې مسجدته نژدې په چنده کولو نوی مسجدجوړول غواړي نونوی مسجدجوړول څرنګه دی ؟(۹۲/ ۱۳۳۸ه)

(۱) الشامی (۴۰۷/۳) کتاب الوقف مطلب فیمالوخرب المسجداو غیره ط رشیدیه.

ځواب: په دې صورت کې نوی مسجد جوړول صحیح دی.

په مسجدکې دهیڅ ډول اسانۍ نه کېدوپه وجه بل مسجدجوړول

سوال: (۸۳۲) په یوه کلي کې صرف یومسجددی خوپه هغه کې داوبواونږرو بندوبست نشته اودهغه متولي څراغ نه بلوي ، اونه پکې امام اومؤذن مقرردی په همدغووجوولمونځ کونکیوته تکلیف دی نوآیاپه دغه کلي کې بل مسجدجو ړول جائزدی ،که نه ؟(۲۰۴۲/۳۲-۱۳۳۳ه)

ځواب: کله چي غرض له لمونځ کوونکوڅخه دتکلیف لیري کول دي نوپه دې وجه بل مسجد جوړول صحیح دی اوپه حدیث شریف کې راغلې دي: [انماالاعمال بالنیات](۱)

دځای دتنګ والې له امله بل ځای پراخ مسجدجوړول

سوال: (۸۳۳) زموږیوکوچنی پوخ مسجددی اوس زموږددغه مسجدنړولواو پراخ جوړولواراده ده خودځای دتنګوالې په وجه دامسجدنشي پراخېدای که شرعاً دده بدلول جائزوي نوبل ځای ددې په بدل کې که په پراخ میدان کې یوپراخ مسجدجوړکړواوپخوانی مسجدچي ونړول شي دهغه خالي مځکه په کورنوکې کوم ډول استعمالولای شو ،که نه ؟(۱۸۲۳/ ۱۳۳۸ه)

ځواب: شرعي حکم دادی چي کوم ځای یوځل مسجدوګرځي هغه همیشه مسجدوي اوتل ترتله به دمسجد حکمونه اوآداب له ده سره تړلې وي داصحیح نه دی چي دادهستوګنې وکورونوته ورګډکړي یاپکې کورجوړکړي نوکه دمسجدوپراخولوته اړتیاده که ممکن وي نوهمدامسجدپراخ کړي اوکه داممکن نه وي نوبل ځای بل پراخ مسجدجوړکړي اودغه مځکې مسجدهم مسجدوساتي فقط.

(صحیح البخاری ۲/۱ باب کیف کان بدء الوحی.

ددوومسجدونو په موجودیت کې درېیم مسجدجوړول اودهغه وطرفته هڅونه کول

سوال: (۸۳۴) په یوکلي کې له پخواڅخه دوه مسجدونه دي اودهرمسجد سره په شرعی فیصله باندي کورونه جوړسوی دي اوهرې محلې واله خپل مسجدپه ذکر،اذکارو آبادساتي ، اودهرمسجدپه حقونوکې کوم چي پردوئ فرض دی په شرعی طریقه اداکولوکې کوتاهي نه کوي.

اوس یوسړی یوبل مسجدجوړکړاودمخکني مسجدونومحلې والوته دنوې مسجدآبادولوترغیب ورکوي چي ورڅخه مخکني مسجدونوته نقصان رسیږي دداسي مسجدلپاره کوم چي دمخکې پخواني مسجدونوحقوق ساقطوي ،څه حکم دی ؟ اودنوې مسجدجوړوونکې په هکله څه حکم دی ؟(۲۳۴/ ۱۳۳۷هج)

ځواب: که دغه سړی نو مسجدپه اخلا ص اودالله رب العزت دنژدېوالي لپاره په حلا ل مال جوړکړی دی نودإِنَّمَا يَعْمُرُ مَسَاجِدَ اللَّهِ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ وَأَقَامَ الصَّلاَةَ وَآتَى الزَّكَاةَ وَلَمْ يَخْشَ إِلاَّ اللَّهَ فَعَسَى أُوْلَـئِكَ أَن يَكُونُواْ مِنَ الْمُهْتَدِينَ] (سورة توبه آيت : ۱۷) په حکم دغه سړی مخلص مؤمن اوپرهدایت دی اوکله چي په حدیث شریف کې راغلې دي [انماالاعمال بالنيات (۱)] نوکه ددغه مسجدجوړوونکې نیت نېک دی اوکوم بل مسجدته نقصان رسول مقصودنه دی بلکه کومه اړتیاوه چي نوی مسجدجوړکړي اودغه اړتیاکه څه هم دثواب حاصلول وي لکه چي راغلې دي: [من بنى الله مسجدا بنى الله له بيتافى الجنة (۲) نودغه مسجدته مسجدضرارنشي ویل کیدای.

اونړول اونورده نه صحیح کیږي اونړوونکی اوناآبادوونکی دده په وعید[ومن اظلم ممن منع مساجدالله ان يذكرفيهااسمه وسعى فى خرابهاالاية] (سورة بقرة آيت: ۱۱۴) کې داخلیږي فقط.

ومخکنې مسجدته دنقصان رسولولپاره بل مسجدجوړول

سوال: (۸۳۵) زموږپه کلي کې یوپخوانی مسجددی دهغه دترمیم اوسمون لپاره چنده راجمع شوه اوکارشروع شواوس دیوسړی په تېرباسودوې ډلې شوي دوهمه ډله په همدې ځای کې بل مسجدجوړول غواړې ،اوخپله چنده بیرته غواړې اوکله چي په بل مسجدمخکني مسجدته تاوان رسیږي

(۱) البخاری۱/ باب كيف كان بدء الوحى.(۲) مشكوة المصابيح ص: ۶۸/ باب المساجدومواضع الصلوة

نودوهم مسجد جوړول اوپخپل مینځ کې بېلتون راوستل څرنګه دی ؟(۵۵۸/ ۱۳۴۲ه)

ځواب: که دلته یومسجددټولو مسلمانانولپاره کفایت کوي لکه چي له سوال څخه ښکاریږي نوپه دې حال کې پخپل مینځ کې بې اتفاقي راوستل دبل مسجد جوړول چي ورڅخه داول مسجدپه آبادې کې کمی راشي اودمسلمانانوترمینځ بېلتون وي ښه نه دی اودې کارمنع راغلې ده چي داسي مسجدمه جوړوئ چي ورڅخه غرض بل مسجدته نقصان رسول وي اماکه په رښتیابل مسجدته ضرورت وي اودنوي مسجدودانوونکیونیت دثواب وي نوبیاد[من بنى الله مسجدا بنى الله له بيتافى الجنة] الحدیث(۱) په حکم دجنتې کېدوزیری ده ته حاصل دی اوپه حدیث شریف کې راغلې دي [انماالاعمال بالنيات] (۲) یعنی داعمالوبنسټ پرنیت دی نوکه نیت دمسجدجوړوونکونېک دی اودثواب لاس ته کولونیت لري نوثواب حاصلیږي اوکه دضداونفس په وجه مسجدجوړکړي نودثواب پرځای دګناه اومواخذې ویره ده لنډه داچي بې اتفاقي اواختلا ف ناوړه کاردی ترڅوچي مووس وي پخپل مینځ کې یوون اواتفاق ساتل پکاردی بیاله اتفاق وروسته که دبل مسجدضرورت وبلل شي نوپه اتفاق سره بل مسجدجوړکړئ اواختلا ف پکې مه کوئ اوکومه چنده چي دموجودمسجد لپاره وشوه هغه په همدې مسجدکې ولګوئ کوم خلک چي خپله چنده بیرته غواړې هغوئ ته داسي نه دي کول پکارخپله چنده دې بیرته نه اخلي فقط.

دزاړه مسجدفضیلت زیات دی که دنوې ؟

سوال: (۸۳۶) (الف) فضیلت دزاړه مسجدزیات دی که دنوې ؟

(ب) دزاړه مسجدامام به دزاړه مسجدپه وجه بزرګ بلل کیږي اوداختردلمانځه به حقداروي که به دنوې مسجدامام حافظ صاحب بزرګ بلل کیږي اوحقداربه وي ،که نه ؟

(ج) دجمعې دلمانځه زیات ثواب په زاړه مسجدکې دی که په نوې کې ؟ (۴۲/ ۳۳۔ ۱۳۳۴ه)

ځواب: (الف) الله رب العزت وایي: [وان المساجد لله] (سورة جن آيت: ۱۸) اوبېشکه ټول

(۱) مشكوة المصابيح ص: ۶۸،باب المساجدومواضع الصلوة.
(۲) صحيح البخاری۱/ ۲ ،باب كيف كان بدء الوحى.

مسجدونه دالله ﷻ لپاره دي اودالله کورونه دي په دې کې دمسجد کېدو په اعتبار اصلاً هيڅ فرق نشته امادجماعت دثواب اولمانځه په اعتبارېې دفقهې په کتابونو کې داليکلي دي چي په زاړه کې زيات ثواب دی(۱)

(ب) دامام بزرګي دده په نېکي ،تقوی اوعلم پورې ترون لري په دې کې دمخکې والي اوروسته والي هيڅ فرق نشته اوداخترلپاره چي قوم څوک تسليم کړي هغه زيات حقداردی.

(ج) په زاړه کې زيات ثواب دی که کوم بل عارض پيښ نه شي فقط.

دکلي ټول مسجدونه شهيدول يولوئ مسجدجوړول

سوال: (۸۳۷) په يوه کلي کې اويامسجدونه دي اوپه هريوه کې جماعت اواذان په پابندي سره نه کيږي اوس ځيني نېک خلک غواړي چي دغه ټول مسجدونه ونړوي دکلي په مينځ کې يوغټ مسجدجوړکړي دهمدغومسجدونونړول اوددوئ په سامان بل مسجدجوړول جائزدي ،که نه ؟(۴۲۹/ ۴۵-۱۳۴۴هج)

ځواب : مسئله داده : چي کوم ځای يوځل مسجدشي هغه به هميشه مسجدوي دهغه دمسجدوالي باطلول صحيح نه دي اماکه دکلي په مينځ کې ونوی مسجد جوړولوته اړتياده نونوی مسجد په چنده جوړکړئ خومخکني مسجدونه باقي ساتل ضروري دي [لان الفتوی علی تأبيد المسجد] (الشامی ۲/ ۴۲۹، کتاب الوقف) فقط.

دزاړه جامع مسجدپرځای بل مسجدجامع مسجدجوړول

سوال (۸۳۸) دزاړه جامع مسجدپرځای دکوم مصلحت له مخې بل مسجد جامع مسجد جوړولای شي که نه ؟ اوپه دې کې دجمعې لمونځ اداکول جائزدي ،که نه ؟(۳۶/ ۳۲-۱۳۳۳ه)

ځواب بل مسجدجامع مسجدجوړول اوپکې دجمعې لمونځ اداکول جائزدي.

(۱) ثم الاقدم افضل لسبقه حکما الااذاکان الحادث اقرب الی بيته فانه افضل حينئذلسبقه حقيقةً وحکماً] (الحلبی الکبيرمخ: ۲۱۳،فصل فی احکام المسجد الثانی فی افضل المساجدللصلوة)

کوم مسجدچي زيات پراخ وي هغه جامع مسجدکړي

سوال (۸۳۹) په يوه کلي کي يومسجدترټولو مسجدونولوئ دی په دې وجه هغه جامع مسجدګرځول شوی دی کنې جامع مسجد په کلي کي له شاهي وخت څخه شته اوس په کومه محله کي چي دامسجددی په هغه کې ديوقوم خلک زيات دي بېله مشورې ځيني خلک چي څه غواړې هغه کوي اوامام يومخ نالوستی سړی لګوي دغه مسجد جامع مسجد پرېښودل جائزدي ،که نه ؟(۸۵۵/ ۱۳۴۳ه)

ځواب دغه لوئ مسجد دجمعې دلمانځه لپاره خاصول اوجامع مسجدګرځول صحيح دي ،ځکه چي جامع مسجد هماغه ګرځول زيات مناسب دی چي پکي ځای اوپراخوالی زيات وي که څه هم جائزپه هرمسجدکې دی اوپه يوه ښارکې څوځايه هم دجمعې لمونځ صحيح دی خواولی همدادی چي يوځای وي ترڅوجماعت لوئ وي اوبهتره دهغه چاامام مقررول دي چي دلمانځه په مسائلو زيات خبروي قرآن شريف ښه اوصحيح وايې خولمونځ په نالوستې پسې هم صحيح دی په دې شرط چي له ده څخه لمونځ فاسدوونکې کومه غلطي ونشي اواتفاق ساتل اودټولو مسلمانانو يوځای لمونځ کول ښه دي بېلتون بددی فقط.

له جامع مسجدڅخه شپږسوه ګامه ليري نوی مسجدجوړول

سوال (۸۴۰) له جامع مسجد څخه پرشپږسوه ګامه واټن باندي يوځای دی هلته هيڅ آبادي نشته بېلتون راوستوونکيو په جامع مسجدکې لمونځ کوونکې ونيول په هغه ځای کې يې دجمعې لمونځ شروع کړاوهلته مسجد جوړول غواړي شرعاً څه حکم دی ؟(۲۸۲۲/ ۱۳۴۰هج)

ځواب داښکاره ده چي که څوکسان پردغه ځای مسجد جوړکړي نوهغه مسجدګرځي اوداهم مسئله ده چي په يوه ښارکې څوځايه دجمعې لمونځ صحيح دی خوکه په بدنيت سره چاداسي وکړل اودبېلتون راوستولپاره يې وکړل نودی دخپل فاسدنيت سره سم ګنهګاريږي ،ځکه چي په حديث شريف کې راغلي دي [انما الاعمال بالنيات ولکل امرئ مانوی] الحديث(۱) خوکله چي دنيت حال له عالم الغيب څخه پرته بل چاته نشي کېدای ،ځکه بدګماني هم نه ده پکارولي چي په قرآن شريف کې راغلې دي [ان بعض الظن اثم] (سورة حجرات ،آيت: ۱۲] فقط.

(۱) الجامع الصحيح للبخاری ۲/۱ ، باب کيف کان بدء الوحی.

دکوم مصلحت په وجه په یوه مسجدکې دجمعې لمونځ بندول په بل کې شروع کول

سوال: (۸۴۱) په راج محل کې یومسجداکبرشاه په وخت کې جوړشوی وواو هغه مسجدانداز له پنځوسوو شپیتوکلونوراهیسي دحکومت په ولکه کې وودمسلمانانوپه غوښتنه حکومت دوه نیم زره روپۍ واخستې مسجدېې مسلمانانوته وسپاری اودوه سوره روپۍ دحکومت له لورې دمسجدترمیم لپاره ورکول شوې په دغوروپیو دمسجد جوړښت صحیح دی ،که نه ؟ اوپه دې مسجد کې دجمعې لمونځ کول په دې وجه چې دمسجدلوئ والی معلوم شي اونوروقومونوته داخبره معلومه شي چې په دې کې مسلمانان لمونځ کوي جائزدی ،که نه ؟ ځیني خلک وایې چې حکومتي روپۍ په مسجدکې لګول دنقصان باعث دی اوپه کوم مسجدکې چې له مخکې لادجمعې لمونځ کیږي هغه به په پنځه وخته لمونځ آبادوي دهغه دناآبادېدو اندېښنه نشته اویودالان (غټه کوټه) چې په حکومتي روپیوپه دې مسجدکې جوړه شوې ده په هغه کې لمونځ کولای شي اوکه نه ؟) اودمسجددننې دېوال په پورته کولوسره یوچوکاټ اویوه پله راووتل په دوئ بایدڅه وشي ؟(۳۲/۷۰۹-۱۳۳۳ه)

ځواب: په دغه نوی اکبرشاهي مسجدکې دجمعې لمونځ اداکول ببله شبهې صحیح دی اوکومې وجې چې په سوال کې ده داباد ی. په اړه لیکلې دي دهغوئ په وجه ضروري دی چې په دغه مسجدکې جمعه قائمه کړي دځینوخلکوپه دې کې شک کول صحیح نه دي په حکومتي روپیولګولوپه دي مسجدکې هیڅ نقصان نه راځي (اودالان چې حکومت جوړکړومسلمانانوته یې وسپاری په هغه کې هم لمونځ کول کومه پروانلري اوهغه مسجددی) اوزوړمسجدچې له مخکې لاپکې دجمعې لمونځ کېدی که په هغه کې دجمعې لمونځ ونکړي اوپه دغه اکبري مسجدکې یې کوي نوداهیڅ پروانلري ،ځکه چې هغه زوړمسجدبه په پنځه وخته لمانځه آبادوي په هرحال شرعي کومه وجه داسي نشته چې په نوې اکبري مسجدکې دې دجمعې لمونځ کول منع وي ددې په خلا ف چې کوم خیالات دي هغه اصل نلري اوچوکاټ اوپله کوم چې دمسجددننه دېوال په نړولوسره لاندې وموندل شوداخرڅ کړئ په دغه مسجدکې یې لګول یاکه ضرورت وي نوخاص همداشیان په مسجدکې لګول صحیح دي فقط والله تعالی اعلم.

مسجدضرارکوم مسجدته ویل کیږي ؟

سوال: (۸۴۲) مسجدضرارکوم یوه ته ویل کیږي ؟(۵۴۹/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

ځواب: مسجدضرارهماغه دی چې یادونه یې په قرآن کریم کې راغلې دي اوکفاروانومنافقانو(الف) ضرارً(ب) وکفراً (ج) وتفریقابین المؤمنین (د) وارصاداً لمن حارب الله ورسوله] جوړکړی وودکوم مسلمان پرجوړکړې مسجدباندې دمسجدضرارحکم نشي لګول کېدای.

سوال: (۸۴۳) که نن صباکوم مسلمان مسجدجوړکړي اوپه هغه کې دضرارشر طونه ثابت وي نوهغه ته به مسجدضراروایو ،که نه ؟(۱۸۲۸/ ۳۳-۱۳۳۴)ه)

ځواب: دمسجدضرارکېدولپاره الله رب العزت څلورصفتونه بیان کړې دي کماقال تعالی [وَالَّذِينَ اتَّخَذُوا مَسْجِدًا ضِرَارًا وَكُفْرًا وَتَفْرِيقًا بَيْنَ الْمُؤْمِنِينَ وَإِرْصَادًا لِّمَنْ حَارَبَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ مِن قَبْلُ الآ ية] (سورة توبه آیت : ۱۰۷)

لومړی داچې مسلمانانوته دضرررسولولپاره هغه مسجدجوړشوی وي دوهم دکفراومنافقت له لارې هغه مسجدجوړشوی وي درېیم دمسلمانانوترمینځ دبېلتون راوستولپاره ،څلورم ارصادیعنی ځای اوپناه ورکول اواوسول دالله ﷻ اودهغه درسول ﷺ سره جنګ کوونکې اومخالفین.

نوکوم مسجدچې په دغوصفتونوسره متصف وی هغه مسجدضراردی اوپرمسلمانانوخوداسي ګمان کول حرام اوناجائزدی ،ځکه چې دمسلمانانو جوړکړې مسجد ته مسجدضرارنه دي ویل پکارفقط.

دمسلمانانووجوړکړې مسجدته ضرارویل صحیح نه دي

سوال: (۸۴۴) دوه قومونه یوځای اوسېږي له یوبل څخه دناسیالۍ په وجه کرکه کوي په تېره بیاپه مسجدکې دلمانځ پروخت زیاتره فسادجوړشي آن تردې چې دوېنوبهولو اند ېښنه ده اوهرقوم ځانته غټه ډله ده دشرافت له مخې یوراجح اوبل مرجوح ضروردی ،ځکه نوکه صرف دفسادختمولواونفاق نړولوپه وجه کوم قوم جلا مسجدجوړکړي آوپه قسم سره تفریق بین المؤمنین وارصاداً لمن حارب الله الایة مقصدنه دی نوپه دغه مسجدکې به لمونځ جائزشي ،که نه ؟(۱۲۷/ ۱۳۳۵هج)

ځواب: جائزدی ،ځکه چي مفسرینوتشریح کړې ده چي په مسجدضرارکې دکوموخبرویادونه ده ترڅوهغه پرکوم مسجدصادقې رانشي دمسجدضرارحکم نشي وربانديکېدای اول خودمسلمانانوپرجوړکړې مسجدونوداسي ګمان کول صحیح نه دي چي ده قصداً داضراراوتفریق بین المؤمنین په غرض دامسجدجوړکړی دی اوکله چي دوئ په قسم سره له دغه غرض اوقصدڅخه انکارکوي نوبیااوربانديبدګماني کول هم صحیح نه دی قال الله تعالی [یاایها الذین آمنوااجتنبواکثیرامن الظن ان بعض الظن اثم الایة] (سورة حجرات آیت : ۱۲) وفی الحدیث [فان الظن اکذب الحدیث (۱)] اوکله چي دوئ صرف دالله درضالپاره مسجدجوړوي نودې ته مسجدضراروېل اوپکي لمونځ کول منع کول د[ومن اظلم ممن منع مساجدالله ان یذکرفیهااسمه وسعی فی خرابها] (سورة بقره آیت : ۱۱۴) مصداق جوړېدل دي فقط والله اعلم.

په هندوابادۍ کې مسجدته ضراروېل صحیح نه دي

سوال: (۸۴۵) دنکودرپه ښارګوټي کي یوه تجارتي منډۍ ده په هغه کې صرف هندوان دکانداران دي زیدوایې چي هلته مسجدضروري دی خالدوایې چي هلته مسجدجوړولوته هیڅ ضرورت نشته اودمسجدپه جوړولودفتنې اوفساد اندېښنه ده اوبکروایې چي شرعًا په داسي ځای کې مسجدجوړول ناجائزدي اودمسجدضرارپه څیرمعلومېږي په دې اړه شرعي حکم څه دی ؟(۱۳۴۵/۱۵۳۱هج)

ځواب: کله چي دنکودرپه ښارګوټي کې مسلمانان هم آباددي نودمسجد جوړ ېدل هلته په ضروري توګه صحیح نه دی اودغې منډۍ ته به دمسلمانانوتګ ،راتګ هم ضروري وي په داسي ځای کې دمسجدکېدل ښه دي اودثواب کاردی په حدیث شریف کې راغلې دي : [من بنی الله مسجدًا بنی الله له بیتًا فی الجنة (۲) دارازپه حدیث شریف کې راغلي دي : [انماالاعمال بالنیات] الحدیث(۳) فقط.

(۱) عن ابی هریرة رضی الله عنه ان رسول الله ﷺ قال : ایاکم والظن فان الظن اکذب الحدیث (الجامع للترمذی ۲/ ۱۹،باب ماجاء فی ظن السوء) (۲) مشکوة المصابیح ص : ۶۸،باب المساجدومواضع الصلوة (۳) الجامع الصحیح للبخاری ۱/ ۲،باب کیف کان بدء الوحی.

له نوي مسجدونووروسته وزاړه ته ضراروېل څرنګه دی ؟

سوال: (۸۴۸) یوزوړمسجدچي دطوفان اوسېلاب په وجه دکلي سره غرق شووروسته کلیوالوزوړکلی پرېښودپه یونوې کلې کي اوسېږي کوم چي له مخکني کلي څخه یوپاومیل لیري دی هلته یونوی مسجدجوړکړتراوومیاشتو پورې دجمعې لمونځ پکي کیدی اوس دوئ بیاهغه زوړمسجدجوړکړدجمعې لمونځ یې پکي شروع کړچیري چي حالاآبادي هم نشته په هغه زاړه مسجدکې دجمعې لمونځ کول څرنګه دي ؟ اوزاړه مسجد ته مسجدضراروېل جائزدي ،که نه ؟(۱۳۴۵/۱۷۷۰ه)

ځواب: اصل دادی : چي کوم مسجدیوځل په شرعی حیثیت مسجدشي بیاهمېشه مسجدوي دآبادۍ ویرانېدل دودانۍ نړېدل دده مسجدوالی نشي باطلولای نوپه پوښتل شوې صورت کې چي کوم زوړمسجدویران شوی ووهغسي مسجدووده ودانول دمسلمانانوپه ذمه وودارازدغه نوی مسجدکوم چي په شرعی توګه مسجدګرځېدلی دی همیشه مسجدوي دکوم مدعی دشفعې دعوی دانشي باطلولای دمسلمانانوذمه واري ده چي دواړه مسجدونه آبادوساتي اوددې غوره صورت دادی چي زوړمسجدکوم چي اوس له ابادۍ څخه پرڅه واټن دی دجمعې لپاره خاص کړي اوپه نوې مسجدکې دي ټول لمونځ کوونکې پنځه وخته لمونځ اداکوي داویش هم ،ځکه دی چي دهرلمانځه لپاره زاړه مسجدته تلل په ظاهرګران معلومېږي کنې که مسلمانان له اتفاق اوعزم څخه کارواخلي نودواړه مسجدونه هروخت آبادېدای شي په دوئ کې وکوم مسجدته ضراروېل ډېرناپوهي اوګناه ده په درمختارکې راغلي دي : [ولوخرب ماحوله واستغنی عنه یبقی مسجدًا عندالامام الثانی ابدًا الی قیام الساعة بحر] (۱) فقط والله اعلم.

دمسلمانانوپه مسجدونوکې دمسجدضراراومسجدشرعي ببلوالی صحیح نه دی

سوال: (۸۴۷) (الف) دخومره رقبې یاابادي لپاره دیومسجد کېدل غرض واجب یاسنت دی ؟

(ب) دشرعی په خاص کړې رقبه اوآبادي کې دننه له یوڅخه زیات چي څومره مسجدونه وي هماغه هم

(۱)الدروالشامی(۳/ ۴۰۲) کتاب الوقف ،مطلب فیمالوخرب المسجد اوغیره ط رشیدیه.

تول شرعی مسجدونه بلل کیږي یاکه ضرارمسجدونه ؟
(ج) دکومې ټاکلې رقبې یاآبادۍ له ټولوموجوده مسجدونوڅخه داسلامي مسجداوضرارمسجدونوفرق اوانتخاب داجماع په وسیله اودرأیې په اتفاق سره واجبیږي که دتاریخ اوزمانې په حیث چې کوم اول اوپخوانی وي هغه ته اسلامي مسجدوویل شي ؟
(د) که هره هغه ودانۍ چې مسجدته ورته وي اسلامي مسجددی ؟ خواکه دهغه جوړوونکی هرڅوک وي هرډول عقیده یې وي ؟ دهغه نیت هرڅنګه که خراب وي ؟ خوپرهرمسلمان واجب دي چې دادخدای ﷻ کوروبولي ؟(۱۰۵/ ۳۳-۱۳۳۴ه)

ځواب : (الف) شرعًا په دې کې کوم حداوقیدنشته له اړتیاسره سم مطلقًا دمسجدونوجوړولواجازه ده دقرآن اواحادیثونصوصوکوم حددې نه دی معلوم کړی ،نه مجتهدینواوعلماؤدامت په دې اړه کومه حدبندي کړې ده بلکه پرضرورت ،حاجت اونېک نیت باندي ددې بنسټ دی که په اخلا ص اونېک نیت سره ویومسجدته نژدې بل مسجد جوړشي نوشرعًا جوړوونکی داجراوثواب حقداردی اواړتیاوې هم بېلابېلې دي که کومه محله دومره آباده اوپرډیروانسانانومشتمله وي چې یومسجدورته نه کافي کیږي هلته که دوه یادرې ،یاڅلور،یاتردې هم زیات مسجدونه وي نوهغه هم آبادېدلای شي اوداسې هم کیږي چې په یوه وخت هلته ضرورت وي بل وخت ضرورت نشي پاتې خوکوم چې مسجدشوهغه به مسجدوي په هرحال اساس پردې دی چې مسجدپه نېک نبت اودالله ﷻ لپاره جوړکړل شي اوڅرګنده دې وي چې دمسلمان کوم کارلکه دمسجداونوروجوړښت پربدنیت نه دی حمل کول پکار چې موږته پرمسلمانانودېنک ګمان کولوحکم دی نه دبدګمانۍ کماقال الله تعالی [ان بعض الظن اثم] (سورة حجرات آیت: ۱۲) ، [ایاکم والظن فان الظن اکذب الحدیث (۱)] امادااضرورشته چې جوړوونکې ته صرف دالله ﷻ لپاره په اخلا ص اونېک نیت سره مسجدجوړول پکاردي اوپه حلال مال جوړول پکاردي خونوروته دطعن ورکولواوبدګمانۍ کولوموقع شریعت نه ده ورکړې . (ب) کله چې معلوم شوچې هیڅ حدبندي دمسجدونودجوړښت په اړه شرعًا نشته بلکه اساس پرضرورت اونېک نیت دی نودمؤمنانوټول جوړکړې مسجدونه شرعی مسجدونه دي

(۱) عن ابی هریرة رضی الله عنه ان رسول الله ﷺ قال: ایاکم والظن فان الظن اکذب الحدیث ولاتحسسوا ولاتجسسوا[ابوداؤد۲/ ۲۷۳ ،کتاب الادب ،باب فی الظن]

اودمسجدونوبللووړدي دمسلمان پرجوړکړې مسجددضرارحکم نشي لګول کېدای ،ځکه چې مسجدضرارد کفارواومنافقانوجوړکړی وواودوئ په بدنیت اوفساداوتفریق لپاره جوړول په قطعی وحي سره معلوم شوی وودمسلمانانوپر جوړکړېومسجدونوداحکم څرنګه جاري کېدای شي ؟
حال داچې دمسجدجوړول الله رب العزت دایمان نښه ښودلې ده قال الله تعالی [انمایعمرمساجدالله من آمن بالله الایة] (سورة توبه آیت : ۱۸) اورسول الله ﷺ ویلې دي چې [من بنی لله مسجدابنی الله له بیتًا فی الجنة (۱)] اودامعلوم شوچې پرمسلمانانوباندي دښه ګمان حکم دی دچادنیت حال بل چاته څه معلومېدای شي هلا شققت عن قلبه (۲) په حدیث شریف کې راغلې دي اوپه متفق علیه حدیث کې دی : [انماالاعمال بالنیات وانمالامرئ مانوی الحدیث] (۳)
(ج) له پورته تحقیق څخه څرګنده شوه چې دمؤمنانوټول مسجدونه مسجدونه دي په هغوئ کې وچاته مسجدشرعي اوچاته مسجدضرارویل اوداتفریق کول صحیح نه دي اوزوړوالی اووروسته والی دمسجدلپاره دشرعي مسجدپه کېدوکې هیڅ اثرنکوي پخوانی مسجدهم مسجددی اونوی مسجدهم مسجددی اوپه دې کې دچادرأیې اواجماع اواتفا ق ته ضرورت نشته اماپه ځینوځایونوکې فقهاؤلیکلې دي چې په ځینې صورتونوکې په زاړه مسجدکې لمونځ کول افضل وي ترنوې مسجدمثلًا دچاله کورڅخه دواړه مسجدونه په یوه واټن دي اوپه دوئ کې دمحلې مسجدکوم نشته نوپه دې صورت کې ددغه سړی په هکله په زاړه مسجدکې لمونځ کول افضل دی له نوې مسجدڅخه اودمحلې مسجدډمحلې والولپاره افضل دی که څه هم هغه نوی وي.
(د) هریومسجدمسجدبلل پکاردی اودمسجدآداب ورسره پرځای کول پکاردی اودهغه دآبادولوفکراوپکې کوشش پکاردی دچاپه ویرانولواوبربادو لوکې کوشش نه دی کول پکارقال الله تعالی [ومن اظلم ممن منع مساجدالله ان یذکرفیهااسمه وسعی فی خرابهاالآیة] (سورة بقره

(۱) مشکوة المصابیح ص: ۲۸، باب المساجدومواضع الصلوة.
(۲) عن اسامه بن زیدرضی الله عنهما قال: بعثنارسول الله ﷺ الی اناس من جهینة فاتیت علی رجل منهم فذهبت اطعنه فقال: لااله الاالله فطعنته فقتلته فجئت الی النبیﷺ فاخبرته فقال اقتلته وقدشهدان لا اله الاالله ؟ قلت یارسول الله ﷺ انمافعل ذلک تعوذاقال فهلا شققت عن قلبه ؟(متفق علیه ، مشکوة ص: ۲۹۹، کتاب القصاص الفصل الاول.
(۳) الجامع الصحیح للبخاری ۲/۱ ،باب کیف کان بدء الوحی.

آیت: ۱۱۴) داپورته معلوم شوچي دنیت حال له عالم الغیب والشهادة پرته بل چاته څرنګه معلومیدای شي یوصحابی رضی الله عنه یوکافردتوحیدله کلېمي ویلووروسته قتل کړاوداتاویل یې وکړچي ده دنفاق له امله دتورې له ویرې کلیمه وویله نونبی علیه السلام په جواب کې ورته داارشادووایو [هلا شققت عن قلبه] تادده زړه ورڅيري ولي نکړچي کتلای دي وای ؟ نوددې بحث اوڅیړنه نه ده پکارچي دفلانی مسجدجوړوونکی څوک وو؟ دهغه نیت څرنګه وو؟ فقط

سوال: (۸۴۸) درقصبه پنیان گاؤن مسجدی ازمدت مدید قائم است اکنون شخصی ازاهل محله مسجدی دیگر تیارساخت بعض علمامسجدنورامسجد ضرراگویند وبعضی برخلاف این فتوی دهند قول کدام کس اقرب الی الصواب است ؟ بینوا وتوجروا (۳۴۵/ ۱۳۳۴ھ)

خواب: بانی مسجد جدید اگر ازراه نفسانیت وبغرض اضرارمسجد قدیم مسجد جدید تیارکرده است مستحق وعیدوعاصی است لیکن ماراحکم ببودنش مسجد ضرارکردن روانیست که [انماالاعمال بالنیات] (۱) واراداست ومارا علم نیت اونیست وبحکم ایت کریمه [یاایهاالذین آمنوا اجتنبوا کثیرامن الظن ان بعض الظن اثم] (سورة حجرات آیت: ۱۲) سوء ظن بمؤمن حرام است.

ترجمه **سوال**: (۸۴۸) په پنیان ښارګوټي کې یومسجدله ډیرې مودې راهسي قائم دی حالاله محلی والوڅخه یوسړی نوی مسجدجوړکړځیني علماء ونوي مسجدته ضراروایي اوځیني علماددوئ په خلاف فتوی ورکوي په دېو کې دکوموقول زیات وحق ته نژدي دی ؟

خواب: دنوي مسجدجوړوونکي که دنفس اوزاړه مسجدته دزیان رسولوپه غرض نوی مسجدجوړکړی دی نودی دوعیدحقداره اوګنهګاردی خوزموږلپاره پردې باندي دمسجدضرارحکم لګول صحیح نه دي په حدیث کې راغلي دي [انماالاعمال بالنیات] اوموږته ددې سړی دنیت حال معلوم نه دی اودارازدقرآن کریم دآیت [یاایهاالذین آمنوا اجتنبوا کثیرامن الظن الایة] په وجه هم پرمسلمان بدګماني کول حرام دي

سوال: (۸۴۹) زیددیوپراخ مسجدپه اراده له همسایګانوسره مشوره وکړه اول دارأیه وشوه چي زوړمسجدبه پراخ کړوخوځای تنګ وو ، څکه له دوودریو لمونځ کونکیوپرته دنورو

(۱) صحیح البخاری ۲/۱ ، باب کیف کان بدء الوحی.

ټولولمونځ کونکیوپه اتفاق سره بل ځای پراخ پوخ مسجدجوړشووروسته مخالفینووکوم عالم ته داویناوکړه چي جوړوونکی دسودپه روپیومسجدجوړ کړي اودنامه لپاره یې جوړکړپه همدې وجه نوموړی مولوي صاحب دمسجدضرارفتوی ورکړه دمسجدجوړوونکي وایې چي مادخپلې په میراث کې راپاته شوې مځکې غله خرڅه کړه مسجدمې په جوړکړآیادامسجدشرعی مسجددی .که نه ؟ (۲۱۴۲/ ۱۳۴۳ھ)

ځواب : دغه مسجدشرعي مسجددی لمونځ اوجماعت پکي صحیح دي اوثواب اوفضیلت کوم چي په مسجدکې په لمونځ کولوحاصلیږي په دې مسجدکې هم شته دضرارمسجدورته ویل غلط دي فقط.

ایادګرمۍ په وجه نوی مسجدجوړول دضرارحکم لري

سوال: (۸۵۰) دریک موضع مسجداست پیش چندایام دروجماعت شده حالااورامتروک ساخته دردیگر موضع بلاعذرمعتدبه (یعنی ربع می ایدوگرمی می شود) مسجدجدید تیارنموده انداین مسجدضار درشرع شریف است یانه ؟ (۱۰۷۲/ ۱۳۳۵ھ)

جواب : هرگاه نیت بانین مسجدثانی اضرارکسي نیست وبناء ش کفراوتفریقاً بین المؤمنین نیست وارصاداً لمن حارب الله ورسوله نیست چگونه اورامسجد ضرارگفته شودکه دربودن مسجدضرارچهارشرط ذکرفرموده اند (الف) والذین اتخذوامسجداضرارا(ب) وکفرا (ج) وتفریقا بین المؤمنین (د) وارصادا لمن حارب الله ورسوله الآیة (سوره توبه آیت : ۱۰۷) فافهم وتدبرفان الظن اکذب الحدیث (۱)

ترجمه سوال: (۸۵۰) یوځای مسجددی څوورځې مخکې پکي په جماعت سره لمونځ کېدی حالا خلګودیوسپک عذرله امله یومخ پرېښود (چي ګرمه هوا پکي چلیږي ګرمي وي) نوی مسجدیې بل ځای جوړکړپه شریعت کې وداسي مسجدته ضرارمسجدویل کیدای شي ، که نه ؟

خواب: کله چي دمسجدجوړونکیونیت چاته زیان رسول نه وي اونه دهغه بنسټ پر

(۱) عن ابی هریرة رضی الله عنه ان رسول الله ﷺ قال: ایاکم والظن فان الظن اکذب الحدیث (جامع الترمذی ۲/۱۹ ، ابواب البروالصلة ، باب ماجاء فی ظن السوء).

کفر، تفریق بین المؤمنین اوارصاداً لمن حارب الله ورسوله باندي دی نو بیا څرنګه دې ته ضرارمسجدویل کېدای شي حال داچي دضرارمسجد کېدولپاره دڅلورو شرطونو یادونه شوې ده (۱) اسلام ته زیان رسول (۲) په هغه کې دکفرخبرې کول (۳) دمؤمنانو ترمينځ بېلتون راوستل (۴) دخدای ﷻ اودهغه درسول ﷺ ددښمنانولپاره دهستوګنې بندوبست کول په دغوخبرونښه ځان پوهول پکاردي اوله بدګمانۍ څخه پرهیزکول پکاردی ځکه چي بدګماني ترټولوغټ دروغ دی.

دشیعه ګانوپه مقابل داهل سنت بل مسجدجوړول ضرارنه دی

سوال: (۸۵۱) یومسجدشیعه ګانوجوړکړی دی په دې مسجد کې که کوم مولوي صاحب ددرېیوصحابوو(یعنی حضرت ابوبکر، عمر، حضرت عثمان رضی الله عنهم) فضېلتونه بیانوي نوسخت خطردی اوفسادجوړېږي په دې صورت کې که اهل سنت والجماعت وال بل جامع مسجد جوړکړي نو هغه به دضرارپه حکم کې وي ،که نه ؟(۵۴۰/۱۳۴۲ه) .

ځواب: په بیان شوې صورت کې داهل سنت والجماعت والولپاره بل مسجد جوړول ضروري اولابدي دی ترڅواهل سنت والجماعت په اطمېنان سره بېله ویرې اوخطرې دجماعت اوجمعې لمونځونه اداکړي اوفضائل دصحابوو اوراشده خلفاؤرضی الله عنهم اجمعین بیانوي اوشرعي حکمونه په نصیحت کې بیانوي اودکوموښاغلیوپه هکله چي الله رب العزت (رضی الله عنهم ورضوا عنه) (۱) ویلې دي دهغوښاغلیوفضېلتونه بېله ویرې واوروي نوداسي مسجدپه هیڅ ډول دضرارمسجدپه حکم کې نه راځي بلکه وضرارمسجدته ورته دروافضومسجددی چيورباندي په ځینووجود ضرار مسجد تعر یف صادقیږي اوضرارمسجدهمداسي منافقانو جوړکړی وو فقط.

بل مسجدته ضرارا وجوړوونکې ته کافرویل په هیڅ ډول صحیح نه دي

سوال: (۸۵۲) آیاپه یوه محله کې دوه مسجدونه جوړول جائزدي ؟ کومو خلکو چي پرزاړه مسجدولکه کړې ده هغوئ

(۱) سورة مائده آیت: ۱۱۹ ،سورة توبه آیت: ۱۰۰ ،سورة مجادلة آیت: ۲۲ اوسورة بینه آیت: ۸.

داهل سنت وعلماؤته په ډاګه کافران وایي اودرسول الله ﷺ په هکله دسپکاوي ټکي کاروي په دې وجه بل مسجد جوړول اوبل مسجد ته دضرارحکم ورکول ،نړول اوسوځول پکاردي که نه ؟اوجوړوونکې ته کافرویل کېدای شي ،که نه ؟ (۱۲۲۲/ ۱۳۴۰هج)

ځواب: دیادې شوې اړتیاپه وجه نوی مسجد جوړول جائزدی اودنوې مسجد وجوړوونکې ته کافرویل په هیڅ ډول صحیح نه دي بلکه کافرویوونکې د[ایمارجل قال لاخیه کافرفقدباء بهااحدهمااوکماقال ﷺ(۱) مصداق دی والعیاذبالله تعالی فقط.

دحضرت عطاء دروایت په وجه دمسلمانانوجوړکړې مسجدته ضرارویل صحیح نه دی

سوال: (۸۵۳) مسجدی بناء شدمتصل مسجدی دیگرعناداً یاغیرعناداًکه دربناء کردی مسجدثانی مسجداول غیرآبادشدآیامسجدثانی حکم مسجد ضراردارددیانه ؟ گرندارد معنی حدیث عطاء چي باشد؟ وعن عطاء لمافتح الله الامصارعلی عمررضی الله تعالی عنه امرالمسلمین ان ینبوالمساجدوان لایتخذوافی مدینة مسجدین یضاراحدهماصاحبه (۲) (۵۸۳/۳۲-۱۳۳۳ه)

ځواب: بنا ئی مسجدمسلمانی راحکم مسجدضراردادن صحیح نیست وازروایت عطاء همین قدرثابت است که کسی به غرض اضرارمسجددیگربناء نه کنداگربا ین نیت مسجدی بناء خواهدکرد ثواب بناء مسجداوراحاصل نخواهدشدبلکه اگرماخوذومعتوب گرددعجب نیست لیکن ازین روایت دیگران رااین حکم کردن ثابت نیست که مسجدبناء کرده مسلمانی رامسجدضرارگویندکه حال نیت کسی دیگران رامعلوم نمي شودوقال علیه السلام [انماالاعمال بالنیات الخ] (۳) وایاکم والظن فان الظن اکذب

(۱) عن ابن عمررضی الله عنهماعن النبیﷺ قال: ایمارجل قال لاخیه کافرفقد باء بهااحدهما(جامع الترمذی ۹۲/۲،ابواب الایمان ،باب ماجاء فی من رمی اخاه بکفر)
(۲) تفسیرروح المعانی: ۲۱/۱۱سورة توبه آیت: ۱۰۷.
(۳) الجامع الصحیح للبخاری ۲/۱ ، باب کیف کان بدء الوحی.

الحدیث(۱) وقال الله تعالی [ان بعض الظن اثم] (سوره حجرات: آیت ۱۲) فقط

سوال: (۸۵۳) ویومسجدته نژدي بل مسجدپه ضدیابیله ضده جوړکړل شوخوددغه دوهم مسجدپه جوړېدولومړي مسجدویران شونوپه داسي صورت کې به دوهم مسجددضرارمسجدپه حکم کې وي ،که نه ؟ که نه دی نوبیاددې روایت څه مطلب دی دکوم روایت چي له حضرت عطاء رحمه الله څخه شوی دی چي کله الله رب العزت دحضرت عمررضی الله عنه په زمانه کې دښارونوفتح ورکړه نوحضرت عمررضی الله عنه ومسلمانانوته حکم وکړچي مسجدونه جوړکړئ خوپه یوښارکې دوه مسجدونه دارازمه سره جوړوئ چي دیوه په وجه بل ته زیان ورسیږي.

ځواب: دمسلمانانوجوړکړې مسجدته مسجدضرارویل صحیح نه دی دحضرت عطاء رحمه الله له روایت څخه صرف دومره ثابتیږي چي کوم سړی دزیان رسولوپه غرض بل مسجدجوړوي که په دې نیت مسجدجوړکړي نوده ته دمسجدجوړولوثواب نه ورکول کیږي بلکه عجیبه نه ده چي دالله رب العزت له لورې دی ماخوذاوورټل شي.

بیاهم ددې روایت په وجه دنورولپاره دکوم مسلمان وجوړکړې مسجدته دضرارویلواجازه نه ثابتیږي ،ځکه چي دچادنیت حال وچاته نشي معلومېدای اورسول الله ﷺ ویلې دي : بېشکه داعمالواساس پرنیتونودی اوده مبارکﷺ داهم ویلې دي : له بدګمانۍ څخه پرهېزکوئ ،ځکه چي بدګماني ترټولوزیات دروغ دی دالله رب العزت ارشاددی بېشکه ځیني ګمانونه ګناه وي فقط.

(۱) عن ابی هریرة رضی الله عنه انه قال: قال رسول الله ﷺ: ایاکم والظن فان الظن اکذب الحدیث (ترمذی: ۲/ ۱۹، ابواب البروالصلة ،باب ماجاء فی ظن السوء)

له مسجدونوسره تړلي بېلابېلې مسئلې

دمسافردهوساینې لپاره مسجدجوړول دثواب کاردی

سوال: (۸۵۴) زموږځای دسړک پرغاړه دی په آبادۍ کې دننه دوه خام مسجدونه شته خودمسافرودهوساینې لپاره دپاخه ځاه سره دسړک پرغاړه دیوه مسجدجوړولواراده لروجائزدې ،که نه ؟

که زه اونورمسلمانان پکې لمونځ کوونوبه څرنګه وي ؟(۸۵۳/ ۱۳۴۰ه)

ځواب: دسړک پرغاړه دڅاه وڅنګ ته دمسافرودآرام اوهوساینې لپاره مسجدجوړول جائزاودثواب کاردی که تاسواونورکلیوال لمونځونه پکې کوي نوښه دی په دې شرط چي دکلي مسجدونه ویران نشي بلکه هلته هم لمونځ کوونکې لمونځ کوي اوپه دغه نوې مسجدکې یې هم کوئ فقط.

دمسجدصحیح رخ کوم دی ؟

سوال: (۸۵۵) دمسجدرخ دقطب پرلورپکاردی که دکعبې پرلور؟ یعنی پرقطب ستوري صحیح کیږي که پرکعبه ؟ ځیني پخواني مسجدونه پرکعبه دي اوځیني زاړه مسجدونه پرقطب ستوري هم دي اوس پوښتنه داده چي پردغو دواړوطریقوچي کوم مسجدونه دي په دوئ کې کوم مسجدداسي هم شته چي پکې لمونځ کیږي که په دواړوطریقوجوړکړل شویومسجدونوکې لمونځ صحیح دی ؟ لنډه داچي داراته ولیکئ چي په دغه دواړوډولوجوړشویومسجدونوکې کوم مسجدصحیح دی اوکوم پرصحیح طریقه نه دی ؟(۳۲۰/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

ځواب: دښې اوږې پرقطب شمالي برابرولوسره دکعبې رخ صحیح کیږي اولمونځ صحیح کیږي که کوم ځای لږفرق وي بیاهم کومه پروانلري په لږفرق دکعبې جهة نه بدلیږي فقط.

له قبلې څخه دلړکاږه مسجدحکم

سوال: (۸۵۶) په یوه مسجد کې لږکوږوالی معلوم شوی دی کوم چې دقبلې پرلورصحیح نه دی یعنی دشمال دلوراړخ ځلورپټه مخته شوی دی اودجنوب دلوراړخ یې ځلورپټه شاته شوی دی نوداشهید کړوله نوې سره یې جوړکړوکه لمونځ پکې صحیح دی ؟ (۷۴۹/ ۴۴-۱۳۴۵ه)

ځواب: مسجد مه شهیدوئ په همدې حال کې لمونځ پکې صحیح دی.

دیوه ښاردمسجدونودقبلې په جهة کې توپیر نشي کېدای

سوال: (۸۵۷) په یوه ښارکې دمسجدونودقبلې لوری متفاوت کیدای شي ،که نه ؟ اوکوم سړی چې قصداً دقبلې له رخ پرته بل طرفته لمونځ کوي هغه کافرکیږي ،که نه ؟(۲۲۳۲/ ۱۳۴۲ه)

ځواب: داخوښکاره ده چې په یوه ښارکې دقبلې په طرف کې توپیرنشي راتلای خوکله ،کله دمځکې په ګرځېدوداسې معلومیږي نودې ته اعتبارنشته نوکله چې په هریوه مسجدکې په قبله نمارخ صحیح معلومیږي نوپه ټولوکې لمونځ صحیح دی اوداخرګندونه دې هم وي چې په لږګرځیدولمونځ نه فاسدیږي لکه چې په درمختاراوشامي کې په تفصیل سره یادونه شوې ده (۱) اودادي هم څرګنده وي چې له قبلې پرته بل لورته قصداً لمونځ کول هم باعث دکفرنه دی بلکه فسق اوګناه ده کمافی الدرالمختار وبهذاظهران تعمد الصلوة

(۱) فی الدرالمختار: والسادس استقبال القبلة حقیقةً اوحکمًا فللمکی اصابة عینها ولغیره ای غیرمعاینها اصابة جهتها بان یبقی شئ من سطح الوجه مسامتًا للکعبة اولهوائها الخ وفی الشامی فیعلم منه انه لوانحرف عن العین انحرافًا لاتزول منه المقابلة بالکلیة جازویؤیده ماقال فی الظهیریة اذاتیامن اوتیاسرتجوزلان وجه الانسان مقوس لان عندالتیامن اوالتیاسریکون احدجو انبه الی القبلة آه والحاصل ان المرادبالتیامن والتیاسرالانتقال عن عین الکعبة الی جهة الیمین اوالیسارلاالانحراف لکن وقع فی کلامهم مایدل علی ان الانحراف لایضرففی القهستانی ولابأس بالانحراف انحرافالاتزول به المقابلة بالکلیة بأن یبقی شئ من سطح الوجه مسامتاللکعبة آه فعلم ان الانحراف الیسیرلایضروهوالذی یبقی معه الوجه اوشئ من جوانبه مسامتالعین الکعبة اولهوائهاالخ (الدرالمختارورد المحتار( ) کتاب الصلوة ،باب شروط الصلوة ،مبحث فی استقبال القبلة ط رشیدیه.

بلا طهرغیرمکفرکصلوته لغیرالقبلة (۱) اوعلامه شامی رحمه الله ویلې دي چې د بې اودسه لمونځ کولو په هکله دکفرروایت دنوادردی ظاهرالروایة نه دی (۲) فقط.

دمسجدمنبرپه محراب کې دننه بایدجوړشي که دباندې ؟

سوال: (۸۵۸) منبرپه محراب کې دننه جوړول پکاردي که دباندې ؟(۲۸۵۵/ ۱۳۴۳هج)

ځواب: منبرداسې ځای پکاردی چې لمونځ کوونکې ورته مخامخ وي اوآوازو لمونځ کونکیوته رسیږي که په محراب کې دننه وي نوهیڅ پروانلري.

دصف په مینځ کې راتلوونکی منبرحکم

سوال: (۸۵۹) (الف) دیوجامع مسجدپه اول صف کې منبرچې ورباندې خطبه ویل کیږي صف پرې کوونکی دی دفتوی له غوښتنې سره سم مې دغه منبرلیرې کړیو دلرګیو منبرمې جوړکړچې ورباندې خطیب څوکاله خطبه وویله اودلمانځه پروخت دغه منبرپورته کول کیدی خواوس څوکسانودمنبرلیرې کولوپه هکله سخت الفاظ استعمال کړاودضدپه وجه دخښتومنبردمځکې په رنګه جوړکړ.

(ب) منبرچې په جماعت کې اول صف پرې کوونکی دی دهغه پاته کېدل دلمانځه دکراهیة باعث دی ،که نه ؟(۹۲۴/ ۱۳۴۳ه)

ځواب: (الف ،ب) داصورت ښه ووچې مځکې منبرصف پرې کوونکی مې پورته کړدتختې منبرمې جوړکړچې خطبه هم ورباندې ویل کېده اودجماعت پروخت پورته کول کیدی هم ترڅواول صف پوره شي ،ځکه چې دصف پوره کول سنت دی کماورد: [اقیموا الصفوف(۳) اودرسول اللهﷺ لپاره دلرګیو منبرجوړکړل شوی

(۱) الدرمع الرد (۲۰/۱) کتاب الطهارت ،اوائل کتاب الطهارة وفیه ایضا وبه ظهران تعمد الصلوة الخ (الدرمع الرد(۱/ ۱۸۵) اوائل کتاب الطهارة ط رشیدیه)

(۲) حیث قال بعدذکرۃ الخلا ف فی مسئلة الصلوة بلا طهارة وان الاکفارروایة النوادروفی ظاهرالروایة لایکون کفرًاالخ (ردالمحتار(۲۰/۱) اوائل کتاب الطهارة ،مطلب فاقدالطهورین ط رشیدیه) (۳) عن انس رضی الله عنه ان النبی ﷺ قال [اقیموا الصفوف فانی اراکم خلف ظهری (الجامع الصحیح للبخاری ۱۰۰/۱، کتاب الاذان ،باب تسویة الصفوف عندالاقامة وبعدها)

ووچي ده مبارک به خطبه ورباندي ویله نوچاچي داسي وکړه هغه دثواب کار وکړده ته طعنه ورکول اوبدورته ویل ګناه ده اودضدپه وجه مخکې دصف په مینځ کې راتلوونکې منبربیاجوړول ناوړتیااوبددی چاچي دضدپه وجه داسي وکړاوکوموخلګوچي دده ملګرې وکړه دوئ سنت کارپرېښودبېله کومې وجې دسنت خلاف اومکروه کاروکړ.

محراب که دمسجدپه مینځ کې نه وي نوڅه حکم دی ؟

سوال : (۸۶۰) یودرې درودروازووالاپخوانی مسجدوراسته اړخ ته دوې دروازې نورپراخ کړل شواوس که دټولودروازو له حسابه دمینځنې دروازې په برابرمحراب جوړکړونودیونیم ګزټوته وچپه اړخ ته زیاتیږي په هرحال محراب دمسجدپه مینځ کې نه پاتیږي نوڅه حکم دی ؟(۳۲/۳۳۹-۱۳۳۳ه)

ځواب : ترڅپله وسه پورې دامام ددرېدوځای په مینځ کې جوړېدل پکاردي سنت همدادی امادارتیاپه وجه لږډېرتوپیرکومه پروانلري نودټولودروازوپه حساب دمینځ پردروازه برابربرې جوړکړي.

دمسجددربچې څومره پورته بایدوي ؟

سوال : (۸۶۱) دنوې مسجدپه غربي دېوال کې دهوالپاره دربچې لګول که جائزوي نودانسان ترقدلوړې بایدولګیږي که څرنګه ؟(۱۳۴۵/۵۴۷ه)

ځواب : داصحیح دی اوپه دربچوکې دي سېمان داوسپېنې مثلا ولګول شي نوبیاددغودربچولاندي لګول هم صحیح دي دانسان په قدم پورته لګولوته اړتیانشته ،ځکه سېمان ددربچوبه دستري په څیروګرځي. فقط

ویران مسجدابادول عین ثواب دی

سوال : (۸۶۲) یومسجدیورئیس صاحب دی په هغه کې پروخت لمونځ نه کیږي ددې ځای لمونځ کوونکې ددې تکلیف په وجه یوبل مسجدچي ویران ولاړدی آبادول غواړې داجائزدی ،که نه ؟ رئیس صاحب دزاړه مسجد تعمیراوترمیم منع کوي داجائزدی ،که نه ؟(۳۲/۴۲-۱۳۳۳ه)

ځواب : زوړمسجدسم اوآبادول ډېرضروري اوکاردثواب دی دزاړه مسجد تعمیراوترمیم منع کول جائزنه دی دزوروړې ډلې دویران مسجدآبادی، منع کول یومخ ظلم اوناپوهي ده ویران مساجدآبادول دهغه خوندي کول ، تعمیرول اوترمیمول عین ثواب دی قال الله تعالی : [انمایعمرمساجدالله من آمن بالله والیوم الآ خرالایة] (سورة توبه آیت : ۱۸) اوواېې : [ومن اظلم ممن منع مساجد الله ان یذکرفیهااسمه وسعی فی خرابهاالایة (سورة بقره آیت: ۱۱۴) فقط.

دمسجدسرپوښلې برخه افضله ده که صحن (غولی) ؟

سوال : (۸۶۳) دمسجدبام لرروونکې برخه افضله ده که صحن (غولی) که په ګرمي کې په صحن کې لمونځ کیږي نوپه ثواب کې کوم فرق شته که نه ؟ (۱۳۴۳/ ۱۵۵۲ه)

ځواب : دمسجدپه دواړوبرخوکې ثواب بېله توپیره دی فقط.

په نژدې مسجدکې لمونځ کول افضل دي

سوال : (۸۶۴) (الف) دکلېوالولپاره په نژدې مسجدکې لمونځ کول افضل دی که لیرې مسجدته تلل افضل دي ؟

(ب) که دنوې مسجدناآبادولوپه نیت لیرې مسجدته ولاړشي نوڅه حکم دی ؟(۱۳۴۵/ ۲۳۳ه)

ځواب : (الف) په دې صورت کې په نژدې مسجدکې لمونځ کول افضل دی فی الشامی : [الااذاکان الحادث اقرب الی بیته فانه افضل حینئذ......ومسجد حیه وان قل جمعه افضل من الجامع وان کثرجمعهٔ الخ(۱) (شامی) (ب) ګنهګاردی فقط.

دناابادمسجدتبادله

سوال : (۸۶۵) په یوه کلې کې دسکهانواومسلمانانوآبادي ده دکلې په مینځ کې یوداسي ځای دی چي بې بامه

،نااباده په نامه مسجددی له شلوکلونوراهیسي پکي لمونځ نه کیږي

(۱) الشامی (۱/ ۴۸۷-۴۸۸) کتاب الصلوة ،مطلب فی افضل المساجد ط رشیدیه.

دامسجد د سکهانو د کورنو وڅنګ ته دی سکهان وايي چې دد ې مسجد پرځای زموږ څخه دوه چنده ځای واخلئ کنې موږ ومحکمې ته عارضه کووآياداځای د مسجد که ورکړو بل ځای دد ې په بدل کې ځيني اخستلای شو؟ که محکمې مسجد دوئ ته ورکړنو د مسلمانانو لپاره به ډيربدوي او د همېشه لپاره به دښمني جوړه شي شرعًا څه حکم دی ؟(۱۳۴۲/۹۲ ه)

ځواب: دفقهې په کتابونوکې ليکلې دي چې کوم ځای يوځل مسجد شو هغه به همېشه مسجد وي په هغه کې هيڅکله هم د مالک په حيثت تصرف صحيح نه دی او د هغه تبادله جائزه نه ده لکه چې الله رب العزت وايي [وان المساجد لله] سورة جن آيت : ۱۸) اوپه شامی کې راغلې دي [ان الفتوی علی تأبيد المسجد] (الشامی ۳/ ۳۹۵،کتاب الوقف) نوپخپل اختيار د مسلمانانو لپاره دامسجد پر ېښو د ل او تبادله کول او سکهانو ته سپارل صحيح نه دی ښ حکومتي حکم که دوئ ته ورکول شي نوپه د ې مسلمانان نه دي ګنهګار،ځکه چې په د ې صورت کې دوئ معذوراومجبوردي خوپخپل اختيار ددوئ لپاره د کفاروپه ولکه کې مسجدورکول جائزنه دی فقط.

دنوې مسجدله امام څخه دخوابدتياله امله زوړمسجدابادول

سوال: (۸۲۶) مسلمانانوپه اتفاق سره دکوم مصلحت له مخې مخکنی مسجد پر ېښودنوی مسجد يې جوړ کړ،ځکه مخکنی مسجد سوکه ،سوکه ناآباد شو او ډېر الونه يې هم ونړېدل دوه درې مسلمانان له امام څخه ناراضه شول پرضد راغلو مخکنی مسجد يې بياجوړ کړلمونځ کول يې پکې شروع کړپه د ې هکله شرعًا څه حکم دی ؟(۱۸۹۸/ ۱۳۴۵ ه)

ځواب : داډيرښه وشوچې مخکنی مسجد آباد شو،ځکه چې شرعي حکم دادی چې کوم ځای يوځل مسجد شي هغه د همېشه لپاره مسجد وي د هغه په آبادولو کې کوشش کول ضروري او دلوئ ثواب باعث دی فقط.

دمسجدپه ګټه رسولوکې دخنډجوړوونکې څه سزاده

سوال: (۸۲۷) يوه خاص ونه مسلمان حکومت د مسلمانانوپه غوښتنه په مسجد

کې دصرفولولپاره ورکړه پردې يومسلمان هندوان تيرايستل چې دغه خاص ونه ستاسو دلمانځنې ده تاسو يې پرې کولوته مه پريږدئ اوپه مسجد کې يې لګولوته مه پريږدئ ،ځکه هندوانوحکومت ته عارضه وکړه په حکومت باندي دد ې ونې پرې کول منع کړل دداسي مسلمان په هکله شرعًا څه سزاده چې د مسجد په کارونوکې خنډشي ؟(۱۲۹۲/ ۳۳-۱۳۳۴ ه)

ځواب: دغه سړی چې مسلمان دی بياهم مسجد ته په ګټه رسولوکې خنډوي ګنهکاراوله خير څخه منع کوونکی دی اولکه څرنګه چې د مسجدونوپه ودانولوکې کوشش کوونکی اومسجد د خيرخبراخستوونکې په زيري د [انمايعمر مساجد الله من آمن بالله واليوم الآخر] (سورة توبه آيت: ۱۸) دالله رب العزت مسجدونه هماغه خلک ودانوي کوم چې پرالله اودقيامت پرورځ ايمان لري) کې داخل دی داسي د مسجدونوويرانوونکی اوپه ويرانولوکې کوشش کوونکی اوپه ګټه رسونه کې خنډجوړېدوونکی به له دغه زيري ليري وي اوپه د ې وعيدکې به داخل وي کوم چې د[منّاع للخير] (سورة ق : آيت : ۲۵ ،سورة قلم آيت: ۱۲) لپاره راغلی دی فقط.

دنوې مسجدله ودانولوڅخه منع کول

سوال: (۸۲۸) په يوه کلې کې صرف يوپخوانی مسجد دی کلی ډيرغټ دی نږدې پنځه سوه لمونځ کوونکي آباددي په دوئ کې يوسړی دنوې مسجد جوړولواراده وکړه مسلمانان يې رايوځای کړل ددوئ په رأيه اواتفاق سره يوه خامه چوتره جوړه کړه له دووکلونوراهيسي پکې لمونځ کيږي دپخواني مسجد شاوخوا خلګودارأيه ورکړه چې بل مسجد دلته مه جوړوئ صرف زوړ مسجد دې وي دوئ محکمه کولوته آماده شول اودچوترې ماتولوته تيارشو ،ځای ورکوونکی يې تيرباسي چې ته خپل ځای بيرته خيني واخله په د ې صورت کې چې کوم خلک خنډدي د هغوئ لپاره څه حکم دی ؟ (۳۲۰/ ۱۳۴۳ ه)

ځواب: که دغه سړی هغه چوتره دلمونځ کولولپاره وقف کړې ده او دامسجدو بلل شونودامسجد شواوس دده لپاره دد ې ځای بيرته اخستل صحيح نه دي اوکوم خلک چې خنډدي هغوئ ګنهګاران دي فقط.

مسجداو دمسجدداوقافوخوندي کول پرمسلمانانولازم دی

سوال: (۸۲۹) په دهلي کې دغريب شاه مسجد حجره اودصحن نږدې نيمه برخه ځاه

اوغسل خانه اونورحکومت اخستل غواړې ددوئ خوندي کول له وس سره سم پرمسلمانانوترکومه په شریعت کې ضروري دی ؟
اوکه ددغوبرخوپه خوندي کولوکې دکوم مسلمان ځان مال ولګیږي نوآیاده ته ثواب شته ؟(۱۳۲۹/ ۱۳۴۳ه)

ځواب: د[وان المساجد لله] (سورة جن آیت : ۱۸) په حکم اودفقهې روایتونه [الوقف لایملک ولایملک] (الدرمع الرد ۳/ ۴۰۲، کتاب الوقف ط رشیدیه) وان الفتوی علی تأبید المسجد (الشامی ۳/ ۳۹۵، کتاب الوقف ط رشیدیه) په سبب دمسجد دمسجد دحجرې دمسجد دصحن اووقف ځاه خوندي کول پرمسلمانانولازم دي اودبل چاله تصرف څخه ترخپله وسه ساتل ضروري اولازم دي مسلمانان په دې کې پوره کوشش وکړي اومرسته دې وغواړې دبل له تصرف څخه دې دغه شیان وژغوري اوله ځانې اومالې مرستې څخه ترخپله وسه پورې دده نه کوي خوقتل اوقتال دې نه کوي اوددوئ په خوندي کولوکې چې مسلمان څومره ځانی اومالي کوشش وکړي هغوئ داجراوثواب حقداران دي فقط.

حکومت که دمسجدونواوقبرونونړولوحکم وکړي نومسلمانانوته څه کول پکاردي ؟

سوال: (۸۷۰) په اوس زمانه کې زیاتره لیدل کیږي چې دحکومت له لورې دکوم سړک یادریل ګاډې دکرښې یانهرجاري کولواوکیندلوحکم کیږي نوزیاتره ددوئ ومخته مسجدونه اوهدیرې راځي دهغوئ دیومخ نړولوحکم کیږي اخیرپای داسي حال جوړشي چې حکومت خپل ضداوزورنه پریږدي اومسلما نان دخپل مذهبی جوش په وجه مرګ ته آماده وي اوډیرانسانان بې ګناه ووژل شي خوزیاتره لیدل کیږي چې حکومت خپل حکم بیرته واخلي که مسلمانان دومره هم ونکړي نویقینًا دحکومت لپاره یوډول لاره خلا صیږي اودمسلمانانو دعبادت ځایونه به همیشه دارنګه له مینځه وړل کیږي ،ځکه نونن صبادسکهر سنده په اولسوالی دیونهر(ولې) کیندلوحکم شوی دی ډیرمسجدونه اوهدیرې یې مخته دي اوس په دغه صورت کې مسلمان بایدڅه وکړي اوترکومه دمسجدونوخوندي کول پردوئ ضروري دی ؟(۱۹۸۱/۴۲_۱۳۴۷ه)

ځواب: کله چې دحکومت داډول عمل دهغه اعلان یومخ خلا ف دی کوم چې کوئن وکټوریه

اودواړوپارلیمانانو(دارالعوام اودارالامراء) اودلندن مذهبی ډلې په اتفاق سره په ۱۸۵۸ء کې په ټول هندوستان کې خپورکړدهندټول اوسېدوونکې داډمن کړاودکوم تصدیق چې ایډورډاووم اوجارج پنځم دخپلې ،خپلې پاچاهی په زمانه کې په کلکوټکوخپورکړی وواوکوم چې اصولادهندد حکومت ټولوذمه وارانوترننه پورې منې اوکله چې دمذهب په حیث پرهر مسلمان فرض اوواجب دی چې داسلامي شعائروپه خوندي کولوکې خپل پوره کوشش وکړي اوله هرډول قوت صرف کولوڅخه دې ډډه نه کوي اوکله چې په داسي مذهبي معاملوکې کوشش کول ګام پرګام باعث دثواب اورحمت دی ،ځکه دسنده پرمسلمانانوخاص اوپرنورومسلمانانوعمومادرجه په درجه ضروري اولازم دی چې په پوښتل شوې کارکې ددیني مسجدونواواسلامي هدیروخوندي کول په پوره توان سره وکړي اوکومه کمزوري هیڅکله ونکړي کوم خلک چې په داسي معاملوکې په [ولاتلقوابایدیکم الی التهلکة] (سورة بقره آیت : ۱۹۵) دمسلمانانوعزائم اوددوئ همتونه ضعیفوي هغوئ سخت خطاء دي دوئ ته ددې آیت دتفسیرپه هکله خبرنشته دحضرت ابوایوب انصاری رضی الله عنه روایت ددې آیت په تفسیرکې په صحاح کې موجوددی (۱) هغه وګورئ دمسلمانانوپه داسي کارونوکې ترخپله وسه سعی اوله انتهایي توان صرفولوڅخه ځانونه کنبل اواسلامي شعائروبربادېدوته پرېښودل داتهلکه ده نه بد عهدظالم دده له ظلم څخه منع کول قال.

(۱) عن اسلم ابی عمران قال کنابمدینة الروم فاخرجوا الیناصفاعظیمامن الروم فخرج الیهم من المسلمین مثلهم او اکثروعلی اهل مصرعقبة بن عامر ،وعلی الجماعة فضالة بن عبیدفحمل رجل من المسلمین علی صف الروم حتی دخل علیهم فصاح الناس وقالواسبحان الله یلقی بیدیه الی التهلکة فقام ابوایوب الانصاری فقال یاایهاالناس انکم لتاولون هذه الایة هذا التاویل وانمانزلت هذه الایة فینامعشرالانصارلمااعزالله الاسلام وکثرناصروه فقال بعضنالبعض سرادون رسول الله ﷺ ان اموالناقدضاعت وان الله قداعزالاسلام وکثرناصروه فلواقمنا فی اموالنافاصلحناماضاع منهافانزل الله تعالی علی نبیهﷺ یردعلینا ماقلناوانفقوافی سبیل الله ولاتلقوابایدیکم الی التهلکة کانت التهلکة الاقامة علی الاموال واصلاحها وترکناالغزوفمازال ابوایوب شاخصا فی سبیل الله حتی دفن بارض الروم هذاحدیث حسن غریب صحیح (جامع الترمذی : ۲/ ۱۲۲ ابواب التفسیرمن سورة البقرة وهکذافی ابی داؤدص : ۳۴۰ ، کتاب الجهاد ،باب فی قوله عزوجل ولاتلقوابایدیکم الی التهلکة.

علیه الصلوة والسلام ان الناس اذارأوا الظالم فلم یأخذوا علی یدیه اوشک ان یعمهم الله بعقاب (۱) وقال علیه الصلوة والسلام کلا : والله لتأمرن بالمعروف ولتنهون عن المنکرولتأخذن علی یدی الظالم ولتأطرنه علی الحق اطرًا ولتقصرنه علی الحق قصرا(۲) (وفی روایة) اولیضربن الله بقلوب بعضکم علی بعض ثم لیلعننکم کمالعنهم الحدیث(۳) رواه ابوداؤدفی سننه وغیره لیکوونکی حسین احمد غفرله.

حضرت مولاناحسین احمدصاحب مدظله العالی چي دلندن حکومت دکومو اعلانونوحواله ورکړې ده ماهم اورېدلي دي چي دغه اعلانونه کړل شوي دي خوبالفرض که دغه اعلانونه نه وای بیاهم کوم مسلمان په حیث داسلام خپل مذهبي شعائرپه ختمېدولیدل نشي زغملای اودده لپاره دمذهب په حیث ضروري دی چي دی هرجائزکوشش دخپلومذهبي شعائروخوندی کولووکړي اودادکوم خاص محلې یاخلکوفرض نه دی بلکه ددنیاټول مسلمان ددې فرض لپاره مشترک حیثیت لري په همدې وجه ددغومسجدونواوقبرونودجوازترحده ژغورل پرهرمسلمان فرض دی والله ولی امره ومجری قدره محمداعزازعلی غفرله.

په دېوال راګرځولودمسجدخوندي کولوحکم کله وي ؟

سوال : (۸۷۱) یومسجددومره کوچنی دی چي پکي ددرېیو، څلوروکسانودلمو نځ کولوو ړځای شته

(۱) عن قیس قال : قال ابوبکربعدان حمدالله واثنی علیه یاایهاالناس انکم تقرؤن هذه الآیة وتضعونهاعلی غیرمواضعها علیکم انفسکم لایضرکم من ضل اذااهتدیتم قال عن خالد: وانا سمعناالنبی ☐ یقول ان الناس اذارأوا الظالم الحدیث (سنن ابی داؤدص : ۵۹۶، کتاب الملاحکم باب الامروالنهی)

(۲) عن عبدالله بن مسعودرضی الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ ان اول مادخل النقص علی بنی اسرائیل کان الرجل یلقی الرجل فیقول یاهذااتق الله ودع ماتصنع فانه لایحل لک ثم یلقاه ثم قال کلاوالله لتأمرن بالمعروف ولتنهون عن المنکرالحدیث (سنن ابی داؤدص: ۵۹۲، کتاب الملا حم باب الامروالنهی)

(۳) عن ابی مسعودرضی الله عن النبی ﷺ بنحوه زاد: اولیضربن الله بقلوب بعضکم علی بعض الحدیث (سنن ابی داؤدص: ۵۹۲، کتاب الملا حم ،باب الامروالنهی).

ومخته اوشاته په دربو جماعت نشي کولای نوپردغه مسجدد دېوال راګرځولو حکم شته که نه ؟(۴۰۵/ ۱۳۴۳).

ځواب : داحکم پرمسجدد دېوال راګرځولواوخوندي کولوهغه وخت دی چي هغه مسجدداسي ویران شي یاپه ویران ځای کې واقع شي چي پکي څوک لمونځ کوونکې پاته نشي اوڅوک پکي لمونځ نه کوي دهغه په هکله داحکم دی چي کله دهغه په خلا ص پاتېدودهغه دبې ادبۍ کېدوویره وي اودحیوانانودتګ ،راتګ اندېښنه وي نوهغه په شاوخوادېوال راګرځولوخوندي کړي نوردکوم کلې دمسجدد کوچني والی په وجه داحکم نه دی چي هغه دې بند کړل شي بلکه په هغه کې لمونځ کول پکاردی که جماعت نه کېږي نویودوه کسان خودي لمونځ پکي کوي پرکلیوالوداحق دی چي داویران نکړي اوچي څرنګه کېدای شي لمونځ دې پکي کوي که جماعت پکي نشي کېدای نوبېله جماعت دې لمونځ کوي اولوړې خوچي ترکومه کېدای شي په جماعت سره لمونځ بایدوشي که څه هم امام اومقتدی برابرسره ولاړوي خوامام دې لږمخته شي فقط.

دلمانځه له وخت پرته دمسجددروازې تړل جائزدي

سوال : (۸۷۲) له لمانځه پرته په نوروو ختونوکې دسامان دخوندي کولولپاره دورځې دمسجددروازې تړل څرنګه دي ؟(۱۱۱۸/ ۳۳-۱۳۳۴ه)

ځواب : له لمانځه پرته په نوروو ختوکې دمسجدسامان خوندي کولوپه نیت دمسجددروازې تړل صحیح دي په درمختارکې دي [وکماکره غلق باب المسجد الالخوف علی متاعه(۱)]

سوال : (۸۷۳) شرعی حکم څه دی ددې مسئلې په هکله چي جامع مسجددرې منزله دی دوه چت لروونکې اوپریوه دچادرسائبان دی دمسجددواړه اړخونه راسته ،چپه شته دمسجدسره نښتې دوې حجرې دمؤذن داستوګنې اودمسجدد شیانودخوندي کولولپاره دی دمسجدپه اول منزل کې قېمتي ځراغونه پراته دي دهمدغوځراغونواونوروخوندي کولولپاره له څه مودې راهسي داول منزل دټولودروازوته دشپې قلفان لګېږي دغه قلفان دماخستن ،سهاراوجمعې دلمانځه پروخت خلا صېږي په نورووختونوکې شپه اوورځ اول منزل قلف وي درې وخته لمونځه په دباندي برخه کې کېږي مولوي عبدالعزیزصاحب پردې اعتراض لري چي داکارناجائزدی دده قول حق دی او که نه ؟(۳۱۷/ ۲۹-۱۳۳۰ه)

(۱) الدرمع الشامی(۱/ ۴۸۵) ، کتاب الصلوة مطلب فی احکام المسجد ط رشیدیه.

ځواب: فقهاؤپه دې اړه دافیصله کړې ده چې بېله اړتیادمسجددروازه تړل مکروه دي خوکه دسامان اومتاع دضایع کېدواندېښنه وي نوله لمانځه پرته په نوروو ختونوکې دمسجددروازه تړل صحیح دی نوکله چې دمسجددسامان دخوندی کولوپه اړتیاله لمانځه پرته په نوروو ختونوکې ټول مسجدبندول صحیح دي نودیوه منزل بندول چې پکې دمسجدسامان دی اودغه تړل لمونځ کوونکوته کوم تاوان نه رسوي په اولی درجه جائزاوصحیح وي.

قال فی الدرالمختار: وکماکره غلق باب المسجدالالخوف علی متاعه به یفتی وقال فی ردالمحتار: هذااولی من التقییدبزماننالان المدارعلی خوف الضرر فان ثبت فی زماننافی جمیع الاوقات ثبت کذلک الافی اوقا ت الصلوة اولافلا اوفی بعضهافقی بعضهاکذافی الفتح وفی العنایة : والتدبیرفی الغلق لاهل المحلة (۱) (الشامی المجلدالاول احکام المساجد) فقط .

بېله کومې وجې مسجدته دراتلودروازه تړل

سوال: (۸۷۴) دیومسجددوې دروازې دي یوه ختیز ته بله لویدیزته دختیزولورته زیات مسلمانان آباددي اوتګ ،راتګ هم پردغه ختیززدروازه زیات دی اوس خینودلویدیزدلورخلګوله ضده شرقي دروازه وتړله ددې په بندیدودختیزدلو رلمونځ کوونکي ډیرپه تکلیف شول نوشرعًاددغې دروازې خلاصول جائزدي ،که نه ؟(۴۴/۵۲۰-۱۳۴۵ه)

ځواب: بېله کومې شرعي وجې اومجبورۍ دیادشوي مسجدختیزدلوردروازه تړل جائزنه ده ،کله چې ددې په بندولودډغولورومسلمانانوته تکلیف دی [وقال علیه الصلوة والسلام لاضررولاضرار(۱) وقال الله تعالی : ومن اظلم ممن منع مساجدالله ان یذکرفیهااسمه وسعی فی خرابها] (سورة بقره : آیت : ۱۱۴) نودلمونځ کوونکودمنع کولولپاره شرقي دروازه بندول سخته ګناه اوظلم دی دابايد سمدستي خلا صه کړي فقط.

(۱) الدرالمختارورد المحتار(۱/ ۴۸۵) کتاب الصلوة ، مطلب فی احکام المسجدط رشیدیه .(۲) عن عمروبن یحیی المازنی عن ابیه ان رسول الله قال: لاضررولاضرار(الموطا، للامام مالک رحمه الله ص: ۳۱۱ ،کتاب الاقضیة ،القضاء فی المرفق).

دمسجدله لاسه وتلواندېښنه وي نودترک موالات په زمانه کې هم ومحکمې ته عارضه کول دي (۱)

سوال: (۸۷۵) دشیعه ګانواوسنیانودیوه مسجدپه هکله په محکمه کې دعوی ده که دترک موالات په وجه پیروي په محکمه کې ونکړه شي نومسجدله لاسه وزي په دې صورت کې په محکمه کې پیروي کول پکارده ،که نه ؟(۱۱۱۲/ ۳۹-۱۳۴۰ه)

ځواب: په داسي حال کې اهل سنت والجماعت والابايد پیروي وکړي فقط.

دمحکمې داپرېکړه چې یوکال به حنفیان اویوکال به مرزایان په دې مسجدکې لمونځونه کوي صحیحه نه ده

سوال: (۸۷۶) دیوه کلي ټول اوسېدونکي مخکې حنفیان وواوس په دوئ کې څوکسان مرزایان شول مسجدقبضه کول غواړې عدالت دافیصله وکړه چې تریوه کاله پورې دې حنفیان پکې لمونځونه کوي اویوکال دې مرزایان کوي آیادافیصله له شرعې سره سمه ده ؟(۱۵۳۵/ ۱۳۳۸ه)

ځواب: دمرزایانوپرکفرداهل سنت والجماعت علماء فتوی دی دغه ډله مرتده اوکافره ده ،څکه ددوئ مسجدته راتلل اودلمونځ کولواجازه ورکول اوپر مسجد دوئ قبضه ورکول اوکوم صورت چې په سوال کې لیکل شوی دی چې یوکال به حنفیان په مسجدکې لمونځونه کوي اویوکال به مرزایان لمونځونه کوي شرعًا جائزنه دی دوئ داهل سنت والجماعت په مسجدکې هیڅ حق نلري اوددوئ هیڅ دعوی نشي کیدای.

دحنفیانواوغیرمقلدینولپاره جلا ،جلا مسجدونه خاصول اوفتنه جوړوونکې له مسجدڅخه منع کول

سوال: (۸۷۷) یونبارګوټی له څوپېړیوراهیسې آباددی دهغه ځای داوسېدوو نکومسلمانانوشمېرحالانژدې اته زره دی اومسجدونه اندازًااتیا (۸۰) ته نژدې آباددی له دې پرته نور هم مسجدونه شته له څوشیعه ګانوپرته دهغه ځای نورټول مسلمانان له اوله مذهبًاحنفیان ،یوفکریوډول عقیدې اومسئلووال پخپل مینځ کې ډیرسره خواږه یوځای سره اوسېدل

(۱) موالات: دوستي ،ترک موالات: مرسته نه کول دجنګ آزادې په زمانه کې دانګریزې حکومت سره دمرستې نه کولو فتوی جاري شوې وه اوټولو هندوستانیانوله حکومت څخه اړیکې پرې کړې وې دهغه زمانې په اړه سوال دی سعید احمد پالنپوري.

ددوئ ترمینځ هیڅ ډول جنګ اوجګړې اومخالفت نه ووخونړدي له دیرشودرې دیرشوکالوراهیسي څوکسان (غالبًا چي حالابه ددوئ شمیره دوه نیم سوه کسان وي) دمذهب منکرین غیرمقلدین شول اودخلګو ترمیځ سخته کرکه اومخالفت پیدا شوآن تردې چي ترمحکمې څوځله سره ولاړوغیرمقلدین (اهل حدیثو) خپله عبدګاه اوجامع مسجدهم جوړکړخوځیني داسي مسجدونه هم شته چي پکي دواړې ډلې لمونځونه کوي په داسي مسجدونوکې زیاتره دمذهب په هکله جنګونه کیږي ،ځکه چي په دااوس ورځو: ۱۳۳۳ه محرم کې په یوه مسجدکې دواړې ډلې راجمع شوې پخپل مینځ کې یوبل ډیرسخت ووهل چي په دې هکله دوه راپورنه حکومت ته هم ورسېدوچي ورځخه په ښارګوتې کې یوغوغاجوړه شوه که پولیس نه وای راغلي نومعلومه نه ده چي څه به کېدای دهرې ورځې له محکموځخه دواړې ډلې تنګې شوې دي اوس ددواړوډلو خوښه ده چي روغه وکړي ،جنګ ختم کړي ،ځکه نوددواړوډلو په خوښه څوکسان دربیمګړې وټاکل شول ددواړوډلوپه اتفاق سره ددربیمګړو ومخته دامضمون ولیکل شوچي دربیمګړې چي دشریعت اوقانون سره سم اوپه امانتداري سره کومه فیصله وکړي موږته منظوره ده اوس له حقاني علماؤځخه داپوښتنه ده.

(الف) کله چي ددیرشوکلوله تجربې اولیدني ځخه داخبره ثابته شوه چي په دغه ښارګوټې کې چي دواړې ډلې دیوجګړې مسجدته ورشي نوزیاتره دمذهب په هکله فساداوشرر امینځ ته شي که ددغه شر،فساداوفتني ختمولولپاره دربیمګړې دواړې ډلې بېلي کړي اوددواړوډلولپاره خاص ،خاص مسجدونه وټاکي نوآیادافیصله به دشریعت خلا ف وي ؟

(ب) که دکوم لمونځ کوونکی په وسېله دامنیت په خوندي کولوکې خلل راځي اودشراوفساداندیښنه وي یاکوم لمونځ کوونکیوته کوم تکلیف اوزیان رسیږي نودداسي سړی دامنیت خوندي کولولپاره اودشراوفساددمخنیوي لپاره له جماعت ځخه منع کول آیادشریعت خلا ف دی ؟ (۳۲/۱۰۴۲-۱۳۳۳ه)

ځواب: (الف) په قرآن شریف کې دي [والله لایحب الفساد] (سوره بقره آیت: ۲۰۵) یعنی بېشکه الله تعالی فسادنه خوښوي اوداهم شته [لاتتبع سبیل المفسدین (سوره اعراف آیت: ۱۴۲)] یعنی دمفسدینو دلارې پیروي مه کوئ اوداهم دي: [لاتفسدوافی الارض بعداصلاحها] (سوره اعراف آیت: ۵۲) یعنی له اصلاح وروسته په مځکه کې فسادمه کوئ له دغونصونوڅخه په ښکاره ثابت دي چي فسادجوړول حرام اودهغه ختمول واجب دي

کله چي ددیرشوکلونو له تجربې ځخه معلوم دي چي ددواړوډلوپه یوځای کېدو شر،فساداوفتنه رامینځ ته کیږي ،ځکه که صرف دفساددختمولو اودامنیت خوندي کولواود خلګو ترمینځ روغه راوستوپه غرض که دربیمګړي دواړوې ډلې سره بېلي کړي اوددواړوډلولپاره خاص ،خاص مسجدونه وټاکي نودشریعت په خلا ف به نه وي بلکه دوئ به پرحق اودثواب حقداران وي.

(ب) کوم سړی چي دامنیت په خوندي کولوکې خلل وي باعث دشراوفسادوي اوعامولمونځ کونکیوته تکلیف رسوونکې اوضررې وي اودهغه فعل دطبیعیت خرابولووي دهغه له مسجدځخه منع کول دشرعي قانون سره سم دی حدیثونه واثاراودفقهاؤاقوال صفاپردې دلالت کوونکې دي رسول اللهﷺ او مه اوږه اواوم پیازخوړوونکې له مسجدځخه منع کړې دي بلکه له مسجدځخه یې ایستلې دي دارازده مبارک ﷺ خوشبولګوونکې ښځې ومسجدته له راتلو ځخه دفتنې دویرې په وجه منع کړې دي دارازده مبارکﷺ دهغوخلګوپه هکله چي دلمونځ کوونکې ومخته تیرشي (چي ورځخه دلمونځ کوونکې په خشوع اوخضوع (عاجزي) کې دفرق راتلواحتمال دی که څه هم لمونځ نه ماتوي) ویلې دي [فیلدفعه فان ابی فلیقاتل فانماهو شیطان (۱) ونحوذلک] اوده مبارک ﷺ هغه سړی هم کوم چي دقبلې وطرفته توفکلې ووله امامت ځخه لیري کړاوهغه یې والله رب العزت اودهغه ورسول ته تکلیف رسوونکی وبالی اوعبدالله بن مسعودرضی الله عنه هغه خلګ کوم چي په مسجدکې په لوړآواز اواورادویلواخته وومبتدعین وویل له مسجدځخه یې وایستل اوفقهاؤهم څرګندونه کړې ده چي اومه اوږه اوپیازخوړوونکې اودارنګه دخولې بدبوئ لرونکې جذامي ماهیان خرځوونکې اوهرتکلیف رسوونکی که څه هم چي په ژبه تکلیف رسوونکې وي ومسجدته له راتلوځخه منع کول پکاردي.

دلمونځ په توګه دمحدثینو اوفقهاؤڅوروایتونه اوعبارتونه وګورئ عن ابی هریرة رضی الله عنه [قال : قال رسول الله ه من اکل من هذه الشجرة فلایقربن مسجدناولایؤذینابریح الثوم رواه مسلم (۲) وعن عمربن الخطاب رضی الله عنه قال : : ثم انکم ایهاالناس تأکلون شجرتین لااراهماالاخبیثتین هذاالبصل والثوم لقدرأیت رسول الله اذاوجدریحهمامن الرجل فی المسجدامربه فاخرج الی البقیع فمن اکلهما فلیمتهماطبخًا رواه مسلم (۱) نووی رحمه الله دمسلم په شرح کې لیکلي چي فلایقربن

(۱) الجامع الصحیح للبخاری۱/ ۷۳، کتاب الصلوة باب لیرد المصلی من مربین یدیه.

(۲) الصحیح لمسلم۱/ ۲۰۹ ،باب نهی من اکل ثوماوبصلا او کراثا اونحوها الخ

المساجدهذاتصریح بنهی من اکل الثوم ونحوه عن دخول کل مسجدوهذامذهب العلماء کافةً (۱) اوحافظ ابن حجررحمه الله په فتح الباری کې لیکي : والحق بعضهم بذلک من بفیه بخرأوبه جرح له رائحة وزادبعضهم فالحق اصحاب الصنائع کالسماک والعاهات کالمجذوم ومن یؤذی الناس بلسانه الخ (۲) وعن ابی هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ ایماامرأة اصابت بخورافلاتشهدمعناالعشاء الآ خرة رواه مسلم (۳) وعن ابی سعیدرضی الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ لایقطع الصلوة شئ وادرؤاما استطعتم فانماهو شیطان رواه ابوداؤ(۴) وعن ابی سعیدرضی الله عنه قال : قال رسول الله ﷺ اذاصلی احدکم الی شئ یستره من الناس فارادا حدان یجتازبین یدیه فلیدفعه فان ابی فلیقاتله فانماهوشیطان رواه البخاری (۵) وعن ابی سهلة السائب بن خلادقال احمد (هورجل) من اصحاب النبی ﷺ ان رجلاام قومافبصق فی القبلة ورسول الله ﷺ ینظرفقال رسول الله ﷺ حین فرغ لایصلّی لکم فارادبعدذلک ان یصلی لهم فمنعوه واخبروه بقول رسول الله ﷺ فذکرذلک لرسول الله ﷺ فقال نعم وحسبت انه قال : انک آذیت الله ورسوله رواه ابوداؤد(۲) وعن ابن مسعودرضی الله عنه انه سمع قومًا اجتمعوافی مسجدیهللون ویصلون علیه الصلوة والسلام جهرًافراح الیهم فقال : ماعهدناذلک علی عهده علیه السلامْ وماارٰاکم الامبتدعین فمازال یذکرذلک حتی اخرجهم عن المسجد(۱) اوپه درمختارکې راغلي دي : واکل نحوثوم ویمنع منه وکذاکل مؤذولوبلسانه آه اوپه ردالمحتارکې دي وکذلک الحق بعضهم بذلک من بفیه بخرأوبه جرح له رائحة وکذلک

(۱) الصحیح لمسلم:۱/ ۲۱۰،باب نهی من اکل ثومًا اوبصلا اوکراثااونحوهاالخ(۲) فتح الباری :۲/ ۳۴۴، کتاب الاذان ،باب ماجاء فی الثوم النیّ والبصل والکراث مطبوعة مکتبة الریاض ریاض السعودیة.
(۳) الصحیح لمسلم۱/ ۱۸۳،کتاب الصلوة ،باب خروج النساء الی المساجداذالم یترتب علیه فتنة.
(۴) ابوداؤد:۱/ ۱۰۴، کتاب الصلوة ،باب من قال لایقطع الصلوة شئ.
(۵) مشکوة ص:۷۴،کتاب الصلوة ،باب السترة وصحیح البخاری:۱/ ۷۳، کتاب الصلوة باب لیردالمصلی من مرّبین یدیه
(۲) ابوداؤد:۱/ ۲۹،کتاب الصلوة ،باب کراهیة البزاق فی المسجد.

القصاب والسماک والمجذوم والابرص اولی بالالحاق وقال سحنون : لااری الجمعه علیهمااواحتج بالحدیث والحق بالحدیث کل من آذی الناس بلسانه وبه افتی ابن عمروهواصل فی نفی کل من یتأذی به آه (۲).

دمسجدحقونودباطلولواختیارهیڅوک نلري

سوال : (۸۷۸) (الف) یومسجددی څلوردیوالې دهغه څلورله څوکلونوراهیسي جوړه شوې ده اوس کفاروڅلورپنځه مسلمان وغولول په دوکه باندي دیوې روپۍ پرحکومتي کاغذڅوشرطونه ورباندي ولیکل لاس لیکونه یې ځیني واخستل چي دمسجددغه څلوردیوالونه ونړوي اوله کلونوڅخه دمسجددغسل خانواوبه بهیږي دابه بندووداشرعًاصحیح دی ،که نه ؟(۵۷۱/ ۱۳۴۰ه)

(ب) که دکفاروپه امردغه له ډیرې مودې راهیسي دمسجدجوړه شوې څلور دېوالې مسلمان ونړوي نودنړوونکې مسلمان په هکله څه حکم دی ؟

ځواب : (الف) دمسجدڅلوردېوالې نړول اودغسل خانواوبه بندول جائزنه دي اودکفارودغلبې په وجه دمسجداودمسجدپه څلوردېوالې کي اوپه وقف شیانوکې داډول تصرفات صحیح نه دي اودمسجدحقوقوباطلولووهیچاته اختیارنشته.

(ب) کوم مسلمان چي داسي وکړي هغه ګنهګاراوظالم دی دده داعمل حرام اوګناه ده فقط.

دچادغه ویناچي مسجدیواځي زمادی

سوال: (۸۷۹) یوسړی وایې چي مسجددهیچانه دی یواځي زمادی ؟(۲۸۸/ ۴۴-۱۳۴۵ه)

(۱) الفتاوی البزازیه علی هامش الفتاوی الهندیة ۶/ ۳۷۸، کتاب الکراهیة الفصل التاسع فی المتفرقات(۲) الدروالشامی (۱/ ۴۸۹) کتاب الصلوة ،مطلب فی الغرس فی المسجدط رشیدیه.

ځواب: مسجد د چاملک نه دی څوک چي د ملکیت دعوی کوي د هغه دعوی غلطه او باطله ده فقط.

مسجد دعیسایانو د ملکیت له تسلیمولو سره د مسجد حکم نه بدلیږي

سوال: (۸۸۰) کوم مسلمان چي پخپل قول او فعل مسجد د نصاری او نورو ملکیت په خوشحالی بېله زوره قبول او تسلیم کړي هغه مسلمان به په شریعت کې کافر که فاسق او فاجروي ؟ او دده امامت ، تولیت او شهادت به جائزوي ؟ او هغه مسجد د مسجد حق لري ؟ (۵۵۷/ ۴۷-۱۳۴۲ه)

ځواب: کوم مسجد چي یوځل مسجد شي هغه همیشه مسجد وي لان الفتوی علی تأبید المسجد (الشامی ۳/ ۳۹۵، کتاب الوقف) نو د چاپه وینا د غه مسجد د نصاری یا بل چاملک نشي کیدای وینا د د غه سړی لغوه ده او که ده داسي وکړل یا یې وویل نو فاسق شو که څه هم دده د وینا شرعًا کوم اثر نه شته بلکه هغه لغوه ده فقط.

پرده بره باندي په مسجد سیدان ، حویلي کلان لیکلو او د مسجد پر دروازه لګولو مسجد د چاملک نه ګرځي

سوال: (۸۸۱) په یو ښار ګوټي کې یو مسجد دی د هغه ټولي خرچې د وبیان کوي او زیاتره همدغه خلک په مسجد کې لمونځونه هم کوي په دې محله کې څو کورونه د شیعه ګانو او سني سیدانو هم دي کوم چي پرته له دې وینا چي مسجد زموږ دی نورهیڅ خدمت د مسجد نه کوي اوس سیدانو د خیرلو او مخالفت په نیت د مسجد پر دروازه یوه ډبره لګولې ده چي ورباندي لیکلي دي (مسجد سیدان حویلي کلان) د دغې ډبرې په لګولو د وبیان ناراضه دي چي مسجد له پخوا زماني څخه دی اوس پرده د ملکیت ډبره ولې لګول کیږي ؟ د دوئ اراده د بل مسجد جوړولو ده په شرعي حکم مې خبر کړئ. (۱۹۸۲/ ۱۳۴۳ه)

ځواب: ښه دادي چي ترڅو د محلې سیدان ، د محلې د مسجد د وبیان او نور خلک لمونځ کوونکې په دغه مسجد کې له لمونځ کولو څخه منع نکړي ترهغو دې دوئ د همدغه محلې په مسجد کې لمونځ کوي ولې چي د محلې د مسجد پر دوئ حق دی او مسجد د چاملک نه وي

نو د سیدانو پر ډبره باندي دا لیکل مسجد سیدان حویلي کلان په دې سره دغه مسجد د سیدانو ملک نه ګرځي او نه په دومره لیکلو سره د دوئ داغرض کېدای شي چي دا مسجد د دوئ ملک دی بلکه له دا ډول لیک څخه غرض داوي چي د مسجد جوړوونکی فلانی شخص دی ، څکه نو په دې باندي د د وبیانو او نورو لپاره بد نه دی ورل پکار په همدې مسجد کې هماغسي لمونځ کول پکار دي او د مسجد هر ډول خدمت او خبر اخستل پکار دي ، ځکه چي مسجدونه د الله ﷻ دي د چاملک نه دي قال الله تعالی [وان المساجد لله (سورة جن آیت: ۱۸) فقط.

د مسجد پر دروازه باندي د فلانی زوئ د فلانی دروغتیا یادګار د مضمون ډبره لګول

سوال: (۸۸۲) د زید زوئ سخت ناجوړه وو زید له الله رب العزت څخه دعاوغو ښته چي که زما زوئ جوړ شي نو د یادګار په توګه به د مسجد دروازه ، مناره او نور جوړوم الله رب العزت دده دعا قبوله کړه او ماشوم جوړ شو اوس پر دغه دروازه باندي دداسي مضمون ډبره لګول صحیح دي ، که نه ؟ د فلانی زوئ د فلانی د روغتیا یادګار (۴۲/ ۱۳۴۱ه).

ځواب: دا مضمون شرعًا کومه پروانلري خو شرط دادی چي دادریاکاری او نامه لپاره نه وي صرف د الله رب العزت لپاره داوقف کړل شي د نامه او ریا خیال یې نه وي صرف په دې وجه دالیک وي چي یادګار به وي فقط.

په کوم مسجد کې چي د هندو جوړوونکو د نومونو لوحه لګېدلې وي

سوال: (۸۸۳) نژدې څلویښت کاله کیږي چي هندوانو (د کلي مالکانو) د مسلمانانو لپاره پخپلو روپیو مسجد ودان کړی وو هغه مسجد تر اوسه پورې د مسلمانانو په ولکه کې دی لمونځونه پکې کوي امایوه ښتنه په مسجد کې داسي لګېدلې ده چي پکې د دغو دواړو هندوانو (د مسجد جوړوونکو) نومونه لیکل شوې دي دا مسجد شرعًا د مسجد حکم لري ، که نه ؟ (۹۳۰/ ۴۷-۱۳۴۲ه)

ځواب: دکافردوقف دصحیح کېدوداشرط دی چي دده اوزموږپه عقیده هغه قربت اوثواب کاروي نوکه یادشویوهندوانودثواب په کاربللودغه مسجد تعمیرکړد مسلمانانولپاره وقف کړنودامسجد شواوداوقف صحیح شولکه چي په شامي کې راغلې دي: [لمافی البحروغیره: ان شرط وقف الذمی ان یکون قربة عندناوعندهم کالوقف علی الفقراء اوعلی مسجدالقدس الخ (۱) (۳/ ۳۶۰، کتاب الوقف) اوکه دکافرانوپه عقیده داکاردثواب نه وي نوبیاددوئ وقف کول نه صحیح کیږي اودامسجد شرعی نه ګرځي په دې صورت کې دده دمسجد کېدولپاره داشرط دی چي دی مځکه ومسلمانانوته ورکړي مسلمانانو بیاداوقف کړي اومسجدیې کړي.

په هرحال په اوس وخت دوه کارونه په دې مسجد کې بایدوشي یوداچي پرکومه خښته ددوئ نومونه دي هغه خراب کړي که هغه خښته نه ایستل کیږي نوهغه ته دچونې اونوروپلاسترورکړي چي پټ شي اودوهم داچي کوموهندوانودا مسجد جوړکړهغوئ یادهغوئ معلوم وارثان دې ومسلمانانوته ورکړي هغه مسلمانان دې وقف کړي نوپه دې صورت کې دامسجد ګرځي فقط.

دهندوانوله ولکې دمسجدراایستل دمسلمانانودیني فریضه ده

سوال: (۸۸۴) دشاهي زمانې پخوانی مسجددی هندوانوپه یوه زمانه کې دامسجد شهید کړله مسلمانانوڅخه یې یولیک واخست چي پردغه مسجد زموږپه هیڅ ډول حق نشته اوموږهیڅ ډول دعوی نه کووپه دغه لیک پردغه مسجدباندې دمسلمانانوحق پاته دی اوکه نه ؟(۱۳۴۵/۲۱۳۳ه)

ځواب: ددغه لیک په وجه دغه مسجدله مسجدوالي څخه نه وځي دښارمسلما نان دې دامسجدوغواړي ولې چي مسجددالله ﷻ کوردی دچاملک نه دی اوکوم چي مسجد شي هغه دهمېشه لپاره مسجدوي کمافی الشامی [ان الفتوی علی تأبید المسجد] (الشامی: ۳۹۵/۳، کتاب الوقف ط رشیدیه.) فقط

(۱) الشامی( )کتاب الوقف شرائط الوقف ط رشیدیه.

دښارټول مسجدونه ابادول

سوال: (۸۸۵) که په کوم ښارکې دمسجدونوډیرښت وي اولمونځ کوونکي لږوي په هرمسجد کې دامام تنخواه ورکولوتوان نلري که سره نښتې محلې وال په ګډه په یوه مسجد کې امام مقررکړي اونورمسجدونه پرېږدي په یوه مسجد کې په جماعت سره په دغه امام پسې لمونځ کوي نوڅه حکم دی ؟(۱۳۴۰/۱۳۶ه) ځواب: ښه دادی چي ترڅوس وي نوټول مسجدونه آبادشي لږ، لږلمونځ کوونکې په ټولو مسجدونو کې لمونځ وکړي دمجبورۍ په حال کې چي څرنګه موقع وي هماغسې دې وکړي فقط.

دامام اودهغه داولاد لپاره دوقف شوې مځکې حکم

سوال: (۸۸۶) وقف کوونکې دزیداودده داولادلپاره نسل په نسل پسې ترقیامته پورې په یوه مسجد کې دامامت کولولپاره لږمځکه وقف کړه اوله دې شرط سره سم تراوسه روانه ده اوس دزیداولاددرې څلورپشته شول دده په کورنۍ کې سړي له سلوڅخه زیات شول اوددغه وقف آمدني ددوئ نه بس کیږي په دوئ کې زیاتره کسان دلمونځ ورکولوورډي نوپه دوئ کې څوک دامامت اووظیفې حقداره دي ؟(۱۳۴۳/۱۷۸ه)

ځواب: که وقف کوونکې داشرط لګولی ووچي ددغه وقف کړې مځکې امدني به دزید په اولادوکې هغه چاته ورکول کیږي کوم چي به ددغه مسجدامام وي نوزیاتره کلپوال چي کوم څوک زیات وړدامامت وبولي هغه دې امام وټاکي نوهغه به ددې آمدني حقداره وي نه نوراولاددزیداوکه دغه آمدني دزیدلپاره خاص وي نوله ده وروسته به دده پرټولو اولادونسل په نسل پسې درسېدوبرخه وېشل کیږي.

دوقف کوونکې دوظیفې حقدارکوم مؤذن دی ؟

سوال: (۸۸۷) وقف کوونکې کومه وظیفه دمؤذن لپاره مقرره کړه، وفات شومؤذن هغه څوک دی چي تل اذان کوي که کله ناکله یې کوي ؟(۱۳۳۴-۳۳/ ۵۱۲ه)

ځواب: په شامي کې راغلې دي: [ولایکون مدرسهامن الشعائرالااذاللازم التدریس الخ (۱)] په همدې وجه مؤذن هماغه حقداره کېدای شي]چي په پابندي سره اذان کوي فقط.

داامام اومؤذن دمعاش لپاره دوقف جائدادزیاتوب آمدني ومعلم ته په تنخواه کي ورکول

سوال: (۸۸۸) دامام اومؤذن دمعاش لپاره په اول کي څه مځکه وقف کړې وه اودهمدې مسجدپه اړه یوه مدرسه هم شته ددغې مځکي له آمدن څخه ومعلم ته تنخواه ورکول جائزدي ،که نه ؟(۱۴۸۲/ ۱۳۳۵ه)

ځواب: که دامام اومؤذن ترخرڅ زیاتوب آمدن وي اودهغه دضائع کیدواندېښنه وي نودمدرسي دمعلم په تنخواه کي ورکول هم له دې څخه صحیح دي [فان مراعاة غرض الواقفین واجبة(۲)].

واما م ته ورکړې روپۍ په مسجدکي خرڅول

سوال: (۸۸۹) که نکاح تړوونکی دکلي له رواج سره سم وامام ته څه روپۍ ورکړي خوفعلاً په هغه مسجدکي کوم امام نه وي نودغه روپۍ په مسجدکي خرڅولای شي ،که نه ؟(۹۰۰/ ۱۳۴۳ه)

دباني په ټاکلي امام که قوم راضي نه وي نو

سوال: (۸۹۰) زیدمسجدبانی اوامام دی زیداول امام اوده وراره دوهم امام دی زیددوهم امام لري کړلمونځ کوونکوهغه امام وغوښت خوزیدددوئ په خلا ف وکړبیازیدبل پړدی سړی امام وټاکی په دې وجه دزیداونورولمونځ کوونکو ترمینځ اختلا ف دی اولمونځ کوونکي په دې نوې دوهم امام پسې له لمونځ کولو څخه انکارکوي په دې اړه شرعي فیصله څه ده ؟ اولمونځ کوونکي که بل نوی جامع مسجدجوړکړي دجمعي لمونځ پکي کولای شي ،که نه(۱۱۷۰/ ۱۳۴۵ه) ځواب: په درمختارکي راغلي دي : [البانی للمسجداولی من القوم بنصب الامام والمؤذن فی المختارالااذاعین القوم اصلح ممن عینه البانی الخ(۱) حاصل داچي په امام اومؤذن

(۱) قوله: لومدرس المدرسة ولایکون مدرسهاالخ (الشامی ۳/ ۴۱۲) کتاب الوقف قبل مطلب فیمن لم یدرس لعدم وجودالطلبة ط رشیدیه)

(۲) ردالمحتار(۳/ ۴۲۴)،کتاب الوقف،مطلب: مراعاة غرض الواقفین واجبة ط رشیدیه.

مقررولوکي باني مخکي دی خوکه قوم داسي سړی امام وټاکي کوم چي دامامت لپاره دباني ترټاکلي زیات وړوي نوبیادقوم مقررکړی امام دې قائم وساتل شي نوددې جګړې فیصله دهمدې اصل سره سمه وکړي اوبېله سختي اړتیانوی مسجدمه جوړوئ چي ورڅخه اول مسجدویران شي اودارازدضداونفس په وجه کوم مسجدمه جوړوئ که په ریښتیاونوي مسجدجوړولوته اړتیاده اوپه اخلا ص سره دالله رب العزت لپاره مسجدجوړ کړنوهغه هم مسجدګرځي اولمونځ پکي صحیح کیږي فقط.

دامام دفاسق اوفاجرکېدوپه وجه بل مسجدجوړول

سوال: (۸۹۱) په یوه کلي کي له ډیروورځوراهیسي ټول خلګ په یوه مسجدکي یوځای دجمعي لمونځ کوي خوددې مسجدامام فاسق اوفاجردی ددې محلي خلګ په ده پسې لمونځ نکوي خومسجدوال په زورپه دغه امام پسې په خلګولمونځونه کوي اوواېي چي یاخوپه دې امام پسې لمونځ کوئ کنې له دې کوره ووزې خلګ مجبورشول لږ.لیري بل مسجدجوړکړاودجمعي لمونځ پکي کوي په دغه مسجدکي لمونځ کول صحیح دي اوکه نه ؟اودغه مسجدته ضرار مسجدویل څرنګه دی ؟(۳۹۲/ ۴۲-۱۳۴۷ه)

ځواب: په دې صورت کي په دوهم مسجدکي لمونځ صحیح دي اودې مسجدته ضرارمسجدحکم نه ورکول کیږي ، خودایادساتل پکاردی چي داحنافوپه نزدپه کوچنیوکلیوکي دجمعي لمونځ صحیح نه دی بلکه په ښاراوښارګوټي اوپه داسي غټ کلي کي چي دښارګوټي په مثل وي اوپکي بازاروي جمعه صحیح کیږي قال [فی الشامی وتقع فرضافی القصبات والقری الکبیرة التی فیهااسواق الی ان قال) وفیماذکرنااشارة الی انه لاتجوزفی الصغیرة التی لیس فیهاقاض ومنبروخطیب الخ(۲) فقط.

(۱) الدرمع الشامی(۳/ ۴۵۴) کتاب الوقف قبل مطلب فی الوقف المنقطع الاول والمنقطع الوسط ط رشیدیه .

(۲) الشامی(۱/ ۵۹۰) کتاب الصلوة فی اوائل باب الجمعة ط رشیدیه.

دظالم ولسوال په وسیله دمسجدلپاره مځکه رانیول

سوال: (۸۹۲) یوهندوولسوال چې په ډاګه په ډیروځایونوکې دمسلمانانو سره ظلم کړی دی اوس دهمدغه ولسوال په وسیله ځومسلمانان دمسجدلپاره مځکه رانیول غواړي ،ځکه چې دولسوال له وسیلې پرته دمځکې مالک له مځکې ورکولوڅخه انکارکوي ددغه ولسوال په وسیله مځکه رانیوال جائزده ،که نه؟ په دې کې لمونځ صحیح کیږي ،که نه؟ (۱۳۴۲/۱۷۴۸ه)

ځواب: دغه مسلمانان که دیادشوې ولسوال په وسیله مځکه رانیسي وقف یې کړی اومسجد پکې جوړکړي نوهغه مسجدګرځي لمونځ پکې صحیح دی فقط.

دمسجدجوړولونیت کول اوبیامسجدنه جوړول

سوال: (۸۹۳) یوسړی دمسجدجوړولونیت وکړددې لپاره یومکان ونړوي دمسجدټول سامان راوړل شوخوپه دې کلي کې درې مسجدونه دي په هغوئ کې هم لمونځ کوونکې ډیرکم وي که نوی مسجدجوړنکړي نوداسړی خوبه نه ګنهګاریږي ؟ اوداځای دبل کارلپاره کارولای شي ،که نه؟ (۱۰۲۵/ ۱۳۳۹ه)

ځواب: که ددغه نوې مسجدلپاره یادشوی مکان وقف کړی نه وي اوتراوسه یې صرف نیت ووکوم لفظ یې داسي نه وو ویلی چې ماددې مکان مځکه مسجدکړه یامې دمسجدلپاره وقف کړه نوپه دې صورت کې که په دغه مکان کې نومسجدجوړنکړل شي نوداسړی نه ګنهګاریږي اوکه ده کوم لفظ داسي ویلی دی چې مادامسجدکړیامې وقف کړنوبیاپردې ځای دمسجدجوړول ضرو ري دی.

مسجدته تاوان رسوونکې انجن حکم

سوال: (۸۹۴) په کلي کې یوجامع مسجددی دجامع مسجدوشاته په دکانونو کې یوه انجن ډیره غټه چې له حرکت څخه دمسجدودانۍ ته ضرراوتاوان رسیږي اوپه لمانځه کې ددې له آوازڅخه خلل راځي په دې صورت کې دانجن له دې ځایه پورته کول څرنګه دي؟ضروري دی ،که نه؟ (۱۳۴۱/۵۵۳ه)

ځواب: په دې صورت کې چې دمسجدوتعمیرته دضرررسېدواندېښنه ده اودلمونځ کونکیوپه لمونځونوکې خلل اوتاوان پیښیږي مناسب دی چې دغه انجن له هغه ځایه پورته کړي اودمسجدپه دکان کې دامه ږدي دلږکتي لپاره ډیرتاوان ورل دعقل اودشرعي دغوښتنې په خلاف دی فقط.

دهندوانوومسجدته نژدې دسرناوهلواودمسجدپه څلوردېوالې کې دقرباني نه کولوشرط لګول

سوال: (۸۹۵) دسړک پرغاړه دیومسجدجوړولواراده ده بلکه تاداویې اچول شوی دی هندوان دااعتراض لري چې دمسجدوڅنګ ته دیوه هندوکوردی که هلته وراونورراشي نومسلمانان به اعتراض نه کوي چې سرنااونورمه وهي دمسجدپه څلوردېوالي کې کوم ډول قرباني بایدونشي دغه شرطونه دقبلولووړ دي ،که نه؟ (۱۳۴۱/۵۲۹ه)

ځواب: دغه مسجدچې تهداب یې هم اچول شوی دی جوړول پکاردی اوکله چې اسلامي حکومت نشته ،ځکه سرنااونورمسلمانان نشي منع کولای اوقرباني خاماخادمسجدپه څلوردېوالې کې کول لازم نه دی اودمسجدپه څلوردېوالې کې وقرباني کولوته کومه اړتیاهم نشته ،ځکه په دغه وخت ددغوکارونومنل شرعًاڅه پروانلري فقط.

مسلمانان دمسجدوڅنګ ته کورونه پریږدي بل ځای ته نقل کېدای شي ،که نه ؟

سوال: (۸۹۶) انګریزانوپه ایران کې دایران له باچاڅخه یوه مځکه په ټېکه واخسته پردغه مځکه یې دتېلورااېستوکارخانه جوړه کړه ډیرکارکوونکې مسلمانان یې پکې مامورین کړل مسلمانانودانګریزانوپه اجازه په دغه میدان کې په څوزره روپیولګولویوډیرپه زړه پورې مسجدودان کړپکې پنځه وخته اودجمعې لمونځونه کوي له دې وروسته یووخت انګریزدمسجدنړولوقصدوکړ مسلمانان ورته خندشول دایران باچاته خبرورکړدایران باچادمسلمانانوملګرې وکړه اوانګریزان یې له خپلې ارادې څخه منع کړل اوس بیاانګریزوایې چې دمسجداوددغوکورونوپه وجه کوم چې موږدکارخانې دمامورینولپاره جوړ کړې دي زموږکارخانه تنګه ده ،ځکه موږددې ځای کورونه اومسجدنړوو نژدې ددوومیلوپرواټن باندې نورمکانونه اوبل مسجدرجوړووپردې مسلما نان ورته خندشول تردې چې دکارخانې کاریې هم وربندکړچې ورڅخه دانګریز انوډیرمالي زیان وشواومجبورشودایې وویل چې ښه ده مسجدموږنه نړووخو ستا سولپاره به کورونه بل ځای ضرورجوړووترڅوکارخانه پراخه شي اوهغه کورونه به دومره لیرې وي چې هلته په اوسېدوبه له جمعې پرته دنورولمونځونو لپاره راتلل ګران وي آیاددې مسجدنړول جائزدي ،که نه ؟ اودمسلمانانولپاره دمسجدوڅنګ ته پخواني

کورونه پرېښودل ونویومکانونوته انتقالول مسجد یواځي پرېښودل جائزدي ،که نه ؟ (۱۳۴۵/۵۲۸ه)

ځواب: کله چي مسلمانانو په شرعي توګه دامسجدودان کړنواوس پرده هغه ټول حکمونه جاري کیږي کوم چي دمسجدونوسره خاص دي یعنی دابه همېشه مسجدوي دده نړول یاپه دې کې کوم ډول تصرف کول جائزنه دی [ولوخرب ماحوله واستغنی عنه یبقی مسجداًعندالامام والثانی ابداًالی قیام الساعة الخ (۱) (درمختار) وهکذافی البحرمع زیادة تفصیل (۲)] اودکارخاني مالک چي کله مسلمانانودمکانونوتخلیه کولوته مجبوروي نوددوئ لپاره له هغه ځایه نقلېدل جائزدی غوره صورت دادی چي کوم ځای ته دوئ نقل کړل شي هلته دې هم دمسجددودانولوغوښتنه وکړي په دې لحاظ به هغه مخکې مسجدجامع مسجدشي اودغه نوی مسجدبه دپنځه وخته لمانځه لپاره شي لنډه داچي مسلمانان خوددوئ تراثرلاندي دي چي کومه داسي خبره بایدونشي چي ورڅخه دضرراندېښنه وي دمسجدد قائمېدواودوام په خاطرکه مسلمانان داځای پرېږدي اوبیابل نژدي ځای ته ولاړشي نوداله دې څخه غوره دی چي ددوئ داټینګاردمسجد دخرابېدوباعث وګرځي ،ځکه چي کله داټوله سیمه دنامسلمانانوپه قبضه کې ده نودوئ مسلمانان مزدوران هرډول مجبورولای شي فقط والله اعلم.

دکوم مسجددباني اووقف دپاڼي معلومات چي نه وي په هغه کې دلمونځ کولوحکم

سوال: (۸۹۷) یومسجدپنځوس کلونه کیږي چي دیوه هندودکچاری په څلور دیوالې کې دننه

(۱) الدرمع الشامی (۳/ ۴۰۲) کتاب الوقف ،مطلب فیمالوخرب المسجد اوغیره ط رشیدیه.
(۲) راجع البحرالرائق: ۵/ ۴۲۴ ، کتاب الوقف فصل فی احکام المساجد.

جوړشوی دی له هغه وخته خلک پکي لمونځونه کوي خودا چاته نه ده معلومه چي دامسجد چاجوړکړی دی نه کومه دوقف پاڼه شته کله چي دغه مسجدهندوپه کچاری کې دننه دی ،ځکه ځیني علماء وايي چي لمونځ پکي صحیح دی اماثواب به نه وي ځیني وايي چي جائزنه دی هندودمځکې مالک وايي چي مسجدهم زماپه مځکه کې دی تاسوپکي لمونځونه کوي زموږهیڅ دعوی نشته ددې مسجدپه هکله شرعًا څه حکم دی په دلیل سره راته ولیکي (۱۳۲۴/ ۱۳۳۸ه)

ځواب: دغه مسجدشرعی مسجددی لمونځ پکي صحیح دی اودمسجدثواب پکي حاصلیږي ،ځکه چي کوم مسجدله مخکې څخه دمسجدپه نامه مشهور دی اوله همېشه څخه پکي جماعت کیدی همدادلیل اوعلامه دده دمسجدکېدو لپاره کافي ده اوکوم حجت ته په دې کې اړتیانشته اوکله چي دامسجددی نووقف کېدل دده لازم دی لقوله تعالی [وان المساجد لله] (سورة جن ، آیت: ۱۸) وفی الشامی: [ان الفتوی علی قول ابی یوسف رحمه الله فی تأبید المسجد (۱) فقط]

په مسجدکې پنکې لګول جائزدي

سوال: (۸۹۸) په مسجدکې فرشي یادبجلۍ (برق) پنکې لګول جائزدي ،که نه ؟ (۲۱۲۲/ ۳۲- ۱۳۳۳ه)

ځواب: هیڅ ضرورت نشته خولګول یې جائزدی اوپه کوم کې چي دبې ادبۍ صورت وي هغه مکروه دی که داسي صورت نه وي نومکروه نه دی.

سوال: (۸۹۹) په مسجدکې برقې پنکې دلمونځ کوونکودهوساینې لپاره لګول جائزدي ،که نه ؟ (۱۲۳۴/۱۱۱۸ه)

ځواب: جائزدی ،هیڅ پرواپکي نه معلومیږی ،ځکه چي داداسي دی لکه چي دهوالپاره دریچه اونورخلاص کړل شي.

په مسجدکې څراغونه اونوردښکلاشیان لګول

سوال: (۹۰۰) په مسجدکې دښائست سامان لګول مثلا څراغونه ،پنکې نوراونورجائزدي ،که نه ؟ (۱۵۲/ ۳۳خ ۱۳۳۴ه)

ځواب: په درمختارکې راغلې دي: [ولابأس بنقشه خلامحرابه الخ بجص وماء ذهب لوبماله

(۱) الشامی (۳/ ۴۰۷) ،کتاب الوقف ،مطلب فیمالوخرب المسجداوغیره ط رشیدیه.

الحلال الخ (۱) له دې عبارت څخه څرګندې چې پخپل حلال مال باندي که یوسړی یاڅوکسان مسجدښائسته کړي یادارام سامان ورته راوړي نوصحیح دی فقط.

دمسجدپه صحن (غولي) کې موجودقبرله مځکې سره برابرول

سوال: (۹۰۱) دیومسجدپه خام غولي کې یوقبردی دغولي پخولواراده لرونو دقبرمځکې سره برابرول ترڅودمسجدومخته رانشي صحیح دی، که نه؟ (۳۲/۱۲۱۰-۱۳۳۳هج)

ځواب: په داسي ځای کې دې قبرله مځکې سره برابرکړل شي ترڅودلمونځ کوونکې ومخته دقبرنښه پاته نشي.

سوال: (۹۰۲) دمسجدپه غولي کې یوقبرله پخواڅخه جوړشوی دی دلمونځ کوونکودډیرښت په وجه تنګې وي که دغه قبروغولي ته ورګډول اووورباندي لمونځ کول جائزدي، که نه؟ (۳۲/۳۳۹-۱۳۳۳هج)

ځواب: صحیح دی فقط.

سوال: (۹۰۳) دمسجدوڅنګ ته یوقبربې ځایه دی هلته دمسجدوفرش جوړولو ته سخته اړتیاده که داقبردوه څلورګزه لاندي شیوه کړسربیره ورباندي کوټه جوړه کړوپرهغه سربیره فرش برابرکړنوجائزدی، که نه؟ که داقبرراوباسوپه هدیره کې یې ښخ کړونوڅه حکم دی؟ (۲۷۰۲/۱۳۴۲هج)

ځواب: که قبرزوړدی چي مړی به خاورې شوی وي نودقبرنښه ختمه کړئ سربېره ورباندي دفرش برابرول جائزدی په درمختارکې راغلي دي چي زوړقبرکیندل هلته کښت کرل اوکورجوړول صحیح دی (۲) بلکه که قبرکیندل ونه غواړې بېله کیندلوفرش برابرولای شي نوپه دې کې دقبرلپاره زوړوالی هم شرط نه دی دفرش برابرول پرده جائزدی لنډه داچي دقبرنښه پاته نشي ترڅوپه لمانځه کې کوم کراهیت نه وي فقط.

دکلبوالودمسجدپه کوټوکې مېلمانه اوسول

سوال: (۹۰۴) کوم مکانونه چي له مسجدڅخه دباندي دمسجدپه څلوردیوالې کې په خیراتي روپیوتیارشوي وي له هغوئ څخه

(۱) تنویرالابصارمع الشامی (۱/۴۸۷)، کتاب الصلوة مطلب: کلمة لابأس دلیل علی ان المستحب غیره ط رشیدیه.
(۲) کماجازززعه والبناء علیه اذابلی وصارترابًا (الدرمع الشامی (۱/۲۲۲)، کتاب الصلوة، مطلب فی دفن المیت ط رشیدیه.)

که امام اومؤذن وباسي کلبوال خپل عام مېلمانه پکې اوسوي نوداصحیح دی، که نه؟ (۳۲/۱۷۱۹-۱۳۳۳هج)

ځواب: دداسي کارونواختیارشرعًاوکلبوالوته وي خوددوئ لپاره پخپله داسې کول نه دي پکارچي پکې شرعًاکومه منعه وي.

اختلا في لاره په وقف کې داخلیږي، که نه؟

سوال: (۹۰۵) څه فرمایې علماء ددین اومفتیان دشرع متین چي یوځای یو مسجددی دجنوب ولورته نژدې شل پته پراخه لاره ده اودلارې وجنوبي طرفته یومکان دی دغه مکان له ډیرې مودې راهیسي شته اولاره هم له ډیرې مودې راهیسي راروانه ده انسانان اوګاډي تل تګ پرکوي خودحکومتي اسنادوپه اعتباردلارې نیمه برخه دمسجد جوړیږي اونیمه برخه دلارې دمکان په څلورد یوالې کې راځي اوس زیدوایې چي دحکومتي نقشې سره سم موږدمسجدڅلور د یوالې راګرځووپه دې صورت کې دحکومتي نقشې په اعتبارلاره تنګول اوعام حقوق دمسجدوڅلوردیوالې ته ورګډول اومکانونه نړول دهغوئ لاره جوړول شرعًا جائزدي؟ که دنقشي په مقابل قبضه باطله وبلل شي؟ په تیره بیاپه دې زمانه کې چي پټواریانوته په څه ورکولوکمښت، زیاتوب کوي عمرو ایې چي حکومتي نقشه دقبضې په مقابل اعتبارنلري عام حقوق تنګول نه رواکیږي [کمافی الفتاوی الخیریة سئل فی عقاربید جماعة تلقوه بالارث عن ابیهم عن جدهم برزالآن رجل یدعی انه وقف جده مستندابانه موجودبالدفتر السلطانی فی وقف جده وهل مجردوجوده فی الدفتر السلطانی کاف فی ثبوت کونه وقفاام لا؟ اجاب حجج الشرع ثلث البینة والاقراروالنکول لامجرد الخط لانه علامة لاتبنی علیه الاحکام والله اعلم] (فتاوی خیریه ۱/۱۱۹(۱) بینوا بالکتاب وتوجرواعندالوهاب (۴۴/۱۵۲۲-۱۳۴۵هج)

ځواب: داکوم څه چي په فتاوی خیریه کې دي صحیح دی بېله شرعي حجته داختلافي لارې وقف کېدل.

(۱) کتاب الوقف، مطلب: ادعی رجل عقارابید جماعة انه وقف جده مستندا الی دفترسلطانی المطبوعة المطبعة الکبری المیریة ببولاق، مصر.

نه ثابتيږي او په دې وجه لاره تنګول صحيح نه دي فقط والله اعلم.

دقبلې په دېوال اودمسجدپه نوروبرخوکې ګلکاري کول

سوال: (۹۰۶) آيادغه مياشت اوستورې اسلامي کوم مقدس اوپاک شيان دي چې ديادګارپه توګه په مسجدونوکې ښوول کيږي دقبلې وطرفته دمياشتې اوستورود ګلکارۍ په وجه خومشابهت دعبادت ادرناوي سره نه وي کوم چې ناجائزدی ؟ (۲۱۲۴/ ۱۳۴۳هج)

ځواب: اصل دادی چې په مسجدونوکې ګلکاري دحنفي علماؤپه نزدمباح ده يعنی نه ددې په کولوکې کوم ثواب شته اونه پرپرېښودوکومه ګناه خودغه رخصت يااباحت دمسجددهغوبدخويوسره خاص دی کومې چې له محراب اودقبلې له دېوال پرته دي ولې چې پردوئ ګلکاري کول مکروه دي له دې څخه پرهيزکول غوره دی اوکه څه هم په دې کې يومخ له عبادت سره مشابهت نشته خوپه دې کې شک نشته چې همدغه ګلکاري زياتره دلمونځ کوونکودفکراړولو باعث ضروري وي کمافی الدرالمختار[ولابأس بنقشه خلامحرابه فانه يکره لانه يلهی المصلی ويکره التکلف بدقائق النقوش ونحوها خصوصًا فی جدارالقبلة قاله الحلبی الخ وقال الشامی تحت قوله لابأس فی هذاالتعبيرکما قال شمس الائمة اشارة الی انه لايؤجرويکفيه ان ينجورأسابرأس قال فی النهاية لان لفظ لابأس دليل علی ان المستحب غيره لان البأس الشدة الخ (۱) (شامی ۱/ ۴۴۲مصری) وقال ايضاتحت قوله لانه يلهی المصلی : ای فيخل بخشوعه من النظرالی موضع سجوده الخ (۱) اوپه البحرالرائق کې دي : [ومحل الاختلا ف فی غيرنقش المحراب امانقشه فهومکروه لانه يلهی المصلی الخ(۲)] (بحر:۱/ ۴۸مصری) ځکه نوددې پرېښوول اولی دي خوداهرڅه هغه وخت دي چې کوم سړی پخپله ددې خرڅوونکی شي ياڅوکسان ملګرې شي خاص ددې کارلپاره چنده وکړي اوکوم مال چې دمسجدلپاره وقف يادهغه آمدنی ده په هغه کې داډول بې ځايه خرڅونه جائزنه دي دوقف مال صرف دمسجدپه جوړولويادهغه په سمون اوټينګولوکې لګول کېدای شي په البحر

(۱) الدرمع الشامی (۴/ ۴۸۲) کتاب الصلوة ،مطلب کلمة لابأس دليل علی ان المستحب غيره ط رشيديه.
(۲) البحرالرائق ۲/ ۲۵،کتاب الصلوة فی آخرباب مايفسد الصلوة ومايکره فيها

الرائق کې له کافی څخه نقل دی: [حيث قال: قال المصنف فی الکافی وهذااذا فعل من مال نفسه اماالمتولی فانمايفعل من مال الوقف مايحکم البناء دون النقش فلوفعل ضمن حينئذلمافيه من تضييع المال الخ (۱) وفی الدرالمختارو لابأس بنقشه خلامحرابه بجص وماءِ ذهب لوبماله الحلال لا من مال الوقف فانه حرام الخ (۲) فقط]

داهل سنت جوړکړې مسجدابادساتل ضروري دي

سوال: (۹۰۷) يومسجداول اهل سنت جوړکړی وو حالا ځيني په دوئ کې شيعه ګان شول اوهمېشه پرصحابه کراموړضی الله عنهم لعنت اوبدويل حلال بولي اودحضرت ابوبکرصديق رضی الله عنه دخلافت اوصحابيت منکرين دي تراوسه خودواړوډلوپه دې مسجدکې لمونځونه کول اوس ځيني اهل سنت وايې چې بايدنوی مسجدجوړشي په داسي مسجدکې لمونځ ناجائزدی اوځيني سنيان وايې چې همدغه مشترک مسجددمخکې په څيرکافي دی ونوې مسجدته هيڅ ضرورت نشته نودکومې ډلې رأيه صحيح ده ؟(۲۱۹۳/ ۱۳۴۳ه)

ځواب: اهل سنت والجماعة بايدپه دې کې لمونځ پرېنږدي اوجماعت کول پکاردي ،ځکه چې کله دامسجداهل سنت والجماعت جوړکړی دی نودده آباد ساتل ضروري دي که اهل سنت والجماعة دلته لمونځ اوجماعت پرېږدي نوښکاره ده چې ويران به شي دروافضوشيعه ګانوله شراوفسادڅخه به الله رب العزت خلاصون درکړی که دمخکې په وسيله ددوئ مخنيوی کېدای شي نوهغه وکړئ کنې حقيقي انتظام اخستوونکې به دوئ تباه اوهلاک کړي نودهغوخلګو رأيه صحيح ده کوم چې داوايې چې دامسجد پرېښودل نه دي پکاراما دلعنت اوبدويلو دمخنيوي فکرپکاردی فقط.

ترکوم مسجدلاندې چې مکان وي په هغه کې دلمانځه ثواب

سوال: (۹۰۸) ترکوم مسجدلاندې چې کوم مکان جوړشوی وي په هغه مسجدکې دلمانځه کولوثواب

(۱) مخکې حواله.
(۲) الدرمع الشامی(۲/ ۴۸۷) کتاب الصلوة ،مطلب: کلمة لابأس دليل علی ان المستحب غيره ط رشيديه.

دمساغه مسجدپه خیردی چي لاندي کوم مکان نه وي که څه فرق لري ؟ (۱۳۳۵/ ۱۳۳۳۲هج)

ځواب: دمسجد په ثواب کې هیڅ فرق نه راځي فقط.

وامام اعظم رحمه الله ته منسوبه یوه خبره صحیح نه ده

سوال: (۹۰۹) دلیکوال مفتی غلام سرورلاهوري دخزینة الاصفیاء (مخ : ۴۳) (۱) په حواله دروایت رانقل شوې دي چي ښاروالوکوم مسجدودان کړاودبرکت لپاره له امام اعظم رحمه الله څخه دکوم شئ غوښتنه وکړه امام صاحب په ډېره ناخوښي یودرهم ورکړخوورځې وروسته جوړوونکوپه دې وینادادرهم بیرته ورکړچي داخوناچلنده دی امام صاحب هغه واخست ډیرخوشحاله شواووي ویل : الحمدلله زماحلا ل مال په اوبواوختوکې له خرڅېدوڅخه وژغورل شو.

له دې نقل څخه ثابتیږي چي دحلا ل مال دمسجد په ودانولوکې لګول دامام صاحب رحمه الله په نزدمکروه دي آیاددې نقل همدامطلب دی که څرنګه ؟ (۱۰۲۳/ ۱۳۴۳هج)

ځواب: دانقل صحیح نه معلومیږي اوپه معتبروکتابونوکې کې (کوم چي دامام اعظم رحمه الله په حالاتواوفضائلوکې دي په هغوئ کې) نه دی رانقل شوې اوکه ثابت وي نوبیابه کومه وجه داسي وي چي دهغې له امله امام صاحب په دې کې خرڅول خوښ کړې نه وي مثلا دکوموکارونوچي شرعًامنع راغلې ده په هغه کې دخرڅیدوګمانول لکه په ګلکاري اونوروکې خرڅول ،ځکه چي په احادیثو کې دمسجد دښائسته کېدومنع ثابته ده یاکومه بله داسي وجه وي چي دکراهیت باعث وي نوردمسجدونودودانولوپه هکله خوپخپله له امام صاحب څخه حدیث نقل شوی دی اودحنفي فقهې په کتابونوکې راغلې دي چي په مسجدکي بایدحلا ل مال ولګول شي ،ځکه چي حلا ل اوپاک مال الله رب الغزت قبلوي لنډه داچي داډول بېله سنده نقلونه قبول نه دي اوکه په صحیح سند ثابت وي نوبیابه

(۱) ۱/ ۴۵- ۴۲ ،مطبوعة: منشی نول کشور، کانپور.

څه تاویل پکي کیږي پاته شوه داخبره چي امام صاحب ناچلنده درهم ولې ورکړنو کله چي دانقل ثابت نه دی نودناچلنده درهم ورکول به څرنګه ثابت شي ؟ اوبیاداهم کېدای شي چي دده خیال دچلېدوونکې درهم وي اوهغه ناچلنده راوتلی وي یابې چاته حکم کړی وي هغه له کوره راوړی وي ناچلنده کېدل ده ته نه وي معلوم شوې فقط.

په مسجدکې دطالبانوپه نامه دراغلې حیوان قیمت په مسجدکې لګول

سوال: (۹۱۰) په کوه مری ولسوالی کې یوغټ کلی دی هلته په یوه مسجد کې درس اودینې سبقان ویل کیږي دویوونکودمرستې لپاره کلیوال نغدې روپې ،غله اوحیوانان رالیږي دحیوانانوپه اړه داقانون وي چي دهغوئ غوښې به پرطالبانو ،عالمانواومسکینانوویشل کیدي خوسوکه دحیوانانودډیر ښت په وجه بې نظمي شروع شوه وطالبانواونوروته چاتوجه نه کوله مسجدهم زوړاومات شو.ځکه مشرانواوسېدوونکوپه اتفاق سره دامشوره وکړه چي په آینده کې به حیوانان خرڅوددوئ په قیمت به مسجدله نوې سره جوړکړاویوه اسلامي مدرسه به هم جوړه کړوچي طالبان پکي سبقان وايې اومسافرخانې به جوړې کړوله دریوکلونوراهیسي په دې عمل شروع دی.

آیادغوښووېشلوپرځای حیوانان خرڅول چي قیمت یې په مسجداونوروکې صرف شي جائزدی ،که نه ؟ (۱۲۵۷/ ۱۳۴۳هج)

ځواب: ددې جائزکېدل دورکوونکوله نیت اواجازې سره اړه لري که هغه خلګ کوم چي حیوانان اونوررالیږي په یادشویومصرفونوکې ددغوحیوانانوله خرڅولووروسته ددوئ دقیمت لګولواجازه کوي نوداصحیح دی اوډیرښه دی اوکله چي په عامه توګه ددغې طریقې خبردوئ ته ورکول شي اومشهوره کړل شي نوله دې وروسته چي کوم خلګ په یادشویومصرفونوخبرشي اوحیوانان رالیږي نوددوئ له لورې به اجازه وي فقط.

دمسجددتعمیر(جوړېدو) په هکله دناوړه خبرې کوونکې حکم

سوال: (۹۱۱) څومسلمانانو دمسجدلپاره مځکه رانیوله یوسړی په خبردی چي دمسجدځای دی خودی وایې چي څه زناخانه جوړوئ شرعًا دده په هکله څه حکم دی ؟ (۳۴۰/ ۱۳۴۱هج)

ځواب: داسړی دسختي درجې فاسق دی توبه کښل پرده لازم دی فقط.

دوقف کړې جائدادپه نامه دوصیت پاته

سوال: (۹۱۲) بې بې زینب النساء خپل جائداددمسجدپه نوم کړی ووترنهه لسوکلونوپورې دمسجدنوم ووکله چي ددې دمرګ وخت رانژدې شونوڅلوروکسانویوه فرضي دوصیت پاڼه ولیکله چي دبې بې پنځه حواسه پرځای پاته نه شوددې ګوته دوصیت پرپاڼه ولګوله په همدغه ورځ دشپې داوفات شوه کوم سند چي په حکومت کې

دمسجد په نامه لیکل شوی ووهغه یې ختم کړدوصیت پانه دمحمداسماعیل په نامه ولیکله په حکومت کې یې رسمي کړه داوصیت پانه څرنګه شوه ؟ (۱۰۲۴/ ۱۳۳۹هج)

ځواب: کله چي دغه جائدادنومورې زینب النساء دمسجد په نامه کړی وونودامسجدته وقف شوپه وقف کې کوم تصرف دمالک پخپله هم نه صحیح کیږي ،ځکه نودغه فرضي دوصیت پانه چي دمحمداسماعیل په نامه ولیکل شوه داباطله اوناجائزده فقط.

دسودخوروشیعه ګانوروپۍ په مسجدکې لګول

سوال: (۹۱۳) دلته شیعه ګان داسماعلیه ډلې تجارت کوي دوئ سوداخلي خوسودحلال نه بولې اوبله ډله دایراني شیعه ګانوتجارت کوي هغوئ له نامسلمانانوڅخه سوداخستل صحیح بولې آیاددغودواړوډلوروپۍ په مسجد کې لګول صحیح دي ،که نه ؟ اوله خپل ځان سره لمونځ کولوته پرېږدو ،که نه ؟(۲۸/ ۱۳۳۵هج)

ځواب: ددغودواړوډلوشیعه ګانوروپۍ په مسجدکې لګول نه دي پکاراوپه لمانځه کې که دوئ ګډون وکړي نودسنیانوپه لمونځونوکې کوم تاوان نه راځي.

دسودپه قرض تجارت کوونکې کره خوراک ،څښاک اودده روپۍ په مسجدکې لګول صحیح دي

سوال: (۹۱۴) کوم خلګ چي په سودقرض واخلي تجارت په شروع کړي دهغوئ کره خوراک ،څښاک او
ددوئ روپۍ په مسجدکې لګول صحیح دي ،که نه ؟(۲۸/ ۱۳۳۵هج)

ځواب: کوم خلګ چي په سودپور(قرض) واخلي تجارت په کوي هغوئ ګنهګاردي خوددوئ کره خوراک ،څښاک صحیح دی اوددوئ مال هم په مسجد کې لګول صحیح دي.

په حرامه امدني دجوړکړې مسجدحکم

سوال: (۹۱۵) که سودخوروروپۍ راجمع کړې مسجدیې په جوړکړنوپه دې مسجد کې لمونځ صحیح دي ،که نه ؟(۲۸/ ۱۳۳۵هج)

ځواب: دکومو خلګوآمدني چي حرامه ده اوهغوئ سوداخلي اوپه همدغه حرامه آمدني باندي مسجدجوړکړي نوپه دې کې لمونځ کول مکروه دي فقط والله اعلم

دعېدګاه حکمونه

عېدګاه دښاروکوم طرفته بایدوي ؟

سوال: (۹۱۲) عېدګاه دښاروراسته لورته ښه ده که کوم بل لورته ؟(۴۱۴/ ۱۳۳۰۲۹هج)

ځواب: دعېدګاه لپاره دښارکوم لورتاکلی نه دی کوم لورته چي موقع اوسانتیا وي هماغه لورته عېدګاه جوړه کړئ فقط.

عېدګاه بایدپه ښارکې دننه وي که دباندې ؟

سوال: (٩١٧) (الف) پرناوقف کړې حکومتي ځمکه که ښاروال داخترلمونځ وکړې نوهغه ته عېدګاه ویل کیدای شي ،که نه ؟
(ب) که ځیني خلک په مسجد کې داخترلمونځ وکړي نوجائزدی ،که نه ؟
(ج) عېدګاه بایدپه ښارکې دننه وي که دباندې ؟(١٣٤٠/٣٤٩هج)

ځواب: (الف ،ب) په حکومتي شاړه ځمکه کې داخترونولمونځ صحیح دی خوهغه عېدګاه نه شوه اوداخترونودلمونځونوکولولپاره صحراته وتل سنت دي هغه سنت په دې کې اداشوپه مسجد کې داخترونولمونځ کول هم صحیح دي لمونځ اداکیږي خودادسنت خلاف دی.
(ج) عېدګاه بایدله ښاره وتلې وي ترڅوسنت اداشي فقط.

عېدګاه هم دمسجدپه حکم ده

سوال: (٩١٨) (الف) په کندوه کې وعېدګاته نژدې دډبروراکښوماشین دی کوم چې ځمکې څه لیرې ووخواوس دومره نژدې شوی دی چې کله په ډبره کې سوری کوي دعېدګاه دېوالونه ورسره ښورې چې له دې څخه دنړېدواحتمال دی ،ځکه نوکه حکومت دځمکې اوعېدګاه دودانۍ عوض راکړي نوبل ځای عیدګاه جوړېدای شي ؟اوموجوده عېدګاه حکومت په خپل کارروستلای شي ،که نه ؟
(ب) عېدګاه په حکم کې دمسجد ده ،که نه ؟(١٣٤١/١٣٣٥هج)

ځواب: (الف ،ب) عېدګاه وقف وي اودمسجدپه حکم ده (١) نوپه دې کې داتصرف کول صحیح نه دي (٢)

عېدګاه که دپټواری سره لیکلې نه وي بیاهم وقف صحیح دی

سوال: (٩١٩) څوکسانودکښت ځمکه دعېدګاه لپاره وقف کړه له شپږدیرش کاله راهیسي په دې عېدګاه کې لمونځونه کیږي ددې عېدګاه دقبلې دلوردېوال سره له محرابه شته دغه عېدګاه دپټواری سره دنه لیک په وجه وقف ده ،که نه ؟ (١٣٤١/ ١٣٤٢هج)

ځواب : وقف صحیح شوداعېدګاه شوه داهیڅوک بیرته نشي اخستلای [لان الوقف لایملک ولایملک [الدرالمختارمع الشامی ٣/ ٤٠٢،کتاب الوقف ط رشیده)

---

(١) دلته داخبره په یادساتل پکارده چې صرف داقتداء په جائزکېدوکې عېدگاه دمسجدپه حکم ده په نوروحکمونوکې دمسجدپه حکم نه ده.بلکه دمسجدفناء اومدرسې اوداسې نوروپه حکم کې ده [واماالمتخذلصلوة جنازة أوعيدفهو مسجدفی حق جوازالاقتداء وان انفصل الصفوف رفقابالناس لافی حق غیره به یفتی نهایة فحل دخوله لجنب وحائض کفناء مسجدورباط ومدرسة الخ (الدرمع الرد(١/ ٤٨٢) کتاب الصلوة ، مطلب فی احکام المسجد ط رشیديه) واما اتخذلصلوة العیدلایکون مسجدمطلقاوانمایعطی له حکم المسجدفی صحة الاقتداء بالامام وان کان منفصلاعن الصفوف وامافیماسوی ذلک لیس له حکم المسجدوقال بعضهم له حکم المسجدحال اداء الصلوة لاغیر(الفتاوی الخانیة علی الهندیة: ٣/ ٢٩١،کتاب الوقف ،باب الرجل یجعل داره مسجداو خاناوسقایةاومقبرة)
(٢) فی الشامی: قوله والمصلی شمل مصلی الجنازة ومصلی العیدقال بعضهم: یکون مسجداحتی اذامات لایورث عنه الخ (الشامی(٣/ ٤٠٤) ،کتاب الوقف ،قبیل مطلب فی احکام المسجد ط رشیدیه).

داخترونودلمونځونولپاره دوقف کړې ځمکې حکم

سوال: (٩٢٠) یومسلمان یوه ځمکه داخترونودلمونځونولپاره مقرره کړه په دې شرط چې ځمکه به زماپه تصرف کې وي دده له مرګه وروسته دغه ځمکه دده دخپل لاس ته ورغله اوس مسلمانان په دې کې پخه عېدګاه جوړول غواړې خودده خپل يې منع کوي نوددې څه حکم دی ؟(٢٢٧١/ ٣٢-١٣٣٣هج)

ځواب: که دمځکې دمالک په اجازه مځکه واخستله شي نودغه تصرف پکې صحيح دی یامسلمان مالک داداخترونودلمونځونوپه غرض وقف کړې ده بیاهم دمسلمانانو تصرف پکې صحيح دی اوکه صرف مالک دلمانځه اجازه کړې وي وقف کړې یې نه وه یادی اهل دوقف نه وونولمونځ پکې صحيح دی خوداسې تصرف بې دمالک له اجازې صحيح نه دی

له ښارڅخه دباندې عیدګاه جوړول

سوال: (۹۲۱) څه فرمایې علماء ددین ددې مسئله په هکله چې موږ دمحمدپورد یوان ښارګوټې اوسېدوونکې په وجه دوس اوعلمې حیثیت نه درلودلوداخترو نواوجمعې لمونځ دیوبزرګ پرچوتره کوودغه چوتره په ښارکې دننه واقع ده اوس کله چې ټول ښاروال په ښه اوبدپوهه شول اووس یې هم وموندنوله ښارڅخه دباندې یې په ډېرورو پیولګولودټولو مشرانوپه اتفاق سره دعیدګاه مسجدجوړکړپه کوم مال چې دعیدګاه مسجدودان کړهغه پاک اوحلا ل مال دی په دې کې کومه دریا ،نوم ،ځان ښکارونې ،فخرکولواودبل مسجدخرابولو یادهغوئ په جماعت کې دبېلوالې راوستوغرض نشته صرف دالله ﷻ درضاغوښتنې اودنبیﷺ دسنة دادائینې لپاره جوړشوخوله بلې خواغوغاده چې دامسجدضرارمسجددی.

(۱) دوقف دصحيح کېدولپاره دوقف کوونکې عقلمند ،بالغ ، اوازادکېدل شرط دي ،نولیونی ،مرېبې اومینځه دوقف اهل نه دي [اماالذی یرجع الی الواقف فانواع منهاالعقل ،ومنهاالبلوغ فلایصح الوقف من الصبی والمجنون لان الوقف من التصرفات الضارة لکونه ازالة الملک بغیرعوض والصبی والمجنون لیسامن اهل التصرفات الضارة ولهذالاتصح منهماالهبة والصدقة والاعتاق ونحوذلک ومنهاالحریة فلایملکه العبدلانه ازالة الملک والعبدلیس من اهل الملک (بدائع الصنائع للامام الکاسانی رحمه الله تعالی: ۵/ ۳۲۷- ۳۲۸ ، کتاب الوقف والصدقة)

داپرېږدئ بلکه وي نړوئ اوداخترونودلمونځونولپاره دباندې تللوپرځای په پخوانی ځای کې دمځکې په ځیرداخترونولمونځونه کوي ودباندې تلوته هیڅ اړتیانشته اوداخترلپاره مسجدجوړوونکیوله لورې داخبره کیږي چې دښارپه مینځ کې داخترلمونځ کول دنبی علیه السلام دسنت اودراشده خلفاء رضی الله عنهم اجمعین دسنت په خلاف دي اودامسجدضرارمسجدنه دی ،ځکه چې کله دلته بل مسجدله ښارڅخه دباندې آبادنشته چې په دغه نوې مسجدهغه پخوانی مسجدته تاوان ورسیږي یادهغه په جماعت کې بېلوالی راشي بلکه صرف دسنت دراژوندي کېدوپه غرض دامسجدجوړ شوبیانو څرنګه ضرارمسجدشوحال داچې په پاک مال سره اوبې دنوم ،ریا ،ځان ښودنې اوبل دجماعت دبېلوالی له غرضه دامسجدجوړشودالله ﷻ لپاره دحدیثواوفقهې دمعتبر کتابونوپه حواله ددې مسئلې ځواب راته ولیکئ چې دامسجدضرارمسجد کېدای شي ؟اوداپرېږدوبایې ونړوو؟ اودمځکنی ناپوهې په ځیرودباندې ته دتلوپرځای (چې نبوي طریقه اودراشده خلفاء رضی الله عنهم طریقه ده) دښارپه مینځ کې پرزاړه ځای داخترلمونځ کوو؟ اودضرارمسجدنه کېدوپه صورت کوم سړی چې پرده دضرارحکم لګولی دی دهغه په هکله شرعًاڅه حکم دی ؟اوکله چې دامسجدضرارنه وي اومسلمانان پکې لمونځ کول پرېږدي دهغوئ په اړه شرعًا څه حکم دی ؟ بینوابالدلیل توجروابالاجرالجزیل (۱۳۳۵/۷۴۹هج)

ځواب: اقول وبالله التوفیق کله چې داخبره ثابته شوه چې داخترونودلمونځونو لپاره وعیدګاه ته وتل مؤکدسنت دی لکه چې دفقهې کتابونوله روایتونو(۱) اوحدیثوله روایتونو(۲) څخه ثابت دی نوداخترونودلمونځونولپاره عیدګاه له ښاره څخه دباندې جوړول اوپکې داخترونولمونځونه شروع کول بېله شکه دنبوی سنت ژوندي کول دي (علی صاحبهاالصلوات والتسلیمات) نودغه عیدګاه ته کومه چې دسنت دژوندي کولواوداخترونودلمونځونواداکولولپاره دنبی کریم صلی الله علیه وسلم له فعل سره سمه جوړه شوې ده

(۱) والخروج الیهای الجبانة (الصحراء) لصلاة العیدسنة وان وسعهم المسجدالجامع هوالصحیح (الدرالمختارمع الشامی (۱/ ۲۱۲) ،کتاب الصلوة ،باب العیدین ،مطلب یطلق المستحب علی السنة وبالعکس ط رشیدیه) لوصلی العیدفی الجامع ولم یتوجه الی المصلی فقدترک السنة (البحرالرائق: ۲/ ۲۷۸ ،کتاب الصلوة باب العیدین)
(۲) عن ابی سعیدالخدری رضی الله عنه قال: کان النبیﷺ یخرج یوم الفطروالاضحی الی المصلی فاول شئ یبدأ به الصلوة ثم ینصرف الحدیث (صحیح البخاری: ۱/ ۱۳۱ ،کتاب العیدین باب الخروج الی المصلی)

اوپه حلال مال سره ببله نامه اوفخرجوړه شوه دضرارمسجد حکم ورکول اوګڼل دکوم عقلمند مسلمان فعل نشي کیدای چیري به بیاعالم داسي خبره کوي کوم سړی چي دغي عیدګاه ته دضرارمسجد حکم ورکوي یادضرارمسجد حکم وربانديِ جاري کړي هغه د [فافتوابغیرعلم فضلواواضلوا(۱)] مصداق دی مسلمانان هیڅکله بایدده فتوی عملي نکړي اوپه دغه عیدګاه کي ببله شکه داخترونودلمونځونواداکول پکاردی دانبوي سنت وبولي عملي يې کړي ښکاره ده چي که ودغي عیدګاه جوړه ولواوپه دي کي داخترو نو لمونځونوکو لو ته دضرارمسجد حکم ورکول شي نوپه ټولو عیدګاووکي به داحکم منل کیږي ،ځکه چي په کوم ښاراوښارګوتي کي چي کله عیدګاه ودانیږي له هغه څخه مخکي خوغالبا به دهغه ښارخلګ په کوم مسجدکي داخترونولمونځونه اداکوي نوکله چي عیدګاه جوړه شوه اوداخترونولمونځونه پکي جاري شول نوپه کوم مسجد یاکوم ځای کي چي مخکي داخترلمونځ کیږي هغه به پرېښودل کیږي په دې طریقه خوبه دسلفوله زمانې څخه تراوسه ټول مسجدونه دضرارپه حکم کي شي [معاذالله] داڅرنګه دناپوهی اوګمراهی فتوی ده هرچاچي ورکړي ده چي دعیدګاه جوړول مسجدضراربولي داصرف دشیطان تیرایستنه اوناپوهي ده چي سنت طریقه اضرارګڼي اومسلمانان له سنت عملي کولوڅخه منع کوي فقط.

دهندوسوزېرځای عیدګاه جوړول

سوال: (۹۲۲) په بروره کي کومه عیدګاه نه وه ماله آبادی څخه وتلي ویوطرفته یوه خامه چوتره دعیدګاه لپاره جوړه کړې وه چي بنسټ يې مولانابهاؤالدین مرشدآبادي ایښی وودعیدګاه ددغې چوترې وخنګ ته هندوانوخپل مړي سوځل کله چي دعیدګاه چوتره جوړه شوه نوهندوانودلته خپل مړي سوځول پرېښوداوس ځیني خلګ وايې چي دهندودسوځولوپرځای عیدګاه نه ده پکارڅه حکم دی ؟(۱۳۴۴۳۳/۱۳۹۰هج)

ځواب: اوس چي کله هلته مړي نه سوځول کیږي نوپه دغه ځای کي دعیدګاه جوړېدل اوداختر

(۱) عن عبدالله بن عمروقال: قال رسول الله ﷺ ان الله لایقبض العلم انتزاعًا ینتزعه من العبادولکن یقبض العلم بقبض العلماء حتی اذالم یبق عالمًا اتخذالناس رؤوسًا جهالاً فسئلوافأفتوابغیرعلم فضلواواضلومتفق علیه (مشکوة ص: ۳۳، کتاب العلم)

لمونځ هلته کول هیڅ پروانلري فقط.

دهندودسوځولوځای پرېښودل ،بل ځای عیدګاه جوړول

سوال: (۹۲۳) ځینوخلګودهندودسوځولوپرځای یوه چوتره داخترونودلمونځو نولپاره جوړه کړې وه دهغې په یوه کونج کي مړي هم سوځول کیږي بلکه کله ناکله دځینومړوهډونه هم پردغه چوتره لیدل شوي دي اوکوم سړی چي دغه مځکه وقفول غواړي هغه ددغې ټولې مځکي مالک هم نه دی اوپه دې کي څه مکانونه وموچیانوته هم ورکړې دي داخترلمونځ پردغه چوتره اوپه باغ اونورو کي هم اداکړل شوی دی ،ځکه دهندوسوزدکراهیة په وجه یوه بله چوتره انتخاب شوه دډیروخلګواراده ده چي دغه نوې چوتره عیدګاه وګرځوي نوپردغه نوې چوتره لمونځ کول خوبه څه پروانلري ؟ (۱۲۳۸/ ۳۲-۱۳۳۴هج)

ځواب: نوې چوتره داخترلمانځه لپاره خاصول ښه دی اوپردې لمونځ صحیح اوغوره دی فقط والله اعلم.

دیوې عیدګاه په سامان نقلولوبله عیدګاه جوړول

سوال: (۹۲۴) یوه عیدګاه ددریاب وخنګ ته واقع ده که سږکال سیلاب راغلی نودعیدګاه دشهیدیدوویره ده ،ځکه چي دسیلاب په وجه زیاتره مځکه پرې کیږي په داسي صورت کي که ددغه عیدګاه خښتې راوکاږوبل ځای په همدغو خښتوعیدګاه جوړولای شو ،که نه ؟(۳۸/ ۱۳۴۵هج)

ځواب: کله چي دعیدګاه ختمېدویقین دی نودمسلمانانولپاره ګنجائش شته چي ددې ټول سامان نقل کړي بل ځای عیدګاه ودانه کړي خودغه مځکي ځای هم که بېچ شونوهغه رنګه به وقف وي په دې کي هیڅ ډول تصرف جائزنه دی.

دعیدګاه په څلوردیوالي کي مسجدجوړول

سوال: (۹۲۵) دعیدګاه په څلوردېوالي کي دننه مسجدجوړول صحیح دی که نه ؟(۷۱۰/ ۱۳۳۵هج)

ځواب: عیدګاه په ځینوحکمونوکې پخپله مسجدده په دغه څلوردېوالي کې وبل مسجدجوړولوته اړتیانشته اومعلومه نه ده چې په څلوردیوالي کې له مسجدجوړولو څخه څه غرض دی ؟ لنډه داچې داسي نه دي کول پکارعیدګاه بایدعیدګاه وي [واماالمتخذلصلوة جنازة اوعیدفهومسجدفی حق جوازالا قتداء الخ(۱).

دعیدګاه خښتې په مسجدکې لګول

سوال: (۹۲۲) یو سړی عیدګاه جوړه کړه وقف یې کړه اوس ددغې عیدګاه ددیوال خښتې کومې چې له عیدګاه څخه یومخ زیاتوب دی په کوم بل مسجد کې چې ورته اړتیاوي لګول څرنګه دی ؟(۱۱۳۳/ ۱۳۳۷هج)

ځواب: په دې اړه دفقهې په روایتونوکې داڅرګندونه شته چې ترڅومسجدو یران نه وي دهغه سامان بل مسجدته وړل صحیح نه دي لکه چې د[ولوخرب ماحوله واستغنی عنه الخ (۲)] په قیدکې ددې څرګندونه کړې ده اوهمدغه حکم دنوروواقافودی کمافی الدرالمختار[وکذاالرباط والبئراذالم ینتفع بهما فیصرف وقف المسجدوالرباط والبئروالحوض الی اقرب مسجداورباط اوبئر اوحوض الیه الخ(۲)] نومعلومه شوه چې دمسجد ،رباط ،عیدګاه اونورودویرا نېدوپه صورت داصحیح دی چې دهغه سامان په بل مسجداونوروکې ولګول شي ا ودمسجدعیدګاه اونورونه ویرانېدوپه صورت داصحیح نه دی.

دعیدګاه پرځای مکتب (سکول) اودمکتب پرځای عیدګاه جوړول

سوال: (۹۹۷) اسلامیه اسکول (مکتب) له دووکلونوراهسي جاري دی کوم چې دکرایې په مکان کې دی اسلامیه کمېټۍ والولس زره روپۍ جمع کړې دي چې دمکتب ودانۍ جوړه کړوله مځکې څخه دغه کمېټۍ دمځکې په رانیولو وربانديي عیدګاه جوړه کړې ده دهمدې عیدګاه سره نوره مځکه دعیدګاه وشاه ته داسکول لپاره رانیولې ده خودښځوونځي لپاره وړځای دعیدګاه دی کمېټۍ وال داغواړي چې دعیدګاه پرځای مکتب جوړکړواودمکتب پرځای عیدګاه جوړه کړوداصحیح دی ،که نه ؟

(۱) الدرالمختارمع الشامی(۱/ ۴۸۲) ،کتاب الصلوة ،مطلب فی آخراحکام المسجد ط رشیدیه
(۲) الدرمع الرد(۳/ ۴۰۷) ،کتاب الوقف ،مطلب فیمالوخرب المسجداوغیره ط رشیدیه.

(۲۲۵۵/ ۱۳۳۷هج)

ځواب: په موجوده صورت کې عیدګاه مکتب جوړول اودمکتب مځکه عیدګاه ګرځول دفقهې له روایتونوسره سم صحیح نه دی نوکوم ځای چې عیدګاه ګرځېدلې ده هغه دې عیدګاه وي اوکومه مځکه چې دښوونځي لپاره رانیول شوې ده په هغه کې مکتب تعمیرکړي په شامی کې راغلې دي: [مراعاة غرض الواقفین واجبة الخ(۱)]

پخوانۍ عیدګاه خرڅول یاپه بله مځکه بدلول

سوال: (۹۲۸) په انباله ښارکې عیدګاجوړه شوې ده دیومیل پرواټن ده لاره عامه نه ده بلکه دبل پرمځکوورتلل غواړې هغوئ منع کوي اودارازاوبه هم ورته نژدې نشته اوپه پشکال کې تګ ،راتګ بندشي یوه مځکه په ښاره کې دسړک پرغاړه ده اوبه هم نژدې دي اراده لروچې یاخوبه هغه مځکه په دغه بدله کړو یابه هغه خرڅه کړودهغه په قېمت به نوې مځکه رانیسوآیاشرعًاداسي صحیح دی اوکه نه ؟اودهغه سامان په دغه نوې عیدګاه کې لګول څرنګه دي ؟(۱۳۳/ ۳۵- ۱۳۳۶هج)

ځواب: په موجوده حالت کې دمځنکۍ عیدګاه خرڅول یاتبادله کول یادهغه په نړولوسامان بل ځای ته نقلول صحیح نه دی ترخپله وسه په هماغه پخوانۍ عیدګاه دهوساینې صورتونه پیداکیږي مثلًا که اوبه نژدې نشته نوداوبوبند وبست وکړي اودلارې نظم هم برابرکړي.

پخپل اختیاردعیدګاه مځکه وحکومت ته ورکول یاپه بله مځکه تبادله کول

سوال: (۹۲۹) یوه پخوانۍ عیدګاه په شاهی زمانه کې جوړه شوې ده ودې عیدګاه ته نژدې دریل ګاډۍ دکمپنۍ څلوردیوالې ده اوس دریل ګاډ ی کمپنۍ دریل ګاډۍ څلوردیوالې پراخول غواړې عیدګاه شهیدوي دریل ګاډۍ لائن اوږدوي اوکمپنۍ وال وایې چې که تاسومورته دعیدګاه دغه ځای راکړئ نوتاسوته بله عیدګاه چیري چې ستاسوخوښه وي دکمپنۍ په خرڅ درجوړه ووکه تاسودانه منئ نودعیدګاه ځای په زوردرڅخه اخلو په دې

(۱) الشامی(۳/ ۴۲۴) کتاب الوقف ،مطلب: مراعاة غرض الواقفین واجبة الخ ط رشیدیه.

اړه شرعي حکم څه دی ؟(۱۹۴۸/ ۱۳۳۸هج)

ځواب: پخپل اختیاردمسلمانانولپاره دعیدګاه ورکول اوتبادله کول صحیح نه دی نورکه حکومت په زورداوریل ګاډۍ ته ورکړي نوپه دې هکله هیڅ مواخذه نشته فقط.

دعیدګاه دمځکې دخرڅولو، رانیولواوپه هغې کې دمرستې کولوحکم

سوال: (۹۳۰) یودمځکې مالک یوه ټوټه مځکه دعیدګاه لپاره وقف کړه وروسته دعیدګاه متولي دعیدګاه لپاره یوه ټوټه مځکه په چنده رانیوله پکي یې باغ ولګاوواوخاه یې پکي وکیندی ترڅنه پورې مسلمانان پکي لمونځ کوي دمتولي له وفات وروسته دده زامنوباغ ،څاه اوعیدګاه خرڅ کړل کله چي مسلمانان په خبرشول هغوئ دعوی وکړه څوک چي په دوکه داسي معامله وکړي اوڅوک چي دداسي سړی ګواهي ورکړي دهغوئ په اړه شرعًاڅه حکم دی ؟(۱۳۴۰/۲۷۵۲هج)

ځواب: دعیدګاه اوددغه باغ اوڅاه ټولوخرڅول باطل دي ،ځکه چي داټول شیان وقف دي اودوقف رانیول ،خرڅول باطل دي الوقف لایملک ولایملک (الدرمع الرد ۴۰۲/۳ ، کتاب الوقف ط رشیدیه) مسلمانان ضروربایددعوی وکړي دغه سوداناجائزه اوباطله کړي داوقافورانیوونکی ،خرڅوونکی اومرسته کوونکی ټول ګنهګارا ن اوفاسقان دي فقط.

په یوه ښارکې اوه ځایه داخترلمونځ کول

سوال: (۹۳۱) یوه چوتره داخترونودلمونځونولپاره جوړه شوې وه ترڅوکلونو پورې وربانديداخترولمونځونه کېدل اوس څوکسانوچنده وکړه بل ځای یې عیدګاه جوړه کړه ددې عیدګاه په جوړېدوخلک دوې ډلې شول یوه ډله پرمخکني چوتره (دوکانچه) داخترونولمونځ کوي اویوه ډله په عیدګاه کې کومه چي وروسته تعمیرشوه آیاچوتره پرېږدي اوکه عیدګاه ماته کړو؟(۱۳۳۷/۲۰۵۷هج)

ځواب: داخترلمونځ دواړه ځایونه اداکیږي اودواړه ځایونه لمونځ صحیح دی خوښه دادی چي دمسلمانانوترمینځ اتفاق وي بې اتفاقي نه وي ،ځکه نوکه مخکني چوتره داخترانودلمونځولپاره وقف نه وي اوبله مځکه چي پکي عیدګاه جوړه شوه وقف شوې وي نوپه دې بله عیدګاه کې دي ټول مسلمانان

یوځای لمونځ اداکوي اوکه دواړه وقف شوې دي نوپه دواړوکې لمونځ کوئ ،ځکه چي ویرانول په دوئ کې دیوې هم صحیح نه دي لکه چي له دوومسجدونو څخه دیوه مسجدختمول صحیح نه دی فقط.

په عېدګاه کې په لمونځ کولوکې که دفسادوېره وي نوپه ځنګل کې هم لمونځ کولای شئ

سوال: (۹۳۲) په یوه ځای کې دزید ،بکر،عمرو ،خالداوولید پنځوکسانواولاده په پنځومحلوکې آباددي اودځای مالکان څورئیسان نوردي اوس زیددمالک له خوښې پرته

په ناوېشل شوې ځای کې دعیدګاتهداب واچاوي ددغې مځکې درې برخې ذیوه مسلمان رئیس اویوه برخه دنامسلمان قوم ده له تهاداواچولو ورو سته مځکه وویشل شوه دعېدګاه ځای دمسلمانانوپه برخه کې راغلی هغوئ هیڅ انکاراواقرارددې عېدګاه په اړه ونکړڅه موده وروسته یوه مناره (چي ورسره دقبلې دلوردېوال هم وو) ونړیداوس دزیدزامنوددې ځای له ټولواوسېدوونکوڅخه چنده واخسته ددې ترمیم بلکه څلور طرفوته دېوال ،دروازه اونورېې جوړکړل دجامع مسجدامام چي له پنځلسو کلو نو راهیسي پرلپسې داخترلمونځ ورکوي هغه دزیدله زامنوڅخه نه دی له بل قوم څخه دی دکوم دنیاوي غرض په وجه دزیدزامنوداختردلمانځه لپاره امام له خپل طرفه ټاکل وغوښت اودعوی یې وکړه چي عیدګاه زموږده زموږخوښه ده چي هرڅوک امام ټاکوکه دجامع مسجدامام یادبل قوم امام لمونځ ورکوي نوموږبه له عېدګاه څخه وباسودوئ ته که ضرورت دی نوخپله عیدګاه دې جلا جوړه کړي لمونځ دي پکي کوي په دې عیدګاه کې دعاموخلکولپاره لمونځ کول جائزدي اوکه نه ؟اوپه دې کې هماغه ثواب دی کوم چي په عیدګاه کې وي که دنوروقامونولپاره خپل لمونځ په ځنګل کې کول افضل دی ؟ (۱۳۳۸/۱۸۸۴هج)

ځواب: دزیددزامنودملکیت دعوی باطله ده په دغې عیدګاه کې دټولولمونځ صحیح دی ،اوثواب اوفضېلت په دغه عیدګاه کې دلمونځ کولوحاصل دی ،که دنوروقومونولپاره په دغې عیدګاه کې په لمانځه کولوکې دفساداوجنګ وېره وي نوبل ځای په ځنګل کې هم لمونځ کولای شي اوفضېلت په دې کې هم حاصلیږي.

په عېدګاه که هندوان دعوی وکړي نومسلمانان څه باید وکړئ

سوال: (۹۳۳) یوپخوانی مسجددی له همېشه څخه دمسلمانانوورباندي ولکه ده ددې مسجدپه اړه څه مځکه ده مسلمانانوهغه عیدګاه ګرځولی دی له همېشه څخه داخترونولمونځونه په دې کې کیږي دعیدګاه په مځکه کفارودعوی کړې ده چي دامځکه

عیدګاه نه بلکه دامځکه زموږده نواوس مسلمانانوته ځه کول پکاردي (۲۲۹۴/ ۱۳۴۲هج)

ځواب: ددغې عیدګاه په اړه حکومت ته عارضه کول پکاردي اوداثابتول پکاردي چې عیدګاه وقف ده هغه دچاملک نشي کیدای اودکفارودعوی ایستل پکارده مسلمانان بایدله حکومت څخه مرسته وغواړي پخپله دې له هندوانوسره جګړه اوفسادنه کوي ،ځکه چې دمجبوریت په حال هم دمسلمانانو لپاره جنګ اوونه تویول نه دي پکاراماله مالي کوشش څخه دې ځان نه سپموي فقط.

په حراموروپو عیدګاه ترمیمول

سوال: (۹۳۴) یونرښځې یعنی غزل چې په خپل ګټلې مال عیدګاه جوړوي په دې کې دعامومسلمانانولمونځ صحیح دی ،که نه ؟

ځواب: دحرام آمدني په روپیو دمسجداوعیدګاه ترمیم اوسمون مه کوئ.

دعیدګاه په میدان کې لوبې ، تماشې ،غیږې ایستل اوباجې وهل

سوال: (۹۳۵) په عیدګاه کې دننه په عام اعلان.سره لوبې ، تماشي اوغیږي ایستل اوله باجوسره سندرې ویل دعیدګاه دمتولي له اجازې پرته شرعًا جائزدی ،که نه (۱۲۳۹/ ۱۳۴۱هج)

ځواب: عیدګاه په ډیروشیانوکې دمسجدپه حکم ده ،ځکه په عیدګاه کې لوبې ،تماشې ،غیږي اونورکول ،سرناوې ،باجې اوغزلې ویل داټول حرام اوناجائز دي دعیدګاه متولي هیڅکله ددغوکارونو

چاته اجازه نشي ورکولای اوبېله اجازې یاپه اجازه دمتولي هم دچالپاره ددغوکارونوپه عیدګاه کې کول صحیح نه دي هکذافی الدرالمختاروالشامی (۱) فقط.

په عیدګاه کې حیوانان څرول ،تړل اودرمن جوړول

سوال: (۹۳۶) (الف) دیوې عیدګاه فرش خام دی په پسرلي کې ورباندي واښه راشنه شي په دې وښو کې که متولي خپل حیوانان وڅروي نو جائزدی ،که نه ؟

(ب) پردغه مځکه باندي دغلې درمن جوړول ورباندي غوبل کول جائزدي ،که نه ؟

(ج) پردغه فرش باندي غوایې اونورتړلای شي ،که نه ؟(۷۵۲/ ۱۳۴۳هج)

ځواب: هلته حیوان نه دي پرېښودل پکارچي دعیدګاه پرفرش وخرېږي بلکه داسي وکړئ چي واښه پرې کړي خپل ضرورت په پوره کړئ که دوقف کوونکې کوم شرط ددې په اړه نشته.

(ب) داسي کول جائزنه دی ،ځکه چي عیدګاه دځینو په نزد دمسجد حکم لري ،ځکه په دې کې احتیاط کول پکاردي.

(ج) داهم جائزنه دي.

په عیدګاه کې دونونالانوته انبارورکول

سوال: (۹۳۷) په عیدګاه کې سایه کوونکې درختې لګولې دي ددوئ دودې په غرض دوئ ته انبارورکول جائزدي ،که نه ؟(۹۵۱/ ۱۳۴۵هج)

ځواب: ددغودرختووبېخوته دونودروزنې اودلمونځ کوونکودهوساینې په غرض انبارورکول جائزدي ،ځکه چي عیدګاه همېشه دمسجدپه حکم نه ده صرف داخترونوپه لمونځونوکې داقتداء جائزکېدولپاره سره ددې چې دصفونو ترمینځ انفصال (لیري والی) وي دې ته دمسجد حکم ورکول کیږي کنې په نورو وختونوکې عیدګاه دمسجدپه حکم نه ده

(۱) واماالمتخذلصلاة جنازة اوعیدفهومسجدالخ (الدرالمختارمع الشامی (۱/ ۴۸۲)، کتاب الصلوة ،مطلب فی احکام المسجدط رشیدیه)

(۱) الدرمع الرد(۱/ ۳۸۲) ، کتاب الصلوة ،مطلب فی احکام المسجدط ،رشیدیه.

واماالمتخذلصلوٰة جنازة اوعيدفهومسجدفی حق جوازالاقتداء وان انفصل الصفوف رفقًا بالناس لافی حق غيره به يفتی نهاية فحل دخوله لجنب وحائض الخ](۱) نوكله چي دجنب اوحائضې ميرمنې هلته ورتګ صحيح دی نوديادشوې ضرورت له امله دانباروركول په طريقه اولی سره جائزدی فقط.

دمدرسوحکمونه

دمهتمم شرعي حيثيت

(تردې عنوان لاندي ليکل کېدوونکې دوارې فتواوې مهمې دي دواړه سوالونه دحضرت مولانااحمدصاحب کيرانوي دي کوم چي دخانقاه امداديه تهانه بهون سره تړون لري نوګواکي دحضرت تهانوي قدس سره سوالونه دي له دې څخه دسوالونودمهموالې ښه اندازه کېدای شي.

سوال دادی: چي مدرسوته چي کوم خلک چنده ورکوي هغه که واجب صدقې وي اوكه مرسته اوعطيه وي اوهغو ئ كه مصرف ورمعلوم کړی وي ،كه نه دغه دچندې روپۍ له ورکولوسره سمې دورکوونکې له ملک څخه وزي كه دمصر فېدو تروخته دده په ملک کې وي ؟كه وزي نودمسئلې اساس به څه وي ؟ دكوم اصول اوقاعدې سره به دې مسئلې ته تړون ورکوو؟ اوكه نه وزي نودورکوونکې دمرګ په صورت کې كه چنده پاته وي نووارثانوته بېرته ورکول پکاردي دارازله مصرفېدومخکې كه وركوونكى چنده بيرته اخستل غواړې نوده ته دبيرته اخستوحق بايدوي.

حضرت مفتی صاحب قدس سره په اول ځواب کې دفقيه النفس حضرت اقدس مولانا رشيداحمدګنګوهي صاحب قدسره فتوی رانقل کړې ده بيايې دهغه په ملا تړکې عبارت رانقل کړې دي نودده فتوی همدغه شوه.

حضرت ګنګوهي قدس سره په ځواب کې لومړۍ برخه اختيارکړې ده چي چنده له ورکولوسره سم دورکوونکې له ملک څخه وزي اوددې اساس يې داډول کړی دی چي دمدرسې مهتمم دټولوطالبانونائب وي نولکه څرنګه چي اميرالمؤمنين دټول عالم اميروي اودده په وصولوروپۍ دمالکانوله ملک څخه وزي دارازكه دطالبانونائب يعنی مهتمم چنده وصوله کړې نوهغه روپۍ دورکوونکې له ملک څخه وزي دطالبانوملک ګرځي اوپه دې صورت کې دطالبانومعلوم اومتعين کېدل ضروري نه دی لکه چي په بيت المال کې دحقدارانوتعين نه کيږي بياحضرت قدس سره په فتوی کې داهم ليکلې دي چي مهتمم په ځينو.وجو کې دورکوونکې وکيل وي اوله ځينووجوڅخه مراددادی چي ورکوونکی په کوم مصرف کې دلګولولپاره روپۍ ورکړي په هماغه مصرف کې دلګولو مهتمم پابندی په مصرف کې بدلون دورکوونکې له اجازې پرته نشي کېدای دمثال په توګه ورکوونکی دمدرسې دمسجدلپاره چنده ورکړه نومهتمم دادورکوونکې له اجازې پرته دمدرسې په نوروم مصرفونوکې نشي لګولای.

داخودمسئلې يواړخ ووکوم چي حضرت ګنګوهی قدس سره ښه څرګنده کړې ده خوددې يوبل اړخ هم شته چي مهتمم پرطالبانوباندي دواجب صدقوصرفولووکيل هم دی ،كه نه ؟ يعنی هغه بېله مالک جوړولودغه روپۍ دطالبانوپه اړتياووکې صرفولای شي ،كه نه ؟ دمسئلې دااړخ دګنګوهي په فتوی کې څرګندنه دي ،څکه عمل پردې خبره کېدی اوفتواوې داورکول شوې چي دحقدارمالک جوړول ضروري دی بېله دې زکوة نه اداکيږي خوپه دې کې مشکل پيښ شو، څکه چي

دواجب صدقوچنده خوډیره راځي خودمرستې روپۍ دومره نه راځي چي دامدرسې په وچلیږي ،څکه دتملیک له حیلې څخه کاروا خستل شو.

خوحیله دتملیک هغه وخت حیله وي چي په رښتیاتملیک وي اوپه رواج شوې حیله دتملیک کې واقعي تملیک نه وي اوپه عباداتو کې داسقاط دحیلې مفتیانو کرامودافتوی ورکړې ده چي داصرف یوفریب اوچل دی په دې سره لمونځونه اوروژې نه معافیږي ،څکه چي په دې کې په رښتیاتملیک نه وي ،څکه چي دمدرسوو الوپاره داخبره دفکروړوګرځېده چي له دغې جګړې څخه دوتوبه څه طریقه وي؟ که طالبانوته په وظیفه کې ورکړواودوئ یې پخپلو فیسو نوکې بیرته مدرسې ته ورکړي نوپه دې کې دعمل اوږدوالی اودتبنتو لواند ښنه هم ده.

،څکه نوڅوکاله مخکې ددارالعلوم دیوبندپه شوری کې دحضرت ګنګوهي قدس سره همدغه فتوی ترغوراوفکرلاندي وه په ډیرومجلسونوکې پردې فکروشوچي آیادمدرسې مهتمم دمعلوموامتعینو طالبانوپخپله ددغوطالبانوپه اړتیاووکې دواجبوروپیو لګولووکیل اونائب منل کیدای شي ،که نه؟ دشوری مجلس پړهمدې بنسټ پریکړه وکړه چي کله مهتمم دنامعلوموطالبانو نائب شي له ورکوونکیوڅخه چنده اخلي نودمهتمم دمعلوموطالبانوله لورې په نائب جوړېدودنامعلوموورکوونکوله لورې دطالبانوپه اړتیاووکې دصرفولوو کیل اونائب هم کیداشي ، ،څکه چي داخبره ومنل شوه چي دداخلې پروخت په طالبانودوکالت په پاڼه کې لاندېنی مضمون ولیکي. زه مهتمم صاحب یادهغه ځای ناستی له خپل لورې دزکوة وصولولوهم وکیل ګرځوم اوپخپلواړتیاووکې دلګولوهم وکیل جوړوم.

بیاپه دې مشوره کې دې چي له دې وروسته دمهتمم صاحب لپاره دزکوة اوصدقوروپۍ دطالبانوپه اړتیاووکې لکه په خوراک ، څښاک ،جامو،برق ،درمل ،هستوګنه اونوروکې دصرفولوورته اختیاردی.

دوکالت دپاڼې لومړی جزچي زه مهتمم صاحب له خپل لورې دزکوة وصولولوهم وکیل جوړوم داحتیاط په توګه ولیکل شودې ته اړتیانه وه ،څکه چي دی خودنامعلوموطالبانوله لورې هم وکیل دی امادوهم جزء چي پخپلواړتیاووکې دصرفولوهم وکیل جوړوم ضروري دی خودطالبانودمصرفونوپه تحدیداو تعیین کې

دوغیره (اونور) زیاتوب له امله اجمال پیداشوی دی دوغیره دائره خوترودانیواو کتابونوپورې پراخه ده ،څکه باید مفتیان کرام غوروکړي چي داپوره معلوم کړي ترڅومدرسوو ال عمل په کولای شي. زماپه ذهن کې په دې اړه اصول دادي: چي له کوموشیانوڅخه طالبان بې واسطې استفاده کوي اودهغه شیانوفائده پردوئ تمامیږي هغه دطالبانومصر فونه دي اوله کوموشیانوڅخه چي طالبان په واسطه سره استفاده کوي یادوئ له دغوشیانوڅخه ټوله فائده نه پورته کوي لکه ددرس مېزونه اودعاریت کتابونه دادطالبانوپه مصرف کې نه راځي اوچي مهتمم دطالبانووکیل ومنې نوپه خوراک کې تملیک ضروري

نه دی اباحت یعنی طالبان یوځای کښېنول ،ډوډۍ ورکول هم جائزدي والله اعلم ۱۲ سعیداحمدپالن پورې)

سوال: (۹۳۸) دمدرسوچنده هغه که له زکوة ،سرسایواونوروصدقوڅخه وي یاصرف دمدرسې دمرستې لپاره دمصرف په معلومولویانه معلومولوسره وي صرف په ورکړه سره دورکوونکوله ملک څخه وزي ،که نه؟که وزي نوڅه وجه ده ؟اوکه نه وزي نوکه کوم سړی چنده ورکړي وفات شي اوهغه چنده په مدرسه کې پرته وي په مصرف کې لګېدلې نه وي نوبایدمیراث پکې جاري شي ؟ اودارازکه دی له صرفېدوڅخه بیرته وغواړې نوبایدده ته بیرته ورکوله شي ؟(۱۴۴۳/ ۳۳_۱۳۳۴هج)

پوښتوونکی : حبیب احمدکیرانوی خانقاه امدادیه مدرسه امدادالعلوم تهانه بهون ۲۱ شعبان ۱۳۳۴هج (دپورته بیان شوې سوال په ځواب کې حضرت مفتی صاحب له تذکیرة الرشید څخه لاندي لیکل شوی سوال اوځواب رانقلولوورو سته دحضرت ګنګوهی رحمه الله دځواب په حواله سره مدلل کړی دی دترتیب کوونکې له خوا)

سوال: مدرسې ته چي دچندي اونوروروپۍ راځي هغه وقف دي که ملک ؟که وقف دی نودعین (ذات) باقي پاتېدل یې واجب دي دذات په ختمولو سره صرفول یې ناجائزکه ملک دی اومهتمم دصرفولوپه هکله وکیل دی نودچندې ورکوونکی که مړشي نودغرېبانواووارثانوحق شته ددې معلومات پروکیل واجب دي.

دنبی علیه السلام اوخلفاؤرضی الله عنهم په زمانه کې چي کوم بیت المال ووپه هغه کې همدامشکل مخته دی ډیرفکرمې پرې وکړخودشرعي قاعدوله مخې حل نشوه اوبېلابېلې چندي سره ګډول بایداستهلاک (هلا کول) وي اوکارول شوی دکاروونکي ملک شي چي څه ځیني صرف کړي دده به احسان وي امامالکانوته به دی ضامن وي که داشته نومدرسې والویادکمېټۍ مشرته سخت مشکل دی هیله ده چي په صحیح ځواب لیکلوسره مې مطمئن کړئ.

ځواب: دمدرسې مهتمم دټولوطالبانونائب وي لکه چي امیردټول عالم نائب وي نوکوم شی چي څوک ومهتمم ته ورکړي دمهتمم قبضه کول پخپله دطالبانو قبضه کول دي دده په قبضه کولوسره دورکوونکې له ملک څخه ووت دطالبانو ملک وګرځید که څه هم هغوئ دشمیراوذات په اعتبارمعلوم نه دی خونائب معلوم دی نودورکوونکې له مرګ وروسته دورکوونکې دوارثانوملک نه ګرځي اومهتمم په ځینووجودورکوونکې وکیل هم کېدای شي لنډه داچي دانه وقف مال دی اونه دورکوونکې دوارثانوملک ګرځي اونه پخپله دورکوونکې په ملک کې پاته شودمولانارشیداحمدګنهګوهي صاحب لدخوا(تذکیرة الرشیدلومړی ټوک مخ: ۱۲۴)

[رجل اعطی درهمافی عمارة المسجداونفقة المسجداومصالح المسجدصح لانه وان کان لایمکن تصحیحه وقفًا یمکن تصحیحه تملیکًا بالهبة للمسجدوا ثبات الملک للمسجدعلی هذاالوجه صحیح فیتم بالقبض کذافی الواقعات الحسامیة (۱) وذکرالناطفی اذاوقف ماله لاصلاح المساجدیجوزوان وقف لبناء القناطیراولاصلاح الطریق اولحفرالقبوراواتخاذالسقایات والخانات للمسلمین اولشراء الاکفان لهم لایجوزوهوجائزفی الفتوی کذافی فتاوی قاضی خان(۲) فقط.

سوال: (۹۳۹). کومه چنده چي دکتابونورانیولویامدرسې دتعمیرلپاره یادجائداد درانیولولپاره وکړله شي آیاهغه دطالبانوملک ده ؟ که نه ده نوددې څه حکم دی ؟ دارازکوم مصرفونه چي دچندې ورکوونکي مقررکړي دهغوئ پابندي پرمهتمم لازمه ده ،که نه ؟ که ده نوولې ؟ (۱۵۰۳/ ۳۴- ۱۳۳۳هج) پوښتنه کوونکی احمدکېرانوی ضلع مظفرنګر۲۹شعبان۱۳۳۴هج)

ځواب: دمولاناګنګوهي رحمه الله په فتوی کې داالفاظ هم شته اومهتمم په ځینووجودورکوونکې وکیل هم کیدای شي نودکتابونوپه رانیولو،تعمیراونو روکې مهتمم دورکوونکې له لورې دنائب په حیث لګوي اودجائدادپه رانیولو کې له رانیولووروسته دورکوونکې له لورې دنائب په حیث وقف کوي لکه چي دلالةً ثابت دی اوکوم مصرف چي دچندې ورکوونکې مقررکړی دهغه پابندي پرمهتمم لازمه ده خوکله چي له ورکوونکې څخه اجازه واخلي نوبدلون پکي کولای شي فقط.

(۱) الفتاوی الهندیة : ۲/ ۴۶۰، کتاب الوقف ،الباب الحادی عشر، الفصل الثانی فی الوقف علی المسجدوتصرف القیم وغیره فی مال الوقف علیه اماقوله تصحیحه وقفًا یمکن فهوموجودفی نسخة الهندیة المطبوعة من المصطفائیة.
(۲) الفتاوی الخانیة مع الفتاوی العالمغیریة (عالمګیریه) : ۳/ ۲۹۲، کتاب الوقف ،باب الرجل یجعل داره مسجدااوخانااوسقایة اومقبرة.

متولی اومهتمم څوک جوړول پکاردی ؟

سوال: (۹۴۰) کوم سړی چي جاهل ،ناپوه وي دروژې اولمانځه پابندنه وي هغه دمسجدمتولي یادمدرسې مهتمم ټاکل صحیح دي ،که نه ؟ (۲۵۷۲/ ۱۳۴۳هج)

ځواب: متولي داسي سړی جوړول پکاردي چي خائن نه وي ا ودتولیت کارپه ښه توګه کولای شي ، دومره خوضروري دی اوغوره دادی چي نېک سړی چي دشرعي حکمونوپابندوي اودتولیت کارهم ترسره کولای شي متولي اومهتمم وټاکل شي.

دمدرسې ارکان (غړي) بایدڅرنګه وي ؟

سوال: (۹۴۱) (الف) داسلامي مدرسوغړي باید دلمانځه اوروژې پابندوي اوصورت ،شکل یې بایدله شرعې سره سم وي ،که نه ؟

(ب) کوم خلک چي دلمانځه اوروژې پابندوي اوظاهری حال ددوئ دشرعې خلاف وي هغوئ شرعًا داسلامي مدرسوارکان کېدای شي ،که نه ؟(۱۹۷۷/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

ځواب: (الف) داسي خلک بایدله شرعې سره سم وي.

(ب) داسي خلک دمدرسوغړي جوړول صحیح نه دي فقط والله تعالی اعلم.

داسلامي مدرسوشرعي حیثیت

سوال: (۹۴۲) (الف) مدرسه خازن العلوم اوڅومره مدرسې چي دارازجوړې شوې دي داوقف دي ،که نه ؟

(ب) متولي که په وقف باندي دملکیت دعوی وکړي دارازدفسق اوفجورکارو نه کوي نودعزل (له وظیفې څخه دایسته کېدو) وړدی ،که نه ؟

(ج) په داسي صورت کې مسلمانان اوهمدردخلک دمدرسې لپاره شوری قائمولای شي ،که نه ؟ بینواتوجروا(۹۱/ ۳۲- ۱۳۳۳هج)

جواب: (الف) مدرسه خازن العلوم اوټولې اسلامي مدرسې چي دا ډول دي وقف دي دملکیت دعوی وربانديي کول باطله ده (ب) کولای شي.
(ج) دملکیت دعوی وربانديي کول باطله ده چي [الوقف لایملک ولایملک] (الدرالمختارمع الشامی ۳/ ۴۰۲، کتاب الوقف) مشهوره اومنل شوې خبره ده دملک ددعوی اودفسق اوفجوردکارونوپه وجه دی دعزل وړدی [وینزع وجوبالو الواقف فغیره بالاولی غیرمأمون اوعاجزااوظهربه فسق کشرب خمرونحوه وان شرط عدم نزعه الخ] (۱) فقط والله تعالی اعلم.

کومه مدرسه اسلامي مدرسه ده

سوال: (۹۴۳) (الف) هغه عربي مدرسي چي دحکومت په لاس کې دي هغوئ ته اسلامي مدرسې ویل کیدای شي ؟
(ب) حکومتي مدرسې اودعامو خلکو مدرسې یو ډول دي که کوم فرق سره لري ؟ (۲۱۳۷/ ۱۳۳۸هج)

جواب: (الف) که دعربي ،فقهې ،اوحدیثوزدکړه پکي کیږي نوورته اسلامي مدرسه ویلای شي خواوس داعرف ګرځېدلی دی چي کومه مدرسه دمسلمانانو دچندې په ذریعه الله رب العزت چلوي اوپه هغې کې دیني زدکړې کیږي هغې ته اسلامي مدرسه وایې خوپه حقیقت کې په هره یوه کې چي دېني زدکړې کیږي هغه اسلامي مدرسه ده.
(ب) که حکومت په دغو مدرسو کې کومه خپله مداخله کوي اوخپل اصول په مني چي ورڅخه دېني زدکړې ته تاوان وي نوداسي مدرسه به خالصه اسلامي مدرسه نه وي په دې اودقوم په چنده جوړه شوې مدرسه کې به فرق وي.

دوقف له نیت پرته په خپله ځاني مځکه کې مدرسه قائمول

سوال: (۹۴۴) یو سړی پخپله ځاني مځکه کې چي دده دکورو مخته شاړه پرته ده

(۱) الدرمع الشامی (۳/ ۴۲۱) کتاب الوقف ،مطلب فیمایعزل به الناظر ط رشیدیه.

اوله غولې سره نښتې ده دچندې په روپیو مدرسه ودانه کړه تراوولسو کلونو پورې یې پخپله دعربي درس ورکړلنه داچي هلته ددرس اوتدریس لړۍ روانه شوه خو جوړوونکی کوم نیت دخپلې مځکې دوقفولو نه دی کړی نه یې په خوله څه ویلې دي نوپه دې صورت کې وقف صحیح شو ،که نه ؟ (۳۱۹/ ۲۹-۱۳۳۰هج)
جواب: په دې صورت کې دغه دده ځاني مځکه وقف نه شوه کمافی الدر المختار[ورکنه الالفاظ الخاصة کارضی هذه صدقة موقوفة مؤبدة علی المساکین ونحوه من الالفاظ کموقوفة لله تعالی اوعلی وجه الخیراوالبرالخ] (۱)

دمدرسې دودانۍ لپاره چنده ورکول بهتردي که دمځکې لپاره ؟

سوال: (۹۴۵) داسلامي مدرسې لپاره یوه مځکه چي پکي به صرف دېني کارکیږي په درې زره روپۍ رانیول شوه په هغه کې اووه سوه روپۍ ورکول شوې اودرویشت سوه روپۍ پاته دي ددغو درویشتو سوو روپیوقول دیوه کاله ورسره شوی دی اوس ځیني چنده ورکوونکې داوایې چي په دغه مځکه کې چنده ورکول دمدرسې ترودانولو اولی دی ،ځکه چي مځکه دودانۍ په مقابل زیاته ثابته اوپایداره وي له ودانې نړېدووروسته په دې مځکه کې بله ودانۍ جوړېدای شي اونوې ودانۍ چي جوړه شي هغه به نوې وي امامځکه به هغه وي دودانۍ جوړولو په مقابل دمځکې صدقه جاریه دوام وموندا وس دیوبنتنې ورخبره داده چي څوک چنده ورکوي هغوئ دودانۍ په جوړولو کې چنده ورکړي که دمځکې په رانیولو کې په دې کې کومه خبره غوره ده ؟ (۱۴۸۳/ ۴۴-۱۳۴۵هج)

جواب: کله چي دغه مځکه داسلامي دېني مدرسې لپاره رانیوله شوه چي وربانديي به مدرسه جوړیږي نومځکې پکاردي چي دمځکې قیمت اداشي په دې کې چنده ورکول پکاردي له دې وروسته ددې دتعمیرلپاره چنده وکړي فقط والله تعالی اعلم.

په چنده جوړې کړې دمدرسوودانۍ وقف دي

سوال: (۹۴۶) مدرسې چي دعامو مسلمانانو په چندو جوړیږي دغه دچندو روپۍ وقف دي ،که نه ؟

(۱) الدرمع الشامی (۳/ ۳۹۳) اوائل کتاب الوقف ط رشیدیه.

اوبیاپه دغوروپیوچي کوم مکانونه ودانیږي دهغوئ څه حال دی ؟ (۱۱۳۸/ ۳۳_ ۱۳۳۴هج)

جواب: دچندي روپی. چي ترڅوپه هغه مصرف کې صرفې نشي دکوم لپاره چي چنده شوې ده دچندي ورکوونکوملک دی کله چي په هغه مکان له جوړولو وروسته وقف شي هغه وخت وقف ګرځي اوکله چي مځکه دمدرسې لپاره وي اوپه هغې کې په چنده سره ودانۍ پکي جوړه شي دمدرسې په غرض نوهغه تعمیروقف ګرځي کمافی الدرالمختار[وان موقوفة علیٰ ماعین البناء له جازتبعا اجماعًا الخ] (۱) فقط.

دمدرسې جوړوونکې په نوم مدرسه قائمول

سوال: (۹۴۷) دیوه مسجدپه څلوردیوالی. کې یوه مدرسه دقرآنکریم دزدکړې لپاره جوړه شوې ده څه موده وروسته په دغه څلوردیوالي کې یوه پخه ودانی. جوړه کړه وقف یې کړه دمدرسې جوړوونکې نوم محمدالطاف حسین دی ده دمدرسې نوم هم مدرسه محمدیه الطافیهٔ اینبی دی نودادده په نامه نومول ښه دی که بد؟ بل داچي که مدرسه پرهمدغه ځای وي نودمدرسې جوړوونکې خوبه دمسجددمځکې غصب کوونکی نه وي ؟(۲۸۱/ ۴۴- ۱۳۴۵هج)

جواب: ددغې مدرسې نوم محمدیه الطافیه ښودل صحیح دي په دې کې دمدرسې دجوړوونکې ونامه ته اشاره ده چي تل به دنېکوخلګوددعاوولپاره بهانه وي اودصحیح حدیث [من سن سنة حسنة فله اجرهاواجرمن عمل بهاالخ] الخ (۲) په باعث وجوړوونکې ته به ثواب رسیږي لنډه داچي دسپېڅلې شریعت سره سم داهیڅ پروانلري اوکوم نیت چي دباني په دې نامه ښودلوسره وي دهغه سره سم به ده ته برخه رسیږي قال علیه السلام [انماالاعمال بالنیات الحدیث] (۳) اودمدرسې پردغه ځای په قائم پاتېدودامځکه دمسجدغصب نه شوه اودمدرسې جوړوونکی غصب کوونکی نشوکله چي ده ودانی. وقف کړې ده لکه چي مځکه له مخکې څخه لاوقف وه فقط.

(۱) الدرالمختارمع الشامی (۳/ ۴۲۸) ،کتاب الوقف ،مطلب مناظرة ابن الشحنة الخ ط رشیدیه.
(۲) عن المنذربن جریرعن ابیه قال: قال رسول الله من سن سنة حسنة فعمل بهاکان له اجرهاومثل اجرمن عمل بهالاینقص من اجورهم شیئًا ومن سن سنة سیئة فعمل بهاکان علیه وزرهاووزرمن عمل بهالاینقص من اوزارهم شیئًا (ابن ماجه ص: ۱۸ ،باب من سن سنة حسنة اوسیئة)
(۳) صحیح البخاری: ۲/۱ ،باب کیف کان بدء الوحی.

دمدرسې په روپیورانیول سوې مځکه دمدرسې ملک دی

سوال: (۹۴۸) ویوې مدرسې ته حکومت څه مځکه دسړک اونوروجوړولولپاره وراخسته نوآیامدرسې وال شرعًا ددې مځکې مالکان دي ؟ اوددوئ لپاره دغه مځکه دمدرسې په کارونو کې خرڅول جائزدی ،که نه ؟(۱۴۲۷/ ۱۳۳۹هج)

ځواب: که مدرسې والوخپلې روپی. په عوض کې ورکړي نودوئ مالکان شول که یې په مدرسه کې لګوي اوکه یې پخپل کارکې اوکه دمدرسې روپی. ددې مځکې په بدل کې ورکړي نودامځکه دمدرسې شوه اووقف شوه دمدرسې په کارکې یې خرڅول صحیح دی فقط.

په دې شرط مځکه وقفول چي که مدرسه پاته نشوه نومځکه زموږده

سوال: (۹۴۹) زیددعمروپه اجازه دده په مځکه کې په څه چنده ،څه خپلواوڅه دقرض په روپومدرسه جوړه کړه څوکاله وروسته عمرودمځکې مالک دغه مځکه پد دې الفاظووقف کړه چي دامځکه مادمدرسې په نامه وقف کړه ومهتمم ته اختیاردی چي په دې کې ددرس ځای جوړکړي خوشرط دادی چي که مدرسه ختمه شوه نومځکه زماده له سامان سره مې غرض نشته دمسلمانانو خوښه ده چي هرڅه په کوي هغه دې په وکړي. له دې رووسته څوکلونه تیرشول مدرسه کامیابه نشوه تردې چي دماموړینو دځوکلوتنخواه اوکومې روپی. چي یې په قرض اخستې وي هغه ټول پرمدرسه پاته دي په دې صورت کې کله چي مدرسه کامیابه نشوه اونه امیدشته نومځکه بیرته دمځکې دمالک شوه اوکه نه ؟ اودسامان په قیمت قرض اداکیدای شي ،که نه ؟ اوکه په سامان سره هم ادانشي نودمځکې مالک دامځکه پخپله خوښی. وماموړینوته په تنخواه کې یاقرض ورکوونکوته ورکولای شي ،که نه ؟ یایې کوم بل چاته هبه کولای شي ،که نه ؟(۱۷۳۵/ ۳۲- ۱۳۳۳هج)

ځواب: دوقف کوونکې په دې شرط لګولوچي که مدرسه ختمه شوه نومځکه زماده وقف باطل شودامځکه وقف نشوه مالک ته اختیاردی که دامځکه خرڅوي اوکه یې چاته هبه کوي یایې په تنخواه کې وماموړینوته ورکوي اودسامان په قیمت قرض اداکړي په شامي کې له خصاف څخه رانقل کړې دي

[لوقال علی ان لی اخرجها من الوقف الی غیره او علی ان اهبها و اتصدق بثمنها او علی ان اهبها لمن شئت او علی ان ارهنها متی بدألی و اخرجها عن الوقف بطل الوقف الخ] (۱)

دقران کریم دتعلیم لپاره دربیمه دجائداددوقفولو وصیت کول

سوال: (۹۵۰) زید ترمرګ اوه ورځې مخکې دخپل جائداددربیمې وصیت داسې وکړچې ددې جائدادآمدني وفلانی مدرسې ته دقرآنکریم دتعلیم لپاره وقفوم داوصیت جائزدی ،که نه؟ (۸۲۵/ ۱۳۳۸هج)

ځواب: داوصیت شرعًا صحیح دی دزید دوصیت سره سم دجائدادیوه دربیمه وقف شوه دهغه آمدني په دې مدرسه کې دقرآنکریم په تعلیم کې ولګوئ فقط.

دمدرسې لپاره چنده وشوه خومدرسه جوړه نشوه نودغوروپیوځه حکم دی

سوال: (۹۵۱) په یوه کلي کې دمدرسې جوړولو په نیت روپۍ راټولې شوې خومدرسه جوړه نشوه دغه روپۍ اوس دمسجدپه اړتیاوولکه غسل خانه اوداسې نوروکې لګېدای شي ،که نه؟ اوکومې روپۍ چې له نوروځایونوڅخه راغلې دي هغه هم په دې کارکې لګېدای شي ،که نه؟ (۵۵۰/ ۱۳۳۷هج)

جواب: کوموخلګوچې داروپۍ درکړې وي هغوئ که کلیوال وي اوکه بهرني خلک ددوئ په خوښه دغه روپۍ دمسجدپه اړتیاووغسل خانواوداسې نوروکې لګېدای شي.

دوقف کوونکې ترمرګه پورې پګي داوسېدوپه شرط سره مکان وقف کول

سوال: (۹۵۲) دلکنوښارپه یوه محله کې یوه بې اولاده سپین سرې ښځه ده دایوکوچنی داستوګنې کورلري چې دمیاشتې دوې درې روپۍ کرایه جوړوي دغه مېرمن داسرای په مدرسه عربیه دیوبندکې دتجوید دشعبې لپاره وقف کول غواړې په دې شرط چې ترمرګه به دااوددې خپله

(۱) الشامی (۳/ ۳۹۵)، کتاب الوقف ،قبل مطلب فی وقف المرتد و الکافر ط رشیدیه.

یوه بله کونډه پکې اوسیږي ددې دواړوکونډوله مرګ وروسته دې دمدرسې دیوبندپه مصرف کې دبیان شوې وقف په شعبه کې پکارراوستل شي.

پوښتنه داده چې داوقف شرعًا جائزکېدای شي ،که نه؟ آیاددغه وقف دجائز کېدوپه صورت کې ددیوبندمدرسه داوقف قبلوي ،که نه؟ داخبره په وجه دمکان اودمدرسې له یوبل څخه دلیري والي اودمکان دلږآمدني راتلوپه وجه دپوښتنې وړده (۱۹۳/ ۱۳۳۵هج)

ځواب: شرعًا داډول وقف کول چې ترمرګه وقف کوونکی پخپله اوددې خپله بله مېرمن به په دې مکان کې اوسیږي اوددوئ دواړوترمرګ وروسته دده آمدني به ددیوبندپه مدرسه کې خرڅیږي صحیح دی اووقف داډول صحیح کیږي دوقف کوونکي شرط معتبروي اودارازکه ددغه مکان کرایه ترمرګه پورې وقف کوونکی پخپله واخلي یایې دکوم بل چالپاره مقرره کړي اوله وفات وروسته هغه آمدني مدرسې ته نقل شي داشرط هم صحیح دی اووقف صحیح دی ،خودوقف په پانه کې که وقف کوونکی داشرط هم ولیکي چې وقف کوونکی یامتولی به له اړتیاسره سم دغه وقف کړی مکان په بله ځکه یامکان بدلوي نوداهم جائزدی اومناسب دی ددې شرط به داګټه وي چې که مدرسې والوته دلیري والې اوکم آمدني راتلوپه وجه مشکل وي نودوئ به داخرڅه کړي ددې په عوض به بل مکان یاځکه نژدې رانیسي وقف کولای به یې شي اوبې دوقف کوونکې له شرطه بدلول به مشکل وي فقط.

دهندویاعیسایې خپل جائدادمدرسې ته وقفول

سوال: (۹۵۳) یونامسلمان هندویانصراني خپل جائدادویوې اسلامي مدرسې ته چې پکې ددین اونوروعلومومنطق ،فلسفه ،ریاضی اوفارسي زدکړه کیږي وقفول غواړي آیادنامسلمان وقف دداسې اسلامي مدرسې لپاره جائزدی ،که نه؟ که وقف شرعًا جائزنه دی نوآیاکومه بله داسې طریقه کیدای شي چې شرعًا معتبره وي هبه یاوصیت اونور؟ (۲۲۵/ ۱۳۳۹هج)

جواب: دنامسلمان دوقف صحیح کېدولپاره داشرط دی چې دکوم خیردکار لپاره وقف کړي هغه دمسلمانانواونامسلمانوپه عقیده دثواب کاروي نودزد کړې ځای اوددینې مدرسې دمسلمانانو

په عقیده خوثواب دی امادنامسلمان په عقیده دادثواب کارنه دی ،ځکه دنامسلمان وقف په داسي شیانوکې نه صحیح کیږي اوداسي خیردکارونولپاره هبه اووصیت کول هم دوقف په حکم کي دي ،ځکه هغه هم نه صحیح کیږي (۱) په شامي کې راغلي دي [فی البحروغیره ان شرط وقف الذمی ان یکون قربة عندناوعندهم کالوقف علی الفقراء اوعلی مسجدالقدس الخ (۲) وفیه ایضا یثبت الوقف بالضرورة وصورته ان یوصی بغلة هذه الدارللمساکین ابدااولفلان وبعده للمساکین ابدافان الدارتصیر وقفابالضرورة والوجه انهاکقوله اذامت فقدوقفت داری علی کذاای فهومن المعلق بالموت وسیأتی الکلام علیه وانه کوصیة من الثلث وذکرفی البحرمنها لوقال اشتروامن غلة داری هذه کل الشهربعشرة دراهم خبزاوفرقوه علی المساکین صارت الداروقفاالخ (۳)

دسرسايې اونورو واجبو صدقوروپۍ دمدرسې په تعمیرکې لګول

سوال: (۹۵۴) دمدرسې په ودانۍ کې دفطراني (سرسايې) روپۍ لګول جائزدي ،که دې لپاره بله چنده وشي ؟ ځیني خلک همداسي غواړي (۱۸۲۸/ ۴۲ - ۱۳۴۷هج)

جواب: دسرسايې روپۍ دمدرسې په تعمیرکې لګول صحیح نه دي ،ځکه چي په سرسایه اونورو واجبو صدقوکې تملیک دفقیرضروري دی اوپه تعمیرکې په خرڅولو تملیک نشي راتلای ځکه نودمدرسې دودانولولپاره جلا چنده وکړي لکه چي دځینونباغلیو همدارایه ده اوهمداصحیح دی اودسرسايې روپۍ داسلامي مدرسودطالبانوپراړتیاوولګول پکاردي فقط.

(۱) پردې مسئله باندې له فتوی شمیره (۸۰۱) څخه مخکې یادونه وشوه هغه ؤګورئ دغه وقف دنامسلمان په ځاني عقیده کاردثواب کېدای شي ،ځکه دي وقف کوي هودده دمذهب له مخې کاردثواب نشي کیدای خوفقهاؤپه منقولاتوکې ځاني عقیدې ته اعتبارورکړی دی نوپه نامنقولاتوکې هم بایدې ته اعتبارورکول شي لکه چي حضرت ګنګوهي قدس سره وداسي وقف ته هم صحیح ویلې دي ۱۲ سعیداحمد پالن پوری.

(۲) الشامی (۳۹۴/۳) . کتاب الوقف شرائط الوقف ط رشیدیه.
(۳) الشامی (۳۹۳/۳) ،کتاب الوقف ،مطلب قدیثبت الوقف بالضرورة ط رشیدیه.

دزکوة روپۍ دمدرسې په تعمیرکې خرڅول

سوال: (۹۵۵) دیوه مسجدوشاته مځکه پرته وه خلګوچنده وکړه دغه مځکه یې دمسجدلپاره رانیوله چي دامام کوربه دلته جوړکړویابه دمسجدلپاره په کرایه ورکړوو روسته په دې ځای کې داسلامي مدرسې مشوره راغله ،ځکه چنده وشوه خلګوپه هغه کې زکوة هم ورکړدازکوة اداشوکه به بیازکوة ورکوي ؟ اوس دچندې دلړوالې په وجه مدرسه هم نشوه جوړه اونه امیدشته ،ځکه نوددغې مدرسې سامان یاددې کرایه په مسجدکې خرڅیدای شي ،که نه ؟ (۵۳۱/ ۳۵ - ۱۳۳۶هج).

جواب: دزکوة روپۍ دمدرسې په تعمیرکې لګول جائزنه وي دازکوة ادانشوبیر ته اداکول پکاردي اودمدرسې سامان له چنده ورکوونکوڅخه له پوښتنې وروسته په مسجدکې لګولای شي اوکله چي دامځکه اصلاً دمسجدلپاره رانیوله شوې وه ،ځکه ددې کرایه په مسجدکې لګول صحیح دی فقط.

دمسجدیامدرسې مځکه په اجاره ورکول

سوال: (۹۵۶) دمځکې مالک که دکوم مسجدیامدرسې لپاره مځکه وقف کړه اوس که متولی دغه وقف شوې مځکه دکال په کرایه یاپه کوم معلوم شی وچاته ورکړي نوجائزدی ،که نه ؟ (۱۷۲/ ۴۴ - ۱۳۴۵هج)

ځواب: دغه مځکه دمسجدګټې لپاره په اجاره ورکول جائزدی څه چي راځي هغه پرمسجدلګوئ فقط.

دمسجدپه څلوردېوالي کې جوړې کړې مدرسې ودانې په کرایه ورکول

سوال: (۹۵۷) یوسړی دیوه مسجدپه څلوردېوالي کې په شاړه مځکه باندې مدرسه جوړه کړه اوس له څوکلونوراهیسې په دې مدرسه کې څوک نشته څوک سبق هم نه پکې وایي دمسجدمتولي اراده لري چي داپه کرایه ورکړي کرایه پرمسجدولګوي اوددغه سامان بلې مدرسې ته ورل هم صحیح دی ،که نه ؟ (۷۷۲/ ۳۲ - ۱۳۳۳هج)

ځواب: دمدرسې جوړوونکی که ودانۍ مسجدته وقف کړې ده نوددې کرایه په مسجدکې

خرڅول پکاردي ،اوکه يې نه وه وقف کړې نوجوړوونکې ته اختيار دی چې داسامان بلې مدرسې ته ورکوي اوکه يې پخپله کاروي.

دمسجداومدرسې په روپوتجارت کول

سوال: (۹۵۸)دنوې مسجد جوړولولپاره چې کومې روپۍ راجمع شوې دي دامتولي په تجارت کې لګولای شي ،که نه ؟ ياکه دمدرسې روپۍ دي نوپه دې کې هم دغه دتجارت تصرف په شرط ددې چې داصل مال ذمواري واخلي کولای شي ،که نه ؟ (۴۴/ ۴۵۷ـ ۱۳۴۵هج)

جواب: داخوښکاره ده چې دوقف په مالونوکې دداډول تصرفاتومطلقًا اجازه نشته په خاص ،خاص صورتونوکې اوترمصلحت لاندې ددې اجازه کېدای شي دوقف دمصلحت اودهغه دخوندي کولوچې څومره دتصرفاتوصورتونه کېدای شي دوقف ومتولي ته دهغه اجازه ده اوپه کوموصورتونوکې چې دوقف دمال دضايع کېدوياضايع کېدوخطروي نوبيااجازه نشته لنډه داچې په دې باب کې ترټولومهم جزء دوقف مصلحتونه اوداوقافودمال خوندي کول دي.

نوپه پوښتل شوې صورت کې دمدرسې يامسجدمهتمم په دې شرط چې داصل مال ذمواري اوپه دې شرط چې دوقف دمال لپاره زيات ګټور،زيات خوندي کيدل اوداړتياپرمهال څيني اخستل کيدای شي دغه تصرفات کولای شي قال فی الخلاصة [نقلا عن مجموع النوازل واما اقراض مافضل من الوقف قال فی وصايا النوازل رجوت ان يکون ذلک واسعًا اذاکان ذلک احرز للغلة من امساکه الخ (۱)] (خلاصة القتاوی فصل فی المسجدواوقافه) يسع للمتولی اقراض مافضل من غلة الوقف لواحرز(۲) (جامع الفصولين) وفيه ايضا وذکران القيم لواقرض مال المسجدليأخذه عندالحاجة وهواحرزمن امساکه فلابأس به (۲) (جامع الفصولين لابن قاضی سماونة فی تصرف القاضی والمتولی وغيرهما) وفی الاشباه

(۱) خلاصة الفتاوی مع مجموعة الفتاوی: ۴/ ۴۲۱ ، کتاب الوقف الفصل الرابع فی المسجدواوقافه ومسائله مطبوعة نول کشورلکنو.

(۲) جامع الفصولين: ۲/ ۱۴الفصل السابع والعشرون فی تصرفات الاب والوصی والقاضی والمتولی الخ مطبوعة کبيری ميريه بولاق ،مصر.

وهل يجوزللمتولی ان يشتری متاعًا باکثرمن قيمته اويبيعه ويصرفه علی العمارة ويکون الربح علی الوقف الجواب نعم کماحرره ابن وهبان(۱)] (الاشباه والنظائر، کتاب الوقف)

دسختې اړتياپرمهال دمدرسې مځکه خرڅول

سوال: (۹۵۹) يوسړی دکبنت کرلې مځکه واسلامي مدرسې ته وقف کړه نودمدرسې مهتمم دکوم سخت ضرورت په وجه که دامځکه خرڅه کړي ددي قيمت دمدرسې په کارکې ولګوي نوڅرنګه به وي ؟اودهبې په صورت کې څه حکم دی ؟(۱۴۴۷/ ۱۳۴۵هج)

جواب: مځکه که دکبنت وي اوکه شاړه کله چې مدرسې ته وقف شوه بيادې خرڅول جائزنه دی که څه هم سخت ضرورت وي کمافی الدرالمختار[الوقف لايملک ولايملک] (الدرالمختارمع الشامی ۲/ ۴۲۱، کتاب الوقف)

دمدرسې زوړاوبې ځايه مکان خرڅول دمدرسې داړتيالپاره بل مکان رانيول

سوال: (۹۶۰) دمدرسې دارالعلوم سهارنپوريوزوړاوبې ځايه مکان دی په کرايه اونورونه ورکول کيږي اومدرسه دومره وس نلري چې داسم جوړکړي ،ځکه دمدرسې غړې اومتولي غواړې چې داخرڅ کړي پرکوم سم ځای چې له دې ښه اوغوره وي بل مکان رانيسواودهغه په امدني دمدرسې اړتياوې پوره کړوپه داسي صورت کې متولي دوقف مال تبادله کولای شي ،که نه ؟(۲۴۷۰/ ۱۳۴۰هج)

جواب: په درمختارکې راغلې دي [واماالاستبدال بدون الشرط فلايملکه الاالقاضی (درر) وشرط فی البحرخروجه عن الانتفاع بالکلية وکون البدل عقارًاوالمستبدل قاضی الجنة(۲)

(۱) الاشباه والنظائرص: ۲۷۴الفن الثانی ،کتاب الوقف.

(۲) په علم عمل کوونکی قاضی ته قاضی الجنة دلاندي ليکل شوې حديث په وجه ويل کيږي: عن ابن بريدة عن ابيه عن النبی ﷺ قال: القضاة ثلاثة: واحدفی الجنة واثنان فی النارفاماالذی فی الجنة فرجل عرف الحق فقضی به ورجل عرف الحق فجاری فی الحکم فهوفی النارو--ورجل قضی للناس علی جهل فهوفی النار(سنن ابی داؤدص: ۵۰۳، کتاب القضاء ،باب فی القاضی يخطئ) وهکذافی مشکاة المصابيح ص: ۳۲۴ ، کتاب الامارة والقضاء ،باب العمل فی القضاء والخوف منه الفصل الثانی) ددرمختارپه اردوشرح غاية الاوطارکې راغلې دي: په علم باندې عمل کوونکې قاضی ته دجنت قاضی وويل دهغه مرفوع حديث په وجه دکوم روايت چې حاکم له بريده ښخه کړی دی چې دوه قاضيانً په اور(ددزوخ) کې دی اويوقاضی چې حق وپيژنده بيايې په هغه حکم وکړنوهغه په جنت کې دی اوکوم قاضی چې حق وپيژندی بيايې قصداً ظلم وکړيايې حکم وکړبېله علمه نودوئ دواړه په اور(ددوزخ) کې دی (غاية الاوطار۲/ ۵۷۲مطبع منشی نول کشورکانپور) (۱) الدرمع الشامی (۳/ ۴۲۵ ،کتاب الوقف ،مطلب فی شروط الاستبدال ط رشيديه)

خرڅول پکاردي ،اوکه یې نه وه وقف کړې نوجوړوونکې ته اختیار دی چې داسامان بلې مدرسې ته ورکوي اوکه یې پخپله کاروي.

دمسجداومدرسې په روپوتجارت کول

سوال: (۹۵۸)دنوې مسجد جوړولولپاره چې کومې روپۍ راجمع شوې دي دامتولي په تجارت کې لګولای شي ،که نه ؟ یاکه دمدرسې روپۍ دي نوپه دې کې هم دغه دتجارت تصرف په شرط ددې چې داصل مال ذمواري واخلي کولای شي ،که نه ؟ (۴۵۷/ ۴۴-۱۳۴۵هج)

جواب: داخوښکاره ده چې دوقف په مالونوکې دداډول تصرفاتومطلقًا اجازه نشته په خاص ،خاص صورتونوکې اوترمصلحت لاندي ددې اجازه کېدای شي دوقف دمصلحت اودهغه دخوندي کولوچې څومره دتصرفاتوصورتونه کېدای شي دوقف ومتولي ته دهغه اجازه ده اوپه کوموصورتونوکې چې دوقف دمال دضایع کېدویادضایع کېدوخطروي نوبیااجازه نشته لنډه داچې په دې باب کې ترټولومهم جزء دوقف مصلحتونه اوداوقافودمال خوندي کول دي.

نوپه پوښتل شوې صورت کې دمدرسې یامسجدمهتمم په دې شرط چې داصل مال ذمواري اوپه دې شرط چې دوقف دمال لپاره زیات ګټور،زیات خوندي کیدل اوداړتیاپرمهال ځیني اخستل کیدای شي دغه تصرفات کولای شي قال فی الخلاصة [نقلا عن مجموع النوازل واما اقراض مافضل من الوقف قال فی وصایاالنوازل رجوت ان یکون ذلک واسعًا اذاکان ذلک احرزللغلة من امساکه الخ(۱)] (خلاصة القتاوی فصل فی المسجدواوقافه) یسع للمتولی اقراض مافضل من غلة الوقف لواحرز(۲) (جامع الفصولین) وفیه ایضا وذکران القیم لواقرض مال المسجدلیأخذه عندالحاجة وهوأحرزمن امساکه فلابأس به (۲) (جامع الفصولین لابن قاضی سماونة فی تصرف القاضی والمتولی وغیرهما) وفی الاشباه

(۱) خلاصة الفتاوی مع مجموعة الفتاوی: ۴/ ۴۲۱، کتاب الوقف الفصل الرابع فی المسجدواوقافه ومسائله مطبوعة نول کشورلکنو.

(۲) جامع الفصولین: ۲/ ۱۴الفصل السابع والعشرون فی تصرفات الاب والوصی والقاضی والمتولی الخ مطبوعة کبیری میریه بولاق ،مصر.

وهل یجوزللمتولی ان یشتری متاعًا باکثرمن قیمته اویبیعه ویصرفه علی العمارة ویکون الربح علی الوقف الجواب نعم کماحرره ابن وهبان(۱)] (الاشباه والنظائر،کتاب الوقف)

دسختې اړتیاپرمهال دمدرسې مځکه خرڅول

سوال: (۹۵۹) یوسړی دکښت کرلې مځکه واسلامي مدرسې ته وقف کړه نودمدرسې مهتمم دکوم سخت ضرورت په وجه که دامځکه خرڅه کړي ددې قیمت دمدرسې په کارکې ولګوي نوځرنګه به وي ؟اودهبې په صورت کې څه حکم دی ؟(۱۴۴۷/ ۱۳۴۵هج)

جواب: مځکه که دکښت وي اوکه شاړه کله چې مدرسې ته وقف شوه بیاددې خرڅول جائزنه دی که څه هم سخت ضرورت وي کمافی الدرالمختار[الوقف لایملک ولایملک] (الدرالمختارمع الشامی ۲/ ۴۲۱، کتاب الوقف)

دمدرسې زوړاوبې ځایه مکان خرڅول دمدرسې داړتیالپاره بل مکان رانیول

سوال: (۹۶۰) دمدرسې دارالعلوم سهارنپوریوزوړاوبې ځایه مکان دی په کرایه اونورونه ورکول کیږي اومدرسه دومره وس نلري چې داسم جوړکړي ،ځکه دمدرسې غړې اومتولي غواړي چې داخرڅ کړي پرکوم سم ځای چې له دې څخه ښه اوغوره وي بل مکان رانیسواودهغه په امدني دمدرسې اړتیاوې پوره کړوپه داسې صورت کې متولي دوقف مال تبادله کولای شي ،که نه ؟(۲۴۷۰/ ۱۳۴۰هج)

جواب: په درمختارکې راغلې دي [واماالاستبدال بدون الشرط فلایملکه الاالقاضی (درر) وشرط فی البحرخروجه عن الانتفاع بالکلیة وکون البدل عقارًا والمستبدل قاضی الجنة (۲)

(۱) الاشباه والنظائرص: ۲۷۴الفن الثانی ،کتاب الوقف.

(۲) په علم عمل کوونکي قاضی ته قاضی الجنة دلاندې لیکل شوې حدیث په وجه ویل کیږي: عن ابن بریدة عن ابیه عن النبی ﷺ قال: القضاة ثلاثة: واحدفی الجنة واثنان فی النارفاماالذی فی الجنة فرجل عرف الحق فقضی به ورجل عرف الحق فجاری فی الحکم فهوفی النارو==ورجل قضی للناس علی جهل فهوفی النار(سنن ابی داؤدص: ۵۰۳، کتاب القضاء ،باب فی القاضی یخطئ) وهکذافی مشکاة المصابیح ص: ۳۲۴ ، کتاب الامارة والقضاء ،باب العمل فی القضاء والخوف منه الفصل الثانی) ددرمختارپه اردوشرح غایة الاوطارکې راغلې دي: په علم باندې عمل کوونکي قاضی ته دجنت قاضی وویل دهغه مرفوع حدیث په وجه دکوم روایت چې حاکم له بریده څخه کړی دی چې دوه قاضیانْ په اور(ددوزخ) کې دی اویوقاضی چې حق وپیژنده بیایې په هغه حکم وکړنوهغه په جنت کې دی اوکوم قاضی چې حق وپیژندی بیایې قصداً ظلم وکړیایې حکم وکړبېله علمه نودوئ دواړه په اور(ددوزخ) کې دی (غایة الاوطار۲/ ۵۷۲مطبع منشی نول کشورکانپور) (۱) الدرمع الشامی (۳/ ۴۲۵) ،کتاب الوقف ،مطلب فی شروط الاستبدال ط رشیدیه

المنسربذی العلم والعمل وفی النهران المستبدل قاضی الجنة فالنفس به مطمئنة فلا یخشی ضیاعه ولوبالدراهم والدنانیرالخ(۱) نویادي شوي اړتیاپه وجه مکان خرخول اووباندي غوره بل مکان رانیول صحیح دی په دې کې دی پوره احتیاط وکړل شي دمدرسې دګټې خیال دې وساتل شي فقط.

دیوې مدرسې په نامه وقف کړی جائدادامدني پربله مدرسه خرڅول

سوال : (۹۶۱) یوسړی دکوي په ناجوړي کې مرګ ته نژدې شوې ووده ددوودر بیومعتبروعالمانوپه مخ کې وصیت وکړچي زماله مځکوڅخه فلانی مځکه دمدرسې فلاح المسلمین په نامه وقف ده اووقف کړي مځکه کلې ته نژدې ده اومدرسه فلاح المسلمین دوولس میله لیري ده ،ځکه مونږمشوره وکړه په کلې کې مي یوه مدرسه جوړه کړه اوپه وقف شوی مځکه مدرسه چلول داجائزدی ،که نه ؟(۴۹۰/ ۱۳۳۸هج)

[redacted] : دفقهې په کتابونوشامي اونوروکې څرګندونه ده مراعاة غرض الواقفين واجبة (الشامی ۳/ ۴۲۴)ده شرط الواقف کنص الشارع (الشامی ۳/ ۴۵۶،کتاب الوقف ط رشیدیه) اودارنګه څرګندونه ده نوترڅوچي مدرسه فلاح المسلمین قائمة اوباقي ده ترهغوددغه وقف کړې مځکې آمدني په بله مدرسه کې صرفول صحیح نه دی نوپه بله مدرسه کې ددغه آمدني صرفوونکی دوقف کوونکی دشرط په خلاف

کولوعاصیان اوګنهګاران دي ،ځکه چې دوئ ته داحق نشته چې دوقف کوونکي شرط باطل کړي.

سوال : (۹۶۲) زمایوې عمې (دپلارخور) دخپل جائدادیوه برخه وقف کړې وه اودخپلې رأیې سره سمه دخیرپه کارونوکې مصرفوله خونه یې دورقف پاڼه لیکلې وه نه یې دمصرفونوفهرست لیکلی وو له مرګ څخه یې لږمخکې ماته ویلې ووچې زما وروسته ته دوقف پاڼه ولیکه اومصرفونه معلوم کړه زه اودوفات شوې یوه سکه خوراویوه په پلارشریکه خوریې وارثان وودکومونو مو نه چې له مرحومې وروسته دوراثت په توګه په حکومتي کاغذونوکې ولیکل شول دنومونوله لیکنې وروسته مااوددې په پلارشریکې خوردخپلوبر خوپه اندازه دوقف پاڼه ولیکله اومصرفونه موداوټاکل چې په روپۍ کې به لس آنې وفلانی ،فلانی اسلامې مدرسوته ورکول کیږي اوپه روپۍ کې شپږآنې به متولی له خپلې رأیې سره سمې مصرفوي وروسته دمرحومې سکنی خوردخپلې برخې دوقف پاڼه ولیکله اوزماپه مشوره باندې یې دافیصله وکړه چې په بچهریانوکې به اسلامي مدرسه جوړه کړي ،ځکه مدرسه جوړه شوه خوددې دبرخې آمدني دمدرسې نه بس کیږي آیاشرعًابه داجائزوي ،که نه ؟چې دکومولسوآنوپه روپۍ کې وبهرنی اسلامي مدرسوته ورکولومافیصله کړې وه هغه دبچهریانوواسلامي مدرسې ته وګرځوم ؟ (۱۲۷۴/ ۱۳۴۲هج)

جواب : دغه بدلون جائزنه دی په شامي کې له اسعاف څخه رانقل کړې دي [ولایجوزان یفعل الاماشرط وقت العقد(۱) وفیه ایضاوفی فتاوی الشیخ قاسم وماکان من شرط معتبرفی الوقف فلیس للواقف تغییره ولاتخصیصه بعد تقرره الخ(۱)]

سوال (۹۶۳) یوسړی دیوې مدرسې لپاره جائدادوقف کړخوآمدني دهغې بلې مدرسې ته ورکوي داسي جائزدي ،که نه ؟(۱۵۳۲/ ۱۳۳۹هج)

څواب : وکومې مدرسې ته چې یې وقف کړی دی په هماغه مدرسه کې آمدني بایدولګول شي ترڅوچي دامدرسه جاري وي ترهغوپه بله مدرسه کې ددغه آمدني صرفول جائزنه دی فقط.

(۱) الشامی(۳/ ۴۷۳) ،کتاب الوقف ،مطلب:لایجوزالرجوع عن الشروط ط رشیدیه.

ویوې مدرسې ته د وقف کړې جائدادامدني بلې مدرسې ته ورکول

سوال: (۹۶۴) زید خپل جائدادوقف کړله هغه څخه دآمدنی یوه برخه دیوې دینې مدرسې چې په یوه خاص مسجد یاخاص ښارکې واقع وه مقرره کړه وروسته ده،ته معلومه شوه چې ددغې مدرسې غړې دمدرسې روپۍ سمې نه کاروي اسراف اوخیانت پکې کوي نوپه داسي صورت کې آیاداجائزدی چې پخپله وقف کوونکی یامتولی دآمدني دغه برخه ددینې زدکړې لپاره وبلې مدرسې ته ورکړي ؟بینواتوجروا(۱۳۷۲/ ۱۳۴۲هج)

جواب: دوقف کوونکې شرطونه که څه هم معتبروي شرط الواقف کنص الشارع(الشامی ۲/ ۵۰۸، کتاب الوقف) خوپه یادشوې صورت کې دغه آمدني بلې دینې مدرسې ته ورکول جائزدی فقط.

دیوې مدرسې په سامان بله مدرسه جوړول

سوال: (۹۶۵) قوم یوه ودانۍ ددین دزدکړې لپاره جوړه کړه پکې یې اسلامي مدرسه جاري کړه چې ترڅه مودې چلیده وروسته دمسلمانانوترمینځ دجګړې له امله بنده شوه ودانۍ یې ونړول شوه چې دترمیم اوجوړولوورډه اوس دمسلمانا نویوه ډله ددغې مدرسې ودانۍ نړوي په همدې سامان بل ځای دمدرسې لپاره ودانۍ جوړول غواړې بله ډله دهمدغې ودانۍ پرترمیمولواوپکې دمدرسې په جاري کولوباندي ټینګارکوي نوشرعًا څه حکم دی ؟(۱۵۸۴/ ۱۳۴۳هج)

جواب: دمدرسې همدغه ودانۍ بایدجوړه کړي ،پکې مدرسه جاري کړي ،ځکه چې په درمختاراونوروکې داڅرګندونه راغلې ده چې دیووقف سامان چې ترڅودهغه سمون اواصلاح کېدای شي په بل وقف کې لګول اونقلول صحیح نه دي فقط.

دوقف کوونکې دغرض دپوره کولولپاره بلې مدرسې ته دوقف امدني ورکول

سوال: (۹۶۶) زیداوبکرخپل څه جائداددخپل کلې ویوې مدرسې ته وقف کړچې دمدرسې دتعلیم حالت ترڅوسم وي ترهغودوقف

په آمدني ددې مدرسې مرسته کوي که خدای مه کړه دمدرسې حالت یومخ خراب شویامدرسه یومخ پاته نشوه نودفلانی ځای ومدرسې عربیه ته دوقف آمدني ورکوي کله چې دکلې دمدرسې حالت ډیرخراب دی اوزیدوفات شوی دی بکرژوندی دی آیابکروقف کوونکی اومتولی که پخپل اختیارپخپل کلې کې کومه بله مدرسه خلاصه کړي چې ښه نظم یې وي نودزیددزړه دارمان پوره کولوورته اجازه شته ،که نه ؟(۱۹۵/ ۱۳۴۱هج)

جواب: دوقف کوونکې دغرض پوره کول ضروري دی لکه چې په درمختاراو نورو کې راغلې دي: [مراعاة غرض الواقفین واجبة] (الشامی ۲/ ۵۲۱،کتاب الوقف) نوکله چې ددغې مدرسې حالت سم نه شي پاته اواسلامي زدکړه پکې نه وي نوبیابدلون ددې صحیح دی یعنی ددغې آمدنۍ په بله مدرسه کې صرفول صحیح دی فقط.

دمدرسې په مځکه کې هدیره جوړول

سوال: (۹۶۷) دچندي په روپودمدرسې لپاره مځکه رانیول شوې وه اوس دکلیوالوویوې هدیرې ته اړتیاده که ددغې مځکې قیمت ورکړي یاپه تبادله کې بله مځکه ورکړي پردې هدیره جوړول جائزدی ،که نه ؟(۸۵۵/ ۴۲ - ۱۳۴۷هج) جواب: کومه مځکه چې دمدرسې دمصلحتونولپاره رانیول شوې وه هغه مدرسې ته وقف شوه اوس دهغې بدلول یاخرڅول جائزنه دی دوقف بدلولولپاره څوشرطونه دي چې پکې یوشرط داهم دی چې لومړی وقف ټپ دربدلی وي اوله هغه څخه استفاده نشي کیدای نوپه پوښتل شوې صورت کې وقف شوې مځکه کله چې اوس هم داستفادې وړده نواوس ددې په رانیولویابدلولوورباندي هدیره جوړول جائزنه دی دهدیرې لپاره بله مځکه رانیسي په درمختارکې راغلې دي : [واماالاستبدال ولوللمساکین بدون الشرط فلایملکه الاالقاضی درر وشرط فی البحرخروجه عن الانتفاع بالکلیة الخ(۱) (ونقل الشامی عبارة البحر وفصله فلیراجع درمختارمع الشامی : ۳/ ۳۸۸) وایضًا فی البحر: ومن المشائخ من لم یجوزبیعه تعطل اولم یتعطل وکذالم یجوزالاستبدال بالوقف وهکذافتوی شمس الائمة

(۱) الدرمع الشامی(۳/ ۴۲۵) ، کتاب الوقف ،مطلب فی شروط الاستبدال ط رشیدیه.

السرخسی الخ وذکرمحمدرحمه الله فی السیرالکبیرمسئلة تدل علی عدم جوازالاستبدال بالوقف الخ(۱) (البحرالرائق ۵/ ۲۲۳)

ومدرسې ته ورکړي دخاوروتېل (ګاسليټ) دمسجدپه غولې کې سوځول

سوال: (۹۲۵) که چاومدرسې ته دخاورتېل ورکړل نودغه تېل دمسجد په غولې کې بلول جائزدی، که نه؟(۸۳۰/۱۳۴۲هج)

جواب: که دغه تېل مثلا دمدرسې تراړتیازیات وي نودمسجدپه غولې کې چې له مسجدڅخه وتلی وي ددغوتېلولګول صحیح دي.

ويوې مدرسې ته دقرانکريم دزدکړې لپاره دوقف کړی جائداد
امدني په بله مدرسه کې خرڅول

سوال: (۹۲۹) زماپلاردخپل جائداددرېیمه یوې مدرسې ته دقرآنکريم دزدکړې لپاره دوصیت په وسېله وقف کړه پرکاغذباندي یې ولیکل اوزه یې متولی وټاکلم اوس چې دکومې مدرسې لپاره ده دوقف وصیت کړی ووهلته باطلې عقیدې پیداشوې دي اودانګریزي اونوروزدکړه پکې کیږي په داسې صورت کې که په بله مدرسه کې دغه آمدني ولګوونوجائزدی، که نه؟(۲۳۱۱/ ۱۳۳۷هج

جواب: په دغه مدرسه کې چې دکوم کارلپاره ستاسوپلاردجائداددرېیمه برخه وقف کړې ده دوقف آمدني بایدولګوله شي یعنی دقرآنکريم پریادونه اوزدکړه باندي لګوئ که داکارهلته نشي کیدای نوبیاکوم ځای چې دقرآنکريم زدکړه کیږي هلته یې ولګوئ خوترڅوچې به دغه مدرسه کې دقرآنکريم زدکړه کیږي ترهغوېې دلته بایدولګوئ.

ويوې مدرسې ته وقف کړې کتابونه بلې مدرسې ته ورکول

سوال: (۹۷۰) زیدتروفات مخکې وخپلوانوته وصیت وکړچې زماکتبخانه زماوروسته

(۱) البحرالرائق: ۵/ ۳۴۵، کتاب الوقف فی بحث الاستبدال.

که په کورنۍ کې کوم شخص ددې وړوي چې دااستعمال کړي نودهغه سره دې وي کنې دفلاني ښاروااسلامي مدرسې ته یې ورولیږئ کله چې دوفات شوې دوفات پرمهال کومه اسلامي مدرسه دده په ښارکې نه وه چې داکتب خانه یې هغې ته ورکړې وای اونوموړې وفات شوې هم پخپل ښارکې دمدرسې اوعلماؤ دنه شتون له امله دبل ښارومدرسې ته ورکول مناسب بللی ووذده په کورنۍ کې هم تراوسه کوم حقداردغې کتب خانې نشته امادده په ښارکې اسلامي مدرسه (چې پکې دبنې زدکړې کیږي) قائمه شوې ده اوددې اودینې کتابونوته سخته اړتیاده په دې صورت کې دوفات شوې ووارثانوته داحق شته چې دغه کتب خانه دخپل ښارومدرسې ته ورکړي، که نه؟(۳۲۵/ ۱۳۳۲هج)

جواب: کومه مدرسه چې وقف کوونکې ټاکلې ده وهماغې ته دغه کتابونه ورکړئ کماصرح به الفقهاء [ان شرط الواقف کنص الشارع (۱) وفی الشامی عن القنیة سبل مصحفافی مسجدبعینه للقراءة لیس له بعدذلک ان یدفعه الی آخرمن غیراهل تلک المحلة للقراءة الخ(۲)].

وقف کوونکې خپل وقف کړې کتابونه نه رانیولای شي اونه یې بدلولای شي

سوال: (۹۷۱) زیدڅوکتابونه ویوې اسلامي مدرسې ته وقف کړل نژدې یوکال وشوڅوتراوسه داکتابونه دمدرسې په کوم کارراغلواوس پخپله وقف کوونکې ودغوکتابونوته اړتیالري نوآیادی داکتابونه له مدرسې څخه په بیه رانیولای شي؟ یاپه کوم داسې کتاب چې دمدرسې ورته ضرورت وي تبادله کولای شي؟(۲۸۵/ ۱۳۴۰هج)

جواب: زیدوقف کوونکې اوس دغه کتابونه نشي رانیولای اونه یې تبادله کولای شي لکه چې دفقهې په کتابونوکې راغلې دي: [الوقف لایملک ولایملک] (الدرمع الشامی ۴۲۱/۲، کتاب الوقف) فقط.

که مدرسه بل ځای ته نقل شي نودمدرسې په چنده رانیولې کتابونه دچادي

سوال: (۹۷۲) مدرسه اشرفیه په یوه مسجدکې واقع ده که دغه مدرسه په کومه وجه

(۱) الدرمع الرد(۳/ ۴۵۲)، کتاب الوقف مطلب فی قولهم شرط الواقف کنص الشارع ط رشیدیه.
(۲) الشامی(۳/ ۴۱۱)، کتاب الوقف، مطلب متی ذکرللوقف مصرفاط رشیدیه.

بل ځای ته ولاړه شي نو کوم کتابونه چي يې مدرسې په چنده رانيولې دي هغه به د درس ورکوونکې وي که د مهتمم ؟ (۱۰۳۱/ ۴۴-۱۳۴۵هج)

ځواب: کوم کتابونه چي د مدرسې لپاره رانيول شوې دي يا دې مدرسې ته وقف شوې دي هغه د همدې مدرسې دي چيري چي دا مدرسه قائمه وي هما هلته به کتابونه وي فقط.

دوفات شوې سړی کتابونه وقفول

سوال: (۹۳۷) له زيد سره څه ديني کتابونه وو کومې عربې مدرسې ته ورکول غوښت خو دااراده يې پخپل ژوندکې نه شوه پوره اوس که کومې مدرسې ته داکتابونه وقف کړونو جائزدی ،که نه ؟ (۴۱۵/ ۱۳۴۰هج)

ځواب: داکاردوارثانو په اختيارکې دی که بالغ وارثان وکومې مدرسې ته دغه کتابونه وقف کول وغواړي نو دخپلو برخو په اندازه يې وقفولای شي فقط.

دطالبانودمدرسې کتابونه ضائع کول

سوال: (۹۷۴) دمدرسې مهتمم يادديني وقف متولي وکوم طالب ياکوم بل چاته دشرطونو سره سم دوقف کتابونه (چي دهمدې غرض لپاره وقف شوې دي) په خواست ورکوي په عاريت اخستوونکې طالب يابل څوک که دغه کتابونه په استعمالولو بې کاره کړي ياېې له ځان سره يوسي نودمهتمم اومتولي غاړې به څرنګه خلاصيږي (۹۴۵/ ۱۳۴۲هج)

ځواب: په دې صورت کې کله چي مهتمم اومتولي دکتابونو په خوندي کولوکې کومه کوتاهي نه ده کړې اودوقف کوونکې له شرط سره سم يې وطالبانوته په عاريت ورکوي کوم چي دوئ ته ورکول پکاردي نو په دې حال کې که دغه کتابونه خيري اوبېکاره شي ياېې کوم طالب له ځان سره يوسي نو پر مهتمم اومتولي ددې بدل ، اوضمان نشته ددوئ غاړې خلاصې دي فقط.

دمدرسې حساب اوکتاب صفانه ساتوونکی عزلول

سوال: (۹۷۵) يو نابلده مولوي صاحب دلته استوګنه شروع کړه اويوې ښوونځي ته تګ ،راتګ شروع کړي ،مسلمانانوته دزدکړې په اړه وويل مسلمانانو په اتفاق سره يومکان په کرايه ورونيوی مدرسه پکي جاري شوه داکارپه چنده سره شروع شودمدرسې دوه پوړيزه ودانۍ په چنده جوړه شوه لاندي نهه (۹) دکانونه جوړکړل دمدرسې له جوړېدو څوورځې وروسته مولوي صاحب دقوم بې مشورې په دوه نيم زره مدرسه په ګروورکړه چي دهغه په اړه له مولوي صاحب څخه حساب وغوښتل شوده حساب ونه ښووی لنډه داچي خلګوپه چنده کولومدرسه له ګروڅخه خلاصه کړه په کومه وجه مولوي صاحب دننه استوګنه پرېښووه په ده پسې دده زوئ ددکانونو کرايه راټولوله مولوي صاحب داغواړي چي ټوله آمدني زه واخلم اوحساب به نکوم په داسې حالت کې مسلمانانوته څه کول پکاردي ؟

کومه مدرسه چي مسلمانانو په چنده جوړه کړې ده مولوي هغه غصبول غواړي آيامدرسه دده ملک بلل کيدای شي ؟ اوس مولوي صاحب څه موده وروسته راغی له ده څخه دآمدني اوخرځ حساب وغوښتل شوخودی حساب ورکول نه غواړي په داسي صورت کې دمولوي صاحب په هکله څه حکم دی ؟ (۱۱۲۹/ ۱۳۴۵هج)

ځواب: دغه مدرسه ددې مولوي صاحب ملک نه دی دده لپاره په ګروورکول هم جائزنه وو اوکله چي دی دآمدني اوخرځ حسب هم نه ورکوي اوپه آئنده کې هم حساب اوکتاب صفانه ساتي نودی يو مخ په مدرسه کې ومداخلې ته مه پرېږدی دی عزل (له ځاي ايسته) کړئ بل ديندار استاذوټاکئ دخائن عزلول ضروري دي دمدرسې ځانته يونظم جوړکړئ دنوموړي مولوي صاحب مشوره مه منئ ،ځکه چي دآمدني اوخرځ حساب ساتل ضروري دي فقط.

زېره کوچنی کوونکی دمدرسې مهتمم ټاکل

سوال: (۹۷۶) زيدتل زېره کوچنی کوي مسلمانانودی داسلامي مدرسي مهتمم جوړکړی دی زيدپخپل نصيحت کې بيان وکړچي دکوم چادجنازې په لمانځه کې څلوېښت کسان ګډون وکړي هغه بېله شکه جنتي دی ،ځکه چي دهروڅلوېښتو کسانو په جماعت کې يو سړی دالله ولي ياغوث ضرورروي کوم سړی چي زېره يوانچ اوبربتونه غټ پرېږدي دهغه منتظم جوړول شرعًاجائزدی ،که نه ؟

(۱۳/۷۱۳ - ۴۲/ ۱۳۴۷هج)

ځواب: دامضمون په حدیث شریف کښ راغلی دی چي دچادجنازې په لمانځه کي څلویښت خالص مسلمانان برخه واخلي هغه بخښل کیږي اوالله رب العزت به ده ته جنت ورکړي خوداخبره چي دهروڅلویښتوکسانو په جماعت کښ دالله ﷻ ولي یاغوث ضروروي ضروري نه ده اوثابته نه ده اوپه دې حدیث کښ هم ددې یادونه نشته حدیث شریف داسي دی [فانی سمعت رسول اللهﷺ یقول: [مامن رجل مسلم یموت فیقوم علٰی جنازته اربعون رجلا لایشرکون بالله شیئًا الاشفعهم الله فیه] رواه مسلم (۱) اودغه سړی فاسق دی دی مهتمم مه جوړوئ فقط.

دمهتمم لپاره دمدرسې حقّ ترپښولاندې کول جائزنه دی

سوال: (۹۷۷) زیددخپل مشترک مکان نیمه برخه ومدرسې ته هبه اووقف کړه داجائزدی ،که نه ؟ که دمدرسې غړیو یامهتمم دکوم ډول پشاریالحاظ په وجه ددې مکان نیمه برخه وعمرته (کوم چي دوهم شریک دی) په لږقیمت ورکړه اودمدرسې حق ووهل شونوددوئ غاړې به بندې وي ،که نه ؟

ځواب: دمشترکې برخې وقف له صحیح مذهب سره سم جائزدی نودمدرسې مهتمم اونوروته پکاردي چي دمدرسې برخه راجلا کړي ،ځکه چي کومه نیمه برخه زیدومدرسې ته ورکړې ده هغه وقف شوه اودوقف رانیول ، خرڅول اودمالک په حیث پکښ کوم تصرف کول دهیچاصحیح نه دی کمافی الدرالمختار [الوقف لایملک

(۱) عن کریب مولی ابن عباس عن عبدالله بن عباس رضی الله عنهما انه مات ابن له بقدیداوبعسفان فقال : یاکریب انظرمااجتمع له من الناس قال: فخرجت فاذاناس قداجتمعوا له فاخبرته فقال: تقول هم اربعون قال: نعم قال اخرجوه فانی سمعت رسول الله صلیٰ الله علیه وسلم یقول "مامن رجل مسلم یموت فیقوم علی جنازته اربعون رجلالا یشرکون بالله شیئا الاشفعهم الله فیه (الصحیح لمسلم ۱/ ۳۰۸، کتاب الجنائز، فصل فی قبول شفاعة الاربعین الموحدین فی من صلواعلیه وهکذافی مشکاة المصابیح ص: ۱۴۵، کتاب الجنائز، باب المشی بالجنازة والصلوة علیها].

ولایملک] (۳/۴۰۲، کتاب الوقف) اودمدرسې دغړیولپاره داجائزنه دی چي دامکان خرڅ کړي اوکه ددې اړتیاپه وجه یې خرڅ کړي چي له وېش وروسته به له دې څخه هیڅ آمدني مدرسې ته نه راځي دابه بېکاره پروت وي یابه بل شریک ورباندي قبضه وکړي نوبیایې خرڅول صحیح دي خوپه لږقیمت یې مه خرڅوئ اودمدرسې حق دچاپه لحاظ ترپښومه لاندي کوئ کني غاړې به موبندې وي فقط.

مهتمم که دمدرسې کوټه چاته ورکړي

سوال: (۹۷۸) که دمدرسې مهتمم دطالبانوکوټه دفارغ والي (وزګاروالي) په وجه وزیدته ورکړه نوزیدبه ددې جبران څه ډول کوي ؟ دواجب کرایې په اداکولو به جبران وشي اوکه نه ؟ اودمدرسې مهتمم یازیدپخپله چي دمدرسې په کوم کارکښ داکرایه ولګوي نومناسب به وي ؟ (۲۷۰۲/ ۱۳۳۷هج)

ځواب: اوس ددې جبران داسي دی چي په زیدباندي داکوټه خالي کړي اوکومه کوتاهي چي وشوه پرهغه توبه وباسي اوکه زیدکرایې په اندازه ومدرسې ته ورکړي نودابه ښه دی اواحتیاط دی دهغه اندازه صرف پرطالبانوولګوي فقط.

یوې ښځې خپل مکان ومسجدته ورکول غوښت خومدرسې ته یې ورکړنوددې حقدارخوک دی

سوال: (۹۷۹) وبي بي مریم ته یومکان له پلاره په میراث کښ ورپاته شومریمې وڅوکسانوته وویل چي زه خپل مکان ومسجدته ورکوم تاسومسجدوال یوکاغذولیکئ دوئ ورته وویل چي موږبه یې دمسجدلپاره واخلودوئ څلور ورځې وروسته دمریمې خاونددمدرسې ومهتمم ته وویل چي زمامېرمن خپل مکان ومدرسې ته ورکوي تاسویې ولیکئ دمدرسې مهتمم وږته وویل چي کله نوموړې راشي نوموږبه یې ولیکو اخیردمدرسې غړیوکوشش وکړپه بي بي مریم باندي یې ددې مکان دمدرسې لپاره ولیکی اوددې ګوته سره دګواهانو دلاس لیکونوپراسنادوواخست اوس دمسجدوالو اودمدرسې دغړیوترمینځ داجګړه پیداشوه چي دمسجدحق دی

که دمدرسې ؟ په داسې صورت کې دمسجد دانتظام کونکیولپاره دمدرسې حق ساقطول اومکان دمسجدلپاره بېرته اخستل جائزدی .که نه ؟(۶۸/ ۱۳۴۰هج).

ځواب: دغه مکان مدرسې ته وقف شوددې آمدني بايدپه مدرسه ولګول شي دمسجددمتوليانولپاره دمدرسې حق له دې څخه ساقطول جائزنه دی(۱)

وقف شوې مسجدونه اومدرسې دچاملک نه دي

سوال: (۹۸۰) پروقف شوې مسجدونواومدرسودچاملک راوستلای شي ،که نه ؟ يعنی څوک ددوئ مالک جوړېدای شي ،که نه ؟ که څوک په جبراوزورد عوی دتمليک وکړي نوڅه حکم دی ؟(۱۹۰۷/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

ځواب: قال فی الدرالمختار: [وجعل الواقف الولاية لنفسه جازبالاجماع وكذا لولم يشترط لاحدفالولاية له عندالثانی وهوظاهرالمذهب نهرالخ (۲) وفيه ايضا : ومادام احديصلح للتولية من اقارب الواقف لايجعل المتولی من الاجانب الخ (۳) وفيه البانی للمسجداولی من القوم بنصب الامام والمؤذن فی المختارالااذاعين القوم اصلح ممن عينه البانی الخ قوله البانی وكذااولاده وعشيرته اولی من غيرهم (۴) (شامی: ۳/ ۴۱۴) وفی الدرالمختارفاذاتم ولزم لايملک ولايملک (الدرمع الرد ۳/ ۴۰۲،کتاب الوقف)] له دغوعبارتونوڅخه داخبره ښکاره شوه چې وقف دچاملک نه پاتېږي نووقف شوې مسجدونه اومدرسې دچاملک نه دی.

دمدرسې مکان په خالي کول ضروري دی

سوال: (۹۸۱) په يووقف شوې مکان که کوم شخص استوګنه پيل کړي اوپه هغه کې داسلامي مدرسې قائمولواراده وي نوددې سړي له مکان څخه ايستل ضروري دي ،که نه ؟(۱۹۹۷/ ۱۳۴۰هج)

ځواب: دغه مکان په ده خالي کول ضروري دي کله چې دادمدرسې لپاره وقف دی نوبايدپه دې کې

(۱) اودمريمې چې کوم مسجدته دورکولواراده وه هغه لاتراوسه پوره شوې نه وه ،څکه هغه ته اعتبارنشته–سعيداحمدپالنپوري.
(۲) الدرالمختار(۳/ ۴۲۱) ، کتاب الوقف ،مطلب فی اشتراط الواقف الولاية لنفسه ط رشيديه.
(۳) الدرمع الرد(۴/ ۴۵۰) ، کتاب الوقف ،مطلب لايجعل الناظرمن غيراهل الوقف ط رشيديه.
(۴) الدروالشامی (۴/ ۴۵۴) ، کتاب الوقف ،قبل مطلب فی الوقف المنقطع الاول ط رشيديه.

مدرسه قائمه شي فقط.

دوقف کوونکې وارثا ن ومدرسې ته ورکړي جائدادبېرته نشي اخستلای

سوال: (۹۸۲) که کوم سړی خپله څه مځکه يامکان په پنځه ياشپږزره قيمت مقررولوپه دې شرط وکومې اسلامي مدرسې ته بې بيع ورکړي چې دکال په آمدني کې به نيمه برخه پخپله اخلي اونيمه مدرسې ته ورکړي خوڅه موده وروسته دده اصلي وارثان يادهغوئ بچيان که مقررشوی قيمت مدرسې ته ورکړي ،مځکه يامکان بېرته ورواخلي نودابه جائزوي ،که نه ؟(۱۳۲۰/ ۱۳۴۳هج).

جواب: په دې صورت کې چې کومه مځکه يامکان دغه سړی وکومې مدرسې ته په دې شرط ورکړچې نيمه آمدني به په همدغه مدرسه کې خرڅيږي اوبله نيمه برخه پرنورومعلومومذرسوخرڅه شي نودامځکه اومکان وقف شوله دې وروسته دوقف کوونکې وارثان اوبچيان دابېرته نشي اخستلای اوداوقف نشي باطلولای نوداصورت جائزنه دی چې دوقف کوونکې اولاددغې مځکې اومکان قيمت ورکړي دغه مځکه اومکان بېرته ورواخلي (۱)

په مسجدکې قائمه مدرسه څوک نشي پورته کولای

سوال: (۹۸۳) په يوه مسجدکې يوه مدرسه ده چې پکې ديني زدکړې دقرآن مجيد، تفسير،فقهې اوحديثوکيږي ،ځيني متوليانوداوغوښتل چې دغه زدکړه په مسجدکې ختمه کړي له ډېروخبرووروسته دافيصله وشوه چې دادوا ړوه لوله لورې وليکل شي چې دمسجدمتوليان داوليکي چې موږ په دريوشر طو نومدرسه نه ختموويوداچې اووه اواته کلنې هلکان به نه داخلوي دوهم داچې په مدرسه کې به هندي ، انګريزې دنامذهبوتعليم نه وي دريېم داچې مدرسه به دمسجدپرکوم شی قبضه نکوي دمدرسې مهتمم داومنل اوليکلې بې ورکړل بکروايې چې دداړول ليک وچاته حق نشته ؟(۲۲۷۸/ ۱۳۳۸هج)

(۱) فاذاتم ولزم لايملک ولايملک ولايعارولايرهن (قبوله لايملک) ای لايكون مملوكًالصاحبه ولايملک ای لايقبل التمليک لغيره بالبيع ونحوه (الشامی ۳/ ۴۰۲قبل مطلب فی شرط واقف الكتب ان لاتعارالابرهن ط رشيديه).

جواب: کومه مدرسه چي په مسجدکې قائمه ده ددې دختمولوحق وچاته نشته اماکوم کارونه چي په مسجدکې جائزنه دی هغوئ که ولیکل شي اودمدرسې په مهتمم دهغوئ اقراروشي نوداځه پروانلري اوکوم کارونه چي جائزدي له هغوئ ځخه دمنع کولوڅوک حق نلري فقط.

دمدرسې لپاره له حکومت ځخه مرسته اخستل

سوال: (۹۸۴) دیوځای په جامع مسجدکې نژدي له شپلوکلونوراهیسي مدرسه حفظ القرآن ده له څومیاشتوځخه مهتمم له حکومت ځخه پنځه روپۍ مرسته داردودزدکړې ورکولولپاره اخستی دی اودجماعت ترتیب ترڅلورمې درجې رسېدلې دی په مرسته اخستوکې زیاتره خلګ مخالف دی ،ځکه نوامداداخستل جائزدی ،که نه ؟(۱۳۹۹/ ۱۳۴۳هج)

جواب: که دې ته ضرورت وونوهیڅ پروانلري خوغوره دادی چي له حکومت ځخه مرسته وانه اخسته شي ترڅودقرآن وحفظ اودینې زدکړې ته څه تاوان نه شي ورپیښ فقط.

سوال: (۹۸۵) یوه اسلامي عربي مدرسه ده هغې ته له بېلابېلوځایونوځخه مرستې راځي ،ځکه نوځه دحکومت مرسته هم شته اونورې مرستې دحکومتي مرستوسره تړلې دی په دې وجه حکومتي مرسته اخستل څرنګه دی ؟(۲۰۵۸/ ۱۳۴۰هج)

جواب: دیادې شوې اړتیاپه وجه په موجوده حالت کې مرسته اخستل شرعًا جائزده فقط.

په مدرسوکې وهجرې تاریخ ته ترویج ورکول

سوال:(۹۸۲)په مدرسوکې دانګریزي تاریخ له حسابه کارونه کول جائزدي که نه ؟(۱۵۲۲/ ۱۳۳۸هج)

جواب: ښه همدادي چي مسلمانان ترځپل وسه هجري اودسپوږمۍ حساب په مدرسه کې جاري کړي.

دمدرسې جوړولولپاره دچاځخه مځکه رانیول

سوال: (۹۸۷) یومکان له ډېرې مودې راهیسي دبدچلنده ښځوپه قبضه کې دی دامعلوم نه دی چي دمکان دغه مځکه څرنګه دوئ ته په لاس ورغلې ده آبادرانیولو په توګه که دحکومت له لورې په انعام کې.

په اوس وخت کې ددې مکان مالکانې دوې ښځې دي چي په دوئ کې دیوې پنځه کاله کیږي چي نکاح یې کړې ده تراوسه په نکاح کې ده هغه بله خپله دنده کوي اوس دغه دواړې ښځې خپله خپله برخه خرڅوي کله چي دامځکه دسړک پرغاړه ده اومسجدته نژدې ده اودمسلمانانوپه محله کې ده ،ځکه دښارمسلما نان داغواړې چي دامځکه رانیسي پکي اسلامي مدرسه جوړه کړي دامځکه دمدرسې لپاره ډېره وړاومناسبه ده ،ځکه

نوعرض دادی چي ددواړوښځوځخه ددغې مځکې رانیول اوپردې ځای مدرسه جوړول جائزدي ،که نه ؟(۵۸۷/ ۴۴-۱۳۴۵هج)

جواب: جائزدی فقط.

دهدیرې حکمونه

دهدیرې وقف کېدل ضروري نه دي.

سوال: (۹۸۸) هدیره یومخ وقف وي که یې څوک مالک هم کیدای شي ؟ (۳۷۹/ ۱۳۴۱هج)

جواب: دهدیرې یومخ وقف کېدل ضروري نه دي که دوقف کیدوثبوت وي نوهغه هدیره به وقف وي کنې دوارثانوملک به وي.

دعٌیدگاه اوهدیرې لپاره دمشاع وقف په اتفاق سره ناجائزدی

سوال: (۹۸۹) درزمینی که مردمان دران مشترک اندکثیرانهاجای خودراوقف کردندواندکی ازان برعکس آن قدم می نهندآیادران بقعه عیدگاه کردن ومقبره ساختن رواهست یانه ؟ (۲۷۶۸/ ۱۳۴۳هج)

څواب: وقف مشاع مختلف فیه است مگردرحق مسجدومقبره وغیره بالاتفاق عدم جوازثابت است پس وقف مذکوربالاتفاق ناجائزاست کمافی الشامی [والخلاف فیمایقبل القسمة امامالایقبلهاکالحمام والبئروالرحی فیجوزاتفاقا الافی المسجدوالمقبرة لان بقاء الشرکة یمنع الخلوص لله تعالی (۱) (شامی چاپ هندمخ : ۳۷۴) عیدگاه هم درحکم مسجداست لهذاعیدگاه ساختن هم جائزنیست (۲)

ترجمه سوال: (۹۸۹) یوه مځکه ده پکي څوکشان شریکان دي په هغوئ کې زیاتروخپله برخه وقف کړه څه کسانو ددوئ په خلاف ګام واخستی دپوښتنې وړخبره داده

(۱) ردالمحتار (۳/ ۳۹۹) ، کتاب الوقف ،مطلب شروط الوقف علی قولهماط رشیدیه.

(۲) ویزول ملکه عن المسجدوالمصلی قوله والمصلی قال بعضهم یکون مسجداً حتی اذامات لایورث عنه (الدرمع الرد(۳/ ۴۰۴) ، کتاب الوقف ،قبل مطلب فی احکام المسجد ط رشیدیه).

چې په داسي مځکه کې عیدګاه یاهدیره جوړول جائزدی ،که نه ؟

څواب: دمشاع په وقف کې اختلا ف دی خودمسجداوهدیرې لپاره دوقف دمشاع په اړه په اتفاق سره ناجائزوالی ثابت دی ،ځکه دغه وقف په اتفاق سره ناجائزدی کمافی الشامی [والخلا ف فیمایقبل القسمة الخ] عیدګاه خوهم دمسجدپه حکم ده ،ځکه عیدګاه جوړول هم نه جائزکیږي.

دمړې دښخولولپاره دهدیرې وقف کېدل ضروري نه دی

سوال: (۹۹۰) یوه ټوټه مځکه ښاروالۍ په دې نیت رانیولې ده چې په دې کې به عام مسلمانان خپل مړې ښخوي خوهغه یې په وقف کولوومسلمانانوته ونه سپارله آیاپه شریعت کې چې ترڅوښاروالۍ دادقف کولوسره مسلمانانوته ونه سپاري په دې کې مړې ښخول جائزدی اوکه نه ؟ بینواوتوجروا (۱۲۹۹/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

څواب: کله چې په دې کې دمړې ښخولواجازه وشي نوښخول صحیح دی وقف کول ضروري نه دی اوپه وقف کولوسره مسلمانانوته سپارل داهم شرط نه دی مړې ښخول درانیووونکې له اجازې وروسته پکې جائزدی فقط.

ددربارخدمت کونکیولپاره شاهي وقف

سوال: (۹۹۱) اورنګ زیب باچادوومیرمنو (رابعه اوزینب) چې دسیدخواجه شمس الدین ترک شاه ددربارخدمت کوونکې دي په نوم ددعاپه نیت څه مځکه دمعاش دمرستې په الفاظوورکړه چې دهغې آمدني پیړۍ پرپیړۍ ددواړونومو وپه کورنۍ اوناکورنۍ کې دمحمدي شرعي سره سمه دمیراث په توګه ویشل کیده بلکه څینوکسانوخپلې برخې خرڅې هم کړي په سنه (۱۸۸۰ ء) کې حکومت په دې خیال چې دخرڅلاواوګروپه حالت کې چیري دامځکه ضایع نشي دغه مځکه ددرباړپه نوم وقف وګڼه اوددې دخرڅلاووا وپه ګروورکولویې منع وکړه خوعملاددې آمدني دپخواپه څیرددرباړپرټولوخادمانواومتولیانوپه شرعي توګه وېشل کیږي او دمال په اسنادوکې دهرې برخې لروونکې دوفات پرمهال دهغه دشرعي وارثانونومونه لیکل کیږي په داسي حال کې پوښتنه داده چې دمعاش دمرستې لپاره دغه مځکه چې اورنګ زیب باچاورکړې ده چې حکومت یې خرڅلاوواوګروبندکړه آیاشرعًا دغه مځکه دوقف په تعریف کې راغلې ده ؟ دارازدمعاش په مرسته اووقف کې دمیراث دجارې کېدوپه هکله شرعًاڅه حکم دی ؟ بینواتوجروا (۱۱۷۳/ ۱۳۳۵هج)

ځواب: که نوموړی باچادغه ځمکه وقف کړي اودیادشویوخادمانولپاره ددې آمدني مقرره کړې وه نوښکاره ده چي داوقف ده خرڅلاواوپه ګرووړکول ددې ناجائزدی اوکه نوموړي باچادغه جائدادویادشویوخادمانوته په ملک کې ورکړې وه چي پیړۍ په پیړۍ پسي داجائداددوئ دی نوپه دې صورت کې دامځکه وقف نه ګرځي اومیراث په دې کې جاري کیږي اودټولې ترکې په څیرپه دې کې له شرعي سره سم عمل کیږي پوره معلومات ددغه ورکړې داسنادوپه کتوسره کېدای شي چي ورکوونکی څرنګه الفاظ په هغه کې لیکل دي اوڅه ډول یې دامځکه ودغوخادمانوته ورکړې ده ،ځکه چي وقف لکه څرنګه چي په څرګندوالفاظوکېدای شي دځای په دلالت اودحال په قرینوسره هم کېدای شي. یادونه: په جاګیر(۱) کې دمشائخواختلا ف دی څوک وایې چي تملیک درقبې دی اوڅوک وایې چي تملیک دخراج دی فقط محمدانورعفی الله عنه.

دمسلمانانودقبرونواحترام ضروري دی

سوال: (۹۹۲) (الف) دحیدرآبادمشهوره پخوانۍ هدیره کومه چي دڅلوردېو الې نه درلودواودعاموخلکودتېرېدوپه وجه په داسي خراب اوکمزوري حال کې ده چي دمات شویوقبرونو ترمیم کیږي اونه دماتېدوله اسبابوڅخه دخوندي کولولپاره کومه طریقه خپلیږي په خلا ف ددې دګورکنبانوطمع تردې ځایه رسېدلې ده چي دمځکې دناجائزمعاوضه واخلي په یوه ،یوه قبرکې څوڅو مړې ښخوي حال داچي داسي کا ردقبرونوداحترام یومخ خلا ف دی اوداسي مځکې عوض چي وقف وي یومخ ناروامعلومیږي اودقبرونوسپکاوی تردې پورې کیږي چي په هدیره کې دسیندهی (دخورماوبه) اوشرابوپه ډاګه جلسې کیږي ؟اوداسي پلیتوشربتونوسېلاب اونورناوړه کارونه وي دهمدې حالاتوپه نظرکې ساتلوکه ددغې هدیرې دارنګه اصلاح وشي چي دېوال وربا ندي داوګرځووسم قبرونوپرخپل حال پرېږدودماتوقبرونوترمیم (په دې لحاظ چي پاخه قبرونه خوشرعًاجائزنه دی) دارازوشي چي ورباندي شنه وابښه واچول شي اوشاوخوامځکه هم سره برابره کړووابښه ورباندي هوارکړودګلونواونورو خوشبویې لرونکوونې ولګوونوآیادابه شرعًاجائزاوغوره نه وي ؟

(ب) (الف) دمسلمانانودقبرونواحترام ضروري دی اوکوم کارونه چي احترام اودرناوی ته خنډوي دهغوئ په حدیثوکې منع راغلې ده نوکوم کارچي دقبرونو دخوندي کولوسبب اودمړیوداحترام باعث وي شرعًا هغه امرشوی متسحب اودثواب باعث دی.

قال علیه الصلو ة والسلام: کسرعظم المیت ککسره حیا(۱) وفی المرقاة قوله ککسره حیایعنی فی الاثم کمافی روایة قال الطیبی اشارة الی انه لایهان میتًا کمالایهان حیًا قال ابن الملک والیٰ ان المیت یتألم قال ابن حجرومن لازمه انه یستلذبمایستلذبه الحی انتهی وقداخرج ابن ابی شیبة عن ابن مسعودرضی الله عنه قال: اذی المؤمن فی موته کاذاه فی حیاته رواه مالک وابوداؤد(۲) وعن جابررضی الله عنه قال نهی رسول الله ﷺ ان تجصص القبوروان یکتب علیها وان یبنی علیهاوان توطأ رواه الترمذی(۳).

نوکوم صورت چي په پوښتنه کې دهدېرې دسمون ،دمړیوددرناوي اودقبرونو دصفاکولوپه اړه لیکلې دي هغه جائزاومستحب دی (خودقبرونوښکلااوبنا ئسته کول منع دي لکه چي په راتلوونکې فتوی کې راځي)

(۱) جاګیر: هغه مځکه چي دباچایاحکومت له لورې په انعام کې ورکوله شي ۱۲ سعیداحمدپالنپوري.

(۱) رواه مالک وابوداؤدوابن ماجه عن عائشة رضی الله عنها(مشکوة ص: ۱۴۹؛ باب دفن المیت)
(۲) مرقاة شرح المشکوة: ۴/ ۷۹،باب فی دفن المیت مطبوعة ملتان پاکستان.
(۳) الجامع للترمذی ۱/ ۲۰۳،باب ماجاء فی کراهیة تجصیص القبوروالکتابة علیها.

(ب) دمملوکه هدیرې په مځکه کې له رانیولووروسته په آئنده کې مړې نه ښخول اومنع کول صحیح دي لکه دفقهې له روایتونوڅخه چي څرګند دي په درمختارکې راغلي دي [ویخیرالمالک بین اخراجه ومساواته بالارض کماجازرزعه والبناء علیه اذابلی وصارترابا(۱) اوداښکاره ده چي دمځکې دمالک لپاره پخپله مځکه کې دبیع ،هبې اونوروپه څیرتصرفات کول صحیح دي فقط.

دهدیرې خواداب اودمړیواوریدل

سوال: (۹۹۳) په هدیره کې حیوانان دڅرېدولپاره پرېښودل جائزدي ،که نه ؟ دخوشایو،بولواونوروپه مرداري دمړیوورحونوته تکلیف رسیږي ،که نه ؟ دهدیرې خوندي کول ضروري دي ،که نه ؟له قبرستان څخه مرداري لیري کوونکې ته ثواب ورکول کیږي ،که نه ؟ ، مړی اوري ،که نه ؟(۳۲/۹۸۷ ـ ۱۳۳۳هج)

ځواب: دفقهې په کتابونوکې دارانقل شوې دي چي حیوانان په هدیره کې مه پرېږدئ دعالمګیري په کتاب الوقف : مخ ۳۶۲کې راغلي دي : [فلوکان فیها حشیش یحش ویرسل الی الدواب ولاترسل الدواب فیهاکذافی البحرالرائق (۲) اوپه حدیث شریف کې راغلي دي : [نهی رسول الله ﷺ ان تجصص القبور وان یکتب علیهاوان یبنی علیهاوان توطأرواه الترمذی (۳) یعنی رسول الله ﷺ منع کړې ده دقبرونوله پخولواوپرهغوئ له څه لیکلو ،پرهغوئ له ودانی جوړولواوپرهغوئ له ختوڅخه نولکه څرنګه چي دېرزیارت درناوی ،ښائسته کول اوتکلیف پرقبرونومنع دی دارازددوئ سپکاوی هم منع دی ،ځکه نوضروري دی چي پخپل اختیارهلته حیوانان مه پرېږدئ اوهغه لاره مه جوړوئ (چي وربانديي تګ ،راتګ کوئ) بلکه دهدیرې خوندی کول غوره اومستحب کاردی اوپه حدیث شریف کې راغلي دي [کسرعظم المیت ککسره

(۱) الدرمع الرد(۱/ ۶۶۲) ، کتاب الصلوة مطلب فی دفن المیت ط رشیدیه.
(۲) الفتاوی العالمگیریه ۲/ ۴۷۱، کتاب الوقف ، الباب الثانی عشرفی الرباطات والمقابروالخانات والحیاض والطرق والسقایات الخ.
(۳) الجامع للترمذی۱/ ۲۰۳، باب ماجاءفی کراهیة تجصیص القبوروالکتابة علیها.

حیا(۱) قال الطیبی اشارة الی انه لایهان میتاکمالایهان حیاوقال ابن الملک والی ان المیت یتألم الخ وقداخرج ابن ابی شیبة عن ابن مسعودرضی الله عنه اذی المؤمن فی موته کأذاه فی حیاته(۲) (مرقاة)

له دې څخه څرګندیدای شي چي مړی ته له نجاست اومرداری څخه تکلیف رسیږي که څه هم قبرپخپله هم ځیني وختونه محل دمرداری دمړې دصدید (دمړې دژوودمرداری ځای) اونوروي ،ځکه فقهاؤپه هدیره کې دلمانځه مکروه کیدویوه وجه هم دالیکلې ده چي قبرونه دمرداری ځایونه دي خوله دې تولوسره ،سره موږته دصفاساتوحکم دی ،ځکه نوپخپل اختیارهلته نجاست اومرداري اچول مکروه دی اوکله چي هلته مرداري اچول مکروه شوه نوخامخا به مرداري لیري کوونکې ته ثواب وي چي اماطة الأذی عن طریق المسلمین چي کله داجراوثواب باعث دی نودمړیولپاره داحکم جاري کیدای شي خوداڅرګند ونه دې وي چي کوم کارترحدزیات تیری وکړي هغه منع ګرځي لکه چي دقبرونو دتعظیم اودرناوي کولوچي رواج شوې دي تردې چي وربانديي څادرونه اوپوښونه اچول کیږي اوداسي کارونه زیاتره وشرک ته رسوونکې دي اسباب اودواعي دشرک دي کماهومشاهد.

اودمړې اوریدل ثابت نه دي بکله پرنه اوریدوقطعي نص راغلی دی قال الله تعالی [ومانت بمسمع من فی القبور] (سورة فاطر، آیت : ۲۲) وقال الله تعالی انک لاتسمع الموتی] (سورة نحل : آیت : ۸۰اوسورة روم آیت : ۵۲) وقداجاب فی الفتح وغیره عن الحدیث الواردفیه ای حدیث اهل قلیب بدرواولواای الفقهاء حدیث سماع قرع النعال بانه مخصوص باول الوضع فی القبر(۳) فقط.

(۱) رواه مالک وابوداؤدوابن ماجة عن عائشه رضی الله عنها(مشکوة ص: ۱۴۹، باب دفن المیت) (۲) مرقاة ۴/ ۷۹، باب فی دفن المیت مطبوعة ملتان باکستان.
(۳) فتح القدیر۲/ ۶۸ـ ۶۹، کتاب الصلوة باب الجنائز، قبیل فصل فی الغسل وایضافیه ۴/ ۴۶۱، ۴۶۲، کتاب الایمان باب الیمین فی الضرب والقتل وغیره المطبوعة المکتبة النوریة الرضویة بسخر،باکستان.
دمړې داوریدوپه مسئله کې دصحابه رضی الله عنهم له زماني څخه اختلا ف دی حضرت عبدالله بن عمررضی الله عنهمادمړیوداوریدوقائل وواوبي بي عائشه رضی الله عنهابې دنه اوریدوقائله وه کوم ښاغلي چي داوریدومنوونکې وو

دوقف دپانې درسمي کولوخرڅ پرچادی ؟

سوال : (۹۹۴) زینب یوجائدادوقف کړوعمرواوبکرته یې وویل چي دوقف پاڼه په حکومت کې رسمي کړئ ،څکه هغه رسمي کړله شوه کوم خرڅ چي ورباندي راغلی هغه عمرواوبکرله ځانه ورکړخووقف کوونکې دانه وورته ویلې چي کومه خرچه راغله هغه زه درکوم یابه دوقف له آمدني څخه راواخلوآمدني لاتراوسه شروع شوې نه وه چي وقف کوونکې زینب وفات شوه نودرسمي کولوخرڅ پروقف کوونکې دی که به ذوقف له آمدني څخه رااخستل کیږي ؟(۱۳۳۳-۳۲/۱۵۸۰هج)

څواب : په دې صورت کې دوقف رسمي کولوخرڅ پروقف کوونکې دی چي دې عمرواوبکرته امرکړی دی اوهغوئ ددې دامرسره سم خرڅ کړی دی دوقف له آمدني څخه به داخرڅ نه اخلي ،څکه چي دوقف کوونکې کومه څرګندونه ددې په اړه نشته اودوقف په آمدني کې بې دوقف کوونکې له شرط کولوداسي تصرف نشي کولای.

په وقف شوې هدیره کې مړې له ښخولوڅخه منع کول جائزنه دي

سوال : (۹۹۵) یوه هدیره وقف ده چي له پیړیوڅخه دعامومسلمانانومړې پکې ښخیدل اوس مشررئیس چي مسلمان دی داغواړې چي په دغه هدیره کې له مړې ښخولوڅخه منع وکړي له دې وروسته قبرونه وکیندي دهدیرې مځکه په کوم بل کارکې ولګوي .اوس پوښتنه داده چي په هدیره کې له مړې ښخولوڅخه منع کول اودمالک په حیث پکي تصرف کول.

دهغوئ دلیل دسورة آل عمران ۱۲۹، او۱۷۰آیت ووچي شهیدان ژوندي دي اوژوندي اوري اودبخاري په حدیث کې راغلي دي چي کله خلګ مړې ښخ کړي څیني راوران شي نومړې دبیرته تلوونکودڅپلیوآوازاوري (بخاري : ۱/ ۱۷۸، کتاب الجنائز) اودبدرپه جنګ کې نبی ☐ دکفارودمړیوپه یوزاړه څاه کې اچولوحکم کړی ووبیایې هغوئ ته خطاب اوخبرې کړې دي (بخاري : ۱/ ۱۳۸، کتاب الجنائز) اوهدیرې ته په ورتلوومړیوته دسلام کولوحکم دی (ترمذی : ۱/ ۲۰۳ابواب الجنائز) دامړیوپراوریدو(سماع موتی) دلالت کوي اوکوم څوک چي دمړیوله اوریدوڅخه انکارکول دهغوئ دلیل [انک لاتسمع الموتی دی مولانامحمد قاسم نانوتوی قدس سره دادواړه دادول جمع کړې دي چي اسماع (اوریدل) ممکن نه دی اوسماع(اوریدل) ممکن دی۱۲ سعیداحمد پالنپوري.

صحیح دی .که نه ؟اوددې منع کول ضروري دي .که نه ؟(بینواتوجروا(۱۳۳۵/۳۰۲هج)

څواب : په وقف شوې هدیره کې له مړې ښخولوڅخه دمنع کولوحق وهیچاته نشته چي په دې سره دوقف کوونکې غرض فوتیږي اودوقف کوونکېودغرض مراعات ساتل لازمي دی اودمالک په حیث په وقف کې تصرف کول هم صحیح نه دی [لان الوقف لایملک ولایملک] (الدرمع الرد۳/ ۴۰۲، کتاب الوقف) نورمنع کول اوخنډجوړیدل دادتوان اووس سره اړه لري [لایکلف الله نفسًا الاوسعها] (سورة البقره آیت: ۲۸۲)

سوال : (۹۹۶) په یوه هدیره کې له ۱۸کلونوراهیسي دمسلمانانومړې ښخیږي اوس له یوه کال راهیسي یوه ډله له مړیوښخولوڅخه منع کوي دغه هدیره دچا ملک نه دی بلکه دمسلمانانودمړیودښخولولپاره وقف ده په داسي صورت کې منع کول صحیح دی .که نه ؟(۱۳۴۱/۱۰۸۲هج)

جواب : په عامه وقف شوې هدیره کې دکوم مسلمان مړې له ښخولوڅخه منع کول دهیچالپاره جائزنه دی لماعرف من کتب الفقه [ان شرط الواقفین کنص الشارع] کذافی الشامی(۱) فقط.

سوال : (۹۹۷) دیوې مځکې په یوه ټوټه کې اووه کسان برخه لروونکې دي داله پخواڅخه مشهوره هدیره ده کله چي دکلیوالوهدیره نه وه اوس دوئ هدیره لري دبرخې لروونکیودارأیه ده چي دامځکه وکري دکوموخلګوچي مړې ښخیدل هغوئ په دوکه سره چي په دغه مځکه کې څومره ونې ولاړې وي هغه یې په سل روپۍ خرڅې کړي آیابرخه لروونکې که مځکه پخپله ولکه کې واخلي کښت ورباندي کړلای شي ،که نه ؟ اوهلته مړې ښخولوته پرېږدي ،که نه ؟(۱۳۴۲/۱۰۶۶هج)

څواب : په دغه هدیره کې مړې له ښخولوڅخه نه دی منع کول پکاراوپه ښکاره دامځکه دهدیرې لپاره وقف معلومیږي ،څکه دمالک په حیث په دې کې دچالپاره تصرف کول نه دي پکاراوکومې ونې چي خرڅې کړل شوې دهغوئ قیمت دهمدغې هدیرې پرسمون ،شاوخوادېوال اوداسي نوروبایدولګول شي فقط.

(۱) شرط الواقف کنص الشارع: ای فی المفهوم والدلالة ووجوب العمل به (الدرمع الشامی (۳/ ۴۵۲) کتاب الوقف ،مطلب فی قولهم شرط الواقف کنص الشارع ط رشیدیه.

له مړیوښخولوڅخه دمتولي منع کول

سوال: (۹۹۸) یوپخوانی وقف هدیره ده چي متولیان یې یوپه بل پسي له یوې کورنۍ څخه راروان دي په دغه هدیره کې عام مړې نه ښخیږي دڅوقومونولپاره خاص شوې ده دکوموقومونومړې چي دلته ښخیږي له هغوئ څخه دعمردقوم مړی هم نژدې له دووسووکلونوراهیسي په دې کې ښخیږي دغه هدیره وقف ده زیدددې متولی دی زیداوعمردواړه شافعیان دي حالانکه زیددښمن په وجه دعمردقوم مړې وښخېدوته نه پرېږدي اودمتولي په حیث دمنع کولوځانته اختیاربیانوي له دې څخه مخکې دعمرودقوم مړې له ښخولوڅخه دموجودمتو لي پلرونواونیکه ګانوچي ددغې هدیرې متولیان تېرشوې دي هغوئ هیڅکله نه دي منع کړې نه یې دکوم داسي انکارکولوحق بیان کړی دی آیادمتولي زیدپه دغه مسئله کې دعمرودقوم مړې په دغه هدیره کې له ښخولوڅخه منع کول شرعًاجائزدی ،که نه ؟ اودداسي خنډجوړېدوحق شرعًاده ته شته وکه نه ؟ بینواتوجروا (۱۷۸۸/ ۱۳۳۵هج)

جواب: وزیدمتولي ته دعمرودقوم مړې ښخولوته په دغه هدیره کې دنه پرېښودواختیارنشته کله چي له مخکې دعمرومړې په دې کې ښخېدل په درمختارکې راغلې دي [یسلک بمنقطع الثبوت المجهولة شرائطه ومصارفه ماکان علیه فی دواوین القضاة وفی الشامی عن الذخیرة یسئل شیخ الاسلام عن وقف مشهوراشتبهت مصارفه وقدرمایصرف الی مستحقیه قال: ینظرالی المعهودمن حاله فیماسبق من الزمان من ان قوامه کیف یعملون فیه والی من یصرفونه فیبنی علی ذلک (۱) له دې څخه معلوم شوچي مخکې متولي چي څرنګه کول داوسني متولي لپاره دهغه په خلاف کول صحیح نه دي وفی الدرالمختارالوقف علی ثلاثة اوجه اماللفقراء اوللاغنیاء ثم الفقراء ویستوی فیه الفریقان کرباط وخان ومقابروسقایات وقناطیرونحوذلک الخ (۲) فقط

(۱) الدروالشامی (۳/ ۴۴۳) ،کتاب الوقف ،مطلب فی حکم الوقف القدیم المجهولة شرائطه ومصارفه ط رشیدیه.
(۲) الدرمع الشامی (۳/ ۴۳۴) ،کتاب الوقف قبل مطلب یراعی شرط الواقف فی اجارته ط رشیدیه.

دچاپه ځانی هدیره کې دهغه له اجازې پرته مړې ښخول

سوال: (۹۹۹) (الف) زیدخپل مړې دبکرله خوښې پرته دبکرپه ځانی ،هدیره کې ښخ کړل په دې صورت کې څه حکم دی ؟

(ب) دزیدکره یومړی وشوزیددبکرپه هدیره کې دښخولواجازه وغوښته بکراجازه ورکړه په دې صورت کې دزیدکوم حق دبکرپرځاني هدیره کېدای شي ؟ یاپخپله داراززیدپه آئنده کې خپل قبردمالک له اجازې پرته جوړولای شي ؟

(ج) زیدچي کوم مړی دبکرپه ځانې هدیره کې په زورښخ کړدزیدپه هکله ددې څه تعزیردی ؟ (۲۲۹/ ۱۳۳۷هج)

ځواب: (الف) که هدیره خاص دبکرملک دی وقف نه دی نوزېدلپاره دبکرله خوښې پرته په دې کې کوم مړی ښخول صحیح نه دی اوکه زیدداسي وکړل نوبکرته اختیاردی چي ددغه مړې جنازه له دې ځایه وباسي یامځکه هواره کړي په درمختارکې دي [الا لحق آدمی کأن تکون الارض مغصوبة الخ ویخیر المالک بین اخراجه ومساواته بالارض الخ (۱)]

(ب) ددغې خاصې اجازې په وجه دهمېشه لپاره وزیدته کوم حق دبکرپه ملک کې حاصل نه شوکمامر.

(ج) اوکوم تعزیرله بیان شوې طریقې (په اول جواب) پرته نشته چي مړې راو باسي یامځکه هواره کړي فقط.

سوال: (۱۰۰۰) دهدیرې دمتولي اومالک له اجازې پرته که څوک مړی ښخ کړي نودهغه په هکله څه حکم دی ؟ (۸۳۵/ ۱۳۴۳هج)

ځواب: که هدیره دعامومسلمانانولپاره وقف نه وي بلکه دکومې کورنۍ ملک وي نوپه داسي صورت کې دپردي سړی لپاره هلته ښخول ناجائزاوعمل دغصب دی کمافی الخلاصة [رجل حفرقبرًا فجاء آخرودفن فی القبرلاینبش القبرویجب قیمة حفره وهذا اذاکان فی ارض مباحة

(۱) الدرمع الرد (۱/ ۶۲۲) ، کتاب الصلوة ،مطلب فی دفن المیت ط رشیدیه.

اما اذاکان فی الملک ینبش(۱) (خلا صة الفتاوی) له دې مسئلې څخه ښکاره څرګندې چې له ښخولووروسته هم له غصب شوې مځکې څخه مړی راکښلای شي نوپریادشوې غصب کوونکې دغصب ګناه لازمیږي خوکه دغه هدیره وقف وي نوبیادمړي راایستل جائزنه دی [الوقف لایملک ولایملک] (الدرمع الرد(۳/ ۴۰۲) .کتاب الوقف ط رشیدیه) فقط.

دوقف کوونکې دلمسي په وقف کړې هدیره کې له مړې ښخولوڅخه منع کول

سوال: (۱۰۰۱) زیدخپله ځاني مځکه وکلیوالوته دهدیرې جوړولواومړیوښخولو لپاره ورکړه ثبوت یې دادی چې کلیوال له ډیرې زمانې راهیسي پکې خپل مړې ښخوي خودزیدلمسی (دزوئ زوئ) کلیوال په دغه مځکه کې له مړیوښخولو څخه منع کوي اووایې چې دامځکه زماده شرعًا ددغې هدیرې څه حکم دی ؟ کلیوال په دې کې مړې ښخولای شي ،که نه ؟(۰ ۱۵/ ۱۳۴۲هج)

جواب: ښکاره ده چې دغه مځکه دهدیرې وقف شوې ده نودوقف کوونکې دلمسي یاکړوسي په دغه مځکه کې مړي له ښخولوڅخه منع کول یاڅه عوض اخستل صحیح نه دی دشامي دریېم ټوک په کتاب الوقف کې راغلې دي قوله [ورکنه الالفاظ الخاصة وهی ستة وعشرون لفظًا علی مابسطه فی البحرومنهاما فی الفتح حیث قال فرع یثبت الوقف بالضرورة وصورته ان یوصی بغلة هذه الدارللمساکین ابدًااولفلان وبعده للمساکین ابدًا فان الدارتصیروقفًا بالضرورة الخ وذکرفی البحرمنهالوقال اشتروامن غلة داری هذه کل شهربعشرة دراهم خبزًا وفرقوه علی المساکین صارت الداروقفاالخ (۲) (شامی ۳/ ۳۵۹) وفی الدرالمختار: الوقف علی ثلاثة اوجه اماللفقراء اوللاغنیاء ثم الفقراء اویستوی فیه الفریقان کرباط وخان ومقابروسقایات وقناطیرونحوذلک الخ (۳) (۳/ ۳۹۲)

(۱) خلاصة الفتاوی: ۴/ ۲۷۴، کتاب الغصب ، الجنس الثانی ،مطبوعة نول کشورلکنو.
(۲) الشامی(۳/ ۳۹۳) ، کتاب الوقف ، مطلب قدیثبت الوقف بالضرورة ط رشیدیه.
(۳) الدرمع الشامی(۳/ ۴۳۴) ، کتاب الوقف ،قبل فصل یراعی شرط الواقف فی اجارته ط رشیدیه.

په وقف شوې هدیره کې که دښخولولړۍ بنده شي نوڅه حکم دی ؟

سوال: (۱۰۰۲) که یوسړی خپله ځاني مځکه صرف دخاصواوعامومړیوښخولو لپاره وتاکي له ډیروکلونوراهیسي یې قطعي وقف کړي اودمړیودډیربښت له امله ځای کم شو په بل ځای کې دمړیودښخولودانتظام په وجه حالانکه په دغه مځکه کې دمړیوښخول بنددي اوسره له دې چې په دغه مځکه کې په زرګونوقبرونه موجوددي اوس ددې قبرونوماتول ،مځکه هموارول ،اوسبزي خرڅوونکوته په کرایه ورکول اوهغه کرایه پرخپل ځان یادمسجدپه کارونوکې لګول جائزدی ،که نه ؟(۲۱۸/ ۱۳۴۲هج)

ځواب: په شامي کې راغلې دي: [ولوبلی المیت وصارتراباجازدفن غیره فی قبره وزرعه والبناء علیه الخ(۱)] له دې څخه معلومه شوه چې که قبرونه زاړه شي نوپرهغه ځای کښت ،کرونده کول صحیح دي اووقف شوې مځکه چې دمړي ښخولولپاره وقف شوې وي پرهغه ځای نوې قبرونه وکاږي مړې پکې ښخ کړي دغه وقف مځکه دهمدې کارلپاره استعمال کړي خودغه لړۍ دمړیو ښخولوکه په کومه وجه بنده شي اومځکه بېکاره پرته وي نوبیاکښت پکې کول اوګټه په همدې هدیره کې که اړتیاوي کنې په نوروقافوکې لکه مسجدا وداسي نوروکې خرڅولای شي پخپله پرېښوول ددې آمدني بې دوقف کوونکې له شرطه صحیح نه دی.

حکومت چې کومه مځکه دمسجدومتولي ته ورکړې دده لپا ره په هغه کې دنوروخلګودمړیوښخولواجازه کول

سوال: (۱۰۰۳) یوشاهی مسجد جوړشوی دی چې دهغه دخدمت دادایني لپاره نوره مځکه هم حکومت دمتولي په نامه کړې ده نوآیادمسجدمتولي دحکومت له اجازې پرته چې کومه مځکه دمسجدپه حدودوکې ده په دغه مځکه کې ونورو خلګوته دمړیوښخولو لپاره پخپل اختیاراجازه ورکولای شي ؟ اوپرمسجداو حدودودمسجدبه دمالک په حیثیت

(۱) الشامی(۱/ ۲۵۹) ، کتاب الصلوة مطلب فی دفن المیت ط رشیدیه.

حق دحکومت وي او که دمتولي ؟(۱۳۵۲/ ۱۳۳۸هج)

جواب: که حکومت دمسجد دخدمت اودامامت اوداسي نورو په وجه دغه مځکه وامام یامتولي ته ورکړې ده اوددوئ ملک یې ورکړځولی دی نو دغه امام یامتولي ته اختیار دی چي په دې کې کوم تصرف وغواړې وي کړي مړې پکي ښخوي او که کوم بل تصرف پکي کوي او په دې حالت کې مالک ددې به هغه امام یامتولي وي او که حکومت په ملک نه ده ورکړې صرف دمسجد خرڅولو لپاره دغه مځکه وقف کړې ده نو په دې صورت کې آمدني بايد ددې په مسجد کې ولګول شي وامام یامتولي ته دااختیارنشته چي دمالک په حیثیت پکي تصرف وکړي یا پکي مړې ښخ کړي فقط.

ومعلومو خلګوته په وقف کړې مځکه کې مړې ښخول اودښځې دمتولي جوړېدو حکم

سوال: (۱۰۰۴) (الف) که دمځکې کومه ټوټه دکوم خاص سړي یاقوم دپالنې لپاره خاص وقف وي خوڅه آمدني نلري اوورباندي له پېړيو څخه عام مسلمانان خپل مړي ښخوي اوتراوسه داعمل جاري وي نودامځکه به عام وقف بلله کيږي ،که نه ؟ آیاددغه وقف شوې مځکې وکوم متولي ته داحق شته چي دی کوم مسلمان له مړې ښخولو ،مسجد ،څاه اوخطیره (پرقبرښاوخوادېوال راګرځولو) څخه منع کړي ؟

(ب) که دوه نارینه متولیان دکوم کاراجازه وکړي اودريیمه ښځه متولیه راضي نه وي نوآیاددوونارینه وومتولیانواجازه به بس وي ؟ آیاودريیمې متولیې ته چي په اجازه کې ورګډه نه ده شرعًا داحق شته چي داقبر ،مسجداوڅاه ونړوي ؟ آیا په وقف هدیره کې کوم سړی ددوومتولیانو په اجازه دمړې ښخولو ،مسجداوڅاه جوړولو لپاره کومه خاصه برخه خاصولای اوځانګړې کولای شي اودريیمه متولیه ددې منع کولای شي ؟

(ج) آیاښځه دکوم درباریاهدیرې اونورومتولي کیدای شي ؟(۱۱۳۹/ ۱۳۳۷هج)

ځواب: (الف ترج) دفقهې په کتابونو ددرمختار ،شامی اونوروکې څرګندونه ده ي مراعاة غرض الواقفين واجبة] (الشامی ۳/ ۴۲۴، کتاب الوقف) نو کله چي دغه مځکه دقبرونولپاره وقف نه ده نو په دې کې قبرونه جوړول اومړې پکي ښخول صحیح نه دي اوکوم کارچي دوقف کوونکې دغرض په خلا ف وي که څه هم له ډیروکلونوراهیسي رواج

وي هغه بندول پکاردي.

او که کومه مځکه دمړې ښخولو اوهدیرې لپاره وقف وي نو په هغه کې همدا احتیاط کول لازم دي چي دکوم مړې لپاره دښخولو ترځای زیاتوب مځکه وانه اخستله شي اوخطیره اونورجوړنکړل شي (۱) او په عام وقف هدیره کې کوم مړی له ښخېدو څخه منع نکړل شي که په عام وقف هدیره کې کوم متولي کوم مړی له شخېدو څخه منع کړي نودی به ګنهګاروي اومنع کول دده نه رواکيږي اماهرمتولی بلکه عام مسلمانان هم خظیرونه اوپاخه تعمیرونه چي مځکه ډیره ترې لاندي کړي وي نړولای شي چي مځکه راخلاصه کړي اودهروقف متولي لکه څرنګه چي نرکیدلای شي ښځې هم.کېدای شي کذافی الشامی(۲)فقط.

دوقف شوې هدیرې څه ځای دقبرونولپاره په روپیوورکول

سوال: (۱۰۰۵) یوه هدیره یوه سړی وقف کړې ده آیامتولي دهدیرې څه ځای دقبرونولپاره په روپیویابېله روپیوورکولای شي ،که نه ؟(۱۰۲/ ۴۲ - ۱۴۴۷هج)

جواب: وقف کوونکی چي دکوم غرض لپاره داوقف کړی دی هماغه غرض بايد پوره شي که دعامومسلمانانودقبرونولپاره داوقف کړی دی نو هرمسلمان په دې کې ښخېدلای شي دچاڅخه روپۍ اخستل صحیح نه دی اوله دفن څخه څوک مه منع کوئ اوویوچاته خاص ټوټه په معلوموملومه ورکوئ ومتولي ته دااختیارنشته.

پرزړوقبرونوګلان کرل اوپرقبرونوراشنې شویوونومیوه خوړل

سوال: (۱۰۰۶) په هدیره کې ,چي کوم قبرونه دمځکې. سره هموارشي پرهغه ګلان لګول خوڅه پروانلري ؟اودخوارک شیان ځینې خوړل څرنګه دی ؟(۱۲۵۲/ ۱۳۴۲هج)

(۲) خطیره وه چهاردیواری جوکسی قبرکی گردبنایې جاتی هی.

(۱) قال فی الاسعاف: ولا يولی الاامين قادربنفسه اوبنائبه لان الولاية مقيدة بشرط النظروليس من النظرتولية الخائن لانه يخل بالمقصودوكذاتولية العاجز لان المقصودلايحصل به ويستوى فيه الذكروالانثى وكذاالاعمى والبصير (الشامی ۳/ ۴۲۱) ،كتاب الوقف مطلب فی شروط المتولی ط رشيديه.

ځواب: پرزړوقبرونوداسي کول صحیح دي اودمېوې خوراک په دې وجه چي هغه وند پرقبرباندي ده هیڅ پروانلري اماکه هدیره وقف وي نودده دمیوې په اړه چي کوم شرطونه دوقف کوونکې وي یاتعامل وي هماغسي وکړئ یعنی که دخرڅولوشرط وونوبېله رانیولوبېي مه خورئ یاکه دفقیرانولپاره وقف وي نومالداردي نه خوري فقط.

پرهدیره ددېوال راګرځولولپاره دهدیرې مځکه په کرایه ورکول

سوال: (۱۰۰۷) په پخوانی هدیره کې له سلوکلونوراهیسي مړي ښخول منع دي دځلوردیوالی دنه شتون په وجه خنزیران اونورپکي ګرځي مرداري پکي کوي کومې روپۍ نشته چي شاوخوادېوال پرراوګرځوو. څکه ددغې هدیرې مځکه دځلوردیوالی راګرځولوپه غرض په کرایه ورکول جائزدي، که نه؟ (۱۲۹۲/ ۴۲ - ۱۳۴۷هج)

ځواب: کله چي په دغه هدیره کې دمړیوښخول بنددي اوهدیره زړه ده نوفقهاؤ لیکلي دي چي په داسي هدیره کې کښت کول اوودانی کول جائزدي په شامي کې راغلي دي: [وقال الزیلعی رحمه الله: ولوبلی المیت وصارترابًا جازدفن غیره فی قبره وزرعه والبناء علیه (۱)] نوله دې څخه داراوتلای شي چي دهدیرې دکتې په غرض ددغې مځکې څه برخه په کرایه ورکول دهغه په آمدني پرهدیره دېوال راګرځول صحیح دي اوددېوال پرراګوځولووروسته داکوشش پکاردی چي دغه هدیره دکوم غرض لپاره وقف ده یعنی دمړیودښخولولپاره نوهغه غرض حاصل شي اودمړیوښخولودلته اجازه وشي کنې داخوندي کړي شایدچي یووخت به دمړیوښخول ممکن شي اودوقف کوونکې غرض به پوره شي فقط.

دمتولی لپاره دهدیرې مځکه خرڅول څه حکم لري؟

سوال: (۱۰۰۸) یوه پخوانی هدیره ده دهغه متولي نااهل دی یوه ټوټه مځکه په کم قیمت پریومسلمان خرڅه کړه په دغه مځکه رانیوونکې ودانی جوړه کړه دپخواني متولي تولیت محکمي

(۱) الشامی (۱/ ۲۵۹)، کتاب الصلوة، مطلب فی دفن المیت ط رشیدیه.

ورساقط کړاوپرودانی جوړوونکی فیصله وشوه اوس دغه ودانی جوړوونکې

سړی وایي: چي له ماڅخه دوقف کړې مځکې عوض واخلي نومتولي بایدڅه وکړي؟ (۹۱۸/ ۱۳۳۸هج)

ځواب: دفقهي په کتابونوکې راغلي دي: [اَلْوَقْفُ لَايُمْلَكَ وَلَايُمَلَّكُ] (الدرمع الرد ۳/ ۴۰۲، کتاب الوقف] نوکه دغه هدیره وقف دی دکوم خاص سړی ملک نه وي نوخرڅول ددې ناجائزاوباطل دی دابیع صحیح نه شوه بیرته ورکول ددغې مځکې اوودانی لیري کول پررانیوونکې لازم دی اودمتولي لپاره ددغه وقف مځکې عوض اخستل صحیح نه دی فقط.

دهدیرې وڅنګ ته په رانیول شوې مځکه کې که قبرراووزي نوڅه حکم دی

سوال: (۱۰۰۹) زیددهدیرې سره نژدې مځکه رانیوله دېوال یې ورباندي راوګرځاوووروسته یوپوخ قبرمعلوم شونیم په خام دېوال کې دننه اونیم له دیوال دباندي یعنی دغه خام دېوال دغه قبرپه اوږدوالي پرنیمایې ووېشي نوپه اوږدوالي نیم قبرچي په رانیول شوې مځکه کې واقع شوددې رانیول صحیح شوکه داځای پرېږدواوکه څه په وکړو؟ (۱۱۷۲/ ۳۲ - ۱۳۳۳هج)

جواب: که هدیره وقف ده نودقبرددغې برخې په اندازه بیع صحیح نشوه مشتري بایددغه مځکه پرېږدي اوهدیرې ته یې ورګډه کړي فقط.

ددربارخادمانودمعاش لپاره وقف کړې مځکه وېشل

سوال: (۱۰۱۰) دکوم دربارخدمتي معاش لپاره مځکه زیدپرخپلودواړوزامنو نیم په نیمه ووېشله اووفات شوآیاددربارخدمتي معاش مځکه وېشل شرعًا صحیح دی، که نه؟ (۱۲۱۱/ ۱۳۳۷هج)

جواب: مسئله داده چي کومه مځکه وقف ده هغه دچاملک نه دد اونه داپه طریقه دملک وېشلای شي اماکتې ددې به دوقف کوونکې دشرط سره سمې وېشل کیږي په درمختاراونوروکې راغلي دي: [الوقف لایملک ولایملک] (الدرمع الرد ۳/ ۴۰۲، کتاب الوقف) یعنی وقف دچاملک نه وي اونه پکي دخرڅلاو، بخښې اونوروتصرف کېدای شي امادوقف کوونکې له شرط سره سم پروقف شویوباندي به ددې ګټه دبرخوسره سمه وېشل کیږي فقط.

دهديرې روپۍ په مسجدکې لګول صحيح نه دي

سوال: (۱۰۱۱) دهديرې لپاره چي کومه چنده مسلمانانوورکړې وه هغه دمسجد په اړتياووکې لګېدای شي ،که نه ؟(۱۳۳۵/۹۷۷هج)

جواب: دهديرې روپۍ په مسجد کې لګول جائزنه دي.

دهديرې داوقافوپه امدني دمسجدفرش جوړول

سوال: (۱۰۱۲) يوه مځکه دهديرې لپاره وقف ده دهغې کرايه دمسجد پرفرش لګېدلې ده وروسته له لګېدومعلوم شوچي دوقف مځکې کرايه په مسجد کې لګول ناجائزدي نواوس دغه دمسجد فرش راواړووکه څرنګه ؟(۱۳۴۵/۱۴۸۹هج)

جواب: فرش اوس مه رااړوی، بلکه څومره روپۍ چي دوقف مځکې دکرايې په دې کې لګيدلې دي چنده وکړئ هغومره روپۍ بيرته ورکړئ ترڅوددغې هديرې په اړتياووکې ولګول شي نوعوض ددې ورکول بس دي واړولو ته ضرورت نشته.

دهديرې بېکاره خښتې دمسجدپه فرش کې لګول

سوال: (۱۰۱۳)دهديرې خښتې بېکاره پرتې دي خلګ يې پخپلو کارونوکې صرفوي موږدغه خښتې دمسجد په فرش کې کارولای شو، که نه ؟(۱۳۳۸/۱۸۷۴هج)

جواب: په داسي حال کې په مسجد کې لګول صحيح دي فقط.

دمسجدپراخولولپاره دهديرې څه مځکه ورګډول

سوال: (۱۰۱۴) يو کوچنی مسجدپه پخوانۍ هديره کې واقع ووچي په شاوخوا کې په په سلګونو قبرونه وودغه مسجد يې شهيد کړدهديرې څه مځکه و مسجد ته ورګډه کړه اوله شلو پنځويشتو کلونو

راهيسي په دغه هديره کې مړې ښخول منع دي بياهم دوه قبرونه راښکاره شول په دې اړه څه حکم دی ؟(۱۳۳۳-۳۲/۷۸۵هج)

جواب: دفقهې په کتابونوکې څرګندونه ده چي په زړوقبرونوباندي ودانې اوکښت صحيح دی نودغه پخوانۍ هديره که دچاملک ده نودمالک په اجازه څه مځکه شاوخوا مخته ومسجدته ورګډول صحيح دي اوکه وقف ده اواوس دغه وقف دقبرونوپه کاردحکومتي منعې په وجه نشي.راتلای نوله دې څخه څه مځکه دمسجد دپراخولولپاره ومسجدته ورګډول جائزدی فقط.

دمسجدپراخولولپاره پخواني اومات شوې قبرونه هموارول

سوال: (۱۰۱۵) يومسجدپه هديره کې واقع دی دلمونځ کونکيودډېرښت په وجه دمسجدوپراخولوته اړتياده نوکه قبرونه هموارکړوومسجدته ورګډول جائزدي ،که نه ؟(۱۳۳۳-۳۲/۱۲۷۹هج)

جواب: په هديره کې لمونځ کول فقهاؤمکروه ليکلی دي اوپه حديث هم داثابت دي خوکه مخته قبرنه وي نوهيڅ پروانلري اومات شوې زاړه قبرونه هموارول هم صحيح دي نوکه دمسجد دپراخولواړتياوي نوقبرونه هموارکړي اومسجدته يې ورګډ کړي.

سوال: ۱۰۱۶) دجمعې دلمانځه لپاره دهديرې مسجدبه اوږدوالې اوپسورکې پراخول غواړې که پردغوقبرونودرې ګزه ياکم اوزيات خاوره واچووومسجدياو فرش ته دمسجديې ورګډکړونوپه شريعت کې څرنګه دي ؟(۱۳۳۴-۳۳/۱۸۲۲هج)

جواب: زاړه قبرونه هموارول صحيح دي نوکه دمسجدپراخولوداړتياپه وجه پرقبرونوخاوره واچوي ورباندي جوړکړي چي پورته دقبرنښه نه وي نوداهيڅ پروانلري لمونځ دلته صحيح دي [ولابأس بالصلوة فيهااذاکان فيهاموضع اعدللصلوة وليس فيه قبرولانجاسة ولاقبلته الی قبرالخ] (۱) (شامی) فقط والله تعالی اعلم.

دمزارونوپه امدني مسجدجوړول جائزدي ،که نه ؟

سوال: (۱۰۱۷) په مزارونوکې چي کوم خلګ روپۍ ورکوي په دغوروپيو مسجد جوړول جائزدي ،که نه ؟

(۱) الشامی (۱/ ۲۷۹) ، کتاب الصلوة مطلب فی اعراب کائناماکان ط رشيديه.

(۱۰۰۲/ ۴۲ـ۱۳۴۷هج)

جواب: که کوم ځای جلا دمسجد لپاره وي(،ځکه چې پرمزارباندي مسجد جوړول جائزنه دی) اودروپیوورکوونکو خوښه وي نودغه روپۍ دمسجد په تعمیر کې خرڅېدای شي.

دمزاروځنګ ته مسجداوحجرې جوړول

سوال: (۱۰۱۸) دمزاروځنګ ته مسجد جوړول اوحجروجوړول څرنګه دي ؟ (۱۲۷/ ۳۳ـ۱۳۳۴هج)

ځواب: ومزارته نژدي دمسجداوحجروجوړېدل کومه دتاوان خبره نه ده قبرکه دلمونځ کوونکي ومختته نه وي نوپه هدیره کې لمونځ کول کومه پروانلري.

په هدیره کې له قبرونوڅخه بېل مسجدجوړول

سوال: (۱۰۱۹) په هدیره کې له قبرونوڅخه بېل مسجد جوړول څرنګه دي ؟ هدیره له ښارڅخه دباندې په ځنګل کې پرداسي ځای دسړک پرغاړه واقع ده چې دمسافروتګ ،راتګ ډیردی اوڅاه هم شته زیاتره خلګ دلته ،هلته دلمانځه پروخت لمونځونه کوي اودشاوخوامځکولرووونکي هم دلته راځي لمونځونه کوي څه حکم دی ؟ (۲۲۲/ ۳۳ـ۱۳۳۴هج)

ځواب: په هدیره کې له قبرونوڅخه جلا مسجدجوړول کومه پروانلري نودیادي شوي ارتیاپه وجه دلته مسجدجوړول ښه دي اودلمانځه پوره ثواب اودجماعت المضاعف یعنی اوویشت درجې ثواب دی فقط.

په هدیره کې په مسجدجوړولوکې که مځکنی مسجدویرانېږي نوڅه حکم دی ؟

سوال: (۱۰۲۰) په هدیره کې مسجدودانول څرنګه دی ؟ که جوړشي نوڅه حکم دی ؟ کله چې دمحلي مسجددغه بل مسجدپه وجه ویران شي نوڅه کول پکاردي ؟ (۱۲۸۹/ ۳۳ـ۱۳۳۴هج)

ځواب: په هدیره کې دلمونځ کولوداحکم لیکلی دی چې په هدیره کې که کوم ځای داسي وي چې هلته قبر

نه وي اونه مرداري وي اونه دقبلي وطرفته کوم قبروي نوپرهغه ځای لمونځ کول صحیح دی کمافی الشامی [ولابأس بالصلوة فیهااذاکان فیهاموضع اعدللصلوة ولیس فیه قبرولانجاسة ولاقبلته الی قبر(۱) (شامی) نوهمداسي حکم په هدیره کې دمسجد جوړولودی چې په یادشویو شرطو نوسره صحیح دی اوکله چې په کومه محله کې زوړمسجد شته او ارتیادنوي مسجدوجوړولوته نشته چې هغه مځکنی مسجددټولو کلیوالوبس دی اوپه نوي مسجد جوړولودزاړه مسجددویرانېدوخیال دی نوپه داسي حال کې نوی مسجدنه دی جوړول پکارخوکه کوم مسلمان په نېک نیت بل مسجدجوړکړي نودغه دوهم مسجدته دضرارمسجدحکم نه ورکول کېږي کماورد[انماالاعمال بالنیات (۲)] وقال الله تعالی: ان بعض الظن اثم] (سورة حجرات آیت: ۱۲) فقط .

په هدیره کې په جوړه شوي عیدګاه کې لمونځ جائزدی

سوال: (۱۰۲۱) کومه عیدګاه چې په هدیره کې جوړه شوي وي په هغې کې لمونځ جائزدی ،که نه ؟(۴۳۱/ ۳۳ـ۱۳۳۴هج)

ځواب: جائزدی فقط.

دهدیرې په مځکه کې عیدګاه جوړول

سوال: (۱۰۲۲) دعیدګاه جوړولولپاره دهدیرې څه مځکه رانیول جائزدي ؟ (۸۳۲/ ۱۳۳۸هج)

ځواب: که دغه هدیره وقف وي نوددې رانیول اوعیدګاه ورباندي جوړول صحیح نه دی اوکه وقف نه وي بلکه دچاملک دی نوصحیح دی.

دکفاروهدیرې ته نژدې دمسلمانانوهدیره جوړول

سوال: (۱۰۲۳) دکافرانوهدیرې ته نژدې دمسلمانانوهدیره جوړول جائزدي که ،نه ؟ (۲۵۵۷/ ۳۳ـ۱۳۳۲هج)

ځواب: دکافرانوهدیرې ته نژدې دمسلمانانوپه هدیره جوړولوکې کومه منع نشته

(۱) الشامی (۱/ ۳۷۹) ، کتاب الصلوة ،مطلب فی اعراب کائناماکان ط رشیدیه.
(۲) صحیح البخاری ۲/۱، باب کیف کان بدء الوحي.

اماچي ترڅووس وي ددوئ دهديري څخه ليري والی غوره دی خوداړتياپه وجه هيڅ منع نشته

دهندوانوومندرته نژدي هديره جوړول

سوال : (۱۰۲۴) ديوځای وځنګ ته دهندوانودمسافروسرای اويوه بت خانه ده په داسي ځای کې دمسلمانانولپاره هديره جوړول څرنګه دي ؟ (۱۰۷۱/ ۳۳-۱۳۳۴)
ځواب : له اړتياسره سم پرداسي ځای هديره جوړول منع نه دی اودمنعې کوم حکم مې مخته نه دی تېرشوی فقط.

په خاني هديره کې کورجوړول

سوال: (۱۰۲۵) څه زمانه وروسته پخپله ځاني هديره کې کښت اونورکول اومکان جوړول جائزدي ، که نه ؟ (۱۱۲۹/ ۱۳۳۵هج)
ځواب: په درمختارکې راغلې دي: [کماجاززرعه والبناء عليه اذابلی وصار ترابًا(زيلعی) قوله کماجازرزعه ای القبروکذايجوزدفن غيره عليه الخ] (۱) (شامی) : ۱/ ۲۰۲) نومعلومه شوه چي دقبرونودزړېدووروسته اودمړي دخاورې کېدووروسته دغه ځاني مځکه په کارراوستل اووربانديمکان جوړول کښت اونوروربانديکول ټول کارونه صحيح دي.

په وقف کړې هديره کې کورجوړول

سوال: (۱۰۳۲) په يوه هديره کې مسجدواقع دی دقبرونونښانې ښکاره دي اومعلوم دي چي دلته پنځلس ،شل کاله مخکې مړې ښخ شوې دي که پرداسي قبرونوخاورې هموارې کړوسربېره وربانديمکانونه اودکانونه جوړول اوپه کرايه ورکولوېې آمدني پرمسجدخرڅول جائزدي ، که نه ؟ (۵۲۴/ ۱۳۴۵هج)
ځواب: کومه هديره چي وقف وي په هغه کې داډول تصرفات جائزنه دي داتل ددې کارلپاره دی چي مړې پکې ښخ کړل شي په فتاوی عالمګيري کې راغلې دي [وسئل هوايضًا عن المقبرة

(۱) الدروالشامی(۱/ ۲۲۲) ، کتاب الصلوة ،مطلب فی دفن الميت ط رشيديه.

فی القری اذااندرست ولم يبق فيهااثرالموتی لاالعظم ولاغيره هل يجوززرعها واستغلالهاقال: لاولهاحکم المقبرة انتهی(۱) نوددغه ودانۍ چي کومه آمدني ده هغه هم په مسجدکې نشي خرڅېدای فقط والله تعالی اعلم.

دهديرې په مځکه کې مدرسه جوړول

سوال: (۱۰۲۷) زيدپرډېرلوئ ميدان خپله قبضه ښيې څوک په دې کې وکورجوړولوته نه پرېږدي وايې چي داهديره ده دلته قبرونه پټ دي حال داچي دلته دقبرونښې نه معلومېږي اودلته مړې نه ښخيږي په داسي ځای کې دحکومت په اجازه کورجوړول شرعًاصحيح دی ،که نه ؟کله چي دزيدسره دملکيت هيڅ ثبوت نشته ؟ (۱۲۸۱/ ۴۲-۱۳۴۷هج)
ځواب: په درمختارکې راغلې دي: چي په زړه هديره کې کورجوړول اوکښت کړل صحيح دي خوکه داثابته شي چي داهديره وقف ده دمړيودښخولولپاره نوبياپه دې کې هيڅ تصرف کول صحيح نه دی اوکه حکومت هلته مړې ښخول نه پرېږدي نوپه دغه وقف شوې ميدان کې مدرسه اونورجوړ کړئ چي دعاموخلګو دګټې لپاره وي فقط.
سوال: (۱۰۲۸) يوه هديره دښاروالۍ په حدودوکې دننه دواقع کېدوپه وجه حکومت بنده کړې ده له پنځوسو ،شپيتوکلونوراهيسي هيڅ خندنشته حيوانان پکې څرېږي مرداري پکې کوي په دې کې دمدرسې جوړولومشوره شوې ده داجائزدی ،که نه ؟ اودکوموقبرونونښانونه چي موجوددي هغوئ جوړول اوخوندي کول پکاردي ، که نه ؟ (۱۲۸۴/ ۴۲-۱۳۴۷هج)
ځواب: اصل دادی چي وقف دکوم کارلپاره شوی دی هماغه کاردې پکې وشي لکه]ي په درمختاراونوروکې راغلې دي: [شرط الواقف کنص الشارع] (الشامی ۳/ ۴۵۲)مراعاة غرض الواقفين واجبة الخ (الشامی ، ۳/۴۲۴) کتاب الوقف ، ط رشيديه. خوکله چي دحکومت له لورې په دغه مځکه کې

(۱) الفتاوی العالمکيريه ۲/ ۴۷۰،کتاب الوقف ، الباب الثانی عشرفی الرباطات والمقابروالخانات والحياض والطرق والسقايات الخ.

مرې ښخول بند دي نو دډې څرګندونه خو هم په درمختارکې شته چې په زړه هديره کې کورجوړول او کښت کول صحيح دي اوداهم له فقهي روايتونوڅخه معلومېږي چې دا ړتياپه وجه يووقف دبل وقف پرځای په کارراوړل جائزدی ،ځکه نوپردغه مځکه مدرسه جوړول صحيح دي اوقبرونه چې زاړه دي اوپخې نښانې يې موجودې دي نو ددوئ هموارول هم صحيح دي په شامی کې راغلې دي : [ولوبلی الميت وصارترابًا جازدفن غيره فی قبره وزرعه والبناء عليه الخ] (۱) فقط

سوال: (۱۰۲۹) يوه هديره ده چې له پنځويشتو ،ديرشوکلونوراهيسي پکې مړې نه دي ښخ شوې يوسړی په دې کې مدرسه جوړول غواړي زياتره خلک داوايې چې موږدخپل پلاراونيکه پرقبرونومکان جوړول نه پرېږدواوپه مخالفينوکې يوسړی يې بيع له دې څخه ښه مځکې ورکولوته آماده دي په دې صورت کې په هديره کې مدرسه جوړول جائزدي ،که نه ؟ (۱۳۳۸/۱۴۳هج)

ځواب: داخوفقهاؤڅرګندونه کړې ده چې په زړوقبرونوکې کښت کرل اوکور جوړول صحيح دي خوداضرورشته چې داجوازهماغه وخت دی چې داهديره وقف نه وي بلکې ديوچاخاص ملک وي اومالک اجازه وکړي اوکه داهديره وقف ده يادیوچاملک ده خومالک دودانی اونوروااجازه نه کوي نوبياصحيح نه دی په دې صورت کې بايدپه بله مځکه کې مدرسه جوړه کړي فقط.

سوال: : (۱۰۳۰) په زړه هديره کې پخه مدرسه جوړول اودهديرې پرنړېدلوديوالونو دوه منزله مکان جوړول اوپه هغه کې دننه بيت الخلاء (ټټی) جوړول صحيح دي ،که نه ؟ (۱۳۳۹/۹۷۲هج)

ځواب: دفقهې په کتابونوکې داليکلې دي په زړوقبرونوکې کښت کرل اومکان جوړول صحيح دي نوکه دغه هديره وقف نه وي بلکې ديوچاملک وي اوزړه هديره ده نومالک په دې کې مکان ،مدرسه اوداسي نورچي کوم وغواړي جوړولای شي اوکه وقف وي نوبيادغه تصرفات دهيچالپاره صحيح نه دي فقط

په وقف شوې هديره کې سړک جوړول

سوال: (۱۰۳۱) دجرنيلي سړک ويوه اړخ ته هديره ده ددې اړخ په پای کې يوجامع مسجد دی

(۱) الشامی (۱/ ۲۵۹) ،کتاب الصلوة ،مطلب فی دفن الميت ط رشيديه.

دسړک دتنګی له امله انګريزحکومت دهديرې دځای عوض ورکوي اوغواړې چې هديره ونړوي وسړک ته يې ورګډه کړي ترڅودسړک تنګي اوتکليف ليرې شي آياپه شريعت کې دعوض په اخستودغه ځای په سړک کې ورداخلول جائزدي ،که نه ؟ دقبرونونښانونه موجوددي په دليل سره بيان راته وکړئ ؟ (۱۳۴۳/۲۲۲۰هج)

ځواب: دومره خوفقهاؤليکلې دي چې که قبرونه زاړه وي اوهډونه زاړه اورژ بدلې وي نوپه هغه کې کښت کرل اومکان جوړول صحيح دي په درمختارکې راغلې دي : [کماجازززرعه والبناء عليه اذابلی وصارترابًا(زيلعی) اوپه شامي کې راغلې دي ولوبلی الميت وصارترابًاجازدفن غيره فی قبره وزرعه والبناء عليه] (۱) خوکه داهديره وقف وي نودوقف تبادله اوباطلول دوقف جائزنه دي کمافی الدرالمختار[الوقف لايملک ولايملک] (الدرمع الرد ۴۰۲/۳ ، کتاب الوقف) نوښکاره ده چې داهديره وقف ده ،ځکه ددې وسړک ته ورګډول اوددې عوض اخستل صحيح نه دي اماکه داديوخاص سړی ملک وي نوبيادهغه په رضااوخوښه داسي صحيح دي فقط.

سوال: (۱۰۳۲) زاړه قبرونه چې نوم ،نښان يې نه وي پاته که پرهغوئ سړک اونورجوړکړل شي څه پرواخونلري ؟ (۱۳۳۹/۵۳۹هج)

ځواب: پززړوقبرونوباندي ودانی اوکښت کول فقهاؤجائزليکلې دي له دې څخه معلوم شوچي سړک جوړول هم صحيح دي خوکومه هديره چې وقف وي په هغې کې داسي تصرف صحيح نه دی فقط.

په زړه هديره کې کښت کرل

سوال: (۱۰۳۳) په يوه مځکه کې له همېشه څخه هديره شته په هغې کې کښت اوکرونده کرل صحيح دي ،که نه ؟ (۱۳۳۳-۳۲/۲۲۳۷هج)

ځواب: که هغه مځکه ديوچاملک ده اوقبرونه ډيرزاړه دي نوپه کتابونوکې ليکلې دي چې په دې کې پټی کرل صحيح دی اوکه دغه هديره وقف ده نوپه دې کې داسي تصرف کول صحيح نه دي.

سوال: (۱۰۳۴) دزيدپه اجازه په مځکه کې ناوسه مړې ښخ شوې ووچې دقبرونو نښانې اوس نشته ،مځکه وقف نه ده بلکې دزيدووارثانوته په ميراث کې ورپاته شوې ده

(۱) الدروالشامی (۱/ ۲۵۹) ، کتاب الصلوة ،مطلب فی دفن الميت ط رشيديه.

اوس دغه مځکه ماتول او کبنت پکي کرل جائزدي ،که نه ؟(۱۷۰۴/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

ځواب: دفقهې په کتابونوکې لیکلې دي چي په زاړه ځاني قبرستان کې کبنت کرل اومکان جوړول صحیح دي.

دهدیرې دونواومېووحکم

سوال: (۱۰۳۵) (الف) په عامه هدیره کې که یوچاونې ولګولې نودهغومېوه اولرګي سرې پخپل تصرف کې راوستلای شي ،که نه ؟ اودعامومسلمانانولپاره په دې کې تصرف صحیح دی ،که نه ؟

ب: ددغودرختوپه قیمت دمسجد ترمیم کېدای شي ،که نه(۴۲۰/ ۳۲-۱۳۳۳هج)

ځواب: (الف) : پخپل تصرف کې یې نشي راوستلای اودعامومسلمانانوا و پخپله دونولګوونکولپاره په دې کې تصرف کول صحیح نه دی.

(ب) خاص په هدیره کې ولګوي دمسجد ترمیم په دې اونورصحیح نه دي.

سوال: (۱۰۳۶) په هدیره کې چي کومې درختې وي (که دچاملک وي او که نه) مالک په دې کې دځان لپاره تصرف کولای شي او که نه ؟ که مېوه لروونکې وي نوددوئ مېوه کارولای شي او که نه ؟(۴۲/ ۳۵-۱۳۳۲هج)

ځواب: په ځاني ناوقف شوې هدیره کې چي کومې ونې دي هغه دمالک دي اوپه وقف شوې هدیره کې چي کومې ونې دي هغه دچاملک نه دی په هغه کې تصرف کول دهیچالپاره صحیح نه دی اونه ددوئ مېوه دوقف کوونکې له شرط پرته څوک پخپل تصرف کې راوستلای شي.

دهدیرې دحاصلاتوحکم

سوال: (۱۰۳۷) درقبرستان چیزی که پیداوارباشدازان نفع گرفتن چگونه است ؟ (۱۶۶۹/ ۱۳۳۵هج)

جواب : قبرستان اگروقف است بلاشرط واقف نفع گرفتن ازمنافع آن درست نیست انچه شرط واقف است بران عمل بایدکردیابصورت عدم علم بشرائط واقف برضروریات قبرستان یابرائی نفع عام صرف بایدکرد.

ترجمه سوال: په هدیره کې چي کوم شیان راشنه شي له هغوئ څخه استفاده کول څرنګه دي ؟

جواب: که هدیره وقف ده نوبې دوقف کوونکې له شرطه له هغې څخه استفاده کول صحیح نه دی وقف کوونکې چي کوم شرط لګولی دی بایدهغه عملي شي او که دوقف کوونکې شرطونه معلوم نه وي نودهدیرې په اړتیاوویاپه عامو خیراتي کارونوکې بایدولګول شي.

دهدیرې دګلانو، سبزیو،اومیوواونوروحکم

سوال: (۱۰۳۸) (الف) دهدیرې ګلان مفت پرخلکووېشل جایزدی ،که نه ؟ (ب)دهدیرې شنه وابنه او ګلان ،مېوې خرڅول دمسجدپه اړتیاووکې خرڅول صحیح دي ،که نه.

(ج) دهدیرې سبزي ،انار، اونورې میوې مؤذن ،امام اومتولي اونوربې له بیعې صرفولای شي ،که نه(۱۳۴۲.۴۹۲هج)

جواب: (الف) که دغه ګلان نه خرڅیدای شي اودخرڅیدووړدي نوخرڅ یې کړي باید ددوئ قیمت په همدغه هدیره ولګوي او که عادة دغه ګلان نه خرڅیږي اوله همېشه څخه همدغسې ویشل کیږي نواوس هم مفت وېشل یې صحیح دی اوغوره اوزیات احتیاط دادی چي کله دوقف کوونکی شرط معلوم نه دی نوداخرڅ کړي قیمت یې پرهدیره ولګوي او که دوقف کوونکې شرط معلوم دی نودهغه سره سم عمل وکړئ.

(ب) دهدیرې شنه وابنه نه دي خرڅول پکار ،میوه اونورقیمتي شیان چي دخرڅولووړدي هغه خرڅ کړي قیمت په همدغه هدیره باندي ولګوي په مسجد کې بایدونه لګول شي

(ج) ددغوشیانوقیمت په همدې هدیره کې مصرف کړئ دامام ،مؤذن اونورولپاره مفت په کارراوړل صحیح نه دی فقط.

دځاني هدیرې له ونوڅخه استفاده کول

سوال: (۱۰۳۹) زیدیوه ټوټه مځکه دناوسه مسکېنانودقبرونولپاره شاړه پرېښوده په دغه مځکه کې ونې چي دهمدغه نوموړې دمځکې مالک لګولی دی دی له دغوڅخه داستفادې کولوشرعًا حق لري ،که نه ؟

(۱۴۸۷/ ۱۳۳۷هج)

جواب : ددغوونومالک همدغه يادشوی دمځکې مالک دی دی ځيني استفاده کولای شي ،ځکه چي له‌سوال څخه معلوميږي چي ده دامځکه نه ده وقف کړې.

په هديره کې لګول شوې ونې دچادي ؟

سوال : (۱۰۴۰) يوځای دی چي هديره پکې واقع ده په همدې هديره کې يوبزګرد رختي ولګولې اوونې لګوونکې په دغه هديره کې هيڅ حق نلري نه دمځکې مالک ده ته اجازه کړې ده اونه ددغه بزګرپکې مړي ښخيږي اوس دپوښتنې ورځبره داده چي ددغه بې اجازې ونې لګوونکې بزګرلپاره ددغوونوراخستل صحيح دي ،که نه ؟ (۵۹/ ۱۳۳۵هج)

ځواب : که دغه هديره وقف ده نوداونې هم وقف شوې دي د هيچالپاره دهغو پرې کول اوورل صحيح نه دي بلکه که ددغوونووخرڅولوته اړتياده نوداخرڅې کړئ کوم قيمت چي حاصل شوهغه بايد پردغه هديره ولګوئ اوکه دغه هديره وقف نه ده بلکه ديوچاملک ده نوچاچي داونې بېله اجازې لګولې دي هغه دې داپرې کړي يادې دمځکې مالک ددغوونوقيمت ولګوولنکې ته ورکړي درختې دې راوګرځوي لنډه داچي ددغه بزګرلپاره چي دغه ونې لګولې دي اودمځکې مالک هم نه دی هيڅ حق دونوډپرې کولونشته بلکه دوقف کېدوپه حالت کې هيڅوک هم نشي پرېکولای اوکه ملک دی نودرختې لګوونکې ته ياقيمت ورکړه ياهغه ته ددغه ونوپرې کولوحکم وکړه فقط.

پرقبرونوباندې دسايې لپاره ونې لګول

سوال : (۱۰۴۱) پرقبرونوباندې ونې لګول له عذاب څخه دخلاصون اوسايې په غرض په دواړوصورتونوکې څه حکم دی ؟ (۲۱۵۳/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

ځواب : ونې لګول صحيح دي خوپه وقف شوې هديره کې به بې دوقف کوونکې له اجازې اوشرط

پرته نه لګوي فقط.

په هديره کې مېوه لرونکې ونې لګول

سوال : (۱۰۴۲) په هديره کې مېوه کوونکې درختې لګول صحيح دي ،که نه ؟ يعنی کومه مځکه دهديرې لپاره وقف شوه خلګ مړې پکې ښخوي يوسړی دقبرويوطرفته درخته په دې نيت ولګوله چي ددغې ونې مېوه عام خلګ وخوري ؟ (۳۹۲/ ۴۲-۱۳۴۷هج)

ځواب : قاعده داده چي کومه مځکه دکوم کارلپاره وقف شي بايدپه هماغه کارکې وکارول شي نوکومه مځکه چي هديره وګرځول شوه اودعامومسلمانانو دښخولولپاره وقف شوه په دې کې داډول ونې لګول چي دقبرونوځای ونيسي صحيح نه‌دی اماکه دوقف کوونکې له لورې ددې اجازه صراحة يادلالة وي نوجائزدی اوپه کوم صورت کې چي يوداسې طرفته ولګول شي چي ورڅخه دقبرونومځکه تنګه نشي نوداصحيح دي اوپه کوم صورت کې صحيح دی په هغه صورت کې ددې مېوه عام خلګ خوړلای شي په درمختارکې راغلي دي [غرس فی المسجداشجاراً تثمران غرس للسبيل فلکل مسلم الاکل الخ(۱)]

په هديره کې دلګېدلي باغ امدني چيرې ولګول شي ؟

سوال : (۱۰۴۳) زموږدقوم يوه هديره ده چي پکې زموږله قوم پرته بل څوک مړې نشي ښخولای په دې کې موږباغ لګولی دی دهغه په آمدني موږقومي کارونه کولای شواوکه نه ؟ مثلا موږده په آمدني دبګ اونوروړانيولای شو ،که نه ؟ چي دهرمسکين اومالدار په کارراشي ؟ (۹۲۲/ ۱۳۴۳هج)

ځواب : که مې باغ په دې نيت لګولی وي چي دده آمدني دداسې خيرپه کارونو کې ولګوي نوداصورت چي په سوال کې ليکل شوی دی جائزدی.

(۱) الدرمع الشامی(۳/ ۵۵) ، کتاب الوقف ،مطلب استأجردارًافيهااشجارط رشيديه.

سوال: (۱۰۴۴) یوه هدیره دمشرانوله وخته راروانه ده په هغه کې یوباغ لګول شوی دی دهغه آمدني کورنۍ پخپل تصرف کې راوستلای شي، که نه؟ دغه هدیره وقف ده (۹۳۲/ ۱۳۴۳هج)

ځواب: داسوال یوچامخکې هم رالیږلی وودهغه داجواب لیکل شوې دي چې که باغ لګوونکیوپه دې نیت باغ لګولی وي چې ددې آمدني دعام خیرپه کارو نوکې مثلا ددیګونوپه رانیولوکې به صرفیږي نوداجائزدی دارازکه کوم بل مصرف ددغه آمدني نه وي بیاهم په داسې عام خیراتي کارونوکې ددغه آمدني لګول صحیح دی فقط.

سوال: (۱۰۴۵) له څوروڅوڅخه دیوقوم څومسلمانانویوه هدیره (چې دمسکینانوهدیره بلل کېدله) ونږوله پکې یې یوباغ ولګاوواوس چې کومه آمدني ددغه باغ حاصله شوه داپه قومي مصرف کې لګول غواړې دوئ ته ویل کیږي چې تاسودغه روپۍ ددغه وقف هدیرې په مصرفونوکې لومړی ولګوي یعنی کوم قبرونه چې نړېدلې دي هغه سم کړي په دې اړه شرعًاڅه حکم دی؟(۹۸۹/ ۱۳۴۳هج)

ځواب: مخکې ددې په اړه معلوم شوی ووچې هغه خاص دیوقوم هدیره ده په هغې کې همدغه قوم باغ لګولی دی نوآیاددې په آمدني باندې دېګ اونور رانیو لای شو دمسکین اومالداره په کارراشي نوددې په اړه له دې ځایه غالبًا داسې مضمون لیکل شوی ووچې که ودغه روپوته دهدیرې اړتیانشته اوباغ لګوونکې په همدې نیت باغ لګولی وي چې ددې په آمدني دې داسې دعام خیرکاروشي نوداجائزدی، ځکه چې ددغوروپوله ضایع کېدوڅخه غوره دادی چې په داسې کارکې خرڅ شي اودفقهې په کتابونوکې یې لیکلې دي چې په زړوقبرونوکې کښت کول اوودانې جوړول صحیح دي اودقبرونوپخول مکروه اومنع دي، ځکه نوترمیمول یې هم منع دي په دې کې داآمدني مه صرفوئ فقط.

دهدیرې زیاتوب بانسونه دبل خیرپه کارکې صرفول

سوال: (۱۰۴۶) په یوه هدیره کې ډیربانسونه موجوددي اوس که دغه بانسونه خرڅ کړودکوم خیرپه کارکې یې خرڅولای شو، که نه؟ (۱۳۶۰/ ۴۶-۱۳۶۰هج)

ځواب: دخیردکارونولپاره ددغوبانسونوخرڅول جائزدي بلکه که دمسکینانو مړیوپه کفن اوښخولواونوروکې ولګول شي نوداغوره دی، ځکه په بېکاره پرېښودوکې (چې انجام یې ضایع کېدل دي) هیڅ ګټه نشته کماورد: [وکره لکم قیل وقال واضاعة المال (الحدیث.(۱) فقط.

دهدیرې زیاتوب ونې دبل خیرپه کارکې لګول

سوال: (۱۰۴۷) دکلې دوېش پرمهال هدیره دمسلمانانوپه برخه کې ورشمېرله شوې وه اوهندوسوز(دهندوانوسوځولوځای) دهندوانوپه برخه کې ورشمیرل شوې وودهدیرې لرګې دقبرونوپه پټولوکې شمیرل کیږي خوپه هدیره کې ونې دومره زیاتې راشنې شوې دي چې له دغه مصرف څخه زیاتوب دی که دغه زیاتوب ونې خرڅې کړي قیمت یې دکوم خیرپه کارلکه مسجد، ځاه حجره اومسافرخانې اونوروپه ودانولواوسمون کې ولګووا وکه په بل کارکې کارولای شو، که نه؟ اوپه دغوکارونوکې کوم مخته اوکوم شاته دي؟(۱۳۲۲/ ۳۲-۱۳۳۳هج)

ځواب: دکلې دمسلمانانوپه خوښه دغه دهدیرې زیاتوب درختې خرڅې کړي په نورودخیرپه کارونولکه مسجدمسافرخانه اونوروکې ددوئ قیمت لګول صحیح دي اومخکېوالی اووروسته والی په دغومصرفونوکې دهیڅ شی نشته چې کوم شی ته اړتیاوي اوپرکوم شی چې دټولوکلیوالواتفاق وي په هغه کې ولګوي بیاله دې وروسته چې کوم کارضروري وبلل شي هغه وکړي.

په کومه مځکه چې پخوانې قبرونه وودهغووقفول صحیح دي

سوال: (۱۰۴۸) په یوه مځکه کې زاړه قبرونه وواوس هغه کرله کیږي په دې کې داخترونولمونځونه کول اوددې وقفول صحیح دي، که نه؟ (۲۱۴۴/ ۱۳۳۸هج)

ځواب: په دغه مځکه کې داخترونولمونځ اونورصحیح دي اووقفول ددې صحیح دي (یعنی کله چې

(۱) عن المغیرة رضی الله عنه عن النبی ﷺ قال: ان الله حرم علیکم عقوق الامهات ومنعاوهات ووأ دالبنات وکره لکم قیل وقال وکثرة السؤال واضاعة المال (الجامع الصحیح للبخاری ۲/ ۸۸۴، کتاب الادب، باب عقوق الوالدین من الکبائر.

ددې کوم مالک وي هغه يې وقف کړي یاحکومتي مځکه وي حکومت يې وقف کړي نو وقف صحيح دی (سعيداحمد پالنپوري).

دمزارونو په شهيدولوله مځکې څخه استفاده کول صحيح نه دی

سوال: (۱۰۴۹) داولیاؤمزارونه یاقبرونه دمسلمانانو که باچایابل څوک شهيد کړي له دغې مځکې څخه استفاده کولای شي ،که نه؟ (۲۷۳/ ۱۳۳۹هج)

ځواب: له اوقافو څخه داسي استفاده کول صحيح نه دي فقط.

دهديرې وڅنګ ته دغصب کړې مځکې حکم

سوال: (۱۰۵۰) یو سړی دهديرې متولي دی ده وهديرې ته نژدې یوه مځکه قبضه کړه بيايې خرڅه کړه دمسلمانانو یوه ډله له دغه متولي څخه دهديرې توليت اخستل غواړي اودغه غصب کړې مځکه هم ودغې هديرې ته ورګډول غواړي داجائزدی اوکه نه؟ (۱۸۳۷/ ۱۳۴۰هج)

ځواب: په دې کې ودې تحقيق ته ضرورت دی چي کومه مځکه وهديرې ته ورنژدې ده دچاده؟ که کوم مالک معلوم وي نوهغه يې له غصب کوونکې څخه اخستلای شي اوکه داتحقيق وشي دامځکه هم وقف ده اودهمدغې هديرې یوه ټوټه ده نودغه ډله بايددغه مځکه دغصب کوونکې اورانيوونکې له قبضې څخه وباسي وهديرې ته يې ورګډه کړي فقط.

دغصب کوونکې له قبضې څخه دهديرې دمځکې په راايستلو کې کوشش کول ضروري دي

سوال: (۱۰۵۱) یوهندو دغصب په توګه یوه هديره په بازارواړوله چي مسلمانانو وربانديوحکومت ته عارضه وکړه دوئ ته به ثواب وي ،که نه؟ (۱۷۲۲/ ۱۳۴۱هج)

ځواب: دمسلمانانولپاره په دې کې کوشش کول ضروري دي اوپه دې کې اجراوثواب دی.

سوال: (۱۰۵۲) دیوه بزرګ دمزارپه اړه مځکه وقف ده هغه دهندوانوپه قبضه کې ده دهغه دراخلاصولولپاره کوشش وکړو ،که نه؟ (۸۰۸/ ۱۳۴۲هج)

ځواب: دمزارپه اړه چي کومه مځکه دخيردکارونولپاره وقف ده اوکافرانوور باندي قبضه کړې ده ددې په راخلاصولوکې دمسلمانانولپاره کوشش کول ضروري دی اوکوم خلک چي په دې کې مخالفين وي هغوئ فاسقان ،فاجران دي

دمسجدونو اداب

سوال: (۱) دیوه مسجد دوې دروازې دي یوه دباندي پرعامه لاربانديي ،دوهمه څوګامه دننه له دې وروسته دمسجد فرش دی اوس چي په بسم الله راسته پښه مخکې بردي له دې څخه کومه دروازه مرادده ؟آیا دفرش صحن مراددی ؟ (۸۵۰/ ۱۳۴۵هج)

ځواب: وصحن دمسجد ته یعنی فرش ته چي کله ورننوزي هغه وخت په بسم الله سره راسته پښه وردننه کړي.

دخارش په مرض اخته سړی ومسجدته راتلل

سوال: (۲) یو سړی دخارش په مرض اخته دی دده لپاره مسجد ته راتلل جائزدي ،که نه ؟ (۸۲۲/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

ځواب: صحیح دی خوکه یې کومه داسې دواکارولې وي چي له بدبوئ څخه نورولمونځ کوونکوته تکلیف وي نوغوره دی چي مسجد ته نشي داخل ترڅوچي دغه بویې لیري نکړي.

دپیس اوجذام (کوړ) ناروغه ومسجدته له راتګ څخه منع کول

سوال: (۳) دلته مسلمانانو یو جذامي (په کوړ اخته) سړی ومسجد ته له راتګ څخه منع کړی دی څه حکم دی ؟ (۱۲۱۹/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

ځواب: په کتابونو کې داليکلي دي چي دپیس اوجذم ناروغه بايد بېل وي مسجد ته دې

هم دجمعې اوجماعت لپاره نه راځي کوردي لمونځ کوي له خلګو څخه دې جلا وي.
[والمجذوم والابرص اولی بالالحاق الخ(۱) شامی فقط.

سوال: (۴) قصاب او کوم سړی چي دپیس یا جذام ناروغه وي دوئ ومسجد ته له راتګ څخه منع کولای شو ،که نه ؟ (۲۳۵۷/ ۱۳۴۰هج)

ځواب: په شامي کې راغلي دي : وكذالقصاب والسماک والمجذوم والابرص اولی بالالحاق وقال سحنون لااری الجمعة علیهماالخ (۲) له دغه عبارت څخه معلوم شوچي جذامي اوپیس والاله مسجد څخه منع کولای شي اودوئ هم بايد جلاوي لکه چي په حدیث کې راغلي دي نوداسي خلګ چي جذام یا پیس وهلی وي بايد پخپله له مسجد څخه بېل وي پخپل کورکې لمونځ کول پکاردی ترڅونورولمونځ کوونکوته تکلیف اوکړکه نه وي (اوقصاب اونوروله جاموڅخه که بدبوئ راځي نودهغوئ هم همدغه حکم دی سعید احمد پالنپوري) فقط.

شراب څېښوونکې له مسجدڅخه ایستل جائزدی ،که نه ؟

سوال: (۵) زید شراب څېښلې وودنشې په حال کې عیدګاه ته راغلی دلمونځ کوونکودده له بدبوئ څخه کرکه وشوه ده ته دجلاکېدووویل چي په جواب کې ده سختې خبرې کول شروع کړې په همدې وجه لمونځ کوونکودی له مسجد څخه وایستنو اوس زید ومحکمې ته عارضه عرفی حیثیت دازالې په نوم وړاندې کړې ده آیا داکارشرعًاجائزدی ،که نه ؟ (۱۸۲۳/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

ځواب: قال فی الدرالمختار: [واکل نحوثوم ویمنع منه وکذاکل مؤذولوبلسانه الخ وفی الشامی ویلحق بمانص علیه فی الحدیث کل ماله رائحة کریهة ماکولا اوغیره] (۳) الی آخرمافصل وحقق له دغه عبارت اوله دې څخه معلوم شوچي په موجودحالت دزیدله مسجدڅخه ایستل ضروري دی اودلمونځ کوونکوداعمل جائزاوله شرعي سره سم دی ددې کاربه وجه لمونځ کوونکې دسزاورنه ګرځي فقط والله اعلم.

(۱) الشامی (۱/ ۴۸۹) ،کتاب الصلوة ،مطلب فی الغرس فی المسجد ط رشیدیه.
(۲) الشامی (۱/ ۴۸۹) ،کتاب الصلوة ،مطلب فی الغرس فی المسجد ط رشیدیه.
(۳) الدروالشامی (۱/ ۴۸۹) ،کتاب الصلوة ،مطلب فی الغرس فی المسجد ط رشیدیه.

یوقوم دمسجددشیانوله کارولوڅخه منع کول

سوال: (۲) یوقوم چي له پېړیو ، پېړیوڅخه مسلمان راروان دی ددوئ زیاتره پېښه خیاطي ده اوکله ناکله دښکرلګولواوپه ودونواونوروکي دډول وهلوکار هم کوي داخلګ دلمانځه اوروژې پابنددي بل کوم عیب په دوئ کې نشته ددې ځای مسلمانان له دوئ څخه پرهیزکوي اوپه مسجدکي له اودس کولواود مسجدله لوښوکارولوڅخه منع کوي داسي کارشرعًاڅرنګه دي ؟ (۷۸۳/ ۱۳۴۳هج)

ځواب: ددغه مسلمان قوم سره داسي معامله نه ده کول پکاربلکه دوئ ته شرعًا اجازه ده چي په مسجدکي اودسونه وکړي دمسجدکوزې اوسولاغې استعمال کړي اوپه مسجدکي لمونځ په جماعت سره وکړي دوئ په مسجدکي له اودس اونوروکولوڅخه منع کول دالله رب العزت اورسول الله ﷺ دحکم په خلاف دی اوداهم په یوه وجه د [ومن اظلم ممن منع مساجدالله ان یذکرفیهااسمه وسعی فی خرابها] (سورة بقره آیت : ۱۱۴) په وعیدکي داخلوي ، ځکه چي دلمانځه له لوازماتوڅخه منع کول هم له لمانځه څخه دمنع کولوپه څیردی اوڅرګند ظلم دی فقط.

دجنب سړی دغسل لپاره دمسجدفرش لاره ګرځول

سوال: (۷) (الف) دجنب سړی لپاره دجنابت په حالت کي ومسجدته ورداخلېدل جائزدی ، که نه ؟ ، ځکه چي په ځیني مسجدونوکي غسل خاني داډول جوړې شوي وي چي دمسجدپرفرش وزتلل غواړي ؟

(ب) غسل خاني ته خولوڅې پښې ځونودغسل اونوروپرمهال پښې لندي وي نوپښې ناپاکیږي اوکه نه ؟ اوبیاهمدغه لندې پښې دمسجدپرفرش لګوونو فرش هم ناپاک شو ، که نه ؟ (۲۳۵/ ۴۴-۱۳۴۵هج)

ځواب : (الف) دجنب لپاره دجنابت په حالت کي ومسجدته ورداخلیدل اودمسجدپرفرش تیرېدل جائزنه دی اماکه غسل خاني داډول جوړې شوي وي چي ببله پرفرش تیرېدوپه بل هیڅ ډول سړی هلته نشي رسېدای نوبیاددغې سختې اړتیاپه وجه جائزدی قال فی الدرالمختار[ویحرم بالحدث الاکبردخول مسجدولوللعبورخلافًا للشافعی رحمه الله الالضرورة حیث لایمکنه غیره الخ] (۱) فقط.

(۱) الدرالمختارمع الشامی(۱/ ۱۲۲) ، کتاب الطهارة ، مطلب یوم عرفة افضل من یوم الجمعة ط رشیدیه.

(ب) مستعملې اوبه دصحیح مذهب سره سمې پاکې دي اوپرکوم ځای چي مردارې پرېمنځل شوه هغه ځای هم داوبوپه بهېدوسره پاک شونوپه غسل خانوکي دداسي اوبوکېدل باعث دنجاست نه دی اوکله چي دااوبه مرداري نه دي نودپښونداپاکه کېدوهم کومه وجه نشته اماغوره دادی چي دباندي راشي بیاپرپښواوبه تیري کړي په پخوغسل خانوکي خوپه خصوصیت سره داهیڅ پروانلري قال الدرالمختار[فلایؤخرقدمیه ولوفی مجمع الماء لماان المعتمد طهارة الماء المستعمل علی انه لایوصف بالاستعمال الابعدانفصاله عن کل البدن الخ (۱) فقط.

نامسلمان هم مسجدته ورننوتلای شي

سوال: (۸) یومشرک یایهودي یاعیسوی سړی ومسجدته دلمانځه پروخت په عاجزي سره دمسلمانانوسره دلمونځ کولولپاره راځي زیدهغه منع کوي بکردزیدخلا ف دی کله چي له دغه سړی څخه پوښتنه کوي چي ته په مذهب څوک یې نودی خپل کوم مذهب نه ښیې صرف داوایې چي زه خودالله عاشق یم تاسوماولې منع کوئ ؟ پرکوم بل ځای عمرله ده څخه پوښتنه وکړه نوده وویل چي زه مسلمان یم زیددخپلې خبرې په ثبوت کي داآیت : [انماالمشرکون نجس] پیشوي بکرده ته په جواب کي وایې چي داآیت خوصرف دمسجدحرام په هکله دی پردې زیدپربکردکفرفتوی لګوي آیادغه سړی یابل کوم مشرک ومسجدته ورداخلېدای شي ؟ اوپه جماعت کي برخه اخستلای شي ، که نه ؟ دزیدپربکرد کفرفتوی لګول شرعًا څه حکم لري ؟ (۱۴۲۵/ ۱۳۴۳هج)

ځواب: په درمختارکتاب الحظروالاباحة کي راغلي دي : وجازدخول الذمی مسجدًا مطلقًا وکرهه مالک مطلقًاوکرهه محمدوالشافعی واحمدفی المسجد الحرام الخ] (۲) له دغه روایت څخه معلوم شوچي ذمي اونامسلمان هم مسجدته راتلای شي اودکوم سړی یادونه چي په پوښتنه کي شوې ده کله چي دی خپل ځان مسلمان نښيې نوپرده بدګماني کول یادده دحال.نه معلومېدوپه وجه ده ته کافرنشي ویلای اودی ومسجدته له راتګ اوپه جماعت کي له برخه اخستوڅخه نشي منع کېدای بلکي په شامی کي لیکلې دي

(۱) الدرالمختارمع الشامی(۱/ ۱۱۲) ، کتاب الطهارة مطلب: سنن الغسل ط رشیدیه

(۲) الدرالمختارمع الشامی(۵/ ۲۷۴) ، کتاب الحظروالاباحة فصل فی البیع ط رشیدیه.

[اعلم ان الاسلام یکون بالفعل ایضًاکالصلوة بجماعة اوالاقراربهااوالاذان فی بعض المساجدالخ (۱) له دغه روایت څخه معلوم شوچي ددغه سړی سره لمونځ کول دده دمسلمان کېدودلیل دی اودآیت [انماالمشرکون نجس] (سورة توبه آیت : ۲۸) په تفسیرکې ډېرتفصیل دی اومسجد حرام ته په نژدي نه ورتلوکې هم ډېرتفصیل دی په بیان شوې آیت سره مطلقًاومسجدته دداخلېدوپرناجائزوالې دلیل نیول صحیح نه دی نودزیدوعمر ته کافرویل اودحال له معلومولوپرته دکفرفتوی ورباندي لګول صحیح نه دی فقط.

هندوان ومسجدته بېول اوتقریرپه کول

سوال : (۹) ومسجدته هندوان بېول اوپه دوئ تقریرکول اودمسلمانانولپاره ددوئ تقریراورېدل جائزدی ، که نه ؟ (۲۸/ ۱۳۴۰هج)

ځواب : په درمختارکې راغلې دي : [وجازدخول الذمی مسجدًامطلقًا] (۲) له دې څخه معلوم شوچي دکافرومسجدته ورننوتل صحیح دي اوتقریرکول هم جائزدي په تېره بیاچي هغه دمسلمانانوپه مرسته کې وي اودحق اسلامي خلافت په مرسته کې وي لکه چي زیاتره هندوان داسي کوي اوداغیبي امداددی کوم چي الله رب العزت دکفاروپه وسېله مسلمانانوته رسوي په حدیث شریف کې راغلې دي : [ان الله لیؤیدهذاالدین بالرجل الفاجر(۳)] نولکه څرنګه چي په فاجرسړی سره ددین تائید کیدای شي په کافرسره هم کیدای شي فقط.

(۱) الشامی (۳/ ۳۱۲) ، کتاب الجهاد ، مطلب الاسلام یکون بالفعل کالصلوة بجماعة ط رشیدیه.

(۲) الدرالمختارمع ردالمختار(۵/ ۲۷۴) ، کتاب الحظروالاباحة فصل فی البیع ط رشیدیه.

(۳) عن ابی هریرة رضی الله عنه قال شهدنامع رسول الله ☐ خیبرفقال: رسول الله ☐ لرجل ممن معه یدعی الاسلام هذامن اهل النارفلماحضرالقتال قاتل الرجل من اشدالقتال فکثرت به الجراح فاثبتته فجاء رجل من اصحاب النبی ☐ فقال یارسول الله ☐ أرأیت الذی تحدث انه من اهل النارقد قاتل فی سبیل الله من اشدالقتال فکثرت به الجراح ؟ فقال النبی ☐ اماانه من اهل النارفکاد بعض المسلمین یرتاب فبیناهم علی ذلک اذوجدالرجل الم الجراح فأهوی بیده الی کنانته فانتزع منهاسهمافانتحربه فاشتدرجال من المسلمین الی رسول الله ☐ فقالوا: یارسو ل الله ☐ صدق الله حدیثک قدانتحرفلان فقتل نفسه فقال رسول الله ☐ یابلا ل قم فأذن لایدخل الجنة الامؤمن فان(وفی نسخة وانّ) الله لیؤیدهذاالدین بارجل=

دنامسلمان ومسجدته راتلل اونصېحت اورېدل

سوال : (۱۰) (الف) نامسلمان لکه یهودی ، عیسوی اونورمسجدونو ته دننه ورتلای شي ، که نه ؟
(ب) نامسلمان و مسجدته دمسلمانانو دنصېحت اورېدو په غرض راتلای شي اوکه نه ؟ (۳۱/ ۱۳۴۰هج)

ځواب : (الف ، ب) دکفارو ومسجدته راتلل اونصېحتونه اورېدل صحیح دي فقط.

ومسجدته دیهودواونصاری راتلل / اوطالبانوته انعامونه وروېشل

سوال : (۱۱) (الف) ومسجدته دیهودواونصاری داخلېدل جائزدي ، که نه ؟ (ب)په مسجدکې وطالبانوته انعامونه وېشل صحیح دي ، که نه ؟
(ج) دمسجدمتولي په مسجدکې مسلمانان له نصېحت ، میلاد ، اوانعامونو وېشلو څخه منع کولای شي ، که نه ؟
(د) په پورته یادشویو کارونوکې دمسجدله متولي څخه اجازه اخستل ضروري دی ، که نه ؟ (۵۵۵/ ۳۲ - ۱۳۳۳هج)

ځواب : (الف) په حنفي کتابونوکې دایادونه شته وجازدخول الذمی مسجدًامطلقًاوکرهه مالک مطلقاوکرهه محمدوالشافعی واحمدفی المسجد الحرام الخ] (۱) (درمختار) نومعلوم شوچي داحنافوپه نزدیهودواونصاری ومسجدته ورتلل صحیح دي.
(ب) صحیح دی (ج) نصېحت اونورپه مسجدکې صحیح دی ، دمېلادمجلس که بدعات پکي نه وي نو جائزدی کنې منع دی.
(د) کوم کارونه چي شرعًا صحیح دی په هغوئ کې دمتولی واجازې ته اړتیا نشته فقط.

= الفاجر(الجامع الصحیح للبخاری ۲/ ۹۷۷ ، کتاب القدر ، باب العلم بالخواتیم)

(۱) الدرالمختارمع الشامی (۵/ ۲۷۴) ، کتاب الحظروالاباحة فصل فی البیع ط رشیدیه.

مسلمان ښځې ومسجدته له راتګ څخه منع کول اوده دګټې حکم

سوال: (۱۲) یو جارو کښ مسلمان شو ،دی دغټو بولو پا کولو کار کوي که مسجد ته دلمانځه کولو لپاره راشي نو مسجد ته یې پرېږدو ،که نه ؟ اوده دګټې مېلمستیا خوړل یا په مسجد کې لګول صحیح دي اوکه نه ؟ له حدیث کسب الحجام خبیث دا خبره معلومېږي چې دبنګې ګټه هم له خباثت څخه خلاصه نه ده (۳۹/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

ځواب: دی له مسجد څخه منع کول صحیح نه دي اومنع کوونکی دومن اظلم ممن منع مساجد الله ان یذکر فیها اسمه الاية (سورة بقره آیت: ۱۱۴) ترحکم لاندي دی اوده دګټې میلمستیا خوړل اود مسجد په ودانولو کې خرڅول صحیح دي اود کسب الحجام خبیث په حدیث دناجائزوالي دلیل نیول صحیح نه دي ځکه چې هغه منسوخ یامؤول دی [وعن ابن عباس رضی الله عنهما ان النبی ﷺ احتجم فاعطی الحجام اجره] الحدیث رواه البخاری ومسلم (۱) که دحجام اجرت ناروا وای نو پخپله رسول الله ﷺ ولی ورکاوو؟ اوښکاره ده چې درسول الله ﷺ له زمانې څخه تراوسه په عربو اونورو کې پرلپسې داپېشه راروانه ده اوعملي ده اوچاپردې انکارنه دی کړی اوددې اجرت یې حرام اوخبیث نه دی بللی دابله خبره ده چې ځیني دندې سپکې اوذلت وي خوپه هغه سره داجرت حرام والې اوخبیث والی نه لازمېږي.

سلفیان داحنافو ومسجدته له راتګ څخه منع کول

سوال: (۱۳) دسلفیانو محبت کول اودوئ خپل مسجد ته راپرېښوول صحیح دي ،که نه ؟ اوداسي خلک زیاتره مسجدته راشي ددین په اړه بې ځایه خبرې کوي فتنه اوفساد خوروي اوس څه حکم دی ؟ (۱۸۹۳/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

ځواب: کوم سلفي چې داحنافو مسجدته دلمانځه کولو لپاره راځي هغه مه منع کوئ خودده خبرې چې داحنافو خلاف وي هغه مه منئ دده په لمونځ کولو دکوم حنفي ولمانځه

(۱) عن ابن عباس رضی الله عنهما ان النبی ﷺ احتجم فاعطی الحجـ جره واستعط متفق علیه (مشکوة ص: ۲۵۸، باب الاجارة).

ته څه تاوان نه رسیږي اماله فساد جوړولو څخه دې منع کړل شي فقط والله تعالی اعلم.

دمسجدله څاه څخه هندواومسلمان اوبه ډکولای شي ،که نه

سوال: (۱۴) کوم څاه چې دمسجد په حدودو کې دننه واقع وي له هغه څخه په عامه توګه هندوان اومسلمانان اوبه وړلای شي ،که نه ؟ جوړوونکی منع کولای شي ،که نه ؟ اودمسجد په غسل خانو کې هرسړی لمونځ کوونکی اوبې لمانځه غسل کولای شي ،که نه ؟ (۱۳۴۰/۱۹۰۴هج)

ځواب: دمسجدله دغه څاه څخه اوبه ډکولای شي اودڅاه جوړوونکې لپاره دمنع کولو هیڅ حق نشته اوپه غسل خانه کې ټول استنجاء اودس ،غسل اونور کولای شي فقط.

لوڅې پښې ګرځېدوونکی نامسلمان چې فرض یې هم لوڅ وي که مسجدته ورداخل شي

سوال: (۱۵) یو کافر سړی چې لوڅې پښې ګرځي اوفرض یې هم ښکاره دي هغه مسجد ته ورداخلېدای شي ،که نه ؟ (۱۷۹۵/ ۱۳۴۳هج)

ځواب: دکافرو مسجدته ورداخلیدل که څه هم داحنافو په نزد صحیح دی لکه چې په درمختارکې راغلې دي: [وجازدخول الذمی مسجداً مطلقًا وکرهه محمد و الشافعی واحمد رحمهم الله فی المسجد الحرام الخ] (۱) خو په ښکاره فرض (عورت) سره دکافرو مسجدته ورداخلېدل صحیح نه دی ددې وده ته اجازه مه کوئ فقط.

شیعه زمونږ ومسجدته له ننوتلو څخه منع کول

سوال: (۱۲) شیعه زمونږ په مسجدونو کې دمېلاد په مجلس کې برخه اخستلای شي ،که نه ؟ په دې اړه جګړه روانه ده چې په لرګیو پیره ورکول کیږي چې له سنیانو پرته به بل څوک مسجدته نه ننوزي ؟ (۷۱۷/ ۱۳۴۲هج)

(۱) الدرالمختار مع الشامی (۵/ ۲۷۴)، کتاب الحظر والاباحة فصل فی البیع ط رشیدیه.

ځواب: جنګ ،جګړه کول خوښه نه دي خو په حکمت اونرمۍ سره داسي انتظام وکړي چي دسنیانو مسجدونو ته شیعه ګان رانشي ،ځکه چي له دغې ډلې څخه یومخ ببلوالی مناسب دی اوددوئ سره دسنیانولپاره اړیکي ساتل جائزنه دی ،ځکه چي کله دوئ زموږددین مشرانوصحابه کراماوراشده خلفاء رضی الله عنهم اجمعین ته بدوایي اوښکنځل ورته کوي بلکي دوئ مسلمانان هم نه بولي نوزموږد اسلامي غیرت داتقاضانه ده چي موږله دوئ سره یوون اواړیکي وساتوالحیاء شعبة من الایمان په حدیث شریف کې راغلې دي(۱)

نوداډیره دبې حیایۍ خبره ده چي کوم خلک زموږمشرانواورسول الله ﷺ ځای ناستواوداسلام څېرووںکوسره داسي عقیده ساتي چي هغوئ معاذالله ددین دښمنان دي اومسلمانان نه وواومنافقان اوکافران وونوراونوربیاموږدداسي خلکوسره په خوشحالۍ یوځای کیږواودوئ له ځان سره په خوراک ،ځینباک کې شریکوي یاله دوئ سره دنکاح اوخپلوۍ اړیکي ساتوپه حدیث شریف کې دداسي ډلوپه اړه داراغلي دي چي له دوئ سره ناسته مه کوئ ،له دوئ سره دنکاح تړون مه ساتئ(۲) اوداهم په حدیث شریف کې راغلې دي چي پردغو خلکو باندي لعنت شوی دی(۳) اوکه الله رب العزت دوئ مسخ کړي ،بیزوګیان اوخنزیران ځیني جوړکړي نوعجبه نه ده (۴) اوالله رب العزت ددوئ زړونه مسخ کړي دي نوله دوئ سره هرډول بېلوالی اوپرهیزکول لازم دي فقط.

(۱۰) عن ابی هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ الایمان بضع وسبعون شعبة فافضلهاقول لااله الاالله وادناهااماطة الاذی عن الطریق والحیاء شعبة من الایمان متفق علیه (مشکوة المصابیح ص: ۱۲، کتاب الایمان)
(۲) وعن عمررضی الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: لاتجالسوااهل القدرولاتفاتحوهم (ابوداؤدص: ۲۴۹، کتاب السنة ،باب فی ذراری المشرکین)
(۳) عن عائشة رضی الله عنها قالت: قال رسول الله ﷺ لاتسبوااصحابی لعن الله من سبّ اصحابی (المعجم الاوسط للطبرانی ۳/۳۳۶، باب العین من اسمه عبدالرحمن بن الحسین الصابونی رقم الحدیث: ۴۷۷۱المطبوعة دارالفکر عمان الاردن)
(۴) عن نافع ان رجلا اتی ابن عمررضی الله عنهما فقال: ان فلانًا یقرأ علیک السلام فقال: انه بلغنی انه قداحدث فان کان قداحدث فلاتقرئه منی السلام فانی سمعت رسول الله ﷺ یقول یکون فی امتی اوفی هذه الامة خسف ومسخ اوقذف فی اهل القدررواه الترمذی وابوداؤد-

زیان رسوونکی سړی ومسجدته له راتګ څخه منع کول

سوال: (۱۷) دوه دري کسان یوه مسجدته دلمانځه لپاره راځي فتنه اوفساداوبې اتفاقي پیداکوي آیاداسي فسادیان ومسجدته له راتګ څخه منع کول روادي ،که نه ؟ (۲۴۷۵/ ۱۳۴۱هج)

ځواب: کوم سړی چي واقعاشریراوزیان رسوونکی وي مسجدوالا هغه له مسجد څخه منع کولای شي په دې شرط چي کومه فتنه اوفسادنه جوړیږي فقط.

دنا اباد مسجدخدمت ثواب

سوال: (۱۸) دشاه محمددیوان رحمه الله له مزارسره دده جوړکړی یومسجدله منګلورپیرڅخه دیومیل پرواټن واقع دی کوم چي مات شوی اونړېدلی وواود پوالونه یې هم څه ناڅه نړېدلي ووخواوس یې ترمیم شوی دی خومنبرپکي نه شوجوړپه دې مسجدکې نه اذان کیږي اونه جماعت اماله زیارت کوونکوڅخه کله یوڅوک پکي لمونځ وکړي نوآیااوس دې ته دمسجدحکم ورکول کیدای شي اودده درناوي اوآبادول دمسجدپه څېرپکاردی ،که نه ؟کوم ثواب چي دمسجدپه خدمت جاروهلواونوروکې دی هغه رنګه ثواب ددغه مسجدپه خدمت کولوهم حاصلیږي ،که نه ؟ (۲۵۹۷/ ۱۳۳۷هج)

ځواب: ددې مسجدحکم دمسجددی اودرناوی یې دمسجدونوپه څېرکول پکاردی اوکوم ثواب چي دنورومسجدونوپه خدمت کې وي دده په خدمت کې هم شته.

دمسجدتعمیرپه مسلمان معمارکول غوره دي که په هندو

سوال: (۱۹) دمسجدودانولولپاره هندواومسلمان معماران سره برابردي که په دواړوکې فرق شته ؟عمروایې

-وابن ماجه وقال الترمذی: هذاحدیث حسن صحیح غریب (مشکوة المصابیح ص: ۲۳، کتاب الایمان بالقدر)
وعن ابن عمررضی الله عنهما عن النبی ﷺ قال: القدریة مجوس هذه الامة ان مرضوافلاتعودوهم وان ماتوافلاتشهدوهم (ابوداؤدص: ۶۴۴، کتاب السنة ،باب فی القدر)

چي که معمار مسلمان لمونځ کوونکی وي نو هغه تر هندو غوره دی زید وایې چي هندوان او مسلمانان ټول سره برابر دي بلکي هندوان غوره دي آیا د مسجد تعمیر په هندوانو کېدای شي ؟ او د زید دا خبره تر کومه صحیح ده چي هندو غوره دی ؟ (۱۳۵۲/ ۴۴-۱۳۴۵هج)

ځواب : په هندو معمارانو او مزدورانو هم د مسجد د تعمیر او نور کار کول جائز دي ، ځکه نو زیاتره په هندوانو د مسجد د تعمیر کار کیږي خو په دې کي هیڅ شک نشته چي په مسلمانانو په تېره بیا د لمانځ او روژو په پابند مسلمانانو د مسجد د تعمیر کار کول غوره او افضله دی په تیره بیا چي مسلمانان د تعمیر په کار بلد وي او کار زیات او بنه کوي عمر چي کوم نصیحت دوئ ته وکړ هغه صحیح دی زید چي کومې خبرې ورته وکړي هغه بې ځایه او ناجائزدی د زید دا زیاتوب دی او زید په دغه خبرو او فعل کي پر خطاء دی ګنهګار او فاسق سو باید توبه وکاږي دا خبره دده چي د هندوانو او مسلمانانو تر مینځ هیڅ توپیر نشته بلکي هندوان غوره دی داراز ځیني نورې خبرې دده په ځیني اعتبار د کفر خبرې دي خو کله چي د تاویل امکان شته ، ځکه د کفر فتوی نه ور کول کیږي په هر حال د زید په فسق کیدو کې هیڅ شک نشته فقط.

سودخور د مسجد خدمت کولای شي

سوال : (۲) یو سړی د مسجد کار کوي او دی سود اخلي نو په ده د مسجد کار کوو ، که نه ؟ (۴۲۸/ ۱۳۴۱هج)

ځواب: دا هیڅ پروا نلري چي دا سړی د مسجد کار و کړي د مسجد خدمت د ثواب کار دی له دې څخه دی ولی بې برخې کوئ فقط.

د زاړه مسجد د ښائسته کولو په وجه بل مسجد جوړول

سوال : (۲۱) په ډېروګړه کي یو پخوانی مسجد وو چي ځای والو خلکو جوړ کړ او ښائسته او نقشونه یې هم پکي وکړل د ننه یې څه ګلان هم پکي جوړ کړل زید دا حکم ورکړ چي په دې کي لمونځ صحیح نه دی تر څو چي دغه ګلان وران نکړل شي چي دا یې نتیجه شوه چي د مسلمانانو تر مینځ فساد ، جګړه ،

او خواشني جوړه شوه د زید ملګرو چي کله ماته و خوړه نو دوئ یو بل مسجد جوړول شروع کړ پر خبرېدو څه خلکو ډېرې زارۍ دوئ ته وکړې چي تاسو نوی مسجد مه جوړوئ بلکي پخوانی مسجد چي څرنګه تاسو غواړۍ پخپل انتظام کې یې واخلئ د مخکې په څیر پکي لمونځونه کوئ او ګلان د شرعې په خلاف دي نو د ثابتیدو په شرط یې وران کړئ خو چا یې خبره وانه اورېده نوی مسجد یې جوړ کړ په هغه کې د جمعې ، اخترونو او پنځه لمونځونه م پیل کړل او س د جوړوونکو په اړه شرعًا څه حکم دی ؟ او دغه نوی مسجد د ضرار مسجد په حکم دی ، که نه ؟ او کوم سړی چي عالم وي بیا هم په شریعت کې لاسوهنه کوي او د مسلمانانو په ډله کې بېلوالی راولي او خلکو ته د شرعي په خلاف مسئلې ور ښیې دده امامت او نور صحیح دی ، که نه ؟ (۲۷۹۷/ ۱۳۴۳هج)

ځواب : د مسجد ښائسته کول په تېره بیا د قبلې و طرفته دیوال او محراب په مسجد کې نقشونه که څه هم فقهاؤ رحمهم الله ښه نه دی بللی لکه چي د فقهې د کتابونو له عبارت څخه څرګندیږي خو دا خبره داسي نه ده چي ددې په وجه په دغه مسجد کې د لمونځ د نه صحیح کېدو فتوی ورکول شي او دی ته حرام وویل شي او دغه سختې ، غلطي او ناپوهي به د فتوی ورکوونکې وي په درمختار کې راغلې دي : [ولابأس بنقشه خلا محرابه فانه یکره لانه یلهی المصلی ویکره التکلف بدقائق النقوش ونحوها خصوصًا فی جدار القبلة قاله الحلبی الخ] (۱) نو ښکاره ده چي صرف په دغه وجه چي دغه مسجد ښائسته او نقش داره کړل شو په دغه مسجد کې لمونځ کول ته حرام وویل شي او په دغه مسجد کې لمونځ کول پر ېښودل شي او جګړه او فساد جوړ کړل شي او بیا بېله اړتیا بل مسجد جوړ کړل شي چي ورڅخه مخکې مسجد ته تاوان ورسیږي او د مسلمانانو تر مینځ بېلوالی راشي په هیڅ ډول جائز نه دی او زید په دغه فعل کې ښکاره پر خطا دی په تفسیر احمدی او نورو کې رانقل شوې دي چي حضرت عمر رضی الله عنه وویل چي په یوه ښار کې دوه مسجدونه دا ډول مه جوړوئ چي دیو بل لپاره د ضرر باعث وي او په حدیثو کې راغلې دي چي دویاړ او نامه په غرض مسجد جوړول د قیامت علامه ده او دا کار بد او ناوړه بلل شوی دی وعن انس رضی الله عنه [قال: قال رسول الله ﷺ ان من اشراط الساعة ان یتباهی الناس فی المساجد] (۲) قال صاحب المدارک وقیل کل مسجد بنی مباهاة اوریاءً اوسمعة اولغرض سوی ابتغاء وجه الله تعالی اوبمال غیر طیب فهو لاحق لمسجد الضرار وهذ الفظه اخذ

(۱) الشامی (۱/ ۴۸۷)، کتاب الصلوة ، مطلب کلمة لابأس دلیل علی ان المستحب غیره ط رشیدیه.

(۲) مشکوة المصابیح ص: ۲۹، کتاب الصلوة ، باب المساجد ومواضع الصلوة.

ذلک عن الکشاف وقال صاحب الکشاف وعن عطاء لمافتح الله الامصارعلی عمررضی الله عنه امرالمسلمین ان یبنوا المساجدوا ن لایتخذوافی مدینة مسجدین یضاراحدهما صاحبه هذالفظه فالعجب من المشائخ المتعصبین فی زماننایبنون فی کل ناحیة مساجد طلبًا للانم والرسم واستعلاءً لشأنهم واقتداءً لآبا ئهم ولم یتأملوامافی هذه الایة والقصة من شناعة حالهم وسوء منالهم الخ] (۱) (تفسیراحمدی)

نوله موصوف اوبیان شوې روایت څخه معلوم شوچې دنامه اوفخراوضداونفس په وجه مسجدجوړول داجراوثواب باعث نه دی بلکې دوبال اوعذاب باعث دی اوکوم ثواب چې دمسجدجوړولود [من بنی لله مسجدًا بنی الله له بیتًافی الجنة] (۲) په حکم راغلې دی هغه دده لپار ه نشته خوله دې څخه دانه دي ګټل پکارچې دکوم مسلمان جوړکړې مسجدپه دې ګمان چې جوړوونکی دادنامه ،ضداونفس په وجه جوړکړی دی داونړوي اوضرارمسجدپه حکم کې یې وبولي دنړولواوپه دې ځای کې دانبارغورځولوحکم ورباندي وکړي کوم چې داصل ضرارمسجدحکم وو،څکه دهغه مسجدکفرًا ،ضرارًا اوتفریقابین المؤمنین لپاره جوړول په قطعي نص سره ثابت شواوداخبره دکوم مسلمان په اړه یقیني نشي کیدای بلکې پرمسلمانانوباندي له داډول ګمانونوچلولوڅخه دپرهیزکولوحکم راغلی دی [یاایهاالذین آمنوا اجتنبوا کثیرامن الظن ان بعض الظن اثم] (سورة حجرات آیت: ۱۲] وقال علیه الصلوة والسلام [انماالاعمال بالنیات وانمالکل امرئ مانوی] (الحدیث) (۳) اودچادنیت حال بل ته په صحیح معنی نشي معلومیدای کماوردهلاشققت عن قلبه (۴) لنده داچې په دې اړه دحضرت عمررضی الله عنه

(۱) التفسیرات الاحمدیة ص: ۴۷۸- پاره ۱۱ آیت: ۱۰۸.

(۲) عن عثمان رضی الله تعالی عنه قال: قال رسول الله ﷺ من بنی لله مسجدًا بنی الله له بیتًا فی الجنة (مشکوة المصابیح ص: ۶۸، باب المساجدومواضع الصلوة)

- ۳ صحیح البخاری ۲/۱ باب کیف کان بدء الوحی.)

(۴) عن اسامة بن زیدرضی الله عنه قال: بعثنارسول الله ﷺ الی اناس من جهینة فاتیت علی رجل منهم فذهبت اطعنه فقال: لااله الاالله فطعنته فقتلته فجئت الی النبی ﷺ فاخبرته فقال: اقتلته وقد شهدان لااله الاالله قلت یارسول الله ﷺ انمافعل ذلک تعوذًا قال: فهلا شققت عن قلبه متفق علیه (مشکوة ص: ۲۹۹، کتاب القصاص ،الفصل الاول)

له وینا سره سم دومره ویل کېدای شي چې کوم مسلمان دې دضرار اوبېلتون راوستوپه غرض مسجدنه جوړوي اودفخراونامه لپاره دې نه جوړوي که ده داسې وکړل نودثواب حقدارنه دی بلکې پرده به وبال اوعذاب وي نوردا حکم کول پرکوم خاص مسجدنه صحیح کیږي چې دغه مسجددنامه ،فخراوفاسد غرض لپاره جوړشوی دی اودامسجدضرار دی اونړول یې واجب دي ،څکه چې لکه څرنګه چې دمسجدوجوړوونکې ته داحکم دی چې دی دې دفخر،نامه دضرررسولواودمؤمنانوترمینځ دبیلتون راوستوپه غرض مسجدنه جوړوي دارازونوروته پرکوم مسلمان باندې دبدګماني کولوڅخه منع کړی ده [ایاکم والظن فان الظن اکذب الحدیث] (۱) اوکوم سړی چې سره له دې چې عالم وي ضداونفس په وجه دمسلمانانوترمینځ دبېلوالي راوستوباعث وي اوغلطې مسئلې بیانوي اوپردې باندي تینګارکوي هغه ګنهګاراوپرخطادی امامت دده مکروه دی.

په مسجدکې نقشونه جوړول

سوال: (۲۲) په مسجدکې نقشونه جوړول جائزدي ،که نه ؟ (۴۸/ ۳۵- ۱۳۳۶هج

ځواب: پخپل حلال مال سره له محراب پرته نقشونه کولای شي کمافی الدرالمختار[ولابأس بنقشه خلامحرابه بجص وماء ذهب لوبماله الحلا ل الخ] (۲) فقط.

په بېلابېلو رنګونو دمسجدرنګول

سوال: (۲۳) په بېلابېلو رنګونو دمسجدونورنګول جائزدي ،که نه ؟ اوپه رنګونوکې شراب خاماخاګډوي اولمونځ په دغه کې کیږي ،که نه ؟(۳۹۲/۴۴- ۱۳۴۵هج)

ځواب: په درمختارکې راغلې دي : [ولابأ س بنقشه خلامحرابه الخ بجص وماء ذهب لوبماله الحلا ل الخ] (۲) یعني دمسجدله محراب څخه پرته بلکې دقبلې دطرف له دېوال پرته په مسجدکې دسروزرودااوبو،چوني اونوروکارول صحیح دي که پخپل حلا ل مال سره وي بیااوایې: [ویکره التکلف بدقائق النقوش ونحوهاخصوصًا فی

(۱) عن ابی هریرة رضی الله عنه ان رسول الله ﷺ قال ایاکم والظن فان الظن اکذب الحدیث (جامع الترمذی ۲/ ۱۹، باب ماجاء فی ظن السوء)

(۲) الدرالمختارمع الشامی (۴۸۷/۱) ،کتاب الصلوة مطلب کلمة لابأس دلیل علی ان المستحب غیره ط رشیدیه.

جدارالقبلة (۱) ددې حاصل دادی: چې دنقشونو جوړولو تکلف په مسجد کې کول مکروه دي په تېره بیادقبلې دلورپردېوال باندې نوکله چې مطلقًا نقشونه کول مکروه دي نوبیاکله چې دشرابو وربانديې شبه وي کوم چې نجس دي نوپه اولی درجه به مکروه وي له دې څخه پرهیزکول لازم دي اولمونځ کیږي فقط.

دحرمینوشریفینو، مسجداقصی اومزارونونقشې په مسجدکې راځړول

سوال: (۲۴) دحرمینوشریفینو، مسجداقصی اوداهل بیتودزیارتونونقشې په مسجدکې ښوول جائزدي، که نه؟ (۱۱۸۷/ ۱۳۳۷هج)

ځواب: دقبلې وطرفته پردیوال باندې داډول نقشې اونورځړول اونښلول ښه نه دي یعنی تنزیهي مکروه دي، ځکه که دلمونځ کوونکې فکرپه دې سره دې طرفته ولاړشي نولیري نه ده چې دخشوع اوخضوع دختمېدوباعث به شي اوپه لمانځه کې خشوع اوخضوع ضروري ده په درمختارکې راغلې دي [ولابأس بنقشه خلا محرابه فانه یکره (ای تنزیها) لانه یلهی المصلی ویکره التکلف بدقائق النقوش ونحوهاخصوصًا فی جدارالقبلة قاله الحلبی وظاهره ان المراد بالمحراب جدارالقبلة فلیحفظ] (۲)

دمسجدپردېوالونودقرانکریم ایتونه اوکلمه راځړول

سوال: (۲۵) په مسجد کې دننه دقبلې وطرفته پردېوال باندې یاپه څلوروطرفو نوباندې په زرینوحروفوباندې دقرآنکریم آیتونه لیکل یادمکې شریفې یانبوي مسجدعکسونه راځړول یادمسجدپه غولې کې تمباکو، سګریټ څکول څرنګه دي (۱۸۲۵/ ۱۳۳۷هج)

ځواب: په درمختارکې راغلې دي: [ولابأس بنقشه خلا محرابه فانه یکره لانه یلهی المصلی ویکره التکلف بدقائق النقوش ونحوهاخصوصًا فی جدارالقبلة بجص وماء ذهب لوبماله الحلا ل لامن مال الوقف فانه حرام الخ] (۳) له دغه روایت څخه معلوم شوچې که کوم سړی پخپل

(۱) مخکنی حواله.

(۲) الدرمع الرد(۱/ ۴۸۷)، کتاب الصلوة، مطلب کلمة لابأس دلیل علی ان المستحب غیره ط رشیدیه.
(۳) الدرمع الرد(۱/ ۴۸۷)، کتاب الصلوة، مطلب کلمة لابأس الخ ط رشیدیه.

حلا ل مال په مسجد کې دقبلې له دیوال پرته ګلکاري کول غواړي نوجائزدی خو دا ښه نه دی اودقبلې دلورپه دېوال کې په ګلکاري اونورو کولودلمونځ کوونکې فکرپکې بندیږي اوخشوع ته تاوان کوي نودقبلې دلورپه دیوال کې نه دي کول پکاراودوقف په مال باندې کول حرام دي اوپه مسجد کې سګریټ یاتمباکوڅکول صحیح نه دي، په مسجد کې داسې تکلفات کول چې ورڅخه په خشوع اوخضوع (عاجزي) کې تاوان پیښ شي مناسب نه دي خولمونځ کیږی فقط.

سوال: (۲۶) (الف) دمسجد پردېوالونو کلمه دقرآنکریم آیتونه اونورراځړول څرنګه دي؟
(ب) دقبلې وطرفته پردیوال باندی په مسجد کې کلمه اونورکه وي نوهغه ته مخامخ لمونځ کول څرنګه دي؟ (۲۴۳/ ۴۴-۱۳۴۵هج)

ځواب: (الف) قال فی فتح القدیر[تکره کتابة القرآن واسماء الله تعالی علی الدراهم والمحاریب والجدران الخ] (۱) له دې څخه معلوم شوچې داصورت مکروه دی.
(ب) لمونځ کیږي خوداسې کول مکروه دي لکه چې پورته ولیکل شو.

په مسجدکې لوحه لګول

سوال: (۲۷) په مسجد کې لوحه چې تاریخ اونورورباندې ولیکي لګول خوبه کومه پروانلري؟ لوحه یوپراخ لفظ دی دکوم، کوم شی اجازه شته؟ (۱۳۳۹/ ۱۳۳۷هج)

ځواب: په لوحه کې دي قرآن اوحدیث نه وي ددې اوتاریخ اونورپکې لیکل جائزدي اوچې پکې آیت اونوروي راځړول یې ناجائزدي په شامي کې راغلې دي [ولاینبغی الکتابة علی جدرانه ای خوفًا من ان تسقط وتوطأ بحرعن النهایة] (۲) فقط.

سوال: (۲۸) دواتیاکاله کیږي چې یومسجدجوړشوی دی اوس په دې کې یوسړی دمسکېنانودزړونودآزارولوپه غرض داډېره لګوي چې دامسجدزما پلارجوړکړی دی داعمل دده صحیح دی، که نه؟ (۱۳۲۷/ ۴۲-۱۳۴۷هج)

(۱) فتح القدیر۱/ ۱۵۰، کتاب الطهارات باب الحیض والاستحاضة.
(۲) الشامی(۱/ ۴۹۰)، کتاب الصلوة، مطلب فیمن سبقت یده الی مباح ط رشیدیه.

ځواب: که دامسجد په رشتیادده پلاراونیکه جوړکړی دی یابې په جوړولوکې برخه لرې نوددغه مضمون په لوحه لګولوکې چي دکوم واقعیت څرګندونه ده هیڅ پروانشته دمسجد دجوړوونکې دنوم لوحه لګول یومتعارف عمل دی په دې کې دعاموخلګو دزهیر بدوکومه وجه نشته. فقط.

سوال: (۲۹) جوړوونکی خپل نوم دمسجد مینځ پردروازه لیکلی دی داخوبه کومه پروانلري؟ (۸۰۷/ ۱۳۴۰هج)

ځواب: دجوړوونکې په نوم لیکلو دده ومسجد کېدوته هیڅ تاوان نه پیښیږي.

دمسجدپردېوالونویاغوث اعظم دستګیرلیکل

سوال: (۳۰) بکردمسجد پردېوالونویاغوث اعظم دستګیرلیکي داصحیح دی، که نه؟ (۲۲۲/ ۱۳۳۸هج)

ځواب: صحیح نه دی (۱) فقط.

دمسجدپردېوال که یاالله اویامحمدلیکلی وي نوڅه به کوي

سوال: (۳۱) دمسجد په محراب کې یاالله، یامحمد لیکلی ووعمرهغه راوا ړول خاوره بل ځای په احتیاط سره کښیښوو په ده په دې صورت کې کومه ګناه خوبه نه وي؟ (۱۲۲۳/ ۱۳۴۱هج)

ځواب: صرف لفظ دیاله یامحمد څخه راګرول بس دي اوددې یاپرځای □ ولیکي ترڅوددرودویلو اولیکلو ثواب حاصل شي.

دمخکني متولي دعزلولووجه لیکلی په مسجدکې راځړول

سوال: (۳۲) یومسجد دزوړوالې له امله بیاله نوې سره تعمیرکړل شودهغه دقبلې دلورپردېوال باندې یوه ډبره ولګوله چي پکې دمسجد حالات اودخیانت په وجه دمخکني متولي عزلول اودجوړوونکې

(۱) غوث: مرسته کوونکی، اعظم ترټولولوی غوث اعظم ترټولولوی مرسته کوونکی الله رب العزت دی له هغه پرته هیڅوک غوث الاعظم نشي کیدای دارازدستګیرلاس نیوونکی یعنی دبې وزلووزله کوونکی هم له الله رب العزت پرته هیڅوک نشته، څکه دالیکل جائزنه دي، څکه چي ناپوهان دالله له شان غوث اعظم دستګیرڅخه حضرت شیخ عبدالقادرجیلانی قدس سره مراداخلي سعیداحمدپالنپوري.

نوم اونورلیکلي دي.

زیدوایي: چي په څوجوسره داسي عبارت دقبلې دلورپردېوال نښبول صحیح نه دي په درمختارکې راغلي دي [ولابأس بنقشه خلا محرابه فانه یکره لانه یلهی المصلی الخ] (۱) اوپه دې کې دمخکني متولي خیانت لیکلی دی کوم چي په دغه لقب دلته هرسړی پیژني اوکله چي به له دنیاڅخه کوچ وکړي نودده ناوړتیا به دهمېشه لپاره لیکلې وي خلګ به په بدنوم دی یادوي اوداپه حدیث شریف کې منع دي اوپرداسي ځای دچادنوم کېدل له نامه اوریاء څخه خلا ص نه دي اودانا خوښه عمل دی لکه چي دمشکوة په شرح مرقاة کې راغلي دي اودیوخاص داسي سړی دنوم په کېدواودده دکورنی حق ثابتیږي په آئنده کې به دادمسجد دآمدني په هکله تاواني وي.

بکروایي: چي دغه ډبره نښلول صحیح ده اوپه لمانځ کې ودې ته دکتلوڅه اړتیا ده؟ اونوم لیکل ددعالپاره دی اوپه دې فکردکوم منتظم اوذموارنوم کېدوته اړتیاده دزیدوینا صحیح ده که دبکر؟ (۹۰۲/ ۱۳۳۸هج)

ځواب: دزیدوینا په دې اړه صحیح اوسمه ده اودمسجد دآدابوړده اوداخلاص حاصلولو لپاره ګټوره ده دکومې چي امرشوی دی قال الله تعالی [ومالمروا الا لیعبدوا الله مخلصین له الدین] (سورة بینه آیت: ۵) فقط.

په مسجدکې وماشومانوته سبقونه ویل

سوال: (۳۳) وکم عمره ماشومانوته په مسجدکې درس ورکول څرنګه دي؟ (۲۲۳۶/ ۱۳۴۰هج)

ځواب: په دې کې څه تفصیل اواختلا ف دی په شامی کې له تاتارخانیه څخه رانقل شوې دي [جلس معلم اووراق فی المسجدفان کان یعلم اویکتب باجر یکره الا لضرورة وفی الخلاصة تعلیم الصبیان فی المسجدلا بأس به لکن استدل فی القنیة بقوله علیه الصلوة والسلام جنبوا مساجدکم صبیانکم ومجانینکم] (۲) (انتهی مافی الشامی) اقول ای فالاحتیاط

(۱) الدرمع الشامی (۱/ ۴۸۲) ، کتاب الصلوة ، مطلب کلمة لابأس دلیل علی ان المستحب غیره ط رشیدیه.

(۲) الشامی (۵/ ۳۰۴) ، کتاب الحظروالاباحة فی آخرفصل فی البیع ط رشیدیه.

في المنع الالضرورة (۱) فقط.

سوال: (۳۴) وماشومانوته په مسجدکې سبقونه ويل جائزدي ، که نه ؟ (۱۳۴۰/۲۳۲هج)

ځواب: په شامی کې له خلاصه څخه رانقل شوې دي [تعليم الصبيان فى المسجدلابأس به] (۲) اوپه ځيني نوروکتابونوکې مکروه ليکلې دي نوپرهيز کول اولی دي الالضرورة فقط.

سوال: (۳۵) (الف) په مسجدکې وماشومانوته زدکړه دقرآنکريم ورکول څرنګه دی ؟
(ب) دمسافرلپاره په مسجدکې ويديدل څرنګه دي ؟ (۱۳۴۱/۲۳۹۹هج)

ځواب: (الف) په مسجدکې وماشومانوته په تعليم ورکولوکې تفصيل دی په ځيني کتابونوکې دامکروه ليکلی دی اوګناه يې ورته ويلې ده اوپه ځيني کتابونوکې جائزليکلی دی قوله [ومن علّم الاطفال فيه الخ الذی فی القنية انه يأثم ولايلزم منه الفسق وفی الخلاصة تعليم الصبيان فی المسجدلابأس به الخ] (۲) په هرحال له مسجد څخه ليري ساتل غوره دي په تېره بيادلمونځونو په وختونوکې چي ورڅخه دلمونځ کوونکوپه لمونځونوکې دتاوان پيښېدواند ېښنه ده (۳)
(ب) دمسافرلپاره په مسجدکې ويدېدل صحيح دي.

په مسجدکې دمنطقواوفلسفي کتابونوويلوحکم

سوال: (۳۶) مسجدته دويديدولپاره چارپايې راوړل اووربانديي وېدېدل ،ډوډی اونورخوړل.

(۱) معلم ياکاتب که په مسجدکې په اجرت تعليم ورکوي ياخطونه ورليکي نومکروه دي خوکه مجبوري وي نوجائزدی اوپه خلاصه کې راغلې دي چي ماشومانوته په مسجدکې تعليم ورکول هيڅ پروانلري خوپه قنيه کې پرناجائزوالې دنبی عليه السلام په هغه ارشاددليل نيولی دی چي خپل مسجدونه له ماشومانواوليونيانوڅخه خوندي کړئ (دشامي خبره پوره شوه) زه (حضرت مفتی صاحب) وايم چي احتياط په منع کولوکې دی خودمجبوری په صورت کی جائزدي.
(۲) الدرمع الشامی (۳۰۴/۵) ،کتاب الحظروالاباحة فی آخرفصل فی البيع ط رشيديه.
(۳) اواوس کله چي دقرآنکريم پرتعليم داجرت اخستودجوازفتوی شوې ده دکراهية داوجه خوباقي نه شوه پاته چي په مسجدکې هرداسي کارمکروه دی چي وربانديي اجرت واخستل شي امانا پوهه ماشومان چي دمسجددرناوی په پام کې نشي نيولای دهغوئ له مسجد څخه دليري کولوکوم حکم چي په حديث کې راغلی دی هغه وجه پاته ده اودلمونځ کوونکودآرام خيال ساتل هم ضروري دي ۱۲ سعيداحمدپالنپوري.

دمنطقو ، فلسفي اونوروکتابونه ويل جائزدي ،که نه ؟ اودخاوروتېل (ګاسليټ) لګول څرنګه دي. (۱۳۴۳/۷۰۴هج).

ځواب: په درمختارکې ليکلي دي چي په مسجدکې خوراک اوويديدل بېله اړتيابنه نه دي خودمعتکف لپاره بېله کراهة جائزدي اوپه شامي کې رانقل شوې دي چي صفی والو په مسجدکې ويديدل اوخبرې کولی له دې څخه معلوم شوچي په مسجدکې ويديدل جائزدي اومباح خبرې هم جائزدي خوبېله اړتياغوره نه دی اودادبو ،منطقواوفلسفي کتابونه کتل اوويل هم صحيح دي (۱) قال فی المصفی : الجلوس فی المسجدللحديث مأذون شرعًا لان اهل الصفة کانوايلازمون المسجدوکانوينامون ويتحدثون الخ] (۲) شامی فقط.

په مسجدکې به اجرت (مزدوري) درس کول

سوال: (۳۷) ماقولکم فی من يعلم القرآن والاحاديث والفقه والصرف والنحووغيرهامن الفنون بالاجرة قاعدًا فی المسجدهل هوجائزفی المسجد شرعًا ام لا ؟ فان جازفماالدليل عليه ؟ وانی قدسمعت من الاساتذة الکبارانهم کانويفتون بعدم جوازه (۱۳۳۵/۱۲۹۷هج)

ځواب: قال فی الدرالمختار: ومسجداستاذه لدرسه اولسماع الاخبارافضل اتفاقًا (۳) وفيه بعده وجعل المسجدين واحدًاوعکسه لصلاة لالدرس اوذکرالخ لانه مابنی لذلک وان جازفيه الخ (۴) وفيه من کتاب القضاء ويقضی فی المسجدويختارمسجدًافی وسط البلدتيسيراللناس ويستدبرالقبلة کخطيب ومدرس (۵)
فهذه الروايات باطلاقهاتدل علی الجوازسواء کان الدرس باجراوبغيراجروفی الوهبانية ومن علم الاطفال فيه ويوزرالذی فی القنية انه يأثم ولايلزم فيه الفسق ولم ينقل

(۱) خکه چي په عربي مدرسه کې دغه علوم ددينی علوموپه خاطرورته ويل کيږي نوداهم حکمًاشرعي علوم دي ۱۲ سعيداحمد.
(۲) الشامی (۴۸۹/۱) ،کتاب الصلوة ،مطلب فی الغرس فی المسجدط رشيديه.
(۳) الدرمع الرد (۴۸۷/۱) ،کتاب الصلوة ، مطلب فی افضل المساجدط رشيديه.
(۴) الدروالرد (۴۹۰/۱) ، کتاب الصلوة مطلب فيمن سبقت يده الی مباح ط رشيديه.
(۵) الدرمع الرد (۳۴۵/۴) ، کتاب القضاة قبل مطلب فی اجرة المحضرط رشيديه.

عن احدالقول به ویمکن انه بناه علی انه بالاصرارعلیه یفسق افادالشارح قلت بل فی التاتارخانیة عن العیون جلس معلم اووراق فی المسجدفان کان یعلم اویکتب باجریکره الاالضرورة وفی الخلاصة تعلیم الصبیان فی المسجدلابأس به(۱) فقط.

دسوال ترجمه : (۳۷) څه وایاست تاسودداسي سړی په هکله چي په اجرت اخستوپه مسجدکې دقرآن ،حدیثو ،فقهې ،صرفو ،نحوې اونوروفنونودرس ورکوي آیاداشرعًا په مسجدکي جائزدی اوکه نه ؟ که جائزدی نوددې څه دلیل دی ؟ کله چي ماله مشرانواستاذانوڅخه اورېدلې دي چي هغوئ ددې دناجائزوالي فتوی ورکوله.

ځواب : په درمختارکي راغلي دي : ومسجداستاذه لدرسه الخ وفیه بعده وجعل المسجدین الخ وفیه من کتاب القضاء ویقضی فی المسجدالخ دغه روایتونه دخپل مطلق والي په وجه پرجوازدلا لت کوي خواکه درس په اجرت اخستووي یابېله اجرت اخستواوپه وهبانیه کي راغلي دي: ومن علم الاطفال فیه الخ حاصل داچي جوازراجح دی په تېره بیادضرورت په ځای کې(۲) فقط.

دسندرواوغزلودزدکړې لپاره دمسجدمکان وعیسایي ته په کرایه ورکول

سوال : (۳۸) یومکان ومسجدته وقف دی دادوه کسان په کرایه غواړي مسلمان چي لس روپۍ کرایه ورکوي اوبل عیسایي چي څورلس روپۍ کرایه ورکوي خودغه عیسایي دغزلوویلوتعلیم ورکول غواړي نومکان چاته په کرایه ورکړو؟(۲۷۰۱/۱۳۴۱هج.)

ځواب : دامکان بایدومسلمان ته په کرایه ورکړي ،ځکه چي کله معلومه ده چي عیسایی په دغه دمسجدپه مکان کې سندرې ورزده کوي نوداګناه پرکارمرسته ده ،ځکه جائزنه دی.

---

(۱) الدروالرد(۳۰۴/۵) فی آخرالحظروالاباحة ط رشیدیه.

(۲) په دې مسئله کې څه اختلا ف په هغه زمانه ووکله چي پرمقصوده طاعاتود اجارې دباطلوالي فتوی وه خواوس کله چي متاخرینودجوازفتوی ورکړه نواوس په جوازکې هیڅ شبه پاته نسوه ۱۲ سعیداحمدپالنپوري.

په مسجدکې شعرونه ویل

سوال : (۳۹) شعرونه یاهغه نعتونه چي پکي دالله ﷻ اودهغه درسول ﷺ تعریف وي په مسجدکې ویل جائزدي ،که نه ؟(۳۲/۱۵۱۸-۱۳۳۳هج)

ځواب : که مضمون صحیح وي نوصرف شعرونه په مسجدکې ویل منع نه دي خوکه ورسره نورې خرابۍ مثلا هرډول خلګ په مسجدکې وي یادسندرواوسر وزصورت وي لکه چي رواج دی چي په ګډاوازېې سره وایي اوزیاتره دشرعي په خلاف خلګ پکي برخه اخلي دداسي ډول کارونوپه شرکت سره داکارناجائزګر ځي اوپه حقیقت کې بدعتیان دخپلورواجي بدعتونودجارې ساتلولپاره داډول پوښتنې کوي چي دجوازفتوی ولاس ته کړي داډېرناوړه عمل دی.

لنډه داچي له داډول مجلسونواوشعرویلوڅخه مطلقا پرهیزکول پکاردي په مسجدکې له په زوره ذکرکولوڅخه هم منع راغلي ده چي دلمونځ کوونکوو لمانځه ته تاوان رسیږي پرته له دې مسجددقراراوسکون ځای دی اوپه داسي مجلسونوکې درازغوغا اوشوروي چي دمسجدداداب په خلا ف دی اوماشومان اودشرعي په خلا ف خلګ راجمع کیږي په مسجدکې داسي خلګ راجمع کول ښه نه دی په حدیث شریف کې راغلي دي چي ماشومان له مسجدونوڅخه لیري ساتئ په هرحال له دې څخه پرهیزلازم دی اودبدعت له شبهې څخه هم ځان ساتنه ضروري ده.

سوال : (۴۰) په مسجدکې په کومه مذهبي جلسه کې داسي نعت چي پکي دقوم دحالاتوښکارونه سوې وي اودرسول الله ﷺ په دربارکې زارۍ وي یادقاضي الحاجات (ارتیاوې پوره کوونکي) په دربارکې مناجات اودعاوې په لوړآواز بېله کومې لهجې ویل ناجائزدي ،که نه (۸۰۱/۱۳۳۸هج)

ځواب : که ددغه نعت الفاظ دشرعې خلا ف نه وي اودشریعت دکوم حکم خلا ف کول نه لازمیږي نوددغه نعت په مسجداوپرته له مسجدکې ویل صحیح دي فقط.

سوال : (۴۱) (الف) په مسجدکې دننه غزلې اونور(که دقوم وي اوکه نعتونه وي) ویل جائزدي ،که نه ؟

(ب) رانیول ،خرڅول په مسجدکې جائزدي ،که نه ؟(۱۴۰۷/۱۳۴۰هج)

ځواب: (الف) دشعرونو په اړه راغلي دي: چي حسنه حسن و قبحه قبیح (۱) چي په دې کې کومې خبرې ښې دي هغه ښې دي او کومې چي بدې دي هغه بدي دي او حسان بن ثابت رضی الله عنه په مسجد نبوي کې د رسول الله ☐ په امر د کفارو په هجو کي پر منبر شعرونه ویلې دي اما دا ضرور شته چي په دغه شعرونو کې به کوم دروغ او نور د شرعې خلا ف کارونه نه وي.

(ب) له معتکف پرته د نورو لپاره دا کار په مسجد کې ښه نه دی مکروه دی او که کوم خاص شرعي ضرورت وي نو له هغه سره سم به حکم کیږي.

سوال: (۴۲) د سهارنپور په نوې جامع مسجد کې د هرې جمعې له لمانځه وروسته درې ،څلور نعت ویوونکې په لوړ آواز نعتونه چي پکي د خلا فت ،سیاست درازد جبل دبندیانو د تکلیفونو او نورو په اړه یادونه وي وایې شرعًا جائزدی ، که نه ؟ (۱۴۸۳/ ۱۳۴۰هج)

ځواب : داسلام ، خلافت اسلامیه ، او نورو د مرستې د کفارو د ظلمونو او د ملت دبندیانو د تکلیفونو د څرګندونې لپاره چي کوم نعتونه ویل کیږي او اسلامي جذبه راپورته کوي دا ډول شعرونه او نعتونه ویل په شریعت کې ثابت او جائزدي او په نبوي مسجد کې د حضرت حسان بن ثابت رضی الله عنه د کفارو د هجو (بدوالی) او د اسلام او مسلمانانو په مرسته کې د رسول الله ☐ په امر شعرونه ویل په احادیثو ثابت دي او نبی علیه السلام دده لپاره دعا کول او خوشحاله کېدل هم په حدیثو کې راغلي دي او دده لپاره منبر ښوول په نبوي مسجد کې ثابت دي نو کوم نعتونه چي دا ډول وي او په هغوئ باندي د کفارو عندنه او د دوئ د ظلمونو څرګندونه او د حق د کلیمې اعلا ن کیږي او اسلامي جذبه په دې سره پیدا کیږي د دوئ په جواز کې کومه خبره کیدای سي ؟ او د خلافت په اړه زیاتره شعرونه نن ،صبا داسي دي چي په هغوئ کې پورته یادې سوې خبرې وي او دو خت اړتیا په لحاظ د دوئ ضرورت او تاکید نور هم زیاتیږي الله رب العزت دې اخلاص او ښه نیت راکړې نو دا کار که باعث د اجر او ثواب شي نو د الله رب العزت له رحمت څخه به لیري نه وي فقط.

سوال: (۴۳) په مسجد کې یا د نصېحت په مجلسونو کې داسي شعرونه چي پکي د الله رب العزت ستاینه

(۱) عن عائشة رضی الله عنها قالت: ذکر عند رسول الله ☐ الشعر فقال رسول الله ☐ هو کلام فحسنه حسن و قبیحه قبیح رواه الدارقطنی وروی الشافعی عن عروه مرسلا (المشکوة ص: ۴۱۰ ، کتاب الآداب ،باب البیان والشعر.

یا د نبی ☐ تعریف وي یا د مجازي معشوق ستاینه وي چي ورڅخه په تاویل سره د حقیقت تصور کول ممکن وي په ښه ویل شرعًا جائزدي ، که نه ؟ (۱۵۷/ ۱۳۴۳هج)

ځواب: په مسجد کې داسي شعرونه ویل بېله سروزه جائزدی چي پکي د الله رب العزت حمد او ثناء وي یا د نبی ☐ نعت وي او د ناوړه شعرونو په سُروزه سره ویل په تېره بیا په مسجد کې ویل جائزنه دی فقط.

په مسجدکې دانعامونو دوېشلو جلسه جوړول

سوال: (۴۴) سره ددې چي د مدرسې مکان موجود دی د انعامونو جلسه چي پکي هندوان هم برخه اخلي په مسجد کې کول صحیح دي ،که نه ؟ په دې سره خو به د مسجد په درناوي کې فرق نه راځي ؟ (۲۱۳۳/ ۳۲- ۱۳۳۳هج)

ځواب : په مسجد کې دا ډول جلسې کول صحیح نه دي او کله چي د مدرسې مکان شته نو باید په هغه کې جلسه وکړي په دا ډول جلسو خود مسجد په درناوې کې ډیرلوئ تاوان راځي ،ځکه نو مسجدونه له دې څخه یو مخ پاک ساتئ او که اړتیاوي نو په نورو ځایونو کې داسي جلسې په جائزه توګه وکړئ.

په مسجدکې ددیني علومودرس ورکول اونوردیني کارونه کول

سوال: (۴۵) یو مولوي صاحب په نصېحت کې وویل چي په مسجد کې له لمانځه او د الله ☐ له ذکر پرته کومه جلسه هرډول چي وي صحیح نه ده نه نصېحت ،نه د قرآن کریم او حدیثو درس پردې یو سړی مخامخ ورته وویل چي په نبوي مسجد کې د رسول الله ☐ په زمانه کې ټولې دینې او دنیوي پرېکړې کېدې او د حضرت عمر رضی الله عنه د خلا فت په زمانه کې هم په مسجد کې فیصلې کېدې نو مولوي صاحب په ځواب کې ورته وویل چي دا تاریخي خبرې د پام وړنه دي په حدیثو او قرآنکریم ثاتبې نه دي بنی المساجد لذکر الله تعالی په دې کې پوښتنه داده چي د دغه حدیث څه مطلب دی ؟ او په ذکر الله کې کوم ډول ذکرونه شامل دي ؟ او په نبوي مسجد کې کوم ډول جلسې کېدي ؟ او د حضرت عمر رضی الله عنه په زمانه کې کوم ډول ؟ (۲۲۰۳/ ۳۲- ۱۳۳۳هج)

ځواب: فی فتح القدیر:ولنامافی الصحیحین من حدیث اللعان من حدیث سهل بن سعدوفیه فتلا عنافی المسجدوعن کعب بن مالک انه تقاضی ابن ابی حدر ددیناکان له علیه فی المسجد فارتفعت اصواتهما حتی سمعها رسول الله □ وهوفی بیته فخرج الیهما حتی کشف سجف حجرته فنادی یاکعب فقال لبیک یارسو ل الله □ فاشاربیده ان ضع الشطرمن دینک قال کعب قدفعلت یارسول الله □ قال قم فاقضه اه (۱) وفیه عن البخاری لاعَنَ عمرعندمنبررسول الله □ واسندالامام ابوبکرالرازی الی الحسن انه رأی عثمان قضی فی المسجدآه (۲) له دغوروایتونوڅخه معلومه سوه چي ددغوپرېکړې هم په نبوي مسجدکې پخپله دنبی علیه السلام په زمانه اودراشده خلفاؤپه زمانوکې کېدې نومعلومه سوه چي ذکرالله عام دی وټولودیني کارونوته نونصېحت دقرآن کریم اوحدیثودرس اونورټول په مسجدونوکې صحیح دي اماداشرط دی چي داکارونه په اجرت (مزدوري) نه وي کنې په مسجدکې کېدل دفقهاؤپه څرګندونوکې مکروه دي لیکوونکی مولانااشرف علی رحمه الله دربیع الاول اوله ۱۳۳۲هج)

ځواب: دمفتی عنایت الهی صاحب مدرس مدرسه مظاهرعلوم سهارنپورله خوا که څه هم دغه ځواب دحضرت مولانااشرف علی صاحب بس دی خوکله چي پوښتوونکې دبل سندغوښتنه کړې ده زه که عرض کوم رسول کریم □ په مسجدکې دنکاح تړلوپه اړه ویلې دي: اوپه هغه کې ددف (دریا) وهلو(له مسجد څخه دباندي) (۳) حکم فرمایلی دی چي دهغه لپاره غونډه اوڅه ډول شوربه ضروروي فقهاؤعلیهم الرحمة دامستحب لیکلی دی [عن عائشة رضی الله عنهاقالت: قال رسول الله □ اعلنواهذاالنکاح واجعلوه فی المساجد واضربواعلیه بالدفوف رواه الترمذی وقال : هذحدیث غریب (۴) (مشکوة ص : ۲۷۴مطبوعة انصاري) وعن جابررضی الله عنه قال: قال رسول الله □ لایحلف

(۱) فتح القدیر۲/ ۳۶۹، کتاب ادب القاضی قبل ، فصل فی الحبس.
(۲) فتح القدیر: ۲/ ۳۷۰، کتاب ادب القاضی قبل فصل فی الحبس.
(۳) داجمله دفتاواووپه پخوانیورجسترونوکې بین القوسین ده.
(۴) مشکوة المصابیح ص: ۲۷۲، کتاب النکاح ،باب اعلان النکاح.

احدعندمنبری هذاعلی یمین آثمة ولوعلی سواک اخضرالاتبوأ مقعده من النار اووجبت له النارروواه مالک وابوداؤدوابن ماجه(۱) (مشکوةٌ ص: ۳۲۰).

صاحب لمعات شارح دمشکوة لیکي: [قیل کانت عادتهم فی زمن النبی □ التخاصم فی المسجدعندالمنبرفیقع الحلف عنده فلذلک خص المنبربالذکر (۲)په درمختارکې راغلې دي [ویقضی فی المسجدویختارمسجداً فی وسط البلدتیسیراًللناس ویستدبرالقبلة کخطیب ومدرس(۳) (شامی: ۴/ ۳۱۰)

ویکره الاعطاء مُطلقًا وقیل ان تخطی ورفع صوت بذکرالاللمتفقهة والکلام المباح وقیده فی الظهیریة بأن یجلس لاجله ولومشتغلابقراءة اودرس (۴) (درمختار) قال فی الشامی (فی ص: ۴۴۵) قال فی المصفی: الجلوس فی المسجد للحدیث مأذون شرعًا لان اهل الصفة کانویلازمون المسجدوکانوا ینامون ویتحدثون(۵)]

له دغوعبارتونوڅخه صفابنکاره سوه چي ددینې اودنیوي معاملوپرېکړې کول اونصېحت اودعلم ددرس خواکه هغه دقرآنکریم وي اوکه دحدیثو،تفسیر، فقهې اونوروکوم چي دیني علوم دي دټولودرس په مسجدکې ورکول جائزاو صحیح دي دنبی علیه السلام اوراشده خلفاؤپه زمانه کې داټول کارونه په مسجدونوکې کېدل نودې ته تاریخې خبرې ویل صرف غلط دی نوداکارونه په ذکرکې شامل دي.

په مسجدکې دخلا فت له جلسې کولوڅخه منع کول

سوال: (۴۲) دجامع مسجدمتولی په جامع مسجدکې دخلا فت له جلسې کولوڅخه انکاروکړنوپه دې مسجدکې لمونځ صحیح دی ،که نه ؟(۱۳۴۰/۳۸هج)

(۱) مشکوة المصابیح: ص: ۳۲۸، کتاب الامارة والقضاء ،باب الاقضیة والشهادات.
(۲) حاشیة مشکوة المصابیح بحواله لمعات رقم الحاشیة: ۴، ص: ۳۲۸، کتاب الامارة والقضاء ،باب الاقضیة والشهادات.
(۳) الدرالمختارمع الشامی ( ) ، کتاب القضاء مطلب فی اجرة المحضرط رشیدیه.
(۴) الدرالمختارمع الشامی ، کتاب الصلوة ،مطلب فی انشادالشعرط رشیدیه.
(۵) الشامی ( ) ،کتاب الصلوة بعدمطلب فی الغرس فی المسجدط رشیدیه.

ځواب: دغه متولی باید په جامع مسجد کې له جلسې څخه منع ونکړي او کله چې دی داسې خیالات لري نومسلمانانو ته پکاردي چې دی عزل (ایسته) کړي او دی متولي جوړنکړي او دخلافت جلسه په جامع مسجد کې وکړي چې دااسلامي کاردی اولمونځ په دغه مسجد کې په هرحال کې صحیح دی.

دمسجداولمانځه څواداب

سوال: (۴۷) (الف) په مسجد کې دخاوروتېل (ګاسلېټ) سوځول څرنګه دي ؟(ب) په لمانځه کې په بل چاسره پنکه وهل جائزدي ،که نه ؟ (ج) دبجلی (برق) استعمالول جائزدي ،که نه ؟

(د) په مسجد کې ترضرورت زیاته رڼاکول جائزدي ،که نه ؟(۳۲/۲۱۷۹-۱۳۳۳هج)

ځواب : (الف) په مسجد کې دخاوروتېل سوځول تحریمي مکروه دي قال فی الدرالمختار[واکل نحوثوم ویمنع منه الخ ویلحق بمانص علیه فی الحدیث کل ماله رائحة کریهة مأکولااوغیره الخ(۱) (شامی)

(ب) په حالت دلمانځه کې چې سرترپایه محل دخشوع اوخضوع دی په بل سړی پکې وهل اوخدمت ځیني اخستل دادب خلاف دي اوبرقي پنکې لګول صحیح دي چې هغه دروبندان اونورو په ځیرده چې له هغه څخه هواراځي خدمت اخستنه نه وي نورکه په مسجد کې دلاس والاپنکه راوځړول سي (۲) اوپه حالت دلمانځه کې ونه چلول سي نوهیڅ پروانه معلومیږي په حالت دلمانځه کې پنکه راکشول دلمانځه دادابو خلاف دي کنې دارازپه لمانځه کې په دې سره کوم تاوان اوکراهیت نه پیښیږي.

(ج) دبجلی رڼا په مسجد کې جائزده.

(د) په مسجد کې رڼااونورتراړتیازیات کول که په روژه کې وي اوکه بېله روژې وي ناجائزدی.

(۱) الدروالشامی (۱/ ۴۸۹) ،کتاب الصلوة ،مطلب فی الغرس فی المسجد ط رشیدیه .(۲) پخواپه مسجداودکورپه غټه کوټه کې پرچت باندي غټه پنکه راځړول کېده له کوټې څخه یاله دباندې څخه په رسی سره یوسړی کشوله چې ورڅخه به تولې کوټې یاټول مسجدته هواراتله اوس ددې رواج ختم سوی دی۱۲(سعیداحمدپالنپوری.

قال الله تعالی: [ان المبذّرین کانوااخوان الشیطن الایة] (سورة بنی اسرائیل آیت: ۲۷)

وقال النبی ﷺ : یوشک ان یأتی علی الناس زمان لایبقی من الاسلام الا اسمه ولایبقی من القرآن الا رسمه مساجدهم عامرة وهی خراب من الهدی الحدیث(۱)

قال فی الشامی : وقیل یکره لقوله علیه السلام ان من اشراط الساعة ان تزین المساجد الخ(۲).

سوال: (۴۸) (الف) په مسجد کې خطونه لیکل جائزدي ،که نه ؟

(ب) په مسجد کې داسلامي کارونو مشوره کول اوچنده اخستل جائزدي ،که نه ؟

(ج) په مسجد کې مېلادجوړول اودشیرینۍ په طمع لوڅې پښې وردا خلېدل جائزدي ،که نه ؟

(د) په مسجد کې په زوره خندل اودنیاوي خبرې کول څرنګه دي ؟

(ه) په مسجد کې دمسافرلپاره خوورځې اوسېدل جائزدي ،که نه ؟

(و) په مسجد کې سوال کول اوسوال ګرته ورکول څرنګه دي ؟(۲۰۹۲/ ۱۳۴۳هج)

ځواب : (الف) جائزدي (ب) جائزدي (ج) دابنه نه دی (د) بنه نه دی اود مسجد دادابو خلاف دي.

(ه) دضرورت په وجه دمسافرلپاره جائزدي بېله ضرورته په مسجد کې اوسېدل مناسب نه دي(و) جائزدی په دې شرط چې هغه سوال ګرد خلکو پرسرونه اوړي.

په مسجدکې دشرعي په خلاف خبرې کول

سوال: (۴۹) په کوم مسجد کې چې سلفیان اوحنفیان دواړه لمونځوکوي خوداعوامو بې لګامو په رنګه پنځه وخته په مسجد کې په خبرې کولو عادت دی نه په اودس کې اونه په اذان کې پټه خوله کیږي

(۱) عن علی بن ابی طالب رضی الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ یوشک ان یأتی علی الناس زمان علماؤهم اشرمن تحت ادیم السماء من عندهم یمدح الفتنة (شعب الایمان للبیهقی: ۲/ ۳۱۱ رقم الحدیث: ۱۹۰۸ الثامن عشرمن شعب الایمان وهوباب فی نشرالعلم.

(۲) الشامی(۱/ ۴۸۷) ، کتاب الصلوة ،مطلب کلمة لابأس دلیل علی ان المستحب غیرط رشیدیه.

دتکبیرتحریمه اوصف جوړولو پرمهال هم خبرې نه پرېږدي هرډول ګیلې اوشکایتونه کوي عبث خبرې ، غیبتونه ،توقې .ټکالې اونورډیرپه آزادۍ سره کوي یوبل په ښکنځلو یادوي ،دسلام اړولو سره سم شوراوغوغاجوړه کړي ،کله ناکله په په جذبه کې شي حملې (غیرباسي) هم سره وهي نودداسي لمونځ کوونکواوددوئ دلمونځونواو دمسجد دسپکاوی کولو په هکله شریعت څه حکم کوي ؟(۱۳۴۲/۵۵۴هج)

ځواب: مسجد دنیاد کارونولپاره نه دی جوړشوی اوپه حدیث شریف کې راغلې دي چې په مسجد کې ددنیاخبرې کول ،یعنی دشریعت په خلاف خبرې کوي اوناوړه پوچې خبرې کول ،نیکیانې داډول ،روژې اوضائع کوي یې لکه چې حیوان وابنه خوري وفی المدارک ومن الناس من یشتری لهوالحدیث المراد بالحدیث الحدیث المنکرکماجاء الحدیث فی المسجدیأکل الحسنات کماتأکل البهیمة الحشیش انتهی فقدافادان المنع خاص بالمنکرمن القول اماالمباح فلا قال فی المصفی : الجلوس فی المسجد للحدیث مأذون شرعًا لان اهل الصفة کانوایلازمون المسجدوکانوایناموته ویتحدثون ولهذالایحل لاحدمنعه الخ(۱) (شامی)

حاصل داچې په مسجد کې ناوړه خبرې ،ښکنځل ،اوغیبت کول حرام دي چې داکارونه له مسجد څخه دباندي هم حرام دي اوپه مسجد کې شوراوغوغاکول اوبېله اړتیاعبث خبرې کول دمسجدله ادابوڅخه خلا ف دي اونیکې بربادوي له دې څخه کلک پرهیزکول پکاردی په مشکوة شریف کې له بیهقي څخه یوروایت رانقل شوی دی [یأتی علی الناس زمان یکون حدیثهم فی مساجدهم فی امردنیاهم فلا تجالسوهم فلیس لله فیهم حاجة (۲) یعنی پر خلکوبه داسي زمانه راشي چې ددوئ دنیاوي خبرې اوقیصې اوجګړې به په مسجدونو کې وي نوداسي خلکوسره ناسته مه کوئ چې الله ﷻ په دوئ هیڅ باک نه کوي

په مسجدکې دنیاوي خبرې کول

سوال: (۵۰) په مسجد کې خبرې کول جائزدي اوکه نه ؟ که جائزدي نوکومې خبزې کول جائزدي ؟اودخبروکوونکې

(۱) الشامی (۱/ ۴۸۹) ، کتاب الصلوة ، مطلب فی الغرس فی المسجد ط رشیدیه.
(۲) عن الحسن مرسلا قال: قال رسول الله ﷺ یأتی علی الناس زمان رواه البیهقی فی شعب الایمان (المشکوة ص: ۷۱، کتاب الصلوة ،باب المساجد ومواضع الصلوة).

په هکله چې کوم وعیدونه په حدیثواوفقهې په کتابونو کې راغلې دي هغه بیان کړئ (۲۰۱۱/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

ځواب: په ردالمحتاریعنی شامي کې راغلې دي : [الکلام المباح من حدیث الدنیایجوزفی المساجدوان کان الاولی ان یشتغل بذکرالله تعالی کذافی التمرتاشی هندیة وقال البیری مانصه وفی المدارک ومن الناس من یشتری لهوالحدیث المرادبالحدیث: الحدیث المنکرکماجاء الحدیث فی المسجدیأکل الحسنات کماتأکل البهیمة الحشیش انتهی فقدافادان المنع خاص بالمنکرمن القول اماالمباح فلا قال فی المصفی : الجلوس فی المسجدللحدیث مأذون شرعًا لان اهل الصفة کانوایلازمون المسجدوکانواینامون ویتحدثون ولهذالایحل لاحدمنعه کذافی الجامع البرهانی (۱)

له دغه عبارت څخه څرګند دی چې په مسجد کې مطلقًا ددنیاخبرې کول منع دي بلکې بدې خبرې منع دي لکه دچاغیبت کول یاوچاته بد ،ردویل اونورفقط والله تعالی اعلم.

سوال: (۵۱) په مسجد کې دالله ﷻ اودهغه درسول ﷺ له یادونې پرته ددنیادمعاملاتویادونه کول څرنګه دي ؟(۱۳۴۰/۴۹۸هج)

ځواب: په مسجد کې بېله اړتیاددنیاناوړه خبرې کول مکروه دي کماورد: [الحدیث فی المسجدیأکل الحسنات کماتأکل البهیمة الحشیش (۱) وفیه ایضا عن المدارک المرادبالحدیث الحدیث المنکرالخ(۱) فقط.

کوم سړی چې دمسجدادابوخیال نه ساتي دهغه په مسجدکې ویدېدل څرنګه دي

سوال: (۵۲) یوسړی له ډیرې مودې راهیسې په مسجد کې ویدیږي حال داچې کورلیري اوپه مسجد کې دااحتمال هم شته چې دخوب په حال کې دې بادپرې شي اوچې ویده وي ورنونه یې هم ښکاریږي دده لپاره په مسجد کې ویدیدل صحیح دي ،که نه ؟(۱۰۰۲/ ۴۲-۱۳۴۷هج)

ځواب: دداسي سړی لپاره بېله کوم عذره په منسجد کې ویدیدل ښه نه دي فقط.

(۱) الشامی (۱/ ۴۸۹) ، کتاب الصلوة ، مطلب فی الغرس فی المسجد ط رشیدیه.

دسهار دجماعت دنیولو په فکرپه مسجدکې ویدېدل

سوال: (۵۳) یو سړی په دې فکرچي که په کورکې پروت وي نو د سهار جماعت به ځیني تیرشي سهار وختي مسجد ته راشي پریوزي نو صحیح دی ،که نه ؟ (۳۲/۲۵۳ _ ۱۳۳۳هج)

ځواب: جائزدی فقط .

دغیرمعتکف لپاره په مسجدکې خوراک ،څښاک تحریمي مکروه دی که تنزیهی ؟

سوال: (۵۴) په مسجدکې دغیرمعتکف لپاره خوراک ،څښاک چي تاسو داولی په خلاف لیکلی دی آیا ددې دا معنی ده چي تحریمي مکروه نه دی ؟(۲۲۹/ ۱۳۳۷هج)

ځواب: همدغه مطلب دی چي په مسجدکې خوراک څښاک تحریمي مکروه نه دی بلکه بېله اړتیابنه نه دی په باب الاعتکاف کې شامی رحمه الله ددې مباح والی له ابن کمال اونوروڅخه رانقل کړی دی اوپه ځیني ځایونوکې دامکروه لیکلی دی نومعلوم شوچي تنزیهی کراهت مراددی یعنی بېله اړتیابنه نه دی اودمسافرلپاره خوهیڅ پروانلري.

په مسجدکې پرچارپایي ویدېدل

سوال: (۵۵) په مسجدکې پرچارپایي باندي دمسافرلپاره ویدېدل صحیح دي که دهرسړی لپاره اوضرورت پروخت جائزدي که مطلقًا ؟(۲۰۷۴/ ۱۳۳۷هج)

ځواب: دمعتکف لپاره په مسجدکې که پرچارپایي وي اوکه بېله چارپایي ویدېدل صحیح دی اوغیرمعتعکف لپاره که پرچارپایي وي اوکه بېله چارپایي وي ویدېدل ښه نه دی پرهیزله دي څخه غوره دی که څه هم ګناه هم نشته لکه چي په شامی کې یادونه شوې ده [لان اهل الصفة کانوایلازمون المسجدوکانواینامون ویتحدثون ولهذالایحل لاحدمنعه کذافی الجامع البرهانی الخ(۱)] اوپه درمختارکې راغلي دي چي

(۱) الشامی(۱/ ۴۸۹) ، کتاب الصلوة ،مطلب فی الغرس فی المسجدط رشیدیه.

له معتکف اومسافرپرته دنورولپاره په مسجدکې ویدېدل مکروه دی (۱) اومرادله دې څخه تنزیهي مکروه دی یعنی داولی په خلاف دی چي حاصل یې دادی چي ښه نه دی اوپه شامي کې راغلې دي چي کله کوم څوک په مسجدکې دخوراک اوڅښاک اراده وکړي نوغوره دی چي داعتکاف په نیت مسجدته ورداخل شي ،ځکه چي نفلي اعتکاف دلږوخت لپاره هم صحیح دی اوکله چي دی داعتکاف نیت وکړي نودده لپاره په مسجدکې خوراک څښاک بېله کراهیت صحیح کیږي واذاارادذلک ینبغی ان ینوی الاعتکاف فیدخل فیذکرالله تعالی بقدرمانوی اویصلی ثم یفعل ماشاء الخ(۲) فقط.

سوال: (۵۶) که دمعلم دهستوګنې لپاره کورنه وي نودی په مسجدکې پرچارپایي باندي کښېنستلای اوویدېدای شي اوکه نه ؟ (۴۷۴/ ۱۳۴۰هج) ځواب : ویدېدای شي اوکښېنستای شي.

سوال: (۵۷) په مسجدکې پرچارپایي باندي ویدېدل جائزدي اوکه نه ؟ په عامو خلکوکې مشهوره ده چي په مسجدکې پرچارپایي باندي کښېنستل ګواکي دمحمد ☐ پرسینه مبارکه خپلې پښې ښوول دي ددې کوم ثبوت شته ،که نه ؟(۳۲/۲۰۵۷ _ ۱۳۳۳هج).

ځواب: په مسجدکې دکومو خلکولپاره یاپه کوم حالت کې چي ویدېدل صحیح دې لکه معتکف اونورنودهغه لپاره پرچارپایي باندي ویدېدل هم صحیح دي داکوم څه چي دچارپایي په اړه مشهوردي غلط دی اودروغ دی اود [من کذب علیّ متعمدًا الحدیث (۳)] تروعېدلاندي راځي.

دمسجدپه غولي کې پرچارپایي ویدېدل

سوال: (۵۸) دا اړتیاپرمهال دمسجدپه غولي کې پرچارپایي ویدېدل څرنګه دي (۲۴/ ۱۳۴۱هج)

(۱) ویکره الاعطاء مطلقا واکل ونوم الا لمعتکف وغریب (الدرالمختارمع الرد(۱/ ۴۸۸)کتاب الصلوة ،مطلب فی الغرس فی المسجدط رشیدیه.

(۲) ویکره النوم والاکل فی المسجدلغیرالمعتکف واذاارادذلک ینبغی الخ(الشامی (۲/ ۱۴۲) ، کتاب الصوم ،باب الاعتکاف ط رشیدیه)

(۳) عن ابن عباس رضی الله عنهما عن النبی ☐ قال: اتقواالحدیث عنی الاماعلمتم فمن کذب علی متعمدًا فلیتبوأ مقعده من النارومن قال فی القرآن برأیه فلیتبوأ مقعده من النار(جامع السنن للترمذی ۲/ ۱۲۳ ،ابواب تفسیرالقرآن ،باب ماجاء فی الذی یفسرالقرآن برأیه)

ځواب: په مسجد کې دضرورت په وجه ویدیدل جائزدي اوکه دچارپایي لګولو ضرورت وي نودمسجد پرفرش باندي چارپايې درول پرهغه ویدېدل هم صحیح دي فقط.

په مسجدکې غسل کول اواوربلول

سوال: (۵۹) په مسجد کې درڼالپاره دخاوروتېل کارول جائزدي ،که نه ؟ اودسوړوالي یاتودوالي حاصلولو په غرض په مسجد کې غسل کول یااوربلول څرنګه دي ؟ (۴۴۳/ ۱۳۳۸هج)

ځواب: دخاوروتېل په مسجد کې سوځول مکروه دي اوپه مسجد کې غسل کول هم ښه نه دی یعنی مکروه دي اواوربلول که دمسجد دتوږدولولپاره وي نوښکاره ده چي هيڅ پروانلري اوکه دځان دآرام لپاره دی نوښه نه دی.

دمسجدپه غسل خانه کې لمبېدل

سوال: (۶۰) له مسجد څخه دوتلودروازه یوه ده په هغه کې دننه ویوه اړخ ته غسل خانه هم شته که دچاولمبېدوته اړتیاوي نوهلته لمبېدای شي ،که نه ؟ (۱۷۶۳/ ۱۳۳۸هج)

ځواب: هغه هلته لمبېدای شي ،ځکه چي ښکاره ده چي دغه غسل خانه اودروازه دمسجد په حکم کې نه دی.

دبېلمانځه دمسجدتودې اوبه کارول

سوال: (۶۱) دبېلمانځه لپاره دمسجد په تودواوبومخ ،لاسونه پرېمنځل اوغسل کول جائزدي ،که نه ؟ (۲۰۸۲/ ۱۳۴۳هج)

ځواب: کومې اوبه چي صرف دلمونځ کوونکولپاره تودې شي په هغه دبېلمانځه غسل اونورکول مخ اولاسونه پرېمنځل جائزنه دي دوئ منع کولای شئ فقط.

دبېلمانځه په مسجدکې مخ ،لاسونه پرېمنځل اواستنجاوهل

سوال: (۶۲) کوم سړی چي لمونځ نه کوي دهغه په مسجد کې غسل کول مخ ،لاسونه پرېمنځل اواستنجاء وهل جائزدی ،که نه ؟ اوپه کوم لوښې چي دی استنجاء اونوروکړي

هغه پاک دی ،که نه ؟ (۴۹۷/ ۱۳۴۲هج)

ځواب: دمسجد په غسل خانه کې دده غسل کول اواستنجاء وهل جائزدي اوهغه لوښې پاک دي په هغه کې هيڅ شک مه کوئ.

وغسل خانې ته لوځې پښې ننوتل بیامسجدته راتلل

سوال: (۶۳) وغسل خانې ته لوڅي پښې ورننوزي اوبیاپرفرش راځي داصحیح دی ،که نه ؟ (۲۱۲۱/ ۱۳۴۲هج)

ځواب: په غسل خانه کې له نالی څخه پورته فرش کله چي مردارنه دی نولوڅي پښې له هغه ځایه ومسجد ته راتلل صحیح دي فقط.

په باران کې دمسجددستونوترمينځ اوپه محراب کې اودس کول

سوال: (۶۴) په باران کې دمسجد دستونوترمينځ اوپه محراب کې اودس کول جائزدی ،که نه ؟ (۲۱۲/ ۱۳۴۳هج)

ځواب: په درمختارکې راغلې دي چي په مسجد کې اودس کول مکروه دی اوکه ضرورت وي نوپه کوم لوښې کې اودس وکړئ یاکوم ځای چي په فرش کې دننه داسي جوړشوی وي چي هلته اودس کيږي (هلته اودس وکړئ) ددرمختار عبارت داسي دي [ومن منهیاته التوضوء بفضل ماء المرأة وفی موضع نجس اوفی المسجدالافی اناء اوفی موضع اعدلذلک الخ (۱) فقط.

په مسجدکې حجامت جوړول ښه نه دی

سوال: (۶۵) په مسجد کې پرمصلی باندي حجامت جوړول جائزدي ،که نه ؟ ۱۸۲۲/ ۱۳۴۳هج)

ځواب: پرمصلی باندي حجامت جوړول ښه نه دی.

په مسجدکې ښکارکول اوټوپک چلول

سوال: (۶۶) په مسجدونو کې ښکارکول اوټوپک چلول څرنګه دي ؟ (۹۰۵/ ۱۳۴۲هج)

(۱) الدرمع الشامی (۹۸/۱) ، کتاب الطهارة ، مطلب فی الاسراف فی الوضوء ط رشیدیه.

ځواب: داکار دمسجد دآدابو خلا ف دی په مسجد کې داسي کارکول نه دي پکار، ځکه چي مسجدونه دالله ﷺ دیادوني ،لمونځ اونورو عبادتونولپاره دي کماوردفی الحدیث (۱) فقط.

دمسجدپرفرش باندي غله وچول

سوال: ۲۷) دمسجد پرفرش باندي غله وچول صحیح دي ،که نه ؟(۲۷۴/ ۱۳۴۳هج)

ځواب: داکار دمسجد دآدابو خلا ف دی ،ځکه بېله کومې ارتیااوعذره داسي مه کوئ که څه هم چي په دې سره مسجدنه لړل کیږي خومسجدونه دالله ﷺ دیادوني اولمانځه لپاره دي په دوئ کې کوم ځاني کارکول ښه نه دی که څه هم په هغه کې هیڅ ګناه نشته.

دتفکلوپاره دخاورولوښی په مسجدکې ښوول

سوال: (۲۸) دخاورولوښی له خاورو ډک په مسجد کې ښوول اوپه وخت دضرورت په هغه کې توفکل صحیح دي ،که نه ؟(۱۳۴۰/۹۰۷هج)

ځواب: دیادشوي ضرورت په وجه په مسجدکې دتوفکلولپاره لوښی ښوول په وخت دضرورت په هغه کې توفکل صحیح دي فقط.

ومسجدته کرسۍ اونوروړل دادب خلاف دي

سوال: (۲۹) ومسجدته مېزاوکرسۍ وړل منع دي ،که نه ؟(۱۳۴۰/۱۳۱۳هج)

ځواب: مسجد دعبادت ځای دی هلته کرسۍ اومیزوړل دادب خلا ف دی فقط.

په مسجدیامدرسه کې نغاره وهل

سوال: (۷۰) په مسجدیامدرسه کې نغاره وهل څرنګه دي ؟اووهوونکی يې څرنګه دی ؟ ګنهګار

(۱) انس بن مالک رضی الله عنه ثم ان رسول الله ﷺ دعاه فقال له ان هذه المساجد لاتصلح لشئ من هذا البول ولا القذر انما هي لذکرالله والصلوة وقراءة القرآن (الصحیح لمسلم ۱/ ۱۳۸، کتاب الطهارة ،باب وجوب غسل البول وغیره من النجاسات اذاحصلت فی المسجد الخ).

دی ،که نه ؟(۲۲۲/ ۳۲- ۱۳۳۳هج)

ځواب: نغاره اونوروهل په عامه توګه هرځای حرام اوناجائزدي اووهوونکی دحرام کارکوونکی دی اوپه تېره بیاپه مسجداومدرسه کې یامسجدته نژدي نغاره وهل ډیرناوړه کاردی اووهوونکی سخت ګنهګار ،فاسق اوبدعتی دی دی باید توبه وکاږي که دی داسي وکړي نواړیکي ورسره ختمې کړئ اوکه دروژه مات اوپیشلمي دخبرولولپاره په روژه مبارکه کې له مسجد څخه دباندي يې ووهي نوجائزدی قیاسًا علی طبل الغزاة (۱) فقط.

دمسجدمصلی په توکرپاکول

سوال: (۷۱) که څوک له دباندي څخه په مسجدکې لړګي راوغورځوي چي دلمونځ کوونکوخوښ نه شي اومصلی په کپړه پاکوي حال داچي هغه هم دلمونځ کوونکوخوښ نه دی داسي جائزدی ،که نه ؟اودمسجد دادابو خلا ف دی ،که نه ؟اوداسي سړی منع کولای شي ،که نه ؟(۱۵۲/۳۲- ۱۳۳۳هج)

ځواب: له دباندي څخه په مسجدکې لړګي راغورځول که په دې سره دتکلیف رسېدواندېښنه ده یالمونځ کوونکې په وهم کې شي نوداکارباید پرېږدي چي دمسجددادب په خلا ف دي اودتکلیف رسولواونوروهم اندېښنه ده اومصلی په توکراونوروپاکول دثواب کاردی پردې اعتراض کول فضول (بې فائدې) دی فقط والله تعالی اعلم.

له غټوبولوډک ستل دمسجدپه څلوردېوالي کې راتېرول

سوال: (۷۲) له حجرې څخه دمسجدپه څلوردېوالي کې دغټوبولوډک ستل راتېرول څرنګه دی ؟(۲۲۳۵/ ۱۳۴۰هج)

ځواب: داښه نه دی اودارتیاپه وجه جائزدی.

په مسجدیادمسجدپه کوټه کې چلم څکول

سوال: (۷۳) دمسجدپه غولي یادمسجدپه حجره کې چلم څکول چي ورڅخه په ټول مسجدکې بدبوئ وي

(۱) وقد جوزواضرب الدف للتسحیرواماطبل الغزاة فجائز(العرف الشذی علی جامع الترمذی ۱/ ۲۰۸، ابواب النکاح ،باب ماجاء فی اعلان النکاح.

جائزدی ،که نه ؟ اوددې کارکولوسره که دی منع کړل شي نوفسادته آماده شي اوپردې کارتینګارکوي په ده پسي لمونځ جائزدی ،که نه ؟(۵۲۹/۳۲ - ۱۳۳۳هج)

ځواب : داکارده مکروه دی دمسجدپه غولي اوحجره کې چلم څکول چي ورڅخه په مسجدکې بدبوئ شي مکروه دی اولمونځ په ده پسي که څه هم کیږي خودده لپاره پریومکروه کارتینګارکول نه دي پکار.

سوال : (۷۴) دمسجدوڅنګ ته په حجره کې چلم څکول چي ددغې حجرې ومخته هلکان قرآنکریم وایې صحیح دی ،که نه ؟(۲۱۷/ ۱۳۳۹هج)

ځواب : چلم څکول که څه هم جائزاومباح دی خوبېله اړتیابنه نه دی اومسجدته نژدې اوکوم ځای چي قرآنکریم ویل کیږي نورهم بددی فقط.

په مسجدکې سګرېټ څکول

سوال : (۷۵) په مسجدکې سګرېټ څکول څرنګه دي ؟ اوله مسجدڅخه دباندې دسګرېټ څکول څه حکم لري ؟(۲۷۲/ ۱۳۳۵هج)

ځواب : سګرېټ څکول له مسجدڅخه دباندي هم مکروه اوپه مسجدکې زیات مکروه اوبددی.

له چلم څکولویااوم پیازیااوږه خوړولووروسته مسجدته تلل

سوال : (۷۶) له اومه پیازیااوږې خوړلواوتمباکوڅکولووروسته بېله خولې پرېمنځلواوبېله بدبوئې لیري کولو ومسجدته تګ مکروه دی ،که نه ؟(۲۸۳/ ۱۳۳۵هج)

ځواب : اوم پیازیااوږه خوړل بېله کراهیته جائزدي لکه چي بخاری اومسلم په اتفاق سره روایت کوي چي رسول الله □ وویل: [کل فانی اناجی من لاتناجی (۱)] اوپه مسلم کې یې ویلې دي: [ایهاالناس انه لیس لی تحریم ماا حل

(۱) عن جابربن عبدالله رضی الله عنهما قال : وفی روایة حرملة زعم ان رسول الله □ قال : من اکل ثومًا اوبصلا فلیعتزلنااولیعتزل مسجدناولیقعدفی بیته وانه اتی بقدرفیه خضرات من بقول فوجدلهاریحًا فسأل فاخبربمافیهامن البقول فقال قربوهاالی بعض اصحابه فلمارآه کره اکلهاقال کل فانی اناجی من لاتناجی (الصحیح لمسلم ۱/ ۲۰۹، کتاب المساجد، باب نهی من اکل ثومًا اوبصلاالخ]

الله لی ولکنهاشجرة أکره ریحها (۱) هوددوئ له خوړلویاله چلم څکولووروسته بېله بدبوئ لیري کولومسجدته ورتلل تحریمي مکروه دی چي په صحیح حدیثو کې له پیازاووږې خوړلووروسته ومسجدته له ورتلوڅخه منع راغلې ده لکه چي په مسلم کې راغلې دي [من اکل البصل والثوم والکراث فلایقربن مسجدنا فان الملائکة تتاذی ممایتأذی منه بنوآدم (۲) اوپه حنفی فقه کې هم له پیاز،ووږې یاکوم بل بدبویه شی سره مسجدته تلل تحریمي مکروه دی لکه چي په درمختار کې راغلې دي [واکل نحوثوم ویمنع منه وکذاکل مؤذ(۳) اوپه کبیري کې راغلې دي یجب ان تصان عن ادخال الرائحة الکریهة (۴) پرهمدې په قیاسولو علماء رحمهم الله له مسجدڅخه پرته دذکرومجلسونوته هم دبدبویه شی وړل تحریمي مکروه بللې دي لکه چي په نووئ شرح دمسلم کې رانقل کړې دي.

قال القاضی : وقاس العلماء علی هذامجامع الصلوة غیرالمسجدکمصلی العید والجنائزونحوهامن مجامع العبادات وکذامجامع العلم والذکروالولائم ونحوها ولایلتحق بهاالاسواق ونحوها(۵) حاصل داچي اوم پیازاووږه خوړل بېله کراهیته جائزدی اماددوئ دخوړلویاچلم څکولووروسته بېله بدبوئ لیري کولوومسجدیاذکرومجلس ته ورتګ تحریمي مکروه دی.

دغیرمعتکف په مسجدکې پان خوړل

سوال : (۷۷) چي معتکف اوشرعی مسافرنه وي دداسې سړی لپاره په مسجد کې پان خوړل څرنګه دي ؟ ځیني که چیري دغذاپه توګه وي منع بولي کنې نه بولي دافرق څرنګه دی ؟(۳۷۱/ ۱۳۳۷هج)

(۱) عن ابی سعید الخدری رضی الله عنه قال: لم نعدان فتحت خیبرفوقعنا اصحاب رسول الله □ فی تلک البقلة الثوم (الی ان قال) فقال: ایهاالناس انه لیس لی تحریم ماا حل الله لی لکنها شجرة اکره ریحهاالحدیث (الصحیح لمسلم ۱/ (۲۰۹)

(۲) عن جابربن عبدالله رضی الله عنهما عن النبی □ قال: من اکل من هذه البقلة الثوم وقال مرة من اکل البصل الحدیث (الصحیح لمسلم:۱/ ۲۰۹) (۳) الدرمع الشامی (۱/ ۴۸) کتاب الصلوة ،مطلب فی الغرس فی المسجد ط رشیدیه) (۴) شرح المنیه المعروف بالکبیری ص: ۵۲۲، فصل فی احکام المسجد(۵) شرح المسلم للنووی علی هامش الصحیح لمسلم ۱/ ۲۰۹، باب نهی من اکل ثوما اوبصلاالخ).

ځواب: دغیرمعتکف لپاره په مسجدکې کې پان خوړل داولی خلا ف دی دبېله اړتیاخوراک کولو په رنګه اودځینودغذاکېدواونه کېدوپه اعتبارفرق کول صحیح نه دي فقط.

سوال: (۷۸) په مسجد کې دلمونځ کوونکې ومخته څپلی لوڅې ښوول څنګه دي اوکه یې په کېږه کې پټې کړي نوڅنګه دی ؟ (۲۲۱/ ۳۳_۱۳۳۴هج)

ځواب: دابنه دی چې څپلی اونورپټ کړي کېنبي یې بږدي ومخته ، څپلی ومخته لوڅې ښوول ښه نه دی که مجبوري وي نوپروانلري.

په مسجدکې دلمونځ کوونکې ومخته څپلی ښوول

سوال: (۷۹) یوسړی وایې: چې که وچې څپلی سړی په پښوکړي دمسجد پرفرش تېرشي نوجائزدي ؟ (۳/ ۱۳۴۱هج)

ځواب: دابنه نه دی چې کومې څپلی له مسجد څخه دباندي په استعمال کې وي له هغه سره ومسجدته ورننوزي اماکه دمسجدلپاره کومې پاکې اوصفاڅپلی وي نوله هغوئ سره ورتلل صحیح دي.

دخوندي کولوپه غرض په مسجدکې څپلی ښوول

سوال: (۸۰) په مسجد کې زیاتره لمونځ کوونکې څپلی دسجدې دځای ومخته ږدي اوڅپلی هرډول وي اوپرزیاتره څپلیومرداري لګېدلې وي ځیني خلک خوڅپلی وځنډي اوږدي یې اوځیني دې خیال نه کوي ؟ (۸۸۳/ ۱۳۴۳هج)

ځواب: په درمختارکې راغلې دي چې کله کوم سړی ومسجدته ورداخل شي نوڅپلې څپلی اوموزې دې وګوري چې مرداري خورباندي نه ده لګېدلې له دې وروسته څپلی مسجدته وروړای شي اوڅپلی که پاکي دي نوورسره لمونځ کولای شي بلکې دیهودودمخالفت په وجه دې ته بهترویل شوې دي عبارت دادی [وینبغی لداخله تعاهد نعله وخفه وصلاته فیهماافضل (۱)] اوعلامه شامی پردې باندي یوحدیث رانقل کړی دی [صلوا

الدروالرد(۱/ ۴۸۲) ، کتاب الصلوة ، مطلب فی احکام المسجد ط رشیدیه.

فی نعالکم ولاتشبهواباالیهودرواه الطبرانی (۱) یعنی په پایزارو (څپلیو) کې لمونځ کوئ اوله یهودوسره مشابهت مه کوئ اولنډه داچې کله څپلی اوموزې پاکې وي نوورسره لمونځ کوئ اوبیاشامی داهم رانقل کړې دي چې دڅپلیوسره مسجد ته ورننوتل بې ادبي ده [ولعل ذلک محمل مافی عمدة المفتی من ان دخول المسجد متنعلا من سوء الادب الخ (۱) په هرحال دابحث خودڅپلیوسره دلمونځ کولوونورداچې دغلااونوروله ویرې لکه چې دلمونځ کوونکوعادت دی چې څپلی راپورته کړي په مسجدکې یې کښېږدي نوداجائزدی اوپه حدیث شریف کې راغلې دي اذاصلی احدکم فلا یضع نعلیه عن یمینه ولاعن یساره فتکون عن یمین غیره الا ان لایکون عن یساره احدولیضعهمامابین رجلیه (۲) په یوه بل حدیث کې راغلې دي چې رسول الله □ څپلې څپلی مبارکې وکېنې وچپه اړخ ته یې کښېښووې په هرحال له دې څخه معلو م شوچې په مسجدکې څپلی ښوول په تیره بیادخوندي کولوپه غرض صحیح دی خوکه مخته یې کښېږدي نودسمال اوبل ټوکردې ورباندي واچوي داغوره دی فقط.

سوال: (۸۱) په غټوښارونوکې زیاتره په مسجدونوکې څپلی غلاکیږي په همدې وجه لمونځ کوونکې څپلی له ځان سره ږدي راسته اوچپه طرفته له دیوالوسره ږدي اوکوم لمونځ کوونکی چې په اول صف کې وي هغوئ یې مخته ږدي په دې اړه شرعي حکم څه دی ؟ (۸۸۴/ ۱۳۴۳هج)

ځواب: په مسجدکې څپلی له څنډلووروسته ښوول بېله کراهیته صحیح دی خویوه طرفته په ټوکراوبل شی سره پټې ښوول بهتردی اوکه دغلااونوروله ویرې یې خپل مخته کښېږدي نوداهم صحیح دی خوپه کېږه اوبل شی پټول یې ښه دی په هرحال پردې دکوم اعتراض کولوموقع نشته لکه چې ددوهم سوال په ځواب کې په تفصیل سره ولیکل شو(۳) فقط.

دڅرمنې دجرابوسره ومسجدته ورننوتل

سوال: (۸۲) دڅرمنې جرابې چې صرف دپښودخوندي کولولپاره په پښووي اوصرف ومسجدته

(۱) الشامی(۱/ ۴۸۲) ، کتاب الصلوة ،مطلب فی احکام المسجد ط رشیدیه (۲) عن ابی هریرة رضی الله عنه ان رسول الله □ قال: اذاصلی احدکم فلا یضع نعلیه الحدیث (سنن ابی داؤد:۱/ ۹۲ ، کتاب الصلوة ،باب المصلی اذاخلع نعلیه این یضعهما)

(۳) له دې څخه مخکې سوال اوځواب وګوره.

ورتلوپرمهال پکاروي اومصلی ته دراتلوپروخت یې وباسي جائزدی ،که نه ؟ (۱۲۷۲/ ۱۳۳۷هج)

ځواب: دغو پاکو جرابو استعمال په مسجد کې صحیح دی فقط.

دمسجدوڅنګ ته په کوټه کې دامام دخپلې کوروالاسره استوګنه

سوال: (۸۳) دمسجدامام دمسجدوڅنګ ته وراسته اړخ ته په مکان کې دخپلې کوروالاسره استوګنه کوي اودروازه دهغه دختیز(مشرق) وطرفته ده دمسجد امام لپاره په دغه مکان کې استوګنه جائزده ،که نه ؟ اوویدیدل اوخبره کول څرنګه دي (۲۱/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

ځواب: په دغه ځای کې دامام اودهغه دزنانوویدیدل صحیح دي اواوسېدل اوخبرې کول صحیح دي.

دبچیانواوکوروالاسره په مسجد کې اوسېدل اوپه مسجد کې دننه ډوډۍ پخول

سوال: (۸۴) که کوم سړی مسجد خپل کوروبولې خپله ښځه اوبچیان پکې اوسوي اوپه مسجد کې دننه ډوډۍ پخوي ،تمباکواوبنګې څکي دخپلې کوروالا سره په یوه ځای کې ویدیږي په دغوکارونودمسجد سپکاوی کیږي ،که نه ؟ دداسي سړی شرعًابایدڅه سزاوي (۲۳۰/ ۱۳۴۰هج)

ځواب: بېشکه په دغوشیانودمسجد سپکاوی کیږي په مسجد کې داسي کارونه نه دي کول پکاراوداسي سړی بایدله مسجد څخه وباسئ ده ته تعزیر اوخبرتیاورکړئ.

دمسجددامام دمسجدپه حجروکې غواوې اوبزې تړل

سوال: (۸۵) ترمسجدلاندې چي کومې حجرې له اوله سره جوړې شوې وې امام دمسجد که پکې غواوې ،بزې وترې نو جائزدی ،که نه ؟ (۲۴۰۲/ ۱۳۴۳هج)

ځواب: په دغو حجروکې دغواوو ،بزواونوروتړل جائزنه دي اوتړوونکی خطاء کاردی دی اوداکاربداوګناه ده بایداپرېږدي ،ځکه چي دمسجددابوهم خلا ف دی اوداسي تصرف دمسجد په حجروکې صحیح هم نه دی فقط.

په مسجدکې خیرات غوښتل

سوال: (۸۶) په مسجد کې دننه سوال کول جائزدی ،که نه ؟ (۲۰۳۰/ ۱۳۴۰هج)

ځواب: فقهاؤ په مسجد کې سوال کول مطلقًا ناجائزلیکلی دی بلکې دایې هم لیکلي دي چي سوال ګرته په مسجد کې څه مه ورکوئ(۱) فقط.

سوال: (۸۷) یوفقیرپه مسجد کې یوولس کړۍ اوپنځه جوړۍ جامې وغوښتې پردې دمسجدجارووهوونکې دلمونځ کوونکولاره ونیوله چي ددغه فقیرسوال پوره کړئ کنې تاسوته دمحمدي شرعي روئ درکوم دده په ځواب کې یوه سړی وویل چي له جرګې څخه درې روپۍ وده ته ورواخلئ له دې ویناوروسته ولاړی پردې دقوم خلګوپرده داالزام ولګاوی چي ده دخدای اورسول روئ ونه مانی نودغه سړی له اسلام څخه خارج دی اوس بایددی په مسجد کې نه پرېږدونور اونورنوپه یادشوې صورت کې دداسي سړی لپاره اودهغوخلګولپاره کوموچي یولمونځ کوونکی مسلمان سړی ته له اسلام څخه وتلی ووایواوسپک یې کړڅه حکم دی ؟ (۲۲۰۴/ ۱۳۴۳هج)

ځواب: په مسجد کې داډول سوال کول منع دی نوکوم سړی چي داوویل چي له جرګې څخه ده ته څه روپۍ ورواخلی ده دابښه کاروکړچي په مسجد کې دده له سوال ورپوره کولو څخه خلګ منع کړي داکارده له شریعت سره سم دی وداسي فقرجنوته خوهیڅ وخت هم څه نه دي ورکول پکارچیري چي په مسجد کې څه ورکول شي ،ځکه نوداسي سړی له اسلام څخه خارج بلل اوله مسجد څخه دده ایستل نوراونورسخته ګناه ده چاچي داسي مشوره وکړه هغوئ ګنهګارشول دوئ بایدتوبه وکاږي اوداسي خیرات غوښتوونکې په مسجد کې له سوال کولو څخه منع کړي اوداسي فقیرانوته په مسجد کې څه مه ورکوئ ترڅودوئ بیا په مسجد کې سوال ونکړي فقط.

سوال: (۸۸) من یسئل فی المسجدسوا ء کان سؤاله علی القرآن اوعلی غیره ممایتعلق بحوائج البشرهل هوجائزله ام لاقال بعضهم یجوزالسؤال فی المسجد لامرلابدمنه کذاقال فی الشامی وقال بعضهم لایجوزالسؤال والاعطاء فی المسجد مطلقًا کذاقال ابن الحاج فی المدخل (۱۳۱۴/ ۱۳۳۵هج)

(۱) ویحرم فیه السوال ویکره الاعطاء (الدالدرالمختارمع الرد(۱/ ۴) ، کتاب الصلوة ،قبیل مطلب فی انشاء الشعرط رشیدیه.

الجواب: یکره اعطاء سائل الاذالم یتخط رقاب الناس فی المختارکمافی الاختیارومتن مواهب الرحمن (درمختار) قوله اذالم یتخط ای ولم یمربین یدی المصلین قال فی الاختیارفان کان یمرّ بین یدی المصلین ویتخطی رقاب الناس یکره لانه اعانة علی اذی الناس حتی قیل هذا فلس لایکفره سبعون فلسا(۱)

ترجمه سوال: (۸۸) څوک چي په مسجدکې سوال کوي که څه هم هغه دقرآن لپاره وي یعنی داسلامي مدرسي لپاره وي یاله دې پرته دکوم بل داسي کارلپاره وي چي دانسان له اړتیااوسره اړه لري نوآیاداسي سوال کول جائزدي که نه ؟ځیني وایې چي دیوډیرضروري کارلپاره په مسجدکې سوال کول جائزدی لکه چي په شامي کې راغلې دي اوځیني وایې چي په مسجدکې سوال کول اوسوالګرته څه ورکول په هیڅ ډول جائزنه دي لکه چي په مدخل کی ابن الحاج لیکلي دي ؟

ځواب: په مسجدکې وسوال کوونکې ته څه ورکول مکروه دي خوکه دی دخلګو پرسرونونه اوړي نوپه مختارقول ده ته څه ورکول مکروه نه دی لکه چي په اختیاراومواهب الرحمن کې راغلې دي (درمختار) دماتن وینا: خوکه دی دخلګوپرسرونونه اوړي یعنی دلمونځ کوونکوومخته تیرنه شي په اختیارکې راغلې دي: نوکه دی دلمونځ کوونکوومخته تیرشي اودخلګوترسرونواوړي نوورکول مکروه دي ،ځکه چي دی وخلګوته په تکلیف رسولوکې مرسته کوي تردې پورې چي ویل شوې دي داداسي روپۍ دي چي جبران یې اویاروپۍ هم نشي کولای یعنی داداسي ګناه ده چي تراویاګناهونودرنه ده (دادشامی عبارت دي)

په مسجدکې وخیرات غوښتوونکې ته څه ورکول

سوال: (۸۹) په مسجدکې سوال کول اوسوالګرته څه ورکول څرنګه دي ؟ (۲۳۰/ ۱۳۳۵هج)

ځواب: په درمختارکې لیکلي دي : [ویحرم فیه السوال ویکره الاعطاء الخ (۴) ترجمه اوحرام دي په مسجدکې سوال کول اوهغه ته ورکول مکروه دي اوپه شامي کې راغلې دي چي که دخلګوترسرونواوړي نومکروه دي کنې نه دی فقط.

(۱) الدروالرد(۵/ ۲۹۲) ، کتاب الحظروالاباحة فصل فی البیع ط رشیدیه.
(۲) الدروالرد(۱/ ۴۸۸) ، کتاب الصلوة ،مطلب فی افضل المساجد ط رشیدیه.

دمسجددترمیم لپاره په مسجدکې سوال کول

سوال: (۹۰) دمسجدترمیم اونورولپاره په مسجدکې سوال کول جائزدي ،که نه ؟ (۱۲۲۱/ ۱۳۴۲هج)

ځواب: دضرورت په وجه صحیح دی فقط.

په مسجدکې پردېني مسئلوبحث کول اودبې وارثه دتجهیز اوتکفین لپاره چنده کول

سوال: (۹۱) په مسجدکې پراسلامي معاملاتوبحث کول یاجلسه کول صحیح دي ،که نه ؟ دلته څوعلماء دناجائزوالې فتوی ورکوي اودارازدبې وارثه مړود تجهیزاوتکفین اونورولپاره په مسجدکې چنده کول صحیح ده ،که نه ؟(۱۹۱۷/ ۱۳۴۳هج)

ځواب: په مسجدکې پرشرعې مسئلوتحقیق اوبحث کول صحیح دی اوداسلامي کارلپاره جلسه کول هم صحیح دي داکارونه په احادیثوثابت دی اوفقهاء هم ددې منع نه ده کړې اودیتیمانواوبې وارثه مړودتجهیز،تکفین اونورولپاره له مسلمانانوڅخه په مسجدکې چنده اخیستل هم صحیح دي فقط.

په مسجدکې قیمتي فرشونه هموارول اوپرمنبرپوښ اچول

سوال: (۹۲) په مسجدونوکې قیمتي فرشونه هموارول اوپرمنبرپوښ اچول څرنګه دي ؟ (۱۸۲۸/ ۳۲ـ ۱۳۳۳هج)

ځواب: داهیڅ پروانلري.

په بیت الله شریفه پوښ اغوستل اودانبیاؤعلیهم السلام دجسمونوحکم

سوال: (۹۳) په بیت الله شریفه پوښ اغوستل بدعت دی اوکه نه ؟ اودانبیاؤ علیهم السلام جسمونه خاورې کیږي ،که نه ؟(۱۲۸۸/ ۱۳۴۵هج)

ځواب: دبیت الله شریفې پوښ دسلفوله زمانې څخه تراوسه پورې راروان دی دابدعت نه دی اوپه حدیث شریف کې راغلې دي [ان الله حرم علی الارض ان تأکل اجسام الانبیاء فنبی الله حی

یرزق (۱) ددې حاصل دادي چې ببشکه الله ﷺ حرام کړې دي پرمځکه باندي چې دانبیاؤ علیهم السلام جسدونه خاوري کړي نو دالله ﷺ نبی ﷺ ژوندی دی ،رزق ورکول کیږي.

دسهارله ذان وروسته په مسجدکې دقرانکریم دیادولولپاره څراغ بلول

سوال : (۹۴) دسهارله اذان وروسته په مسجدکې دقرآنکریم دیادولولپاره څراغ بلول ، اوپروخت باندي دهمدې څراغ په رڼا کې جماعت کول کله چې پردې راځړیږي داجائزدی ،که نه ؟ (۱۳۳۷/۲۵۲هج)

خواب : دسهارله اذان وروسته دتیارې په وجه په مسجدکې څراغ بلول اوقرآن شریف ویل منع نه دی اودپردوپه وجه خودننه تیاره وي که څه هم دسهارلمونځ په داسي حال کې وشي چې څراغ بلیږي هیڅ پروانلري امادامام صاحب رحمه الله په مذهب کې دسهارلمونځ په اسفاریعنی بنه رڼا کې کول افضل اوبهتره دی لکه چې له حدیث شریف [اسفروابالفجرفانه اعظم للاجر(۲)] څخه معلومیږي ،ځکه چې دسهارپه لمانځه کې تلوارنه دی پکاردباندي بنه رڼا کېدل غوره دي اوپه مسجدکې دننه که دپردوپه وجه تیاره وي اوپه همدې وجه دڅراغ په رڼا کې لمونځ وکړل شي نوپه دې کې هیڅ منع اوکراهیت نشته فقط.

دمسجدتېل دقرانکریم دویلولپاره سوځل

سوال : (۹۵) دمسجدتېل دمسجدپه حجروکې دقرآنکریم دویلولپاره سوځل جائزدي ،که نه ؟ (۱۳۴۵-۴۴/۸۲۷هج)

(۱) عن ابی الدرداء رضی الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ اکثروا الصلوة علیّ یوم الجمعة فانه مشهود تشهده الملائکة وان احداً لن یصلی علیّ الاعرضت علی صلوته حتی یفرغ منها قال قلت وبعد الموت قال وبعد الموت ان الله حرم علی الارض ان تاکل اجساد الانبیاء فنبیّ الله حیٌ یرزق (سنن ابن ماجه ص: ۱۱۸، کتاب الصلوة آخرابواب ماجاء فی الجنائز)

(۲) عن رافع بن خدیج رضی الله عنه قال: سمعت رسول الله ﷺ یقول اسفروا بالفجر فانه اعظم للاجر (جامع الترمذی: ۴۰/۱، ابواب الصلوة ،باب ماجاء فی الاسفار بالفجر)

خواب : سوځل نه دي پکاراوله شک څخه هم پرهیزکول پکاردي.

دلمونځ کوونکوله تګ وروسته دمسجدڅراغ مړکول

سوال : (۹۶) دمسجدڅراغ دماخستن له لمانځه وروسته چې لمونځ کوونکي رخصت شي مړه کول مناسب دي که دي بلیږي ؟ (۱۳۳۹/۵۱۸هج)

خواب : دمسجدڅراغ دماخستن ترلمانځه وروسته ترفارغېدواودلمونځ کوونکوله رخصتېدووروسته مړکول هیڅ پروانلري فقط.

په مسجدکې څراغ (ډېوه) بلول

سوال : (۹۷) دخاوردتېلوبتۍ په مسجدکې بلول جائزدي ،که نه ؟ (۱۳۴۲/۱۹۲۷هج)

خواب : دمکروه والي علت بدبوئ ده که بدبوئ نه وي نوجائزدی ،ځکه چې علت په دې کې نجاست نه دی فقط.

سوال : (۹۸) یوسرې دشپې په مسجدکې ویدیږي دخپل ضرورت لپاره یوڅراغ دخاورودتېلو (ګاسلېټو) په مسجدکې ږدي اودارتیاپرمهال یې دشپې لګوي دضرورت پوره کولولپاره ورې په داسي حال کې کومه ګناه خوبه نه وي ؟ (۱۳۴۳/۱۱۳هج)

خواب : ددا سي ضرورت په حال کې امیدی چې دی به له ګناه څخه وژغورل شي خوبیاهم احتیاط غوره دی چې دغه بتۍ چې پکې دخاوروتېل بدبویه دي له مسجدڅخه یې دباندي کښېږدي.

په مسجدکې شمعه بلول بېله کراهیته صحیح دی

سوال : (۹۹) په مسجدکې موم بتۍ بلول په شریعت کې څرنګه دی ؟ زیدوایې چې شمعه له شکمنوشیانوڅخه جوړیږي ،ځکه ددې په مسجدکې بلول صحیح نه دي بکرددې خلا ف وایې په دې کې محاکمه وکړئ ؟ (۱۳۴۳/۲۲۲هج)

خواب : په دې اړه دبکرویناصحیح ده شمعه په مسجدکې بلول بېله کراهیته صحیح ده فقط.

دهندوورکړل شوې شمعه په مسجدکې بلول

سوال: (۱۰۰) که کوم هندو د مسجد د ترمیم لپاره چنده ورکړي یا په مسجد کې د موم بتۍ، تیلو او نورو بلولو لپاره یې ورکړي نو هغه چنده، تېل او نور په مسجد کې استعمالول جائز دي، که نه؟ (۳۶۴/۴۴-۱۳۴۵هج)

ځواب: هندو که په مسجد کې تېل یا شمعه د بلولو لپاره ورکړي نو د هغې په مسجد کې بلول صحیح دي دا راز که دی روپۍ د مسجد ترمیم لپاره ورکړي نو د هغه د مسجد په جوړښت کې صرفول صحیح دي، ځکه چې ښکاره ده چې کوم څه هغه کافر و مسجد ته ورکوي ثواب یې بولي، ځکه یې ورکوي او زموږ په نزد هم دا د ثواب کار دی وهو الشرط فی وقف الکافر کما فی رد المحتار: ان شرط وقف الذمی ان یکون قربة عندنا وعندهم (۱).

د مسجد صفایۍ لپاره ونې پرېکول

سوال: (۱۰۱) د مسجد غولی د ختیز و لور ته پراخ و او کومه برخه چې پراخه کړل شوه په هغې کې ونې دي نو د مسجد د غولي د پراخوالي، د هوا او د حیواناتو له مردارۍ څخه د پاکولو په خاطر ونې پرېکول د سایې او سورې په خاطر دواړه کاره صحیح دي، که نه؟ او په دغو دواړو کې غوره کوم یو دی؟ (۱۲۲۴/۱۳۳۵هج) فقط.

ځوب: مسجد د مردارۍ او نورو څخه پاکول زیات ضروري دي، ځکه پرېکول یې غوره دي فقط

په هرو پنځلسو دقیقو وروسته زنګ وهوونکې ساعت په مسجدکې ښوول

سوال: (۱۰۲) په مسجدکې د اسې ساعت ښوول جائز دي، که نه؟ چې پاو، نیم ساعت یا ساعت وروسته زنګ وهي؟ (۴۹۷/۴۴-۱۳۴۵هج)

ځواب: لکه څرنګه چې عام زنګ وهوونکی ساعت په مسجدونو کې ښوول جائز دي دا راز دغه ساعت چې پاو، نیم ساعت یا ساعت وروسته زنګ وهي هم په مسجدکې ښوول جائز دي فقط.

(۱) الشامی (۳۹۴/۳)، کتاب الوقف، شرائط الوقف ط رشیدیه.

په مسجدکې ساعت ښوول صحیح دي

سوال: (۲۰۳) نوی لوئ ساعت که رانیسو په مسجد کې یې لګولای شو، که نه؟ په وړیځ او نورو کې د یرضرورت وي پرتا کلې وخت لمونځ اداکولای شو (۱۲۲۱/۱۳۴۰هج)

ځواب: په موجوده حالاتو کې په مسجد کې لوئ ساعت لګول صحیح دي فقط.

د لمونځ کوونکې د تجارت سامان په مسجدکې ښوول صحیح دي

سوال: (۱۰۴) زید ګرځنده تجارت کوي نو د لمانځه پروخت د تجارت سامان تر لمونځ اداکولو پورې په مسجد کې ښوولای شي، که نه؟ بکر د جواز صورت وروښووی عمروایې چې دا غلط دی او د ناجائزوالې په هکله د هدایې دا عبارت پیشوي [ولابأس بان یبیع ویبتاع فی المسجد من غیران یحضر سلعة لانه قد یحتاج الی ذلک بان لایجد من یقوم بحاجته الا انهم قالوا: یکره احضار السلعة للبیع والشراء لان المسجد محرز عن حقوق العباد وفیه شغله بها ویکره لغیر المعتکف البیع والشراء فیه لقوله علیه السلام: جنبوا مساجدکم صبیانکم (الی ان قال) وبیعکم وشراءکم (۱)] نو بکر وویل چې له دې څخه صرف دا معلومېږي چې د معتکف لپاره د تجارت سامان په مسجدکې ښوول ناجائز دي او له ده څخه پرته د نورو لپاره هم ناجائزوالی له دې څخه نه معلومېږي د دې څه ځواب دی؟ (۳۱۷۳/۴۲-۱۳۴۷هج)

ځواب: د هدایه په عبارت کې څرګندونه ده چې که بیع او شراء (رانیول خرڅول) په مسجدکې وي په حالت د اعتکاف کې نو مسجد ته د مبیعې وړل مکروه دي او کله چې رانیول، خرڅول نه وي بلکه لمونځ کوونکې تر لمونځ کولو پورې خپل سامان د تجارت په مسجدکې له ځان سره کښېږدي نو دا شرعاً بېله کراهیته جائز دی د هدایې په عبارت کراهت له دې نه ثابتېږي نو د بکر وینا صحیح ده فقط.

د مسجد په څلورد یوالی کې د بیت الخلاء جوړولو او د سپې پاللو حکم

سوال: (۱۰۵) د مسجد په څلورد یوالی کې د ننه تشې جوړول یا سپی پالل صحیح دي، که نه؟ (۱۵۵۴/۱۳۳۷هج)

(۱) الهدایة ۲۳۰/۱-۲۳۱، کتاب الصوم آخر باب الاعتکاف.

ځواب: دمسجدپه څلوردیوالۍ کې دننه یادباندي دغسل خانې سره که دضرورت لپاره بیت الخلاء (ټټۍ) هم جوړه شي نوحرام نه دی خوخاص له مسجدڅخه بایدجلا وي اودهغه دپاک ساتلواهتمام وي چي لمونځ کوونکوته له بدبوئ څخه تکلیف نه وي اوغوره دادی چي دمسجدله څلوردیوالۍ څخه دباندي بیت الخلاء وي ،ځکه چي په حدیث شریف کې ومسجدته زیات نژدي له بیت الخلاء جوړولوڅخه منع راغلې ده (۱) نوکه بیت الخلاء دلمونځ کولو ځای ته زیاته نژدي نه وي اوپه دې ضرورت چي له څلوردېوالۍ څخه دباندي کوم ځای دبیت الخلاء جوړنشته نوپه څلوردېوالۍ کې دننه هم صحیح دی خودپاک ساتلواونوررواهتمام به وي اودسپی ساتنه بېله خوندي کولواونوروله اړتیابنه نه دی په حدیث شریف کې راغلې دي : [من اقتنی کلبًا الاکلب ماشية اوضارٍ نقص من عمله کل یوم قیراطان (۲)] یعنی چاچي سپی وساتئ دحیواناتواونوررویادښکارله خوندي کولوپرته نودهغه له عمل څخه هره ورځ دوه قیراطه ثواب کمیږي.

سوال: (۱۰۶) دمسجدپه څلوردېوالۍ کې دننه بیت الخلاء جوړول جائزدي ،که نه ؟ داودس له ځای څخه دیارلس لاسه لیري (۱۴۰۷/ ۳۳- ۱۳۴۳هج)

ځواب: که ضرورت وي نوصحیح دی خوپاک به یې ساتئ اوښه دادی چي له مسجدڅخه پرزیاته فاصله بیت الخلاء جوړه کړئ که سخت ضرورت وي نوصحیح دی فقط.

په مسجدکې هواخارجول

سوال: (۱۰۷) زیدوایې : چي که په مسجدکې دچاباد پرې شي نوملائکې هغه په خوله کې واخلي

---

(۱) ومسجدته نژدي دبیت الخلاء جوړولومنع غالبًا حضرت مفتی صاحب له لاندي روایت څخه اخذکړې دی عن جابررضی الله عنه قال : [نهی رسول الله ﷺ عن اکل البصل والکراث فغلبنا الحاجة فاکلنامنهافقال من اکل من هذه الشجرة المنتنة فلا یقربن مسجدنافان الملائکة تأذی ممایتأذی منه الانس (الصحیح لمسلم ۱/ ۲۰۹، کتاب المساجد ،باب نهی من اکل ثوماوبصلااوکراثااونحوها مما له رائحة کریهة عن حضورالمسجدحتی تذهب ذلک الریح واخراجه من المسجد)

(۲) عن نافع عن عبدالله بن عمرضی الله عنهم قال : قال رسول الله ﷺ من افتنی کلبًا الحدیث (البخاری ۲/ ۸۲۴، کتاب الذبائح والصید والتسمية ،باب من اقتنی کلبًا الخ).

له مسجدڅخه دباندي ځي داصحیح دی ،که نه ؟ بینواتوجروا (۱۲۷۹/ ۳۳- ۱۳۳۴هج)

ځواب: زیدچي کوم څه وایې ددې هیڅ ځای ثبوت نشته فقهاؤپه دې کې داتفصیل لیکلی دی په شامي کې راغلې دي : [وکذالایخرج فیه الریح من الدبر کمافی الاشباه واختلف فیه السلف فقیل لابأس وقیل : یخرج اذااحتاج الیه وهوالاصح الخ (۱)] فقط.

دمسجدددروازې له دېوال مسه کولووروسته لاس پرسېنه ښوول

سوال: (۱۰۸) زیدچي کله مسجدته راځي نودمسجدددروازې دېوال مسه کړي لاس پرسېنه ولګوي اودده په خیال دادمسجددرناوی دی دافعل څرنګه دی ؟ (۱۷۲۱/ ۱۳۳۸هج)

ځواب: دادول تعظیم په شریعت کې ثابت نه دی اوله ځانه دادول درناوی تولیدول اوجوړول په دین کې نوی کارپیداکېدل دي ،ځکه نوصحیح نه دی.

دقبله نمای په وسېله قبله معلومول

سوال: (۱۰۹) دمسجدجوړېدوپروخت دقطب نماپه وسېله چي کومه کرښه جوړه شي آیاپرهغه هم دقبلې دلورصحیح کېدولپاره کرښه شرقًا ، غربًا یاکوم ډول مخته ،شاته کول ضروري دي که دی نوڅه راز (۲۵۸۲/ ۱۳۳۷هج)

ځواب: دهندوستان په زیاتره ښارونوکې په قطب نماسره دمسجدونورخ صحیح کیږي اوپه قطب ستوری سره هم دشپې رخ کتل کیږي نودهمدې سره سم دمسجدرخ کول پکاردي خوو څه مخ اوشاته کولوته ضرورت نشته (۲) فقط.

---

(۱) ترجمه : اودارازپه مسجدکې دې له دبرڅخه هوانه باسي لکه چي په الاشباه کې راغلې دي اواسلافوپه دې مسئله کې اختلا ف کړی دی خیني حضراتوویلې دي : چي داهیڅ پروانلري اوخیني حضراتوویلې دي چي کله ضرورت وي نوهوادې وباسي اوهمدغه زیات صحیح دی.

(الشامی (۱/ ۴۸۲) ،کتاب الصلوة ،مطلب فی احکام المسجدط رشیدیه.

(۲) خواوس قبله نماوې راوتلې دي نوپه دوئ سره دمسجدرخ برابرول زیات غوره دی سعیداحمدپالنپوري.

که هندوان مسجدته نژدې ډول اوسرناوهي نودمسلمانانولپاره څه کول پکاردي

سوال: (۱۱۰) داکتوبرپه اتمه کال ۱۰۱۲کې هندوان دمسجدپه برابرکې دډول اوسرنارااېستوته آماده شول مسلمانان چې په خبرشول اولسوال ته يې عارضه وکړه هغه حکم وکړپرسړک باندي وچاته دډول اوسرنابندولواجازه نشته مسلمانان اوس ددوئ ومنع کولوته آماده دي دوهمه ورځ بياهماغه رازحال وو داولسوالۍ مشران راغلل دمسجدومخته ډول اوسرنابندکړل شوبيااولسوال وويل چې دمسجدومخته سرناوهل څه پروالري ؟صرف دلمانځه پروخت بندېدل بس دي مسلمانانوپه ځواب کې ورته وويل چې دمسجدددرناوې په وجه موږخندېږو ،ځکه نوهيڅ وخت دې سرنانه وهل کيږي بيايې له خبرووروسته وويل چې په دې کې دمسجدهيڅ درناوی نشته خوموږاوس سرنابندووروسته به امرورته وکړواودمسجدددرناوي په اړه چې کوم ثبوت شته په اسلامي کتابونوکې يې راښکاره کړئ بيايې دوهمه ورځ له خبرووروسته داوليکل چې صرف دلمنځونوپروخت دې سهارله پنځوبجوڅخه ترشپږوبجوپورې اوپه نورو لمونځونوکې نيم ،نيم ساعت دې سرنابندېږي اوپه نورووختونوکې دې وهل کيږي ددې حکم په اورېدومسلمانان غمجن دي ،ځکه دپوښتنې ضرورت پيښ شو.

(الف) آيادپورته يادې شويووجوله امله ددغه ناوړه عمل چې دمسجدومخته وي په هروخت کې کيږي دخندنه جوړېدوپه وجه کناه شته ؟ (ب) صرف ودې ته دخنډجوړېدوله امله که چاسروبايلی نوشهيددی که شقي اوکه صرف مسلمان مړشو؟(۲۰۹۹/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

ځواب: مسلمانان پرداسي موقع بايدله ډېره صبره کارواخلي اودناپوهۍ له جذبې څخه کاروانخلي پرعام سړک باندي نورقومونه سرناوي وهي نوومسلمانانوته په دې کې دکوم سپکاوي نسبت نه کيږي امادلمنځونوپه وخت کې ومسجدته نژدي په سرناوهلوپه لمانځه کې تاوان پيښيږي نوهغه خوپخپله حکومت ختم کړچي دلمونځوپه وختونوکي سرناوهل بندکړمسلمانان دې پرهمدې حکم بسنه وکړي اوکوم شوراوغوغادې دحکم په خلا ف نه کوي دمسجدسپکاوی هغه وخت دی کله چې په مسجدکې کوم ناوړه عمل وي په دې ښه ځان پوهول پکاردي اوله ناپوهۍ څخه دې کاروانخستل شي دلمونځونو ختونه چي کله له دغه لهو ،لعب ،شوراوغوغاڅخه خوندي وي نومسلمان بايدپه دې

خوشحال وي اوپه اطمينان سره لمونځ په مسجدکې اداکول پکاردي دنورووختونودوئ ذموارنه دی اونه پرمسلمانانوباندې دهندوانوپه سرناوهلوکومه مواخذه شته فقط والله تعالی اعلم.

دتراويحولپاره بل مسجدته تلل

سوال: (۱۱۱) په روژه شريفه کې په يومسجدکې په تراويحوکې دقرآنکريم شريف ختم کيږي نودنوروکليوخلګ که خپل ،خپل مسجدونه پرېږدي وهمدې مسجدته دقرآنکريم داورېدولپاره ورشي نوجائزدی ،که نه ؟(۲۸۸۱/ ۱۳۴۳هج)

ځواب: پرکليوالودخپل کلي دمسجدحق زيات دی پردوئ ضروري دی چې خپل مسجدونه آبادکړي دخپل کلي مسجدونه پرېښوول نورومسجدونوته تلل په هيڅ رازمناسب نه دی اول خوداکوشش کول پکاردی چې په خپلو ،خپلو مسجدونوکې دقرآنکريم دختم بندوبست وکړي که دانشي کېدای نوبياپه کوچنی ،کوچنې سورتونوتراويح کوي په درمختارکې راغلي [والجماعة فيها سنة على الكفاية فى الاصح فلوتركهااهل مسجداثمواوفى الشامى وهل المراد انهاسنة كفاية لاهل كل مسجدمن البلدة اومسجدواحدمنهااومن المحلة ؟ ظاهركلام الشارح الاول واستظهرط الثانى ويظهرلى الثالث لقول المنية حتى لوترك اهل محلة كلهم الجماعة فقدتركوا السنة واساؤاوقال حتى لواقاموهاجماعة فى بيوتهم ولم تقم فى المسجداثم الكل (۱) (شامی ۱/ ۴۷۳)

حاصل داچې دقرآنکريم دختم نه کېدوپه وجه مسجدونه پرېښوول مناسب نه دي فقط والله تعالی اعلم.

په کوم مسجدکې چې امام اومؤذن مقررنه وي هغه هم مسجددی

سوال: (۱۱۲) په کوم مسجدکې چې امام اومؤذن مقررنه وي اوپنځه وخته لمونځونه تل په جماعت سره کيږي اودجمعې لمونځ هم پکې کيږي هغه مسجددی که دمسجدپرځای سرای دی ؟ کوم سړی چې داډول مسئلې ښکاره کړي چې ورڅخه دخلګوپه عقېده کې فرق راشي دداسي سړي په هکله شرعًا څه حکم دی ؟(۲۱۲/ ۳۵-۱۳۳۲هج)

ځواب: دامام اومؤذن نه مقررېدووجه مسجددمسجدله حکم څخه نه وځي.

(۱) الدروالرد(۱/ ۵۲۱) ، كتاب الصلوة ،مبحث صلوة التراويح ط رشيديه.

دادهغه ناخبره سړی ناپوهي اونادانی ده چي دمسجد تعبیرپه سرای سره کوي اوداهل سنت والجماعة دعقیدې په خلاف مسئلې ښکاره کول فسق اوبدعت دی دداسي سړی په خبره باورنه دي کول پکار اوبایدله ده سره اړیکې اوناسته ولاړه ونکړل شي.

وشراب خانې ته نژدې دمسجدجوړولواودهغه دمرستې کولوحکم

سوال: (۱۱۳) (الف) وشراخابخانې ته نژدې مسجد جوړول څرنګه دي؟
(ب) دیادشوي مسجد مرسته کول څرنګه دي؟ (۲۳۳۸/۱۳۳۸هج)

ځواب: (الف) که دمسجد هلته ضرورت شته نومسجد جوړول پکاردي اودشراب خانې دپورته کولوفکراوکوشش کول پکاردي دارازکه مسجدهلته جوړشوی دی نوهغه مسجدشو، شرابخانه اونورې مرداری له هغه ځایه ترخپل وسه پورته کول پکاردي اوکه مجبوري وي نومسلمانان معذوردي.

(ب) کله چي هغه مسجد شونودهغه مرسته دثواب کاردی.

په مسجدکې په لوړاوازقرانکریم ویل

سوال: (۱۱۴) په مسجد کې لمونځ کوونکې لمونځ کوي هلته یوسړی په لوړآواز قرآنکریم تلاوت کوي داڅرنګه دی؟ (۲۷۷۰/۱۳۴۱هج)

ځواب: غوره دادی چي دغه سړی قرآنکریم کراروواېي یاېې بل ځای وواېي فقط.

دقرانکریم اداب

په کرسۍ یاپه چارپایې باندي دقرآنکریم تعلیم ورکول کله چي قرآنکریم لاندي

سوال: (۱) یواستاذپرکرسۍ کښیني وماشومانوته قرآنکریم ورښیې دماشوما نوقرآنونه په لاسوکې وی لاندي ناست وي په دې کې څه حکم دی آیادادقرآنکریم بې ادبي ده، که نه؟ (۱۲۰۱/۱۳۳۷هج)

ځواب: ښېشکه داکاردادب خلاف دی ښه دادی چي معلم صاحب پورته نه کښېني خودی ګنهګارنه دی، ځکه چي دادب په خلاف کولوګناه نه وي بلکه داولی په خلاف دی فقط.

سوال: (۲) یوسړی بغدادی قاعده (سی پاره) اوقرآنکریم له چاڅخه نه دی ویلې اونه دقرآنکریة پرالفاظودصحیح ویلواوراایستوقدرت لري بیاهم دی وماشومانوته سبقان وایې اوپخپله دی اوندېوالان پرچارپایې اوکرسۍ کښېنوي قرآنکریم لاندي وي؟ (۱۸۳۲/۱۳۳۳۲هج)

ځواب: که دغه سړی چي قرآنکریم اوبغدادی قاعده یې له چاڅخه نه دې ویلې خوقرآنکریم صحیح وایې اودویلوتوان لري نودی ماشومانوته سبق ښوولای شي اوکه پخپله قرآنکریم صحیح نشي ویلای نوسبقان ښوول هم ناجائزدی اولاندي قرآنګریم ښوول پخپله دی اوندېوالان پرکرسۍ کښېنول دادب خلاف دی داسي نه دي کول پکار.

دقرانکریم دتلاوت اوربدوحکم

سوال: (۳) زیدسره له دوو، دریوملګروپه یوه کوټه کې اوسیږي زیددخپل عادت سره سم

هره ورځ د سهارله لمانځه وروسته نیم ساعت دقرآنکریم تلاوت په میانه اوازکوي دزیدملګری چي په دې کوټه کې اوسیږي پخپل مینځ کې خبرې کولای شي کله چي زید تلاوت کوي اوکه نه؟ (۷۸۵/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

ځواب: دقرآنکریم قراءت اوریدل فرض کفایي دی اوویوونکې ته پکاردي چي په داسي ځای کې چیري چي خلک په خبرو مشغول وي په زوره قرآنکریم ونه وایي (۱) نوپه پوښتل شوې صورت کې دویوونکي لپاره مناسب دي چي په لوړ آواز قرآنکریم ونه وایي اوکه په جهروایي نودنورو ملګرو لپاره اوریدل ضروري دي خبرې دي نه کوي (۲)

په فوټوګراف سره دقرانکریم داوریدوحکم

سوال: (۴) دفوټوګراف (آوازثبتولوآله) په وسیله نعتونه اوقرآنکریم اوریدل جائزدي ،که نه؟ (۳۸۲/ ۴۴-۱۳۴۵هج).

ځواب: دا یوه باجه ده په دې کې هیڅ اوریدل صحیح نه دي قال فی الدرالمختار:]ودلت المسئلة ان الملاهی کلها حرام الخ قال ابن مسعود رضی الله عنه صوت اللهو والغناء ینبت النفاق فی القلب کماینبت الماء النبات الخ (درمختار) قال الله تعالی ومن الناس من یشتری لهوالحدیث (الآیة) جاء فی التفسیران المراد الغناء (۳) (شامی) فقط.

سوال: (۵) دفوټوګراف په ریکارډونوکې قرآنکریم اوریدل صحیح دي ،که نه؟ (۸۷/ ۳۲-۱۳۳۳هج)

ځواب: صحیح نه دی ،ځکه چي دالهواولعب دي اودقرآنکریم په دې کې اوریدل اولوستل

(۱) قال فی الشامی: وفی شرح المنیة والاصل ان الاستماع للقرآن فرض کفایة لانه لاقامة حقه بان یکون ملتفتا الیه غیرمضیع وذلک یحصل بانصات البعض کمافی ردالسلام حین کان لرعایة حق المسلم کفی فیه البعض عن الکل الاانه یجب علی القاری احترامه بان لایقرأه فی الاسواق ومواضع الاشتغال فاذاقرأ فیهاکان هو المضیع لحرمته فیکون الاثم علیه دون اهل الاشتغال دفعًا للحرج (ردالمحتار (۱/ ۴۰۳) کتاب الصلوة ،مطلب الاستماع للقرآن فرض کفایة ط رشیدیه) (۲) واذاقرئ القرآن فاستمعوا له وانصتوا لعلکم ترحمون (سورة اعراف: آیت: ۲۰۴)

(۳) الدرالمختاروالشامی (۵/ ۲۴۵) ، کتاب الحظروالاباحة ،قبل فصل فی اللبس ط رشیدیه)

دقرآنکریم بې ادبي ده.

په مکروه وختونوکې دقرانکریم تلاوت کول

سوال: (۲) خواندن قرآنکریم درکدام اوقات مکروه است؟ میگویند چناچه نماز گذاردن درسه اوقات معلومه مکروه است قرآنکریم خواندن هم مکروه است؟ (۱۲۰۸/ ۱۳۳۵هج)

ځواب: قال فی ردالمحتارناقلا عن القنیة: الصلوة علی النبی □ والدعاء والتسبیح افضل من قراءة القرآن فی الاوقات التی نهی عن الصلوة فیها الخ (۱) (۵/ ۲۷۲آخرالحظروالاباحة).

وفی الدرالمختار: وتستحب القرأة عندالطلوع اوالغروب قال الشامی فالظاهر انهماقولان(۱).

ترجمه سوال: (۲) په کوموو ختونوکې دقرآنکریم تلاوت کول مکروه دی؟ وایي لکه څرنګه چي په دریوو معلوموو ختونوکې (یعنی دلمرختو، لوېدو،اوپرسرراتلووخت) لمونځ کول مکروه دی دارازدقرآنکریم تلاوت کول هم مکروه دی؟

ځواب: علامه شامی رحمه الله په ردالمحتارکې له قنیه څخه رانقل کړې دي چي په کوموو ختونوکې له لمونځ کولو څخه منع منع شوې ده په هغوو ختونوکې پررسول الله □ باندې درودویل ،دعاغوښتل اوتسبیح ویل دقرآنکریم تلاوت کول مستحب دي اوپه درمختارکې راغلې دي چي دلمرختویالوېدوپروخت دقرآنکریم تلاوت کول مستحب دی علامه شامی رحمه الله وایي: چي ښکاره خبره داده چي (په مکروه وختونوکې دقرآنکریم دتلاوت کولو په اړه) دوه قوله دي.

سوال: (۷) دلمرراختویالوېدوپروخت دقرآنکریم تلاوت جائزدی ،که نه؟ اوزوال (یعنی استواء) پروخت تلاوت کول څرنګه دي؟ (۲۷۰۸/ ۱۳۴۲هج) ځواب: دقرآنکریم تلاوت دلمرراختو،لویدواوزوال پروخت صحیح دی په دې کې هیڅ اختلا ف نشته اوکه دسجدې دآیت تلاوت په دغه وختونوکې وشي نودتلاوت سجده په دغه وختونوکې کول تنزیهي مکروه دی بل وخت سجده کوئ.

(۱) الشامی (۵/ ۳۰۰) ، کتاب الحظروالاباحة ،فصل فی البیع ط رشیدیه

سوال: (۸) دسهارله لمانځه وروسته ترلمرختوپورې دقرآنکریم تلاوت کول صحیح دي ،که نه ؟(۱۴۳/ ۱۳۴۳هج)

ځواب: دقرآنکریم تلاوت په هيڅ وخت کې منع نه دی هروخت روادی خوپه ځينووختونوکې داولی خلاف دی له هغوئ څخه داوخت هم دی ښه دادی چي په دغه وخت کې دالله ﷺ په ذکراونورومشغولوئ اوله لمراختووروسته دقرآنکريم تلاوت وکړئ له صحابه کرامورضی الله عنهم اوسلفوصالحينوڅخه دارازرانقل شوې دي په درمختارکې راغلي دي: [ذکرالله من طلوع الفجرالی طلوع الشمس اولی من قراءة القرآن (۱) اوشامی له قنيه څخه رانقل کړې دي [الصلوة علی النبی ﷺ والدعاء والتسبيح افضل من قراءة القرآن فی الاوقات التی نهی عن الصلوة فيها (۱) فقط]

سوال: (۹) (الف) زيدوايې چي دقرآنکريم تلاوت له لمراختوڅخه مخکې پکاردی له لمراختووروسته نه دی پکارداوېناصحيح ده ،که نه ؟

(ب) دقرآنکريم دتلاوت کوم ،کوم وختونه دي ؟(۲۲۸۲/ ۱۳۴۳هج)

ځواب: (الف ، ب) دبيان دزيدصحيح نه دی دقرآنکريم تلاوت هروخت صحيح دی اماپه درمختارکې دومره ليکلې دي چي دسهارله سپېدووروسته ترلمرراختوپورې ذکر [سبحان الله ، لااله الا الله] اودرودويل افضل دی دقرآنکريم له تلاوت څخه خودقرآنکريم ويل هم منع نه دی اوپه شامی کې راغلي دي [الصلوة علی النبی ﷺ والدعاء والتسبيح افضل من قراء ة القرآن فی الاوقات التی نهی عن الصلوة فيها(۱) يعنی په کوموووختونودلمرراختو، لوېدواوزوال (يعنی استواء) پروخت لمونځ کول مکروه دی په دغووختونوکې بهتردادی چي درودشريف ،تسبيح اوداسي نوروايې خوکه قرآنکريم هم ووايې نومنع نه دی صرف دبهتروالي اونه بهتروالي فرق دی فقط.

په سُرسره اوپه ښه اوازسره په ويلوکې څه فرق دی ؟

سوال: (۱۰) په سُراودترانې په څېرقرآنکريم ويل څرنګه دی ؟آياخوش آوازي په سُرکې داخل دي ؟په سُراوخوش آوازي کې څه فرق دی ؟(۹۵۲/ ۴۲ - ۱۳۴۷هج)

(۱) الدروالرد(۵/ ۳۰۰) ، کتاب الحظروالاباحة فصل فی البيع ط رشيديه.

ځواب: په راګ اونغمه دقرآنکريم ويل ناجائزدی ،ځکه چي په حديث کې ددې منع راغلې ده [وعن حذيفة رضی الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ اقرءوا القرآن بلحون العرب واصواتها ولحون اهل العشق ولحون اهل الكتابين وسيجئ بعدی اقوام يرجعون بالقرآن ترجيع الغناء والنوح لايجاوزحناجرهم مفتونة قلوبهم وقلوب الذين يعجبهم شأنهم رواه البيهقی فی شعب الايمان (۱)]

اوپه سُراونغمه کې دآوازترجيع اوترديد (راګرځونه) وي لکه آ آ آ ا الخ په خلاف دخوش آوازۍ چي په هغه کې مداونوردتجويدله قاعدوسره سم کيږي اوخوش آوازي په سُرکې داخله نه ده.

قرانکريم په نغمه سره ويل

سوال: (۱۱) که کوم سړی قرآنکريم په نصيحت کې دشعرونوپه څيرووايې اودآيتونوله ويلوسره لاسونه داسي ښوروي لکه چي سندرې ويوونکی وي اودآيت پرختمېدولاس دارنګه پرسېنه کښېږدي لکه چي غزل ويوونکی يې ږدي داسړی ګنهګارېږي ،که نه ؟ اوحديث من لم يتغن بالقرآن څه معنی ده (۲۲۲/ ۳۳ - ۱۳۳۴هج)

ځواب: قرآنکريم دغزلوپرطرزويل لکه چي په سوال کې ليکلې دي حرام دی اوحديث من لم يتغن بالقرآن (۲) معنی داده چي قرآنکريم په ښه صورت اوآوازبايدوويل شي اوځينوويلې دي: چي دقرآنکريم سره غنا(مړښت) حاصليدل پکاردي اومستغنی کېدل پکاردي دغزلوپه څيرله دې څخه مرادنه دی.

سوال: (۱۲) (الف) په مسجدکې ويديدل څرنګه دي ؟

(ب) قرآنکريم دغزلې په طرزويل څرنګه دي ؟(۳۰۱/ ۱۳۳۵هج)

ځواب: (الف) په مسجدکې ويدېدل دمسافراومعتکف لپاره صحيح دی اودنورولپاره مکروه دی

(۱) المشکوة ص: ۱۹۱، کتاب فضائل القرآن الفصل الثالث.

(۲) عن ابی هريره رضی الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ ليس منامن لم يتغن بالقرآن رواه البخاری (مشکوة ص: ۱۹۰، کتاب فضائل القرآن ،باب الفصل الاول)

كذافى الدرالمختار(۱) اوپه شامي کې راغلي دي چي کله څوک په مسجد کې ویدېدل غواړي نو داعتکاف په نیت دې مسجد ته ورشي او څومره چي یې وس وي ذکر یا لمونځ دې وکړي بیا دې ویده شي (۲)

(ب) دغزلې پرطرز د قرآنکریم ویل منع دي په حدیثو کې ددې منعه راغلې ده.

دښځې ددېوال ترشاپه لوړاوازسره قرانکريم ويل

سوال: (۱۳) په یوه مکان کې چي دېوال په مینځ کې وي نو ښځه په لوړآواز قرآن کریم ویلای شي، که نه؟ (۱۹۵۵/۳۲-۱۳۳۳هج)

ځواب: ویلای یې شي هیڅ پروانلري خو که دفتنې ویره وي نو کراردې وایې.

دخوکسانو يوځاى په جمع په لوړاوازتلاوت كول

سوال: (۱۴) که څو کسان یوځای په لوړاواز قرآنکریم وایې نو څرنګه دی؟ (۵۳۰/۳۵-۱۳۳۶هج)

ځواب: زمونږ حنفی فقهاؤ دا څرګندونه کوي چي له لمانځه څخه دباندې هم دقرآنکریم اورېدل ضروري دي (۳) یعني پټه خوله کېدواواورېدل پکاردي کماقال الله تعالى واذاقرئ القرآن فاستمعوله وانصتوا (سوره اعراف آیت: ۲۰۴) فی الدرالمختاریجب الاستماع للقراء ة مطلقًا لان العبرة لعموم اللفظ الخ (۴) خودکوچنیانو یوځای ویل دیادولولپاره دضرورت په وجه دی داکومه پروانلري اودغټوکسانولپاره دا رازیوځای په لوړآوازویل نه دي پکارلکه چي په ختم اونوروکې رواج دي بلکه په داسي ځایونوکې کراروېل پکاردی فقط.

سوال: (۱۵) که څوکسان رایوځای شي په لوړاواز د قرآنکریم تلاوت کوي نوجائزدی، که نه؟ (۳۰۵/ ۱۳۳۸هج).

(۱) ویکره الاعطاء مطلقا واکل ونوم الالمعتکف وغریب (الدرالمختارمع الشامی (۱/ ۴۹۸)، کتاب الصلوة، مطلب فی الغرس فی المسجد ط رشیدیه.)

(۲) واذااراد ذلک ینبغی ان ینوی الاعتکاف فیدخل ویذکرالله تعالی بقدر مانوی اویصلی ثم یفعل ماشاء (الشامی (۱/ ۴۸۹)، کتاب الصلوة ط رشیدیه)

(۳) ضروری دی یعنی مستحب دی لکه چي په مخته دووفتواوو کې چي راروان دی ۱۲ سعید احمد پالنپوری.

(۴) الدرالمختارمع الرد(۱/ ۴۰۳)، کتاب الصلوة فروع فی القرأة خارج الصلوة ط رشیدیه.

ځواب: په شرح منیه کبیری کې راغلي دي یکره للقوم ان یقرأوا القرآن جملة لتضمنها ترک الاستماع والانصات وقیل لابأس به الکل فی القنیة (۱) یعنی دډېرو خلګو یوځای قرآنکریم ویل مکروه دی چي داکارداورېدواوپټه خوله کېدو پرېښودوته متضمن دی اوځینو ویلي دي: چي هیڅ پروانلري داټول په قنیه کې راغلي دي نومعلوم شوچي زیات احتیاط په پرېښودلو کې دی.

سوال: (۱۲) که څوکسان په لوړآوازپه یو یا بېلابېلو ځایونو کې قرآنکریم یادوي یا یې تلاوت کوي نو جائزدی، که نه؟ او د[واذاقرئ القرآن فاستمعواله] (سوره اعراف آیت: ۲۰۴) آیت به پرڅه حمل کېږي؟ (۵۹۲/ ۱۳۳۷هج)

ځواب: کله چي آوازدبل دتلاوت راشي نو اورېدل پکاردي په داسي حال کې په جهر (په زوره) ویل منع دي.

په لوړاوازقرانكريم په ويلوباندي ويوونكى ګنهګاريږي ؟

سوال: (۱۷) قرانکریم په جهرویلوسره چیري چي خلګ پخپلو کارونو کې نشي اورېدای ویوونکی ګنهګاریږي، که نه؟ (۹۵۰/ ۱۳۳۸هج)

ځواب: داسي ځای په لوړاوازویل نه دي پکار، ځکه چي په داسي ځای کې په جهرویلوسره ویوونکی ګنهګاریږي (۲)

كله چي خلګ په لمانځه اونورومشغول وي نوقرانكريم كراروېل پكاردي

سوال: (۱۸) زیدوایې چي کله لمونځ کوونکې دجمعې دلمانځه لپاره په جامع مسجد کې راجمع شي اوپه لمانځه، وظیفه اخته وي نوپه زوره قرآنکریم ویل نه دي پکارداوینادزیدصحیح ده، که نه؟ (۱۲۴۶/ ۳۲-۱۳۳۳هج)

ځواب: دزیدوینا صحیح ده په داسي حال کې چي لمونځ کوونکې په جامع مسجد کې دجمعې

(۱) شرح منیة المصلی المعروف بالحلبی الکبیرص: ۴۲۸، کتاب الصلوة، قبل سجدة التلاوة.

(۲) الاانه یجب علی القاری احترامه بان لایقرأه فی الاسواق ومواضع الاشتغال فاذاقرأه فیهاکان هو المضیع لحرمته فیکون الاثم علیه دون اهل الاشتغال دفعًا للحرج (ردالمحتار (۱/ ۴۰۳)، کتاب الصلوة، مطلب الاستماع للقرآن فرض کفایة ط رشیدیه)

دلمانځه لپاره راجمع کیږي څوک سنت کوي اوڅوک وظیفه کوي په لوړآواز قرآنکریم نه دي ویل پکاربلکي کراروېل پکاردی(۱).

حفظ کوونکي هلکان بې اودسه قرانکریم ته لاس وروړلای شي ،که نه ؟

سوال: (۱۹) (الف) دمسجدوقف شوي تېل دقرآنکریم دتلاوت لپاره سړی سوځلای شي ،که نه ؟ خواکه په مسجدکې وسوځي اویایې دمسجدپه حجره کې ؟ (ب) کوم بالغ هلکان چي په طالبي کې دقرآنکریم په یادولویاپه ناظره ویلوباندي شپه اوورځ کوشش کوي اوهروخت په اوداسه کېدل مشکل دي بې اودسه قرآنکریم ته لاس وروړلای شي ،که نه ؟(۱۴۲۲/ ۱۳۳۷هج)

ځواب: (الف) په مسجدکې ودغه ځراغ ته تلاوت کولای شي په حجره کې نه (ب) نابالغ هلکان لاس وروړلای شي (۲) اودبالغولپاره اجازه نشته هغوئ دې په ټوکراونورولاس وروړي.

قرانکریم بېله اودسه مسه کول حرام دي

سوال: (۲۰) قرآنکریم بېله اودسه مسه کول منع دي که حرام ؟(۱۱۷۱/ ۱۳۳۷هج)

ځواب: حرام دی کمافی الدرالمختارویحرم به ای بالاکبروبالاصغرمس مصحف الخ (۳)

---

(۱) لایقرأجهراعندالمشتغلین بالاعمال (الفتاوی الهندیة ۵/ ۳۱۲، کتاب الکراهیة ،الباب الرابع فی الصلوة والتسبیح وقراءةالقرآن الخ)

(۲) ولایکره مس صبی لمصحف ولوح ولابأس بدفعه الیه وطلبه منه للضرروة اذاالحفظ فی الصغرکالنقش فی الحجر(قوله للضرورة)لان فی تکلیف الصبیان وامرهم بالوضوء حرجا بهم وفی تأخیره الی البلوغ تقلیل حفظ القرآن (الدرمع الرد(۱/ ۱۲۹) ،کتاب الطهارة ،مطلب یطلق الدعاء علی مایشمل الثناء ط رشیدیه)

(۳) الدرالمختارمع الشامی (۱/ ۱۲۸) ،کتاب الطهارة ،مطلب یطلق الدعاء علی مایشمل الثناء ط رشیدیه.

دچاچي اودس نه ټینګیږي هغه قرانکریم ته لاس وروړلای شي ،که نه

سوال: (۲۱) یوبالغ سړی قرآنکریم یادول غواړي اواودس دده څوساعته نه ټینګیږي آیاده ته اجازه شته چي یوواراودس وکړي قرآنکریم وروړاخلي بیاکه اودس وي اوکه نه وي دداسي سړی لپاره بېله اودسه ویل اولاس وروړل قرآنکریم ته صحیح دی ؟(۱۴۰۱/ ۳۲-۱۳۳۲هج).

ځواب: بېله اودسه قرآنکریم ته لاس وروړل صحیح نه دي.په دسمال اوبل ټوکرنیول اولاس وروړل صحیح دی اودقرآنکریم تلاوت بېله اودسه هم جائزدی نوداسي سړی ته پکاردي چي په ټوکریالرګي اوخاشه باندي دې ورقه رااړوي اووایې اویادوي دي(۱)

بېله اودسه قرآنکریم ویل

سوال: (۲۲) کوم سړی چي روغ ،جوړوي دهغه لپاره بېله اودسه قرآنکریم په ناظره ویل جائزدی ،که نه ؟(۳۱۰۳/ ۱۳۴۵هج).

ځواب: قرآنکریم ته دې لاس نه وروړي په جامه اونورودې ورقه رااړوي نوپه ناظره هم قرآنکریم ویلای شي اوپه حفظ ویل دده لپاره بېله شکه جائزدي لنډه داچي بېله اودسه وقرآنکریم ته لاس وروړل ناجائزدي ویل منع نه دی(۱).

بېله اوداسه دتفسیرمطالعه کول

سوال: (۲۳) بېله اوداسه دتفسیرمطالعة کول څرنګه دي ؟(۷۲۴/ ۲۹-۱۳۳۰هج

---

(۱) ویحرم به ای بالاکبروبالاصغرمس مصحف الابغلا ف متجاف غیرمشرز اوبصرة ،به یفتی (الدرمع الرد(۱/ ۱۲۸) ، کتاب الطهارة ،مطلب : یطلق الدعاء علی مایشمل الثناء ط رشیدیه) وفی الهندیة : المحدث اذاکان یقرأالقرآن بتقلیب الاوراق بقلم اوسکین لاباس به (الهندیة: ۵/ ۳۱۷ ،کتاب الکراهیة ،الباب الرابع فی الصلوة والتسبیح وقراءةالقرآن الخ).

ځواب: ښځه اوداسه وتفسیرته لاس وروړل جائزدي مګرښه نه دی(۱)

دقرانکریم وپیتي ته ښځه اودسه لاس وروړل

سوال: (۲۴) کوم ریکاردچي دقرآنکریم څخه ډک وي هغه ته ښځه اوداسه لاس وروړل جائزدي ،که نه ؟ (۱۳۸۹/۴۲-۱۳۴۷هج)

ځواب: جائزدی فقط.

ښځه عذره په تیمم وهلوقرانکریم ویل

سوال: (۲۵) دروغتیاپه حال کې په تیمم سره قرآنکریم ویل جائزدي ،که نه ؟ (۱۲۹۵/۱۳۴۱هج)

ځواب: دروغتیاپه حال کې دتیمم دشرطونودنه شتون په صورت کې تیمم وهل اعتبارنلري کمافی المنیة [فلوتیمم المحدث للنوم اولدخول المسجدمع قدرته علی الماء فهولغو(۲) (شامی : ۱/ ۲۵۱] یعنی دتیمم دشرطونودنه شتون په صورت کې جنب نه په تیمم وهلوقرآنکریم ویلای شي اونه لاس وروړلای شي اوښځه اوداسه په یادولای شي خوقرآنکریم ته لاس نشي وروړلای ازمرتب)

ښځه اوداسه قرانکریم ته لاس وروړل

سوال: (۳۲) مسلمان که ښځه اوداسه وي جنب نه وي نوقرآنکریم ته لاس وروړل دکومې درجې ګناه ده ؟ (۵۷۸/۴۴-۱۳۴۵هج)

ځواب: قرآنکریم ته لاس وروړل ښځه کوم حائل (کپړې) اونورودجنب اوبې اودسه دواړولپاره منع دی

(۱) قال فی الدرالمختار: والتفسیرکمصحف لاالکتب الشرعیة فانه رخص مسهاباليدلاالتفسیروفی الشامی: ظاهره حرمة المس کماهو مقتضی التشبیه وفیه نظراذلانص فیه بخلاف المصحف فالمناسب التعبیربالکراهة کماعبرغیره ومشی فی الفتح علی الکراهة فقال قالو: یکره مس کتب التفسیر والفقه والسنن لانهالاتخلوعن آیات القرآن (الدروالرد(۱/ ۱۳۰) ، کتاب الطهارة ،مطلب: یطلق الدعاء علی مایشمل الثناء ط رشیدیه.)

(۲) الشامی(۱/ ۱۷۹) ، کتاب الصلوة ،باب التیمم ط رشیدیه.

لکه چي الله ﷻ ویلې دي : [لایمسه الاالمطهرون] (سوره واقعه ، آیت : ۷۹) یعنی قرآنکریم هم هغه خلک مسه کولای شي چي اودس لري اودغسل ورته حاجت نه وي لنډه داچي په دغه حکم کې دواړه برابردي.

دحیض په حال کې دقرانکریم تلاوت کول اوبل ته ښوول

سوال: (۲۷) زنی بالغه قرآنکریم راسبقاًمیخواندپس اودرایام حیض اگرسبق ترک کندضررعظیم می رسدوباعث محرومی پس چه کنددرایام حیض بخواند یانه ؟ (۱۹۶۴/۱۳۴۱هج).

ترجمه سوال: (۲۷) یوه بالغه ښځه قرآنکریم په سبقانووایې که دادحیض په ورځوکې سبق پریږدي نوغټ نقصان کیږي اودبې برخې کېدوباعث دی نوآیا دانښځه څه وکړي ؟وي وایې ،که نه ؟

ځواب: [لانه جوّزللحائض المعلمة تعلیمه کلمة ،کلمة الخ(۱)] له دې څخه معلوم شوچي دزدکړې اوورزدکولوپه صورت کې حائضه ښځه ښېل ،ښېل یوه ،یوه کلمه ویلای شي اوبل ته یې ښوولای شي(۲)

دجنابت په حال کې بل ته قرانکریم ښوول

سوال: (۲۸) آیاکوم مسلمان دناپاکۍ په حال کې دقرآنکریم تلاوت کولای شي ،که نه ؟ نوترڅومره آیتونو پورې ؟ (۲۰۵۳/۴۲-۱۳۴۷هج)

ځواب: دجنابت په حال کې دقرآنکریم تلاوت حرام دی خوله یوآیت څخه کم ویل جائزدي (۳)

(۱) الشامی(۱/ ۱۲۷) ،کتاب الطهارة فی آخرمطلب: یوم عرفة افضل من یوم الجمعة ط رشیدیه.

(۲) خوبل ته دورزدکولوپه صورت کې خودالفاظوماتول ممکن دي پخپله دزدکولوپه صورت کې داخبره ممکنه نه ده نوحائضه ښځه دې دحیض په زمانه کې حفظ اوناظره نه وایې ۱۲ سعیداحمدپالنپوري.

(۳) دجنابت په حال کې له یوآیت څخه په کم ویلوکې اختلاف دی خودناجائزو الې قول راجح اومختاره دی لکه چي ددرمختارپه اردوشرح غایة الاوطارکې راغلې دي: اوله یوه آیت څخه کم قرآن دی نودده ویل هم منع شودپوره ایت په څیر(غایة الاوطار: ۱/ ۸۷،کتاب الطهارة تحت قوله ولودون آیة علی المختار) په درمختاراوشامی کې راغلې دي : ویحرم به تلاوت قرآن ولودون آیة علی المختاربقصده (الدرالمختار) وفی الشامی : قوله (علی المختار) ایّ من قولین مصححین ثانیهماانه لایحرم مادون آیة ورجحه ابن الهمام بأنه لایعدقارئا بمادون آیة فی حق جوازالصلوة

یادمعلم (ورزدکوونکې) لپاره یوه ،یوه کلمه وربښوول هم جائزدی په درمختار کې راغلې دي [ویحرم به تلاوة قرآن بقصده فلوقصد الدعاء اوالثناء اوافتتاح امراوالتعلیم ولقن کلمة کلمة حل فی الاصح(١).

چي قرانکریم مخته خلاص وي خبرې کول څرنګه دي ؟

سوال : (٢٩) زیدقرآنکریم وایې قرآنکریم خلاص پرېښوول له چاسره خبرې کول اودقرآنکریم درناوی نه کول څرنګه دي ؟(٧٠٤/ ٢٩_١٣٣٠هج)

ځواب: داکاردقرآنکریم دادب خلاف دی ،ځکه نومکروه دی فقط والله تعالی اعلم.

دپان خوړلوپرمهال دقرانکریم تلاوت کول

سوال : (٣٠) دپان یابل شی دخوړلوپرمهال دقرآنکریم آیت ویلای شي ،که نه ؟(١٢٢٩/ ١٣٤٠هج)

ځواب: ویلای یې شي.

دچلم څکولوپرمهال دقرانکریم تلاوت کول

سوال: ٣١) دچلم څکولوپروخت دتلاوت کولوڅه حکم دی ؟(١٠٢٥/ ١٣٤٥هج)

ځواب: چلم څکول شرعًا مباح دی امااولی خلا ف دی اوداکارچي چلم څکوي اوپه همدې حال کې دقرآنکریم تلاوت هم کوي دابنه نه دی دتلاوت دادابوداکار خلاف دی که څه هم دتلاوت ثواب په دې حال کې هم ورکول کیږي فقط.

\- فکذاههناواعترضه فی البحرتبعًا للحلیة بأن الاحادیث لم تفصل بین القلیل والکثیر والتعلیل فی مقابلة النص مردودآه والاول قول الکرخی رحمه الله والثانی قول الطحاوی رحمه الله اقول ومحله اذالم تکن طویلة فلوکانت طویلة کان بعضها کآیة لانهاتعدل ثلا ث آیات (الدروالرد(١/ ١٢٧) ، کتاب الطهارة قبیل مطلب: یطلق الدعاء علی مایشمل الثناء ط رشیدیه)

(١) الدرالمختارمع الشامی(١/ ١٢٧) ، کتاب الطهارة ،قبیل مطلب: یطلق الدعاء علی مایشمل الثناء ط رشیدیه.

په پروتې دقرانکریم تلاوت کول

سوال: (٣٢) روغ سړی په پروتې دقرآنکریم تلاوت کولای شي ،که نه ؟(٢٢٠٥/ ١٣٤١هج)

ځواب: کولای یې شي(١)

یوګزپورته داودسوله ځای سره تلاوت کول

سوال : (٣٣) یوسړی په مسجدکې له لمانځه وروسته قرآنکریم په رهیل کې پرلاس واخلي تلاوت کوي اولمونځ کوونکې داوداسه لپاره دمسجد پردېوال چي یوګزپورته دی کښیني په داسي حالت کې کومه ګناه نشته ؟(١١٣/ ١٣٤٣هج).

ځواب: هیڅ ګناه نشته.

چیري چي دقرانکریم درس کیږي دهغه ځای ودوهم منزل ته ختل جائزدي

سوال: (٣٤) (الف) دمسجدوجنوب اوشمال دواړولوروته ددرس ځایونه دي په مینځ کې صرف دمسجد غولی چي نژدې لس ګزه به وي واقع دی اوددواړولو روددرس ځایونه داسي دي چي که دجنوب وطرفته ددرس ځای ودوهم منزل ته وخیژي نودشمال ترطرف لاندي په درس ځای کې چي طالبان قرآنکریم وایې ښه معلومیږي اودکوم طرف ودوهم منزل ته چي ورپورته شي ترهغه لاندي هم دقرآنکریم درس وي نوپه داسي حال کې پردوئ ختل جائزدي ،که نه ؟

(ب) اوکه دمسجد په غولې کې دقرآنکریم درس کیږي یاتلاوت وي نوپه داسي حال کې دمسجد په کوم طرف کې وکوم داسي دوهم منزل ته ختل چي له هغه ځایه په غولې کې دقرآنکریم تلاوت کوونکی شخص معلومیږي جائزدی ،که نه ؟(٨١٠/ ١٣٣٥هج)

ځواب: (الف) په داسي حال کې وپورته منزل ته ختل اوویل اوبل ته ښوول هم صحیح دي

(١) لابأس بالقراءة مضطجعا (الفتاوی الهندیة: ٥/ ٣١٢ ، کتاب الکراهیة ،الباب الرابع فی الصلوة الخ)

(ب) په دوهم صورت کې هم صحیح دی.

له مړي څخه کښته قرانکریم ویل

سوال: (۳۵) که مړی پرچارپایې باندې وي په داسې حال کې لاندې قرآنکریم دویلولپاره ښوول څرنګه دي؟ (۱۳۴۷-۴۲/۳۱۳۸هج)

ځواب: دابې ادبې ده داسې کول نه دي پکار.

که لاندې دقرانکریم تعلیم کیږي نوپه پورته برخه کې لمونځ کول جائزدی

سوال: (۳۶) (الف) که قرآنکریم لاندې کښیږدي ،تلاوت کوي اوخلک ترهغه لوړپریوشی باندې ناست ،پراته وي چې به مینځ کې دپټولوکوم شی نه وي نودا پرخومره اندازه لیري اوواټن یاپه کوموځایونو کې جائزدي؟

(ب) له مسجد څخه دباندې خودهغه داړتیاوولپاره دمسجد ترغولي لاندې یوه غټه کوټه ده چې دروازه اوتورنلري که په دغه کوټه کې استاذوهلکانو ته دقرآنکریم درس ورکوي اوقرآنکریم هلته لاندې پروت وي نوپه دې صورت کې دلمونځ کوونکواونوروکوم چې دمسجدپه غولي کې دپورته والې په وجه اوقرآنکریم ددوئ وڅنګ ته بېله کوم پټوونکې شی دلاندې کېدوپه وجه دقرآنکریم بې ادبي راځي اوکه نه؟ اوناجائزوي ،که نه؟ (۳۲۳/ ۱۳۳۷هج)

ځواب: دقرآنکریم له ادابو څخه دادي چې هغه پرپورته ځای کښېښودل شي خودضرورت په وجه که په لاندې مکان کې تعلیم وي اوپورته لمونځ کوونکې لمونځ کوي نوپه دې کې هم کومه ګناه نشته په درمختارکې راغلې دي [ویکره وضع المصحف تحت رأسه الاللحفظ الخ (۱)] نوکله چې دقرآنکریم دخوندي کولوپه وجه دهغه ترسرلاندې ښوول هم صحیح دي نودضرورت په وجه چې کوم صورتونه په سوال کې لیکل شوې دي هغه هم صحیح دي په دې کې دشریعت له خواتنګي نشته قال الله تعالى [وماجعل علیکم فی الدین من حرج] (سوره حج آیت: ۷۹) اوپه حدیث شریف کې راغلې دي [الدین یسرٌ(۲)] نودضرورت پروخت داکارونه سپکاوی نه دي فقط.

(۱) الدرمع الشامی (۱/ ۱۳۱) ، کتاب الطهارة ،مطلب: یطلق الدعاء علی مایشمل الثناء ط رشیدیه) (۲) عن ابی هریرة رضی الله عنه عن النبی ☐ قال: ان الدین یسرلن یشادالدین احدالاغلبه فسددواوقاربواوابشرواواستعینوابا الغدوة والروحة وشئ من الدلجة (الصحیح البخاری ۱/ ۱۰، کتاب الایمان ، بابٌ: الدین یسرٌ)

سوال: (۳۷) کله چې یوسړی قرآنکریم په یوه مکان کې تلاوت کوي اوبل سړی له دغه مکان پرته په کوم بل پورته مکان کې دتلاوت کوونکې ومخته ناست وي نودقرآنکریم بې ادبی به وي؟ که دمکان دبدلون په وجه شرعًا اجازه شته؟ (۵۹۲/ ۱۳۳۷هج)

ځواب: قال الله تعالى: وماجعل علیکم فی الدین من حرج (سوره حج آیت: ۷۸) نوکله چې حرج شرعًا پورته کول شوي نوپه بل مکان کې په کېدوبې ادبي نه راځي.

په کوم کوړکې چې قران وي دهغه په سربېره منزل کې بیت الخلاء جوړول

سوال: (۳۸) دومنزله (پوړیزه) مکان چې په لاندې برخه کې دقرآنکریم زدکړه ورکول کیږي یاددینې علوموفقهې اوحدیثوتعلیم ورکول کیږي شرعي کتابونه اوقرآنونه پراته دي نوددې پرپورته برخه اوسېدل اوبیت الخلاء (ټټی) جوړول جائزدی ،که نه؟ (۲۷۷۶/ ۱۳۴۳هج).

ځواب: داهیڅ پروانلري دکراهیت محاذات (برابروالی) اومخامخ کېدل دي ښکاره ده چې په دې صورت کې داعلت موجودنشته دغه دواړه مکانونه خوبېل ،بېل دي په البحرالرائق کې راغلې دي وقالوا [یکره ان یمدرجلیه فی النوم وغیره الی القبلة اوالمصحف اوکتب الفقه الا ان تکون علی مکان مرتفع عن المحاذات (۱)] (۵/ ۳۶) وفی الدرالمختاریجوزقربان المرأة فی بیت فیه مصحف مستور(۲) (درمختارمع الشامی ۱/ ۱۲۰)

دمل بسم الله الرحمن الرحیم ویلوحکم

سوال: (۳۹) دجمعرات (پنجشنبې) په ورځ که روژه ونیسي دسهارله لمانځه وروسته قرآنکریم ووایې اولفظ مل بسم الله الرحمن الرحیم ووایې نوڅرنګه دی؟ (۱۶۴۸/ ۳۲- ۱۳۳۳هج).

ځواب: دالفظ مل بسم الله الرحمن الرحیم ناجائزدی.

(۱) البحرالرائق ۲/ ۵۹، کتاب الصلوة فصل فی استقبال القبلة بالفرج الخ.
(۲) الدرالمختارمع الشامی (۱/ ۱۳۱) ، کتاب الصلوة ، مطلب یطلق الدعاء علی مایشمل الثناء ط رشیدیه.

دشبينې حکم

سوال: (۴۰) دشبينې څه حکم دی (چې حافظ په تراويحوکې په يوه يادرېيوشپو کې ختم کړي) (۳۲۱/۳۲ - ۱۳۳۳هج)

ځواب: شبينه څه پروانلري خوداضروري ده چې حافظان به يې تيزنه وايې داسې تيزويل چې سرې په حروفونه پوهيږي منع دی دثواب پرځاى ګناه ده.

سوال: (۴۱) اودشبينې څه حکم دی؟ (۳۶۱/۳۲ - ۱۳۳۳هج)

ځواب: شبينه که دقرآنکريم دسم اوبنه ويلوسره وي نوبنه ده خولکه څرنګه چې په اوس زمانه کې کيږي زياتره دګناهونوسبب وي پرېښوول پکارده فقط.

دنامه اوفخرلپاره په يوه شپه کې قرانکريم ختمول

سوال: (۴۲) په يوه شپه کې قرآنکريم ختمول اوپخپل مينځ کې فخرکول چې دچاډيريادډی که دچاکم يادوي اوپرهغه دخندلواونوروڅه حکم دی؟ (۱۷۲۴/۳۲ - ۱۳۳۳هج)

ځواب: ياده شوې شبينه چې پکې فخراونوم مقصودوي اودقرآنکريم اورولو څخه غرض ددنياولاس ته کول وي اوپه سوال کې يادې شوې ناوتياوي پکې وي شرعًا په هيڅ رازصحيح نه دی قال الله تعالى [وماامروا الاليعبدالله مخلصين له الدين] (سوره بينه آيت : ۵) وقال فى ردالمحتاروقال العينى فى شرح الهداية ويمنع القارى للدنياوالآخذوالمعطى آثمان الخ(۱).

دځوحافظانوپه يوه شپه کې قرانکريم ختمول

سوال: (۴۳) په يوه شپه کې دځوحافظانوقرآنکريم په شبينه کې ختمول صحيح دی، که نه؟ (۱۴۵۴/۱۳۳۵هج)

ځواب: قرآنکريم داسې تيزويل چې په حروفوسړی نه پوهيږی اوله مخارجو څخه ادانه وي ناجائزدی نوکه په شبينه کې دومره تيزوالى وي نوهغه هم ناجائز دی کما فى الدرالمختار: ويجتنب

(۱) الشامى (۳۹/۵) ، كتاب الاجارة ، مطلب: تحريرمهم فى عدم جوازالا ستنجارعلى التلاوة الخ رشيديه.

المنكرات هَذرَمَة (سرعة) القراءة الخ(۱)

له ختمولووروسته بياقرانکريم له سره شروع کول

سوال: (۴۴) دقرآنکريم پرختمېدوځوبېلابېل آيتونه ويل کيږي داجائزدی، که نه؟ (۱۵۲۴/۱۳۳۸هج)

ځواب: ددې هيڅ ثبوت هم نشته صرف دومره راغلی دی چې قرآنکريم ختم کړي له سرڅخه شروع کړي دې ته حال مرتحل وايې داپه حديث ثابت دی(۲).

له قرآنکريم ختمولووروسته پرمالګه يااوبوچوکل

اوپرناپاک ځای ذکراوتلاوت کول

سوال: (۴۵) (الف) کله چې سړی له عادت سره سم قرآنکريم ختموي نوکوروالامالګه يااوبه په دموي اودبرکت لپاره يې څښي آياداشرعًا صحيح دی؟ (ب) زيدوايې: چې دقرآنکريم يادرودويلواوياذکرکولووروسته سمدستي اورمه پوکئ پرخپل ځان ياپربل چاباندې پوکئ آيادزيدافکرصحيح دی؟ (ج)دزکورتنګ اوغولی يې هم کوچنی دی هلته غواهم تړي زيدکله ناکله له خوشيواونوروڅخه ځای پاک کړي اوکله بېله پاکولوهلته ذکرکوي اوقرآنکريم وايې نوجائزدی، که نه؟ (د) که په جهری (په زوره) ذکرسره ويدوخلګوته تکليف نه وي نودجهری ذکرڅه حکم دی؟ (۱۳۴۰/۱۳۳۸هج).

ځواب: (الف) داهيڅ پروانلري (ب) داخيال دزيدغلط دی.

(ج) جائزدی خوښه دادی چې پرپاک ځای ذکراوتلاوت وکړي.

(د) کله چې دچاوخوب ته هيڅ تاوان نه وي نوجهري ذکرېېله کراهيته صحيح دی.

(۱) الدرمع الشامى (۵۲۳/۱) ، كتاب الصلوة ، مبحث صلوة التراويح ط رشيديه.

(۲) عن ابن عباس رضى الله عنهما قال: قال رجل يارسول الله ﷺ اى العمل احب الى الله قال: الحال المرتحل (ترمذى ۱۲۳/۲، ابواب القرأة ، باب بلا ترجمه) وعلى هامشه قوله الحال المرتحل فسره بالخاتم المفتتح وهومن يختم القرآن بتلاوته ثم يفتتح التلاوة من اوله آه.

دقرانکریم دتلاوت یوه نامناسبه طریقه

سوال : (۴۲) دقرآنکریم دختم پروخت دوه حفاظان یو،یوآیت نوبت په نوبت توتو،ټوټووایې کله چي یوحافظ خاموش شي نوبل یې له هغه ځخه مخته اوپټه خوله کېدوونکې یې سوکه په زړه کې وایې داطریقه شرعًاجائزده ،که نه ؟ (۲۵۲۴/ ۱۳۳۷هج)

ځواب: حکم همدغه ده چي کله قرآنکریم ویل کیږي نوهغه اورئ اوپټه خوله شئ قال الله تعالی [واذاقرئ القرآن فاستمعوا له وانصتوا] (سوره اعراف آیت: ۲۰۴) ترجمه: کله چي قرآنکریم ویل کیږي نوهغه اورئ اوپټه خوله کیږئ ،ځکه نودغه صورت چي بل دغه آیتونه سوکه وایې صحیح نه دی (۱) اوپه دې طریقه چي یوحافظ څوآیتونه ووایې اودوهم یې له ده مخته ددې التزام هم ښه نه دی.

دجمعې له خطبې مخکې دقرانکریم دتلاوت بندولولپاره چک چکې وهل

سوال: (۴۷) دحیدرآباددکن په یوه ویرانه محله کې چیري چي صرف جاهلان استوګنه کوي هلته یومسجدهم شته په دغه مسجدکې دهرې جمعې په ورځ دجمعې ترلمانځه مخکې دقرآنکریم ختم کیږي زیاتره داسي لیدل کیږي چي دخطبې دوخت دنژدېوالې په وجه له لمونځ کوونکوځخه دبیرته سیپارواخستلو لپاره دلته یوه اصطلاح راایستل شوې ده چي یویادوه کسان لاسونه وټکوي چي په اورېدویې خلګ تلاوت ختم کړي سیپارې بیرته ورکړي پردې یوسړی اعتراض وکړچي داطریقه داسلام نه ده په مسجدکې بایدچک چکې نه وي بلکه یوه سړی دی لاولاړیږي دټولو ځخه دې سیپارې اخلي یادې په خوله ووایې چي سیپاري راوړئ په دې صورت کې شرعًا څه حکم دی ؟ (۱۲۴۲/ ۱۳۳۸هج)

ځواب: په دې کې داصورت مناسب دی چي دچکچکوپرځای یوسړی پخپله راولاړشي سیپارې له خلګوراټولې کړي اوورته ووایې چي سیپارې بیرته راکړئ ،ځکه چي لاسونه ټکول په مسجدکې مناسب نه دي اورسول الله ﷺ

(۱) ځکه چي داورېدواوپټه خوله کېدوخلاف دی۱۲ سعیداحمدپالنپوري.

دلاسونودټکولواجازه ونارینووته په هغه حال کې هم نه ده ورکړي چي کله امام سهوشي په دې حالت کې رسول الله ﷺ وویل چي په تسبیح (سبحان الله) ویلوسره امام ته خبرورکړئ لاسونه مه ټکوئ لکه چي ویلې یې دي [التسبیح للرجال والتصفیق للنساء اوکماقال ﷺ (۱)]

مړي ته دثواب رسولوپه ختم کې دعوض اواجرت (مزدوری) شبه هم بایدنه وي

سوال : (۴۸) زیدوخپلولسوملاقات کوونکوته وویل چي سهارله لمانځه وروسته دقرآنکریم په ختم کې برخه واخلئ اوناشته اوچای هم وکړئ په دې کې دووکسانومخالفت وکړاوې ویل چي داطریقه دسنت خلاف ده اوبدعت ده زیدداهم وایې چي په دارالعلوم دیوبندکې دایصال ثواب (ثواب رسوني) لپاره ختم بې دوخت اوځای له تعینولو کیږي په دې مسئله کې شرعي حکم څه دی ؟(۲۱۱/ ۱۳۳۸هج)

ځواب: دقرآنکریم ختم کول یاکلمه طیبه ویل مړي ته ثواب بخښل ښه کاردی خوپه دې کې قیدونه اودورځې اوتاریخ پابندي بایدنه وي بل داچي په دې کې عوض ،ډوډۍ اونورهیڅ شی نه دي پکاربلکه لکه ځرنګه چي په دغه مدرسه کې بې دورځې اووخت له معلومېدوطالبان دالله ﷺ درضالپاره قرآنکریم اوکلمه طیبه وایې ومړیوته یې ثواب بخښي دارازکېدل پکاردي په دې کې وویوونکې ته ناشته ،ډوډۍ ،شیرني اونورهیڅ شی نه ورکول کیږي نوکه داسي اجتماع دالله ﷺ درضالپاره کېدای شي نوښه خبره ده کنې بیاغوره دادی چي څومره پخپله ویلای شئ دهغه ثواب وروبخښئ یاخاص خپل دوستان کوم چي بې دناشتې اونوروله عوضه څه ووایې ومړیوته یې ثواب وبخښئ په هغوئ باندې یې ووایه دخلګووراجمع کولوته هیڅ ضرورت نشته لنډه داچي په دې کې دعوض شبه هم بایدنه وي کنې بیاثواب نلري فقط.

په زړه کې په تلاوت کولوثواب کمیږي ،که نه ؟

سوال : (۴۹) یودزړه کمزوري شخص ته په ژبه قرآنکریم په ویلوسره دزړه تکلیف اودروندوالی وي داسي سړی که په زړه کې تلاوت وکړي نوثواب یې کمیږي ،که نه ؟ (۴۲/۸۷ _ ۱۳۴۷هج)

(۱) عن سهل بن سعدرضی الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ التسبیح للرجال والتصفیق للنساء (البخاری ۱/ ۱۲۰، کتاب الصلوة ،باب التصفیق للنساء)

خواب: دقرآنکریم تلاوت هماغه دی چي په ژبه وي که جهرًا (په زوره) وي اوکه سرًا (سوکه) که په زوره ویلو کې مشکل وي نو سوکه تلاوت کوه دتلاوت مطلب همدادی چي په ژبه تلاوت وي نور ثواب دزړه پرتلاوت هم شته فقط.

دخلګوله خبروڅخه دمنع کولولپاره په ذکراوتلاوت کې مشغولېدل

سوال: (۵۰) که یو سړی دجمعې له لمانځه مخکې په دې فکرچې خلګ خبرې ونکړي په خلګو قرآنکریم وایي اوځوک چي قرآنکریم نشي ویلای په هغه ذکرکوي په دې سره په سنتونو کولو کې څه تاوان نه راځي شرعي حکم څه دی ؟ (۱۲۵۵/ ۱۳۳۷هج)

خواب: په داسې حال کې قرآنکریم اوذکرهرڅه چي وایي سوکه دې وایي ترڅو لمونځ کوونکوته تشویش نه وي فقط.

دسودخوره قرانکریم کې تلاوت کول حرنګه دي ؟

سوال: (۵۱) یو سودخورمړشوددده وارثانو دده قرآنکریم وبل سړی ته ورکړپه هغه کې تلاوت کول جائزدي ،که نه ؟ (۲۰۵۲/ ۱۳۴۳هج)

خواب: په دغه قرآنکریم کې تلاوت کول صحیح دي فقط.

دغلاپه قرانکریم اوکتابونوکې ویل صحیح دي ،که نه ؟

سوال: (۵۲) یو سړي لیري غلاوکړه څه کتابونه اوڅه قرآنونه یې راوړوکه دغه غل وکوم مولوي صاحب ته قرآنکریم اوکتابونه ورکړي نوهغه اخستل چي تلاوت پکې وکړي صحیح دي ،که نه ؟ (۵۴۲/۳۵-۱۳۳۶هج).

خواب: که مولوي صاحب په حال خبرنه وي نودده لپاره په دې کې تلاوت صحیح دی اوتلاوت ثواب حاصلیږي اوکه په خبروي نوتلاوت دې پکې نه کوي اوځیني اخلي دې هم نه که یې اخستي وي بېرته دې ورکړي اودادې ورته ووایي چي پرتادااواجب دي چي دچادې هغه ته یې بېرته ورکړه یایې په وبخښه اوکه دانشي کېدای

نودمالک له لورې دې ومسکینانوته ورکړي فقط.

داستاذومخته لاس پرنامه ددرېدو، یاکښېنستوپه حال کې قرانکریم اورول

سوال: (۵۳) ځیني ځایونه رواج دی چي قرآنکریم یادوونکې طالبان لاس پرنامه داستاذومخته ودریږي یاکښېني قرآنکریم اوروي آیاشرعًا لاس پرنامه په ولاړه یاناسته قرآنکریم ویل اواورول جائزدي ،که نه ؟ اودچاومخته لاس پرنامه اودرېدل څرنګه دی (۱۰۲۱/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

خواب: ددې هیڅ ضرورت نشته لاس پرنامه ولاړه په لمانځه کې ده دکوم بل چاومخته لاس پرنامه دې نه دریږي اودقرآنکریم داورېدوپه حال کې دچاومخته لاس پرنامه مه دریږئ هلکانوته بایدهمداسي ووېل شي استاذته پکاردی چي هلکانوته ووایې چي لاس پرنامه مه دریږي ترڅوددوئ عادت شي چي له لمانځه پرته دکوم بل چاومخته لاس پرنامه ونه دریږي فقط.

له دیوان حافظ اوقرانکریم څخه فال رااېستل څرنګه دي ؟

سوال: (۵۴) له دیوان حافظ اوقرآنکریم څخه فال اخستل څرنګه دی ؟ له ځینو خلګوڅخه مې اورېدلي دي چي ددیوان حافظ فال صحیح دی فال کتل اوور باندي عقیده ساتل شرعًا څرنګه دی ؟ (۱۲۲۷/ ۱۳۳۷هج)

خواب: له نبي خبرې څخه فال اخستل په حدیثوکې راغلی دی خودې حاصل صرف دومره دی چي دکومې ښې کلمې په اورېدویالیدودخپل مقصدپه اړه ځوک ښه ګمان وکړي مثلا دنجاح یارباح یاحسن اونورولفظونوپه اورېدویاپه لیدودا ښه ګمان وکړي چي انشاء الله زمامقصدبه پوره کیږي یابه ګټه کیږي یابه نتیجه ښه وي داډول نېک فال له قرآنکریم ،دیوان حافظ اونوروڅخه اخیستل هم صحیح دی خودادالله ☐ له لورې کوم حکم نه دی چي ددې یقین وکړي یادادالله ☐ حکم وبولي بلکې صرف دخپل زړه داطمینان لپاره دی له دې څخه زیات په دې کې تیری کول اودادالله ☐ حکم بلل داصرف دروغ ترل اودالله ☐ له حدودوڅخه زیاتوب دی قال الله تعالی [ومن یتعدّ حدودالله فأولئک هم الظالمون] (سوره بقره آیت: ۲۲۹).

په کومه کوټه کې چې دقرانکریم ایتونه راځړېدلې وي په هغه کې کوروالی کول

سوال: (۵۵) په کومه کوټه کې څونقشې راځړېږي چې پکې آیتونه اوکلمه لیکلې وي په دغه کوټه کې له کوروالاسره کوروالی کولای شي که دغه نقشې لرې کړو؟ (۲۵۴/۳۵_۱۳۳۲هج)

ځواب: قال فی الدرالمختار: [لابأس بالجماع فی بیت فیه مصحف للبلوی الخ (۱) په شامی کې راغلې دی وقیده فی القنیه بکونه مستوراً وان حمل مافیها علی الاولویة زال التنافی (۱) حاصل داچې په کومه کوټه کې قرآنکریم وي په هغه کې دخپلې ښځې سره کوروالی صحیح دی خوبهترااولی دادی چې قرآنکریم په پوښ کې پټ وي نوکله چې دقرآنکریم په هکله داحکم دی نودکلمې په اړه خوپه اولی طریقه داحکم دی یعنی جائزدی خواولی دادی چې څه توکر ورباندې واچول شي فقط.

دقرانکریم ایتونه په اخبارونو(ورځپاڼو) کې چاپول

سوال: (۵۶) دقرآنکریم دآیتونودبې ادبۍ اوسپکاوي په خیال ساتلوپه اخبارکې لیکل جائزدي ؟کله چې غرض صرف دآیت دترجمې په لیکلواود سیپارې اورکوع په حواله ورکولوهم حاصلیږي (۱۵۵۳/۴۲_۱۳۴۷هج)

ځواب: دااعتراض صرف تراخبارونوپورې محدودنه دی دکتابونواورسالواونو روپه هکله هم دااعتراض کیدای شي نوصرف دآیت په لیکلوکې خودناجائزو الې کومه وجه نشته امادادسې کاغذونه تزځپل وس پورې له سپکاوي څخه خوندي کول پکاردي قصداًدوئ سپکاوی ناجائزدی په هرحال دابتلاء پروخت دجوازپه باب کې پراخي هم راغلې ده فقط.

سوال: (۵۷) نن ،صباپه اخبارونواواشتهارونوکې زیاتره لیدل کیږي چې دقرآنکریم آیتونه دمضمونونوپه عنوانونواودلیکونوپه مینځ کې لیکلې وي اوله دې څخه زیات ظلم لاداچې زیاتره دقرآنکریم نمونې داخبارونوپرپاڼوچاپوي اودهغه اخبارسپکاوی کیږي اخبارلیکوونکوته معلومه ده نوپراخبارلیکوونکوشرعًا کوم الزام اوموأخذه شته ،که نه ؟(۲۷۹۲/۱۳۴۱هج)

(۱) الدرمع الشامی(۵/۳۰۰) ، کتاب الحظروالاباحة ،فصل فی البیع ط رشیدیه

ځواب: دادب اواحتیاط دکتوونکوپرغاړه دی ،څکه چې اخبارخپروونکی اوچاپوونکی دانه درته وایې چې ادب اوخوندي کوه بې مه خودعرف اوعادت په وجه دخبرتیاله امله که اخبارلیکوونکی هم په ګناه ورشریک وي نولیرې نه ده خودهغوئ مجبوري هم وي اوپه حدیث شریف کې دي [انماالاعمال بالنیات ولکل امرئ مانوی] (الحدیث) (۱) فقط.

سوال: (۵۸) نن ،صباپه اشتهارونو ،اخبارونواودقصواوعبثوتوټکالوپه کتابونوکې زیاتره دقرآنکریم آیتونه اودرسول الله ☐ حدیثونه لیکلې وي اودادهرکس اوناکس هندو ،مسلمان پاک اوناپاک لاس ته ورځي دکتابونوسره احتیاط خوڅه اندازه کیږي امادورځپاڼواواشتهارونوحال خودزړه دسوي دی په دې اړه دشریعت څه حکم دی ؟ (۱۳۱۷/۳۲_۱۳۳۳هج)

ځواب: دقرآنکریم دآیتونو،سورتونو،اودالله ☐ اوانبیاء کراموعلیهم السلام دنومونواحترام ضروری دی دکوم مسلمان په لاس چې داسې کاغذ ،اخباریا کتاب ورشي هغه بایدددې سپکاوي ونکړي له دې څخه زیات بل څوک څه انتظام کولای شي.

نامسلمان که قرانکریم ته لاس وروړي نوڅه حکم دی ؟

سوال: (۵۹) کله چې قرآنکریم پاک کتاب دی اودهغه مسه کول بېله پاکوالې دقرآنکریم په حکم [لایمسه الاالمطهرون] (سوره واقعه: آیت: ۷۹) حرام دی اودالله ☐ په حکم [انماالمشرکون نجس] سوره توبه آیت: ۲۸) کافرنجس اومرداردی بیاددې پاک کتاب په داسې چاپخانوکې چاپېدل یاپردکانونو رانیول ،خرڅول سپکاوی دی ،که نه ؟ اومسلمانان به په دې وجه ګنهګاروي ،که نه ؟(۱۳۴۵/۲۳هج)

ځواب: دانبکاره ده چې ددې حکم مخاطبین ایمان والاومسلمانان دي لکه چې داصولواوفقهې په کتابونوکې راغلې دي چې کفاردفروعاتومخاطب نه دي له ایمان قبلولوروسته سرې ددې امرمکلف وي چې شرعي حکمونه پرځای کړي اماداضرورشته چې مسلمان دې پخپل اختیارپه کفارونه مسه کوي خوکله چې دمسلمانانوله واکه داخبره وتلې ده

(۱)صحیح البخاری ۲/۱ ، باب کیف کان بدء الوحی.

نومسلمانان په دې وجه نه ګنهګارېږي چي کفاردقرآنکریم مسه اونوروکړي بېشکه دواک اواختیارپه صورت فقهاؤداخرګندونه کړې ده چي کافران دقرآنکریم مسه کولوته مه پرېږدئ په درمختارکې راغلې دي [ويمنع النصرانى من مسه وجوّزه محمدرحمه الله اذااغتسل الخ (قوله ويمنع النصرانى) فى بعض النسخ الكافروفى الخانية : الحربى اوالذمى(۱) فقط.

په کوم کاغذچي دقرانکريم اوحديثوترجمې وي دهغه حکم

سوال : (۲۰) په کوم کاغذچي دقرآنکريم اوحديث شريف اردوترجمه وي داسي کاغذپرکومه رساله يااخبارسرببره پېچل جائزدي ،که نه ؟(۱۳۳۷/۱۷۰۵هج)

ځواب : له داسي کارونوڅخه پرهېزکول پکاردي يعنى ديني کاغذونه په داسي کارونوکې استعمال نه دی پکارفقط.

پرکوم کاغذچي دقرانکريم ايت ليکلى وي چي هغه په جيب کې وي ټېي ته تلل

سوال : (۲۱) تعويذچي دټوکرپه پوښ کې وي بيت الخلاء ته وړل يې څرنګه دي ؟ اوپه جيب کې که کوم کاغذوي چيورباندي دقرآنکريم آيت ليکلى وي دهغه څه حکم دی ؟(۱۳۳۷/۱۵۵۰هج)

ځواب : دغټواوکوچنيوبولوپروخت تعويذاودقرآنکريم آيت کښل اوله ځانه يې جلا کول پکاردي اوکه يې يادنشي نوپروانلري.

سوال : (۲۲) که په جيب کې پنج سوره يادکومې سېپارې آيت وي اوپه يوځاى کې وبولوکولوته کښېني نوګناه خوبه نلري ؟(۱۹۰۴/ ۲۹_۱۳۳۰هج)

ځواب : دکوچنيواوغټوبولوپروخت پنج سوره اونورله جيبه ايستل اوبل ځاى ښوول پکاردي لکه چي په حديث شريف کې راغلې دي چي رسول الله ﷺ دارتيادترسره کولوپروخت خپله ګوتمۍ چي ورباندي محمدرسول الله ﷺ

(۱) الدروالشامى(۱۳۱/۱) ، كتاب الطهارة ، مطلب: يطلق الدعاء على مايشمل الثناء ط رشيديه.

ليکلى ووايستله(۱) فقط والله تعالى اعلم.

پربولوباندي ايت په خيال اوسوچ کې راشي نوڅه وکړي ؟

سوال : (۲۳) که په بيت الخلاء کې په ناسته دقرآنکريم کوم آيت په تصورکې راشي اوپه فکرارولونه اوړي نوڅه کول پکاردي ؟(۱۹۴۱/ ۳۲_۱۳۳۳هج)

ځواب : په خيال کې راتلل کومه پروانلري اونه ددې دخيال دبندولوضرورت شته خوپه ژبه به يې نه وايې.

په هدېره کې دقرانکريم تلاوت کول څرنګه دي ؟

سوال : (۲۴) په هدېره کې قرآنکريم په يادياپه ناظره ويل جائزدي ،که نه ؟ (۱۱۹۴/ ۱۳۴۳هج).

ځواب : په هديره کې قرآنکريم په يادياپه ناظره ويل جائزدي فقط.

ددرناوي اومحبت په غرض قرانکريم پرتندي ياسرښوول

سوال : (۲۵) دتعظيم يامينې په وجه قرآنکريم پرسرياتندي ښوول جائزدي ،که نه ؟ روى عن عمررضى الله عنه انه كان يأخذالمصحف كل غداة ويقبله وكان عثمان رضى الله عنه يقبل المصحف ويمسحه على وجهه(۲) (درمختار) دادليل دجائزوالي کېداى شي ،که نه ؟(۱۳۳۹/۱۰۲هج).

ځواب : دادليل پرتندي ښوولودجائزوالي اومستحبوالي هم کېداى شي فقط.

پرقرانکريم باندي سرببره کوم بل شى ښوول

سوال : (۲۶) پرقرانکريم سرببره دپاوياسيروزن لروونکى دګيلټوتالى چي پکي شيربرنج دى ښوولاى شي ،

(۱) عن انس رضى الله عنه قال: كان النبى ﷺ اذادخل الخلاء وضع خاتمه (سنن ابى داؤد۴/۱ ، كتاب الطهارة ،باب الخاتم يكون فيه ذكرالله تعالى يدخل به الخلاء)

(۲) الدرمع الرد(۲۷۲/۵) ، كتاب الحظروالاباحة ،قبل فصل فى البيع ط رشيديه.

که نه ؟(۱۳۴۲/۲۷۰۸هج)

ځواب: داسي کول نه دي پکار فقط.

له یادولووروسته قرانکریم هېرول

سوال: (۲۷) څوک چي قرآنکریم ووايي بیايې پرېږدي چي کله ورته وویل شي نوپه ځواب کې وايې چي زه ددنیاله کارونو څخه نه یم خلا ص اودآیت [ومن اعرض عن ذکری الآية (سوره طه آیت: ۱۲۴] پرحاشیه باندي داعبارت لیکلې دي چي ترټولو غټه ګناه دقرآنکریم آیت له یادولووروسته هېرول دي دداسي سړي په اړه څه حکم دی ؟(۱۳۴۳/۷۹۷هج)

ځواب: قرآنکریم له یولواویادولووروسته هېرول سخته ګناه ده (۱) اوکوم عبارت چي مودحاشیې رانقل کړې دي هغه صحیح دي فقط.

په زاړه اوځیري قرانونواوکتابونوڅه کول پکاردي ؟

سوال: ۲۸) زاړه اوځیري قرآنونه دحدیثواوفقهې کتابونه اونوربایدڅه په وکړو (۸۲۲/ ۱۳۴۰هج)

ځواب: په پاکو جامو کې یې وپېچئ په یوخوندي ځای کې یې ښخ کړئ یابله کومه طریقه دخوندي کولوچي مناسبه وي (لکه جبل نورته ورل من کمپوزر) هغه وکړئ فقط.

سوال: (۲۹) زوړقرآنکریم وسوځو ؟ که یې په خاوروکې پټ کړو ؟ شرعًا څه حکم دی ؟(۲۲۷۴/ ۳۲/ ۱۳۳۳هج)

ځواب: زوړقرآنکریم په کوم ټوکرکې وپېچئ په مځکه کې یې ښخ کړئ ترڅوچي ورباندي حروف پاته وي سوځل یې نه دي پکار قال فی الدر المختار [المصحف اذا صار بحال

(۱) خو:اوعبدهغه وخت دی چي په ناظره اوورته کتلوهم نشي ویلای [اذاحفظ الانسان القرآن ثم نسیه فانه یأثم وتفسیرالنسیان ان لایمکنه القرأة من المصحف (الفتاوی العالمغیریة: ۵/ ۳۱۷، کتاب الکراهیة ، الباب الرابع فی الصلوة والتسبیح الخ)

لایقرأفیه یدفن کالمسلم الخ وفی الشامی واما غیره من الکتب فسیأتی فی الحظروالاباحة انه یمحی عنهااسم الله تعالی وملائکته ورسله ویحرق الباقی الخ (۱) (شامی)

سوال: (۷۰) قرآنکریم که زوړاوځیري شي اودتلاوت وړنشي پاته نوڅه په وکړو؟ (۲۲۰/ ۳۵-۱۳۳۶هج)

ځواب: په درمختارکې راغلي دي [المصحف اذاصاربحال لایقرأ فیه یدفن کالمسلم قوله یدفن ای یجعل فی خرقة طاهرة ویدفن فی محل غیرممتهن لایوطأ وفی الذخیرة وینبغی ان یلحدله الخ (۱) (شامی) ددې حاصل دادي چي کله قرآنکریم ددې وړنشي چي تلاوت دې پکي وشي نوهغه په پاکه جامه کې وپېچي یولحدوکیندي په هغه کې یې پټ کړي لکه چي مسلمان ښخیږي اوکه لحدنه وي شق وي نولرګي ورباندي کښېږدي خاوره پرراواړوي.

زوړقرانکریم سوځل بې ادبی ده

سوال: (۷۱) که زوړاوځیري قرآنکریم ښخ نکړوبلکې وي سوځوچي هیره یې په پاک ځای کې پټه کړوڅه پروالري ؟ ، ځکه چي په ښخولوسره شاید بیایووخت رابښکاره شي اوبیايې بې ادبي وشي (۱۳۴۱/۱۱۱۱هج)

ځواب: دفقهې په کتابونوکې دزاړه قرآنکریم دښخولوتاکیدراغلی دی اوسوځل یې بې ادبي بللې ده اوله ځینوصحابه رضی الله عنهم څخه چي کوم سوځل رانقل شوې دي دهغه مطلب یې دالیکلی دی چي مخکې هغه ورقې پرېمنځل وروسته صفاکاغذونه وسوځل په هرحال په خوندي ځای کې په جامه کې له پېچلووروسته چي ورته لحدوکاږي ښخول افضل دی.

په کوموليکونوکې چي دقرانکریم ایتونه لیکلې وي

سوال: (۷۲) له یوې مودې راهیسي وزیاتره اندړوالانوته داسي خطونه راځي چي پکي دقرآنکریم آیتونه لیکلې وي اولیکوال داهدایت پیانوي چي خپلودوستانواو

(۱) الدروالشامی(۱/ ۱۳۰) ، کتاب الطهارة ، مطلب: یطلق الدعاء علی مایشمل الثناء ط رشیدیه.

نوروته داسي یوولس خطونه ولیکي کوم زیری به واوري کنې سخت مصیبت به درباندي راشي اولیکوونکی خپل ادرس اونورنه لیکي دده هدایت عملي کول ضروري دی ،که نه ؟(۱۵۲۰/ ۱۳۳۹هج)

ځواب: دده هدایت شرعًاعملی کول ضروري نه دي بلکي جائزهم نه دی داخیري کړئ په کوم پاک ځای کي ښخ کړئ دقرآنکریم دآیتونو په وجه فقط.

دهدیرې اداب

دزاړه قبرجوړول

سوال: (۱) (الف) قبراگرکهنه شود مرمت اوباید کردیانه ؟دربعض کتب منع نوشته اند.
(ب) درخزانة الفقه مذکوراست [اذاانهدم القبرلایجوزاحداثه فی المرة الثانیةلان النبی ☐ نهی عن احداث القبرفی المرة الثانیة فان فعل ذلک فالمیت مسئول ثانیاجواب المنکروالنکیر] این روایت ثابت وصحیح است یانه ؟(۲۳۴۳/ ۱۳۳۸هج)

جواب: (الف) مرمت قبربااین معنی که اگراکثرقبرقریب به معدوم گرددونشان آن ازتراب قائم دارند جائزاست لانه اعلام انه قبروقدثبت الاعلام بوضع الحجر (۱) (ب) وروایت مذکوره ثابت نیست.

ترجمه سوال: (۱) (الف) که قبرزوړشي نوبیرته دهغه جوړول پکاردي ،که نه ؟ په ځیني کتابونو

۱عن کثیربن زیدالمدنی عن المطلب قال: لمامات عثمان بن مظعون رضی الله عنه اخرج بجنازته فدفن فامرالنبی ☐ رجلاان یاتیه بحجرفلم یستطع حمله فقام الیهارسول الله ☐ وحسرعن ذراعیه قال کثیرقال المطلب قال الذی یخبرنی ذلک عن رسول الله ☐ حین حسرعنهاثم حملها فوضعهاعندرأسه قال: اتعلم بهاقبراخی وادفن الیه من مات من اهلی (سنن ابی داؤدص: ۴۵۷، کتاب الجنائز،باب فی جمع الموتی فی قبرو القبریعلم)
وعن جعفربن محمدعن ابیه مرسلا ان النبی ☐ حثی علی المیت ثلاث حثیات بیدیه جمیعا وانه رش علی قبرابنه ابراهیم ووضع علیه حصباء،رواه فی شرح السنة(مشکوة المصابیح ص: ۱۴۸، کتاب الجنائز،باب دفن المیت).

کې ددې منع لیکلې ده ؟
(ب) په خزانة الفقه کې راغلي دي چي قبرونړیږي نوبیاله نوې سره دهغه جوړښت جائزنه دی ،ځکه چي رسول الله ☐ دقبردوهم ځل له نوې سره جوړولو منع کړې ده نوکه څوک داسي وکړي نومړی به دمنکر،نکیرملائکوجوابونه بیاورکوي داروایت ثابت دی ،که نه ؟
ځواب: دقبرونوجوړولوکه دامعنی ده چي دقبرزیاتره برخه محوه (خرابېدو) ته نژدې شوې ده نودهغه نښه په خاوروقائمه ساتل خوجائزدي ځکه چي دادقبر کېدونښاني جوړول دي اوپه ډبره (کاڼې) ښوولونښاني جوړول په حدیث ثابت دي.
(ب) په سوال کې بیان شوی روایت ثابت نه دی.

دمرستې غوښتلوپه نیت پرقبرونوگلان هموارول

سوال: (۲) پرقبرونوگلان اچول داولادیاکوم بل مطلب لپاره صحیح دی ،که نه ؟(۱۵۳۲/ ۱۳۳۵هج)

ځواب: پرقبرونوگلان اچول دمرستې اوحاجتونودطلب په غرض جائزنه دی بدعت اوحرام دي.

پرقبرونوگلان اونوراچول قبرونه پاخه جوړول اوپه هدیره کې له خپلیوسره تلل

سوال: (۳) (الف) پرقبرگلان ،دونې شنې پاڼې اچول جائزدي ،که نه ؟
(ب) په هدېره کې چیري چي قبرونه جوړشوې دي له څپلیواوبوټوسره تلل جائزدي ،که نه

(ج) په چونه باندي قبرپوخ جوړول څرنګه دي ؟(۲۲۰۵/ ۱۳۳۸هج)

ځواب: (الف) په دې کې اختلاف دی احتیاط په پرېښوولو کې دی(۱)
(ب) ښه نه دی.
(ج) دامکروه دی کمافی الدرالمختار [ولایجصص للنهی عنه الخ وفی الشامی لما

---

(۱) اختلا ف دګلانواوپاڼوپه ښوولوکې دی دمړې په نومورباندې اچول خوحرام دي ،ځکه چي هغه عبادت دی ۱۲ سعیداحمدپالنپوری.

روی جابررضی الله عنه نهی رسول الله ☐ عن تجصیص القبوروان یکتب علیها وان یبنی علیهارواه مسلم (۱)(شامی ۱/ ۲۰۱).

په هدیره کي له څپلیوسره تلل اوکښېنستل څرنګه دي ؟

سوال: (۴) په هدیره کې چې څپلۍ په پښوو ي اوکښېنستل جائزدي ،که نه ؟ (۱۷۷۴/ ۳۲-۱۳۳۳)

ځواب: پرقبرونوتګ ،راتګ کول اوکښېنستل بېله څپلیوهم مکروه دی اوپه هدیره کې هغه ځای چیري چې دهدیري څخه نه وي پرهغه له څپلیوسره تګ کول هم صحیح دی.

درسول الله ☐ دورضې مبارکې زیارت

سوال: (۵) یوسړی وایې: چې دحدیث شریف له مخې ددرېیومسجدونوبیت الله شریف ،مسجدنبوی ☐ اوبیت المقدس څخه پرته وکوم بل ځای ته له لیري سفرکول قصدادزیارت په نیت تلل منع دي چې ورڅخه معلومیږي چې د محمدمصطفی ☐ دروضې مبارکې دزیارت په نیت قصداً سفرکول منع دی آیادغه سړی دحدیث له مخې رښتنی دی که دروغجن ؟ (۹۷۴/ ۳۳-۱۳۳۴هج) ځواب: درسول الله ☐ دقبرمبارک زیارت دامت په اجماع سره مستحب اومؤکددی بلکي ځینوعلماؤددې دواجب والي اوځینوواجب والې ته نژدې قول کړی دی په درمختارکې راغلی دی وزیارة قبره ☐ مندوبة بل قیل واجبة لمن له سعة (۲) اوپه شامی کې دي قوله مندوبة ای باجماع المسلمین کمافی اللباب الخ قوله بل قیل واجبة ذکره فی شرح اللباب وقال کمابینته فی الدرة المضیة فی الزیارة المصطفویة (۲) والاحادیث فی ذلک

(۱) الدروالشامی (۱/ ۲۲۲)، کتاب الصلوة ،مطلب فی دفن المیت ط رشیدیه.
وفی الحدیث عن جابررضی الله عنه قال نهی رسول الله ☐ ان یجصص القبروان یقعدعلیه وان یبنی علیه (الجامع الصحیح لمسلم ۱/ ۳۱۲، کتاب الجنائز، فصل فی النهی عن تجصیص القبوروالقعودوالبناء علیها)
(۲) الدرالمختاروالشامی (۲/ ۲۷۹)، کتاب الحج ،مطلب فی تفصیل قبره المکرم ☐.

کثیرة وفضائلها شهیرة (۱) فقط.

دقبرونودزیارت طریقه

سوال: (۶) دقبرونوزیارت منع دی که صحیح ؟ (۱۸۶/ ۳۵-۱۳۳۶هج)

ځواب: دقبرونوزیارت کول صحیح دی خودسنت طریقې سره سم ورته سلام کوي اومأثوره دعاوایاست اودځه سورتونودقرآنکریم که سړی په ویلوثواب وررسول غواړې نوثواب دې وروبخښي اوکوم کاردشریعت په خلاف هلته مه کوئ فقط.

دکوم ولی یاخپل دقبردزیارت لپاره سفرکول

سوال: (۷) دکوم ولی یاخپل قریب دقبردزیارت لپاره سفرکولای شي ؟ (۲۲۲/ ۱۳۳۹هج)

ځواب: په شامی کې راغلې دي [قوله وبزیارة القبورای لابأس بهابل تندب الخ قلت استفیدمنه ندب الزیارة وان بعدمحلها الخ (۲) (شامی: ص ۱/ ۲۰۴) له دې څخه معلوم شوچې دقبرونودزیارت لپاره تلل هم صحیح دي فقط.

دښځوومزارونوته تلل

سوال: (۸) دمېرمنولپاره داولیاء الله ومزارونوته تلل جائزدي ،که نه ؟ (۷۲۰/ ۱۳۴۵هج)

ځواب: دښځولپاره داولیاء الله اونورومزارونوته تلل جائزنه دي کمافی شرح المنیة

(۱) عن ابن عمررضی الله عنهماقال: قال رسول الله ☐ من زارقبری وجبت له شفاعتی اخرجه الدارقطنی وعن حاطب رضی الله عنه قال: قال رسول الله ☐ من زارنی بعدموتی فکأنمازارنی فی حیاتی ومن مات باحدالحرمین بعث من الآمنین یوم القیامة رواه الدارقطنی وغیره (اعلاء السنن ۱۰/ ۵۴۲-۵۴۶، ابواب الزیارة النبویة ،باب زیارة قبرالنبی ☐ قبل الحج اوبعده دارالکتب العلمیة بیروت)
(۲) الشامی (۱/ ۲۲۵)، کتاب الصلوة ، مطلب فی زیارة القبورط رشیدیه.

ویستحب زیارة القبور للرجال وتکره للنساء لماقدمناه الخ (۱) وفیه قبیله: وان یکون فی زماننا للتحریم لمافی خروجهن من الفسادوفی کفایة الشعبی سئل القاضی عن جوازخروج النساء الی المقابرفقال: لایسئل عن الجوازوالفسادفی مثل هذاوانمایسئل عن مقدارمایلحقهامن اللعن فیه واعلم انهاکلماقصدت الخروج کانت فی لعنة الله وملائکته واذاخرجت تحفها (وفی نسخة لحقها) الشیاطین من کل جانب واذااتت القبوریلعنهاروح المیت واذارجعت کانت فی لعنة الله ذکره فی التاتارخانیة الخ (۲) فقط.

دمزارونودصفاکولولپاره ښځه مقررول

سوال: (۹) یوه ښځه هنده دجاروهلولپاره دیوه بزرګ پرمزارده ومزارته نژدي دمسلمانانوقبرونه دي دمسلمانانوقبرونه ونړول مځکه یې هواره کړه دادپوې انجن په وسیله دمېچنې چلولولپاره په کرایه ورکړه ایادافعل جائزدی ،که نه ؟ آیادبزرګانوپرمزارښځه دجارووهلولپاره مقررول جائزدي ،که نه ؟(۱۳۴۰/۵۹۲هج)

ځواب: زاړه قبرونه هموارول اوپه هغه کې تعمیراوکښت کول فقهاؤجائزلیکلی دی خوپه وقف کړې هدیره کې داسي کول چي قبرونه هموارکړي مځکه په کرایه ورکړي صحیح نه دی اوښځه پرمزارباندي دجارووهلولپاره مقررول صحیح نه دی فقط.

دښځې وهدیرې ته دتلواولوحه لګولوحکم

سوال: (۱۰) (الف) دښځې وهدیرې ته تلل دشریعت له مخې جائزدی ،که نه ؟(ب) پرخام قبرباندي شاوخواپوخ دېوال جوړول اوسرته یې لوحه لګول چي تاریخ اونورورباندي ولیکي جائزدی ،که نه ؟(۱۷۰/ ۴۴ـ ۱۳۴۵هج)

ځواب: (الف) په دې کې اختلا ف دی اوراجح ناجائزوالی دی خوکه کوم قبرپه لاره کې وي هغه

(۱) شرح منیة المصلی المعروف بالکبیری ص: ۵۲۴، فصل فی الجنائز، مسائل متفرقة من الجنائز.
(۲) شرح منیة المصلی ص: ۵۱۲، فصل فی الجنائز.

ته دعاکول جائزدي.

(ب) دقبرګیرچاپیره پوخ دېوال جوړول هم جائزنه دی خوکومه ډېره اونورد علامې اونښانې په غرضورباندي لګول جائزدی اوپرهغه باندي دلیکنې منع راغلې ده کمافی حدیث جابررضی الله عنه نهی رسول الله ﷺ عن تجصیص القبوروان یکتب علیهاوان یبنی علیها رواه مسلم(۱) فقط والله تعالی اعلم.

دمسجدداوبوترناوه دهدیرې وطرفته لګول

سوال: (۱۱) یومسجد دهدیرې وخنډې ته واقع دی دهغه پخه ترناوه چي دمسجد دبام اوبه بېله داري، وهلوپردېوال رواني راشیوه کیږي دهدیرې پرکونج په داسي ځای کې لګول جائزدي چیري چي دقبرکوم نښان هم موجودنه وي اواوبه بېله کوم خنډه له هدیرې څخه دباندي ځي په پوښتل شوې صورت کې دمسجدترناوه راشیوه کول جائزدی اوکه نه ؟ خلګ دابداوګناه بولي (۱۳۳۹/۲۹۸۵هج)

ځواب: دمسجدذبام اوبه په هدیره کې دسوال له تفصیل سره سمې راشیوه کول صحیح دي اوګناه بلل ددې صحیح نه دی داګمان دخلګوغلط دی فقط.

له قبرونوسره دمتیازواونوروله کولوڅخه وزې (بزې) منع کول

سوال: (۱۲) دمتولی دکوروخنګ ته دیوه بزرګ مزاردی دمتولي وزي ددغه مزارپرچوتره (دوکانچه) باندي پرېوزي ، پچې اوبولې کوي کوم سړی چي له دې څخه منع کوي متولي له هغه سره جګړې ته آماده دی اووایې چي هلکان په مسجدکې سبقان وایې اوهواوې خارجوي ددې بندوبست وکړه استاذوباسئ دده په ویناله استاذله مسجدڅخه ایستل صحیح دی ،که نه ؟(۱۰۰۲/ ۴۷ـ ۱۳۴۶هج)

ځواب: له قبرونوسره وزې له متیازواونوروکولوڅخه منع کول پکاردي اودیادشوې شخص په وینادمسجد دامام اواستاذایستل صحیح نه دی.

(۱) شرح منیة المصلی ص: ۵۱۲، کتاب الجنائز، قبل باب احکام الشهید.

كتاب البيوع

درانیولواوخرڅولوبیان

دتجارت معنی

سوال: (۱) دتجارت معنی څه ده؟ (۳۲/۸۰۲-۱۳۳۳هج)

ځواب: دتجارت معنی رانیول اوخرڅول دی تاجرهغه سړی دی چي رانیول اوخرڅول دواړه کوي التاجر الذي يبيع ويشترى الخ وقد تجر (يتجر) تجرًا وتجارةً الخ(۱) (قاموس) دتجارت چي کومه لغوی معنی ده هماغه يې شرعی ده.

دتعاطی بیع معنی

سوال: (۲) مادامسئله پوښتلې وه چي دآم اونوروباغونه په ټيکه ورکول کيږي ښکاره ده چي دمعدوم شی سودا ده کومه چي باطله ده خوتاسوپه بيع تعاطی بللوجائزکړې وه په تعاطی بيع زه نه پوهيږم (۲۲۱۲/ ۱۳۳۸هج)

ځواب: تعاطی بیع دې ته وايي: چي په خوله څه ونه ویل شي خرڅوونکی قیمت واخلي اورانیوونکی شئ څيني واخلي خوپه باطل اوفاسدبيع کې تعاطی هغه وخت کېدای شي چي مخکښې بيع

(۱) القاموس المحيط للشيخ محمدبن يعقوب الفيروزآبادی الشيرازی ۳۷۲/۱ ، فصل التاء باب الراء.

پرېږدي تفصيل ددې دشامي دڅلورم ټوک په شروع کي دی(۱).

دخولې په ایجاب اوقبول هم بیع منعقدیږي

سوال: (۳) زه په یوسرای کې له دیرشوکلونوراهیسي په کرایه اوسیږم دسرای مالک یوکال کیږي چي دخولې په وینایې سرای پرماخرڅ کړی وواودایې راته ویلې ووچي تاسوپه حکومت کې رسمي کېدل وګورئ زه چي راشم دررسمي به يې کړم ماپه ځواب کې ورته وویل چي مامکان واخست چي کله پرنامه رااړوي هغه وخت به روپۍ درکړم اوس ده یوکال وروسته دکرایې اودمکان ورخلاصو لوعارضه وکړه داعارضه دده کول جائزدي که نه؟ (۸۰۰/ ۱۳۳۸هج)

ځواب: دخولې په ایجاب اوقبول سره شرعًا بیع منعقدیږي نوپه دې صورت کې بیع قطعي شوه خرڅوونکی بایدسوداپروخت مقررکړی قیمت واخلي دکرايې اومکان ورخلاصولوعارضه دخرڅوونکې له لورې کول شرعًا جائزنه دی فقط.

بيع: په ایجاب اوقبول پوره کیږی

سوال: (۴) محمداسحاق صوبداردیومکان خپله نیمه برخه په اووه سوه روپۍ زموږپرمرشد مولانا محمدابراهیم صاحب خرڅه کړه ایجاب اوقبول شوی دی اوبیااووه سوه روپۍ محمداسحاق ونوموړي مولوي صاحب ته وبخښلې اوس آیادغه سوداصحیح شوه؟ (۱۲۵۲/ ۱۳۴۱هج)

ځواب: دبيع رکن صرف ایجاب اوقبول دي یعنی سوداپه ایجاب اوقبول پوره کیږي لکه چي په درمختارکې راغلې دي [اماالقول فالايجاب والقبول وهماركنه (الى ان قال) وحكمه ثبوت الملك الخ(۲) نومعلومه شوه چي بیع په ایجاب اوقبول سره

(۱) صورته ان يتفقاعلى الثمن ثم يأخذالمشترى المتاع ويذهب برضاصاحبه من غيردفع الثمن اويدفع المشترى الثمن للبائع ثم يذهب من غيرتسليم المبيع فان البيع لازم على الصحيح حتى لوامتنع احدهما بعده اجبره القاضى (وبعد السطر) والتعاطى انمايكون بيعًا اذالم يكن بناء على بيع فاسداوباطل سابق الخ (الشامى (۱۲/۴) ، قبيل مطلب: البيع بالتعاطى وايضافى مطلب البيع بالتعاطى ط رشيديه) (۲) الدرالمختارمع الشامى (۵/۴) فى بداية كتاب البيوع ط رشيديه.

پوره کیږي په هغه دټولو یایوڅه روپوورکول شرط نه دی لکه چي ښکاره دی چي په بیع مؤجله یعنی په بیع الی اجل معین کې حالًا څه ثمن (روپۍ) هم نه ورکول کیږي اوسوداپوره شي ،ځکه نوکه خرڅوونکی له ایجاب اوقبول وروسته معلوم کړی قیمت چي په تبادله کې یې مقررکړی ووټول یاځیني وبخښي اوساقط یې کړي نوهغه روپۍ معافیږي اودمشتری (رانیوونکې) غاړې خلاصیږي اودی دمبیع (رانیول شوې شی) مالک شوپه هغه کې هیڅ فرق نه راځي فقط.

په وعده باندي بیع نه تامیږي

سوال: (۵) دزیدا وعمرترمینځ داوعده وشوه چي زه به تاته مال راب (نری ګوړه) په لس روپۍ من درکړم نوددې وعده کله چي ګنی په کښت کې موجوددی صحیح ده ،که نه ؟ که صحیح ده نودمال پرتیاریدووزید ته خبرتیاورکول چي ستاسواوزموږوعده وه ته داخلي ،که نه ؟ که چي مال تیارشي بیادڅه ورته ویلوا ړتیانشته ؟ (۱۳۳۷/۹۲۰هج)

ځواب: په دې وعده سره هیڅ معامله اورانیول اوخرڅول ونه شوبیامعامله کول پکارده اوراکړه ،ورکړه کول پکاردی اوکه مالک مال دمخکنۍ وعدې سره سم وده ته ورکړي اودی قیمت ورکړي نواوس عقد (سودا) کیږي اوبیع صحیح کیږي.

دثمن (روپو) مجهول والی دبیع دصحیح کېدولپاره خنډدی

سوال: (۲) وزیدته دخپل وروړپه میراث کې څه مال وروړسیدی تراوسه لادده لاس ته نه ووراغلی چي ده پرعمرخرڅ کړاوداوعده یې ورسره وکړه چي همېشه به شل روپۍ دمیاشتې درکوم اودڅه مخکې بېرته ورکولوشرط یې هم لیکلی دی دامعامله جائزه ده ،که نه ؟ زیدوفات شوی دی دده دوې لونې اویووراره پاته دي (۱۳۳۴-۳۳/۹۲هج)

ځواب: زیدچي کومه معامله دسوداله عمرسره وکړه په داډول صحیح نه ده چي په دې کې ثمن هم مجهول دي ،ځکه چي دمیاشتې همېشه شل روپې ورکولو مطلب دادی چي ترڅوزیدژوندی وي دمیاشتې به شل روپۍ ورکول کیږي نوټول مقداردروپومجهول شوداشی دبیع وصحیح کېدوته خنډدی لنډه داچي دامعامله شرعًا ناجائزه ده اوداسوداصحیح نه شوه اوس دزیددغه ترکه (ورپاته شوی میراث) دده دواړولونواووراره ده هغوئ دې له نوې سره سوداوکړي اوقیمت دې معلوم کړي څومره ځکه چي ځانته ئ اګرځوي هغه دې راوګرځوي

سوال: (۷) دلته دارواج دی چي ګنی دشاه نګرپه بیع خرڅوي دلبیع جائزده ،که نه ؟ (۱۳۴۵/۱۲۲۳هج) ځواب: په دې صورت کې قیمت مجهول وي اوپه مجهول (نامعلوم) قیمت رانیول اوخرڅول ناجائزاوفاسددی.

په مبهم (ناڅرګند) قیمت بیع کول صحیح نه ده

سوال: (۸) یوشی پربېلابېلوکسانوپه بېلابېل قیمت خرڅ کړل شواوزیددرانیو لولپاره راغلی اووایې چي داشی دی وبل ته کوم قیمت ورکړی دی په هغه قیمت باندي ماته راکړه خوزیدته وویل شوچي دغه شی خوپه بېلابېلو قیمتونو خرڅ کړل شوی دی ،ځکه موږته نه معلومیږي زیدوویل چي داشی خوفلانی سړی هم رانیولی دی نودزید سره دهغه سړی په حواله بیع کول جائزده ،که نه ؟ (۱۳۴۷-۴۲/۱۷۱۱هج)

ځواب: قیمت ورښوول پکاردي مبهمه حواله کول نه دي پکارمثلا دادې صفاورته وویل شي چي فلانی سړی په کوم قیمت رانیولی دی هغه دومره دی په هغه قیمت باندي یې ته واخله.

په بیع کې که ثمن اومبیع دواړه په پوروي نوسودانه صحیح کیږي

سوال: (۹) (الف) مثلا زیدده خروارګندم نوع وجنس فلان وغیره تعین ضروری بوعده پانزده روزازعمرمی فروشدباین طورکه بیع الحال شدلکن بوقت وعده مذکوره معینه مشتری ثمن معینه عقدراادانموده ګندم مبیعه راقبض می نمایدیعنی فی الحال فقط بیع به الفاظ می کندوتعین ضروری ثمن ومبیع ووقت ومکان ووقت قبض ثمن ووقت قبض مبیع می نمایداما فی الحال مشتری نه ثمن ادامی نمایدونه مبیع راتسلیم می کندبوقت حلول اجل مشتری ثمن معهوده داده مبیع راقبض می کندآیااین صورت شرعاً جائزاست یانه ؟ واین وعده بیع است یابیع ؟ اګربیع است پس بوقت ادائی ثمن بربائع قبض ثمن وتسلیم مبیع واجب خواهدبود، واګروعده بیع است این هردوقضاء واجب نخواهدشدیاچه طور؟ واګروعده است درزرونقره هم جائزخواهدبودیانه ؟

(ب) درصورت مذکوره مبیع نزدبائع موجودمی باشدواحیانا موجودنمی باشد بلکه بوقت حلول اجل

ازبازارخریده تسلیم می نمایدپس هردوصورت جائزست یانه ؟

(ج) دربعض اوقات زیدآن ده خروارگندم رابربکرحوالت می کندمثلا زیدده خروارگندم معینه رااز بکر بصورت مذکوره اولی به همان وعده می خردوچون وقت حلول اجل موعوده عمرمی رسدزیدبربکرحوالت می کندومی گویدکه گندم خودازبکرازجانب من وصول بکن وخودثمن گندم رابه بکراداکن واورامی گویدکه گندم من بعمرتلسیم بکن پس بکرآن ثمن راوصول نموده گندم بعمرتسلیم می کند.

(د) دربعض صورتهاعمرده خروارگندم بخالدمی فروشدحسب وعده سابقه باین نیت که ان ده خروارکه اززیدخریده ام بوقت حلول اجل وعده ازآنجاتسلیم نموده به خالدخواهم داداما دروقت بیع تعیین آن گندم نمی نمایدتاکه اعتراض بیع قبل القبض لازم نیاید(۱۳۳۹/۹۴۵ هج)

جواب : (الف ،ب) بحکم نهی عن بیع الکالی بالکالی (۱) این بیع منهی عنه است ومنعقدنه شدوصیغه وعده که بعدپانزده روزبیع خواهم کردهم نیست لهذاکالعدم است .

(ج) حکمش هم ازماقبل ظاهرشدکه بیع منعقدنه شده است ونه الغاء آن ضروري است من بعداگربه تحقق شرائط بیع خواهندکردوایجاب وقبول خواهندکردبیع منعقدخواهدشددرین وقت بیع نه شده است .

(د) حکمش کالمذکوراست الغرض بصورتیکه مبیع وثمن هردونسئیه باشندبیع منعقدنه خواهدشدفقط .

دسوال (۹) ترجمه: (الف) مثلا زیدلس خرواره غنم په نوع اوجنس اونورضروري کارونوپه تعینولو سره دپنځلسوورځوپه وعده پرعمرخرڅوي چي حالاخوسوداکیږي خورانیوو نکی دبیان شوې وعدې پروخت (یعنی دپنځلسوورځوپه پوره کېدو) مقرر شوی ثمن اداکوي پرمبیع قبضه کوي یعنی حالاصرف په خوله بیع کوي اوضروري شیان یعنی ثمن ،مبیع ، وخت ،مکان اوپرثمن اومبیع دقبضې کولووخت ټاکي خوحالانه رانیوونکی روپۍ ورکوي اونه خرڅوونکی ورانیوونکي ته مبیع سپاري دټاکلې وخت په راتلورانیوونکی مقررې شوې روپۍ اداکوي پرمبیع قبضه کوي آیادااصورت شرعًا جائزدی ،که نه ؟ اوداوعده دبیع ده که بیع (سودا) که بیع ده نودثمن داداکولوپروخت پرخرڅوونکي دثمن دوصولو سره مبیع ورکول واجبیږي ؟اوکه وعده

(۱) عن ابن عمررضی الله عنهماان النبی صلی الله علیه وسلم نهی عن بیع الکالی بالکالی رواه الدارقطنی (مشکوة ص: ۲۴۸کتاب البیوع ،باب المنهی عنهامن البیوع

دبیع ده نودادواړه شیان پرخرڅوونکي نه واجبیږي څه حکم دی ؟دارازکه داوعده دبیع ده نوپه سروزرو او سپینو زروکې به هم جائزدی ،که نه ؟

(ب) په یادشوې صورت کې کله خومبیع دسره موجوده وي اوکله موجودنه وي بلکې دوخت په راتلوباندي په بازارکې رانیسي ورانیوونکې ته وسپاري دادواړه صورتونه جائزدي اوکه نه ؟

(ج) کله ناکله داسي هم کیږي چي زیدددغه لسوخوروروغنموذمه وبکرته وسپاري مثلا زیدلس خرواره غنم په پورته یاده شوې طریقه باندي تعین کړي دغه ډول په وعده باندي له بکرڅخه رانیسي کله چي له عمرسره دکړې وعدې وخت پوره کیږي نوزیددغنموذمه وبکرته سپاري اوعمرته وايې چي ته خپل غنم زماله لورې له بکرڅخه واخله اودغنمو روپۍ هم وده ته ورکړه اودلته وبکرته وایې چي ته غنم زماپرځای وعمرته ورکړه ،څکه بکرروپۍ څیني واخلي وعمرته غنم ورکړي

(د) کله داسي هم کیږي چي عمرپه مخکنۍ وعده باندي لس کوړې غنم په دې نیت پرخالدخرڅوي چي کله دغنمواداکولووخت راشي نوله زیدڅخه به یې واخلم اوخالدته به یې ورکړم اماله خالدسره دسوداکولوپروخت داغنم نه تعینوي ترڅوله قبضې څخه مخکې دسوداکولواعتراض لازم رانشي (په دغو صورتونو کې څه حکم دی ؟)

ځواب: (الف ،ب) دحدیث نهی عن بیع الکالی بالکالی په وجه داسي بیع کول منع دي اوداسي بیع نه منعقدیږي دارازپه دې کې دوعدې الفاظ چي پنځلس ورځې وروسته به بیع وکړم هم نه دی ،څکه نودابیع داسي ده لکه چي نه وي شوې.

ج: ددې حکم هم له اول ځواب څخه ښکاره شوچي نه بیعمنعقدشوه اونه دهغه ختمول ضروري دي دومره خبره ده که چیري دبیعې دشرطوموافق بیع وکړي اویوبل ځل ایجاب اوقبول وکړي نوبیع منعقدکیږي اوس بیع نه ده منعقد.

(د) ددې حکم هم وبیان شوې ته ورته دی لنډه داچي په کوم صورت کې مبیع اوثمن دواړه په پوروې بیع نه صحیح کیږي.

دنرخ په معلومولوبیع نه تامیږي

سوال : (۱۰) له زیدڅخه عمرکوم شی رانیسي نرخ معلوم شوکله چي عمردبهر اوسېدوونکی دی ،څکه زیدوده ته پوروړنکړاوداخبره وشوه چي دکوم شی نرخ (بیع)

معلومه شوه هغه دي له خالدسره امانت کښېښوول شي که عمرپه اته ورځې کې دننه روپۍ اداکړي نوهغه شی به ده ته ورکول کېږي کنې زیدبه یې بیرته اخلي ،ځکه نوشی دخالدسره کیښنودل شواوعمرخپل ښارته ولاړدوې درې ورځې وروسته خالددغه شی خرڅول شروع کړاوس زیدته دااختیارشته ،که نه چي دی خپل شی بیرته واخلي اوپرعمرباندي یې خرڅ نکړي ،ځکه چي دهغه له لورې دوعدې خلا ف وشول (۱۲۱۲/ ۱۳۳۵هج)

ځواب: په دې صورت کې یې صرف نرخ معلوم کړی وو بیع نه وه شوې ،ځکه چي دبیع ایجاب اوقبول اوددواړوعوضونو تبادله طرف والوپه خوښه اوس لا نه وه شوې زیدته داحق شته چي دی خپل امانت شی ټول بیرته واخلي اوپرعمرباندي خرڅ نکړي

دناتیارشوې مال رانیول ،خرڅول.

سوال: (۱۱) له جاپان اونورودباندیني ملکونوڅخه دمال راغوښتوپه حال کې زیاتره وغټوتجارانوته تیارمال نه ملا وېږي ،ځکه دوئ داکوي چي دغوښتل شوې مال نمونه وربنکاره کړي څومیاشتې مخکې دهغه ځای په سکه باندي نرخ معلوم کړي فرمائش ولیږي دمثال په توګه درنګون تاجرله جاپان څخه مال راغواړې نودی نن مثلا پر۱۲نومبرسنه ۲۴ ء دیولک نیګ (دسپینوزروجاپاني سکي) مال دجنوری په میاشت سنه ۲۵ء کې دراليږلومعامله کوي بیادمال ورنګون ته په رسېدوبه درنګون پرتاجردیولک نیګ اداکول لازم وي بیاپه رنګون کې خوانګریزي روپۍ چلیږي نېګ دلته نه چلیږي ،ځکه رنګونی تاجر بانګ ته چي دجاپان سره اړه لري دیولک نیګ په بدله کې انګریزي روپۍ ورکوي ددغه نیګ نرخ زیاتره پورته اوکښته کیږي مثلا کله دیوسل ،شلوروپو سل نیګه وي بل وخت بیاپه سل دیرش وروپۍ نرخ چلیږي په دې صورت کې دغه معامله په هراعتبارجائزده ،که نه ؟(۱۱۸۱/ ۱۳۴۳هج)

ځواب: په شریعت کې دمعدوم (چي وجودنلري) بیع نه صحیح کیږي ،ځکه نوترڅوچي غوښتل شوی مال موجودنه وي درانیولواوخرڅولومعامله په هغه کې نه صحیح کیږي امادامعامله کومه چي اوس له مال تیارېدومخکې کیږي دایوه وعده بلل کیږي چي کله مال تیارشي موږبه یې په دومره بیع رانیسونودبیع ایجاب او

قبول اودبیع تاموالی هغه وخت کیږي کله چي مال تیارشي اوموجود شی اودرانیوونکې دقبضې ورباندي کولواودثمن داداکولوپروخت به تعاطی ببیع شي اونیګ خودسپینوزروسکه ده دهغه دروپۍ سره دتبادله کولوهماغه حکم دی کوم چي دسپینوزروتبادله دسپینوزروسره وي یعنی پردواړوعوضونو باندي قبضه اوپه وزن کې برابرې پکارده اوزیاتوب ،کمښت به سودوي فقط.

داډرما ل له رارسېدومخکې پرنوروتجارانوخرڅول

سوال: (۱۲) درنګون په ښارکې عموما دغټوتجارانوقانون دی چي بیع معلومه کړي دلندن جاپان ،جرمني اونوروکارخانوته درانیولوفرمائش ولیږي چي فلانۍ نمونه اوفلانی ډول دومره مال مثلا په درې میاشتوکې تیارکړئ په دومره نرخ باندي داډول راولیږئ چي دټول فرمائش مثلا دمال دریمه برخه په څلورمه میاشت کې اوبله دریمه په پنځمه میاشت کې اوپاته په شپږمه میاشت کې وطیاري ته وروخیژوي اوکله داډول په فرمائش کې لیکي چي ټول مال مثلا درې میاشتې وروسته وطیاري ته وروخیژوي ددغه فرمائش مال له هغه ملک څخه له روانیدومخکې بلکي ځیني وختونه ددغه مال له تیارېدومخکې دغه غټ تجاران دارازدغه راتلوونکې مال دخرڅولومعامله ددې ځای له کوچنیو تجارانوسره کوي چي فلانۍ نمونه اوفلانی ډول مال په دومره موده کې په دومره نرخ تاته درکوم که کوم مسلمان داډول رانیول اوخرڅول ونکړي نودنوروقومونو په مقابله کې کوم غټ تجارت نشي کولای دارازمعامله کول شرعًا جائزده ،که نه ؟(۲۸۸۲/ ۱۳۴۱هج)

ځواب: په اول صورت کې غټ تجاران چي کوم دکوچنیوتجارانوسره ددې مال بیع اوشراء (رانیول ،خرڅول) کوي کوم چي تراوسه دوئ ته رارسېدلی نه وي اوددوئ ملک نه وي ګرځیدلی یاتراوسه هغه ما ل تیارشوی هم نه وي نودامعامله ناجائزه ده لانه علیه السلام [نهی عن بیع مالیس عندالانسان ورخص فی السلم (۱) نوداسي معامله یعنی دمعدوم دبیع معامله صرف

(۱) الدرالمختارمع الشامی (۴/ ۱۱۸) ، کتاب البیوع ،مطلب: الآدمی مکرم شرعًا ولوکافرًا ط رشیدیه.
عن حکیم بن حزام قال سألت النبی ☐ فقلت یارسول الله ☐ یاتینی الرجل فیسألنی البیع لیس عندی ابیعه منه ثم ابتاعه له من السوق ؟قال لاتبع مالیس عندک (نسائی: ۲/ ۱۹۲، کتاب البیوع ،باب بیع مالیس عندالبائع).

دسلم په طریقه جائزده خو دسلم په بیع کې دسلم دشرطونولحاظ کول ضروري دی بېله هغه شرطونوبیع سلم نه جائزېږي اوښکاره ده چې دغه معامله په طریقه نه ده اونه دهغوشیانوسره خاص ده چې پکې دسلم بیع کیږي، ځکه دادول بیع سلم جائزنه ده اماکه حالاقطعي رانیول، خرڅول نه وي بلکې دوعدې په توګه وکوچنیوتجارانوته وویل شي چې دمال له راتلووروسته به یې زه وتاسوته په دې نرخ درکړم اوله مال راتلوورروسته درانیولو، خرڅولو معامله وشي که دایجاب اوقبول په طریقه وي اوکه تعاطی نوداصحیح دی.

ترڅوچې سوداپوره نشي درانیوونکې ملک وربانديې نه راځي

سوال: (۱۳) دیوسړی پرمځکه باندي بل سړی ترډېرې مودې قبضه کوونکی دی هغه وربانديې یوډول قوت لري چې دهغه په وجه دادوهم سړی خرڅوي اوترڅوچې به ددوهم سړی سره وي هغه به دمځکې ومالک ته له کاله یادحاصل اخستوپه موسم کې نغدې یاغله اونوروركوي کله چې دوهم رانیوونکی ته دامځکه ورسیږي نوهغه رانیوونکی به هم واصل مالک ته له کاله یاپرفصل باندي څه ورکوي په دغه صورت کې دغه مځکه دکوم رانیوونکې په ملک کې راتلای شي، که نه؟ اودارازسوداکول صحیح ده، که نه؟ (۱۱۲۸/ ۳۲- ۱۳۳۳هج

ځواب: دامعاملې ټولې دشریعت خلا ف اوباطلې دي ترڅوچې داول مالک له لورې قطعي سوداکوم رانیوونکې سره ونشي ددغه رانیوونکې لپاره یې خرڅول نشي جائزکېدای اودمالک له لورې دقطعي بیعې نه کېدل دغوکارونو څخه ښکاریږي چې دمځکې ومالک ته له کاله یاپرموسم څه ورکول غواړې اودالړی پرمخ روانه ده له دې څخه معلوم شوچې داصل مالک له لورې بیع واقع نه شوه اومعامله دبیعې ونه شوه بلکې درهن (ګرو) اجارې اونوروبه شوې وي کنې دده حق څرنګه قائمېدای شي ؟ لنډه داچې کله لومړی بیع تامه نشوه اوبیع صحیح نه ده بلکې بیع نه ده نه صحیح اونه فاسده نونورې سوداوې کومې چې له دې وروسته وشوې هغوئ هم نشي صحیح کېدای.

رانیولې جائیدادله قبضې څخه مخکې خرڅول

سوال: (۴) تهان سنګه رانیولې مځکه په شپږسوه روپۍ پرمحمد حسین خرڅه کړه

آیاد تهان سنګه پرمحمد حسین خان باندي بېله قبضې کولوخرڅول شرعًا جائزدی، که نه (۹۲۹/ ۳۳- ۱۳۳۴هج)

ځواب: په درمختارکې راغلې دي: صح بیع عقارلایخشی هلا که قبل قبضه من بائعه الخ (۱) له دې څخه ثابت شوچې تهان سنګه چې کومه سوداله محمد حسین خان سره دمځکې له قبضې کولوڅخه مخکې کړې ده هغه صحیح شوه فقط.

وعده کړل شوی انعام له قبضې کولومخکې خرڅول اوهبه کول

سوال: (۱۵) دزیداودزیددوارثانولپاره سل روپۍ نغدي انعام بېله عوض اوخدمته دحکومت له لورې ټاکل شوی دی نوپه دې صورت کې زیداووارثان دده دغه وعده کړل شوی انعام خرڅولای اوبخښلای شي، که نه؟ (۱۰۰/ ۳۲- ۱۳۳۳هج)

ځواب: زیدیاوارثان دده بېله قبضې کولودغه وعده شوی انعام خرڅولای اوهبه کولای نشي (۲) فقط والله تعالی اعلم.

په امیدراتلوونکوحقونواوګټوبیع شرعاصحیح نه ده

سوال: (۱۲) یوکلی دی چې دمځکې مالک یې زیددی دحکومت له لورې چې ددغې مځکې کوم محصول له زیدڅخه اخستل کیږي دحکومت په قانون کې وعمرته ورکول کیږي چې په عرف کې ورته معافي وایې نوعمرمعافي دارته خپل حق دمعافي داری پربکرخرڅ یادده سره ګروکښېږدي چې بیابه دعمرپر ځای بکرهغه محصول اخلي چې دحکومت موجوده قانون اجازه هم ورکوي آیاشرعًا هم ددغه معافداری دحق خرڅول یاپه ګروښوول جائزدی اوکه نه؟ (۸۲۰/ ۳۳- ۱۳۳۴هج)

---

(۱) الدرالمختارمع الشامی (۱۸۱/۴) ، کتاب البیوع فصل فی التصرف فی المبیع والثمن الخ ط رشیدیه.
(۲) وفی الاشباه: لایجوزالاعتیاض عن الحقوق المجردة کحق الشفعة وعلی هذالایجوزالاعتیاض عن الوظائف بالاوقاف (الدالمختار) وفی ردالمحتار: قوله (وعلی هذالایجوزالاعتیاض الخ) من امامة وخطابة واذان وفراشة وبوابة ولاعلی وجه البیع ایضا لان بیع الحق لایجوز(الدروالرد(۴/ ۱۵) کتاب البیوع ، مطلب فی الاعتیاض عن الوظائف والنزول عنها ط رشیدیه)

ځواب: قال فی الدرالمختار: بطل بیع مالیس بمال الخ (۱) اوپه شامی کې راغلي دي وقدمنااول البیوع تعریف المال بمایمیل الیه الطبع ویمکن ادخاره لوقت الحاجة وانه اخرج بالادخارالمنفعة فهی ملک لامال لان الملک مامن شانه ان یتصرف فیه بوصف الاختصاص کمافی التلویح فالاولی مافی الدررمن قوله المال موجودیمیل الیه الطبع الخ فانه یخرج بالموجودالمنفعة الخ(۲) (۴/ ۱۰۰)

له دغوعبارتونو څرګندږی چي داډول په امیدراتلوونکو حقو نواوګټوخرڅول اوپه ګروورکول شرعًا صحیح نه دی بلکي باطل دی فقط. الجواب صواب: وفی النهریعلم من قول الثانی حکم الاقطاعات من اراضی بیت المال اذحاصلها: ان الرقبة لبیت المال والخراج له وحینئذفلا یصح بیعه ولاهبته ولاوقفه نعم له اجارته تخریجاعلی اجازة المستأجرالخ(۳) (الدرالمختار) محمدانورعفی الله عنه.

دلال دوریجوبیعه معلومه کړه له قبضې مخکې یې پربل خرڅې کړي

سوال: (۱۷) یوسړی دلالي کوي مثلا ده دیوچاسره دوریجوبیعه معلومه کړه خودغه وریجې پربل تاجرخرڅې کړي اوهغه وریجي دلال خپل کورته رانه وړې نودابیع صحیح شوه، که نه؟ (۱۲/ ۱۳۳۸هج).

ځواب: بېله قبضې کولو خرڅول صحیح نه دي (۴).

(۱) الدرمع الرد(۴/ ۱۱۲)، کتاب البیوع، مطلب فی انواع البیع ط رشیدیه(۲) ردالمحتار(۳/ ۲۹۰)، کتاب البیوع، مطلب فی تعریف المال ط رشیدیه.
(۳) الدرمع الرد(۳/ ۲۹۰) کتاب الجهاد، مطلب فی احکام الاقطاع من بیت المال ط رشیدیه.
(۴) عن ابن عمررضی الله عنهما قال: قال رسول الله ☐ من ابتاع طعامًا فلایبیعه حتی یستوفیه (وفی روایة عنه) حتی یقبضه (نسائی ۲/ ۱۹۵، کتاب البیوع، باب بیع الطعام قبل ان یستوفی.

له قبضې کولومخکې پربل چا مال خرڅول

سوال: (۱۸) که زیددځان سره بکربوتلی پخپلوروپوباندي یې مال رانیوی اوپه روپۍ کې په دوې آنې ګټه پرهغه ځای ورکړي چیري چي یې رانیولې دي په څه موده ټاکولونوجائزدی، که نه؟ (۱۱۸۲/ ۱۳۴۲هج)

ځواب: دزیدلپاره بېله پرمبیع قبضه کولومال پربکرباندي پرهغه ځای خرڅول صحیح نه دي بلکي پکاردی چي زیداول پردغه رانیولې مال باندي قبضه پخپله وکړي بیاداپربل چاباندي خرڅ کړي فلا یصح بیع منقول قبل قبضه وفی المواهب وفسدبیع المنقول قبل قبضه(۱) (درمختار)

کوم مال چي درانیوونکې په کورکې پروت وي

پرهغه باندي دقبضې کولوطریقه / اودسنداورسیدمال خرڅولوحکم

سوال: (۱۹) (الف) زیدزرروپۍ وعمرته ورکړې ورته یې وویل چي په دغوروپودتجارت ما لدخپلې خوښې سره سم له ولایت څخه راوغواړه اوکله چي راورسیږي نوزماله لورې یې ته رانیسه اوماته پنځوس روپۍ ګټه راکړه اوروپۍ به سره له ګټې په شپږمیاشتې کې راکړي بیادمال له رارسېدوسره سم دخولې سودازیدله عمرسره په یوزرپنځوس روپۍ په شپږمیاشتې کې داداکو لوپه شرط وکړه یعنی مال عمرراغوښتی اوکله چي دده کورته راورسیدی نوله زیدسره دخولې سوداوشوه آیادا صورت جائزدی، که دبیعې پروخت پرمال باندي دزید قبضه ضروري ده؟

(ب) که دعمردمال رسیدووزیدته په قبضه کې ورکړي بیازیدهغه رسیدوعمر ته ورکړي اوورته ووایې چي ددغه رسیدمال مې یوزرپنځوس روپۍ بیع کړنودا کفایت کوي، که نه؟ (۱۵۳۳/ ۲۹_۱۳۳۰هج)

ځواب: (الف) اصل دادی چي له قبضې مخکې بیع ناجائزده خوپه اول صورت کې کله چي مال عمرته راورسیدی اوعمرماموراووکیل دی دزیدله لورې درانیولواوقبضې کولواودوکیل قبضه دمؤکل وي نودعمرپه قبضه کې

(۱) الدرالمختارمع الشامی(۴/ ۱۸۱)، کتاب البیوع، فصل فی التصرف فی المبیع والثمن الخ ط رشیدیه.

له مال راتلو وروسته چي کومه سودا زيد له عمر سره په پنځوس روپۍ کټه وکړه دا صحيح ده خو د عمر مخکنی قبضه چي د نائب او وکيل په حيث وه هغه د بيعې قبضه نه بلل کيږي بلکي عمر بايد بيا و دغه رانيولې مال ته ورشي نوې قبضه وکړي او د دې صورت يې په شامي کې داليکلی دی چي له رانيولو وروسته چيري چي هغه مال پروت دی هلته دې ورشي او د ملک په طريقه دې هغه مال خپل وبولي او قبضه دې ورباندي وکړي [اذا اشترى ماهو امانة فى يده من وديعة او عارية لايكون قابضًا الا اذا ذهب الى العين الى مكان يتمكن من قبضها فيصير الآن قابضًا با لتخلية (۱) (ځلورم ټوک ، باب البيع الفاسد)

(ب) که مال نه دی راغلی صرف رسيدېي اوس راغلی دی او هغه رسيد عمرو زيد ته ورکړ بيا زيد هغه سند و عمر ته ورکړ او د دغه سند مال زيد پر عمر خرڅ کړ نو دا صحيح نه دی داله قبضې څخه مخکې سودا ده ، ځکه چي تر اوسه نه مال د زيد په قبضه کې راغلی دی او نه د ده د نائب يعنی عمر په قبضه کې راغلی دی په درمختار کې راغلې دي: فلا يصح بيع منقول قبل قبضه (۲) فقط والله تعالى اعلم.

که پر مبيعه له قبضې کولو مخکې بائع د مشتري په وينا مال خرڅ کړنو څه حکم دی

سوال: (۲۰) زيد له عمر څخه پروړ رانيوی قيمت يې ورکړ خو پر هغه باندي يې قبضه نه وه کړې چي عمر ته يې وويل هغه پروړيې پر بکر باندي په خرڅ کړنو دا قيمت د ده لپاره اخستل جائزدی ، که نه ؟ کله چي ده پر پروړ باندي قبضه نه وه کړې او بکر د دې مالک شو او که نه ؟ (۲۰۰۵/ ۱۳۴۵هج)

ځواب: بکر د دې مالک شو د ده لپاره تصرف په دغه پروړ کې جائزدی په داسي صورت کې وزيد ته خيار رؤيت و چي پروړيې په ليدو را کړ ځولی وای يا يې بيرته ورکړی وای خو کله چي ده خپل اختيار ساقط کړ او پروړيې خرڅ کړنو که څه هم وزيد ته د روايت: ومن اشترى شيئًا ممايتقل ويحول لم يجزله بيعه.

(۱) الشامی (۴/ ۱۲۲) ، کتاب البيوع ، مطلب فى بيع دودة القرمز ط رشيديه.
(۲) الدرمع الرد(۴/ ۱۸۱) ، کتاب البيوع ، فصل فى التصرف فى المبيع والثمن ط رشيديه.

حتى يقبضه (۱) په سبب داسي کول جائزنه دي خو ملک د ده ثابت شو(۲) ، ځکه نو دغه قيمت د ده لپاره اخستل صحيح دي او د ناروا له کولو دې توبه وکاږي فقط

له مشترک جائداد څخه د خپلې برخې خرڅولو او هبه کولو حکم

سوال: (۲۱) يو سړی خپله نا قبضه کړې برخه پر کوم بل چا خرڅولای يا ور ته هبه کولای شي ، که نه ؟ که د نورو شريکانو اجازه شرط ده ؟ (۳۵۲/ ۱۳۴۰هج)

ځواب: له مشترک جائداد څخه د خپلې برخې په اندازه بيع کول صحيح ده له نورو شريکانو څخه اجازه اخستل صحيح نه ده او له مشترک جائداد څخه هبه کول صحيح نه ده ترڅو چي له ويشلو وروسته هبه نکړي او چا ته چي هبه کړي د هغه قبضه ورباندي ونکړي تر هغو هبه نه تاميږي که په کومه وجه قبضه د مالک پر خپل مملوک شی باندي نه وي نو د مالک ملک نه ساقطيږي خو په هبه کې د موهوب له (چا ته چي هبه وشي) قبضه پر موهوبه (هبه شوې شی) باندي کول د هبې د صحيح کېدو لپاره ضروري دی.

د بل په مکان کې او سېدو ونکی او قبضه کوونکی څخه هغه مکان رانيول

سوال: (۲۲) د اظهارحق صاحب د کوروڅنګ ته ديو سړی خام مکان دی خوله شلو کلو نو را هيسي په دغه مکان کې د اظهارحق صاحب يو خپل او سيږي او قبضه کوونکی دی هغه سړی دغه مکان پر اظهارحق باندي خرڅ کړ اظهارحق دغه مکان له دغه قبضه کوونکې سړی څخه رانيوی دغه رانيول د اظهارحق صاحب جائزدی ، که نه ؟ (۳۱۰/ ۱۳۴۱هج)

ځواب: د اظهارحق صاحب له دغه قبضه کوونکې سړی څخه کوم چي مالک نه دی دغه مکان رانيول شرعًا صحيح نه دی بلکي ده ته پکار وو چي له مالک څخه يې رانيولای وای که څه هم د مالک په

(۱) الهداية ۳/ ۷۴، کتاب البيوع قبل باب الربو.
(۲) ملک په ايجاب او قبول سره ثابتيږي پر قبضه باندي موقوف نه وي خو د منقول بيع له قبضې څخه مخکې جائزنه ده ، ځکه په فتوی کې دوه حکمونه د تصرف جائز کېدل او د دغه فعل ناجائز کېدل ۱۲ سعيد احمد پالنپوری.

قبضه کې نه وو، ځکه چې مالک هسي هم ببله په قبضه کې کېدوبیع کولای شي نواوس په موجوده صورت کې بیع صحیح نه شوه اواظهارحق ددغه مکان مالک نشومالک هماغه سړی دی چې په ملک کې یې دامکان دی اوداظهارحق دافعل ناجائزشواوروپۍ دده ضایع شوې فقط.

دوهمه سودابې له اولې سوداله اقالې صحیح نه ده

سوال (۲۳) زیدخپله ځاني ونه پرعمرباندي په شپږروپۍ خرڅه کړه دیوې روپۍ په بیانه دپنځلس ورځوپه وعده معامله وشوه خوعمرپه پنځلس ورځې کې دننه روپۍ ادانکړي اوس زیددغه ونه پربکردوهم رانیوونکی خرڅه کړه اوله سوداجائزده که دوهمه سوداصحیح ده ؟اوپه دغه موده کې زیدوفات شو(۳۷۰/۳۲ - ۱۳۳۳هج)

ځواب اوله سوداصحیح شوې وه دوهمه سوداله اقالې کولوپرته نشي صحیح کېدای دغه ونه دعمرملک ده ده ته دااختیاردی چې پرکوم بل چاداخرڅه کړي ددې قیمت دزیدووارثانوته ورکړي فقط.

دوینې دتجارت حکم

سوال (۲۴) دحلالولوله ځای څخه وینه راټولوله کړي بیایې پخه کړي وچه کړي اوتجارت یې کوي داجائزدی ،که نه ؟(۹۳۰/۳۳ - ۱۳۳۴هج)

ځواب شرعًا ددغې وینې اجازه نشته ددې بیع باطله اوحرامه ده.

دحلالې کړې بزې وینه په مشکوګډول اوخرڅول

سوال (۲۵) یوحکیم صاحب په مصنوعي (نقلي) مشکوکې دحلالې کړې بزې تازه یاوچه وینه په ډیره اندازه ورګډول غواړې دداسي مشکوخرڅول اودناجوړولپاره استعمالول جائزدي ،که نه ؟(۴۸/۱۳۳۷هج)

ځواب دم مسفوح (بهېدلې وینه) دحلال کړې حیوان حرامه اونجسه ده لقوله تعالی [الا ان یکون میتة اودمامسفوحا الآیة (سوره انعام آیت ۱۴۳) نوګډول ددې په مشکوکې دانه جائزدي اورانیول ،خرڅول

ددې حرام دی ، په درمختار ، باب الانجاس کې راغلې دي : ودم مسفوح من سائرالحیوانات الخ (۱) اوپه شامی ځلورم ټوک کې اوددرمختارپه کتاب البیوع کې یې دوینې وسوداته باطل ویلې دي : وبطل بیع مالیس بمال کالدم والمیتة الخ (۲) نودبهېدلې وینې بیع که څه هم هغه دبل شی سره ګډه وي دمشکواونورسره باطله اوحرامه ده اواستعمال دهغه ناجائزدی فقط.

دبزې اونورودوینوروپۍ داسلام په تبلیغ کې صرفول

سوال : (۲۶) دمیږې ،بزې اوغواوینې خرڅي کړي هغه روپۍ ښاروالۍ دشرعي په خلا ف کارونوکې صرفوي ،ځکه نوکه همدغه روپۍ ددغوکارونوپرځای داسلام په تبلیغ کې ولګول شي نوجائزدي ،که نه ؟(۲۳۶۰/۱۳۴۵هج)

ځواب: شرعًا دوینې رانیول ،خرڅول حرام دي اوهغه بیع باطله ده ،ځکه نودغه روپۍ په اسلامي کارونوکې خرڅول صحیح نه دي(۳)

استامپ (حکومتي چاپ شوی کاغذ) په کمېشن خرڅول

سوال (۲۷) استامپ په کمیشن خرڅول جائزدي ،که نه ؟(۱۱۴۴/۳۳ - ۱۳۳۴هج)

ځواب : استامپ په کمېشن خرڅول صحیح دي اوپه حقیقت کې دابیع نه ده ،ځکه چې ښکاره ده چې دومره کاغذپه سل روپۍ اوپه زرروپۍ نشي کېدای بلکې دمحصول داداکولولپاره داصورت اختیارکړل شوي دي په هرحال استامپ خرڅوونکی یومحصول وصولوونکی دی کوم چې داستامپ دکاغذپه وسیله ددعوواونورومحصول چې حکومت مقررکړی دی وصولوي نوده ته چې کوم څه حکومت دکمیشن په توګه ورکړي دهغه اخستل دده لپاره جائزدي فقط.

(۱) الدرالمختارمع الشامی (۱/ ۲۳۳) ، کتاب الطهارة ،مبحث فی بول الفارة وبعرها وبول الهرة ط رشیدیه.
(۲) تنویرالابصارمع الدرالمختاروالشامی (۴/ ۱۱۲) ، کتاب البیوع ،مطلب البیع الموقوف من قسم الصحیح ط رشیدیه.
(۳) مخکنی حواله.

استامپ خرخول څرنګه دي ؟

سوال: (۲۸) استامپ خرڅول صحيح دي ،که نه ؟ ،ځکه چي کله ناکله غرضونه هم دشرعي سره سم وي او کله دشرعي په خلاف وي ؟(۱۰۸/ ۴۴-۱۳۴۵هج)

ځواب: استامپ خرڅول صحيح دي فقط.

پخپله راشنه شويوووښورانيول اوخرڅول اواجاره څه حکم لري ؟

سوال: (۲۹) زيدخپله مځکه صرف دوښولپاره مقرره کړې ده اوحکومت ته محصول ورکوي اوپه لرګواونوروباندي يې پردې شاوخواديوال راګرځولی دی آيادزيدد مځکي دوينوچي دباران داوبوپه وسيله په څلوردېوالی کې دننه الله □ راشنه کوي مالک دی ،که نه ؟اوبيع او اجاره دده صحيح دي ،که نه ؟(۱۲۱۳/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

ځواب: قال فی الدرالمختار[والمرعی ای الکلاء واجارتهااما بطلان بيعها فلعدم الملک لحديث الناس شرکاء فی ثلث فی الماء والکلاء والنارالخ (۱) نوپه پوښتل شوې صورت کې ددغوښوبيع اواجاره صحيح نه دي اودغه دېوال ورباندي راګرځول خوندي کول نه دي بلکې دېوال ورباندي راګرځول اومنع کول پخپله منعه دي.

سوال: (۳۰) وابنه راګرځول اودهغورانيول خرڅول جائزدي ،که نه ؟ دکانپوراوالهآباد ملا يان ورته جائزوايي (۸۱/ ۱۳۴۳هج)

ځواب: دجوازقول صحيح نه دی ،ځکه چي دفقهې اوحديثوله کتابونو څخه معلوميږي چي دوښوراګرځول اودهغوئ رانيول ،خرڅول منع دي جائزنه دي اما کوم سړی چي دوښويوه توته پخپل ملک کې راولې دهغه خرڅول اوله هغه څخه رانيول صحيح دي فقط

دبل چادشی خرڅولواوهبه کولوحکم

سوال: (۳۱) که کوم سړی دبل چاځاني شی دچاپه نوم هبه کړيايي پرخرڅ کړنودهغه هبه يابيع

(۱) الدرمع الشامی (۴/ ۱۲۳) ، کتاب البيوع ،قبيل مطلب: صاحب البئرلايملک الماء ط رشيديه.

نافذيږي ،که نه ؟(۱۷۴۴/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

ځواب: دبل چاشی خرڅول اوهبه کول دهغه بل چاله خوښې اواجازې سره نافذيدل تړون لري [ونظرفيه العلامة الشامی : ووقف بيع مال الغيرلوالغيربا لغا ،عاقلا الخ لمالکه امالوباعه علی انه لنفسه الخ فباطل الخ (۱) سيجيئ فی البيوع توقف عقوده کلهاان لهامجيزحالة العقد والاتبطل الخ(۲) (درمختار) فقط.

بزګرد مځکې دمالک مځکه نشي خرڅولای

سوال: (۳۲) دبزګراوکښته ګرلپاره دمځکې دمالک مځکه خرڅول جائزدي ،که نه ؟ (۱۰۲۲/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

ځواب: دکروندګرلپاره چي دمځکې مالک نه دی دهغې مځکې خرڅول ناجائزدي اوله ده څخه رانيول هم ناجائزدي.

دقرض بيع جائزده ،که نه

سوال: (۳۳) زيدله يوه سړی څخه سل روپۍ پورغواړې اوسره له کلکې غوښتنې پوروړي پورنه اداکوي زيددخپلوا ړتياووپه وجه مجبوروو په همدې وجه زيدپربکرباندي دغه سل روپۍ قرض په پنځوس روپۍ خرڅ کړاوس دبکرخوښه ده چي آياتولې روپۍ وصول کړي ،که نه ؟ دزيددغه پورسره اوس هيڅ تړاونشته دابيع جائزه ده ، که نه ؟ (۴۵۱/ ۱۳۳۷هج)

ځواب : دقرض بيع په ياده شوې طريقه صحيح نه ده دجوازصورت يې دادی چي زيدبکردخپل قرض دوصولولووکيل مقررکړي اوڅه مزدوري دي ورته مقرره کړي ورديې کړي دمثال په توګه دادې ورته ووايې چي ته زماروپۍ وصول کړي پنځوس روپۍ تاته مزدوري درکوم فقط.

(۱) الدرالمختارمع الرد(۴/۱۵۲) ، کتاب البيوع فصل فی الفضولی ط رشيديه.
(۲) الدرمع الرد(۲/ ۳۵۴) ، کتاب النکاح ،مطلب فی الوکيل والفضولی فی النکاح ط رشيديه.

دقرض داسنادوخرڅولوحکم

سوال: (۳۴) زیدمسلمان له رام پرشادکافرڅخه لس زره روپۍ په پوروااخستی یودسودسندیې ورسره ولیکی اوس پرزیدباندي درام پرشادپوروركوونکی اوولس زره روپۍ اصلي سره له سوده ترنن ورځې پورې واجب شوې اوس پرعمر مسلمان باندي رام پرشادكافردغه دزيدورليكلی سندپه څورلس زره روپۍ خرڅوي داسودجائزدی ،كه نه ؟ اودعمرلپاره داجائزدي چي ورام پرشادته څورلس زره روپۍ وركړي له زيدڅخه اوولس زره روپۍ واخلي (۱۳۳۸/۲۰۳هج)

ځواب: دامعامله دبيعې جائزه نه ده حرامه اوباطله ده اودعمرلپاره اوولس زره ياڅورلس زره روپۍ وصلولول حرام اوڅرګندسوددی فقط.

دقرض داداكولواودماشوم دنفقې لپاره دمړې پاته جائدادخرڅول

سوال: (۳۵) يوسړی وفات شوښځه اوتی رودوونكی ماشوم يې پاته شويوڅه جائداديې پربښودخودی پوروړی وو ،ځكه ښځه جائدادخرڅول غواړې چي قرض په اداكړي اودماشوم لپاره دنفقې هم ضرورت دی جائزدی ، كه نه ؟(۱۳۳۹/۲۸۲هج)

ځواب: په دې صورت كې دخاوندپورداداكولولپاره اودكوچنی دنفقې لپاره ددغې پاته شوې مځكې خرڅول صحيح دي فقط.

په پوررانيول شوې شی خرڅول جائزدی

سوال: (۳۶) ديوه مسجدامام دمياشتې نهه روپۍ تنخوااخلي له دې پرته نه جائدادلري نه داستوګنې كورڅلورسوه روپۍ پوروړی دی دی دخپلې ګذارې لپاره په بازاركې شی په پورواخلي دلته يې راوړي ،خرڅوي يې دارازنيول اوخرڅول جائزدي ،كه نه ؟ (۲۱/ ۱۳۴۳هج).

ځواب: دارانيول اوخرڅول جائزدي.

دخنزيزاوشرابورانيول ،خرڅول

سوال: (۳۷) زيدمسلمان دتجارت كسب كوي دخنزيراوشرابوهم رانيول اوخرڅول كوي دمسلمان لپاره شرعًا داسي تجارت كول جائزدي ،كه نه ؟(۱۳۳۷/۹۴۰هج)

ځواب: دخنزيراوشرابورانيول اوخرڅول دمسلمان لپاره حرام دي اودهغه آمدني ناروا ده(۱).

دهډوكودتجارت حكم

سوال: (۳۹) دهډوكودتجارت څه حكم دی ؟ كله چي هرډول هډوكې پكي وي (۷۰۹/ ۱۳۳۸هج)

ځواب: دمرداروهډوكې پاک دي پرته له خنزيرڅخه نودهډوكوتجارت كول هغه كه دمردارحيوان وي ياحلا ل شوې اوغوښه يې خوړل كيږي يانه له خنزيراو انسان پرته صحيح دی اوپه دغه تجارت چي كومه ګټه وشي هغه حلا له ده اوپه شک كوم شی نه حراميږي په درمختاركې راغلې دي [وشعرالميتة غيرالخنزير على المذهب وعظمهاوعصبهاطاهرالخ(۲) فقط.

سوال: (۳۹) دهډوكوتجارت جائزدی ،كه نه ؟چي پكي دهرحيوان هډوكې وي اوددغه تجارت ګټه دخيرپه كاركې لګول څرنګه دي ؟(۱۳۴۱/۱۷۱۴هج)

ځواب: له خنزيرپرته دهرحيوان هډوكې پاک دي نوتجارت يې هم صحيح دی اوددغه تجارت ګټه دكوم خيرپه كاركې خرڅول جائزدي فقط.

(۱) عن جابربن عبدالله رضی الله عنهما انه سمع رسول الله ﷺ يقول عام الفتح وهوبمكة ان الله ورسوله حرم بيع الخمروالميتة والخنزيروالاصنام فقيل يارسول الله أرأيت شحوم الميتة فانه يطلى بها السفن ويدهن بها الجلودو يستصبح بها الناس ؟فقال لاهوحرام وقال رسول الله ﷺ عندذلک قاتل الله اليهودان الله عزوجل لماحرم عليهم شحومهاحملوه ثم باعوه فأكلوثمنه (سنن النسائی ۲/۲۰۱، كتاب البيع ،باب بيع الخنزير)

(۲) الدرمع الرد(۱/۱۵۱) ، كتاب الطهارة ، مطلب فی احكام الدباغة ط رشيديه.

دخنزیراوانسان دهډوکوخرخول جائزنه دي

سوال: (۴۰) دهډوکوتجارت جائزدی ،که نه ؟ اودانسان اوخنزیردهډوکوخه حکم دی ؟ که هډوکي راوړوونکي ته داوویل شي چي دانسان اوخنزیرهډوکه نه اخلو اوپخپله یې نه پیژنونوشرعًا څه حکم دی ؟(۱۳۴۲/۱۷۸۲هج)

ځواب: دهډوکورانیول اوخرخول جائزدي خودخنزیراوانسان دهډوکورانیول اوخرخول جائزنه دي اوکله چي راوړوونکی داووایي چي په دې کې دخنزیراو انسان هډوکي نشته نوله هغه یې رانیول صحیح دي(۱) فقط.

دژوندي حیوان صرف غوښه خرخول

سوال: (۴۱) یوسړی ژوندي غوییې دحلالولولپاره دغوایي له مالک څخه درانیولوغوښتنه وکړه دغوایي مالک ورته وویل چي زه دغه غوییې دحلالولو لپاره تاته درکوم خوله حلالولووروسته بې خرمن زه اخلم اودغوښوقیمت څلورروپۍ اخلم رانیوونکي ورسره ومنه اودغوایي دمالک اورانیوونکي په خوښه غوییې حلا ل شوغوښه عامه دخدای لپاره وویشل شوه اوخرمن اصل مالک واخسته دمسجدمولوي صاحب ورته وویل چي داسوداناجائزده ،ځکه ذبیحه حرامه ده آیادژوندي حیوان یوه برخه یعنی خرمن له سودااېستل صرف دحیوان غوښه رانیول شرعًا منعه دی اودسود ادناجائزوالي په وجه ذبیحه حرامه اودهغي دغوښوخوړل دخنزیرپه څیرکیږي ؟ (۱۳۴۷/ ۱۳۳۸هج).

ځواب: قال فی الدرالمختار: [ولبن فی ضرع (ای فسدبیع لبن) وجزم البرجندی ببطلانه ولؤلؤفی صدف للغرروصوف علی ظهرغنم وفی السراج لوسلم الصوف واللبن بعدالعقدلم ینقلب صحیحاوکذاکل ماتصاله خلقی کجلدحیوان الخ وفی

(۱) ویقبل قول کافرولومجوسیاقال: اشتریت اللحم من کتابی فیحل الخ الدرالمختارمع الشامی (۲۴۲/۵) ، کتاب الحظروالاباحة ط رشیدیه.

الشامی مقتضاه انه وقع باطلا الخ(۱) (شامی ۱۰۸/۴)

وفی الشامی (۴۱/۴) وبماذکرنایخرج الجواب عن امتناع بیع اللبن فی الضرع واللحم والشحم فی الشاة والالیة والاکارع والجلد فیهاوالدقیق فی الحنطة والزیت فی الزیتون والعصیرفی العنب ونحوذلک حیث لایجوزلان کل ذلک منعدم فی العرف الخ (۲) (شامی ۴۱/۴)

نوله دغوعبارتونوڅخه څرګنده ده چي په ژوندي حیوان کې غوښه خرخول باطل دي اوبیع یې نه صحیح کیږي اماله حلالولواودغوښې له بېلولووروسته که مخکې سوداختمه کړي له نوې سره دغوښوسوداوکړي نوصحیح ده اودرانیوونکي لپاره غوښه حلا له ده په هرحال دغه غوییې کله چي دالله ﷻ په نامه حلال کړل شونوذبیحه حلاله شوه خودرانیوونکي لپاره دغه غوښه خوړل صحیح نه دي که دمخکي سوداپه وجه وي ا وکه هغه مخکي سوداماته کړي له نوې سره بله سودادغوښووکړي نوصحیح دی لکه چي درانیوونکي اوخرخوونکي له خبروڅخه ښکاره دی بلکي درانیوونکي بیان کوم چي دیادي شوي واقعي په اړه لیکلی دی(۳) له هغه څخه معلومیږي چي له حلا لولومخکې دبیع معامله نه وه شوي بلکي درانیوونکي په بېرته راتلوباندي خرخوونکي ده ته وویل چي ته داحلا ل کړه وروسته که دي غوښه خوښه شوه په څلورروپۍ باندي یې واخله کني دحلالولواوخرمني ایستومزدوري واخله له دې څخه معلومیږي چي مخکي سودانه وه شوي صرف وعده وه نوکه واقعه همداسي وي نوله حلالولو اوخرمني ایستووروسته چي صرف دغوښي کومه سوداپه څلورروپۍ وشوه هغه شرعًا صحیح ده هغه هیڅ پروانلري فقط.

سوال: (۴۲) (الف) زیددژوندۍ غواغوښه ببله خرمني داډول خرڅه کړه چي ددغي غواغوښه چي هرڅومره وي په لس روپۍ باندي واخلی.

(ب) زیدحلالي کړي غواغوښه له خرمني ایستومخکي په یادشوي ډول خرڅه کړه دداړو

(۱) الدرمع الرد(۱۲۱/۴) ، کتاب البیوع ،مطلب استثناء الحمل فی العقود علی ثلاث مراتب ط رشیدیه.
(۲) الشامی(۴۲/۴) ، کتاب البیوع ، قبل مطلب فی حبس المبیع لقبض الثمن ط رشیدیه.
(۳) دمشتری بیان په سوال کي لیکل شوی نه دی شایدنقل کوونکي په سوال کي لندیزکړی دی.

صورتونوکې څه حکم دی ؟ که بیع ناجائزده نوددې غوښه خوړل جائزدي ، که نه ؟ (۱۲۱۲/ ۱۳۳۹هج)

ځواب: (الف ، ب) که صرف وعده وي چې له حلالولووروسته چې څومره غوښه ووزي هغه درباندي خرڅوم بیاله حلالولووروسته په معلوم نرخ ورانیوونکې ته ورکړي نوداصحیح دی اوکه حالا له حلالولومخکې یې خرڅه کړه نودانا جائزده اوکله چې داسوداماتول واجب وي اودرانیوونکي لپاره څه تصرف په دې کې جائزنه وي ، ځکه رانیوونکې ته داغوښه خوړل نه ده پکاراودارازداغوښه خودحلال شوې حیوان ده ، ځکه حلا له ده خورانیوونکې ته پکاردي چې مخکې سوداماته کړي بیاله نوې سره درانیولو، خرڅولومعامله وکړي ترڅودده په هکله هم هغه غوښه رواشي فقط.

دژوندي حیوان صرف غوښه رانیول

سوال: ۴۳) دژوندي حیوان صرف غوښه که څوکسان په ګډه رانیسي نوجائزده ، که نه ؟ (۴۵۷/ ۲۹_۱۳۳۰هج)

ځواب: داسوداجائزه نه ده فقط.

خوشایې اودتپې رانیول ، خرڅول صحیح دي

سوال: (۴۴) (الف) دخوشایواونورومرداروشیانوسوداصحیح ده ، که نه ؟ (ب) دسوځلولپاره تپې رانیول جائزدي ، که نه ؟ (۲۷۹۷/ ۱۳۴۱هج)

ځواب: (الف ، ب) دخوشایواوتپې رانیول اوخرڅول صحیح دي [یصح بیع السرقین الخ (۱) (درمختار) فقط.

خضاب (دوېښتانوتورولودوا) خرڅول صحیح دي

سوال: (۴۵) دخضاب خرڅول جائزدي ، که نه ؟ که پخپله یې جوړکړي ، خرڅوي یې یایې رانیسي په کمېشن باندي یې خرڅوي په دواړوصورتونوکې څه فرق شته ، که نه ؟ (۳۸۲/ ۱۳۴۵هج)

(۱) الدرمع الرد (۲۷۲/۵) ، کتاب الحظروالاباحة ، فصل فی البیع ط رشیدیه.

ځواب: دخضاب خرڅول صحیح دي که پخپله یې جوړکړي ، خرڅوي یې اوکه یې رانیسي په کمېشن یې خرڅوي په دواړوصورتونوکې یې بیع صحیح ده فقط.

دپنشن (حکومتي وظیفي) ډولونه اودهغوئ دبیعې حکم

سوال: (۴۶) دانګریزانوپه دوره کې چې کوم پنشن ورکول کیږي هغه څوقسمه دی یوته بخلای ملازمت ویل کیږي دوهم په انعام کې جائداد ورکول درییم یوپنش ته پولتیکل ټریتي ویل کیږي چې مطلب یې دادی چې کوم جائداد مخکې باچا دکوم شخص یاکورنۍ لپاره اخستی وواوهغه تربحث لاندي وو نوی باچاهغه نامناسب یاغلط وبلی داتجویزیې وکړچې هغه کاربېله ځایه وواوجائدادیې بیرته ورنکړبلکې دهغه دآمدنۍ په اندازه یاچې څومره مناسب وبلل دکاله نغدې روپۍ دهغه په بدل ورته مقررې کړي دداډول پنش خرڅول جائزدي ، که نه ؟ نتېجه ددې سوداداوي چې لکه څرنګه چې دکاله یاموسم په موسم له حکومتي خزانې څخه خرڅوونکی اخستل رانوونکې به اخلي دغه پنشن دمدرسې لپاره دوقف په آمدني رانیول شوکه دغه رانیول دپنشن هم شرعًاناجائزوي نوراته یې ولیکئ (۱۲۷۷/ ۱۳۳۸هج)

ځواب: دداډول پنشن رانیول اوخرڅول هم دشریعت په قاهده جائزنه دي ، ځکه چې داهم یوډول وظیفه اوحق دی اورانیول ، خرڅول دحقونوجائزنه دي اوکله چې دغه رانیول ، خرڅول دحقونوجائزنه شول نوله دې څخه دخلاصون صورت دادی چې دامعامله ماته کړي که یې نشي ماتولای نوکله چې هغه روپۍ کومې چې دمدرسې داورکول شوې دي وصولې شي هغه وخت دې دغه پنشن دبائع په نامه نقل شي یاداچې دی په خوشحالۍ ومدرسې ته په ورکولوراضي شي فقط.

دلیک په وسېله رانیول اوخرڅول

سوال: (۴۷) دلیک اوخط په وسېله غله رانیول اوخرڅول جائزده ، که نه ؟ کله چې صرف دلال ټول کارونه کوي (۲۸۲/ ۱۳۳۷هج)

ځواب: دغه رانیول خرڅول دلیک په وسېله په دې شرط چې دبیع صحیح کېدو شرطونه پکې موجودشي صحیح دی.

دحوالې اوسندخرخولوحکم

سوال: (۴۸) (الف) حواله زموږپه سیمه کې دوه ډوله وي یوه خوداچې موږدلارې دخطرپه وجه وچاته څه روپۍ ورکړکوم ځای ته چې موږځوهلته دده تجارت اونوروي ،ځکه هغه سړی دسندپه توګه موږته کاغذراولیکي چې دهغه په وسېله موږهغه ځای ته ورسوروپۍ وصولې کړداجائزدی ،که نه ؟دوهم صورت دادی چې که موږدغه سندپرکوم بل چاباندي په هغومره روپوخرڅول وغواړویایې ترهغه روپوپه کمویازیاتوخرڅ کړونوجائزدی ،که نه ؟

(ب) وتمسک ته په شریعت کې څه وایې ؟اودده بیع صحیح ده ، که نه ؟

(ج) دحکومتی فیصلې سندخرڅول صحیح دي ،که نه ؟(۳۳/ ۳۲- ۱۳۳۳هج)

ځواب: (الف) حواله مکروه ده هدایه آخرکتاب الحوالة ص : ۱۱۴(۱) قال فی الشامی قوله بیع البراءات جمع براءة وهی الاوراق التی یکتبهاکُتّابُ الدیوان علی العاملین علی البلادبخط کعطاء اوعلی الاکارین بقدرماعلیهم وسمیت براءة لانه یبرأبدفع مافیها (۲)(۴/ ۱۷) وهی اقراض لسقوط خطرالطریق (۳) (درمختار) ددغه سندخرڅول جائزنه دي خواکه په هغومره روپیووي څومره چې په دغه سندکې دي یاپه کمواوزیاتواماکه دنوټ په څیرهغومره روپۍ اخستل پرقرض اوحواله حمل کړي نوپه دې صورت کې به صرف هغومره روپۍ اخستل صحیح شي نه کمې اوزیاتې فی الشامی اذاباع الدین من غیرمن هوعلیه کماذکرلایصح (۴) وفی الدرالمختاربیع البراء ات التی یکتبها الدیوان علی العمال لایصح(۵).

(ب) دغه رسیداوتمسک دبراءت په نامه نومول شوی دی ددې بیع په هیڅ توګه صحیح نه ده کمامر

(۱) ویکره السفاتج وهی قرض استفادبه المقرض سقوط خطرالطریق وهذانوع نفع استفیدبه وقدنهی الرسول ﷺ عن قرض جرنفعا(الهدایة: ۳/ ۱۳۱آخرکتاب الحوالة.

(۲) ردالمحتار(۴/ ۱۴) ، کتاب البیوع ، مطلب البیع بالتعاطی ط رشیدیه.

(۳) الدرالمختارمع الشامی ، (۴/ ۳۲۹) کتاب الحوالة ،مطلب فی السفتجة وهی البولیصة ط رشیدیه.

(۴) ردالمحتار(۴/ ۱۵) ، کتاب البیوع ، مطلب فی بیع الجامکیه ط رشیدیه.

(۵) الدرمع الرد(۴/ ۱۴) ، کتاب البیوع ،مطلب ، البیع بالتعاطی ط رشیدیه

(ج) دحکومتي فیصلې دسندبیع صحیح نه ده اوکله چې بیع باطله ده نودخرڅو ونکې لپاره له رانیوونکې څخه روپۍ اخستل اودرانیوونکې لپاره ورکول جائز نه دي اوپررانیوونکې جبرنشي کېدای اوپه زورروپۍ نشي اخستلای اوهغه روپۍ وخرڅوونکې ته نه حلالېږي اودده لپاره یې صرفول صحیح نه دي.

دبښې مڅکې په بدل کې کمزورې مڅکه زیاته اخستل

سوال: (۴۹) ښه مځکه ورکول په بدل کې کمزوري مځکه زیاته اخستل جائزدی ،که نه ؟(۱۲۱۰/ ۳۲- ۱۳۳۳هج)

ځواب: جائزدی لعدم علة الربوفیها.

په دریاب اوتالاب کې دموجودوماهیانودرانیولواوخرڅولوحکم

سوال: (۵۰) فقهاؤ په باب بیع الفاسدکې څرګندونه فرمایې چې دماهي بیع په اوبوکې جائزنه ده خوزموږپه ملک کې دحکومت له لورې ددریاب اوتالاب دماهیانوبیع دټېکې په توګه کیږي ټېکه دارماهیان ونیسي بیایې خرڅوي ددغه رانیولواو خرڅولو څه حکم دی اوددغوماهیانوخوړل صحیح دي ،که نه ؟(۱۷۱۲/ ۳۲- ۱۳۳۳هج)

ځواب: په دریاب اوتالاب کې اوسېدوونکوماهیانورانیول خرڅول صحیح نه دي دارازاجاره اوټېکه دتالابونوهم دماهیانودنیولولپاره صحیح نه ده ټېکه داران چې له دغوتالابونوڅخه ماهیان نیسي اوبیایې خرڅوي له دوئ څخه رانیول په دې وجه صحیح معلومیږي چې دوئ دنیولوپه وجه دماهیانومالکان شول له دوئ څخه درانیووونکوخوړل صحیح دي.

بې له تالاب څخه دراایستلودماهیانودخرڅولوحکم

سوال: (۵۱) یوه ژوره مځکه چې حکومت مالیه ځیني اخلي تل پکي اوبه ولاړې وي دآبادۍ موقع نه وي دمالک لپاره له خپله ځانه مالیه اداکول سخت تاوان دی په دغه ژوره توته کې ماهیان ډیریوځای کیږي دفن ماهرینواودماهیانود ښکارکوونکواندازه اودوئ دخپلې کتې په غرض وقېمت ورکولوته آماده دي دی دماهیانوپربیع باندي مجبوروي دماهیانوبیع په دغه صورت کې فاسده ده که ،نه ؟اوکه جائزده ؟(۱۳۸۹/ ۱۳۴۳هج)

ځواب: دماهی بیع په تالاب کې بېله نیولواوقبضه کولوباطله ده په دې کې دجوازهیڅ صورت نشته اونه اجاره ددغه تالاب صحیح ده په درمختارکې راغلي دي وفسدبیع سمک لم یصدلوبالعرض والافباطل لعدم الملک صدرالشریعة (درمختار) وفی الشامی قوله صدرالشریعة حیث قال ففی السمک الذی لم یصدینبغی ان یکون البیع باطلا اذاکان بالدراهم والدنانیرویکون فاسدااذاکان بالعرض لانه مال غیرمتقوم لان التقوم بالاحرازوالاحرازمنتف الخ (۱) فقط.

سوال: (۵۲) (الف) په تالاب کې دپاللوماهیانوبیع بېله راایستلوجائزده ، که نه ؟

(ب) دارازدداسي ماهیانوچي دسېلاب اورودپه مځکه کې دمځکې په کوم کډي اوکنده کې پاته شوې وي بیع جائزده ، که نه ؟ (۲۰۲ / ۱۳۳۹هج)

ځواب: (الف) بیع ددوئ جائزه نه ده.

ب: دهغه بیع هم نه ده جائز.

له ماهیانوپرته بحري حیوانان خرڅول

سوال: (۵۳) له ماهیانوپرته نورسمندري حیوانان خرڅول دهغوئ له روپواستفاده کول اویادنوروقامونوسره په ماهیانوتبادله کول جائزدي ، که نه ؟ (۲۴۵/ ۳۳-۱۳۳۴).

ځواب : وماجازالانتفاع بجلده اوعظمه یجوزبیعه کذافی الدرالمختار(۲) وبیع غیرالسمک من دواب البحران کان له ثمن کالسقنقوروجلودالخزونحوهایجوز الخ (۲) (شامی: مطلب فی البیع الفاسدص: ۱۷۲، مصری) (۳)

(۱) الدرالمختاروالشامی(۴/ ۱۱۹) ، کتاب البیوع ، مطلب فی بیع الفاسدط رشیدیه.

(۲) الدروالرد(۴/ ۱۲۴) ، کتاب البیوع مطلب فی بیع دودة القرمزط رشیدیه.

(۳) دکوم حیوان له ځرمنې اوهډوکوڅخه چې استفاده کول جائزدي دهغه خرڅول جائزدي (درمختار) اوله ماهي پرته له سمندري حیواناتوڅخه که کوم یوقیمتي دی لکه دسمهوراوخزځرمنې اونورونودهغه خرڅول جائزدي (شامی)

دخرڅولووکیل که همدغه دخرڅلاولپاره ورکړي شی پخپله رانیسي

سوال: (۵۴) زیدوعمرته خپل یوشی دخرڅولولپاره ورکړعمرپه بازارکې ورانوونکوته ښکاره کړبیع په معلومه کړه په همدې حساب باندي دهغه قیمت وزیدته له خانه ورکړاوهغه شی یې پخپله دځان لپاره رانیوی وزیدته دانه وویل چي ماپخپله رانیوی نودغه خرڅول رانیول جائزدی ، که نه ؟ (۳۹۴/ ۳۳-۱۳۳۴هج).

ځواب: دخرڅولودوکیل لپاره پخپله رانیول ددې شی صحیح نه دی(۱) فقط.

دغلې وصلولودحق خرڅول

سوال: (۵۵) زیدعمر ، بکراوخالدڅلور ورونه دي یوه سیمه ددوئ دمړېدانوده چي له هغه ځایه غله وصول کړي پخپل مینځ کې ویشي اوس خالددغه سیمه دنوروورونوپه نه شتون کې پریوسړی خرڅوي اودغلې وصلولوحق هغه ورکوي نورورونه وربانديدعوی کوي دداډول بیع څه حکم دی ؟ اودنوروورو نودعوی څرنګه ده ؟ بینواتوجروا(۴۵۲/ ۱۳۳۵هج)

ځواب: داډول بیع شرعًا صحیح نه ده ، ځکه چي دداسي حقونوسوداجائزنه وي اوپه کوم شی کې چي دڅوخلګوحق وي په هغه کې دکوم یوه تصرف کول دارنګه چي دنوروحقدارانوحق ورضایع کړي جائزنه دی فقط.

له تیارېدومخکې رانیول

سوال: (۵۲) زیدوعمرته سل روپۍ ورکړي چي څومره ستاګوړه جوړه شي په دې بیعه زماده دعمرسره دزرورو پوګوړه تیاره شوه کله چي ګوړه جوړه شوه عمرورکړه اوپاته نهه سوه روپۍ یې ځیني واخستلې نوداجائزدی ، که نه ؟ دغه ګوړه له روپوورکولوڅخه دوې درې میاشتې وروسته تیاره شوه (۳۱/۱۳۳۸هج

(۱)الوکیل بالبیع لایملک شراء ه لنفسه لان الواحدلایکون مشتریاوبائعاکذافی الوجیزللکردری (الفتاوی الهندیة ۳/ ۵۸۹، کتاب الوکالة ، الباب الثالث فی الوکالة بالبیع)

ځواب: په کوم وخت چې زيددامعامله وکړه سوداصحيح نشوه لکه چې ښکاره ده نوداصرف پروعده باندي حمل کيږي وروسته چې کله ګوره ورکړي اوقيمت ځيني واخلي بيع تاميږي.

لومړی بيع ماتول بله سوداکول

سوال: (۵۷) له زيدسره لس بزي وي دچاقيمت پنځه روپۍ وودچادالس اودچادانورزيات عمروزيدته وويل چې دغه لس بزي ماته په سل روپۍ راکړه په دې حساب سره هره بزه په لس روپۍ شوه زيدورسره خومنه امادرې بزې يې له لسوبزوڅخه خرڅې کړي کله چې عمرداخبره واورېده نوورته وي ويل چې دغه موجوده بزې اوکومې درې بزي چې تاخرڅې کړې دهغوئ روپۍ ماته راکړه اوسل روپۍ له ماڅخه واخله زيدورسره ومنله دغه دوهمه سوداجائزده، که نه؟ (۱۳۳۸/۳۶۷هج)

ځواب: دوهمه معامله هم صحيح ده خوپه هغه کې داضروري ده چې ددريوبزو دقيمت په اندازه کوم چې عمرله زيدڅخه اخلي نغدې اداکړې به هغه کې پورونکړي(۱).

په ميراث کې پاته شوی جائدادڅخه خپله برخه خرڅول

سوال: (۵۸) دعلی بخش مرحوم کونډه دخپلې برخې جائدادپرچاخرڅولای ياپه ګروورکولای شي، که نه؟ (۱۳۴۰/۱۰۴۷هج)

ځواب: دعلی بخش کونډه خپله برخه خرڅولای اوپه ګرواوهبه ورکولای شي فقط.

دماموردواجبې تنخواه په عوض کو م شی خرڅول نغدخرڅول دي

سوال: (۵۹) زيدغله داډول خرڅوي چې په نغدوواخستوونکوته نهه (۹)سيره اوپه پوراخستوونکوته څه کم ورکوي دزيديوماموږغله رانيوله زيدڅخه دخپلې تنخواه په عوض چې پرزيدباندي اداينه واجب ده غله رانيوله زيدوماموږعمرته په پوراخستوونکې سره سم کمه غله ورکړه نوعمردخپل پاته حق اوکمښت غوښتنه

(۱) ،څکه چې ددريوبزوروپۍ دروپيوپه بدل رانيول بيع صرف ده اوپه دصرف کې پردواړوعوضونوباندي دسوداپه مجلس کې قبضه کول ضروري دي.

کولای شي که څرنګه ؟اوپرزيدباندي وماموږته په نغدورانيوونکوسره سم ورکول شرعًا واجب دي، که نه؟ (۱۳۳۸/۱۴۷۸هج)

ځواب: په دې کې دزيداختياردی چې په کومه بيع يې ورکوي دماموږخوښه ده که ګرانه وي نونه دي اخلي خوپه حقيقت کې دزيدلپاره ددغه ماموږسره په نغدو رانوونکوپه څيرمعامله کول پکارده.

درانيوونکې په روپيومال رانيول اوپرهمده باندي په ګټه خرڅول

سوال: (۲۰) که دکوم تاجرسره مال موجودنه وي اودی له رانيوونکې څخه مخکې روپۍ واخلي په هغوروپيومال رانيسي په ګټه باندي يې پررانيوونکې خرڅ کړي نوشرعًا جائزدی، که نه؟ (۱۳۳۸/۱۲۲۰هج)

ځواب: که له تاجرسره مال موجودنه وي اودی له رانيوونکې څخه روپۍ واخلي مال راوغواړې په ګټه باندي يې پرخرڅ کړي نوداصحيح دی اودتاجرلپاره ګټه حلاله ده.

له يوه سره وعده کول پربل خرڅول

سوال: (۲۱) زيدديوې مځکې رانيوونکې وواوخرڅوونکی يوهندووخرڅوو نکې پرزيدباندي دخرڅولووعده کړې وه په دې مينځ کې ددغې مځکې يوبل سړی عمررانيوونکی شوهغه دمځکې رانيول وغوښت خرڅوونکی ورسره راضي شوعمرله اوسوورروپوڅخه څلورسوه روپۍ نغدې ورکول وغوښت اوددرييوسوورروپيوپارچه يې بېله سوده ورليکل وغوښت خرڅوونکې ورته وويل چې زه سودهم اخلم عمرانکارکاوی دبيع پانه ونه ليکل شوه زيدرانيوونکې بياورسره معامله وکړه مځکه يې رانيوله عمرپه محکمه کې دوعدې پربنسټ عارضه وکړه بائع (خرڅوونکی) وايي چې زمامخکني وعده هم قبوله کړه بکربايد څرنګه فيصله وکړي ؟آيادعمراوخرڅوونکې وعده دنافذ و لووړه اوکه نه؟ (۱۳۳۹/۱۸۳۲هج)

ځواب: په دغه صورت کې دعمرله دوهم رانيوونکې سره دخرڅوونکې معامله شوې وه اوپه خوله ايجاب اوقبول وشواوصرف دسوددخبرواختلا ف په وجه دسوداپاڼه ونه ليکل شوه نودبيع دپاڼې په نه ليکل کېدوپه بيع کې هيڅ نقصان رانغلی سوداپوره شوه اوکه څه هم دعمرلپاره دامناسب نه ووچې دزيدسره دسوداخبره روانه وه

پخپله رانیوونکی شوخوبائع چي کله دده سره ایجاب اوقبول وکړنوبیع پوره شوه بیاوروسته چي دزیدسره کومه معامله درانیولواو خرخولوشوه هغه شرعًا جائزنه شوه دزیدلپاره په دغه خرڅه شوې مځکه کې هیڅ حق داخستلونشته عمرددې مالک شوبکرهم باید همدغه فیصله وکړي فقط.

په اړه رداغوښتي مال سوداکله تامیږي

سوال: (۲۲) زه له جاپان څخه مال راغواړم خوصورت داسي دی چي دخط اولیک په وسیله دهغه ځای وکمپنۍ ته خبرتیاورکړم چي دومره مال زماپه کاردی که په درې څلورمیاشتې کې مال رانغلی نووروسته زه داخستلوذموارنه یم اوکمپنۍ له هغه ځایه دراليږلوذمواره ده چي پرټاکلې وخت باندي له هغه ځایه راروان کړي پرټاکلې وخت باندي دارسولوذمواره نه ده اوقیمت هغه وخت روکول کیږي کله چي مال راشي دارانیول ،خرڅول جائزدی ؟(۱۸۴۷/ ۱۳۳۹هج)

ځواب: په دې صورت کې سوداهغه وخت نه کیږي کله چي فرمائش ورلیږي اوهلته رسیږي اوله هغه ځایه مال راروانیږي بلکي بیعه هغه وخت صحیح کیږي کله چي مال وفرمائش کوونکي ته راورسیږي اودی په مقررکړې قیمت باندي دمال په رانیولوراضي شي اوقیمت ورولیږي.

په اړه رکې که دفرمائش په خلاف مال راووزي نوڅه حکم دی ؟

سوال: (۲۳) له بهرني هیوادونوڅخه چي کوم مال راغوښتل کیږي په هغه کې زیاتره مال دفرمائش په خلاف راوزي نوددې بیع صحیح کیږي ،که نه ؟(۳۲/۷۳۹ ـ ۱۳۳۳هج).

خواب: کله چي رانیوونکی دامال ولیدراضي شواراوي ګرځاوی نوبیع صحیح شوه.

دنابالغوماشومانودرانیولواوخرڅولوحکم

سوال: (۲۴) دنابالغ ماشومانورانیول اوخرڅول جائزدي ،که نه ؟(۲۳۸۵/ ۱۳۴۰هج)

ځواب: دولي په اجازه ددوئ رانیول اوخرڅول صحیح کیږي.

دنابالغ وروږمکان بالغ وروراواکاخرڅ کړ

سوال: (۲۵) نحمده ونصلی علی رسوله الکریم علماء ددین ددې مسئلې په هکله څه وایې: بکراوزیددوه سکه وروڼه وودداړوجائداداوکاروبارسره ګډوو دارازیې کورهم یووویعنی خوراک ،څیښاک یې هم نه ووجلا په دوئ کې یووفات صرف دوه زامن خالداوولیدنابالغه پریښولوددواړونابالغوسکه اکابکرولی وودمځکې په څیرسره یوځای وواوکاربارد غه ولي کاوی په نامنقوله مشترک جائدادکې صرف دوه مکانونه ووبکراوخالددواړه مکانونه په سودباندي په ګروورکړوداوخت خالدهم بالغ شوی وو. څه موده وروسته له یادشویودواړومکانونوڅخه بکراوخالدیومکان پریوه مسلمان خرڅ کړددغې سوداپروخت ولیددلسوکلونوودااسوداپه سنه ۱۹۰۱ء کې شوې وه اوولیدپه سوداښه خبروو پرخرڅ کړې مکان دسوداپروخت رانیوونکي قبضه وکړه اوتراوسه دهغه په قبضه کې اودواړه فریقه دخرڅ شوې مکان وڅنګ ته اوسیږي په همدې وجه دولیددغه خبرتیاهمېشه تازه وه له څوکلونووروسته مرتهن (په ګرواخستوونکې) پردوئ باندي دګروسره دسوددعوی وکړه دمقدمې پرمهال خالداوولیددواړوعذرپیښ کړچي دواړه دګروپروخت نابالغ ووکه څه هم اوس بالغ دي ،ځکه ددوئ پربرخه باندي دګرواثرنشته دمحکمې په تحقیقاتوثابت شول چي خالددګروپروخت بالغ له اتلسوکالوڅخه دزیات عمروواماولیدنابالغ وو ،ځکه نوانګریزي محکمې په ګروورکړی جائداد څلورمه برخه یعني دولیدبرخه له ګروڅخه وتلې وبلله ورجلا یې کړه صرف دخالداوبکرپربرخه باندي یې فیصله وکړه خوکله چي اوس دمقدمې په دوران کې ولیدهم بالغ شوی وواودمقدمې پیروي یې کوله دی ښه په خبرشوچي دنابالغ والي په وجه دده برخه له فیصله څخه وساتل شوه محکمې ددواړومکانو نودلیلامولوحکم وکړکوم مکان چي خرڅ شوی وودهغه رانیوونکي خپل عذرپیښ کړ،ځکه دهغه خرڅ شوی مکان له لیلام وروسته کړل شوصرف دوهم مکان لیلام شو.

اوس دمرتهن اودرانیوونکي دخرڅ کړل شوي مکان په اړه عارضي وشوي ترڅوکلونوپورې مقدمه روانه وه که څه هم دمقدمې په دعوی کې ولیدبرخه نلرله خوددواړوډلودوکیلانوپه بحث کې دولیدبرخه هم راغله اومحکمې څرګندﻩ فیصله وکړه چي په دغه مکان کي هیڅ حق دمرتهن اوداراز دو لیدنشته دمرتهن دعوی یې خارجه کړه

همدغه فیصله له لاندي محکمي څخه ترستري محکمې پورې وه دانګریزي قانون سره سم اوس دولید هیڅ حق پاته نه شو، ځکه دی دعوی هم نشي کولای.

له سنه ۱۹۲۴ء څخه مخکې ولید هیڅکله هم نه په ښکاره ډول او نه په کنایې کې له دغې سوداڅخه ناخوښي ښکاره کړې ده اوس په سنه ۱۹۲۴ء کې ولیدورانیوو نکې ته دیو شخص په وسیله وویل چې په مکان کې زمابرخه راکړه اوله سودا څخه یې ناخوښي ښکاره کړه له پورته یادشویو حالاتو څخه ښکاره دی چې ولید په سنه ۱۹۰۷ء کې بالغ شوی وو ځکه چې دی د پنځلسو کلونو شوی وو د مکان په سوداباندي له اوله سره د خبرتیاسره دی ترسنه ۱۹۲۴ء پورې پټه خوله وو یعنی تر بلوغ وروسته تراتلسو کلونو پورې په عملي توګه ده سودامنلې وه په دغو حالاتو کې د شریعت څه حکم دی؟ آیاتردومره مودې وروسته اوس هم ولید ته دسودا ماتولو حق شته، که نه؟ (۱۲۶۰/ ۱۳۴۳هج)

ځواب: که دیادشوې بیع پرمهال ولید نابالغ وونو داسودا په دوې وجې باطله ده یوه داچې ولید نابالغ وو او د نابالغ د جائداد بیع په هرحال کې باطلیږي خو اکه نابالغ د دې اجازه وکړي یایې ونکړي کمافی الدر المختار [وقف بیع مال الغیر لو الغیر بالغا، عاقلا فلو صغیرا او مجنونا لم ینعقد اصلا کمافی الظواهر(۱) بل داچې په شرکت د ملک کې هرشریک د بل شریک په برخه کې د اجنبی حکم لري، ځکه دولید ورور یا اکاخپل حقوق خرخولای شي نه د بل شریک برخه درازا د فضولی په بیع کې صرف پټه خوله کېدل هم فعلي اجازه نه بلل کیږي کمافی رد المحتار: [لو اخذ المالک بثمنه خطاء من المشتری فهو اجازة لا لوسکت عند بیع الفضولی بحضرته(۲) (شامی: ۱۴۱/۴. باب بیع الفضولی) لنډه داچې رانیوونکې باید و ولید ته دده د برخې قیمت ورکړي یایې په هبه باندي راضي کړي مکان د غصب له حکم څخه بچ کړي فقط.

له قصابانو سره د بزو او مېږدرانیولو او خرڅولو کاروبار کول

سوال: (۲۶) زید له قصابانو سره د بزو او مېږو د رانیولو او خرڅولو کاروبار کوي دا جائزدی، که نه؟

(۱) الدر المختار مع الشامی (۱۵۲/۴)، کتاب البیوع، فصل فی الفضولی ط رشیدیه.
(۲) الشامی (۱۵۲/۴)، کتاب البیوع، مطلب البیع الموقوف نیف، وثلاثون ط رشیدیه.

بکردې ته ناروا وایې؟ (۱۳۴۱/۴۵۲هج).

ځواب: د بزو او مېږو رانیول او خرڅول په یادشوې صورت کې شرعًا صحیح دی او بکرچې ناروا ورته وایې دده وینا غلطه ده فقط.

دهندوانو و مېلو ته د تجارت لپاره تلل او د بوتانو د لمانځنې شیان خرڅول

سوال: (۲۷) (الف) دهندوانو و مېلو ته د تجارت لپاره تلل شرعًا څرنګه دي؟ (ب) د ټلې، ږغږغې، د بت د لمانځنې سامان او د عکسونو لوبتکې او د نورو شیانو تجارت شرعًا جائزدی، که حرام؟ (۱۳۴۲/۲۷۲هج)

ځواب: (الف) دهندوانو و مېلو او عبادت ځایونو ته د تجارت لپاره تلل ښه نه دی (ب) او عکس او نور د بت لمانځنې سامان خرڅول مکروه دي فقط.

کافرحکومت که د مسلمانانو پر جائدادا و او قافو باندي قبضه وکړي خرڅ یې کړي نو څه حکم دی؟

سوال: (۲۸) که کافرحکومت استېلاء وکړي د مسلمانانو ځاني جائدادونه او پر اوقافو باندي قبضه وکړي کله چې مسلمانان له کافرحکومت څخه پرراخلا صون توان نلري نو به دې حال کې که حکومت دیوه سړي جائداد یا وقف پر بل باندي خرڅ کړي نو د دغه رانیوونکې لپاره سره د دې خبرتیا چې دا د فلاني شخص غصب شوی جائداد دی یا وقف دی رانیول او ورځیني استفاده کول جائزدی، که نه؟ (۱۳۴۲/۲۷۷۵هج)

ځواب: په ځاني جائدادکې داقاعده جاري کیږي چې د کفارله استېلاء وروسته د رانیوونکې په هکله تصرف جائزدی خو په اوقافو کې داقاعده نه جاري کیږي اوقاف دا وقافو په مصرفونو کې صرفول لازمیږي.

له رانیولووروسته پرهغه ځامکان په ګټه خرڅول چې په مخکنۍ سوداکې دبایع مشیروي

سوال: (۶۹) (الف) محمدی دیوخپل عبدالرؤف په وسیله خپل مکان خرڅول وغوښت عبدالرؤف پررانیوونکې داشرط ولګاوی چې کله ته دامکان رانیسي نوداپه دوه زره ګټه پرخرڅ کړه ددې روپۍ. به په درې کاله کې دننه دراداکړم که مې په درې کاله کې دننه روپۍ درنکړې نوداسودابه ماته بولواوکومې روپۍ. چې مې په بیانه کې ورکړې هغه به ضبطي کړلې شي ،ځکه نودهمدې خبروسره سم ونوموړې محمدي ته رانیوونکی روپۍ ورکړې بېله کوم شرطه سوداپوره شوه له مکان رانیولووروسته دمخکنې بیان سره سم په دوه زره ګټه پرعبد الرؤف مکان خرڅ کړاوپنځه سوه روپۍ. یې بیانه ځیني واخیسته دعبدالرؤف حیثیت په معامله دبیع کې دیوپیروکاراومشیروو.

(ب) دغه سوداچې محمدی له رانیوونکې سره وکړه صحیح شوه ،که نه ؟ اوبیا درانیوونکې له عبدالرؤف سره سوداصحیح شوه ، که نه ؟ (۱۳۴۲/۳۱۳۳هج)

ځواب: (الف ،ب) کله چې نوموړې خرڅوونکې کوم شرط دبیعې دپوره کېدو پروخت نه دی لګولی اوعبدالرؤف صرف دمشیرپه حیث ودبیع وکیل نه وونوکومه سوداچې محمدی درانیوونکې سره وکړه صحیح شوه اوبیاچې رانیوونکې دغه مبیع په دوه زره ګټه پرعبدالرؤف خرڅه کړه هغه بیع هم صحیح شوه فقط.

ښه اوکمزورې شیان ګډخرڅول

سوال: (۷۰) غله اودخرڅلاونورشیان زیات قیمت اوکم قیمت لروونکې سره ګډول په دوکه باندې خرڅول خوښکاره ده چې منع دی اودهغوئ قیمت حرام دی خوکه په درانګه ګډولوخلک خبروي یاپه ښکاره اوپه ډاګه سره ګډیږي په داډول خرڅوونکې په هکله څه حکم دی ؟ (۱۳۴۳/۹۴۳هج)

ځواب: په کوم صورت کې چې دوکه نه وي هغه جائزدی.

سپین زرپه ژړواونوروزنګول هغومره سره زرورګډول بیادسروزروپه نامه خرڅول

سوال: (۷۱) یو سړی سپین زرپه مسواویادمسوپه کشته رنګوي بیاهغومره سره زرورسره ګډوي په بازارکې یې دسروزروپه نامه خرڅوي دداسي سړی په هکله شرعًا څه حکم دی ؟ (۱۳۴۵/۳۳۵هج)

ځواب: په مسلم شریف کې راغلې دي : من غشنافلیس منا(۱) اوپه بل روایت کې داالفاظ دي من غش فلیس منی (الحدیث) -۱ په هرحال په دغه حدیث ثابت شوچې داډول دوکه کول اوپه ژړواونوروسره زرګډول بیادسروزروپه نامه خرڅول حرام دي په بل حدیث کې راغلې دي من باع عیبالم یبینه لم یزل فی مقت الله اولم تزل الملائکة تلعنه (۲) (رواه ابن ماجة) نوله دغه روایت څخه معلوم شوچې دمبیعې عیب نه بیانول اورانیوونکی په هغه باندې نه خبرول هم ناجائز اوحرام دي نوله دغوټولوصورتونو څخه پرهیزکول پکاردي فقط.

له ټولوروپوڅخه مخکې خپل خرڅ کړی شی په کم قیمت رانیول

سوال: (۷۲) زید پرعمرباندې یوشی خرڅ کړاوپرټولوروپوباندې یې قبضه ونکړه بلکې څه پاته شوې بیارانیوونکی له استعمالولووروسته داپراول خرڅوونکې بیرته په کم قیمت

---

(۱) عن ابی هریرة رضی الله عنه ان رسول الله ﷺ قال : من حمل علینا السلام فلیس مناومن غشنافلیس منا وعن ابی هریره رضی الله عنه ان رسول الله ﷺ مرعلی صبرة طعام فادخل یده فیهافنالت اصابعه بللا فقال : ماهذا ؟ یاصاحب الطعام قال اصابته السماء یارسول الله ﷺ قال : افلاجعلته فوق الطعام ؟کې یراه الناس من غش فلیس منی (الجامع الصحیح لمسلم ۱/ ۷۰، کتاب الایمان ،باب قول النبی ﷺ من غشنافلیس منا)

(۲) عن واثلة بن الاسقع رضی الله عنه قال : سمعت رسول الله ﷺ یقول من باع عیبالم یبینه لم یزل فی مقت الله ولم تزل الملائکة تلعنه (ابن ماجه : ۲/ ۱۲۲، ابواب التجارات وباب من باع عیبا فلیبینه).

Scanned with CamScanner

خرڅ کړنو دغه دوهمه سودا جائزده ،که نه ؟(۵۱۹/۴۴-۱۳۴۵هج).

ځواب : په دغه صورت کې دادوهمه سودافاسده ده دفقهي په کتابونوکې څرګندونه راغلې ده چې له روپووصولو مخکې دخرڅوونکي اورانیوونکي دواړولپاره دغه رانیول اوخرڅول جائزنه دي ښاغلیوفقهاؤدیوکلی داصل په حیث دشراء ماباع بأ قل ماباع دفاسدوالي اعلان کړی دی نوپه پوښتل شوي صورت کې خوله روپیواوثمن ولاس ته کولوڅخه مخکې دامعامله شوې ده ،ځکه ددې په فسادکې هیڅ شک نشته په درمختارکې راغلي دي : وفسدشراء ماباع بنفسه اوبوکیله من الذی اشتراه بالاقل من قدرالثمن الاول قبل نقدکل الثمن الاول (۱) (درمختار) وکذلک ان بقی علیه شئ قبل نقدالثمن کذافی المحیط(۲) (عالمغیریه) فقط والله تعالی اعلم.

په پوررانیولي مال له قیمت اداکولومخکې پرخرڅوونکي خرڅول

سوال : (۷۳) (الف) که یوسړی دبل چاڅخه مال په پوررانیسي تراوسه یې لاقیمت ورادا کړی نه وو چې هماغه مال یې پرخرڅوونکي خرڅ کړدابیع مکروه ده که جائز؟

(ب) یایې څه برخه دمال خرڅه کړه پاته برخه پربائع خرڅه کړه (۴۲۴/ ۲۹_۱۳۳۰هج)

ځواب : (الف) قال فی الدرالمختار، باب البیع الفاسد وفسد شراء ماباع بنفسه اوبوکیله من الذی اشتراه ولوحکمًا کوارثه بالاقل من قدرالثمن الاول قبل نقدکل الثمن الاول صورته باع شیئا بعشرة ولم یقبض الثمن ثم شراه بخمسة لم یجزالخ (۱) وفیه ایضا فان اختلف جنس الثمن اوتعیب المبیع جازمطلقا کمالو شراه بأزیداوبعدالنقد(درمختار) وفی الشامی قوله بأزیداوبعدالنقدومثل الازیدالمساوی کمافی الزیلعی وهذاقول المصنف بالأقل قبل نقدالثمن الخ(۳)

(۱) الدرالمختارمع الشامی(۱۲۸/۴) ، کتاب البیوع ، مطلب فی التداوی بلبن البنت بالرعد قولان.

(۲) الفتاوی الهندیة ۱۳۲/۳، کتاب البیوع ،الباب التاسع فیمایجوزبیعه ومالایجوزالفصل العاشرفی بیع شیئین احدهما لایجوزالبیع فیه وشراء ماباع باقل مماباع.

(۳) الدرالمختارمع الشامی(۱۲۹/۴)کتاب البیوع ،قبیل مطلب: الدراهم والدنانیر جنس واحدفی مسائل ط رشیدیه.

له دغه عبارت څخه معلوم شوچې که مال په پوررانیوی اوتراوسه یې ثمن اداکړې نه وونوپه هغومره قیمت یاپه زیات باندې پرده خرڅول صحیح دي اوپه کم قیمت سوداکول جائزنه ده.

(ب) هم دغه حکم دی دځیني مال په بیع کولوکې.

دحکومتي قانون په خلا ف خپل ځاني جائدادخرڅول

سوال : (۷۴) درکشمیرخصوصًا درمواضعات مطابق حکم قانون درحق اراضیات مالکان رااختیاربیع وشراء ورهن حاصل نیست باوجودآن که عمارات بصرف زرکثیرتیارمي کنندوزمینات هم اباعن جدموروث ومملوک ومقبوض خوددارندآیابراین چنین عمارات ومکانات وغیره که موصوف به اوصاف مندرجه بالاشدندشرعًا اطلا ق لفظ مال کرده شودیانه ؟ وبیع وشراء ورهن ووصیت وهبه وغیره جائزاست یانه ؟ ومانندجمیع اموال شرعًاعلی فرائض الله تعالی درمیان ورثاء تقسیم کرده شودیانه ؟ (۱۳۳۵/۱۲هج)

ځواب : شرعًا این چنین اراضی ومکانات مملوکه مالکان آنهااست واین اشیاء اموال اندبرائی ارباب آنهاومالکان رادران تصرفات بیع ورهن وهبه وغیره تملیکات رواست کمافی الدرالمختاروغیره ولایمنع الشخص من تصرفه فی ملکه الااذاکان الضرربجاره ضرراًبینا فیمنع من ذلک الخ(۱) فقط والله تعالی اعلم.

دسوال (۷۴) ترجمه : په کشمیرکې په تیره بیاپه کلیوکې دمځکوپه اړه چې دحکومت کوم قانون دی له هغه سره سم ومالکانوته دخپلوجائدادونودخرڅولو او په ګرووړکولواختیارنشته حال داچې هغه خلک ډېرمال په مصرفولوودانۍ تیاروي اومځکې هم ودوئ ته له پلاراونیکه ګانوپه میراث کې وریاته شوې دي اوددوئ په ملکیت اوقبضه کې دي آیاپرداډول ودانیواومکانونوچې دحالاتو یادونه مخکې وشوه شرعا دمال دلفظ اطلا ق کېدای شي ،که نه ؟ اوددوئ رانیول اوخرڅول ،ګرو،وصیت اوهبه اونورجائزدي ،که نه ؟ اودغه جائدادونه دنوروټولومالونوپه رنګه دشرعي برخوسره سم دوارثانوترمینځ وېشل کیږي ،که نه ؟

(۱) الدرمع الرد(۴۰۱/۴) ، کتاب القضاء ، مطلب اقتسمواداراً واراد کل منهم فتح باب لهم ذلک ط رشیدیه.

ځواب شرعاداډول مځکې اومکانونه ددغومالکانوځاني دي اوداټول شیان ددغومالکانولپاره مال دی اودمالکانولپاره ددوئ خرڅول، رانیول په ګروورکول اوهبه اونوردمالک په حیث تصرفات کول جائزدي لکه چي په در مختار کې راغلي دي چي یوسړی پخپل ملکیت کې له تصرف کولوڅخه څوک نشي منع کولای هوکله چي دده له تصرف څخه دهمسایه ته په څرګنده توګه ضرررسیږي نومنع کول کیږي فقط.

دتاجرلپاره پرکپړه (ټوکر) راوړوونکې باندي په ګټه په پورخرڅول

سوال: (۷۵) یوسړی کپړې (رخت) رانیوی اوپه تان کې دیوې آنې دګټې په حساب پریوسړی په پورخرڅوي اوکله پخپله درانیولولپاره نه ځي بلکي پرچاچي یې په پورکپړه خرڅوي هغه ته روپۍ ورکړي کپړه راوغواړي چي ته زمالپاره کپړه راوړه کله هغه کپړه ارنیسي اورایې وړي نوپرهمده باندي په تان کې دیوې آنې دګټې په حساب په پورخرڅوي داصورت درانیولواوخرڅولوجائزدی، که نه؟ (۱۷۷۶/ ۱۳۴۵هج)

ځواب: په دوهم صورت کې که خپله قبضه ورباندي وکړي بیایې پرده باندي په تان کې دیوې آنې په حساب خرڅ کړی نوداصحیح دی اوکه پخپله رانیوله اورایې وړه بیایې پرده باندي په یاده شوې ګټه خرڅه کړه نوداهم صحیح دی فقط.

په مځکه کې پټې پټاټې خرڅول

سوال: (۷۶) څه فرمایي علماء دین په دې صورت کې چي پټاټې چي په مځکه کې موجودې اوپیداشي اورانیوونکی هم پرځیني طرفونو مځکه وکیندي وګوري چي پټاټې موجودې دي نوپه دې صورت کې دپټاټوبیعه جائزده، که نه؟ (۲۸۵، ۲۹- ۱۳۳۰هج).

ځواب: فی الدرالمختار: باب البیع الفاسد: بطل بیع مالیس بمال الخ والمعدوم الخ ومنه بیع مااصله غائب کجزروفجل الخ هذااذاثبت ولم یعلم وجوده فاذاعلم جاز

وله خیارالرؤیة وتکفی رؤیة البعض عندهماوعلیه الفتوی (۱) وفی الشامی عن الهندیة ان کان المبیع فی الارض ممایکال اویوزن بعدالقلع کالثوم والجزر و البصل فقلع المشتری شیئا باذن البائع اوقلع البائع ان کان المقلوع ممایدخل تحت الکیل اوالوزن اذارای المقلوع ورضی به لزم البیع فی الکل وتکون رؤیة البعض کرؤیة الکل اذاوجدالباقی کذلک وان کان المقلوع شیئا یسیرالایدخل تحت الوزن لایبطل خیاره الخ (۲)

له لیکل شویوروایتونوڅخه معلوم شوچي پټاټي کله په مځکه کې موجودې اوثابتې شي نوبیع ددوئ صحیح ده په اړه یې داتفصیل دی چي که زیاته اندازه یې زیاته اندازه مځکه کېندلې وي پټاټې یې کتلې وي چي تروزن لاندي راتللای شي نوکتل ددې په ټولوکې خیارسقاقطوي اوکه یې لږاندازه کیندلې وي اوکتل شوې وي نوپه پاتوکې خیارپاته دی فقط والله تعالی اعلم.

دنامسلمان یابې وارثه ازادرانیولواوخرڅولوحکم

سوال: (۷۷) دغرنیوسیمواونورونامسلمان نابالغ هلکان، انجونې یابنځې که ددوئ له وارثانویاخاوندانوڅخه په لږاوډیرقیمت ورکولوواخستل شي نودوئ دمربیانواو مینځو په درجه کې راځي، که نه؟ که دمینځوپه درجه کې راشي نوله مسلمانانولو وروسته ددوئ سره ونکاح ته ضرورت شته که بېله نکاح هم په کورونوکې ساتل ممکن دي؟ دارازعام بې وارثه ګرځیدوونکې انجونې، هلکان یابنځې څه حکم لري؟ (۲۵۳۱/ ۱۳۳۷هج)

ځواب: دغه انجوني اوهلکان په شرعي توګه مینځې اومرییان نه شول اودانجونوسره بېله نکاح کوروالی صحیح نه دی له مسلمانانولووروسته ددوئ سره نکاح کول پکاردي بېله نکاح دوئ حلالې نه دي بلل پکاراودارازعام بې وارثه ماشومان مرییان اومینځې جوړول اوبلل حرام دي اوپه خرڅولواورانیولو دوئ نه حلالېږي ددوئ رانیول

(۱) الدرالمختارمع الشامی (۴/ ۱۱۳)، کتاب البیوع، مطلب البیع الموقوف من قسم الصحیح ط رشیدیه.
(۲) ردالمحتار (۴/ ۱۱۳)، کتاب البیوع، مطلب فی بیع المغیب فی الارض ط رشیدیه.

اوخرڅول قطعا حرام دي رسول الله ☐ دآزادپرمرییي اومینځي جوړونکي اوبلوونکي لعنت ویلی دی(۱) اودفقهې په کتابونوکې دحر(آزاد) بیع باطله لیکلې ده(۲)

دازادې ښځې دخرڅولوحکم

سوال: (۷۸) کوم سړی چي خپله آزاده ښځه ددې جرم په وجه خرڅه کړي چي وخلګوته دزنالپاره پرځان.قدرت ولي نه ورکوي څه حکم لري ؟اودحرې بیع جائزده ،که نه ؟(۹۹۴/ ۱۳۴۱هج)

ځواب: دآزادې ښځې بیع حرامه ده اوخاوندپه دغه صورت کې سخت ظالم اوګنهګاره دی په دې اړه دې هیڅکله ښځه دخاوندخبره به نه مني بلکې دده سره دې نه اوسیږي خوبل ځای نکاح بېله طلاق روکولواوبېله عدې تېریدوصحیح نه ده فقط.

سوال: (۷۹) دیوې ښځې موراوپلاردادخاوندکورته نه لیږله خاوندعارضه وکړه محکمې دده په حق کې فیصله وکړه دانجلۍ موراوپلارانجلۍ وتښتوله په درې سوه روپۍ باندې یې خرڅه کړه خوطلا ق یې نه دی اخستی بې نکاح یې کښېنوله کله چي خاوندپه خبرشونوهغه مقدمه اجراء نکړه اونه یې طلاق ورکړی دی آیادغه مېرمن که پخپله خوښه دیودیندارا اونېک سړی ورکوته ورشي اوهغه سړی ددې سره سم ورسره نکاح وکړي نونکاح کوونکی خوبه ددغه سړی مجرم نه وي چاچي په درې سوه روپۍ رانیولې وه ؟اودهغه دروپیو ذموارخوبه نه وي اوګنهګاریږي ،که نه ؟(۱۷۵۵/ ۱۳۳۵هج)

ځواب: دآزادې ښځې خرڅول صحیح نه دي اورانیوونکی اوخرڅوونکی دواړه فاسقان اوګنهګاران دي دروپوورکوونکی هیڅ حق پردغې ښځې نه جوړیږي اوبېله نکاح ددې

(۱) حضرت مفتی صاحب رحمه الله چي دحدیث کوم مفهوم رانقل کړی دی خاص په همدغه مفهوم کوم حدیث مونږ ونه موندی امادبخاری شریف لاندې لیکل شوی حدیث تربحث لاندې مسئلې دلیل جوړېدای شي :عن ابی هریره رضی الله عنه عن النبی ☐ قال: قال الله تعالی ثلاثة انا خصمهم یوم القیامة رجل باع حرا فاکل ثمنه الحدیث (صحیح البخاری) ۱/ ۲۹۷، کتاب البیوع ،باب اثم من باع حرا)۔۲ بطل بیع مالیس بمال کالدم والمیتة والحر(تنویرالابصار مع الشامی (۴/ ۱۱۲) ، کتاب البیوع ،مطلب فی تعریف المال ط رشیدیه).

ساتنه حرامه ده که یوسړی ددغې ښځې له اول خاوندڅخه طلاق ورواخلي ترعدې تیریدوروسته له دې سره نکاح وکړي نوصحیح ده اودده به ثواب وي اونکاح کوونکي درانیوونکې مجرم نه ګرځي هغه روپۍ پرده نه راځي فقط.

سوال: (۸۰) که کوم سړی په هندوستان کې کومه ښځه په دوکه خرڅه کړي نوآیا هغه ښځه درانیوونکې ملک ګرځي اوکه نه ؟(۱۳۰۷/ ۱۳۴۰هج)

ځواب: درانیوونکې ملک نشي کېدای.

ایاموراوپلارخپل اولادخرڅولای شي

سوال: (۸۱) (الف) مسلمان موراوپلارخپل اولادپه کوم عوض باندې خرڅولای شي ،که نه ؟

(ب) خالدازاد ،عاقل ،بالغ سړی دی که دهوښ اوحواسوپرځای والی پروخت که خپل ځان پربکرباندې په څه مقررعوض خرڅ کړخپل ځان دبکرمرییي جوړولای شي ،که نه ؟(۱۳۴۱/۵۲هج)

ځواب: (الف) مسلمان موراوپلاراوپلارخپل اولادپه کوم عوض نشي خرڅولای (ب) نشي یې جوړولای.

دچاطلاقه کړې ښځه رانیول اوورسره جماع کول

سوال: (۸۲) رحیم څلورودونه لري اوس ده یوه مینځه رانیوله یعنی خاوندهغه مینځه ته طلاق ورکړپررحیم باندې خرڅه کړه نورحیم دده له مینځې سره کوروالی کولای شي ،که نه ؟(۱۴۳۰/ ۱۳۴۳هج)

ځواب: دامینځه نه ده ددې رانیول اوخرڅول حرام دي اودرحیم لپاره ددې سره کوروالی کول صحیح نه دی اوکله چي څلورښځې دده په نکاح کې موجودې دي نودده نکاح هم ددغې طلاقې شوې پنځمې سره صحیح نه ده لقوله تعالی [فانکحوا ماطاب لکم من النساء مثنی وثلاث ورباع الآیة] (سورة نساء آیت: ۴) فقط.

دازادبیع په هیڅ صورت کې جائزه نه ده

سوال: (۸۳) بیع حر دردارالاسلام باطل است یافاسد؟ ازامام محمدرواتي است که بحالت مخمصه وقحط درست است با ن که کسی مدیون باشدوصورتی برای ادای دین نیست اگرخودرابرای ادای دین بفروشدددرست است قال الشیخ الهدادفی شرح البزدوی ناقلا عن المحیط لایجوزبیع الحر الاان یعجزعن اداء مال وجب فی ذمته اوهومضطروقع فی مهلکة ولایری بقاء حیاته الابیع نفسه الخ وهرگاه بیع جائزباشدبحکم اذاثبت الشئ ثبت بلوازمه (۱) اگرمبیع ازقبیل اناث است وطی بااوهم جائزاست واولاداوثابت النسب است (۱۹۲۹/ ۱۳۳۹هج)

خواب: بیع حر باطل است لاجوازله اصلامن الاحوال ومانقل عن المحیط لایجوز الخ لااعتمادعلیه مع مخالفته منصوص الفقهاء وبعدالتسلیم سماه بیعا مجازاواحتیالا لبقاء النفس فلا یترتب علیه احکام البیع اصلاقال فی الدرالمختاربطل بیع مالیس بمال کالدم والمیتة والحر الخ (۲) فقط.

دسوال (۸۳) ترجمه: په دارالاسلام کې آزادشخص خرڅول باطل دي که فاسد؟ له امام محمدرحمه الله څخه یوروایت رانقل شوی دی چي په اضطراری حالت اودوچ کالی په حالت کې صحیح دی یاپه هغه صورت کې چي کوم سړی پوروړی وي اودقرض داداکولوکوم صورت نه وي په داسي صورت کې که دی دقرض داداکولوپاره خپل ځان خرڅ کړي نوجائزدی شیخ الهدادبزدوی په شرح محیط کې رانقل کړې دي چي دآزادبیع جائزنه ده خوهغه وخت کله چي دی پرخپل ځان باندي دواجب شوې مال له اداکولوڅخه عاجزشي یادی یادی داضطراری په حالت کې ومرګ ته نژدي شي اوده ته دخپل ځان له خرڅولوپرته دژوندي پاتېدوکومه بله لاره په نظرنه ورځي اوکله چي بیع جائزشوه نواذاثبت الشئ ثبت بلوازمه ترقاعده لاندي که مبیع ښځه وي نوله هغې سره وطی کول رواکیږي، که نه؟ اوله هغې څخه پیداکېدوونکې اولادنسب ثابتیږي، که نه؟

(۱) فان الشئ اذاثبت ثبت بلوازمه (العنایة شرح الهدایة مع فتح القدیر۲/ ۴۰۲، کتاب ادب القاضی فصل آخرقبیل باب التحکیم المطبوعة المکتبة النوریة ارضویة بسکهرپاکستان.

(۲) الدرالمختارمع الشامی(۴/ ۱۱۲)، کتاب البیوع، مطلب فی انواع البیوع ط رشیدیه.

ځواب: دآزادبیع باطله ده په هیڅ حال کې هم ددې دجائدادکېدوګنجائش نشته اوله محیط څخه چي کوم څه رانقل شوې دي هغه دفقهاؤله څرګندونوڅخه دمخالف کېدوپه وجه داعتمادوړنه دی اوکه داقول ومنل شي بیاهم دې ته مجازابیع اودنفس دبقاء یوه حیله ویل کېدای شي، ځکه نوپردې باندي دبیع احکام یومخ نه جاري کیږي په درمختارکې راغلې دي کوم چي مال نه دی دهغه بیعه باطله ده لکه دوینې، مردارې اوآزادبیع فقط.

نری ګوره په اندازه رانیول

سوال: (۸۴) دنری ګوړې ډک منګی بېله وزن کولوپه اندازه رانیول جائزدي، که نه؟ (۲۸۲/ ۱۳۳۷هج).

ځواب: خرڅول ددې په اندازه سره دبل جنس په مقابل صحیح دي.

پروړپه اندازه رانیول

سوال: (۸۵) زیاتره پروړاونوربېله وزن په اندازه رانیسي داصحیح دی، که نه؟ (۱۴۲۱/ ۱۳۳۷هج)

خواب: صحیح دی فقط.

دکیلی اووزني شیانوپه اندازه سره رانیول اوخرڅول کله صحیح دی؟

سوال: (۸۶) دتولوکیلی اووزني شیانوبېله ناپولواوتللوکاروبارجائزدی، که نه؟ (۲۵۲۸/ ۱۳۳۷هج)

خواب: کله چي جنس بدل شي نوکمښت اوزیاتوب خوصحیح دی، ځکه په اندازه باندي هم بیع کیدای شي مثلا یوه کوټه دغنمواونوروکه دبل جنس په عوض مثلا په روپیواونوررانیول شي نودناپولواوتللوضرورت نشته فقط.

په فاسده بیع کې له قبضې وروسته هم کراهیت باقي وي

سوال: (۸۶) (الف) دآمو داصل بیع فاسده ده که باطله؟

(ب) دځینو باغونو سودا دمېوې له ګل څخه تروتلو وروسته کیږي دا بیعه څرنګه ده؟ (ج) ددغو دواړو صورتونو خرڅ شوې باغونو آم چې په بازارکې خرڅیږي ببله پلټنې اوتحقیقه رانیول جائزدي، که احتیاط غوره دی؟

(د) په فاسده بیع کې له قبضې وروسته هم خبث اوکراهیت باقي وي، که نه؟ (۱/۱۷۷/۱۳۳۸هج)

ځواب: (الف) دابیع باطله ده.

(ب) دابیع اصلا صحیح دی خو دترک ثمرعلی الشجر(پرونه باندي دمېوې پرېښودو) دشرط په وجه بیع فاسده ده.

(ج) احتیاط غوره دی اودفتوی له لارې رانیول جائزدی.

(د) خبث اوکراهیت بیاهم باقي وي.

کوم رانیول اوخرڅول چې په غبن فاحش (ترحدپه زیات تاوان سره) وشي دهغه حکم

سوال: (۸۸) زیدپه دوه سوه روپۍ یوکتاب خرڅ کړچې قیمت یې لس روپۍ دی خومشتری (رانیوونکی) په خبرنه ووزید(بائع) دغبن فاحش اراده وکړه هغه وخت مشتری نه دی په خبرشوی یوکال وروسته په خبرشودی دسودا ماتولو خواهش کوي په داسې صورت کې به څه حکم وي؟ (۱۳۴۲/۱۵۷۱هج)

ځواب: که په دوکه ورکولو په غبن فاحش سره شی خرڅ کړي یا یې رانیسي نودهغه دماتولو اختیارشته لکه چې په درمختارکې راغلې دي لاردبغبن فاحش فی ظاهرالروایة ویفتی بالردرفقابالناس ان غره ای غرالمشتری البائع اوبالعکس اوغره الدلال فله الرد الخ(۱) درمختارمخلصاواقره الشامی بهذاالتفصیل فقط

(۱) الدرمع الشامی (۴/۱۷۸)، کتاب البیوع، مطلب فی الکلام علی الردبالغبن الفاحش ط رشیدیه.

داړردولوله اړورکوونکې څخه تاوان اخستل

سوال: (۸۹) کله ناکله داسې کیږي چې غټ تاجروولایت ته له فرائش لیږلو وروسته په بازاکې نرخ ټیټ اوکم ووینې خپل نقصان ورته معلوم شي نودټول یاڅه ناتیارشوې مال په اړه دخط په وسیله په ولایت کې خبرتیاورکوي چې مال مه رالیږئ په دې صورت کې کله ناکله ولایت دتاوان په توګه څه روپۍ له فرمائش کوونکې څخه اخلي که دی دغه روپۍ دتاوان ادانکړي نوشرعًا خوبه ګنهګارنه وي؟ (۱۳۴۱/۲۸۸۲هج)

ځواب: په دې صورت کې که دتاوان روپۍ ورنکړي نودی شرعی مجرم نه دی، ځکه چې دتاوان ورکول اخستل دشرعي په خلاف دي.

چې بیع مقرره کړي ټول کال په همدغه بیع شیدي اخستل صحیح دي

سوال: (۹۰) دشېدو رانیولو معامله داډول کیږي چې له اوله سره نرخ وټاکي دمیاشتې یاکال ترپایه په همدې بیع شېدي اخستل کیږي قیمت دهرې میاشتې په پای کې دمقررنرخ په حساب ورکول کیږي دامعامله صحیح ده، که نه؟ (۱۳۴۲/۱۴۹۲هج)

ځواب: داډول معامله کول صحیح ده.

چې نرخ مقررکړي ټول کال په همدغه بیع دپان پاڼې رانیول

سوال: (۹۱) په زیاتره ځایونوکې رواج دی چې پان خرڅوونکی یوه دوې روپۍ مخکې ورکړي یاداسې دیوکال لپاره دپان دپاڼو بیع معلومه کړي چې موږبه یې په دې نرخ اخلو خواکه په آئنده کې هرڅومره بیع شي اودکال په پای کې به حساب کوو روپۍ به درکوو دا صحیح دی، که نه؟ که صحیح ده نوپه کومه بیع کې داخله ده؟ (۳۲/۲۴۰۰-۱۳۳۳هج)

ځواب: کوم وخت چې څومره پان په مخکې ټاکلی نرخ باندې راځي هغه وخت دتعاطی په توګه بیع کیږي.

ببله قیمت معلومو لو یاډاکتر څخه دوا اخستل او دمیاشتې په پای کې حسابول

سوال: (۹۲) وحکیم یاډاکترته چې کله مرجع کوونودی نسخه راکړي اوله رواج سره سم دواهم له دوئ څخه رانیسو په عامه توګه هرطبیب وخپل مریض ته تول میاشت له ارتیاسره سم دواورکوي دمیاستې په پای کې حساب وشي چې دمیاشتې په پای کې حساب وشي قیمت وراداکول شي داجائزدی ،که نه ؟(۱۴۹۲/ ۱۳۴۲هج).

څواب: کله چې دمیاشتې په پای کې ټول حساب معلومیږي اوقیمت هغه وخت ورکول کیږي نو هغه معامله صحیح کیږي که څه هم اول دقیمت دمجهول اونامعلوم والي په وجه په دې کې فسادوونه دادی چې قیمت اونوراول معلوم کړل شي یاچې عادة معلوم وي چې ددې نسخې دابیعه ده.

دوې پې (yp) په وسیله مال راغوښتل

سوال: (۹۳) دوې پې (۱) په وسیله چې کوم مال راغوښتل کیږي په هغه کې دمال حال نه معلومیږي ددې معاملې څه حکم دی ؟(۱۴۹۲/ ۱۳۴۲هج).

څواب: دامعامله صحیح ده بیاوروسته له لیدو که دراغوښتي مال په خلا ف وي نو دبیرته ورکولو اختیار شته.

دمکره (مجبوره کړي) دبیعې حکم

سوال: (۹۴) (الف) په زورپه چاسوداکول په کوم ډول بیع کې داخل دي ؟(ب)فاسدبیع خوپه قبضه سره دمالک جوړیدو فائده ورکوي بیاددې دماتولو دعوی صحیح کېدای شي ،که نه ؟(۲۱۲۵/ ۱۳۴۲هج)

څواب: (الف ، ب) دمکره بیع فقهاؤبیع فاسده موقوفه بللې ده(۲) اوداهم

(۱) وي پي د( ) مخفف دی یعنی هغه مال چې دقیمت په ورکولو له ډاک خانې څخه اخستل کیږي.

(۲) ینبغی استثناء بیع المکره فانه موقوف علی اجازته مع انه فاسد(ردالمحتارمع الدر المختار(۴/ ۱۱۲) ، کتاب البیوع ، مطلب البیع الموقوف من قسم الصحیح ط رشیدیه.

څرګندونه راغلې ده چې فاسدبیع له قبضې وروسته دملک فائده ورکوي (۱) که څه هم هغه خبیث ملک دی اوماتول دهغه واجب دي(۲) فقط.

صدف په دې خیال رانیول چې شایدملغلره به پکې وي

سوال: (۹۵) دهند په ځیني جزیروکې دصدف انبارښوول کیږي اوداخرڅول کیږي خلک بې په دې فکررانیسي چې شاید په کوم صدف کې به ملغلره ومومندو ،ځکه نو په دغه رانیولواوخرڅولوکې کوم شرعي ناوړتیاخونشته ؟(۱۱۰۲/ ۱۳۴۵هج)

څواب: په دغه راینولواوخرڅولوکې شرعًا هیڅ مانع نشته فقط.

له مکان خرڅولووروسته انکارکول

سوال: (۹۶) یوسړی دخپلې ښځې ځاني مکان دښځې په خوښه خرڅ کړیو کال وروسته دخاوندله بیع څخه په انکارکولوښځې هم انکاروکړنواوس دغه بیع دښځې له لورې جائزه بلل کیږي ،که نه ؟(۹۵۷/ ۴۲-۱۳۴۷هج).

څواب : کله چې داصلي مالکي په خوښه بیع وشوه نوهغه صحیح اونافذه شوه له بشپړیدواوصحیح کېدودبیع وروسته دښځې یاددې دخاوندانکارشرعًا جائزنه دی خوکه دا ښځه انکارکوي اودرانیوونکې سره دبیع ثبوت نه وي نو حکمًا دا سودا داسي بلل کیږي لکه نه وي چې شوي یارانیوونکی پخپله خوښه ددې بیع اقاله (واپسي) وکړي فقط.

له جائدادخرڅولووروسته دنابالغ والی دعوی کول

سوال: (۹۷) محمدمیرسید غریب اوعلی بازپه حالت دروغتیااودعقل اوبلوغ ځای والی ببله جبراوزوره خپل جائدادپرنورالله خان په ایجاب اوقبول سره دڅو باوري ګواهانو په مخ کې خرڅ کړاوځای وال حکومتي خلګوپه بالغانواقرار ددې تصدیق اودایې رسمي کړه اوس له سوداڅخه شپږمیاشتې وروسته محمد میردعوی لري

(۱) والفاسدیفیدالملک عنداتصال القبض(الهدایة ۳/ ۴۹، کتاب البیوع ، باب البیع الفاسد)

(۲) ویجب علی کل واحدمنهمافسخه قبل القبض اوبعده مادام المبیع بحاله جوهرة فی یدالمشتری اعدامًا للفسادلانه معصیة فیجب رفعهابحر(الدرمع الرد(۴/ ۱۴) ، کتاب البیوع ، قبیل مطلب ردالمشتری فاسداالی بائعه فلم یقبله ط رشیدیه)

چي دسوداپروخت زه کوچنی وم زه ددوولسوکلونووم اوزه دبیع پروخت موجود نه وم زماپه ناموجودیت کې زماداکازامنوزمابرخه خرڅه کړه حال داچي ددعوې کوونکی دبیان په خلاف په معتبروګواهانواودحکومت په تصدیق ثابتیږي چي مدعی هغه وخت بالغ اوموجودوواوده اقراردبیع دحکومت پخلګوپه مخامخ کړی وو په دې صورت کې دمیرمحمددعوی اورېدل کیږي ،که نه ؟ اویاده شوې سودابه صحیح بلله کیږي که به ماتیږي ؟ که دربیم په پوښتل شوې صورت کې دبیع دماتېدوحکم وکړنوهغه حکم نافذیږي ،که نه ؟(۹۹۱/ ۴۲- ۱۳۴۷هج)

ځواب: کله چي دباوري اوعادلوګواهانوپه بیان اودحکومتي خلګوپه تصدیق داثابت دی چي مدعی دبیع پروخت موجودووبالغ وواومدعی پخپله دحکومتي خلګوپه مخامخ کې دبیع اقراروکړي نودابیع صحیح اونافذه شوه له دې وروسته دمدعی دعوی نه اوریدل کیږي اویاده شوې سوداکومه چي صحیح اوقطعي شوې ده نه ماتیږي اوددربیم فیصله ددې په خلاف ددغه بیع دماتولوپه اړه نه صحیح کیږي لکه چي له لاندي عبارت څخه ښکاره ده ددرمختارپه فصل بلوغ الغلام کې راغلې دي بلوغ الغلام بالاحتلام والاحبال والانزال والاصل هوالانزال والجارية بالاحتلام والحيض والحبل فان لم يوجدفيهماشئ (مماذكر) فحتى يتم لكل منهما خمس عشرة سنة به يفتى الخ لقصراعماراهل زماننااوادنى مدته له اثنتاعشرة سنة ولهاتسع سنين فان راهقا بأن بلغاهذاالسن فقالابلغناصدقاان لم يكذبهماالظاهرالخ (۱) وفى الاشباه لايجوزللقاضى تأخيرالحكم بعدوجودشرائطه الخ لايصح رجوعه عن قضائه الافى ثلاث لوبعلمه اوظهرخطؤه اوبخلاف مذهبه الخ (۲) (درمختار) وفيه ايضا : (فى : ص : ۳۰۹) فمن اقربحق اوقامت عليه بينة الزمه الخ (۳) وفى كتاب الاقرارفلوقال للصكاک اكتب خط اقرارى بالف على اواكتب بيع دارى صح (۴) فقط.

(۱) الدرالمختارمع الشامى (۵/ ۱۰۷) ، كتاب الحجرفصل (بلوغ الغلام بالاحتلام) ط رشيديه.
(۲) الدرالمختارمع الشامى (۴/ ۳۸۳) ، كتاب القضاء ، مطلب: طاعة الامام واجبة ط رشيديه.
(۳) تنويرالابصارمع الشامى (۴/ ۳۴۴) ، كتاب القضاء ، مطلب فى العمل بالسجلات وكتب الاوقاف القديمة ط رشيديه.
(۴) الدرالمختارمع الشامى (۴/ ۵۰۷) كتاب الاقرار ، قبل باب الاستثناء ومافى معناه ط رشيديه.

دورک شوې شی خرڅول صحیح نه دي

سوال: (۹۸) له زید څخه عمریو شی په عارية راوړی ووناڅاپه هغه شی غلاشوزید وعمرته وویل چي روپۍ راکړه ددې شی دجګړې فیصله یې وکړه که وروسته شی پیداشونوستابه وي ،ځکه نوعمروزیدته څه روپۍ ورکړې څوورځې رووسته عمرهغه شی وموندی زیدوایې چي زماشی راوړه اوخپلې روپۍ بیرته واخله عمروایې چي دازمادی اوله ورکولوڅخه انکارکوي په داسي صورت کې ددغه مستقل بیع په وجه دزیدله ملک څخه هغه شی ووت اوکه نه ؟(۱۷۱۸/ ۴۲- ۱۳۴۷هج).

ځواب: دورک شی په اړه په داډول ویناچي که وروسته هغه شی پیداشونوستا دی بیع نه کیږي ،ځکه چي دبیع دصحیح کېدولپاره پرمبیعه باندي دورسپار لوقدرت کېدل هم ضروري دی اوپه دې صورت کې پرمبیع باندي پروخت دورسپارلوقدرت نه ووپه شامی کې راغلې دي قوله لبطلان بيع المعدوم اذمن شرط المعقودعليه ان يكون موجودامالامتقوماوان يكون مقدورالتسليم الخ(۱) فقط.

په حرامه وسبله ولاس ته کړې مځکې رانیولوحکم

سوال: (۹۹) کومه مځکه چي چاپه حرامه وسېله حاصله کړې وي دهغې رانیول حلال دي که حرام اورانیوونکې مالک جوړیږي اوکه نه ؟ (۷۱۰/ ۳۲- ۱۳۳۳هج) ځواب : رانیوونکی مالک ګرځي.

دچای دباغونوپه سوداکې دچایوپاڼې هم داخلیږي ،که نه ؟

سوال: (۱۰۰) په ځیني ځایونوکې دچای په پاڼوکې چي دکمپنۍ په ملک کې وي اودهغوئ برخې رانیول کیږي اوخرڅیږي چي ګټه دکال په پای کې وېشل کیږي یوسړی له نیم کال وروسته خپلې برخې خرڅې کړي شپږمیاشتې وروسته چي کله کال پوره شونوکمپنۍ دټول کال ګټه ورانیوونکې ته ورولیږله خونېمه ګټه خرڅوونکی غواړي ،ځکه چي ترنیم کاله پورې دی دبرخومالک وو

(۱) الشامى (۴/ ۱۱۸) ، كتاب البيوع ، مطلب: الآدمى مكرم شرعًا ولوكافرا ط رشيديه.

خورانیوونکی په دې وجه چي کومه معاهده دګټې دوېشلوپه اړه دبیع پرمهال نه وه شوې له ګټې ورکولو څخه انکارکوي نوخرڅوونکی داولوشپږومیاشتود ګټې حقداردی ، که نه ؟ (۱۳۳۸/۸۴۹هج)

ځواب: دابنکاره ده چي ګټه ددغوچایودباغونوله چای څخه ده نوکه دباغونودبرخې خرڅولوپرمهال چای راشنې شوې وي نودهغه په اړه دامسئله ده چي ببله نوم اخستودغه چای دمځکې سره نه خرڅیږي بلکي دبائع (خرڅوونکې) مالک به وي اوکه تعین وشي چي چای هم دړانیوونکې دي نودرانیوونکې به وي اودالمعروف کالمشروط په حکم که عرف دادی چي هغه دچایوبرخه سره دراشنوشویوچایوخرڅیږي نودادنوم اخستوپه رنګه شوچای به په بیع کې داخلیږي اودرانیوونکې ملک به شي اودټولې ګټې مالک به رانیوونکی وي اوکه عرف داسي نه دی اونه تعین اونه نوم اخستی دی نوهغه چای دبایع ملک دی دټولې ګټې مالک بایع دی اورانیوونکې ته به اجرمثل یعنی دمځکې کرایه مثل دشپږومیاشتوورکول کیږي یاترڅومره ورځوپورې چي چای پردغه مځکه باندي ترخرڅېدووروسته باقي وي په درمختارکې راغلې دي ولایدخل الزرع فی بیع الارض بلا تسمیة الخ(۱) فقط.

دبیع وفاء تعریف اودهغې حکم

سوال: (۱۰۱) بیع وفاء څه ته وایي ؟ددې پوره تعریف څه دی ؟بیع وفاء سوددی ، که نه ؟(۲۰۴۵/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

ځواب: قال فی الدرالمختاروبیع الوفاء ذکرته هناتبعاللدررصورته ان یبیعه العین بالف علی انه اذارد علیه الثمن ردعلیه العین (الی ان قال) قیل هورهن فتضمن زوائده وقیل بیع یفیدالانتفاع به وفی اقالة شرح المجمع عن النهایة وعلیه الفتوی وقیل ان بلفظ البیع لم یکن رهناثم ان ذکرالفسخ فیه اوقبله اوزعماه غیرلازم کان بیعافاسدا ولوبعده علی وجه المیعادجازولزم الوفاء به لان المواعید قدتکون لازمة لحاجة الناس وهوالصحیح کمافی الکافی والخانیة(۲)

(۱) الدرالمختارمع الشامی (۴/ ۲۷۴) ، کتاب البیوع ، مطلب ،فی بیع الوفاء ط رشیدیه.
(۲) ترجمه: په درمختارکې راغلې دي اودبیع وفاء مادلته یادونه وکړه دصاحب دررپه اتباع کولو اودبیع وفاء صورت دادی چي کوم معلوم شی خرڅ کړي په زردرهمه په دې شرط باندي چي کله خرڅوونکې ثمن (روپۍ) بیرته ومشتري (رانوونکي) [illegible] نومشتری ده ته هغه معلوم شي بېرته ورکړي (الی قوله) خینوویلې دي -

له دغه عبارت څخه دبیع وفاء تعریف اوپه دې کې چي کوم څه دفقهاؤ اختلاف دی ښکاره شونودغه اختلا ف خواوس نه شي رفع کېدای اوپه دغوقولونوکې چي هریوه ته صحیح ویل شوې دي اوهرطرفته لوئ علماء دي کوم قول ته غلط نشي ویل کېدای خودقاعدوپه اعتبارفاسدبیع کېدل دبیع وفاء راجح دی ،ځکه چي بیع په مخالف شرط سره فاسدیږي خودافسادهغه وخت دی چي په بیع کې داقالې شرط ولګول شي اوکه وروسته دوعدې په توګه ددې یادونه وکړه نوفسادنشته کماذکرفی آخرالعبارة المذکورة فقط والله تعالی اعلم.

سوال: (۱۰۲) بیع وفاء وکومې بیعې ته وایې ؟ددې تشریح اودبیع وفاء په اړه جوازاونه جوازاودبیعې وفاء کوم صورت دئ چي ورسره سودتړون نلري ؟(۱۳۳۵/۱۲۸۴هج).

ځواب: په بیع وفاء کې اختلا ف دی چي دابیع ده که رهن (ګرو) اوکه بیع ده نوبیع صحیح ده که فاسده ؟ اوصحیح دادی چي که دسودا پرمهال دبیرته ورکولو شرط ولګوي نوبیع فاسده ده ،ځکه چي بیع په شرط سره فاسدیږي اوبیع دوفاء داده چي څوک کوم شی خرڅ کړي اوپررانیوونکې داشرط کښېږدي چي کال یاشپږمیاشتې وروسته چي کله زه ثمن (روپۍ) بیرته درکړم نوزماشی به بیرته راکوې ځیني فقهاء دېته رهن وایې اوځیني بیع اودشرط په وجه بیع فاسدیږي دزیات تفصیل ځای نشته په دې موقع کې.

دبیع وفاء څوصورتونه

سوال: (۱۰۳) زیددصحراء یاداستوګن جائداددبیع وفاء په توګه چي موده یې پنځه

- چي بیع وفاء رهن (ګرو) دی نوداستفادې کولوبه ضامن وي اوځینوویلې دي چي بیع وفاء ده له دې څخه استفاده کول جائزده اودشرح المجمع په باب الاقالة کې له نهایة څخه رانقل کړې دي چي پرهمدې باندي فتوی ده اوځینوویلي دي چي بیع وفاء که په لفظ دبیعې ده نورهن نه ګرځي بیاکه عقدکوونکودسوداکو لوپروخت یاله عقدمخکې دماتولویادونه کړې ده یادواړوپردې سودا باندي دنه لازمېدوونکې سوداګمان کړی دی نوبیع فاسدیږي اوکه ماتول له سوداوروسته دوعدې په توګه بیان کړي نوپه دې صورت کې بیع جائزده اواوددغې وعدې پوره کول لازم دي ،ځکه چي وعدې کله لازمي وي دخلګودحاجت په وجه اوهمدغه قول صحیح دی لکه چي په کافی اوخانیه کې راغلې دي (الدرالمختا رمع الشامی (۴/ ۲۷۴) ، کتاب البیوع ، مطلب فی بیع الوفاء ط رشیدیه)

یااووه کاله مقررېږي له عمرڅخه اخلي یوځه روپۍ وعمرته په دې شرط ورکول غواړي چي که په ټاکلې موده کې دننه دزیدروپۍ اداشي عمربه هغه رنګه ددې مالک وي کنې ددې مالک به رانیوونکی شي اوپه دغه موده کې چي کومه آمدني له خرڅ کړی شي څخه حاصله شي هغه به دزیدوي داجائزدی ،که نه ؟ اوداامدني خوبه سودنه وي ؟ (۱۱۳۱/ ۱۳۳۷هج).

ځواب: داسي بیع ځینوفقهاؤرهن (ګرو) بللې ده په دې صورت کې دزیدلپاره ددغه په ګرواخستې آمدنۍ نه حلا لیږي اوځینوفقهاؤبیع فاسده بللې ده په دې صورت کې هم ګټه حاصلول ښه نه دي اوځینوفقهاؤدې ته صحیح ویلې ده خوداهغه وخت ده کله چي دبیع سره دبیرته اخستوشرط نه وي بلکه دمعاملې پرمهال قطعی بیع وي ببله کوم شرطه اووروسته دودې په توګه له رانیوونکې څخه دبیرته اخستووعده واخستله شي نوکه داسي وشول نوګټه حاصلول به صحیح وي کنې نه به وي فقط.

سوال: (۱۰۴) یومکان په دې شرط خرڅ شوی وچي کله دې زړه وغواړې بېرته یې راکړه چي ددې په اړه دخولې اودلیک ګواهي تراوسه وجودلري اوله ثمن (روپیو) څخه تراوسه دیرش روپۍ پرمشتری پاته دي په دې صورت کې څه حکم دی آیاپه دې صورت کې بیع ماته کړي ،که نه ؟ اودابیع کوم ډول ده ؟(۱۲۷۸/ ۳۲- ۱۳۳۳هج)

ځواب: داصورت دبیع وفاء دی اوپه دې کې ډېراختلا ف دی ځیني وایې چي درهن په حکم ده په دې صورت کې دروپیو په بیرته ورکولوسره په رهن ورکړي شی بیرته ورکول پکاردي اوځیني وایې چي بیع ده اوبیاداختلا ف دی چي بیع صحیح ده ،که فاسده ؟ دفقهې له قاعدېسره سم فاسدبیع کېدل راجح دي ،ځکه چي په دغه بیع کې دبېرته ورکولوشرط لګول شوی دی اوپه داسي شرط بیع فاسدېږي اودفاسدي بیع حکم کې دادی چي دعقد کوونکوپه ذمه اوله دوئ وروسته ددوئ دوارثانوپه ذمه ددغې بیع ماتول ضروري دي وبائع ته پکاردي چي قیمت یې وصول کړي دي هغه بیرته ورکړي اودمشتري یادده دوارثانولپاره ضروري ده چي مبیع بیرته ورکړي(۱)

(۱) ولایبطل حق الفسخ بموت احدهما فیحلفه الوارث به یفتی (الدرالمختار مع ردالمحتار(۴/ ۱۴۳) ، کتاب البیوع مطلب ، ردالمشتری فاسداالی بائعه فلم یقبله ط رشیدیه.

سوال: (۱۰۵) یوسړی څه مځکه خرڅه کړه په شپږسوه روپۍ اوپرمشتري باندي یې داشرط ولګاووچي که په دوه کاله کې دننه شپږسوه روپۍ بیرته راکړي نومځکه به بیرته واخلم داصورت جائزدی ،که نه ؟(۲۵۲/ ۱۳۳۸هج)

ځواب: داصورت دبیع وفاء دی اوپه دې کې اختلا ف دی ځیني فقهاء دې ته رهن وایې اوځیني ورته بیع وایې بیاداسي بیع چي پکې دبیرته ځیني اخستلو شرط پکې وي هغه بیع فاسده وي چي ماتول یې واجب وي اواستفاده کول دمشتري لپاره له داسي مبیع څخه ناجائزدی.

سوال: (۱۰۶) که زیدخپل جائدادپرعمرباندي داډول خرڅ کړي چي په پنځلس کاله کې دننه که زه دغه جائدادبیرته اخستل وغواړم نوپه مځکني قیمت به یې ستاڅخه اخلم اوکه په دغه موده کې بیرته وانه اخستی نومځکنی بیع به تامیږي داصورت جائزدی ،که نه ؟(۲۴۵/ ۱۳۴۰هج)

ځواب: داصورت دبیع وفاء دی اوددې په جائزوالې اوناجائزوالې کې اختلا ف دی اودارازپه دې کې هم اختلا ف دی چي په دغه طریقه سوداکول بیع ده که رهن ؟ که رهن دی نوښکاره ده چي بایع (خرڅوونکی) به راهن وي اومشتري (رانیوونکی) به مرتهن وي اودمرتهن لپاره په ګروورکړی شی څخه استفاده کول دصحیح قول سره سم ناروااوسوددی لان کل قرض جرنفعافهوربو(۱) اوکه بیع ده لکه چي ښکاره ده نوپه دې بیع کې داشرط لګول شوی دی چي په پنځلس کاله کې دننه که بائع ثمن (روپۍ) بیرته ورکړي نومشتري به مبیع (رانیولی شی) بیرته ورکوي اودافقهې قاعده ده چي په داسي شرط سره بیع فاسدېږي نوپه هرحال یاده شوې سوداشرعًا صحیح نه ده اوپه مشتبه اوشکمنه کېدوکې خوددې هیڅ شک نشي کېدای ځکه نوپرېښودل ددې لازم دی ،ځکه چي له مشتبهاتوڅخه پرهیزکول هم امرشوی دی اوله شبهاتوڅخه ځان ساتنه ددین دخوندی کېدوباعث وي.

سوال: (۱۰۷)دیوه دکان سوداپه شپږزره پنځه سوه روپۍ وشوه خوبائع داشرط پرېږدي چي په شل کاله کې دننه بائع ته داحق شته چي کله یې زړه وغواړي دغه دکان په همدغه بیعه بیرته اخستلای شي.

(۱) فتح القدیر۲/ ۳۵۵ ، کتاب الحوالة عندقول صاحب الهدایة ویکره السفاتج وعن الحکم عن ابراهیم قال: کل قرض جرّ منفعة فهوربو(مصنف ابن ابی شیبة ۴/ ۳۲۳ ، کتاب البیوع والاقضیة باب من کره کل قرض جرّ منفعة المطبوعة دارالکتب العلمیة ،بیروت ، لبنان)

اودمېعاداومودې له تېریدووروسته به ددکان بیع قطعي وبلله شي دابیع جائزده ،که نه؟ بائع دشیعه مذهب والادی احناف دې ته جائزوایي ،که نه ؟ مشتري له اهل سنت والجماعة څخه دی په دې شکل باندي سوداونورلازمیږي ،که نه ؟ ددکان کرایه دمیاشتې اته دیرش روپۍ ده ؟(۱۴۹۷/ ۴۴-۱۳۴۵هج)

ځواب: دادبیع وفاء صورت دی په دې کې دفقهاؤاختلا ف دی ځینوفقهاؤدادر هن په حکم لیکلې ده اوځینوورته بیع صحیح ویلې ده اوځینوورته بیع فاسده خودحنفی مذهب دقاعدوسره سم دابیع فاسده ده ،ځکه چي په بیع کې دبیرته ورکولواوخستوشرط لګول بیع فاسده وي کماوردفی الحدیث نهی عن بیع وشرط (۱) والله تعالی اعلم.

دبیرته ورکولوپه شرط مکان رانیول اومکان له رانیولووروسته وخرخوونکې ته په کرایه ورکول

سوال: (۱۰۸) یومکان په شپږسوه رانیولووروسته وهماغه بایع (خرڅوونکې) ته دمیاشتې په څلورروپۍ کرایه ورکول جائزدی ،که نه ؟ اوله دې سره یوه داقرارپاڼه ددې خبرې لیکم چي په پنځه کاله کې دننه به دغه مکان ودغه بائع یادده وزامنوته بیرته ورکوم داډول رانیول جائزدي ،که نه ؟(۳۴۵۹/ ۴۲-۱۳۴۷هج)

ځواب: که دبیرته ورکولودشرط یادونه په سودااوعقدکې شوې ده نوصحیح مذهب دادی چي په دې صورت کې بیع فاسدیږي اوکه دبیرته ورکولودشرط یادونه دبیع په عقدکې نه ده شوې نوبیع جائزده اوپه ټاکلې موده کې دننه دوعدې سره سم دمبیع بیرته ورکول لازم دی په شامی کې راغلې دي: فقدصرح علماؤنا : بانهما لوذکراالبیع بلا شرط ثم ذکراالشرط علی وجه العقدجازالبیع ولزم الوفاء بالوعد (۲) اومکان له رانیولووروسته وهماغه بائع ته په کرایه ورکول جائزدی فقط.

(۱) عن عمروبن شعیب عن ابیه عن جده ان رسول الله ﷺ نهی عن بیع وشرط البیع باطل والشرط باطل الخ (المعجم الاوسط للطبرانی ۳/ ۲۱۱، باب العین من اسمه عبدالله رقم الحدیث: ۴۳۲۱، المطبوعة: دارالکتب العلمیة ،بیروت ،لبنان ، وکذافی بدائع الصنائع ۴/ ۳۸۷، کتاب البیوع ، الشروط الفاسدة)(۲) الشامی (۴/ ۱۳۵) ، کتاب البیوع ، قبل مطلب فی الشرط الفاسداذاذکربعد العقداوقبله ط رشیدیه.

چاچي دبیرته ورکولوپه شرط مکان رانیولی دی دهغه له وفات وروسته پروارثانوبیرته ورکول واجب نه دي

سوال: (۱۰۹) یومسلمان پربل مسلمان باندي مځکه خرڅه کړه اورانیوونکې دڅلورومعتبرومسلمانانوپه مخکې دااقراروکړچي کله ستاياستاسوله زامنو سره روپۍ موجودې شي زه مځکه بیرته درکوم بائع اومشتري دواړه وفات شوې دي وارثان یې موجوددي اودبائع دوارثانوسره داداکولوروپۍ شته خودمشتري وارثان له بیرته ورکولوڅخه انکارکوي شرعًا څه حکم دی ؟(۹۳۱/ ۱۳۳۸هج)

ځواب: درانیوونکې وارثان ددغه خرڅې شوې مځکې دبیرته په ورکولوباندي اودقیمت پربیرته اخستوباندي شرعًا نشي مجبوره کېدای ددوئ خوښه ده که یې بیرته ورکوي اوکه یې نه ورکوي اودرانیوونکې دمځکې دبیرته ورکولودو عدې دده پروارثانوپوره کول واجب نه دي قال فی ردالمحتار: فی بحث بیع الوفاء قوله ولزم الوفاء به ظاهره انه لایلزم الورثة بعدموته کماافتی به ابن الشلبی معللا بانقطاع حکم الشرط بموته الخ (۱) (شامی ۴/ ۲۴۷)

په بیع کې داسي شرط لګول چي عقدیې تقاضانه کوي

سوال: (۱۱۰) څه فرمایي علماء ددین اومفتیان دشرع متین په دغومسئلوکې چي یوسړی ددووسوورپومځکه په یونیم سل روپۍ ددووکلونولپاره خرڅوي په دې شرط باندي چي پرټاکلې مېعادکه مې روپۍ دراداکړې نومځکه به بیرته اخلم اوکه مې په ټاکلې موده کې روپۍ درادانکړې نودمځکې سره به زماهیڅ اړه نه وي مځکه به درانیوونکې ملک وګرځي دبائع اومشتري ترمینځ داخبره هم صفاشوه چي مشتري به دمځکې مالیه تردووکلونوپورې وبائع ته ورکوي اودمځکې چي کوم پیداواروي هغه به مشتري پخپله اخلي اوکه په کومه وجه په مځکه کې څه راشنه نشول نودهغه تاوان به پرمشتري وي اوکه خاص هم دغه رنګه صورت وي خودمځکې پوره بیع وبائع ته ورکوله شي نوددغه پورته یادې شوې مسئلې څه حکم دی ؟داسودا

(۱) الشامی(۴/ ۲۷۵) ، کتاب البیوع ، مطلب فی بیع الوفاء ط رشیدیه.

دشریعت له مخې جائزده، که نه؟ (۱۱۴۸/ ۱۳۳۵هج)

ځواب: په درمختارکې راغلي دي: وبیع بشرط لایقتضیه العقدولایلائمه وفیه نفع لاحدهماالخ(۱) له دې څخه معلوم شوچې یاده شوې سودافاسده ده اودوفاء په بیع کې هم یوقول همدغه دی چې هغه فاسده بیع ده.

سوال: (۱۱۱) زیدیوه تونه مځکه په درې سوه روپۍ پربکرخرڅه کړه خوداروپۍ یوبل باندې ځوشرطونه په خوله کنبېنبودچې دامځکه به همېشه دبائع سره وي بکرته به له زیدپرته وبل چاته په کرایه ورکولوحق نه وي اونه به دخرڅولوحق لري اوکله چې دبائع وس شي نودرې سوه روپۍ به مشتري ته ورکړي مځکه به بېرته واخلي په دې صورت کې بیع صحیح کېږي اوکنه؟ (۲۱۵۰/ ۱۳۳۸هج)

ځواب: په دغوشرطونوسره سوداکول صحیح نه ده په دې سره بیع فاسدېږي کله چې مشتري مالک شودده اختیاردی چې چاته وغواړي هغه ته یې په کرایه ورکړي اوځرنګه تصرف یې کول غواړي یکي ودي کړي فقط.

سوال: (۱۱۲) زیدله عمرڅخه ځه مځکه دټاکلې مودې لپاره په څه روپۍ په دې شرط واخسته چې په دغه موده کې به مځکه دزیدپه تصرف کې وي اوچې کومه آمدني یې راځي هغه به هم زیداخلي اومالیه به عمراداکوي اوکومې روپۍ چې عمرته ورکړي که په ټاکلې موده کې هغه روپۍ عمروزیدته وراداکړې نومځکه به دعمروي کنې له ټاکلې مودې وروسته به مځکه دزیدملک وګرځي داصورت جائزدی، که نه؟ (۹۱۰/ ۱۳۴۰هج)

ځواب: داصورت خواکه دبیع الوفاء په نوم ونومول شي یادرهن په نوم شرعًا جائزنه دی په بیع وفاء کې دفقهاؤډېراختلا ف راغلی دی خوبیع دعقددمقتضی په خلا ف په شرط لګولوباندې فاسدېږي کماوردنهی عن بیع وشرط (۲) وصرح الفقهاء بفسادالبیع المشروط فیه الشرط المخالف لمقتضی العقد(۳)، ځکه دتحقیق سره سم.

(۱) تنویرالابصارمع الشامی(۴/ ۱۳۵)، کتاب البیوع، مطلب فی البیع بشرط فاسد ط رشیدیه.
(۲) عن عمروبن شعیب عن ابیه عن جده ان رسول الله ﷺ نهی عن بیع وشرط البیع باطل والشرط باطل الخ (المعجم الاوسط للطبرانی ۳/ ۲۱۱، باب العین من اسمه عبدالله رقم الحدیث: ۴۳۶۱، المطبوعة: دارالکتب العلمیة، بیروت، لبنان وکذافی بدائع الصنائع ۴/ ۳۸۷، کتاب البیوع، الشروط الفاسدة) (۳) قال فی الدرالمختارولابیع بشرط یعنی الاصل الجامع فی فسادالعقدبسبب شرط لایقتضیه العقدالخ وفی الشامی قوله ولابیع بشرط شروع فی الفسادالواقع فی العقدبسبب الشرط لنهیه ﷺ عن بیع وشرط (الدروالرد(۴/ ۱۳۵)، کتاب البیوع، مطلب فی البیع بشرط فاسد ط رشیدیه.

بیع وفاء چې پکې دبېرته ورکولوشرط وي فاسده بیع ده نولومړی خوداصورت چې په سوال لیکل شوی دی دبیع وفاء صورت نه دی بلکه صفادرهن (ګرو) صورت دی اوپه رهن کې دمرتهن (په ګرواخستونکې) لپاره له مرهونه مځکې څخه استفاده کول صحیح نه ده بلکه ربوا(سود) دی کماوردکل قرض جرّ نفعا فهوربوا(۱) اوکه بیع وفاء وي بیاهم جائزنه ده کمامر.

دبېرته ورکولوپه وعده مکان یادکان رانیول

سوال: (۱۱۳) زیدخپله کومه مځکه یادکان پرعمرباندې په سل روپۍ خرڅ کړاوسمه دبیع پانه ولیکله خودبیع پانې څخه مخکې یاوروسته بائع له مشتري څخه داپخه وعده واخسته چې زه تاته درې زره روپۍ پوره دراداکړم نوزمامبیع به بېرته راکوې ترهغه وخته له مبیع څخه استفاده کوه دمشتری دغه خبره دزړه له کومې خوښې اومنله نوآیادابیع جائزده اودمشتری لپاره دمبیع دبېرته ورکولوتروخته پورې استفاده کول جائزدي، که نه؟ (۷۳۹/ ۱۳۳۷هج)

ځواب: په دې مسئله کې اختلاف دی یوقول په دې کې داهم دی چې دبېرته ورکولوشرط دعقدسره یاله عقدڅخه مخکې لګولی وي نودابیع فاسده ده، ځکه چې داشرط دعقددمقتضی په خلا ف دی اوداسې شرط بیع فاسدوي کمافی عامة کتب الفقه اوپه حدیث شریف کې راغلې دي نهی عن بیع وشرط (۲)، ځکه نوددې قاعدې سره سم دابیع فاسده شوه اوهمدغه راجح دی په درمختارکې راغلې دي: ثم ان ذکرالفسخ فیه اوقبله اوزعماه غیرلازم کان بیعا فاسداالخ (۳) فقط.

(۱) فتح القدیر: ۲/ ۳۵۵، کتاب الحوالة عندقول صاحب الهدایة ویکره السفاتج وعن الحکم عن ابراهیم قال: کل قرض جرّ منفعة فهوربو (مصنف ابن ابی شیبة: ۴/ ۳۳۳، کتاب البیوع والاقضیة، باب من کره کل قرض جرّ منفعة المطبوعة دارالکتب العلمیة، بیروت، لبنان)
(۲) عن عمروبن شعیب عن ابیه عن جده ان رسول الله ﷺ نهی عن بیع وشرط البیع باطل والشرط باطل الخ (المعجم الاوسط للطبرانی ۳/ ۲۱۱، باب العین من اسمه عبدالله رقم الحدیث: ۴۳۶۱، المطبوعة: دارالکتب العلمیة، بیروت، لبنان وکذافی بدائع الصنائع ۴/ ۳۸۷، کتاب البیوع، الشروط الفاسدة) (۳) الدرالمختارمع الشامی (۴/ ۲۷۵)، کتاب البیوع، مطلب فی بیع الوفاء ط رشیدیه.

په دووه کاله کې دننه دمکان دتعمیرولوپه شرط له حکومت څخه مځکه رانيول

سوال (۱۱۴) يوسړی له حکومت څخه مځکه رانيوله په دې شرط باندي چي که په دوه کاله کې دننه مې داستوګنې کورپکي جوړنکړنوله ماځخه دي همدغه مځکه حکومت ببله قيمته واخلي خواتفاقا همداسي وشول چي ده مکان نه شواى جوړکړنو حکومت پرمځکه باندي قبضه وکړه داشرعًا جائزدی ،که نه؟ (۱۳۳۷/۸۹۹هج)

ځواب اوله معامله کومه چي دحکومت سره دمځکې درانيولووشوه هغه ديادشوې شرط په وجه فاسده شوه لماروی انه عليه الصلوة والسلام نهی عن بيع وشرط (۱) اوفقهاؤڅرګندونه کړې ده چي کوم شرط دعقددمقتضی خلا ف وي اوپه کوم کې چي له عقدکوونکوڅخه ديوه يادمبيع ګټه وي هغه شرط عقدفاسدوونکی دی ،ځکه هغه معامله ماتول واجب شواودوهم ځل دحکومتورباندي په قبضه کولوحکومت مالک شو ،ځکه نورانيول ديوسړي ددغې مځکې له حکومت څخه صحيح دی امادشرعي حکم په وجه پرحکومت باندي دهغه قيمت بيرته ورکول لازم دي کوم چي ده له اول رانيوونکې څخه اخستی ووفقط.

په بيع کې ديرته ورکولوشرط لګول

سوال : (۱۱۵) که يوسړی دمځکې دخرڅولوپروخت ديرته ورکولوشرط ورباندي ولګاوی چي کله تاته دومره درکړم هغه وخت به مځکه بيرته اخلم نوداڅرنګه بيع ده جائزه ده ،که نه ؟ (۱۳۳۵/۱۳۳هج)

ځواب داډول سوداکول ديرته ورکولوپه شرط ناجائزه اوبيع فاسده ده وفيه اقوال ثم ان ذکرالفسخ اوقبله اوزعماه غيرلازم کان بيعافاسدا (۲) (درمختار)

سوال: (۱۱۶) په بيع کې دواپس ورکولوشرط لګول څه حکم لري ؟ (۱۱۱۰/۳۲- ۱۳۳۳هج)

ځواب: په بيع کې دواپس ورکولوشرط لګول بيع فاسده وي ،ځکه چي په حديث شريف کې راغلې دي نهی عن بيع وشرط (۳) په بيع کې دواپس ورکولوشرط لګول بيع فاسدوي اوفقهاء رحمهم الله په بيع کې.

(۱) مخکې حواله.

(۲) الدرمع الرد (۴/ ۲۷۵) کتاب البيوع ، مطلب فی بيع الوفاء

(۲) عن عمروبن شعيب عن ابيه عن جده ان رسول الله ﷺ نهی عن بيع وشرط البيع باطل والشرط باطل الخ (المعجم الاوسط للطبرانی ۳/ ۲۱۱ ، باب العين من اسمه عبدالله رقم الحديث: ۴۳۶۱ ، المطبوعة: دارالکتب العلمية ،بيروت ، لبنان وکذافی الصنائع ۴/ ۳۸۷ ، کتاب البيوع ،الشروط الفاسدة)

شرط لګول منع کړی دی اوپه بيع وفاء کې دفقهاؤاختلا ف دی ځيني ورته رهن (ګرو) وايې اوځيني ورته بيع فاسده اماکه معاهده دبيرته ورکولوله شودا وروسته جلا وشي نوپروانلري (۱).

کوم مال چي خرڅ نه شودهغه واپسول

سوال (۱۱۷) يوسړی دبل سړی څخه څه مال دجاکړپه توګه (جاګړدبيرته واپسولوپه شرط رانيول شوی شی (پيروزاللغات اوجاکړبيع خيارده) واخستی څومره چي خرڅ کړي دهغه قيمت خوورکړي ياپې نکړي ورپاته مال يې ماښام بيرته ورکړداصحيح دی ،که نه ؟ (۴۲۴/ ۲۹- ۱۳۳۰هج)

ځواب دجاکړصورت صحيح دی چي کوم مال له خرڅېدوڅخه پاته شي هغه واپس کړي په خياربيع کې چي دچااختياروي دهغه په هکله قطعی بيع نه وي دهغه بل په هکله قطعی بيع وي اوچاته چي خياردی کله چي هغه خيارساقط کړي دهغه په هکله به هم قطعی بيع وګرځي (۲) فقط.

دانعام په شرط سره يوشی خرڅول

سوال (۱۱۸) يوسړی دخولۍ دپاکولودپوډروپوړی په يوه روپې خرڅوي اووايې چي کله دځلوبښتوزروپوډرخرڅ شي نودتولورانيوونکودنوم ګولۍ به په ماشين کې اچول کيږي اوتولوته به خرڅ ورکول کيږي يوه يوه ګولۍ به له هغه څخه دباندي رالوېږي اول ته به لس زره انعام ،دوهم ته پنځه زره ،دريم ته دوه نيم زره اوځلورم ته پنځلس سوه انعام ورکول کيږي داډول اوپه دې نيت باندي ددغوپوډرورانيول جائزدي ،که نه ؟ (۲۱/ ۳۵- ۱۳۳۲هج).

ځواب دپوډروپوړۍ په يوه روپۍ په دې شرط باندي خرڅول چي رانيوونکو ته به په يادشوې

(۱) ثم ان ذکرالفسخ فيه اوقبله اوزعماه غيرلازم کان بيعافاسداولوبعده علی وجه المبعادجازولزم الوفاء به (الدرالمختار ۴/ ۲۷۵) ، کتاب البيوع ، مطلب فی بيع الوفاء ط رشيديه)

(۲) وخيارالمشتری لايمنع خروج المبيع عن ملک البائع لان البيع فی جانب الآخرلازم الخ (الهداية ۳/ ۳۰ ، کتاب البيوع ، باب خيارالشرط).

ترتیت انعام ورکول کیږي صحیح نه دی دابیع اوشراء (خرڅول ،رانیول) فاسد دي فقط.

په دې شرط مال رانیول چي ددې جنس څومره مال ستاسره شته ټول پرماخرڅ کړه

سوال: (۱۱۹) یورانیوونکی دیوخرڅوونکې سره دیوي مبیعې په اړه سوداوکړه په دې شرط باندي چي ددغه جنس څومره شی ستاسره شته ټول پرماخرڅ کړه بائع دیوې موجودې معلومې کوړی روپۍ څیني واخستې په قبضه کې یې کوړۍ ورکړه اودیادشوې شرط په اړه کوم اقراریاانکاریې ونکړپه دې صورت کې څه حکم دی ؟ (۱۸۷۵/ ۳۲- ۱۳۳۳هج)

ځواب: دکومې معلومې خرې ثمن چي یې واخست اومشتري ته یې وسپارله دهغې سوداوشوه دټول ملک کې په جنس سوداونشوه.

دشریکولوپه شرط دمکان رانیولولپاره روپۍ په پوروړکول

سوال: (۱۲۰) یوسرای په پنځه سوه روپۍ خرڅیږي یوسړی دارانیول غواړي خودهغه سره صرف دوه سل روپۍ شته دی بل سړی ته ورغی چي ماته څلورسوه روپۍ راکړه هغه ورته وویل چي په دې شرط باندي یې درکوم چي ماته په دغه مکان اودهغه په کرایه کې ونډه راکړه اوکله چي ته زمابرخه جلا کوې نوزماروپۍ ماته راکړه زمابرخه واخله ده داخبره ورسره ومنله مکان یې رانیوی چي داول سړی سره څلورسوه روپۍ راغلې نوهغه بل ته ورکړې دمکان برخه یې رانیوله دامعامله شرعا صحیح ده ،که نه ؟ (۱۵۹۰/ ۱۳۳۸هج)

ځواب: دامعامله صحیح ده ترڅوچي دبل شخص په دغه مکان کې ونډه دملک په اعتباروي دده لپاره په کرایه کې ونډه اخستل صحیح دي اوکله چي ده خپله برخه پراول شخص باندي خرڅه کړه له هغه وخته څخه اول سړی دټول مکان مالک شو.

په دې وینااوبائع ته روپۍ ورکول چي ره ستاڅخه فلانی شئ په دومره اندازه په فلاني ځای کې غواړم

سوال: (۱۲۱) یوسړی بل ته روپۍ ورکوي چي زه ستاڅخه فلانی شی په دومره اندازه په فلاني ځای کې غواړم داجائزدی ،که نه ؟ (۱۳۱۰/ ۱۳۴۲هج)

ځواب: که داسوداد بیع سلم په طریقه شوې وه اودسلم شرطونه پکي ټول موجود وي نودامعامله صحیح ده اوپه مطلق بیع کې داشرط لګول چي فلانی ځای ته به ته رارسوي بیع فاسده وي کماورد (نهی عن بیع وشرط (۱)) فقط.

په دې شرط درباندي خرڅول چي مشتري به وبائع ته قرض ورکوي

سوال: (۱۲۲) زید پرعمرباندي یوشی خرڅوي مثلا کتاب یاقرآن کریم زیدوایي چي داشیان پرتاخرڅوم که ته ماته شپږروپۍ راکوي یاپنځه روپۍ لس آنې پاوکم دوې روپۍ ددې شی بیع اونورپه قرض حسن باندي خوددې پورغوښتنه به ته دروژې ترمیاشتې پورې له ماڅخه نه کوي ،څکه نوهمدادول سوداوشوه اوعمرومقررې روپۍ ورکړي درې میاشتې وروسته عمروایي چي زمادپورو پې راکړه زیدوایي چي زموږبیع فاسده ده زه ماتوم عمرانکارکوي اووایي چي ماپردې مبیع باندي محنت کړی دی نووقایه مې وراچولې ده آیاپه رشتیادابیع فاسده ده اوماتول یې واجب دي ،که نه ؟ اودوقایې وراچولوپه هکله څه حکم دی ؟ اوکه داپوراوس ورادا کړي نودابیع صحیح کیږي ،که نه ؟ (۹۱۰/ ۱۳۴۵هج)

ځواب: فلوشرط ان یسکنهافلان اوان یقرضه البائع اوالمشتری کذافالاظهر الفسادذکره اخی زاده وظاهر البحرترجیح الصحة الخ(۲) (درمختار) لنډه داچي دیوشی

(۱) عن عمروبن شعیب عن ابیه عن جده ان رسول الله ﷺ نهی عن بیع وشرط البیع باطل والشرط باطل الخ (المعجم الاوسط للطبرانی ۲۱۱/۳، باب العین من اسمه عبدالله رقم الحدیث: ۴۳۶۱، المطبوعة: دارالکتب العلمیة ،بیروت ، لبنان وکذافی بدائع الصنائع ۳۸۷/۴، کتاب البیوع ،الشروط الفاسدة)

(۲) الدمع الشامی (۱۳۷/۴) کتاب البیوع ، مطلب فی الشرط الفاسداذاذکربعد العقداو قبله.

په دې شرط سره چې بائع به ومشتری ته (یامشتری وبائع ته) دومره قرض ورکوي فاسدوي اودفاسدبیع ماتول واجب ده اودنه ماتولوپه صورت کې انکار کوونکی ګنهګارېږي [ویجب علی کل واحدمنهما فسخه قبل القبض اوبعده مادام المبیع بحاله فی یدالمشتری اعدامًا للفسادلانه معصیة فیجب رفعها واذااصراحدهماعلی امساکه وعلم به القاضی فله فسخه جبرًا علیهما حقًا للشرع بزازیة (۱) (درمختار) اودماتیدوپه صورت مشتری خپله نوې وقایه بېلولای شي یادې هغه قېمت ځیني واخلي اوکله چې بیع له سره فاسده شوه نودپورپروخت باندي په اداکولو بیع نه صحیح کیږي فقط.

په دې شرط خرڅول چې غوښه ستااوڅرمن زماده

سوال: (۱۲۳) زیدغوا ،بزه یاګامېښه په دې شرط خرڅوي چې غوښه ته رانیسه اوڅرمن زماده په کوم قېمت چې زماخوښه شي په نفعه به یې خرڅه کړم دابیع جائزده ،که نه ؟(۲۰۰/ ۱۳۳۸هج)

ځواب: دادول سودانا جائزه اوحرامه ده کماصرح به الفقهاء (۲)

سوال: (۱۲۴) زیدخپله بزه په دې شرط خرڅوي چې دادې حلا له کړه نوغوښه په دومره مقررقېمت باندي واخله اوڅرمن ماته راکړه دابیع شرعًا جائزده ،که نه ؟ (۲۴۲/ ۴۲- ۱۳۴۷هج)

ځواب: په دې شرط باندي دحیوان بیع فاسدیږي اودڅرمنې بیع اوس یومخ ونه شوه له څرمنې ایستووروسته دحیوان رانیوونکې خوښه ده چې پرچاباندي یې خرڅوي که پربل چاېې خرڅوي اوکه یې پرده باندي خرڅوي چاچې ورته ویلې ووخودادې صفاورته وویل شي چې هغه وخت بیع نه وه صحیح شوې اوس یې خرڅوم اوقېمت دې هم اوس مقررکړل شي (۲) فقط.

(۱) الدرالمختارمع الشامی ، کتاب البیع آخرمطلب فی الشرط الفاسداذاذکر بعدالعقداوقبله ط رشیدیه.

(۲) واشارالمصنف الی ان کل مابیع فی غلافه فلایجوزکاللبن فی الضرع واللحمُ فی الشاة الحیة اوشحمها اوالیتها اواکارعهاوجلودها(البحرالرائق ۲/ ۱۲۳، کتاب البیوع ، باب البیع الفاسد).

په بیع کې دبائع دهرخه دذمواره جوړېدوشرط لګولوحکم

سوال: (۱۲۵) بې ،بې بخشو ، ددې نابالغ زوئ بلواولورمنې دیوجائدادپه میراث کې مالکان شوی ووبې بې بخشوخپله برخه اودنابالغ زوئ بلوبرخه دده په ولیه جوړېدواونومورې منې خپله برخه پرمشتری عبدالله خرڅ کړاوروپی یې ځیني واخستې بیع پوره شوه شپږکاله وروسته یوسړی درانیوونکې دښمن بې بې بخشواومنی دوکه کړدمنی اوبلونابالغ له طرفه دبیع دماتېدودعوی په محکمه کې وکړه ،ځکه نوبلوخونابالغ وونومورې منی یې هم نابالغه وګرځوله اوددغودواړوبرخې دمشتری له قبضې څخه ووتلې اوله مشتري څخه اته څلوېښت روپی. خرڅ واخستل شوکله چې دبیع په پاڼه کې دخرڅوونکوله لورې داشرط ووچې که په کومه وجه څه یاټوله خرڅه شوې مځکه دمشتري له قبضې څخه ووتله نودهغه دجواب موږذمواران یواودهغه دقېمت اوخرڅ ذمواران موږ یونومشتری دقېمت دبېرته ورکولواودهغه خرڅ چې دمشتري وشواوهغه خرڅ چې اته څلوېښت روپی. له مشتري څخه واخستلې شوې دعوی په محکمه کړې ده شرعًا چې په دې اړه کوم حکم وي په هغه موونازوئ (۲۹۱۸/ ۱۳۴۱هج)

ځواب: په دې صورت کې دخرڅ اودقېمت داخستومشتری حقداردی نومورې بخشوبه دااداکوي ،ځکه چې همدادمشتری دتاوان باعث ګرځېدلې ده اوکله چې دمشتری سره مبیع پاته نشي نودقېمت اونوروورکولوذمواره خرڅوونکې ده کماهومسلم عندالفقهاء فقط.

په ګارنتې سره دیوشی درانیولوحکم

سوال: (۱۲۶) په کارکوونکوباندي کوم کارپه ګارنتې سره کول یادکوم شی په ګارنتې سره درانیولوڅه حکم دی ؟ګارنتې کله خودبل شی دورکولوي اوځیني وختونه درانیول شویوګرېواونوروبېله مزدورۍ جوړولویومقرروخت وي ؟(۱۴۹۲/ ۱۳۴۲هج).

ځواب: په دې معامله کې دناخبرتیااودترمیم اونورودنه تعین په وجه فساد راځي،ځکه چې په داسي شرطونو سره بیع فاسدیږي (۱)

(۱) ولابیع بشرط لایقتضیه العقدولایلائمه وفیه نفع لاحدهما اوفیه نفع لمبیع (الدرالمختارمع ردالمحتار (۴/ ۱۳۲) ، کتاب البیوع ، مطلب فی البیع بشرط فاسد)

دبيعې له پوره کېدووروسته دبيرته ورکولووعده کول

سوال: (۱۲۷) يو سړي يوه مځکه خرڅه کړه په دوهمه قباله (بيع نامه) کې يې داهم وليکل چي که کوم وخت ماددې روپۍ دراداکړې نومځکه به بيرته راکوئ ،رانيوونکې هم دبيرته ورکولواقراورسره وکړددې ګټه ورانيوونکې ته جائزه ده ،که نه ؟ بيع وفاء څه ته وايې ددې څه صورت دې ؟(۱۳۴۱/۲۳۰هج).

خواب: په دې صورت کې اوله سوداصحيح شوه اوپه دومه قباله کې چي کومه اقاله (بېرته سوداماتول) وليکل شوه اومشترى هغه ومنه په دې سره په اوله بيع کې هيڅ تاوان رانغلى اماکه داولې سوداپروخت داقالې شرط ورباندې لګولاى واى نوهغه بيع به فاسده شوې واى (۱) دمشترى خوښه ده چي بيرته يې ورکوي ياېې نه ورکوي خوکله چي دبيرته ورکولووعده ورسره کړې ده نوښه دادى چي ددغوروپيوله اداکولووروسته دبائع له لورې مشتري (رانيوونکې) مبيع واپس کړي اوترڅوپورې چي يې مبيع واپس کړي نه وي ترهغوپورې مشتري دمبيع څخه استفاده کول صحيح دي چي مبيع دده ملک ده اوڅرګندونه دې وي چي هغه بيع چي پکې دبيرته ورکولوشرط وي بيع وفاء بلل کيږي خودغه صورت چي يادونه شوې ده چي دسوداپروخت باندې هيڅ شرط نه دى ورباندې ايښى بيع صحيح اوبشپړه ده دابيع وفاء نه ده اواقاله دمبيع اودروپيووبيرته ورکولوته ويل کيږي مثلا بائع اومشترى په خوښه مبيع (رانيول شوى شى) اوثمن دهغې بيع بيرته يوبل ته ورکړي يعنى مشتري مبيع بيرته ورکړي اوبائع ثمن بيرته ورکړي اودادواړه په خوښه کيداى شې فقط.

په تجارت کې څومره ګټه اخستل جائزدي

سوال: (۱۲۸) په سوداګري کي پريوه روپۍ باندې څومره ګټه اخستل جائزدي ؟ ۲۱۵۳/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

خواب: شرعًا په دې کې کومه تنګي نشته څومره چي مناسب اوپه عرف کې وي ګټه اخستلاى شي(۲)

(۱) مخکې حواله.

(۲) قال فى الهندية : ومن اشترى شيئاواغلى فى ثمنه فباعه مرابحة على ذلک جازوقال ابويوسف رحمه الله تعالى اذازادزيادة لايتغابن الناس فيهافانى لااحب ابيعه مرابحة حتى يبين (۳/ ۱۷۱، کتاب البيوع ، الباب الرابع عشرفى [المراب]حة والتولية الخ)

په تجارت کې دنقصان دجبران جائزه طريقه

سوال: (۱۲۹) زيد تجارت کوي کله ناکله داسي رانيوونکى هم راځي چي دوئ لس پنځه شيان رانيسي رانيوونکى په رانيولوکې له واجب قېمت څخه هم څه کمى کوي اوزيد په دې فکرچي په دوهم شى کې به قېمت ورزيات کړم راضي شي اودغه کمى دبل شى په قېمت کې پوره کوي دزيددغه طريقه دتجارت صحيح ده ،که نه ؟ (۴۸۲/ ۱۳۳۵هج)

خواب: داطريقه دزيد په تجارت کې جائزه ده فقط.

دپورپه وجه قېمت زيات اخستل

سوال: (۱۳۰) دپورپه وجه په نرخ کې کم ورکول اوقېمت زيات اخستل جائزدي ،که نه ؟ (۲۰۱۸/ ۱۳۳۴هج)

خواب: که دنغدواوپورپه قېمت کې فرق کول دفقهې په کتابونو کې جائزليکلى دى لکه چي په هدايه کې راغلې دي [الا يرى انه يزادفى الثمن لاجل الاجل (۱) دمثال په توګه حالاديومن وريجوقېمت پنځه روپۍ دي که مشترى اوس روپۍ ورکوي نوديومن قېمت به له ده څخه پنځه روپۍ اخستل کيږي خوکه مشتري اوس قېمت نه ورکول بلکه دوې ،څلورمياشتې وروسته قېمت ورکاوى اوثمن يې مؤجل (وروسته اداکاوى) ګرځولې دي په دې وجه بائع وايې چي زه ديوه من وريجوقېمت اووه روپۍ اخلم نوداصحيح دى اوهمدغه مطلب دهدايې دياد شوې عبارت دى فقط.

سوال: (۱۳۱) زيدوعمرته يومن وريجې په دې شرط ورکړي چي دومره موده وروسته به ددې عوض لس روپۍ اخلم که څه هم په اوس وخت په شپږروپۍ دوريجومن خرڅيږي داصورت جائزدى ،که نه ؟(۹۱۰/ ۱۳۴۰هج)

الجواب: په هدايه کې راغلې دي: الايرى انه يزادفى الثمن لاجل الأجل الخ.

(۱) الهداية ۳/ ۷۴، کتاب البيوع قبل باب الربو.

وهکذافی الشامی (۱) نوله دې څخه معلوم شو چې په مؤجل بیع کې (چې پکې قیمت پورې) داجل په وجه ثمن زیات اخستل صحیح دی فقط.

دپورپه وجه ګران خرڅول جائزدي خودمروة (مېړانې) خلاف دي

سوال: (۱۳۲) په اوس وخت دوريجو بيع مثلاً په دوې روپۍ من دی يو سړی بائع ته ووېل چې ته ماته په دې قيمت باندې څلوېښت ،پنځوس منه وريجې راکړه قيمت به څو مياشتې رووسته درکړم ،بائع ورته ووېل چې که قيمت وروسته راکوې نوزه دڅلورروپيو په حساب درکوم نوآيا داصورت جائزدی ؟(۴۵۷/ ۲۹-۱۳۳۰هج)

ځواب: داصورت جائزدی که څه هم دمېړانې په خلاف کېدو په وجه خوښ نه دی دفقهې په کتابونولکه هدايه اونوروکې څرګندونه شوې ده چې دنغدواوپورپه قيمت کې فرق کول دتجارانوعادت دی اوداصحيح دی(۲) فقط.

سوال: (۱۳۳) دپورپه وجه شی ګران خرڅول جائزدی ، که نه ؟(۱۵۲۸/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

ځواب: په هدايه اونوروکې راغلې دي الايری انه يزادفی الثمن لأجل (۳) له دې څخه ښکاره دی چې که مشتری ثمن حالانه ورکوي نوله ده څخه زيات قيمت اخستل صحيح دي مثلاً که کوم سړی نغدې روپۍ ورکړي رانيسي يې نوده ته لس سيره غله ورکوي اوکوم سړی چې اوس قيمت نه ورکوي په پورېې رانيسي وهغه ته اته

---

(۱) الهداية ۳/ ۷۴، کتاب البيوع ، قبل باب الربو وفی الشامی ويزادفی الثمن لأجله اذاذکر الأجل بمقابلة زيادة الثمن قصداً (الشامی (۴/ ۱۷۸) ، کتاب البيوع ، قبل مطلب فی الکلام علی الردبالغبن الفاحش ط رشيديه)

(۲) وفی بذل المجهودبيع المضطريکون من وجهين احدهماان يکون مضطراً الی العقدمن طريق الاکراه عليه فهذافاسدلاينعقدوالوجه الآخران يضطرالی البيع لدين يرکبه اومؤنة ترهقه فيبيع مافی يده بالوکس من اجل الضرورة فهذاسبيله فی حق الدين والمروة ان لايباع علی هذاالوجه وان لايفتات عليه بماله ولکن يعاون ويقرض ويستمهل له الی الميسرة حتی يکون فی ذلک بلاغ ، فان عقدالبيع مع الضرورة علی هذاالوجه جازفی الحکم ولايفسخ (بذل: ۴/ ۲۵۲، کتاب البيوع ،باب فی بيع المضطر)

(۳) الهداية: ۳/ ۷۴، کتاب البيوع ، قبل باب الربو.

يااووه سيره ورکوي داصحيح دي خودمېړانې مقتضی همداده چې فرق ونکړي خوپه جائزوالي کې هيڅ شبه نشته.

په نغدورانيول اوپه ګټه باندې په پورخرڅول

سوال: (۱۳۴) زيدوعمرته ووېل چې بکرچې کوم مال خرڅوي زه دهغه درانيولو اراده لرم خوزماسره روپۍ نشته اودی پورنه راکوي ،څکه نوته له بکرڅخه په نغدومال رانيسه پرماباندې يې په ګټه په پورخرڅ کړه نوآياپه داډول رانيولو سره دزيدتجارت جائزدی ،که نه ؟(۱۰۵۸/ ۱۳۴۳هج)

ځواب: داډول معامله کول شرعًا جائزه ده که عمرپراصل ثمن (بيع) باندې دمعلومې ګټې سره دزيدسره معامله کوي نودابه مرابحه بيع وي اوکه هغه ډول څرنګه چې عامې سوداوې کيږي نودابيع مطلقه ده دواړه صورتونه شرعًا جائزدي.

دسوداخيستوپه شرط په پورخرڅول

سوال: (۱۳۵) دتجارت مال په دې شرط سره په پورخرڅول چې دمودې ترپوره کېدووروسته به دمال دګټې څخه پرته په روپۍ کې دوې پيسې ياکمې اوزياتې به دمياشتې نوره ګټه هم راکوي نوداجائزده ،که نه ؟اوګټه اخستل جائزدي ،که نه ؟(۳۴۲/ ۲۹-۱۳۳۰هج)

ځواب: په بيع کې داډول شرط لګول جائزنه دی اوګټه اخستل صحيح نه دي (۱)

سوال: (۱۳۶) زيددرخت اوټوکرانوتجارت کوي ده وبکرته دڅلوروسوورو پو ټوکران په سل کې په شل روپۍ ګټه ديوې مياشتې دمودې په وعده ورکړاوورته يې ووېل چې که دوعدې سره سمې روپۍ اداشوې نوښه خبره ده کنې له ټاکلې مودې وروسته به په سل کې يوه روپۍ ګټه راکوې بکرهم په دې راضي شوداجائزده ،که نه ؟(۲۹۲/ ۳۲-۱۳۳۳هج)

ځواب: داجائزنه دی بلکه حرام دی.

---

(۱) ولابيع بشرط لايقتضيه العقدولايلائمه وفيه نفع لاحدهمااوفيه نفع لمبيع الخ (الدرمع الرد(۴/ ۱۳۲) ، کتاب البيوع ، مطلب فی الشرط الفاسداذاذکر بعد العقداوقبله ط رشيديه.

سوال: (۱۳۷) یو سړی په دې شرط بیع کوي چې که په ټاکلې موده کې قیمت را دا نکړې نو د مثال په ډول په سل روپۍ کې به یوه آنه یا دوې آنې سود اخلم دا بیع جائزده ، که نه ؟ او په دغه سړي پسې لمونځ روا دی ، که نه ؟ (۱۵۲۵/۳۲-۱۳۳۳هج).

خواب: په دې شرط سود اکول حرام دي او کوم زیاتوب چې دی اخلي هغه سود دی په داسې سړي پسې لمونځ مکروه دی.

دبائع په خوښه په قیمت کې کمی کول جائزدی

سوال: (۱۳۸) څه فرمایي ددین علماء او مفتیان د شریعت متین د لاندي سوالونو په اړه دیو ښارګوټي تجارانو پخپل مینځ کې دا مشوره سره کوي چې کله مورد کپړوتان رانیسو نو دبائع د مال له قیمت څخه به یوه آنه مثلا کموو او دد غورو پونوم کسر بږدي د مال کارکوونکي خومسکینان دي دوئ بې له مال خرخو لوچاره نلري او د رانیوونکو داسې قانون دی ، څکه نودوئ مجبوره دي دکسرروپۍ ورکوي آیا شرعًا دا جائزدی چې دوئ دکسررواج وکړي او کمې بې کړي او دبائع دخوښې یاناخوښۍ په دواړو صورتونو کې به جائزوي که به دخوښې په صورت کې هم دنهی عن بیع وشرط په قاعده ناجائزوي ؟ (۱۵۴۸/۴۴-۱۳۴۵هج).

خواب: دبائع (خرخوونکي) په خوښه دا صورت جائزدی او په ناخوښه جائزنه دی فقط.

درانیوونکي له خوښې پرته په ثمن کې زیاتوب کول

سوال: (۱۳۹) (الف) دخرخ شوې شی بیع که قانونًا پوره شوې نه وي نو بائع په قیمت کې زیاتوب کولای شي ، که نه ؟

(ب) په بیع کې یو شرط لګول مثلا داچې په فلانۍ موده کې به زه خرخ شوی شی له تاڅخه بیرته اخلم جائزدی ، که نه ؟ (۴۷۲/۱۳۴۲هج).

خواب: (الف) دمشتري له خوښې پرته په ثمن کې زیاتوب صحیح نه دی.

(ب) دا شرط عقد فاسدوونکی دی په دې شرط سره کله چې په اصل او صلب دعقد کې وي بیع فاسد یږي.

سوال: (۱۴۰) خرخوونکی کوم شی پر رانیوونکې باندي دخرخولو لپاره خبره وکړه او بیا نه بې هم څیني واخسته دوي ، څلور ورځې وروسته خرخوونکی وایې چې زه هغه شی په هغه معلوم کړي قیمت نه درکوم بلکې دومره زیات غوارم آیا خرخوونکې ته دا اختیار شته ، که نه ؟ (۲۹۲۱/۱۳۴۵هج).

خواب: دمعاملې له کېدو او بیانې ورکولو وروسته وخرخوونکې ته دا اختیار نشته رانیوونکی له ده څخه مبیع (رانیولی شی) اخستلای شي اماکه پخپله خوښه بې رانیوونکی پرېږدي نو ده ته اختیار دی.

دبائع له خوښې پرته له مقررشوي قیمت څخه کمې روپۍ ورکول

سوال: (۱۴۱) (الف) که یو سړی له یوچا څخه کوم شی له قیمت مقررولو وروسته واخلي او قیمت دادا کولو پروخت له مقرر شوي قیمت څخه څه کم ورکړي نودی پاته قیمت راګرځولای شي ؟

(ب) که یو سړی وبل سړي ته دیو شي درانیولو لپاره مقررشوی قیمت ورکړي هغه ته هغه شی ارځانه ورپیدا شي نو پاته روپۍ اخستلای شي ، که نه ؟.

(ج) که کوم سړی د شیانو له قیمت څخه بېلې کړې روپۍ وباسي شیان رانیسي او هغه بېلې کړې روپۍ پخپل مصرف کې ولګوي نو صحیح دی ، که نه ؟ (۲۲۹/۱۳۴۱هج)

خواب: (الف) دده لپاره د پاته قیمت راګرځول صحیح نه دي.

(ب) دا هم صحیح نه دی.

(ج) دا هم صحیح نه دی بلکې دغه بېلې کړې روپۍ دې ورانیوونکې ته ورکړي

دبائع په خوښه له مقررشوي قیمت څخه کمې روپۍ اداکول

سوال: (۱۴۲) دلته دکپړو دخرخولو بازار لګیږي او دا رواج دی چې دکوم قیمت تاوان رانیول شي دقیمت ورکولو پروخت رانیوونکی وخرخوونکې ته دیوتان په قیمت نیمه پیسه کمه ورکوي دغه کمول دمشتري لپاره جائزدی ، که نه ؟ (۱۵۵۰/۱۳۳۵هج).

څواب: کله چې دا معروف او په عرف کې دي نو صحیح دي ګواکې قیمت کمیږي.

دبیع له پوره کېدووروسته که کوم څوک دمبیع
قیمت زیات کړي نو څه حکم دی ؟

سوال: (۱۴۳) دبائع اومشتری ترمینځ دیوې مځکې یامکان معامله وشوه دسوداپاڼه ولیکل شوه بیایوسړی سره په دې معاملې دخبرتیاددغه مبیع قیمت زیات کړداسي کوونکې ګنهګاردی ، که نه ؟ (۱۳۴۱/۲۵۱۸هج)

ځواب: دی هم ګنهګاردی خوزیاته ګناه پرهغه بائع ده کوم چي ددغه زیاتوب په وجه مځکنۍ سوداماته کړه اولومړی سودایې دمشتری له خوښې پرته نشي ماتېدای.

دبیع له پوره کېدووروسته دقیمت دکمې دعذرداورېدووړنه دی

سوال: (۱۴۴) یوسړی څه مځکه رانیوله خودخپلوۍ په وجه دبیع پاڼه نه ده لیکلې اوقیمت یې په هم هغه وخت ورکړی ووځه موده وروسته وویل شوچي دبیع پاڼه ولیکې نوهغه وویل چي هغه دې ماته قیمت ډېرکم راکړي وواوس دده داعذرصحیح دی ، که نه ؟ (۱۳۴۰/۳۸هج)

ځواب: دبائع عذردقیمت دکموالی په اړه داورېدووړنه دی.

په ثمن کې دځنډپه وجه له مقررشوې قیمت څخه زیاتې روپۍ اخستل

سوال: (۱۴۵) زیددړو ، مسواونوروتجارت کوي ده له بکرڅخه پنځه سېره لوبنې په یوولس روپۍ ، څلورآنې رانیول اوپه یوه میاشته کې دقیمت ورکولوخبره سره وشوه بکردیوې میاشتې پرځای په یوه نیمه میاشت کې قیمت ورکړنوپه داسي صورت کې دیوولسوروپیوڅلورآنوپرځای دوولس روپۍ یاله دې څخه کمی یازیاتی اخستل جائزدی ، که نه ؟ که زیددلوبنوورکولوپروخت داورته ویلې وي چي که په یوه میاشت کې قیمت راکوي پریوسېرباندي په لس روپۍ ، څلورانې قیمت راکوي اوکه په دوهمه میاشت کې راکوي نوپه سیرکې به یوه آنه زیاته راکوي که بکرداشرط ورسره ومنې نوجائزدی ، که نه ؟ (۱۳۴۳/۲۲۰۳هج)

ځواب: په دې صورت کې دزیدلپاره جائزنه ده چي له هغه مقررکړیوروپیوڅخه زیاتې واخلي چي دسوداپروخت

مقررشوی وي ددغه ځنډپه وجه زیدنوردکوم حق حقدانشوپه سوال کې چي کوم صورت لیکلی دی هغه همدارازناجائزدی په سوداکې داډول نارواشرطونه دعقددفاسدولوباعث ګرځي اوپه دې کې دثمن جهالت دی لکه چي له تردیدڅخه څرګنددی معلومه نه ده چي پرمشتری به کوم ثمن لازمیږي ؟ قال فی الهدایة وکذلک لوباع عبداعلی ان یستخدمه البائع شهراالخ اوعلی ان یهدی له هدیة لانه شرط لایقضیه العقدوفیه منفعة لاحد المتعاقدین الخ(۱) فقط والله تعالی اعلم.

دمالک له اجازې پرته ددلال په قیمت کې کمی کول

سوال: (۱۴۶) دمالک له اجازې پرته ددلال لپاره دقیمت کمول جائزدي ، که نه ؟ (۱۴۵۵/۱۳۳۵هج).

ځواب: ددلال لپاره دمالک له اجازې پرته قیمت کمول صحیح نه دی.

دقیمت له زیات ورښوولووروسته په کم باندي خرڅول

سوال: (۱۴۷) یودکانداردیوچاقوبیع اته آنې وښووه اوپه څلورآنې باندي یې خرڅ کړنوداخوبه دروغ نه وي ؟ (۱۳۳۳/۲۳۲هج).

ځواب: په دې کې هیڅ دروغ نشته.

سوال: (۱۴۸) یوسړی دګلابتونوتوله په پنځه روپۍ واخسته اوپه اته روپۍ باندي خرڅوي خومشتري ورته وایې چي په شپږروپۍ که توله راکوې نویې اخلم نودی که یې ورکړي نووبائع ته دروغجن ویل کیدای شي ، که نه ؟ (۱۳۴۵-۴۴/۲۰۱هج)

ځواب: داخوښکاره ده چي هرسړی خپل مملوک شی په هرقیمت چي وغواړي خرڅولای شي په دې شرط چي ترحدزیات غبن نه وي اوپه سودراتلوونکې مال کې ناجنس ورسره ګډکړي نوهیڅ وجه نشته چي داسي بائع ته دې دروغجن وویل شي.

پرښوولې قیمت زیاتوب

سوال: (۱۴۹) زیداوخالددوه سوداګران دي خالددڅه سامان اخستولپاره زید ته ورغلی

(۱) الهدایة۲۰/۳ ، کتاب البیوع ، قبل فصل فی احکامه.

اودهغه مال دهرهرشي پوښتنه کوله زيدچي پرکوموشيانوبيه ليکلې وه هماغه
اوپرکوموچې بيعه نه وه ليکلې هغه يې په خوله ورښودی کوم وخت چې قېمت ورښوول
کيدی هغه وخت دااندازه نه وه چي کوم مال به رانيسي وروسته هغه قېمت اوشيان
وليکل شول حساب وشوخالددغه ورښودلې قېمتونه دخپل رانيولوليپاره بللې وو،ځکه
نوده ته وويل شول چي داخوزموږدرانيولوقېمت دی په دې کې څلورآنې زياتوب
موږنوري هم اخلو له چنووهلووروسته پردغه ښودلې قېمت باندي په روپۍ کې ددريوآنو
ورزياتو لوفيصله دواړوډلوسره وکړه بائع روپۍ واخستي مال يې ومشتري ته
ورکړخوکوم قېمتونه چي ورښودل شوې دي په هغوئ کې ځيني داصل په خلاف هم دي
پرهغوئ زياتوب شوی دی نودامعامله جائزه ده ، که نه ؟(۵۴۲/ ۳۳-۱۳۳۴هج)
ځواب: دبيع دغه معامله پرثمن اومبيع باندي له قبضې کولووروسته صحيح شوه.

دمبيعي قېمت زيات ورښوول

سوال: (۱۵۰) که بايع دمبيعې بيعه له هغه نرخ څخه چي دی يې په هغهد خرڅولواراده لري زيات قېمت ومشتري ته وښيې نوجائزدی ، که نه ؟(۱۹۷۶/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

ځواب: صحيح ده.

مال رانيول پرهغه ګټه اخيستل

سوال : (۱۵۱) زيد له ډهلي څخه توکررانيوی اورايې وړی ددغه رانيول شوې پرهره روپۍ باندي په يوه آنه ګټه اخستلوباندي خرڅوي دغه ګټه جائزده ، که نه ؟

ځواب: صحيح ده.

سوال: (۱۵۲) بکروزيدته وويل چي له عمرڅخه دسلوروپيو مال رانيوی پربکرباندي په روپۍ کې په دوې آنې ګټه خرڅ کړداګټه صحيح ده ، که نه ؟

(ب) بکروزيدته وويل چي له عمرڅخه مال راواخله زيد پخپلوروپيوپه روپۍ کې په دوې آنې ګټه ده ته مال ورواخستي نوداګټه صحيح ده ، که نه ؟(۷۵۱/ ۱۳۳۷هج)

ځواب : (الف) له رانيولووروسته په روپۍ کې په دوې آنې ګټه مال خرڅول صحيح اوجائزدي.

(ب) نوکه زيدخپل ګټه اخستل هم ښکاره کړي ده چي زه پخپلوروپيومال رانيسم په روپۍ کې په دوې آنې ګټه وتاته درکوم نودامعامله صحيح ده فقط.

ددلال په دوکه سره زياتي روپۍ اخستل حرام دي

سوال: (۱۵۳) يومشتري ودلال ته وويل چي ماته داشی رارانيسه دلال ورته وويل چي بائع په شل روپۍ داشی راکوي په پټه په پنځلس روپۍ رانيوی ومشتري ته ورکړي دغه پنځه روپۍ ددلال لپاره اخستل جائزدي ، که نه ؟(۲۵۲/ ۱۳۳۸هج)

ځواب: دادوکه ورکول اوزياتې روپۍ اخستل ددلال لپاره حرام دي.

دغلې دپوردقېمت پرځای غله ورکول

سوال: (۱۵۴) زيد پرعمرباندي غله په پوردبازارپه بيه خرڅه کړه خبره داوشوه چي دکښت له تيارېدومخکې به روپۍ راکوي خوعمردمسکېنۍ اوناوسۍ په وجه دکښت له پخېدومخکې روپۍ ورنکړې اوورته وي ويل چي زه دروپيوپرځا ی غله درکوم داصورت جائزدی ، که نه ؟(۱۵۰۳/ ۱۳۳۷هج)

ځواب: په دې صورت کې بيع دغلې په غله سره نه ده بلکه دغلې په هغه قېمت باندي چي پرمشتري پاته دی دکښت په موسم کې غله رانيول کيږي ، ځکه نوداصورت جائزدی فقط.

ديوچامال په کم قېمت رانيول

سوال: (۱۵۵) که مالک دوېرې په وجه ديوشی قېمت کم وغواړي نوپه دغه قېمت باندي له ده څخه رانيول صحيح دی ، که نه ؟(۲۲۷/ ۱۳۳۸هج)

ځواب: کله چي مالک دخپل کوم شی قېمت کم وغواړي نورانيول له ده څخه په هغه قېمت باندي صحيح دی فقط.

دکاندارکه پخپله خوښه ومشتري ته څه ورکړي نودهغه اخستل جائزدي

سوال: (۱۵۶) مشتري پرمالک يادکاندارکوم شرط نه دی ايښی اوس که دکاندارپخپله

خوښه ومشتري ته څه ورکړي دهغه اخستل جائزدي ، که نه ؟(۱۲۲/ ۱۳۴۰هج).

ځواب: داصورت جائزدی فقط.

دباغ مېوه کله خرڅول پکارده

سوال: (۱۵۷) څه فرمايي علماء ددين په دې مسئله کې چي دآموپه موسم کې که آم ښه راښکاره شي چي دبيري ياپتاتي په اندازه ياله دې څخه څه غټ شي اورانيونکې ښه وکتل دزميني اوهوايي آفتونواندازه يې ولګوله پخپله مطمئن شونوخرڅول جائزدي ، که نه ؟آيادخرڅولوله پاره دهغوکې پکي پيداکېدواود پخېدوانتظارکول هم شرط دی ، که نه ؟ دهدايي له عبارت ومن باع ثمرة لم يبد صلاحهااوقدبدااجازالبيع (۱) دصلاح څخه څه مراددي ؟آيادمېوي دپيداکېدو صلاحيت که ترپايه دپخېدوصلاحيت ؟ بينوا وتوجروا(۱۴۸۵/ ۳۲-۱۳۳۳هج)

ځواب: ددې مطلب په اړه ددرمختارعبارت داسي دي ومن باع ثمرة بارزة اماقبل الظهرفلايصح اتفاقاظهرصلاحهااولاصح فی الاصح الخ ويقطعها المشتری فی الحال وان شرط ترکهاعلی الاشجارفسدالبيع (۲) اوپه شامي کې راغلي دي لکن بدوالصلاح عندناان تؤمن العاهة والفسادوعندالشافعی رحمه الله هوظهورالنضج وبدوّ الحلاوة الخ (۲) له دغوعبارتونوڅخه څرګنددي چي دمېوي خرڅول هغه وخت چي دبيرې اونوروغوندي شي بلکه له دې څخه مخکې هم کله چي مېوه ښکاره شي صحيح ده خوپردغه ونه باندي دپرېښوولوشرط پرلګول لکه چي معروف دی بيع فاسدوونکی دی لکه چي ددرمختاردعبارت له آخيرڅخه چي ښکاره دی اودشامي له عبارت څخه داهم معلوم شوچي دمېوې دصلاح ښکاره کېدوڅخه زموږپه نزدمراددادی چي له آفت اوفسادڅخه خوندي شي پخېدل يې ضروري نه دی اوامام شافعی رحمه الله وپخېدواوپه هغه کې دخوږوالي راتلونه صلاح فرمايي په درمختارکې له يادشوي عبارت څخه وروسته داهم ليکلي دي چي دامام محمدرحمه الله په نزدچي کله مېوه غټه چي له دې څخه دزياتې غټېدو

(۱) الهداية ۳/ ۲۲، کتاب البيوع ،قبل باب خيارالشرط.

(۲) الدرالمختارمع الشامی(۴/ ۴۲) ، کتاب البيوع ، مطلب فی بيع الثمروالزرع الخ ط رشيديه.

خيال نشته ، نوپرونه باندي دپرېښوولوشرط بيع فاسدوونکی نه دی (۱) نوګوياپه دې حالت کې بيع هم صحيح ده اوپرونوباندي دپرېښوولوشرط هم صحيح دی نوخرڅول په همداسي حال کې مناسب دی ترڅودامام محمدرحمه الله دمذهب سره سم دپرېښوولوشرط کوم چي ضروري اومعروف دی دبيع دفاسدېدوسبب ونه ګرځي.

سوال: (۱۵۸) کله چي داسې صورت وي چي مالک باغ نشي خوندي کولای يعنی دتاوان اندېښنه وي چي غل يادښمن به تاوان ورورسوي اومال به ضايع شي نوکوم وخت به دآموباغ خرڅول جائزوي ؟(۱۴۷۰/ ۱۳۳۸هج).

ځواب: له ګل څخه تروتلومخکې خودآموباغ رانيول ،خرڅول اونوريومخ باطل اوناجائزدي اوله ګل څخه تروتووروسته بيع صحيح ده خوپه دې کې داشرط لګول چي مېوه به ترپخېدوپورې پرونوباندي وي لکه چي معروف دی عقد فاسدوونکی دی ،ځکه نوداډول هم خرڅول نه دي پکاربلکه کله چي پوره مېوه غټه شي اوپای ته ورسيږي هغه وخت دې خرڅه کړي چي په داوخت په خرڅولو کې دامام محمدرحمه الله له قول سره سم کوم چي مفتی به دی بيع صحيح کيږي هکذافی الدرالمختار(۲).

دمېوودخرڅولوڅوناجائزصورتونه اودهغوئ دجوازحېله

سوال: (۱۵۹) دآمو ،اناروانوروباغونه که خرڅ کړل شي نودهغوئ دجوازصورت څه دی ؟

دلته دارواج دی چي کله بيع پرراغله هغه وخت باغ خرڅوي ځيني هغه دي چي کله آم ښه راښکاره شي ځيني هغه دي چي کله آم ښه راغټ شي بيايې خرڅوي اوپه هغه کې داشرط نه وي چي اوس آمونه پرې کړه بلکه دده خوښه ده که يې پاخه پرېکوي اوکه خام ؟کوم صورت چي دجوازوي هغه راته وليکئ ؟(۱۱۴۱/ ۱۳۳۸هج)

(۱) وان شرط ترکهاعلی الاشجارفسدالبيع کشرط القطع علی البائع ،حاوي وقيل قائله محمدرحمه الله لايفسداذاتناهت الثمرة للتعارف فکان شرطا يقتضيه العقدوبه يفتی بحرعن الاسراروفی الشامی قوله (وبه يفتی) قال فی الفتح ويجوزعندمحمدرحمه الله استحساناوهوقول الائمة الثلاثة واختاره الطحاوی لعموم البلوی (الدرالمختارورد المحتار(۴/ ۴۲) کتاب البيوع ، مطلب فی بيع الثمروالزرع والشجرمقصوداً ط رشيديه(۲) مخکښی حواله).

جواب: اقول وبالله التوفيق ترڅوچي مېوه ترګل وتلې نه وي ترهغو ددې بيع صحيح نه ده، اوکله چي اوس عرف دادی چي هغه تريخېدوپورې پرونوپرېږدي اوبايع اومشتري دواړوته دامعلومه ده چي دالمعروف كالمشروط په حکم دابيع دپرېښوولوپه شرط شوه، ځکه بيع فاسديږي كمافی الشامی قوله قيدباشتراط الترک ای قيد المصنف الفسادبه قوله: مطلقاای بلاشرط ترک وقطع وظاهره ولوکان الترک متعارفامع انهم قالوالمعروف عرفا كالمشروط نصاومقتضاه فسادالبيع وعدم حل الزيادة تأمل (۱) اودجوازحېله په دغوصورتونوکې داکېدای شي چي دمېوې تريخېدوورووسته معامله نوې کړي يعني بايع اومشتري دواړه مخکني سوداماته کړي په هغه قيمت اوس نوې بيع وکړي فقط.

دهيڅې يوې ونې ميوه هم دګل په مخکې خرڅول جائزنه دي

سوال: (۱۲۰) په لاندي بيان شويوونوکې کومه ونه بېله مېوې خرڅېدای شي اوکومه نشي کېدای ؟ ،ځکه چي تراوسه ماته دامعلومېږي چي دآمومېوه په ګل کې يعنی له ښکارېدومخکې نشي خرحېدای خواحتياطازه دټولوونوپه اړه چي لاندي ليکل شوې دی پوښتنه کول غواړم چي په ګل کې خرڅېدای شي ،که نه ؟آم ، جامن ، بيرې ،امرود، پهالسه ، (دبيروبرابرلږخوږه اوتروه مېوه ده) ،انځر،انار، سېب ،توت ،نارنګي اوليمبو(۱۳۸۴/ ۱۳۳۷هج)

ځواب: دټولومېوه داروونودميودبيع حکم هماغه دی کوم چي دآموحکم دی چي له ګل څخه تروتلومخکې دميووبيع يومخ باطله اودمېوې له ښکارېدوورو سته ددوئ بيع صحيح ده خوددغومېووپورنودپرېښوولوشرط لګول لکه چي معروف دی بيع فاسدوونکی دی نوکله چي معروف دادی چي دغه مېوه چي داستفادې وړنه ده فعلا نه پرېکول کيږي بلکي پرونوپرېښوول کيږي تريخېدوپورې نودابيع فاسديږي اودفاسدبيع حکم دادی چي دمشتري له قبضې کولوڅخه وروسته هغه دده ملک ګرځي خوپه دې کې خباثت اوناوړتيا وي ،ځکه واجب دادی چي دغه سوداماته کړي کنې مشتري اوبائع ګنهګارېږي اودجوازحېله داده چي دمېوې له پخېدووروسته مثلامخکنی سوداماته کړي دوهمه سودا

(۱) ردالمحتار(۴/ ۴۴) کتاب البيوع ، مطلب فی بيع الثمروالزرع والشجرمقصوداط رشيديه.

حالا وکړي يعنی ددغه مشتري سره دوهمه معامله وکړي ترڅوخباثت باقي پاتي نشي فقط.

له ګټورکېدوڅخه مخکې مېوه خرڅول اوله اول مشتري څخه ددغو مېوورانيول

سوال: (۱۲۱) له صلاح څخه مخکې اوڅوکاله مخکې دبيع کولويوحکم دی که څه فرق شته ؟ له اول مشتري څخه دنوروليپاره رانيول صحيح دي ،که نه ؟ په بيع کې دميوواستثناء کول اوددغوميوواستعمالول صحيح دي ،که نه ؟(۲۵۸۷/ ۱۳۳۷هج)

ځواب: داحنافوپه نزددمېوې له ګل څخه تروتلووروسته بيع جائزوي خودمېوې تريخېدوپورې پرونودپرېښوولوشرط لکه چي نن صباعرف دی عقدفاسدوونکی دی اوپه فاسدبيع کې مشتري له قبضې کولووروسته دمبيع مالک ګرځي نوله ده څخه رانيول هم صحيح دی اوله مخکې څخه بيع کول يادمېوې ترښکاره کېدومخکې بيع کول باطل دي اوپه دې کې مشتري مالک نه ګرځي نوله ده څخه رانيول هم صحيح نه دي اودمعلوم مقدارمستثنی کول (جلاکول) دمېوې صحيح دي ،ځکه نواستعمال دهغوئ صحيح دی(۱) فقط.

دباغ په خرڅولوکې څه مېوه استثناء کول

سوال: (۱۲۲) زيدخپل دآموباغ يادکومې بلې مېوې په نغدومثلاپه پنځوس روپۍ خرڅ کړاوله نغدوروپيوپرته څه آم دوزن په مقررولوله رانيوونکې څخه وټاکل اوس دغه آم اخستل جائزدي ،که نه ؟(۱۱۲۷/ ۱۳۳۵هج)

جواب: په دې کې اختلا ف دی خوپه ظاهرالرواية کې جائزدي فصح استثناء ارطال معلومة من بيع تمرنخلة لصحة ايرادالعقدعليهاولوعلی رؤس النخل علی

(۱) ماجازايرادالعقدعليه بانفراده صح استثناء منه فصح استثناء ارطال معلومة من بيع تمرنخلة لصحة ايرادالعقدعليهاولوالثمرعلی رؤس النخل علی الظاهر(الدرالمختارمع الردالمحتار (۴/ ۴۵) كتاب البيوع ،مطلب فسادالمتضمن يوجب فسادالمتضمن ط رشيديه.

الظاهر(درمختار) ومقابل ظاهرالرواية رواية الحسن عن الامام انه لايجوزواختاره الطحاوی والقدوری الخ(۱) (شامی: ۴/ ۴۱)

دکوموامونواوخرماووسوداچي دونوله مېوې کولوڅخه مخکې کيږي دهغوئ رانيول اوخوړل

سوال: (۱۲۳) دامونواوخرماووبيع دونوله مېوې کولوڅخه مخکې کيږي دوه درې کاله مخکې يې رانيسي دداسي امونواوخرماووخوړل جائزدي ،که نه ؟آياپه دې معامله کې دمسلمان اوکافرکوم توپيرشته ،که نه ؟(۱۸۲۴/ ۱۳۳۸هج)

جواب: له مېوې کولومخکې چي کومه بيع کيږي هغه باطله ده اوله قبضې کلووروسته هم دمشتري په ملک کې نه داخليږي بخلاف دفاسدبيع چي هغه دمشتري له قبضې کولووروسته په ملک کې داخليږي که څه هم په هغه کې خبث وي اوواپسول يې واجب وي نوپه باطله بيع رانيولې مېووخرڅول ناجائزدي اورانيول هم دهغه اوخوړل هم ناجائزدي اماچيري چي باطلې اوفاسدې بيع دواړې کيږي هلته دناخبرتيااومعلومات نه درلودلوپه وجه ورانيوونکې ته ګنجائش شته خوپه باطله بيع کې هيڅ ګنجائش نشته ،ځکه چي هغه په ملک دمشتري کي داخليږي هم نه اودتعاطی دبيع تصورهم په هغه کې نشي کېدای چي هغه داولې بيعې ترختمولووروسته جائزوي په درمختارکې راغلې دي: [واذاقبض المشترى المبيع برضابائعه صريحااودلالة الخ فی البيع الفاسدوبه خرج الباطل الخ ملکه الخ (۲) وفی الشامی والتعاطی انمايکون بيعااذالم يکن بناء علی بيع فاسداوباطل سابق امااذاکان بناء عليه فلاالخ (۳) وايضافی الدرالمختاروصرح فی البحربأن الايجاب والقبول بعدعقدفاسدلا ينعقدبهماالبيع قبل متارکة الفاسدففی بيع التعاطی بالاولی الخ(۳) فقط.

(۱) الدرالمختاروالشامی (۴/ ۴۵)کتاب البيوع ، مطلب فسادالمتضمن يوجب فسادالمتضمن ط رشيديه
(۲) الدرمع الرد ،(۴/ ۱۳۸) کتاب البيوع ، مطلب فی الشرط الفاسداذاذکربعد العقدأقبله ط رشيديه.
(۳) الدرمع الرد(۴/ ۱۲ کتاب البيوع مطلب: البيع بالتعاطی ط رشيديه.

له هندوانواوخټکوکولومخکې جوړنګان خرڅول

سوال: (۱۲۴) دخټکو ،هندوانواونوروجوړنګان له مېوې کولومخکې خرڅوي دغه رانيول اوخرڅول څرنګه دي ؟اوددې دجوازڅه صورت دی ؟(۲۱۱۴/ ۴۲ - ۱۳۴۷هج)

جواب: دخټکو ،هندوانو ،بانجنواونوروسبزيوجوړنګان خرڅول اورانيول جائزدي خومځکه دې هم دمعلومې مودې پورې په اجاره واخستله شي ترڅومعامله صحيح شي ،ځکه که مځکه په کرايه وانه اخستله شي اوجوړنګان ترمېوې کولوپورې هلته پرېښوول شي نوداعقدفاسدوونکی دی ،ځکه جوړنګان دې له بيخوسره رانيول شي اومځکه دې ترمعلومې مودې پورې په اجاره واخستله شي په درمختارکې راغلې دي [والحيلة ان يأخذالشجرة معاملة علی ان له جزء من الف جزء وان يشتری اصول الرطبة کالباذنجان واشجارالبطيخ الخ (۱) اوکه په کومه وجه معامله دبيع پورانه وشي نودبائع لپاره دمشتري بيانه بيرته ورکول لازم دي دبيع نه کېدوپه صورت کې بيانه راګرځول جائزنه دي .

ترګل وتلووروسته داموباغ خرڅول

سوال: (۱۲۵) زموږپه خوارواج دی چي دآموباغ له مېوې کولووروسته له غټېدواوپخېدومخکې خرڅيږي آياشرعًا ددې دجوازکوم صورت شته ؟(۲۲۰۷/ ۱۳۴۰هج)

جواب: حنفي فقهاء دابيع جائزبولې اوددغې مېوې پردرخته باندې دپرېښوولو شرط لکه چي معروف دی بيع فاسدوونکی بولي [ومن باع ثمرة بارزة اماقبل الظهورفلايصح اتفاقاظهرصلاحهااولاصح فی الاصح الخ وان شرط ترکهاعلی الاشجارفسدالبيع (۲) (درمختار) فقط.

په ګل کې باغ خرڅول اوونې په اجاره اخستل

سوال: (۱۲۶) دآموباغ له آموکولومخکې په ګل کې خرڅول جائزدي ، که نه ؟که په

(۱) الدرالمختارمع الشامی (۴/ ۴۴) ، کتاب البيوع ، مطلب فسادالمتضمن يوجب فسادالمتضمن ط رشيديه.
(۲) الدرمع الرد (۴/ ۴۲) ، کتاب البيوع ، مطلب فی بيع الثمرولاالزرع والشجر مقصوداط رشيديه.

ګل کي خرڅول ناجائزدي نوآيادااجارې شرعًااجازه کېداى شي ؟(۱۷۰۸/ ۱۳۴۰هج)

جواب: دآموپرونه که صرف ګلان وي مېوه يې نه وى کړې نودمېوې بيع باطله ده په شامي کې راغلې دي: [قال فى الفتح لاخلاف فى عدم جوازبيع الثمارقبل ان تظهر(۱) اوکه مېوه يې کړې وي نو هغه که حالادپوره استفادې وړوي اوکه نه وي دهغه بيع جائزده په دې شرط چې ترپخېدوپرونوباندي دپرېښوولوشرط نه وي په هدايه کې راغلې دي [ومن باع ثمرة لم يبدصلاحهااوقدبداجازالبيع لانه مال متقوم امالكونه منتفعابه فى الحال اوفى الثانى وقدقيل لايجوزقبل ان يبدوصلاحهاوالاول اصح (۳) اوپه اجاره باندي ونې اخستل جائزنه دي په شامي کې راغلې دي [ولاتعامل فى اجارة الاشجارالمجردة (۲) اوکه مېوه بېله شرطه رانيسي اوبيايې ترپخېدودبائع په اجازه پرونوپرېښوده نودمېوودزياتوب نفع دمشتري لپاره مباح ده په هدايه کې راغلې دي [لواشتراهامطلقًا وتركهاباذن البائع طاب له الفضل (۴) اودارازکه دباطلې اجارې په وسيله مېوه پرونوپرېږدي نودزياتې مېوې استفاده دمشتري لپاره صحيح ده په شامي کې راغلې دي: وان استأجرالشجرالى وقت الادراک بطلت الاجارة وطابت الزيادة لبقاء الاذن(۵) فقط.

وربشې ، غنم ، اومترله پخېدومخکې خرڅول

سوال: (۱۲۷) ماخپل کښت چې په نيمه برخه کې اوربشې اوغنم دي ا ، په نيمه کې مترِدي په ديرش روپۍ خرڅ کړ دکښت پرېکولوروسته دروپيووعده ده اوربشواوغنموخوړې کړې دي صرف پخ شوې لانه دي اودمتروپلۍ تراوسه لانبې نه دې راغلې ، کوموچې کړې پلۍ وکړې نوبيابه يې په څه کم قيمت سودانوې کړم داصحيح دى ، که نه ؟ (۳ /۱۳۷ /۱۳۳۷هج)

(۱) ردالمحتار(۴/ ۴۲) کتاب البيوع ، مطلب فى بيع الثمروالشجرمقصوداط رشيديه.
(۳) الشامى (۴/ ۴۴) کتاب البيوع ، مطلب فى بيع الثمروالزروع والشجرمقصوداط رشيديه.
(۲) الهداية ۳/ ۲۲، کتاب البيوع ، قبل باب خيارالشرط.
(۴) الهداية ۳/ ۲۷، کتاب البيوع ، قبل باب خيارالشرط.
(۵) الدرمع الرد (۴/ ۴۴) کتاب البيوع ، مطلب فى بيع الثمروالزروع والشجرمقصوداط رشيديه.

جواب: په يادشوې صورت کې داوربشو ، غنمواومتروبيع فاسده ده باطله نه ده ددې دجوازصورت همدادى چې دکښت له پخېدويااله پرېکېدووروسته مخکنۍ معامله ماته کړي له نوې سره دبيع اوشرامعامله وکړي که څه هم په مخکني قيمت باندي وي وکمولواوزياتولوته ضرورت نشته فقط.

دآموباغونه دڅوکلونولپاره په ټيکه اخستل

سوال: (۱۲۸) دآمواونوروباغونه دڅوکلونولپاره په ټيکه اخستل اوورکول روادي ، که نه ؟(۲۲۵۰/ ۱۳۳۸هج)

جواب: داټيکه صحيح نه ده ، ځکه چې داپه حقيقت کې دمعدوم شى بيع ده فقط

اوربشې اوغنم په وږوکې اودسبزيواونوروپه اندازه خرڅول

سوال: (۱۲۹) کوم سړى چې ولاړکښت دپخوغنمويانخودوياکوم بل پوخ کښت رانيول ، خرڅول کوي چې وزن يې نه معلومېږي اوسبزي اومېوې بېله تللوپه اندازه رانيول اوخرڅول جائزدي ، که نه ؟(۳۵۳۹/ ۴۲- ۱۳۴۷هج)

جواب: په درمختارکې راغلې دي: [كصحة بيع برفى سنبله وباقلاء وارزوسمسم فى قشرهاوجوزولوزوفستق فى قشرهاالاول وهوالاعلى الخ (۱) له دغه روايت څخه معلوم شوچې دغنموبيع کله چې غنم پخپل پوست کې اووږې کې وي صحيح ده اوسبزي ، مېوې اونوربېله تللوپه اندازه رانيول جائزدي کله چې هغه مخته موجودوي اوحال دهغوئ ښکاره وي فقط.

رانيول شوې ونه نه پرېکول

سوال: (۱۷۰) يوسړى يوه ونه خرڅه کړه رانيوونکې وويل چې ستاپه مځکه کې به ولاړه وي ، خرڅوونکې ورسره قبوله کړه وروسته خرڅوونکې مځکه پربل چا خرڅه کړه اوس هم دونې درانيوونکې لپاره درخته پرېکول پکاردي ، که دې ولاړه وي دمځکې رانيوونکى

(۱) الدرالمختارمع الشامى (۴/ ۴۵) کتاب البيوع ، مطلب فسادالمتضمن يوجب فسادالمتضمن ط رشيديه.

له ده څخه غوښتنه کوي شرعًاڅه حکم لري ؟ (۲۱/ ۱۳۳۸هج)

جواب : دمځکې ورانیوونکې ته اختیاردی چي دی دغه ونه ولاړه پرېږدي یاکه بې دپرېکولوامرکوي دونې ورانیوونکې ته هیڅ حق دده په مځکه کې دونې پرېښوولونشته فقط.

هندوکه له مسلمان څخه په درخته پورې مېوې رانیسي نوڅه حکم دی ؟

سوال : (۱۷۱) پرونه باندي دآموداني لګېدلې وي دشړشموددانوپه اندازه وي هندوله مسلمان څخه رانیولې په ګټه ،تاوان سره دابیع جائزده ده ، که نه ؟ اودتاړدونو(دخرماپه خیرلویه لوړه ونه ده چي دمېوې اوبه یې خوړې اونشه لروونکې دي) تېکه ورکول صحیح دي ،که نه ؟ (۹۴۲/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

جواب : داسوداخودمېوې پرونوباندي دپرېښوولوپه شرط باندي شوې ده ،ځکه فاسده اوناروا ده دارازدتاړدونوتېکه اخستل ناروادي.

دشرابو، بنګواوافیونودبیعې حکم

سوال : (۱۷۲) دشرابو ، بنګواوافیونوبیع صحیح ده ،که نه ؟ (۱۷۴۵/ ۱۳۴۲هج)

جواب : په درمختارکې راغلې دي : [وبطل بیع مال غیرمتقوم الخ کخمروخنزیر ومیتة الخ وفی الشامی قوله کخمرقیدبهالان بیع ماسواهامن الاشربة المحرمة جائز عنده خلافا لهماکذافی البدائع (۱) کتاب البیوع وفی کتاب الاشربة منه وصح بیع غیرالخمرممامرومفاده صحة بیع الحشیشة والافیون الخ وفی الشامی قوله وصح بیع غیرالخمرثم ان البیع وان صح لکنه یکره کمافی الغایة (۲) نومعلوم شوچي دشرابوبیع باطله ده اوله شرابوپرته دافیونو ،بنګواونورو بیع که څه هم رواده خومکروه ده فقط

سوال : (۱۷۳) دافیونو(تریاقو) اوبنګوبیع حرامه ده ،که نه ؟ (۲۰۵۲/ ۱۳۴۲هج)

جواب : په درمختارکې راغلې دي: [صح بیع غیرالخمرممامرومفاده صحة بیع الحشیشة

(۱) الدرالمختارمع الشامی (۴/ ۱۱۵) ، کتاب البیوع ، مطلب فیمااذا اجتمعت الاشارة مع التسمیة ط رشیدیة
(۲) الدرالمختاروالشامی (۵/ ۳۲۳) ، کتاب الاشربة ط رشیدیه.

والافیون قلت وقدسئل ابن نجیم عن بیع الحشیشة هل یجوز.؟فکتب لایجوزفیحمل علی ان مراده بعدم الجوازعدم الحل وفی الشامی قوله وصح بیع غیرالخمرای عنده خلافا لهمافی البیع والضمان (الی ان قال) ثم ان البیع وان صح لکنه یکره کمافی الغایة الخ (۱) (شامی) له دې څخه معلوم شوچي دافیونواونوروبیع مکروه ده اودکراهیة له مطلقوالې څخه ښکاره داده چي تحریمي مکروه ده کومه چي حراموته نژدې ده نودمسلمان لپاره له دې څخه پرهېزکول ضروري دي.

دشرابواوسپرټورانیول اوخرڅول

سوال : (۱۷۴) یومسلمان دانګریزي فوځیانودډلې تېکه داردی له ده څخه دنوروشیانوپرته شراب هم خرڅول غواړې خودهغه آمدني دځان سره نه ږدي بلکي وانګریزانوته یې په ډالۍ (تحفه) یارشوت اونوروکې ورکوي دیادشوې مسلمان لپاره داتجارت روادی ،که نه ؟ اوپه نوروکارخانوکې چي رواکارونه پکي کیږي ملازمت کول روادی ،که نه ؟

داسپرټ (دشرابوبیوډول) رانیول روادي ،که نه ؟ (۱۳۹/ ۱۳۴۳هج)

جواب : دشرابورانیول ،خرڅول قطعي حرام دي دکوم مسلمان لپاره په هیڅ حال کې هم اوپه هیڅ صورت کې هم روانه دي قال الله تعالی [انماالخمروالمیسر والانصاب والازلام رجس من عمل الشیطان فاجتنبوه لعلکم تفلحون] سورة مائده آیت ۹۰ وفی حدیث انس عن ابی طلحة رضی الله عنهما انه قال یانبی الله صلی الله علیه وسلم انی اشتریت خمرالأ یتام فی حجری فقال : اهرق الخمرواکسرالدنان (۲) وفی الدرالمختار: وبطل بیع مال غیرمتقوم الخ کخمر وخنزیرومیتة الخ (۳) لنډه داچي دکوم مسلمان لپاره داسي تجارت کول چي پکي دشرابورانیول اوخرڅول وي روانه دي اودهغه آمدني په یوشی کې لګول هم صحیح نه دي نورنوپه کومه کارخانه کې چي دشرابورانیول اوخرڅول نه کیږي اوکوم دشریعت په خلاف کارپکي کول نه راځي په هغه کارخانه کې مامور جوړېدل روادي اواسپرټ هم په حکم دشرابودي دده رانیول او خرڅول اواستعمالول

(۱) الدرمع الرد(۵/ ۳۲۳) ، کتاب الاشربة ط رشیدیه.
(۲) مشکوة المصابیح ص: ۳۱۸ ، کتاب الحدود ،باب بیان الخمروعیدشاربها.
(۳) الدرمع الرد (۴/ ۱۱۵) ، کتاب البیوع مطلب فیمااذااجتمعت الاشارة مع التسمیة ط رشیدیه.

Scanned with CamScanner

هم جائزنه دي فقط.

دهرډول شرابواوپه کومه دواکې چې شراب ورګډشوې وي دهغوئ درانیولو اوخرڅولوحکم

سوال: (۱۷۵) (الف) دانګوروشراب، اوربشو،ګورې اونوروجوړشویوشرابو درانیولو اوخرڅولو په اعتبارشرعًا څه فرق شته، که نه؟

(ب) که کوم دواخرڅوونکې کوم ډول شراب ددوا په غرض بېله ګټې خرڅ کړي نوڅرنګه ده (ج) له شراب خرڅولووروسته دهغه قیمت که په کومو حلالوروپیو ورګډشي چې ددغو دشرابو له قیمت څخه ډیرې زیاتې دي نوآیاتولهآمدني به حلاله شي؟

(د) داسې دوکانې چې له ولایت څخه راځي په هغوئ کې یوه دربیمه دانګوروشراب ورګډ کړل شوې وي دهغوئ درانیولو او خرڅولو څه حکم دی؟ (۱۴۲۲/ ۱۳۴۵هج)

جواب: (الف) دهرډول شرابورانیول اوخرڅول حرام دي په دې اړه په دوئ کې هیڅ توپیرنشته.

(ب) جائزنه دی.

(ج) کله چې روپۍ اوپیسې هیڅ معلومې نه وي، ځکه دغه حرامې روپۍ ورځینې بېلې کړئ اوچې کومې حلالې دي هغه بېلې کړئ په دې کې زیات احتیاط دی اوکه څه هم دګډوډووالې په صورت کې کله چې حرامې روپۍ کمې او حلالې زیاتې وي نودې ته دحلال والی حکم ورکول کیږي.

(د) په کومه دواکې چې شراب وي دهغه رانیول اوخرڅول هم حرام دي (۱) فقط

سوال: (۱۷۶) په کوموانګریزي دوایانوکې چې شراب ورګډوي دهغوئ تجارت حلال دی که حرام؟ (۲۰۳۷/ ۱۳۳۹هج)

جواب: ددغورواياتورانیول اوخرڅول حرام دي.

چې اسپرټ په ګډوي دهغه دواحکم

سوال: (۱۷۷) ډاکتري دواچې اسپرټ په ګډیږي دهغې خرڅول شرعًا صحیح دې او

(۱) مخکنی حوالې.

که نه؟، ځکه چې په دې کې نشه نه وي اومریض داخوړلای شي، که نه؟ (۷۷/ ۱۳۴۱هج)

جواب: ډاکتري دواچې پکې اسپرټ وي هغه فقهاؤحرامه لیکلې ده نوله هغه څخه پرهېزلازم دی (۱) فقط.

دمسلمانانولپاره په دارالحرب کې هم دشرابورانیول اوخرڅول روانه دي

سوال: (۱۷۸) مورس یوه جزیره ده چې ورباندې دبرطانیې والوحکومت دی آبا دی ددغه جزیرې ودرې لکه پنځه اویازره ته نژدې ده چې پکې ترځلوبښت زره زیات مسلمانان دي دعیسایانوآبادی له مسلمانانوڅخه څه کمه ده دمځکې محصول په دغه جزیره کې نه اخستل کیږي مسلمانان کښتګراوکروندګرهم دي اوپه تجارت کې هم ښه پوره برخه لري دیني مدرسې جاري دي مسجدونه شته په اذان، اقامت اود جمعې په قائمېدو اونورواسلامي شعائروکې دهندوستان په څېرآزادي شته په دغه جزیره کې یومسلمان له حکومت څخه ټیکه اخستې ده شراب خانه یې جاري کړېده دټیکې دنوروشرطونوسره ددووکارونوسره پابندي هم ضروري ده یوداچې پخپله به له حکومت څخه شراب رانیسي دوهم داچې پرهررانیوونکې که مسلمان وي اوکه نامسلمان به بې انکاره خرڅوي که څه هم په عامه توګه دمسلمانانودافعل خوښ نه دی خوخاص هغه ډله چې په کورنۍ کې داسړی شمیرل کیدی په ده باندې ددې کاردپرېښوولوکوشش کوي، ځکه نوډلې مشرله یومولوي صاحب څخه چې له یونیم کال راهیسې دلته اوسېدی فتوی وغوښته مولوی صاحب حکم ورکړچې مورس خودارالحرب دی مسلمان پرنامسلمان باندې شراب ،خنزیر،مرداره اونورخرڅولای شي اودادده لپاره حلال دي په دې ځواب سره دمسلمانانوتسلي ونه شوه، ځکه نودخدای لپاره ددې پوښتنې په تفصیل سره ځواب راته ولیکئ چې آیاداجزیره دارالحرب ده؟ که دارالحرب ده نوپه دې طریقه باندې دیوه مسلمان لپاره شراب رانیول اوخرڅول جائزدي؟ که جائزنه وي نوترڅوچې دی داکارپرېنږدي دده له کورنۍ څخه په ایستوکې خوبه کومه شرعي منع نه وي؟ (۲۹۶۴/ ۱۳۴۲هج)

جواب: په پوښتل شوې صورت کې دوې خبرې دبحث وړدي

(۱) واماالخمرفیحرم الانتفاع بهامن کل وجه وکرهواالتبخربفحم اطفی بالخمروالنظرالی الخمرفی الزجاج تلذذابلونها(فتاوی القنیة ص: ۱۲۸، کتاب الکراهیة والاستحسان، باب فی الکراهیة فی الانتفاع بالاشیاء النجسة)

لومړی داچي د مسلمان لپاره د شرابو سره ترون او له هغه څخه څه ډول استفاده کول (که په دارالحرب کې وي او که په دارالاسلام کې وي) ترکوم ځایه جائزدی ؟ دوهمه خبره داچي مورس دارالحرب دی او که نه ؟ که دی نو هلته د سود کارونه او فاسدې بیعې د مسلمان لپاره جائز کېدای شي ، که نه ؟

داولې خبرې په اړه قرآن ، حدیث او د فقهاؤ ځرګندونې صفا موجودې دي کوم چي یاده شوې ښکه د ترون ، تعاطی او شرابو څخه د استفادې په وجه حرام او ناروا دبولې کماقال الله تعالی : [انما الخمر والمیسر والانصاب والازلام رجس من عمل الشیطان فاجتنبوه الآیة (سورة مائده آیت نمر ۹۰) په دې آیت کې شراب د شیطان عمل او نجس بلل شوی له هغوئ څخه د پرهېزکولو حکم وکړنو د اجتناب او پرهېز د شرابو له احکامو څخه دي کوم چي د شرابو د تجارت او ترون په صورت کې پرځای نه پاتیږي او په دې کې د دارالحرب او دارالاسلام هیڅ اثر نشته.

۲- انما یرید الشیطان ان یوقع بینکم العداوة والبغضاء فی الخمر والمیسر و یصد کم عن ذکر الله ومن الصلوة فهل انتم منتهون (سورة مائده: آیت ۹۱) دا حکم هم مطلق دی.

۳- عن جابر بن عبد الله رضی الله عنهما انه سمع رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول عام الفتح وهو بمکة ان الله ورسوله حرم بیع الخمر والمیتة والخنزیر والاصنام الخ (۱) (متفق علیه) یعنی د شرابو او مردارې رانیول او خرڅول الله رب العزت او رسول الله صلی الله علیه وسلم حرام کړې دي دا حدیث هم د یادې شوې ښکې حرمت ثابتوي په دې وجه چي په دې کې د شرابو رانیول یا خرڅول دي یعنی دګټې له حلالوالی او حراموالی څخه قطع نظر پخپله تجارت د شرابو د تجارت کېدو په وجه حرام دی.

۴- عن انس عن ابی طلحة رضی الله عنهما قال یانبی الله انی اشتریت خمرا لا یتام فی حجری قال اهرق الخمر واکسر الدنان (۲) (مشکوة) له بیان شویو آیتو نو او حدیثونو څخه ثابت شو چي د شرابو تجارت یا ملابست او تعاطی دا ټول ناروا دي

(۱) مشکوة المصابیح ص: ۲۴۱، کتاب البیوع ، باب الکسب وطلب الحلال.
(۲) مشکوة المصابیح ص: ۳۱۸، کتاب الحدود ، باب بیان الخمر ووعید شاربها.

اوس د فقهاؤ څو مسئلې لیکل کیږي چي په هغوئ به دا ثابت شي چي له شرابو څخه هرډول استفاده کول هیڅکله هم روانه دی.

په البحرالرائق کې راغلې دي [لم یجز بیع المیتة والدم والخنزیر والخمر ای فی حق المسلم للنهی عن بیعهما وقربانهما (۱) یعنی د مسلمان لپاره د شرابو او خنزیر بیع په دې وجه ناروا ده چي مسلمان د دوئ دواړو له بیعې او ورنژدې کېدو او ملابست او مباشرت څخه منع کړل شوی دی له دې څخه صفا ښکاره دي چي پخپله بیع او پخپله و شرابو ته ورنژدې کېدل ناروا دي په دې وجه چي هغه شراب دي او دا وجه د دارپه بدلېدونه بدلیږي ، ځکه په هرصورت کې ناروا دي صاحب د البحر تردې مسئله لاندې دا حدیث رانقل کړی دی ان الذی حرم شربها حرم بیعها (۲) (۲/ ۱۸۷) چي ورڅخه ثابتیږي چي لکه څرنګه چي د شرابو له احکامو څخه د شرابو د څښلو حراموالی دی دارازد شرابو د بیعې حراموالی هم د شرابو له احکامو څخه دی نو لکه څرنګه چي څښل دده په هرحال کې حرام دي او د دارپه بدلېدو هغه حراموالی نه بدلیږي درازد شرابو دوهم حکم یعنی د بیعې حراموالی هم د دارپه بدلېدونه بدلیږي بلکي د شرابو د وجود سره به د څښلو د حراموالی په ډول ورسره وي په فتاوی قنیه کې له دې څخه هم زیات ځرګند دی [واما الخمر فیحرم الانتفاع بها من کل وجه الا ان تتخذ خلا اومریا وقال ابوحنیفة رحمه الله اکره الامتشاط بدردی الخمر وکرهوا التبخر بفحم اطفی بالخمر والنظر الی الخمر فی الزجاج تلذذا بلونها والانتفاع باب الارواث جائز الخ (۳) (قنیه باب الکراهیة) یعنی له سرکې جوړولو پرته هرډول استفاده له شرابو څخه د مسلمان لپاره حرامه ده او د شرابو په دردی (خیره) باندې زمونځ کول هم مکروه دي او که سکروټې په شرابو مړې کړې وي نو د خوشبو په غرض د هغه سکاره دودول هم مکروه دي دارازکه په ښیښه کې خوش رنګه شراب وي نو د هغه به رنګ د طبعیت سمولو لپاره ورته کتل هم مکروه دي تردې چي د یادې شوې ښکې حراموالی پهدې وجه ثابت شو چي په دې کې د خمر (شرابو) تجارت او د شرابو ملابست او د شرابو څخه فائده حاصلول پکې دي.

(۱) البحرالرائق ۲/ ۱۱۵- ۱۱۲، کتاب البیع ، باب البیع الفاسد-۲ البحرالرائق ۹/ ۱۴۰۰ اوائل کتاب الاشربة (۳) فتاوی القنیة ص: ۱۲۸، کتاب الکراهیة والاستحسان ، باب فی الکراهیة فی الانتفاع بالاشیاء النجسة.

چي دحراموالې دوهمه وجه ده جائزنه دی له دې پرته دیادې شوې ټېکې دناروا والې وجه بله هم ده هغه داچي دشرابو دذات سره معصیت (ګناه) قائم وي اودکوم شی سره چي ګناه قائمه وي دهغه خرڅول پرګنهګارانوباندي ناروادي ،ځکه چي په دې کې پرګناه باندي مرسته کول دي چي نهی په آیت کې راغلې ده قال الله تعالی [ولاتعاونوعلی الاثم والعدوان (سورة مائده آیت: ۲) دارازپه تکمله البحرالرائق کې تردغه مسئله العصیرمن خمارلاندي لیکلې دي لان المعصیة لاتقوم بعینه بل بعدتغیره بخلاف بیع السلاح من اهل الفتنة لان المعصیة تقوم بعینه فیکون اعانة لهم وتسببا وقدنهیناعن التعاون علی العدوان والمعصیة(۱) (تکمله بحر: ۳۲۰/۷)

پرګناه باندي مرسته کول تردې فقهاؤمنع کړې ده چي که دمسلمان پلارکافروي نودزوئ لپاره داروانه ده چي په کافرپلارباندي شراب وڅښې یاوهغه ته پیاله ورپورته کړي چي هغه پکې شراب وڅښي ،ځکه چي داپرګناه باندي مرسته راځي اوکه هغه شراب څښلې دي نوتشه پیاله له هغه څخه اخستلای شي کمافی التکملة ولایسقی اباه الکافرخمراولایناوله القدح ویأخذمنه ولایذهب به الی البیعة ویرده منهاویوقدتحت قدره اذالم یکن میتة الخ(۲) (تکمله بحر: ۲۱۰/۷) کله چي زوئ دپلارپه شراب څښلوکې مرسته نشي کولای نودیواسلام ددعوې کوونکې لپاره څومره دشرم خبره ده چي دی دمشرکانواوګنهکارانو لپاره دذلیلې دنیاپه خاطردشرابو ټېکه اخلي په شراب خوړلوکې ددوئ همکار جوړېږي له دې پرته نورې هم په فقه کې جزئیات شته چي له هغوئ څخه داثابتیږي چي دشرابورانیول اوخرڅول دمسلمان لپاره په هیڅ حال کې نشي جائزکېدای چي داوږدوالې له ویرې پرېښوول شول.

ددوهمې خبرې په اړه ترټولو مخکې داچي دمورس دجزیرې په رنګه ښارونوپه دارالحرب کېدواونه کېدوکې اختلاف دی اوکه بالفرض په یاده شوې جزیره کې هغه ټولې خبرې موجودې شي کومې چي ددارالحرب کېدولپاره شرط دي نوهم په پوښتل شوې صورت کې ځیني اجزاء داسي دي چي دهغوئ په موجودیت کې سره دمورس ددارالحرب کېداهم یاده شوې ټېکه ناروا ګرځي مثلا په یاده شوې ټېکه کې

(۱) البحرالرائق: ۳۷۰/۹ ، کتاب الکراهیة ، فصل فی البیع.
(۲) البحرالرائق: ۳۳۹/۹ ، کتاب الکراهیة ، فصل فی الاکل والشرب.

دوې خبرې لازمي دي : یوه داچي ټېکه داربه شراب له حکومت څخه رانیسي دوهمه پرمسلمان اونامسلمان دواړوباندي به یې خرڅوي داداسي حکمونه دي چي په دارالحرب کې په هیڅ ډول روانه دي ،ځکه دکوم مسلمان لپاره دشرابو مالک جوړېدل خواکه په رانیولو مالک جوړشي یاپه وسیله دوکیل یې رانیسي مالک جوړشي دواړه صورتونه شرعًا ناروادي کمافی الدرالمختار: [اوامرالمسلم ببیع خمرالخ (۱) اوتردغه مسئله لاندي علامه شامی رحمه الله اونورڅرګندونه کوي چي داوکالت هم تحریمي مکروه دی (۱) (بحروشامی ،باب البیع الفاسد) دارازدټېکه دارقانوناپردغه خبره مجبوره کېدل چي پرمسلمان اونامسلمان دواړوباندي به یې بېله انکاره شراب خرڅوي ودې خبرې ته مستلزم دی چي نوموړې ټېکه داردمسلمانانوسره هم باطلې بیعې اوسودي معاملې وکړي په نارواطریقه ددوئ مالونه حاصل کړي اوداهم په کوم صورت کې روانه دي قال الله تعالی [ولاتأکلوااموالکم بینکم بالباطل الآیة (سورة بقرة آیت: ۱۸۸) په دارالحرب کې دفاسدعقدجوازهم په دې شرط سره مشروط دی چي ورکوونکې حربې کافریادداراالحرب نوی مسلمان غیرمهاجروي اوکه اصلي مسلمان یاحربي مسلمان مهاجروي چي له هجرت وروسته ودارالحرب ته بېرته تللی وي نوله هغوئ څخه اخستل قطعًا حرام دي هم ،ځکه علامه شامی رحمه الله دولا(ربو) بین حربی ومسلم مستأمن لاندي څرګندونه کړې ده احترزبا لحربی عن المسلم الاصلی والذمی وکذاعن المسلم الحربی اذاهاجرالینانم عادالیهم فانه لیس للمسلم ان یرابی معه اتفاقا(۲) دادې هم څرګنده وي چي په دارالحرب کې دمردارې اوتورودقیمت چي کومه اجازه فقهاؤکړېده په هغې کې داڅرګندونه هیڅ ځای نشته چي اخستل ، نقلول اوملابست دمرداروهم روادی بلکې دمنظومه ابن وهبان له شعر: ع

ومامات لاتطعمه کلبًافانه // خبیث حرام نفعه متعذر

څخه معلومیږي چي ملابست اواستفاده له مردارڅخه منع دي(۳) (۸) (شامی ۲۹۰/۴)

(۱) اوامرالمسلم ببیع خمراوخنزیراوشرائهما ای وکل المسلم ذمیااوامرالمحرم غیره ای غیرالمحرم ببیع صیده یعنی صح ذلک عندالامام مع اشدالکراهة ...... لان العاقدیتصرف باهلیة وانتقال الملک الی الامرامرحکمی وقالا لایصح وهوالا ظهروفی الشامی (قوله یعنی صح ذلک) ای التوکیل وبیع الوکیل وشراءه بحر: قوله مع اشد کراهة ای مع کراهة التحریم الخ (الدرالمختار(۱۳۵/۲) کتاب البیوع ، مطلب فی بیع الشراب ط رشیدیه)
(۲) الشامی (۲۰۹/۴) ، کتاب البیوع ، قبل باب الحقوق فی البیع ط رشیدیه.
(۳) الدرالمختارمع الشامی (۳۳۹/۵) ، آخرکتاب الصید ط رشیدیه.

معلوم شوچي په یاده شوې ټېکه کې دشرابومالک جوړېدل اودمسلمانانوسره دفاسدومعاملواوسودی معاملوکولومنع اوګناه ضروري ده چي ببېله شکه ناروادی اوپه لاندي حدیث کې داخل دی [عن جابررضی الله عنه قال: لعن رسول الله صلی الله علیه وسلم آکل الربوومؤکله وکاتبه وشاهدیه وقال هم سواء رواه مسلم(۱)

لنډه داچي دمسلمان ټېکدارلپاره په دغه طریقه شراب رانیول اوخرخول هیڅکله راوانه دي بلکي باعث دلعنت اوګناه دي دی دشرعې په حکمونوخبرول پکاردي ترڅوچي دی پخپله دغه ناوړه کسب پرېږدي که خدای مکړه ده دشرعې حکمونوپرواونه ساتله اودغه ناوړه کسب یې نه پرېښووی نومسلمانانوته پکاردی چي له ده څخه اړیکي پرېکړي ترڅودی له دغه ناروا کسب څخه پرتوبه کولومجبورشي فقط.

دافیونودرانیولو اوخرڅولوحکم

سوال: (۱۷۹) دافیونو (تاریاقو) په ټېکه اخستل اوخرخول صحیح دي، که نه؟ (۱۸۵۷/ ۳۲- ۱۳۳۳هج)

جواب: دافیونورانیول اوخرخول دمسلمان لپاره ناروادي قال اللهتعالی [وتعاونواعلی البروالتقوی ولاتعاونواعلی الاثم والعدوان الآیة (سورة مائدة آیت: ۲)

سوال: (۱۸۰) دافیونوتجارت شرعًا روادی، که نه؟ (۲۰۵۲/ ۱۳۳۹هج)

جواب: په درمختارکې راغلي دي چي وصح بیع غیرالخمرممامرومفاده صحة بیع الحشیشة والافیون الخ وفی الشامی قوله وصح بیع غیرالخمرای عنده خلافا لهما الخ ثم ان البیع وان صح لکنه مکروه الخ (۲) نومعلوم شوچي دتاریاقوتجارت دامام صاحب رحمه الله په نزدروادی سره له کراهته اوصاحبین (امام ابویوسف ،امام محمد)رحمهما الله ورته حرام اومنع وایي وهوالاحتیاط فقط.

دفیونواودبنګودتخم تجارت اودهغوئ دآمدنی حکم

سوال: (۱۸۱) (الف) آیادافیونواوبنګودتخم تجارت صحیح دی، که نه؟ اوپردغه روپیوباندي زکوة

(۱) مشکوة المصابیح ص: ۲۴۴، کتاب البیوع، باب الربو.
(۲) الدرالمختاروالشامی (۵/ ۳۲۳) ، کتاب الاشربة ط رشیدیه.

واجب وي، که نه؟

(ب) ددې آمدني حلاله ده، که نه؟

(ج) کومه مځکه اوجائدادچي په دغه آمدني رانیول شوهغه حلال دی که حرام؟ (۴۲/ ۴۴_۱۳۴۵هج)

جواب: (الف ترج) په درمختارکې راغلي دي: وصح بیع غیرالخمرممامر ومفاده صحة بیع الحشیشة والافیون الخ وفی ردالمحتارقوله وصح الخ ای عنده خلافالهما الخ لکن الفتوی علی قوله فی البیع الخ ثم ان البیع وان صح لکنه یکره (۱) ردالمحتارکتاب الاشربة پنځم ټوک) له دې څخه معلوم شوچي دافیونواودبنګودتخم بیه که څه هم مکروه ده خودده قیمت دتاجرپه ملک کې داخلیږي اوکومه مځکه اوجائدادچي په دې رانیول شودهغوئ آمدني حلاله ده اوزکوة پردغه روپیوواجب دی فقط.

دتاړدونې داوبوخرڅولواورانیولوحکم

سوال: (۱۸۲) دتاړدونې اوبه خرخول روادي، کهنه؟ (۱۷/ ۳۹- ۱۳۴۰هج)

جواب: ترڅودتاړدونې په اوبوکې نشه نه وي راغلې ترهغوهغه دشرابوپه حکم نه دی رانیول اوخرخول یې صحیح دي اوهغه حلالې دي اوکله چي په هغوئ کې نشته راشي هغه وخت داپه حکم دشرابودي اوحرامې دي رانیول اوخرخول دهغه ناروادي (۲) فقط

دتمباکو، بیړیواوسګرېټودرانیولواوخرڅولوحکم

سوال: (۱۸۳) تماکو، بیړی اوسګرېټ خرخول روادي، که نه؟ (۱۹۷۶/ ۳۳- ۱۳۳۴هج)

جواب: صحیح دی خومکروه دی (۳)

(۱) الدرمع الرد (۵/ ۳۲۳) ، کتاب الاشربة ، ط رشیدیه. (۲) قال فی الدرالمختار: التحقیق مافی العنایة ان البنج مباح لانه حشیش اماالسکرمنه فحرام (الدرمع الرد (۳/ ۱۸۲) کتاب الحدود ، مطلب فی البنج والافیون والحشیشة ط رشیدیه
(۳) قال العلامة محمدامین الشامی رحمه الله: ان جوازالبیع یدورمع حل الانتفاع (ردالمحتار (۴/ ۱۱۳) ، کتاب البیوع ، قبیل مطلب فی بیع المغیب فی الارض ط رشیدیه)

سوال: (۱۸۴) تمباکو خرڅول روا دي ، که نه ؟ (۱۲۳۸/ ۱۳۴۱هج)

جواب: دتماکو رانیول اوخرڅول حرام نه دي ، ځکه چې پخپله دتماکو استعمال حرام نه دی خوښه نه دی نو دتمباکو تجارت هم مکروه دی اوددې په وسیله چې څه وګټل شي هغه حرام نه دي فقط .

دمردارې څرمن له رنګولووروسته خرڅول

سوال: (۱۸۵) که دکوم مسلمان حیوان مردارشي نودهغه څرمن له پخولو وروسته خرڅول اودهغه قیمت پخپل تصرف کې راوستلای شي ، که نه ؟ درنګولو څه مطلب دی ؟ (۲۸۲/ ۱۳۳۵هج)

جواب: دمردارې څرمن له دباغت وروسته خرڅول اودهغه قیمت پخپل کارکې صرفول صحیح دي اودحلال کړې حیوان څرمن بېله پخولوهم خرڅول صحیح ده (۱) اودباغت دڅرمن وچول یارنګول دي لکه چې مشهوردي (۲) فقط .

له دباغت مخکې دمردارې څرمن خرڅول ناروادي ولې دي . ؟

سوال: (۱۸۲) دمردارحیوان لنده څرمن خرڅول نارواوباطل ولې دي ؟ ددې څه حکمت دی ؟ (۱۰۳۴/ ۴۴-۱۳۴۵هج)

جواب: ، ځکه چې له دباغت اوپخولومخکې هغه دمردارې جزء ده اودهغه په حکم کې داخله ده اودمردارې حراموالي اومردارولې په نص ثابت دي اوپه بیع کې دمبیع مال کېدل ضروري دي اوپه شریعت کې لنده څرمن دمردارې له رنګولومخکې مال نه دی (۳)

(۱) وجلد میتة قبل الدبغ فباطل وبعده ای الدبغ یباع (الدرمع الرد (۴/ ۱۲۷) کتاب البیوع ، مطلب فی التداوی بلبن البنت للرمد قولان ط رشیدیه)
(۲) الدبغ مایمنع النتن والفساد والذی یمنع علی نوعین حقیقی کالقرظ والشب والعفص ونحوه وحکمی کالتتریب والتشمیس والالقاء فی الریح (الشامی (۱/ ۱۴۹) ، کتاب الطهارة ، مطلب فی احکام الدباغة ط رشیدیه)
(۳) بطل بیع مالیس بمال کالدم والمیتة الخ (تنویر الابصار مع الشامی (۴/ ۱۱۲) ، کتاب البیوع ، مطلب فی تعریف المال ط رشیدیه) وفی الشامی لکن اذا کان جلد حیوان میت ماکول اللحم لایجوز اکله وهو الصحیح لقوله تعالی [حرمت علیکم المیتة وهذا جزء منها (الشامی (۱/ ۱۴۹) ، کتاب الطهارة ، مطلب فی احکام الدباغة ط رشیدیه)

دمردارې دڅرمنې درانیولواوخرڅولوحکم

سوال: (۱۸۷) دمردارې دڅرمنې رانیول اوخرڅول جائزدي ، که نه ؟ (۳۴۱۹/ ۴۲-۱۳۴۷هج)

جواب: دمردارغیرحلال کړې حیوان اومه څرمن رانیول اوخرڅول جائزنه دي یعنی ددې بیع باطله ده اودبیع باطلې حکم دادی چې مشتري (رانیوونکې) له قبضې کولووروسته هم دمبیعې مالک شرعًانه جوړېږي (۱) په درمختارکې راغلې دي ، [وجلد میتة قبل الدبغ فباطل (۲) فقط .

له وچېدووروسته دمردارې څرمن رانیول روادي

سوال: (۱۸۸) (الف) دمردارې لنده څرمن رانیول صحیح دي ، که نه ؟ (۸۹۲/ ۴۴-۱۳۴۵هج)

(ب) دمردارې شوې غوا اوچه څرمن چې هلوکې ځیني لیرې شوې نه وي له ځنګل څخه راوړل جائزدي ، که نه ؟ (۸۹۲/ ۴۴-۱۳۴۵هج)

جواب: (الف) صحیح نه دی (۳)

(ب) له وچېدووروسته دمردارې څرمن رانیول جائزدي فقط والله تعالی اعلم .

له مالکې منبلووروسته دمردارې څرمن خرڅول صحیح دي

سوال: (۱۸۹) حلال حیوان که مړشي دهغه څرمن بېله دباغته خرڅېدای شي ، که نه ؟ بیع یې رواده ، که نه ؟ آیاصرف په مالګه وراندي اچولوڅرمن ددباغت حکم لري ، که نه ؟ (۱۳۴۱/ ۱۳۴۳هج)

جواب: بېله پخېدودمردارې څرمن رانیول اوخرڅول حرام دي اوپه وچولواومالګه لګولوهم درنګېدوحکم ورباندي کیږي اورانیول اوخرڅول ددې رواکیږي فقط .

سوال: (۱۹۰) لنده څرمن چې مالګه یې پرمنبلې وي دهغې رانیول اوخرڅول شرعًاڅرنګه دي ؟ (۲۷۴۲/ ۱۳۴۳هج)

(۱) البیع الباطل حکمه عدم ملک المشتری ایاه اذاقبضه (الدرمع الرد (۴/ ۱۱۸) ، کتاب البیوع مطلب : الآدمی مکرم شرعًاولوکافرًا ط رشیدیه)
(۲) تنویر الابصار مع الشامی (۴/ ۱۲۷) ، کتاب البیوع ، مطلب فی التداوی بلبن البنت للرمد قولان ط رشیدیه .
(۳) مخکنی حواله .

جواب: په مالګه سره هم دباغت کول روادي نورانیول اوخرڅول ددغه لندې څرمنې جائزدي په شامي کې راغلې دي [الدباغ مایمنع النتن والفساد الخ(۱)

سوال: (۱۹۱) دمردارې پرڅرمن باندي ښه ډیره مالګه مږئ چي دهغه په وسیله ترڅومیاشتوپورې الله رب العزت هغه څرمن نه خرابوي شرعًادې رانیول اوخرڅول روادي، که نه؟(۱۰۱/ ۱۳۳۸هج)

جواب: داهم دباغت دی، څکه نورانیول اوخرڅول ددې صحیح دي فقط.

بېله رنګېد،ودمردارې څرمن رانیول اوله دباغت وروسته خرڅول

سوال: (۱۹۲) یومسلمان سړی دمرداروڅرمنې بېله پخېدوتازه رانیسي رنګ یې کړي وروسته یې خرڅوي داګټه څرنګه ده؟ اوداسړی دکومې ګناه کوونکی دی پرده څه جرمانه راځي؟(۱۳۱۷/ ۱۳۳۷هج)

جواب: دمردارې دڅرمنې رانیول اوخرڅول له دباغت مخکې باطل اوحرام دي اوله دباغت وروسته صحیح دی اودڅرمنې وچېدل هم دباغت دی خودمردارې څرمن له وچېدوڅخه مخکې اوله دباغت څخه مخکې رانیول جائزنه دي اوکومه ګټه چي ددې په وسیله وشي هغه حرامه ده په درمختارکې راغلې دي [وبطل بیع مالیس بمال کالدم والمیتة (۲) وجلدمیتة قبل الدبغ وبعده یباع (۳) وفی الحدیث لاتنتفعوامن المیتة باهاب ولاعصب (۴) (رواه البخاری والمرادمن الاهاب الجلدالغیرالمدبوغ (۵) نودداسي کارکوونکی فاسق اوګنهګاردی اوکفاره ددې داده چي له دغه کارڅخه دې توبه وکاږي اوپه آئنده کې دي بېله دباغته دمردارې دڅرمنې رانیول اوخرڅول نه کوي اوهیڅ مالي جرمانه پرده باندی نشته فقط.

(۱) الشامی (۱/ ۱۴۹) ، کتاب الطهارة ، مطلب فی احکام الدباغة ط رشیدیه.
(۲) تنویرالابصارمع الشامی (۴/ ۱۱۲) کتاب البیوع ، مطلب فی انواع البیع ط رشیدیه.
(۳) الدرالمختارمع الشامی (۴/ ۱۲۷) ، کتاب البیوع مطلب فی التداوی بلبن البنت للرمدقولان ط رشیدیه.
(۴) عن عبدالله بن عکیم قال : اتاناکتاب رسول الله صلی الله علیه وسلم ان لاتنتفعوامن المیتة باهاب ولاعصب رواه الترمذی (مشکوة ص: ۵۳، کتاب الطهارة ،باب تطهیرالنجاسات)
(۵) الاهاب اسم للجلدقبل ان یدبغ من ماکول اوغیره ، جمعه اهب ککتاب وکتب (الشامی (۱/ ۱۴۹) ، کتاب الطهارة، مطلب في احکام الدباغة ط رشیدیه)

دانسان اوخنزیرله څرمنې پرته ټولې څرمنې په دباغت پاکیږي

سوال: (۱۹۳) دمرداروحیوانانودڅرمنورانیول اوخرڅول اودهغوئ څخه استفاده کول جائزدي، که نه؟(۱۲۰۵/ ۱۳۴۳هج)

ځواب: له دباغت وروسته دانسان اوخنزیرله څرمنې پرته ټولې څرمنې پاکیږي له دې وروسته دهغوئ رانیول اوخرڅول اواستفاده ځیني کول جائزدي(۱) فقط.

دمردارې څرمن رانیول اوله هغې څخه استفاده کول کله صحیح دي؟

سوال: (۱۹۴) (الف) که دیوسړی پاللی حیوان مثلا بزه اونورمړشی نوچي څرمن ځني وباسي خرڅولای یې شي، که نه؟ اوکه یې خرحولای شي نوپه کوم کارکې یې صرفولای شي(۱۵۲۲/ ۱۳۳۷هج)

(ب) زیاتره داسي کیږي چي مردارحیوان بنګیان اونوریوسي څرمن ځیني وکاږي هغه خرڅوي قصاب اونوریې ځیني رانیسي شرعًا څه حکم لري(۱۵۲۲/ ۱۳۳۷هج)

ځواب: (الف) څرمن له ایستوروسته چي ورنګوي له هغې څخه استفاده کولای شي یعنی که پخپله یې په کوم کارکې صرفوي یایې خرڅوي دمردارې له څرمنې څخه له دباغت مخکې استفاده کول حرام دي.

(ب) ددې حکم هماغه دی کوم چي په (الف) کې تیرشوچي که له دباغت څخه وروسته هغه خلګ خرڅوي نورانیول دهغه صحیح دي اواستفاده له هغه څخه کول جائزدي کنې جائزنه دی فقط.

سوال (۱۹۵) غوا، غویی، بزه اونورچي دکومې ناروغی په وجه مردارشي دهغه خرڅول صحیح دي، که نه؟ که دمردارې څرمن وباسي خرڅه یې کړي نوجائزده، که نه؟(۱۰۲۰/ ۱۳۴۰هج)

ځواب: دمردارې اودهغې دڅرمنې بیع بېله رنګولوصحیح نه ده فقط.

سوال: (۱۹۶) دمردارشویوحیوانانوڅرمنې داستفادې لپاره رانیول څرنګه دي(۳۷۲/ ۱۳۴۵هج)

(۱) وبعده ای الدبغ یباع الاجلدانسان وخنزیروحیة وینتفع به لطهارته حینئذ (الدرمع الرد(۴/ ۱۲۷) ، کتاب البیوع ، مطلب فی التداوی بلبن البنت الخ ط رشیدیه).

Scanned with CamScanner

ځواب: دمردارې دڅرمنې رانیول اوخرڅول بېله پوختیاجائزنه دي (۱) (درمختار) له دباغت وروسته یې رانیول اوخرڅول صحیح دي کمافی الحدیث [هلا استمتعتم باهابها؟الحدیث(۲)

مردارحیوان اودهغه دڅرمنې خرڅول

سوال: (۱۹۷) که غوا، ګامېښه پهکورکې مرداره شي نوددغه مردارشوې حیوان څرمن یاپخپله مردارحیوان خرڅول څرنګه دي ؟(۲/ ۱۳۳۵هج)

ځواب: دمردارحیوان یادهغه دڅرمنې خرڅول روانه دي حرام اوباطل دي اماکه دده څرمن وباسي له دباغت وروسته یې استعمالول یاخرڅول صحیح دي (۳) فقط.

دښکرلګولومزدوري اوداومې څرمنې دتجارت حکم

سوال: (۱۹۸) دښکرلګولومزدوري اوداومې څرمنې تجارت روادی ، که نه ؟ په تفسیرعزیزی کې یې حرام لیکلی دی ؟(۲۴۲/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

ځواب: دښکرلګولومزدوري حلاله (۴) اودمردارې ناحلالې کړې اومې څرمنې تجارت بېله شکه حرام دی.

---

(۱) مخکنی حواله.

(۲) عن ابن عباس رضی الله عنهما ان رسول الله صلی الله علیه وسلم مربشاة میتة فقال هلااستمتعتم باهابها؟ قالوانهامیتة قال انماحرم اکلها (صحیح البخاری:۱/ ۲۹۲، کتاب البیوع ، باب جلود المیتة قبل ان تدبغ)

(۳) بطل بیع مالیس بمال کالدم والمیتة(الدرمع الرد(۴/ ۱۱۲) ، کتاب البیوع ، مطلب فی تعریف المال ط رشیدیه.

وفیه ایضا : لقوله تعالی حرمت علیکم المیتة وهذاجزؤها (الدرمع الشامی (۴/ ۱۲۸) و کتاب البیوع ، مطلب فی التداوی بلبن البنت الخ ط رشیدیه)

(۴) عن انس بن مالک رضی الله عنهما قال: حجم ابو طیبة رضی الله عنه رسول الله صلی الله علیه وسلم فامرله بصاع من تمروامراهله ان یخففوامن خراجه (صحیح البخاری۱/ ۲۸۳، کتاب البیوع ،باب ذکرالحجام) وعن حمید قال: سمعت انسا رضی الله عنه یقول دعاالنبی صلی الله علیه وسلم غلامالناحجاما فحجمه فامرله بصاع اومد اومدین وکلم فیه فخفف من ضریبته (الصحیح البخاری لمسلم۲/ ۲۲، کتاب المساقاة والمزارعة ، باب حل اجرة الحجامة).

دڅرمنې له ایستلومخکې خرڅول

سوال: (۱۹۹) کله چې کوم حیوان حلا کړل شوکوم سوداګرراغلی چې څرمن یې پرماخرڅه کړه وروسته بیاڅرمن ایستل دابیع صحیح ده ،که نه ؟ اوپه غوښه کې خونقصان رانغلی ؟(۷۹/۱۰ ۱۳۳۷هج)

ځواب: دڅرمنې له ایستومخکې دهغې بیع صحیح نه ده.

دمردارې څرمن اوهډوکې خرڅول کله جائزدي

سوال: (۲۰۰) دمردارې تازه څرمن اوتازه هډوکې رانیول جائزدي ،که نه ؟ (۱۲۲۹/ ۱۳۴۱هج)

ځواب: دمردارې څرمن بېله دباغته رانیول اوخرڅول جائزنه دي اووچېدل دڅرمنې هم ددباغت په حکم کې دي (۱) نوکه وچه یې کړي ،خرڅوي یې نوصحیح دی اودمردارې هډوکې چې غوړځکې ورباندي وي دهغوئ رانیول اوخرڅول صحیح نه دي فقط.

دجتکې دڅرمنې رانیولواوخرڅولوحکم

سوال: (۲۰۱) دجتکې (هغه حیوان چې په توره سرځیني ووهل شي) دڅرمنې تجارت روادی ،که نه ؟(۱۸۸۲/ ۱۳۴۰هج)

ځواب: کوم حیوآن چېدالله رب العزت په نامه نشي حلال هغه مرداردی اودمردارې څرمن بېله دباغته خرڅول جائزنه دي اوتجارت دهغه حرام دی کماقال الله تعالی [الا ان یکون میتة] (سورة انعام آیت: ۱۴۵)

سوال: (۲۰۲) په توره سرځیني وهل شوې وزې څرمن رانیول اوخرڅول دمسلمان لپاره جائزدي ،که نه ؟اوڅوک چې داسې کوي دهغه څه حکم دی ؟(۳۲۱/ ۴۴-۱۳۴۵هج)

ځواب: دجتکې دوزې څرمن مرداره ده بېله پخېدودهغې رانیول اوخرڅول روانه دي اوڅوک چې دجتکې کارکوي اوخورې یې دهغه دکورډوډۍ نه دې خوړل پکارفقط.

---

(۱) الدباغ مایمنع النتن والفسادوالذی یمنع علی نوعین حقیقی کالقرظ والشب والعفص ونحوه وحکمی کالتتریب والتشمیس والالقاء فی الریح الخ (الشامی (۱/ ۱۴۹) ،کتاب الطهارة ، مطلب فی احکام الدباغة ط رشیدیه.

له حیوان حلالولومخکې يې څرمن خرڅول

سوال: (۲۰۳) کومه قرباني چې دلوئ اخترپه دوهمه ورځ کېدوونکې وه دهغې څرمن يې دلوئ اخترپه لومړۍ ورځ مانښام خرڅه کړه بيه يې ولاس ته کړه دابيع صحيح شوه ،که نه؟ اوداختردوهمې ورځې قرباني صحيح شوه ،که نه ؟ اوربدلې مودې چې دژوندي حيوان دڅرمنې بيع حرامه ده دوهم ځل سوداکول پکاردي خوڅرمن اوس بازارته تللې ده اوس څه رازبيع نوې کېدای شي اوس څه کول پکاردي اوددې قيمت څه حکم دی ؟ (۲۷۵۷/ ۱۳۳۷هج)

ځواب: داصحيح دی چې دژوندي حيوان دڅرمنې بيع حرامه اوفاسده ده دداسې بيعې حکم دادی چې هغه ماته کړې بې دڅرمنې له ببلولواودمشترې له قبضې کولووروسته بياييع کول پکاردي خوکله چې داګران دي اوبيع نشي نوې کېدای نودتوبې اواستغفارپرته نورهيڅ شی ددې کفاره نشي کېدای نوهغه قيمت دې صدقه کړي کوم چې دقربانۍ دڅرمنې حاصل شواوقرباني صحيح شوه فقط.

سوال: (۲۰۴) زموږپه ښارکې داورواج دی چې يوسړی دڅرمنوله تاجرڅخه روپۍ مخکې واخلي په کليوکې بزې رانيسي يايې پخپلوځاني روپورانيسي په دواړوحالتونوکې دژوندۍ بزې څرمن دڅرمنوپرتاجرخرڅوي اوشرط داوي چې کله حلاله شي هغه وخت به تاته څرمن درکول کيږي اوس دغه دبزې مالک پرغوښوخرڅوونکوژوندۍ بزه ببله څرمنې خرڅوي اوشرط داوي چې له حلالولووروسته به څرمن ببرته ورکوي غوښې والا په هغه وخت دغه بزه حلاله کړي غوښه اونوربازارته دخرڅولو لپاره يوسي اوڅرمن دبزې ومالک ته ببرته ورکوي آيا دادول بزې غوښه په بازارکې رانيول اودهغې خوړل جائزدي ،که نه ؟دادول دڅرمنې رانيول جائزدي ،که نه ؟(۱۲۹۱/ ۱۳۴۱هج)

ځواب: دادول دبزې اوڅرمنې خرڅول په يادشوي شرط فاسددي دابيع فاسدېږي اودادول بيع کوونکی ګنهګاردی اودداسې بيعې ماتول واجب دي خودرانيوونکې لپاره ددې غوښه خوړل حلال دي.

دژوندۍ بزې دڅرمن ياغوښې خرڅولوحکم

سوال: (۲۰۵) نن صباقصابانودڅرمنودګران والې په وجه يوه نوې طريقه بيع راايستلې

ده چې قصاب دژوندۍ بزې څرمن ياغوښه خرڅوي ددې بيعې څه حکم دی ؟ (۲۴۰۲/ ۱۳۳۷هج)

ځواب: دابيع دغوښې اوڅرمنې ناجائزاوفاسده ده که څه هم په فاسده بيع کې له قبضې کولووروسته مشتري مالک ګرځي خوپکې ناولتياوې ،ځکه داسې بيع ماتول واجب دي

دښکارکړي حيوان څرمن خرڅول جائزدي

سوال: (۲۰۶) دښکارکړي حيوان څرمن خرڅول جائزدي ،که نه ؟ (۱۰۵۲/ ۱۳۴۰هج)

ځواب: جائزدي فقط.

دناموجودحيوان څرمن رانيول

سوال: (۲۰۷) يوسړی وقصاب ته داسې ويناوکړه چې دوه غانښې ياڅلورغانښې بزې چې ته حلالوې دهغې څرمن په دوې روپۍ .لس انې يې زه اخلم حال داچې ددغه قصاب سره بزه اونورشته هم نه په دې صورت کې بيع صحيح کيږي ،که نه ؟ (۹۵/ ۱۳۳۵هج)

ځواب: دابيع نارواوباطله ده اماکه دبيعې معامله اوس ونکړي صرف وعده وکړي له راوستلووروسته بيع وکړي نوصحيح ده فقط.

دمرداري دڅرمنې رانيول اوخرڅول اودهغې ګټه په مسجداوعيدګاه کې صرفول

سوال: (۲۰۸) دمرداري دڅرمنې رانيول اوخرڅول روادي ،که نه ؟ اوددغې تجارت ګټه په مسجداوعيدګاکې لګول صحيح دي ،که نه ؟ (۱۵۵/ ۳۲-۱۳۳۳هج)

ځواب: دمرداري دڅرمنې رانيول اوخرڅول ببله رنګولوجائزنه دي باطل دي نوداسې روپۍ په مسجداوعبدګاه کې لګول صحيح نه دي په حديث کې راغلي دي [ان الله طيب لايقبل الاالطيب الحديث(۱) فقط.

(۱) عن ابی هريره رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله عليه وسلم [ان الله طيب لايقبل الاالطيب الخ] (مشکوة المصابيح ص: ۲۴۱، کتاب البيوع، باب الکسب وطلب الحلال).

خرڅوونکي عیب پټوي اورانیوونکي په خبردی نوڅه حکم دی

سوال: (۲۰۹) دلته څرمنې پخیږي چي کله پخې شي نوهغوئ وچوي اولړلو ندوالی پکې باقي پريږدي ترڅو يې وزن زيات شي کله چي څوک رانيوونکی راشي نوهغهٔ ته دا ښکاره کول کيږي چي داوچې دي رانيوونکی يې دمجبوريت په وجه رانيسي دعيب پټول اوداسي کول راودي ،که نه ؟اورانيوونکې ته دامعلوم وي چي داڅرمنې لندې دي (۸۲۱/ ۳۲-۱۳۳۳هج)

ځواب: دبائع لپاره عيب پټول حرام دي قال فی البحر[ان خيارالعيب يسقط بالعلم به وقت البيع الخ (۱) وقال صاحب الدرالمختار: لايحل كتمان العيب فی البيع اوثمن لان الغش حرام انتهى (۲) په دې صورت کې خياردعيب باقي نه پاتيږي قال الشامی فاذارضيه المشتری لاخيارله لانه قبله بكل عيب الخ (۳) اوپه عيب راضي کېدو لپاره په خوله ويناضروري نه ده بلکه خبرتياکافي ده کماقال الشامی ان الرضابالعيب لايلزم ان يكون بالقول الخ(۴)

دعيب له ښکاره کولوپرته خرڅول روانه دي

سوال: (۲۱۰) يوسړی يوحيوان رانيوی وروسته معلوم شوچي داناجوړه دی يعنی شبکوردی (دشپې شی نهويني) دورځې ښه ويني نواوس داسړی بېله دغه عيب ښکاره کولودی خرڅولای شي ،که نه ؟(۱۳۲/ ۴۴-۱۳۴۵هج)

ځواب: په درمختارکې راغلې دي لايحل كتمان العيب فی مبيع اوثمن (۵) يعنی دعيب پټول په مبيع ياثمن (پيسو) کې حلا ل اوروانه دی نوددغه عيب ورانيوونکې ته ښکاره کول ضروري دي فقط.

---

(۱) البحرالرائق ۱۱۱/۲، کتاب البيع فی آخرباب خيارالعيب.
(۲) الدرمع الرد (۱۰۹/۴)، کتاب البيوع، مطلب فی جملة مايسقط به الخيارط رشيديه.
(۳) ردالمحتار(۱۰۲/۴) ، کتاب البيوع، مطلب باعه علی انه کوم تراب الخ ط رشيديه.
(۴) الشامی (۱۰۰/۴) ، کتاب البيوع، مطلب فی تخييرالمشتری اذااستحق بعض المبيع ط رشيديه.
(۵) الدرالمختارمع الشامی (۱۰۹/۴) ، کتاب البيوع، مطلب فی جملة مايسقط به الخيارط رشيديه.

له هرډول عيب څخه دبرې والې شرط لګول

سوال: (۲۱۱) علماء ددين څه فرمايې په دې مسئله کې چي زيددرې کنبتې دکولاچي پکې اندازاً ۷۲۵منه کولاده پرعمرخرڅه کړه له خرڅولومخکې خرڅوونکې داسي ويناوکړه چي په دې کې کوم څه عيب وي زه دهغه ذموارنه يم مار، لړم ،خاوره اونورښه اوبدمال څه چي دي موجوددي عمروکتله رايې نيوله اويوسل پنځويشت منه کولايې خپل کورته وليږله اوعذريې پيښ کړچي مال لونددی زه يې نه اخلم دشريعت له مخې يې څه حکم دی ؟(۱۹۱۱/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

ځواب: په درمختارکې راغلې دی [وصح البيع بشرط البراءة من كل عيب وان لم يسم الخ (۱) نومعلوم شوچي په دغه صورت کې دمشتري (رانيوونکې) عذرنه اوربدل کيږي بيع لازمه شوه اوقيمت ددې پرمشتري لازم دی نورنوکه دبائع خوښه وي چي ببرته يې ځيني واخلي نوده ته اختياردی.

بېله ليدلوياپه نمونه کتلودمال رانيولوحکم

سوال: (۲۱۲) (الف) بائع ومشتري ته يوه دری دنمونې ورښکاره کوي رانيوونکی ورسره بيع معلوموي چي څومره دربيوته ضرورت دی آډروركوي اونغدې روپې اونورچي څه مقررشوې دي مخکې ورکوي په پای کې حساب سره کوي له معاهدې وروسته که دبازارنرخ پورته اوکښته شي بياهم معاهده کوونکی به ددې پابندي کوي جائزدی ،که نه ؟

(ب) ځيني رانيوونکې بېله ليدلويابېله دنغدويا پورنرخ معلوموله مال له بل ځايه راغوارې داډول رانيول اوخرڅول روادي ،که نه ؟(۱۸۲۱/ ۱۳۴۵هج)

ځواب: (الف) داډول رانيول اوخرڅول صحيح دي اودمعاهدې پابندي کول پکاردي.

(ب) بېله ليدومال رانيول صحيح دي خوله ليدووروسته ومشتري ته دبېرته ورکولواختيارشرعًا شته اودنرخ معلوموالی ضروري دی.

---

(۱) الدرالمختارمع الشامی (۱۰۲/۴) ، کتاب البيوع، مطلب فی البيع بشرط البراءة من كل عيب ط رشيديه.

له عیبجن شي خرڅولووروسته له رانیوونکي نه نقصان اخستلای شي ، نه یې بیرته ورکولای شي

سوال: (۲۱۳) زیدله بکرڅخه یوشی راوغوښت ، بکرددده له خوښې سره سم راونه لیږی زیدوبکرته دبېرته روکولوپاره وویل بکرهغه بېرته وانه اخستی زید خوروپې، ورلیږلې وي ،ځکه ده داتاوان یووړی په کم قیمت باندی یې خرڅ کړاوله بکرڅخه یې دنقصان غوښتنه وکړه بکراوس څه موده وروسته دخپل مال په اخستوراضی دی اوس که زیدخپل خرڅ کړی مال بېرته راواخلي یاداډول مال رانیسي وبکرته یې ورکړي نودابه رواوي ،که نه ؟ که زیدخپل نقصان ځیني واخلي ؟(۲۴۵/ ۱۳۳۷هج)

ځواب: زیدچي کله داشی خرڅ کړنواوس دی نه له بکرڅخه تاوان اخستلای شي اونه داشی بیرته وروا پسولای شي ،ځکه چي ددغه شی سره دبل رانیوونکې حق وتړل شواوپه درمختارکې راغلې دي چي له معلومولووروسته خرڅول مطلقا واپسول منع کوي [فلوبعده فلاردمطلقا(۱)وفی ردالمحتار: ثم اعلم ان البیع ونحوه مانع من الرجوع بالنقصان الخ(۲) اماکه بکرپه خوشحالی سره ده ته څه ورکړي نوداهیڅ پروانلري فقط.

درواج په وجه په سنا(یوډول بوټي دی) کې له اوبواچولووروسته خرڅول

سوال: (۲۱۴) یوسړی یوتاجرته سنادخرڅولولپاره یووړه له دې وروسته چي داروا ج شوچي په سنا خلک اوبه ګډوي بیایې خرڅوي ،ځکه له همدې رواج سره سم تاجروورته وویل چي ته هم پکي اوبه ګډې کړه رایې وړه کنې ستاسنانه رانیوله کیږي نوآیاداجائزدی ،که نه ؟(۴۵۷/ ۲۹ـ۱۳۳۰هج)

ځواب: اوس چي کله رواج شوچي بې داوبوله ګډېدوسنانه رانیوله کیږی نواوبه ورګډول اوپه دې حالت کې خرڅول روادي والله تعالی اعلم لنډه داچي رانیوونکې ته دوکه مه ورکوئ هغه ته صفاووایاست چي په دې اوبه ګډې دي اوددې دانرخ دی یاپخپله ورانیوونکي ته دعرف په سبب معلوم وي چي په سنااوبه ګډې شوې دي نوبیاده ته

(۱) الدرالمختارمع الرد(۹۲/۴) ، کتاب البیوع ، مطلب: لایرجع البائع علی بائعه بنقصان العیب ط رشیدیه.

(۲) الشامی (۹۱/۴)، کتاب البیوع ، مطلب فی انواع زیادة البیع ط رشیدیه.

دخبرورکولوهم اړتیانشته.

دعیب په اندازه قیمت کمول نوراخیستل

سوال: (۲۱۵) ماپریوه سړی زرټوکه یوکتاب خرڅ کړاوپربل سړی مې اته سوه ټوکه اول سړی له رسېدووروسته ماته ولیکل چي په خادم له پلټلووروسته معلوم شوچي ۵۲. کتابونه پوره دي نورنه دي پوره دوهم سړی ولیکل چي ټول پوره نه دي په دې کې ورقې کمې دي داکتابونه ماله یودربیم سړی څخه اخیستې ووهغه مې خبرکړهغه وویل چي ماپه خادم سم کتلې ووخومادااول اودوهم سړی بیان صحیح وبولی دااقرارمې وکړچي زه به داکتابونه درپوره کړم ،ځکه ماهغه ورقې ولیکلې ودوهم سړی ته مې ورکړي چي زماسره نشي چاپېدای تاسویې پخپله چاپ کړئ چي څه مصرف وي زماله روپیوڅخه یې واخله هغه قبوله کړه ورقې مې ورواخستې ترڅومیاشتوپورې ورقې له ده سره پرتې وي کله چي ده نکړې چاپ اواول سړی هم غوښتنه کوله نوماهغه ورقې له دوهم سړي څخه راواخستې واول ته مې ورکړې اول سړی اقراروکړچي زه داچاپ کړم خپل کتابونه به هم په پوره کړم اودوهم سړی ته به یې هم ورچاپ کړم هلته هم داورقې څه پرېبروپرتې وي اوڅه نه ،ې پرتې چي ددوهم سړی کره اوږولګېدی اوهغه کتابونه هم پکي وسوځېدل اول سړی له ټولودوولس سووڅخه زرروپی، په دوه واره راکړې اودوه سوه یې ددې لپاره وګرځولې چي دورقوله پوره کېدووروسته دهغوئ پرچاپ کاغذاونوروچي کوم خرڅ راشي هغه به ځیني راوګرځوم نورې به درکړم دوهم سړی یوه آنه هم نه ده راکړې که څه هم اقرارداووچي په میاشت کې به دوه سوه روپی، قسط درکوم آیاپه داسي صورت کې پردوهم سړی ددغوکتابونوقیمت اداکول واجب دی ،که نه ؟ اوماته له ده څخه داخستلوحق شته ،که نه ؟(۴۱۴/ ۱۳۴۰هج)

ځواب: ددغوکتابونوقیمت پردوهم سړی اداکول واجب دي اودورقودکمی په اندازه دې قیمت کم کړي نوردې ځیني واخلي.

که په ریبل ګاډی، کې رالیږلي مال ورانیوونکې ته کم راورسېدنوڅه حکم دی

سوال: (۲۱۲) زیددوکانداردی دتجارت سامان په آډراوفرمائش راتلووعمرته له ښاردباندي دریېل یاډاک خانې په وسېله

ليږي اوزيد عام اعلان کړی دی چي دلاړي دنقصان زيد ذموارنه دی عمرپه دې خبردی چي که په لاره کې نقصان وشونوزه به يې ورم زيد پخپلو مامورينو له شميرلو او کتلو وروسته وتاړی دربيل ګاډی په ذريعه يې مال ورولیږی اوروپی يې دډاک خانې په وسيله واخيستي اودغه ليږنه دمال زياتره دکاندارمال ليږوونکي پخپل نوم مال ورليږي اوربيل ګاډی والوته ګواکي هدايت دادی چي ترڅومشتري روپی درنکړي مال نشي اخستلای ، ځکه نوهمدغسي وي مشتري که روپی ورکوي نومال وصولوي کني هغه مال بيرته راشي اوس ددې مخته څوصورتونه داختلا ف اونزاع باعث پيښيږي : (الف) کله ، ناکله مال په لاره کې ورک شي ومشتري ته کم وررسيږي خودمشتري دعقلمندی په وجه له وصولولوڅخه مخکې دربيل ګاډی په مامورينوتلل کيږي اودبلتي له وزن څخه دکمېدوپه وجه کموالی ليکل کيږي په دې صورت کې ربيل ګاډی ذمواره ده خودپوښتني ورخبره داده چي مشتري له ربيل ګاډی څخه ددغه نقصان غوښتنه وکړی که له بائع څخه ؟

(ب) په پورته يادشوې صورت کې نقصان په لاره کې وشوخودمشتري دناپوهی ، سستی اوبې پرواهی په وجه مال له ربيل ګاډی څخه دراخستوپر مهال ونه تلل شو اونه ددوئ ومخته وشمېرل شواونه وليکل شوبلکي خپل کوريادکان ته راوړل هلته شمار کړنومعلوم شوچي دومره مال کم دی په داسي صورت کې ربيل ګاډی يومخ خلاصه ده نودانقصان پرچادی ؟

(ج) کله ، ناکله داسي هم کيږي چي ټول مال پوره صحيح اوسلامت راورسيږي خودبدنيتی اوخيانت په وجه وبائع ته دکم مال رسېدل وښيې دهغه دقيمت غوښتنه کوي په دې صورت کې څه حکم دی ؟(۲۰۲/ ۳۲- ۱۳۳۳هج)

ځواب: دزيد ددې اعلان چي دی دلاړې دنقصان ذموارنه دی داحاصل دي چي دی خپل مال پرهماغه ځای چيري چي يې دی قطعی خرڅوي څوک چي يې رانيسي هماغه ځای يې دی رانيسي اودلاړې دنقصان مشتري پخپله ذموار دی نوله دغه اعلا ن وروسته دعمرپه قيمت ليږلواودمال په راغوښتلواوبائع ته دثمن له رسېدووروسته تعاطی بيع وشوه ، ځکه چي دتعاطی په توګه له يوطرف څخه هم بيع کيږي په درمختارکې راغلې دي : واماالفعل فالتعاطی وهوالتناول الخ ولوالتعاطی من احدالجانبين علی الاصح فتح : وبه يفتی فيض الخ قال الشامی قوله ولوالتعاطی من احدالجانبين صورته ان يتفقاعلی الثمن ثم يأخذالمشتری المتاع ويذهب برضاصاحبه من

غيردفع الثمن اويدفع المشتری الثمن للبايع ثم يذهب من غيرتسليم المبيع فان البيع لازم علی الصحيح حتی لوامتنع احدهمابعده اجبره القاضی (۱) ددغه روايت دوهم مثال دپوښتل شوې صورت سره سم دی چي مشتري دمقررشوې قيمت سره سم ثمن ورولیږي اودااجازه يې ورته وکړه چي دامال دربيل ګاډی په وسېله راوليږئ نوکله چي پرثمن باندي له قبضې کولواودمبيع له تعيين وروسته بيع تامه شوه نواوس دنقصان ذموارمشتری دی ، ځکه چي بائع دمشتري له امرسره سم مال دربيل ګاډی ومامورينوته وسپاری نوکله چي داخبره ثابته شوه له دې وروسته دسوال دشميروجواب دادی (الف) دغه نقصان به مشتري له ربيل ګاډی څخه غواړي له بائع څخه دغوښتنې هيڅ حق ورپاته نشو.

(ب) دانقصان دمشتري دی.

(ج) پورته ثابت شوچي له بائع څخه وده ته هيڅ حق دغوښتنې پاته نشوکله چي هغه دمشتري له امرسره سم ټول مال وربيل ګاډی ته وسپاری.

په ربيل ګاډی کې راليږلي مال که رانيوونکې ته ونه رسيږی نوڅه حکم دی ؟

سوال: (۲۱۷) زيد ومحمودته يومال وليکی چي دامال راکړه محمودداخبره ورته وکړه چي مال راسي دروبه يې ليږم څه موده وروسته محموديوه بلتی اودمال فهرست راوليږي کله چي بلتی دځان سره واخسته ربيل ګاډی ته ورغلی نومال يې ونه موندی ربيل والوپه جواب کې ورته وويل چي ددغه مال بيمه نه وه ، ځکه چي ددغه مال قيمت ترسل روپی زيات نه ياست که ترسل روپی کم وايې نوقيمت به ورکول شوی وای اوس ددغه مال ذموارڅوک دی ؟(۱۵۱/ ۱۳۴۰هج)

ځواب: کله چي زيدته راغوښتی مال راونه رسېدی نوقيمت ددې پرده لازم نه دی (۲) فقط.

(۱) الدرالمختارورد المحتار(۴/ ۱۲) ، کتاب البيوع ، قبيل مطلب: البيع التعاطی ط رشيديه (۲) وان هلک بفعل اجنبی فالمشتری بالخياران شاء فسخ البيع فيضمن الجانی للبائع ذلک وان شاء امضاه ودفع الثمن واتبع الجانی (ردالمحتار(۴/ ۴۷) ، کتاب البيوع ، قبيل مطلب فی حبس المبيع لقبض الثمن ط رشيديه)

سوال: (۲۱۸) دزیداوعمرله پخواڅخه تجاررتي اړیکې سره شته زیدله عمرڅخه مال وغوښتی عمرمال ورولیږی بلتیۍ یې هم ورولیږله خوزیدته بلتیۍ ونه رسیده اونه دبلتیۍ په راتلوخبرشوی دی څه موده وروسته غوښتنه وشوه نومعلوم شوچي مال درلیږل شوی دی له ډاکخانې اورېیل ګاډی څخه معلومات وشوهغوئ دحکومت په زورخان خلاص کړعمرته خبرورکول شوچي ته پخپله راشه ددې غم وخوره خودده کوشش هم ګټورنشوپه دې صورت کې زیدرانیوونکې دمال دقېمت ذمواردی اوکه نه ؟ حال داچي دتاجرانه عرف سره سم کوم چي اوس رواجیږي مشتري هغه وخت ذمواردی کله چي بلتیۍ ده ته ورسیږي اوبلتیۍ وررسول دبائع په ذمه ضروري وي عمربائع داوایې چي زماپه ذمه دبلتیۍ درلیږل دي له لیږلووروسته زه څیني خلا ص یم اوثمن پرمشتری لازم شوزیدمشتري داعذرکوي چي کله بلتیۍ ماته نه ده رارسېدلې اونه دمال رالیږلوخبرراکول شوی دی په اول سرکې چاغلاکړی نوپرماباندي کوم ډول ذموارې نه راځي په دې اړه شرعي فیصله څه ده ؟ (۳۹۰/ ۱۳۴۳هج)

ځواب: مبیع چي کله له قبضې کولومخکې هلا ک شي نومشتري دهغه دثمن ذموارنه دی ،ځکه نوپه پوښتل شوې صورت کې ترڅوچي مال ومشتري ته نه وي رسېدلی نوهغه دبائع داهلاک شوپرمشتري دهغه ثمن واجب نه دي بائع بایددرېیل ګاډی والوڅخه غوښتنه وکړي په تیره بیاچي بلتیۍ هم مشتري ته نه ده رارسېدلې اوپه تجارت کې عرف همدادی چي ترڅوپورې دمال بلتیۍ مشتري ته نه وې رسیدلې نوهغه دثمن ذموارنه دی په شامی کې راغلې دي [وان هلک بفعل اجنبی فالمشتری بالخیاران شاء فسخ البیع فیضمن الجانی للبائع ذلک وان شاء امضاه ودفع الثمن واتبع الجانی(۱) فقط.

دکپړې تان یې دښکاره کولولپاره کورته یووړی خوهغه غلاشونوڅه حکم دی ؟

سوال: (۲۱۹) یوسړی له تاجرڅخه دکپړوتان خپل کورته دښکاره کولولپاره یووړی بله ورځ راغلی وي ویل چي هغه غلا شونوآیادی به دتان دقېمت څخه خلاص وي ؟ (۲۲۰/ ۴۴-۱۳۴۵هج)

(۱) ردالمحتار(۴/ ۴۷) ، کتاب البیوع ، قبیل مطلب فی حبس المبیع لقبض الثمن الخ ط رشیدیه.

ځواب: بېله قېمت مقررولودمبیعې دښکاره کولولپاره په وړلوکې وړوونکی ضامن نه وي کمافی الدرالمختار[اماعلی سوم النظر(۱) فغیرمضمون مطلقًا (۲) فقط.

دماموريه غلطي مال بل ځای ته ولاړی نودتاوان ضامن به څوک وي ؟

سوال: (۲۲۰) مولوی محمداصغرڅه مال په بمبۍ کې رانیوی چي دامال میوجنکش ته راولیږي زموږدماموريه غلطۍ هغه مال بل ځای ته ولاړی یعنی مهوته ولاړی دمهووالوپه غلطۍ هغه مال له مهوڅخه موګری ته ولاړی موګری والاومیوجنکشن ته ورولیږی له بمبۍ څخه دمیوجنکشن کرایه درې روپۍ دوې آنې وه خوزموږاودمهووالوپه غلطۍ سره ددرېیوروپیودوآنوپرځای یوولس روپۍ څلورآنې محصول ورکول وغوښت اوس آیادغه نقصان ټول پرموږدی که مهووال هم پکې شریکان دي ؟ (۱۴۲۲/ ۳۲- ۱۳۳۳هج)

ځواب: ښکاره ده چي دانقصان پردواړودی څومره اندازه چي دچاپه وجه نقصان وشوهغه ددې ضامن دی ،ځکه وکیل اواجیرکه مخالفت وکړي نوهغه ضامن جوړیږي اوعرفاچي کومې خبرې ثابتې دي هغه په درجه کې دشرطونودي نودعرف دشرطونوپه خلاف کوونکی به ضامن وي خوکه دمهووالوغلطي ستادماموردغلطۍ په وجه شوې ده نوهغه هم پرتاسوراځي فقط.

رانیوونکي حیوان آزادپرېښودی اوهغه ضائع شونوڅه حکم دی ؟

سوال: (۲۲۱) زیدله عمرڅخه یوه ګامېښه رانیوله دسوداپروخت ګامېښه موجوده نه وه عمرګامېښه دزیدپه کورکې وتړله دزیدښځې چي وولیدله وي ویل چي موږګامېښه نه اخلوګامېښه یې دعمرکره وروستله عمرله

(۱) مقبوض علی سوم النظردې ته ویل کیږي چي رانیوونکی وخرڅوونکې ته ووایې چي داشی ماته راکړه ترڅوزه وریاندې سوچ اوفکروکړم یایې بل چاته ښکاره کړم نوقبضه کړی شی به درانیوونکې سره امانت وي اودابیع نه ده نوکه داشی هلا ک شي نوقبضه کوونکی ضامن نه ګرځي.
اومقبو ض علی سوم الشراء دې ته ویل کیږي چي رانیوونکی درانیولوپه غرض وبائع ته ووایې چي داشی ماته راکړه که زماخوښ شونوداپه دومره اخلم نودابیع ده نوداکه هلا ک شونوقبضه کوونکی ضامن ګرځي.
(۲) الدرالمختارمع الرد (۴/ ۵۲) ، کتاب البیوع ، مطلب: المقبوض علی سوم النظرط رشیدیه.

ببرته له اخستوڅخه انکاروکړکله چي زيدپه خبرشونوزيدوويل چي درې څلورمياشتې كيږي چي مادګامېښه ليدلې وه اوس کمزورې ده اخيرچي عمرببرته وانه اخسته نوزيددعمرپه ناموجودګی کې ګامېښه خوشي پرېښوده دوې ،درې ورځې وروسته ورکه شوه نوداګامېښه دعمرضايع شوه که دزيد ؟ (١٨٨٨/ ١٣٣٨هج)

ځواب: په دې صورت کې دګامېښه دزيدضائع شوه پرزيدباندي دقېمت اداکول لازم دي (١)

دډاکخانې په وسيله ليږل شوې کتابونه که ورک شي نو

سوال: (٢٢٢) دکتابونوتجاران درانيوونکوپه آدرباندي دډاکخانې په وسيله کتابونه ليږي که کتابونه ورک شي نوپررانيوونکې تاوان يعنی دکتابونوقېمت وبائع ته ورکول واجب اولازميږي ،که نه ؟که لازميږي نوپه کومه قاعده ؟ (٢٥٥/ ٣٣-١٣٣٤هج)

ځواب: ښکاره دا ده چي ډاک اوربيل ګاډی وال په دغه صورت کې دخرڅوونکوووکيلان دي نوترڅوچي مشتري ته مبيع ونه رسيږي پرهغه قېمت نه لازميږي فقط.

دحکومت سره خيانت کوونکې دمال ليلامول اودهغه درانيولوحکم

سوال: (٢٢٣) مادوې دخاوروکاسي په ليلام کې رانيولې وروسته معلوم شوچي هغه ليلام ديونامسلمان دمال دحکومتي خيانت په مقدمه کې دحکومتي جرمانې په غوښتنه کې شوی ووشک دارلولېدچي شرعًا جرمانه جائزه نه ده اوس دغه کاسې زماله پاره استعمالول جائزدي ،که نه ؟که يې خرڅې کړم ؟ (١٢٧٨/ ١٣٣٨هج)

(١) څکه چي قطعی بيع شوې ده اوپرمبيع باندي دمشتري قبضه هم راغلې ده اوګامېښه مشتري خوشي کړې ده نودنقصان ذموارهم دی دی وان هلک بفعل المشتری فعليه ثمنه (الشامی (٤/ ٤٧) ، کتاب البيوع قبيل مطلب فی حبس المبيع لقبض الثمن الخ ط رشيديه.

ځواب: دچاپه مال کې په تعدی اوخيانت کولوضمان لازميږي داجرمانه نه ده نوپه پوښتل شوې صورت کې ددغوکاسومالک رانيوونکی وګرځېدی دده خوښه ده که يې پخپله استعمالوي اوکه يې خرڅوي فقط.

که له رانيوونکې کوم شی مات شونوڅه حکم دی ؟

سوال: (٢٢٤) زيدله عينکې خرڅوونکې څخه بيلابيل ډول عينکې کتلې اوداخستواراده يې نه وه ناڅاپه يوه کمانی دده په لاس کې بېله قصده ماته شوه په دې صورت کې شرعًا پرزيدتاوان راځي ،که نه ؟ (٨٧٩/ ٤٤-١٣٤٥هج)

ځواب: قال فی الدرالمختاراماعلی سوم النظرفغيرمضمون مطلقًا الخ قوله اماعلی سوم النظربان يقول هاته حتی انظراليه اوحتی اريه غيری ولايقول فان رضيته اخذته وقوله مطلقای سواء ذکرالثمن اولاالخ ولايخفی ان عدم ضمانه اذاهلک امالواستهلکه القابض فانه يضمن قيمته الخ (١) (ردالمحتارللشامی ٤/ ٥١) له دغه عبارت څخه څرګندده چي په دغه صورت کې ضمان لازم نه دی فقط.

داحتکار (ذخيره کولو) تعريف اوحکم

سوال: ٢٢٥) زيدغلې تجارت کوي يعنی په موسم کې دومره غله رانيسی چي دکوردخوراک ټولې اړتياوې له دې څخه پوره کوي اواته يااووه مياشتې وروسته داخرڅوي اوداړتياپه اندازه باندي يې راګرځوي ګواکي دمال له ګټې څخه خپل خرڅ راباسي اواصل روپۍ دغلې په خرڅولوپوره کوي غرض يې له دغه تجارت څخه همدغه دی چي زمااصل روپۍ پرځای پاته وي اوله ګټې څخه ټول کال زه غله خورم داصورت جائزدی که په دې کې احتکارلازميږي ؟ اودغه دګټې په روپوڅه وکړي ؟ (١٢٠٣/ ١٣٣٨هج)

ځواب: په درمختارکې راغلې دي چي احتکارهغه منع دی چي ښاروالااوکلپو الوته ضرررسوونکی وي اوپه شامی کې

(١) الدروالشامی (٤/ ٥٢) کتاب البيوع ، مطلب: المقبوض علی سوم النظرط رشيديه)

داحتکارتعریف دادی : دغلې راګرځول دګرانۍ په انتظار عبارت دهغه دادي وشرعًا اشتراء طعام ونحوه وحبسه الی الغلاء (۱) نودخوړلو په نیت رانیول خومنع شوی احتکارنه دی خودانیت کول چي دګرانۍ پروخت به زیاته غله خرڅه کړي ښه نه دی اوشبه داحتکارپه دې کې ضرورشته له دې څخه پرهېزپکاردی فقط.

سوال : (۲۲۶) که کوم سړی په کوم ښاریاښارګوټې کې چیري چي دغلې هیڅ کمی اوتکلیف نه وي دتجارت په غرض دزرویادووزروکومه غله په دې نیت رانیسي اوکښې یې ږدي چي کلهٔ څه ګرانه شي نوبه داغله په عامه توګه په بازارونوکې خرڅه کړله شي دداسي تجارت په اړه شرعًاڅه حکم دی ؟(۱۲۷۸/ ۱۳۴۰هج)

ځواب: غله اونورد ګرانۍ په انتظارښوول احتکاردی اواحتکارشرعًاتحریمي مکروه دی یعنی حرام ته نژدې دی خواحتکارمکروه اوحرام هغه دی چي ښاروالو ته ورڅخه ضرراوتکلیف وي اوکله چي ښاروالوته هیڅ ضرراونقصان نه وي نوحرام اوتحریمي مکروه نه دی خوبیاهم ښه نه دی په درمختارکې راغلي دي: وکره احتکارقوت البشرالخ فی بلدیضربأهله لحدیث الجالب مرزوق المحتکر ملعون (۲) فان لم یضرلم یکره (۳) فقط

سوال: (۲۲۷) دخوراکې توکوداحتکارڅه حکم دی ؟(۱۲۴۰/ ۳۲- ۱۳۳۳هج)

ځواب : دطعام اوخوراکي شیانواحتکارهغه وخت منع اومکروه دی چي په دغه احتکارسره خلګوته ضرروي اوکه ددې په راګرځولوڅه کمی دغلې اونقصان وښاروالوته نه وي اوغله په ډیربښت سره په بازارکې پیداکیږي نوتحریمي مکروه نه دی په درمختارکې راغلي دي [وکره احتکارقوت البشروالبهائم فی بلدیضربأهله لحدیث الجالب مرزوق والمحتکرملعون فان لم یضرلم یکره الخ(۴)

(۱) ردالمحتار (۲۸۲/۵) ، کتاب الحظروالاباحة فصل فی البیع
(۲) عن عمررضی الله عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم قال الجالب مرزوق والمحتکرملعون رواه ابن ماجة والدارمی (مشکوة المصابیح ۲۵۰-۲۵۱، کتاب البیوع ،باب الاحتکار)
(۳) الدرمع الرد (۲۸۲/۵) ، کتاب الحظروالاباحة فصل فی البیع ط رشیدیه.
(۴) الدرالمختارمع الشامی (۲۸۲/۵) ، کتاب الحظروالاباحة ، فصل فی البیع ط رشیدیه.

خوغوره دادی چي له احتکارڅخه مطلقا پرهېزوکړی.

سوال : (۲۲۸) یوسړی دزروروپیوغله رانیوله په دې غرض باندي چي کله په یوه روپۍ کې سیر،دوه سیره غله کمه شي هغه وخت به یې خرڅه کړم دده نیت دوچ کالۍ یادغلې دګرانۍ نه دی ،ځکه چي هرشی په خپل موسم کې زیات خرڅیږي داسړی دروژواولمانځه پابندي کوونکی دی خلګ ده ته پېغورورکوي چي غله جمع کول حرام دی په دې صورت کې څه حکم دی ؟(۱۷۹۷/ ۳۲- ۱۳۳۳هج)

ځواب: په درمختارکې راغلې دي چي که دغلې ښوول وښاروالوته نقصان رسوي مثلاً نه موندله کیږي یاکمه پیداکیږي نومکره ده کنې نه ده خوښکاره ده چي دکوم صورت یادونه په سوال کې شوې ده هغه هیڅ پروانلري اوپه دې کې وښاوالوته دده په جمع کولوهیڅ نقصان نشته ،ځکه نوصحیح دی وکره احتکار قوت البشروالبهائم فی بلدیضربأهله الخ فان لم یضرلم یکزه الخ(۱) (درمختار)

په ګرانۍ کې دخرڅولوپه نیت اوس غله له رانیولووروسته ښوول

سوال : (۲۲۹) عام رواج دی چي کله غله ارځانه وي په موسم کې غله یاپروړ اونوررانیسي په دې فکرباندي ږدي چي په ګراني کې به یې خرڅه کړم داصحیح دی ،که نه ؟(۱۴۲۲/ ۳۲- ۱۳۳۳هج)

ځواب: مسئله داده چي دغلې راګرځول داډول چي ښاروالوته ضروري حرام اومکروه دی کذافی الدرالمختاراوپه حدیث شریف کې راغلي دي: الجالب مرزوق والمحتکرملعون (۲) په دغه حدیث کې رسول الله صلی الله علیه وسلم دغلې پرراګرځوونکې لعنت فرمایلې دي نوپه دې انتظارغله جمع کول چي په ګراني کي به یې خرڅه کړم منع دی نودګدامونوډکول اودګرانۍ په انتظار غله راګرځول لکه چي عام رواج دی کله چي داراګرځول ښاروالوته ضروري منع اوحرام دي له له دې څخه ځان ساتل پکاردی اوله داسي تجارت څخه پرمسلمانانوپرهیزکول لازم دي.

(۱) مخکنی حواله.

(۲) عن عمررضی الله عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم قال: الجالب مرزوق والمحتکرملعون رواه ابن ماجة والدارمی (مشکوة: ۲۵۰-۲۵۱، کتاب البیوع ، باب الاحتکار)

دتجارت په غرض له رانیولووروسته غله ښوول صحیح ده ، که نه ؟

سوال : (۲۳۰) سره له دېرښته دتجارت په غرض له رانیولوو روسته غله ښوول صحیح دی ، که نه ؟ (۱۳۲۹/ ۱۳۳۵هج)

جواب : له رانیولووروسته دغلې جمع کول مکروه اومنع دی دډېروالي اوناډېروالي هیڅ فرق نه راځي اماوښاروالوته دضرررسېدواونه رسېدوسره دمنع اونه منع ترون شته په هرحال زیات احتیاط په نه جمع کولوکې دی لحدیث الجالب مرزوق والمحتکرملعون الخ(۱) (درمختار) اونورتفصیل دفقهې په کتابونوکې دي.

کنجتې ، ګوړه ، پنبه ، شړشم اونورجمع کول احتکاردی ، که نه ؟

سوال : په موسم کې غله رانیول اودوې میاشتې وروسته خرڅول جائزدي ، که نه ؟ اوکنجتې ، ګوړه ، پنبه ، شړشم اونورهم دغلې دتجارت په حکم کې راځي اوکه نه ؟ (۸۱۳/ ۱۳۳۸هج)

ځواب : دفقهې په کتابونوکې ددې په اړه داتفصیل راغلی دی چې که دغلې راګرځول دښاروالوپه هکله ضرروي نومکروه دی اوکه دغلې په راګرځولو اودوې میاشتې وروسته په خرڅولوښاروالوته څه تاوان نه وي لکه چې په عامه توګه په اوس زمانه کې دي نوجمع کول دغلې مکروه نه دي لکه چې په درمختارکې راغلې دي : فان لم یضرلم یکره الخ (۲) اودکنجتو، ګوړې ، پنبوو ، شړشمواونوروهم همدغه حکم دی (، ځکه چې داهم انساني روزې ده) فقط.

دحیواناتوخواړه راګرځول احتکاردی ، که نه ؟

سوال : (۲۳۲) دګرانۍ په نیت دحیواناتوخواړه جمع کول احتکاردی ، که نه ؟ (۲۰۱/ ۱۳۳۷هج)

ځواب : احتکارلکه څرنګه چې دانسان په خواړوکې راځي دحیواناتوپه خواړو کې هم راځي په درمختارکې راغلې دي : وکره احتکارقوت البشروالبهائم الخ فی بلد یضربأهله الخ(۲)

(۱) عن عمررضی الله عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم قال : الجالب مرزوق والمحتکرملعون رواه ابن ماجه والدارمی (مشکوة: ۲۵۰-۲۵۱ ، کتاب البیوع ،باب الاحتکار)

(۲) الدرمع الرد(۵/ ۲۸۲) ، کتاب الحظروالاباحة ، فصل فی البیع ط رشیدیه.

دغلې په راګرځولوکه په قیمت کې څه فرق نه راځي نوراګرځول یې صحیح دي

سوال : (۲۳۳) که یوسړی غله دګټې لپاره په موسم کې رانیوله جمع یې کړه وروسته یې خرڅه کړه شرعًا جائزدی ، که نه ؟ (۲۷۲۰/ ۱۳۳۷هج)

ځواب : که دده غله راګرځول وښاروالوته ضرروي اوخلګ په تنګۍ کې واقع کیږي نوداکارمکروه دی اوکه دده په راګرځولووښاروالوته هیڅ تاوان نه دی غله په بازارکې ډېره پیداکیږي اودده په راګرځواونه راګرځولوپه نرخ کې هیڅ فرق نه راځي لکه چې نن صباعمومًا همدغه حال دی نوداهیڅ پروانلري صحیح دی (۱)

له ارځانه رانیولووروسته اتفاقًا غله ګرانه شوه نوڅه حکم دی ؟

سوال : (۲۳۴) یوتاجرغله داسې وخت رانیوله چې په دنیاکې په عامه توګه پیداکېده وچ کالې نه وه خوعادت دی چې تاجرغله رانیسي دګرانۍ انتظار کوي اوس داسې وخت راغلی چې غله ختمه شوه اوتجاربه یې په ګرانې سره خرڅول پیل کړي دااحتکاردی ، که نه ؟ (۲۸۷۹/ ۱۳۴۲هج)

ځواب : همدغه احتکاردی قال رسول الله صلی الله علیه وسلم : من احتکرفهو خاطئ رواه مسلم (۲) قال الطیبی : الاحتکارالمحرم هوالاحتکارفی الاقوات خاصة وهوان یشتری الطعام فی وقت الغلاء للتجارة ولایبیعه فی الحال بل یدّخره لیغلو ثمنه (۳)

اماکه په ارځانۍ کې یې رانیوله خوپه دې نیت باندې یې جمع نکړه چې غله ګرانه شي نوبه یې خرڅه کړم بلکه اتفاقًا داسې وشول چې ګرانې هم راغله نوداصورت داحتکارنه دی.

دمحتکر (دګرانۍ په نیت غله راګرځوونکې) په ډوډۍ خوړلوکې بایدامام احتیاط وکړي

سوال : (۲۳۵) دسودکاروبارکول اوپه آئنده کې دګران خرڅولوپه نیت غله له رانیولووروسته

(۱) الدرمع الرد (۵/ ۲۸۲) ، کتاب الحظروالاباحة ، فصل فی البیع ط رشیدیه (۲) کان سعیدبن المسیب یحدث ان معمراقال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: من احتکرفهوخاطئ الحدیث الصحیح لمسلم ۲/ ۳۱ کتاب البیوع ، باب تحریم الاحتکارفی الاقوات)

(۳) شرح المسندالنووی ۲/ ۳۱ ، کتاب البیوع ،باب تحریم الاحتکارفی الاقوات.

بنوول جائزدی ،که نه ؟ دداسي خلګوکره که امام ډوډۍ وخوري نوپه ده پسي لمونځ جائزدی ،که نه ؟(۲۲/ ۱۳۴۵هج)

خواب: سوداخستل له هیڅاڅخه جائزنه دی اوغله دګرانۍ په غرض جمعه کول مکروه دي نوموړی امام بایدله داسي ډوډۍ سره احتیاط وکړي اولمونځ په دغه امام پسي صحیح دی.

دلیلام مال رانیول شرعًا صحیح دی

سوال: (۲۴۲) دلیلام مال په تیره بیادهغوخلګوسامان چي په جنګ کي وژل شوي دی رانیول یي شرعًا صحیح دي ،که نه ؟(۱۴۷۲/ ۱۳۳۸هج)

خواب: ددغه لیلام شوي مال رانیول صحیح دي.

دلیلام اوپه کاغذکي پیچلي شي دبیع حکم

سوال: (۲۳۷) (الف) زیدیوشی لیلاموي په پورته کیدوراپورته کیدودیوسړی پرنوم بولی، ختمه شوه داډول بیع جائزده ،که نه ؟

(ب) دزیاتره دکاندارانوداطریقه ده چي دسلو،دووسوودکاغذپاکټ جوړکړي په چاکي پنسل ویه چاکي ګوتمی ،په چاکي پیچکاری، اونورشیان ږدي خوله وربنده کړي بیایي خرڅوي داجائزدی ،که نه ؟(۲۲۵۳/ ۱۳۳۷هج)

خواب: (الف) داډول دلیلام په طریقه بیع جائزاوصحیح ده.

(ب) دارنګه هم بیع صحیح کیږي خوورانیوونکي ته ددغه شی له رانیولووروسته اختیارشته چي خواکه داشی اخلي اوکه یي بیرته ورکوي فقط.

دحکومتي لپلام حیواناتورانیولوحکم

سوال: (۲۳۸) له میعادپای ته رسیدووروسته چي حکومتي کوم لپلام دحیواناتوکیږي

دهغوئ رانیول جائزدي ،که نه ؟(۱۳۱۴/ ۱۳۴۵هج).

خواب: فتوی پرهمدي ورکول کیږي چي حکومت دکوموحیوانانودقاعدي سره سم دمیعادوپای ته رسیدووروسته لیلام کوي دهغه رانیول جائزدی (ځکه چي حکومت په استیلا سره ددغوحیواناتومالک ګرځي)

سوال: (۲۳۹) دحکومت په کورکي چي کوم حیوانان تړلي وي اوتریوه ټاکلي موده پنځلس ورځي وروسته له اعلان کولولیلامیږي خوکه ددغه مال اصل مالک دلیلام تروخه نه وي رارسیدلی اوحیوان لیلام شي که موږبولی پرووایودغه حیوان رانیسونودابه شرعًا زموږلپاره جائزوي ،که نه ؟(۲۵۷۴/ ۱۳۳۷هج)

خواب: رانیول ددغه حیوان صحیح دي اورانیوونکی ددې مالک ګرځي بیاکه مالک هم معلوم شي نودابیع نه ماتیږي اماپه حکومت کي چي یي کوم قیمت اینبی ووهغه به ودغه مالک ته ورکوي.

له کانجي هاؤس (۱) څخه حیوان رانیول اودهغه قرباني کول

سوال: (۲۴۰) کوم حیوانان چي په کانجي هاؤس کي دي دوئ دکوم مالک دنه موجودګی په وجه که حکومت دوئ لیلام کړي نودمسلمانانولپاره ددوئ رانیول اوله حلالولووروسته یي خوړل اوقرباني کول صحیح دي ،که نه ؟ تردریومیاشتوپوري دمالک له انتظارکولووروسته یي قیمت په خزانه کي داخلول اویوه خلورمه یي دکلي ومشرته ورکول ،دکلي دمشرلپاره ددې اخیستل جائزدي ،که نه ؟ که له دریومیاشتووروسته مالک راغلی نوحکومت نه قیمت ورکوي اونه دحیوان ذمواردی نواوس دده دمالک په دغه قیمت کي شرعًا حق شته ،که نه ؟(۱۳۲۵/ ۱۳۳۷هج)

خواب: دمسلمان لپاره ددغه حیوان رانیول له حلالولووروسته یي خوړل اویاقرباني کول صحیح دي اودده دقیمت خلورمه چي کومه حکومت دکلي ومشرته ورکوي دهغي اخستل هم دکلي دمشرپه هکله جائزدي اوکله چي مالک راشي نوهغه ته یي قیمت ورکول پکاردي خوکه حکومت یي نه ورکوي نوله مشتري څخه ددې غوښتنه نشي کیدای امااحتیاط په دې کي دی چي مشتري دې خوشحال کړي یادې بیاقیمت ورکړي فقط.

سوال: (۲۴۱) (الف) دحیوانانوپه ځای کي بې وارثه غواوي ،غویي وبزې اونورداخلیږي اوهغه زیات ترزیات ترپنځلسوورځوپوري په دې وجه دلته وي چي کله دحیوان مالک راشي هغه وخت به جرمانه اوخواره ځیني واخلوپرې به یي ږدواوکله چي ترټاکلي مودې پوري مالک رانشي

(۱) هغه حکومتي ځای چي پکي بې وارثه حیوانان تړي (فیروزاللغات)

نوحکومت داحیوان لیلاموي داسي ببيع جائزده ،که نه ؟ اوداډول غوا ، غوبيي اونورپه لیلام کي رانیول اوقرباني کول يې جائزدي ،که نه ؟

(ب) که داسي حیوان بل سړی رانیسي که هندوي اوکه مسلمان بیايي له ده څخه بل څوک رانیسي قرباني يې کړي نوجائزدی ،که نه ؟ زیداوعمروواېي چي دداسي حیوان قرباني ناروا ده بکروايي چي داحیوان دلقطې (ورک شوي) په حکم کي دی ،څکه دداسي حیوان قرباني هم رواده ؟ (۲۵۴۴/ ۱۳۳۷هج)

ځواب : (الف ،ب) دغه ببيع صحيح ده اوپه دواړوصورتونوکي قرباني صحيح ده داصحيح دی چي داحیوان دلقطې په حکم کي دی اوبیع دهغه صحيح ده اوقرباني يې رواده کذافی الدرالمختار(۱) فقط.

سوال : (۲۴۲) تاسوله کانجی هاؤس څخه دحیوان قرباني له رانیولووروسته روابللې وه اومولاناکفایت الله صاحب نارواليکلي ده چیداقبضه دحربي کېدوپه حیث نه ده بلکي دمقررې کړې قاعدې سره سمه کیږي اوس ددغې مسئلې په هکله ستاسوڅه رأیه ده ؟ (۵۵۰/ ۱۳۴۳هج)

ځواب : په کانجی هاؤس کي داسي نادرکه حیوانان هم وي چي دمالکونودرک يې نه وي نوپه دغوکي خوبه ضروردحاکمانوبیع ته بڼله شبهې جائزويل کیږي لکه چي دلقطې اونوروحکم دی نورانیوونکوته داتکلیف ورکول چي کوم حیوان نادرکه دی اوکوم نه دی باعث دحرج دی لنډه داچي له نظائروڅخه هم رامعلومیږي چي ببيع ته جائزوويل شي اومشتري مالک وګرځي (۱).

دیوکتاب بېلابېل چاپونه دیوبل سره په پورتبادله کول

سوال : (۲۴۳) دکتابونوپه تبادله کي یوخوادمصرچاپ شوې کتابونه وي بلې خواته هماغه کتابونه هندوستاني چاپ شوې وي اوپه دواړوکي په صفائې ،کاغذاولیک اونوروکي فرق وي ،یا دواړه کتابونه

(۱) عرف ای نادی علیهاحیث وجدهاالی ان علم ان صاحبهالایطلبهااوانها تفسدان بقیت کالاطعمة کانت امانة فینتفع الرافع بهالوفقیراوالاتصدق بهاعلی فقیر(الدرالمختار) وفی الشامی قوله:(فینتفع الرافع) ای من رفعها من الارض فدل علی انه انماینتفع بهابعدالاشهادوالتعریف الی ان غلب علی ظنه ان صاحبهالایطلبهاوالمرادجوازالانتفاع بهاوالتصدق وله امساکهالصاحبها وفی الخلاصة له بیعهاایضاالخ(الدرالمختاروالشامی (۳/ ۳۵۰)، کتاب اللقطة ط رشیدیه).

دهندوستان څوچاپ خانوچاپ کړي دي نوددوئ تبادله دجنس دیووالي پهوجه لاس ، په لاس واجب وي که دجنس دبېلوالي په وجه لاس . په لاس کېدل ضروري نه دي ؟ نوکه په یادوشویومسئلوکي بېلوالی دجنس شته نوددغودرېیووجوڅخه دکومې وجې په اعتباربېلوالی دی ؟ (۳۶۱/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

ځواب : دکاغذاختلا ف دجنس اختلا ف دی نوکه یوکتاب پربېلابېلوډولوکا غذوباندي چاپ شوی وي که څه هم په یوه چاپخانه کي چاپ،شوی وي نوبېلابېل جنسونه بلل کیږي کمافی الشامی عن الفتح والثوب الهروی والمروی جنسان لاختلا ف الصنعة الخ وکذالمروی المنسوج ببغدادوخراسان واللبدالارمنی والطالقانی جنسان (۱) نودکاغذډول دبېلوالي په صورت کي داصل دبېلوالي په وجه بېلوالی دجنس راځي اوپه پوررواکیږي اودصفت دتبدل مثال شامی کالخبزمع الحنطة والزیت المطیب بغیرالمطیب (۲). لیکلی دی نوکېدای شي چي دخط دښه والي اونه ښه والي په وجه دصفت بدل والی په وجه دجنس اختلا ف ورته وویل شي اودجنس دیووالي په صورت کي هم له دواړوخواووقبضه کولوته اړتیانشته تعیینول بس دي اوپه ملک کي موجودیت دتبادلې دجائزکېدولپاره کفایت کوي لکه چي دشامی له عبارت [اضیف الیه العقدوهوحاضراوغائب بعدان یکون موجودافی ملکه الخ (۳) څخه څرګندی دی فقط.

دولایتي صابون دتجارت حکم

سوال : (۲۴۴) دولایتي صابون استعمال اوتجارت جائزدی ،که نه ؟ (۱۲۲۵/ ۱۳۳۵هج)

ځواب: استعمال دده جائزدی اوتجارت يې هم جائزدی.

دمکان په بیع کي دبیانې بېرته نه ورکولوشرط لګول

سوال : (۲۴۵) نن ،صبا په عامه توګه دمکانونودبیع دارواج جوړشوی دی چي مشتري دبیانې په توګه پیشکي څه روپۍ وبائع ته ورکوي چي ورته عام خلک اوړهایاسته وايي اودا

(۱) ردالمحتار(۴/ ۲۰۰) ، کتاب البیوع ، مطلب فی الابراء عن الربوط رشیدیه.
(۲) ردالمحتار (۴/ ۲۰۷) ، کتاب البیوع ، مطلب فی استقراض الدراهم عددا.
(۳) ردالمحتار(۴/ ۲۰۲) ، کتاب البیوع ، مطلب فی استقراض الدراهم عددا

شرط ورباندي ږدي چي که ترفلاني تاريخه پورې ماپه حکومت کې رسمي کړه نودابه بياپه ثمن کې وشمېرل شي کنې داروپۍ به دبائع وي اوبيع به ماته بلله کيږي شرعًا ددې ببعې څه حکم دى ؟(۱۰۴۹/ ۱۳۳۸هج)

ځواب: داډول بيع کول باطل دي اودبائع لپاره دبيع نه کېدوپه صورت کې دغه بيآنه ګرځول حرام دي عن عمروبن شعيب عن ابيه عن جده قال نهى رسول الله صلى الله عليه وسلم عن بيع العربان رواه مالک وابوداؤدوابن ماجه (مشکوة شريف) قال السيد: قوله بيع العربان وهوان يشترى السلعة ويعطى البائع درهمااواقل اواکثرعلى انه ان ثم البيع حسب من الثمن والالکان للبائع ولم يرجعه المشترى وهوبيع باطل لمافيه من الشرط والغرر(۱).

پورورى سړى که خپل مکان پرخپله ښځه خرڅ کړي نوڅه حکم دى ؟

سوال: (۲۴۶) دکريم خان واده درحيمي سره په دوه نيم سوه ولوروشوپرکريم خان باندي ښځه سوه روپۍ دتاجرهم پاته وي تاجورباندي عارضه وکړه پنځلس ورځې وروسته کريم خان دخپلې ښځې رحيمي په نامه په سل روپۍ دمکان دمالک جوړولوپاڼه وليکله ترڅودتاجرروپۍ وخوري دغه په ملک کې ورکول جائزدي ،که نه ؟(۱۲۱۷/ ۱۳۵۱هج)

ځواب: دبيع اوشراء معامله چي دکريم خان اودده دښځې ترمينځ وشوه چي په سل روپۍ کريم خان مکان پررحيميه خرڅ کړاودايې مالکه جوړه کړه صحيح شوه اونومړې رحيميه ددغه مکان مالکه شوه فقط.

يوسړى خپل ځاني جائدادچي پرچاوغواړې خرڅولاى يې شي

سوال: (۲۴۷) په يومکان اويودکان کې څلورسکه وروڼه شريکان ووپه دوئ کې يووروروفات شوچي يوزوئ يې پاتي شودوه وروڼه خپلې ،خپلې برخې پرخپل وراره خرڅوي په دغه دواړووروڼو کې کوم چي بيع کوي ديوورورېوزوئ دى چي دى له هغه څخه ناراضه دى دوهم وروراولادنلري دربيم ورورد وې لوڼې لري ددغه بيع جائزديه ،که نه ؟(۳۲/۵۴ =۱۳۳۳هج)

(۱) مشکوة المصابيح ص: ۲۴۸مع الحاشية: ۲، کتاب البيوع ،باب المنهى عنهامن البيوع.

ځواب: په ژوند کې وهرسړى ته اختياردى چي خپل ځانى شيان پرهرچاوغواړې خرڅ يې کړي تصرف پکې کولاى شي ،ځکه نوکوم ورورچي خپل شى پروراره خرڅ کړيايې هغه ته ورکړهغه وراره ددې مالک ګرځي خودکوم ورورزوئ چي شته اودى له هغه څخه ناراضه دى نودهغه دبې برخې کولوپه وجه دده لپاره خپله برخه پرخپل وراره خرڅول مناسب نه دي اوداکاردالله رب العزت ناخوښه دى هوکه کومه اړتياوخرڅولوته وي نوپروانلري مثلا دى پورورى دى فقط.

سوال: (۲۴۸)۰زيدمسلمان اوپه قوم سيددى يوه ښځه اودرې لوڼې لري يوه لوريې دخاونداودربيوبچيانوسره دپلارسره اوسيږي له ډيرې مودې راهيسې زيد خپل ټول دکرنې جائدادوبکرته چي په څلورم پنځم پښت کې دزيدوراره کيږى په ګرواوقبضه کې ورکړى ووااوس زيد دخپلواړتياووپه وجه خپل ټول په ګروورکړې جائدادپربل سړى خرڅ کړاودبکردګروټولې روپۍ يې ورادا کړي خودزيديوپه څلورم پاپنځم پښت کې خپلوانوددې خبرې دعوى کړې ده چي داخرڅ شوى جائدادله نيکه ګانوپاته شوى دى وزيدته دخرڅولوحق نشته اوپه محکمه کې دابيان کړى دى چي موږدشريعت پابندنه يودهندوانورواج منو،ځکه دزيدبيع نارواده اودزيدله وفات وروسته دده دښځې اولوڼوهم حق نشته زموږحق ديونيکه له لحاظه دى په دې اړه دسپيڅلې شريعت حکم څه دى ؟وزيدته دخپل جائداددرانيولواوخرڅوحق شته ،که نه ؟(۱۲۲۵/ ۳۲_ ۱۳۳۳هج)

ځواب: وزيدته دخپل ځاني جائداددرهن اوبيع اختيارشته بيع کول دده صحيح اونافذدي په نيکه کې دورګډوخپلوانودعوى باطله اوداوريدوړنه ده اوددغوخلګودشريعت له پابندي کولوڅخه انکارکول اودهندوانودرواج منل څرګندکفراوارتداددى الله رب العزت دې موخوندي کړي اوداويناددوئ چي دلوڼوحق نشته هم باطله اولغوه ده اودميراث په اړه له نازل شوې نص سره ټکرده فقط.

پرکافرباندي له خرڅولومخکې دده دآمدنى تحقيق کول ضروري نه دي

سوال: (۲۴۹) پرکافرباندي دجائداديابل شى خرڅولوپروخت ودې تحقيق ته اړتياشته ،که نه ؟چي دده دآمدنى څه حال دى ؟اوله تحقيق وروسته دده آمدني پاکه وبلله شي ؟

(۱۰۲۲/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

ځواب: په دې حالت کې له هندوڅخه وهيڅ تحقيق ته اړتيانشته.

له تاجرڅخه زېور(ګېڼه) رانيول

سوال: (۲۵۰) دتاجرسره مسلمانان دپنځوسوروپيوزيومثلا په پنځويشت روپۍ پد گروېدي چي سودپرسودزيات شي مثلا پنځوس روپۍ شي نوتاجر هغه زېوروراخلي اوس له همدغه تاجرڅخه که کوم مسلمان په مناسب قيمت باندي دغه زېوررانيسي نوداروادي ،که نه ؟(۱۸۷۵/ ۳۲-۱۳۳۳هج)

ځواب: صحيح دی.

هندوچي کومه غوادسودپه عوض اخيستې وي مسلمان هغه رانيولای شي

سوال: (۲۵۱) يوهندويوه غوادسودپه عوض واخسته نودمسلمان لپاره دغه غوارانيول صحيح دي ،که نه ؟ اوددې تولې ګټې ومشتري ته حلالې دي،که نه ؟ (۹۷۱/ ۳۲-۱۳۳۳هج)

ځواب: دمسلمان لپاره له کافرڅخه دغه غوارانيول صحيح دي اوددې ټولې ګټې دمشتري لپاره حلالې دي.

دچاګته چي حرامه وي پرهغه مال خرڅول

سوال: (۲۵۲) (الف) پرهغوماموربنو کپړې اونورخرڅول جائزدي ،که نه ؟ چي دهغوئ په اړه وبائع ته پوره معلومه وي چي ددوئ آمدني حرامه درشوت اونوروده ؟

(ب) په الف کې په يادشوې صورت کې په مسلمان اوغيرمسلمان کې فرق شته ،که نه ؟

(ج) بائع دسوداپروخت په دې خبردی چي مشتري داشی په حرام ځای کې دلګولولپاره رانيسي لکه مثلا له تاجرڅخه کپړه رانيسي ورنډۍ اوبدچلندې ښځې ته به يې ضررورکوي نوپه داسي حالت کې دداسي سړی سره دبيع معامله کول صحيح دي ،که نه ؟

(د) دتاجرله دکان څخه يومسلمان يانامسلمان چي ورسره بدچلنده فاحشه ښځه وي په دغه بدچلنده

کپړه خوښوي ددې لپاره کپړه رانيول غواړې نود مسلمان تاجرلپاره پرداسي سړی کپړه خرڅول روادي ،که نه ؟

(هه) اوپه يادشوې صورت کې په بيع کولوسره پرحرام کارمرسته کول راځي ،که نه ؟ (و) پرهندوچي آمدني يې صرف دسودوي کپړه خرڅول روادي ،که نه ؟ (ز) که کومه رنډۍ اونورچي يومخ حرامه ګټه خوري دکوم بنه سړی په وسيله له کوم مسلمان دکاندارڅخه کوم شی رانيسي اودکاندارته په کومه قرينه معلوم شي چي ضرورهغې بدچلندې رانيولی دی اواصل رانيوونکی هغه بدچلنده ده نوداسي پورته ياده شوې بيع رواشوه ،که نه ؟

(ح) يورئيس يومتروان ديوې رنډۍ دخدمت لپاره مقررکړی هغه بې چاره ددې خدمت کوي دهمدې تنخواورکول کيږي که تاجرداسي تنخواپه روپيوودغه موټروان ته کپړه ورکړي نورواده ،که نه ؟ اوڅرګندونه دې وي چي ده ته تنخوا رئيس ورکوي (۲۴۳/ ۱۳۳۵هج)

ځواب: (الف) له دوئ سره سوداصحيح ده.

(ب) په دې صورت کې دبيع معامله کول صحيح دي.

(د) روادی (هه) کپړه ورباندي خرڅول هيڅ پروانلري اماداحتياط خبره ښېله ده (و) صحيح دی (ز) بيع رواده (ح) صحيح دی فقط والله تعالى اعلم.

له نامسلمان سودخورڅخه چي کوم شيان رانيولای شي هغه حلال دي

سوال: (۲۵۳) له داسي نامسلمان څخه چي څه رانيول شي چاچي خپل ټول يازياتره جائداددسودپه وسيله راجمع کړی وي روادی ،که نه ؟ اوحلال اوپاک دی ،که نه ؟ (۱۵۹۳/ ۱۳۳۷هج)

ځواب: له نامسلمان څخه چي کوم شيان رانيول شي هغه حلال اوپاک دي.

رنډۍ چې کوم شي رانیوی وخرڅوونکې ته چې کومې روپۍ ورکړي دهغو حکم

سوال: (۲۵۴) پربدچلندې ښځوکوم شی خرڅوروادي ،که نه ؟که کومه دوارنډۍ بل ځای نشي پیداکولای نوپه قیمت باندي یې دې ته ورکولای شي ،که نه ؟ :طبیبانواوډاکترانولپاره ددوئ پرعلاج فیس اخستل روادي ،که نه ؟که ددې اشنای له خانه فیس ورکوي نوآیااخستلای شي ،که نه ؟ که درنډۍ روپۍ قطعی حرامې دي اودفیس رانیولواوخرڅولوپه وسیله یې نشي اخستلای نودځیني علماؤدافتوی چې په کارډونو ،پاکټونواودغه رنګه دریېل ګاډۍ په خرڅ یادکوم هندوپه پورکې دې ورکولې شي نوداترکومه صحیح ده ؟درنډۍ خاني مکان په کرایه نیول ،پکي اوسېدل صحیح دي ،که نه ؟هلته لمونځ کول صحیح دي ،که نه ؟(۳۸۰/ ۱۳۳۷هج)

ځواب: پربدچلنده ښځې چې کوم شی خرڅ کړل شي دهغه قیمت چې بائع ته په لاس ورشي قطعی حرام نه دی دبائع په هکله حلال دی دغه رنګه وطبیبانواو ډاکترانو ته چې کوم فیس ورکول شي هغه هم قطعی حرام نه دی هواحتیاط دادی چې داصدقه کړي ترڅوچې کوم خباثت دی هغه لیري شي اوپه کارډ ،پاکټ ودریېل ګاډۍ په کرایه اوپورکې اداکول په دغوخبروهیڅ نه حاصلیږي ،ځکه چې که حرام وي نوداکارونه یې هم نشي حلالولای اودرنډۍ مکان په کرایه په نیولواووروسته پکي اوسېدل هم صحیح دي اولمونځ هم پکي صحیح دی خوښه نه دی احتیاط اولی اوزیات مناسب دی په کومه آمدني کې چې شک وي دهغې په صدقه کولوپوره روحاني پاکي حاصلیږي اوخباثت لیری کیږي اونورحلال مال ته چې داسي آمدني ورګډه شي په هغه کې خباثت نه پاتیږي فقط

پرزناکاروښځومال خرڅول

سوال: (۲۵۵) یوسړی دخښتوټېکه داري کوي اوهرډول خلګ ده ته دمال رانیولولپاره راځي و بدچلنده ښځې هم مال رانیسي داسړی پرټولومال خرڅولای شي ؟ (۵۷۸/ ۱۳۳۹هج)

ځواب: بیع اوشراء ددوئ سره رواده اوقیمت چې کوم راشي هغه حلال دی.

رانیوونکي چې دحلال مال په عوض کې کومې حرامې روپۍ ورکړی هغه وخرڅوونکې ته حلالې دي که حرامې

سوال: (۲۵۶) دفتاوی رشیدیه له یودووعبارتونوڅخه شک رالویږي چې بائع کوم خپل حلال مال پرهغه سړی خرڅ کړي چې مال یې حرام وي نوهغه روپۍ دحلال مال په ثمن کې راشي دبائع په قبضه کې هغه به حرامې وي په هغه چې کوم شی رانیول شي په هغه کې به هم حرمت وي اوخوراک ،څښاک دهغه حرام دی امایوه خبره بله ده چې پکي له ټولوفقهې روایتونوڅخه وتلای شي هغه داچې دثمن روپۍ که حرامې دي خوپه دغه روپیوداډول کوم شی رانیول شی چې قیمت مقررکړي پرشی قبضه وکړي بیادغه روپۍ په قیمت کې ورکړي نوامام کرخی رحمه الله دې بیعې ته حلال ویلې دي اوپردې باندي ځیني علماؤ فتوی هم ورکړې ده دکوم کورمال چې حرام وي هغه مزدوري اومېلمستیااونور ټول حرام دي فقط. (فتاوې رشیدیه مخ: ۴۹۳) بینووتوجروا(۲۸۲۲/ ۱۳۴۱هج)

ځواب: داچي له امام کرخی رحمه الله څخه روایت دی په دې کې پراخوالی دی اوپه اوس زمانه کې دحرام دغالبوای اودپرهېزدامکان نه کېدوپه وجه دهمدې روایت سره سم عمل کېدل غنیمت دی اوکله چې زیاتره همداسي کیږي چې مشتري لومړی قیمت مخته کړي اوبائع ته یې ورښکاره کړي معامله نه کوي بلکي درانیولواوخرڅولومعامله یې دثمن له ورښکاره کولومطلقًا کوي بیاله معاملی کېدووروسته ثمن ورکوي نودادامام کرخی رحمه الله درروایت سره سم دجوازپه حدکې داخلیږي اوپه فتاوی رشیدیه کې دهغه مال په اړه حکم لیکلی دی چې خاص حرام مال موجوددی اوښکاره ده چې له معاملې وروسته سپک والی راځي مثلا یوصورت خوهمدغه دی چې خاص درشوت یاسودمال وچاته ورکول شي اویوداچې دسودپه مال باندي کومه مځکه رانیوله بیاهغه مځکه په مزارعت چاته ورکړي به دې دواړوکې فرق راځي اوبیادامام کرخی رحمه الله درروایت په وجه په دغه رانیولې شوې مځکه کې دحلت صورت هم راوتلای شي کله چې ثمن ورمخته کړي مځکه نه رانیسي بلکي درانیولومعامله مطلقًا پریوثمن وکړي چې دغه مځکه په سل روپۍ ماته راکړه اوبائع یې ورکړي بیامشتري هغه ثمن له حراموروپیوڅخه وراداکړي نودامام کرخی رحمه الله له روایت سره سم دغه مځکه اوددې ګټه به حلاله وي اومخکې مې هم لیکلې دي چې زیاتره معاملې داډول کیږي چې ثمن ورمخته کړي معامله نه کیږي

چي د دغورو پیسو په بدل ماته مځکه راکړه پرته لدې د فتاوي رشیدي مسئله د اصل مذهب په وجه ده د امام کرخی رحمه الله د روایت پراساس غالبًا نه ده نو په دې صورت کې هیڅ تعارض نه راځي او په دې کې شک نشته چي احتیاط په دې کې دی چي له شبهو څخه هم پرهېز وکړل شي نو د احتیاط مرتبه همدغه ده چي له دې څخه پرهیزوي خو د امام کرخي رحمه الله له روایت سره سم د جواز ګنجائش راوتلای شي (۱) فقط.

دچاسره چي زیاتره مال دغصب وي پرهغه شي خرڅول

سوال: (۲۵۷) دزید سره خو ډغصب مال زیات دی، څکه دده سره درانیولو او خرڅولو معامله کول صحیح نه دي خو درانولو او خرڅو په معامله نه کولو کې د ضرر اندېښنه ده، څکه چي د مجبوریت په وجه پرده مال خرڅول او دهغه قیمت دیوهند وسره داسي تبادله کول چي له هغه څخه قرض واخلي وروسته هغه روپۍ ورکړي چي له زید څخه ملاو وشوې دي څرنګه ردي؟ (۲۰۸۵/ ۱۳۳۷هج)

ځواب: که دغه روپۍ بدلې نکړي بیاهم ګنجائش شته او که په یاده شوې طریقه یې بدلې کړي نو دا ښه دی په هرحال دخپل مملوک شی قیمت دبائع لپاره حلال دی.

دچاآمدني چي حرامه وي پرهغه شي خرڅول

سوال: (۲۵۸) یوسړی تجارت کوي دده لپاره ورنډۍ یا نورو حرامورو پیسو الوته سوداورکول او قیمت اخستل جائزدي، که نه؟ (۴۹۲/ ۱۳۳۸هج)

(۱) قال فی ردالمحتار قوله (اکتسب حراماالخ) توضیح المسئلة مافی التاتارخانیة حیث قال رجل اکتسب مالامن حرام ثم اشتری فهذاعلی خمسة اوجه امان دفع تلک الدراهم الی البائع اولاثم اشتری منه بهااواشتری قبل الدفع بهاودفعهااواشتری قبل الدفع بهاودفع غیرهااواشتری مطلقا ود فع تلک الدراهم اواشتری بدراهم آخرودفع تلک الدراهم وقال الکرخی رحمه الله فی الوجه الاول والثانی لایطیب وفی الثلاث الاخیرة یطیب وقال ابوبکر: لایطیب فی الکل لکن الفتوی الآن علی قول الکرخی دفعًا للحرج عن الناس (الشامی ، کتاب البیوع ،مطلب اذااکتسب حرامًا ثم اشتری علی خمسة اوجه ط رشیدیه)

ځواب: د فتوی له لارې پرداسي خلکوشی خرڅول او دهغه قیمت مصرفول صحیح دي اما تقوی داده چي احتیاط وکړي.

دچاآمدني چي ګډه وډه وي پرهغه کوم شي خرڅول

سوال: (۲۵۹) یوسړی شراب، بنګې خرڅوي او ددې سره بله حلاله پیشه هم کوي که دی پخپل ګډوډ مال کوم شی رانیسي نو پرده خرڅول جائزدي؟ (۲۴۲۴/ ۱۳۴۱هج)

ځواب: جائزدي.

که دمجبوریت په وجه کوم سړی خپل مکان په کم قیمت خرڅوي دهغه رانیول څرنګه دي

سوال: (۲۶۰) دیوسړی مکان بل سړی قبضه کړی دی دمکان مالک په دې وجه چي ددعوې وس نلري پربل چاباندې په ډیرلږقیمت خرڅوي دابیع صحیح ده، که نه؟ او په کم قیمت رانیوونکې باندې څه مواخذه شته، که نه؟ (۱۴۳۱/ ۱۳۳۸هج) ځواب: دابیع صحیح ده په کم قیمت باندې ورکول جائزدي او په کم قیمت رانیوونکې باندې هیڅ مواخذه نشته فقط.

ومسلمان مزدورته چي نصاری کوم شیان ورکړي وو هغه له ترک موالات وروسته رانیول

سوال: (۲۶۱) مردی مسلمان درایام جنگ دربصره درجهاز نصاری مزدوری می کرد بس بتوفیق ایزدی توبه نموده مزدوری نصاری ترک کرد وموالات کفار فروگذاشت، اکنون ازمزدورمذکورکمبل وغیره که درایام مزدوری وغیره اورا ازطرف نصاری داده شد خریدن شرعاً جائزبودیانه؟ وآن کمبل وغیره پوشیده نماز خواندن ودیگر عبادت کردن شرعاً جائزاست یانه؟ (۹۶۲/ ۱۳۳۹هج)

ځواب: اکنون آن کمبل وغیره ازمزدورمذکورخریدن وپوشیدن ونماز بدان اداکردن وعبادت

ادانمودن جائز است فقط.

دسوال: (۳۲۱) ترجمه: یو مسلمان سړی په بصره کې دجنګ په زمانه کې دنصرانیانو په جهازکې مزدوري کوله وروسته دالله رب العزت په توفیق سره ده توبه وکښه دنصارۍ مزدوري یې بر ښودوه او دکفارو سره ترک موالات (مرسته نه کول) هم وکړاوس دمزدورۍ په زمانه کې دنصارۍ له لوري ورکول شوې شړۍ اونور له دغه مزدورڅخه رانیول شرعًا جائزدي، که نه؟ او که دغه شړۍ سړی پرځان اچوي نولمونځ یې پکې کول اونورعبادتونه پکې کول شرعًا روادي، که نه؟

ځواب: اوس له دغه مزدورڅخه شړۍ اونورر انیول هغه پرځان اچول لمونځ اونورعبادتونه پکې اداکول جائزدي.

خیرات کړی شي بیرته اخستل اورانیول

سوال: (۳۲۲) یو سړی یوه ګامېښه دالله رب العزت لپاره وچاته ورکړه چاته چې یې ورکړې وه څوورځې وروسته هغه خرڅوله په خیرات ورکوونکې ورسره دقیمت خبره وکړه له ده څخه یې رانیوله نودغه رانیول جائزدي شرعًا، که نه؟ (۱۳۴۱/۱۱۰۳ هج)

ځواب: خیرات کړی شی بیرته ځیني اخستل مکروه دي اودهغه رانیول هم وچاته چې به خیرات کې یې ورکړی وي له هغه څخه ښه نه دي کماوردفی قصة عمررضی الله عنه (۱) او پرهمدې باندې یعنی پرنه اولی والې باندي هغه حدیث حمل دی نو که چارانیوله نو هغه مالک شواوبیع صحیح شوه خودارانیول ښه نه دي فقط.

پررشوت اخستوونکې شي خرڅول / اودرشوت مال یادبدچلندې مکان رانیول

سوال: (۳۲۳) (الف) پررشوت اخستوونکې شی خرڅول صحیح دي، که نه؟ په دې حال کې

(۱) عن عمربن الخطاب رضی الله عنه قال: حملت علی فرس فی سبیل الله فاضاعه الذی کان عنده فاردت ان اشتریه وظننت انه یبیعه برخص فسألت النبی صلی الله علیه وسلم فقال: لاتشتره ولاتعدفی صدقتک وان اعطاکه بدرهم فان العائدفی صدقته کالکلب یعودفی قیئه الحدیث (مشکوة ص: ۱۷۲، کتاب الزکوة، باب من لایعودفی الصدقة).

چې بائع ته معلوم وي چې دمشتري روپۍ درشوت له مال څخه دي؟

(ب) له رشوت خور څخه پخپله پخپلو حلالو روپیو مال رانیول څرنګه دي؟ سره له دې چې مشتري په دې خبردی چې دامبیع درشوت ده.

(ج) دکومې بدچلندې ښځې مکان پخپلو حلالو روپیو رانیولای شوای، که نه؟ (۱۳۴۱/۱۵۴ هج)

ځواب: (الف) که یې په شوت کې داسي شی اخیستی دی چې په اشاره سره متعین کېدای شي نو که بائع ته دهغه درشوت کېدو علم اوخبرتیا شته نو بیع کول جائزنه دي یعنی فعل دبیع حرام دی، ځکه چې په دغه صورت کې حرمت متعدی کیږي اوکه په رشوت کې داسي شی اخستی وي چې به اشاره سره نشي متعین کېدای لکه دراهم اودنانیرنو په دې کې تفصیل دی کوم چې په شامی، درمختاراونوروکې بیان شوی دی دسوال په اړه له هغه څخه معلومیږي که دبائع یقین دی چې روپۍ خاص هماغه روپۍ دي کومې چې مشتري ته په رشوت کې ورکول شوې دي نوبیع کول جائزنه دي کنې جائزده قال فی الشامی فی مسئلة الارث اخذمورثه رشوة اوظلمًا ان علم ذلک بعینه لایحل له اخذه والافله اخذه حکماوالحاصل انه ان علم ارباب الاموال وجب رده علیهم والافان علم عین الحرام لایحل له ویتصدق به بنیة صاحبه وان کان مالا مختلطا مجتمعامن الحرام ولایعلم اربابه ولاشیئامنه بعینه حل له حکماوالاحسن دیانة التنزه عنه الخ ملخصا (۱) (۱۸۰/۴) وفیه وفی الاشباه الحرمة تتعدی مع العلم بهاالخ (۲) اوکوم مال چې مسلمان مستأمن له حربی کافرڅخه په ناروا طریقه اخستی وي نو پرهغه مسلمان واجب دي چې دغه مال چې بېرته ورکړي اوکه یې ورنکړي نوددغه مال رانیول روانه دي کمافی الشامی عن شرح السیرالکبیر: ان لم یرده یکره للمسلمین شراؤه منه لانه ملک خبیث الخ (۳) دذکرشوي مال په څیررشوت هم په ملک نه راځي کمافی الشامی فی باب القضاء: الرشوة یجب ردهاولاتملک (۴) (۴۲۱/۴)

(ب) کله چې مبیع یقینًا درشوت ده نوروانه ده وقد مرفی الصورة السابقة

(۱) الشامی (۱۴۲/۴)، کتاب البیوع، مطلب فی من ورث مالاحراماط رشیدیه.
(۲) الدرالمختارمع الشامی (۱۴۲/۴)، کتاب البیوع، مطلب الحرمة تتعدی ط رشیدیه.
(۳) الشامی (۱۴۵/۴)، کتاب البیوع، مطلب: البیع الفاسدلایطیب له ویطیب للمشتری منه ط رشیدیه.
(۴) الشامی (۳۳۸/۴)، کتاب البقضاء، مطلب فی الکلام علی الرشوة والهدیة ط رشیدیه.

(ج) که بد چلندې ته مکان دزناپه عوض کې ورکول شوی دی نوروانه دی کمافی الشامی: قال بعض مشائخنا: کسب المغنية کالمغصوب لم يحل اخذه الخ (۱) (۵/ ۲۲۹) خو که بې مغنيې اونورو له شرطه دمالک په خوښه څه ورکول شوې وي نو هغه ته ځينو حلال ويلې دي فقط.

دخنزيرله غوښه خرڅوونکې څخه دخوراک شيان رانيول

سوال: (۳۲۴) هندوان چې اوړه اودال خرڅوي دوئ دخنزيرپرهغه وچه غوښه هم خرڅوي چې له ولايت څخه راځي له داسي سوداګرو څخه دخوراک شيان رانيول جائزدي ،که نه ؟(۲۰۸۲/ ۱۳۴۱هج)

ځواب : له داسي سوداګرو څخه دخوراک وچ شيان چې پکې هيڅ اثردمرداري دخنزيراونورونه وي رانيول صحيح دي فقط.

کوم خلک چې په توروحيوانانوسرونه پرېکوي پرهغوئ حيوان خرڅول

سوال : (۳۲۵) يومسلمان ژوندی حيوان مثلا بزه و غوااونورپرنصار ی باندي په تللوخرڅوي هغه رانيوونکې خلک دده ومخته ددغوحيوانانوسرونه په توره پرېکوي داقيمت حلال دی ،که نه ؟(۱۲۸۱/ ۱۳۴۲هج)

ځواب: ژوندی حيوانات پرنصاری خرڅول اومقررکړی قيمت له دوئ څخه اخستل روادی بيادادوئ کاردی چې په توروسرونه وروهي اوغوښه يې خوري ددوئ په دغه حرام فعل سره دمسلمان بائع په هکله قيمت ددغوحيوانانونه حراميږي خوژوندی حيوان دغوښې دوزن په اعتبارنه خرڅول پکاردي بلکې قيمت معلومول پکاردي غوښه که هرڅومره راووزي ددې ذمواري اوشرط نه دي لګول پکارفقط.

(۱) الشامی ، كتاب الحظروالاباحة فصل فی البيع ط رشيديه.

کوم مشرک چې دبتانوپه نامه حيوان حلالوي پرهغه بزه اونور خرڅول

سوال : (۳۲۶) زه دوزوکاروبارکوم زياتره دلته مشرکان وسيږي کوم چې دبزوبچيان رانيسي دبوتانوپه لمانځنه کې دوژني دهغه وينه پربوتانواچوي اوزياتره زه هم بزې پردوي خرڅوم داجائزدی ،که نه ؟(۳۶۰/ ۱۳۳۵هج)

ځواب : پردوئ خرڅول حلال دي يعنی قيمت ددغومرغومانواوبزووبائع ته حلال دی خوداکارمکروه دی.

سوال: (۳۲۷) يومشرک ياکافردخپلوبوتانودلمانځنې لپاره له مسلمان څخه بزې وزګرې رانيسي له رانيولووروسته يې په تبرياکوم بل تېره شی هغه وژني پرداسي سړی وزې ياوزګرې خرڅول روادي ،که نه .؟ اودحيوان خصي کول روادي ،که نه ؟ (۵۷۷/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

ځواب : بزه ياوزګړی پردوئ خرڅول صحيح دي اودحيوان خصې کول صحيح دي وجازخصاء البهائم(۱) (درمختار) فقط.

کوم هندوچې په مندرکې دورګډولولپاره مکان رانيسي پرهغه مکان خرڅول

سوال: (۳۲۸) ديومسلمان مکان ډيرتنګ دی دايوهندوومندرته ورګډولولپاره له اصل قيمت څخه په زيات قيمت غواړي آياپردغه هندويې خرڅول کله چې بل کوم مسلمان ددې رانيوونکی نشته روادي ،که نه ؟(۲۳/ ۳۵-۱۳۳۶هج)

ځواب: ومندرته دورګډولولپاره وهندوته ورکول مکروه د ی ،ځکه چې په دې کې پرګناه باندي مرسته کول دي که خرڅ کړل شي نو قيمت يې حلال دی.

(۱) الدرالمختارمع الرد (۵/ ۲۷۵) ، كتاب الحظروالاباحة فصل فی البيع ط رشيديه.

دبوتانوپه نامه دنذرشوي شيانودرانيولواوخرڅولوحکم

سوال: (۲۶۹) کافران پخپلومندرونوکې دبوتانوپه نامه دروړونه لکه لونګ ،بادام ، اونورورکوي دمندرخدمت کوونکې په بازارکې هغه په کم قيمت خرڅوي دکاندارهغه پخپل مال ورګډوي بياېې خرڅوي داروادی ،که نه ؟(۲۸۲۵/ ۱۳۳۷هج)

ځواب: له دغوخلکوڅخه ددغه مال رانيول صحيح دي ،ځکه چي دوئ مالکان جوړيږي فقط.

سوال: (۲۷۰) هندوان چي کوم دروړونه دبوتانوپه نامه ورکوي له برهمن (دهندوانوله ملا) څخه دهغه رانيول صحيح دي ،که نه ؟ که صحيح دي نوولې ؟بوتان خومالکان نه جوړيږي ؟(۱۱۳۰/ ۳۲- ۱۳۳۳هج)

ځواب: هغه دروړونه دبرهمانواوملنګيانوملک ګرځي ،ځکه له هغوئ څخه يې رانيول صحيح دي اوکفارکه په خبيثه طريقه مالکان شي نودمسلمانانوپه هکله هيڅ اثرنه اچوي .

دقبريامندردروړرانيول اوخوړل صحيح دي ،که نه ؟

سوال: (۱۷۱) پرقبريامندرباندي نذرشوي شيان رانيول اوخوړل يې صحيح دي ،که نه ؟(۳۵۴/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

ځواب: دنذرورکوونکې پرقبريامندرکې ورکوونکې غرض ومجاوراوملنګ ته ورکول وي ،ځکه مجاوراوملنګ له قبضې کولووروسته مالکان جوړيږي اورانيول له دوئ څخه رواوی اودرانيوونکې ورڅخه خوراک روادی فقط والله تعالی اعلم.

له نامسلمان څخه داسي مځکه رانيول چي ده ته په ميراث کې ورغلې ده

سوال: (۲۷۲) يومسلمان سړی دخپل مکان دکونج سمولولپاره څوګزه مځکه له داسي کافرڅخه رانيول ،غواړې چي هغه ته له خپلومشرانوڅخه په ميراث کې ورپاته شوې ده اودوئ په خواولونوته دميراث ورکولورواج نشته يعنی دشرعي دقاعدې سره دغه مځکه دخرڅوونکې اودده دخورسره

شريکه ده اودده دقوم دعرف سره سم دغه مځکه خالص ددغه کافرده آياددغه خرڅوونکې لپاره دده دغه قومي رواج شرعًا معتبردی ،که نه ؟ اوآياصرف له بائع څخه ددغې مځکې رانيول جائزدي ،که نه ؟(۱۳۹۴/ ۳۲- ۱۳۳۳هج)

ځواب: په دې صورت کې صرف له بائع څخه ددغې مځکې رانيول صحيح دي ،ځکه چي ښکاره ده چي دلونوورارث نه جوړېدل دکفارومذهبي قانون اورواج دی وقدامرنابترکهم ومايدينون(۱) (شامی اونور)

څوک چي دچاپه ويناکتابونه راوړي هغه ګټه اخستلای شي ،که نه ؟

سوال: (۲۷۳) زه دکلي په مدرسه کې ماموريم دکاله سبقونه شروع کېدوپر وخت دټولوطالبانودکتابونودراوړلولپاره ددوئ مورا وپلارماته وايې چي ته يې رانيسه رايې وړه اودوئ ته يې ورکړه که له دوئ څخه څه روپۍ مځکې کمې اوزياتې واخستلې شي اوهغه روپۍ جلا کښېږدواودوئ ته وويل شي چي دکمښت اوزياتوب حساب به وکړواوس زه پخپلوروپيوکتابونه اونورسامان رانيسم ددوئ په روپيوباندي يې نه رانيسم نوآيازه پردغه کتابونوګټه اخستلای شم ،که نه ؟ اوکه په همدغوروپيوکتابونه رانيسم بياهم ګټه اخستلای شم ،که نه ؟(۱۳۰۴/ ۱۳۳۸هج)

ځواب : ددوئ روپۍ جلا ښوول پخپلوروپيوکتابونه اونوررانيول اوبياحساب کول ددوئ له روپيوڅخه وراخستل هرنګه جائزدي خوکه ددغوهلکانويادوئ دمشرانوله لورې تاسودوکيل په حيث درانيولولپاره تللې ياست نوهيڅ ګټه ورباندي اخستل نه رواکيږي دکرايې اونورومصرفونواخستل پروانلري اوکه دوئ ته وويل شي چي مارانيولی دی په دې قيمت باندي يې تاسوته درکوم نوګټه اخستل رواکيږي اوددې ورته ويلوضرورت نشته چي ماپه کوم قيمت رانيولی دی فقط.

دړوډې- رانيولودمياشتي بيع معلومول

سوال: (۲۷۴) دتنوروالاسره دړوډې خبره کول دمياشتې مثلا څلورروپۍ ياپخول سره له ترکاري دمياشتې په لس روپۍ مثلا مقررول جائزدي ،که نه ؟په دې کې بيع دمعدوم ده ؟(۱۲۰۷/ ۳۲- ۱۳۳۳هج)

ځواب: ددې دجوازصورتونه فقهاؤ ليکلې دي اوله بيع معدوم څخه يې داجلا کړې ده ،ځکه نو

(۱) ردالمحتار (۴/ ۲۴۰) کتاب البيوع ، مطلب: امرنابترکهم ومايدينون ط رشيديه.

داهیڅ پروانلري اودضرورت پروخت دتصحیح په تاویل معامله کول روادي(۱)

څه روپۍ مخکې ورکول دټولې میاشتې لپاره په دوې

پیسې دایخې دسېررانیولومعامله کول

سوال: (۲۷۵) دروژې دمیاشتې په لومړۍ شپه دایخې خرڅوونکې سره ټېکه وهل چې مثلا ټوله میاشت تراختره پورې به په دوې پیسې دایخې سېرراکوې په بازازکې یوه پیسه سېروي اوکه په دوې پیسې اوڅه قیمت یې ده ته پېشکي هم ورکړي آیادامعامله رواده ، که نه ؟ (۳۹۳/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

خواب : دغه معامله دایخې درانیولوصحیح ده اوددې دتاویل یادونه دفقهې په کتابونوکې شته(۲) فقط.

دمیاشتې په پنځه روپۍ ترمړتیاپورې دډوډۍ خوړلومعامله کول

سوال: (۲۷۲) (الف) زید دیوه سړی سره دمیاشتې په پنځه روپۍ ترمړتیا پورې دډوډۍ خوړلومعامله وکړه دډوډۍ اندازه اوډول یې معلوم نکړېلکي دایې ورته وویل چې کومه ډوډۍ ستاسوپه کورکې پخه شي یایې سالن اخستل دیوسړی سره مقررکړخودسالن قسم یې معلوم نه کړدایې وویل چې کوم سالن ستاپه کورکې پخیږي معاملات صحیح دي که نه ؟(ب) زید په یوسړی دکتغ ډوډۍ پخوي خوپه کومه وجه دپخولومزدوري نه ورکوي دمیاشتې اته آنې دلرګیولپاره ورکوي دامعلوم نه دی چې څومره لرګي سوځل کیږي داروادی ، که نه ؟ (۳۰۹/ ۳۵-۱۳۳۲هج)

خواب: (الف) دامعاملې خوپه عرف کې شته صحیح دي.

(ب) داهم صحیح دی فقط.

(۱) ومماتسامحوا فيه واخرجوه عن هذه القاعدة مافى القنية الاشباه التي تؤخذمن البياع على وجه الخرج كماهو العادة من
غيربيع كالعدس والملح والزيت ونحوهاثم اشتراهابعد ماانعدمت صح آه فيجوزبيع المعدوم هنا(البحرالرائق ۵/ ۴۳۴،
كتاب البيع) هكذافي الشامي وفيه ايضا وقال بعض الفضلاء ليس هذابيع معدوم الخ (الشامي (۴/ ۱۳) كتاب
البيوع ، مطلب البيع بالتعاطي ط رشيديه.
(۲) مخکنی حواله.

دمیاشتنۍ رسالوقیمت مخکې وصولول

سوال: (۲۷۷) دمیاشتنۍ رسالوچې پېشکي کوم قیمت اخستل کیږي دهغه دجوازڅه دلیل دی ؟له حدیثواودفقهې څخه دمعدوم بیع ناجائزمعلومیږي ؟(۹۷/ ۱۳۳۷هج)

خواب : دمیاشتنۍ رسالواونورودبیع دجوازصورت دادی چې اول دبیع پروعده باندې حمل وي درسالې له وصولولووروسته بیع تامیږي اوعلامه شامی په بیع استجرارکې دداډول بیع تفصیل کړی دی اوڅوصورتونه یې لیکلې دي چې په داسې ځایونوکې ځینې فقهاؤ دمعدوم بیع استحساناروالیکلې ده(۱) فقط.

دشپدوله قیمت مقررولووروسته هره ورځ یوسېریادوه

سېره اخستل اودمیاشتې روپۍ مقررول په هوټل کې دډوډۍ خوړلولپاره

سوال: (۱۲۷۸) (الف) له حلالولومخکې دحیوان څرمن خرڅول صحیح دي ، که نه ؟

(ب) مثلا دیوې روپۍ اته کېلوشېدې مقررې کړیَه روپۍ ورکړي بیاهره ورځ یوسېریادوه سېره اخلي داروادی ، که نه ؟

(ج) که روپۍ وروسته ورکړي نوڅه حکم دی ؟

(د) له هوټلې سره دیووخت خلورآنې یالس روپۍ دمیاشتې مقررولووروسته ډوډۍ خوړل صحیح دي ، که نه ؟ (۲۰۸/ ۱۳۴۱هج)

(۱) قال فى الدرالمختار: مايستجره الانسان من البياع اذاحاسبه على اثمانها بعد استهلاكها جازاستحساناوفى الشامى قال فى الولوالجية دفع دراهم الى خبازفقال: اشتريت منک مائة منّ من خبزوجعل يأخذكل يوم خمسة امناء فالبيع فاسدوماأكل فهومكروه لانه اشترى خبزاغيرمشاراليه فكان المبيع مجهولا ولواعطاه الدراهم وجعل يأخذمنه كل يوم خمسة امناء ولم يقل فى الابتداء اشتريت منک يجوزوهذاحلال وان كان نيته وقت الدفع الشراء لانه بمجردالنية لاينعقدالبيع وانماينعقدالبيع الآن بالتعاطى والآن المبيع معلوم فينعقدالبيع صحيحا(الدروالرد (۴/ ۱۴) كتاب البيوع ، مطلب البيع بالتعاطى ط رشيديه.

ځواب: (الف) صحیح نه دی (ب) جائزدی (۱)
(ج) داهم جائزدی (۱) (د) جائزدی.

دبیانې روپۍ بېرته نه ورکول

سوال: (۲۷۹) ماخپله څه مځکه پریو سړی خرڅه کړه چي پکي ده پنځویشت روپۍ بیانه راکړه اودنورو روپیو وعده یې دځلورومیاشتوو روسته راکولو راسره وکړه اودبیع دپانې تکمیلولوهم له هغه مودې وروسته خبره وشوه اوزموږترمینځ دامعاهده وشوه چي که بالفرض مشتري بیع نه کوله اودده بیانه پنځویشت روپۍ به ضبطیږي اوس دمشتري دوه کاله کیږي ده دبیعې پانه نه ده تکمیل کړې اوس دمعاهدې سره سم پنځویشت روپۍ ځیني ضبطولای شم ، که نه ؟ (۱۳۳۵/۲۵۰هج)

ځواب : هغه پنځویشت روپۍ ستاسولپاره ضبطول اوبېرته نه ورکول صحیح نه دي اوقطعي حرام اوپه حقوق العبادکې داخلې دي که ده بیع پوره نکړه نوباید هغه روپۍ ته بېرته ورکړي اوپربل کوم چاچي وغواړې خرڅه یې کړه یاکه یې دی رانیسي نوپرده باندي یې خرڅه کړي اویادې شوې روپۍ په قیمت کې راوګرځوې فی الحدیث قال نهی رسول الله صلی الله علیه وسلم عن بیع العربان (۲) وهوان یشتری السلعة ویعطی البائع درهما اواقل اواکثرعلی انه ان تم البیع حسب من الثمن والالکان للبائع ولم یرجعه المشتری وهوبیع باطل لمافیه من الشرط والغررالخ (۳) حاشیه سندهی مشکوة ص: ۲۴۰) فقط والله اعلم.

---

(۱) ومماتسامحوافیه واخرجوه عن هذه القاعدة مافی القنیة الاشیاء التی توخذمن البیاع علی وجه الخرج کماهوالعادة من غیربیع کالعدس والملح والزیت ونحوهاثم اشتراهابعدماانعدمت صح آه فیجوزبیع المعدوم هنا(البحرالرائق ۴۳۴/۵کتاب البیع) هکذافی الشامی وفیه ایضًا وقال بعض الفضلاء: لیس هذابیع معدوم الخ (الشامی (۴/ ۱۳)کتاب البیوع مطلب البیع بالتعاطی ط رشیدیه)
(۳) مشکوة ص: ۲۴۸کتاب البیوع ، باب المنهی عنهاعن البیوع ط رشیدیه.
(۴) حاشیة المشکوة: : ۲۴۸کتاب البیوع ، باب المنهی عنهاعن البیوع ط رشیدیه.

پرټاکلې وخت دمال نه لیږلوپه صورت کې په من کې لس روپۍ ګټه اخستل

سوال: (۲۸۰) کوم سړی چي پېشکي روپۍ ورکړي یوشی رانیسي اودالیکل ورکړي چي که ترفلاني وخته داشیان رانغلونودوعدې دخلاف ورځې به په من کې لس روپۍ ګټه اخلم پرمقررکړې وخت باندي هغه شیان نه ورولیږي نوپه من کې لس روپۍ ګټه اخستل روادي ، که نه ؟ (۱۳۴۰/۱۹۹۱هج)

ځواب: دامعامله په دې شرط سره باطله اوناجائزه ده اودیادې شوې ګټې اخستل صحیح نه دي.

په بیع تولیه کې که خیانت ثابت شي نومشتري څه وکړي ؟

سوال: (۲۸۱) دزیدسره دسوځلولپاره دلرګویوه کوړۍ وه عمردهغې رانیول وغوښت نووي ویل چي اصلاتاپه څورانیولې ده ؟ زیدورته وویل چي اصلاماپه درې سوه روپۍ رانیولې ده پنځوس روپۍ ګټه غواړم نوعمرورته وویل چي ته خولمونځ ګذاره اوحاجی یې ستاوینارښتیااوصحیح ده اوزه باورپه کوم ، ځکه ته خپله ګټه پرېږده په اصل قیمت باندي یې راکړه زیدراضي شوعمرورته وویل چي ترڅوخرڅ شوی نه وي ترهغوبه ستاپه څارنه اوستاپه قبضه کې وي یعنی زه یې خپلې مځکې ته نه راوړم بلکي پرهغه ځای باندي یې خرڅوم بیاعمردوه سوه روپۍ نغدې ورکړي اودسلوروپویې وعده ورسره وکړه چي مال خرڅ شي بیابه یې درکړم ، ځکه نوپرهغه مځکه باندي دبازارپه بیعه مال خرڅول شروع کړاوله دې څخه یې وزیدته هم ورکول تراوسه شپېته روپۍ اداشوې اونژدې دیوسل ، لسوروپومال خرڅ شونومال ونیمایې ته نژدې پاته شوبکردزیدرازداروچي دبیعې پروخت حاضروهغه وویل چي زیدلویه دوکه درکړه دغه دده مال دیوسل پنځه اتیاروپودی اوخالدهم دده رازداردی هغه هم وایې چي دیوسل پنځه اویاروپودی ، ځکه پردې خبره باندي پاته مال هم شاهددی زیددعمرسره دوکه وکړه نودغه عقددبیع جائزشو ، که نه ؟ اوعمرته ددې دبیرته ورکولواختیارشته اوکه نه ؟ (۱۳۳۶-۳۵/۵۵۰هج)

ځواب: ودغه عقدته چي دزیداوعمرسره وشوکه تولیه وویل شي لکه چي دزیدبیان دی چي په درې سوه مارانیولی دی اوعمرپه اصل قیمت ورسره معامله وکړه نوددې حکم دادی چي په تولیه کې که خیانت ثابت شي نومشتري ته

دقیمت کمولواختیاروي دواپسولواختیاربه نه وي کمافی الدرالمختارولہ الحط قدرالخیانة فی التولیة وفی الشامی قوله وله الحط ای لاغیربحر(۱) (شامی) خوپه دې کې شک نشته چي په دغه سوداکې دوکه هم شوې ده اوپه ښکاره غبن فاحش دی، ځکه وعمروته دواپسولوهم اختیارشته' قال فی الدرالمختار: ویفتی بالردان غره ای غرالمشتری البائع اوبالعکس اوغره الدلال فله الرد الخ(۲) فقط.

رانیولي مال خرڅ شوله هغه وروسته په بیع مرابحه کې خیانت ښکاره شونوڅه حکم دی ؟

سوال: (۲۸۲) ماله یوتاجرڅخه څه مېږې راغوښتې وي هغه دخپل شریک په وسیله راولیږلې هغه چي کوم قیمت راوښووی هغه ګران راته معلوم شوڅه موده وروسته اصل مالک راغی اومال څه خرڅ شوی وواوله هغه سړی چي مال یې راوړی ووپه تینګارسره وپوښتل شول چي صحیح قیمت راوښیه هغه چي کله اصل قیمت ووایونومعلوم شوچي ۲۷روپۍ ده زیاتې راښوولې وي اواصل مالک راغی دروپیوغوښتنه یې وکړه نواوس به شرعًا څومره قیمت ورکول غواړې اودامعامله دمرابحې ده (۳۱۳/ ۴۴- ۱۳۴۵هج)

ځواب: په دې صورت کې کله چي مشتري مبیع خرڅه کړې ده ،ځکه نوپوره قیمت کوم چي بائع ورته ویلې دي هغه به ورکوي په درمختارکې راغلې دي : ولوهلک المبیع اواستهلکه فی المرابحة قبل رده الخ لزمه بجمیع الثمن المسمی (۳) فقط.

درانیولوپروخت مېوه اونورپه چاڼ اخستل صحیح دي

سوال: (۲۸۳) مېوه په چاڼ اخستل دسوداپروخت که یې شرط لګولی وي اوکه نه صحیح دی ،که نه ؟

ځواب: په چاڼ اخستل صحیح دي خواکه یې شرط پرلګولی وي یادعرف سره سم بېله شرط لګولوبې چاڼ کړي.

(الدروالرد (۴/ ۱۷۴) کتاب البیوع ، قبل مطلب: خیارالخیانة فی المرابحة لایورث ط رشیدیه.
(۲) الدرمع الرد(۴/ ۱۷۸) کتاب البیوع ، مطلب فی الکلام علی الربالغبن الفاحش ط رشیدیه
(۳) الدرالمختارمع الشامی(۴/ ۱۷۴) کتاب البیوع ، قبیل مطلب ، خیارالخیانة فی المرابحة لایورث ط رشیدیه.

له بائع څخه دګرانۍ خبره پټول دبازارپه نرخ مال څیني رانیول

سوال: (۲۸۴) ماته دتاجرخط راغی چي دلته مال ګران شوماله یوبل سوداګرچي تراوسه لاپه ګرانۍ نه ووخبرمال رانیوی خوداخبره یقیني ده که مادی خبرکړی وای نوده به هیڅکله نه وای مال راکړی نوآیادارانیول روادي ،که نه / دبازارپه بیع مې رانیوی (۱۳۱/ ۱۳۳۵هج).

ځواب: دبازارپه بیع رانیول صحیح دي داهیڅ پروانلري فقط والله اعلم.

په تالاب کې چي کوم ماهیان دي دهغوئ له یادونې پرته دتالاب ماهیان رانیول

سوال: (۲۸۵) اګر تالاب بې ذکرمافیهاازماهي خریده آیدآیاماهی آن تالاب برمشتری حلال باشد؟ (۷۴۶/ ۱۳۳۹هج)

ځواب: این بیع وشراء درست نیست ومشتری راتصرف دران حلال نیست فقط.

دسوال: (۲۸۵) ترجمه : که کوم تالاب بې دهغه دماهیانوله یادونې چي په دې کې دي رانیول شي نوددغه تالاب ماهیان درانیوونکې لپاره به حلال وي ، که نه ؟

ځواب: دارانیول اوخرڅول صحیح نه دي اودمشتری لپاره په دې کې تصرف کول روانه دي.

دغې تالاب ماهیان که چارانیولې وي هغه که دغه ماهیان وچاته دخوراک لپاره ورکړي نوڅه حکم دی ؟

سوال: (۲۸۶) زموږپه ملک کې په غټو ،غټوتالابونواونهرونوکې ماهیان خرڅیږي کوم چي باطله بیع ده اوس دپوښتنې وړخبره داده چي زیدوایې چي که مشتري ماهیان ونیسي په بل یې و خوروي نودبل لپاره روادي که څه هم بیع باطله ده ،ځکه چي دااصلا مباح دی عقدپه دې کې اثرونکړاوعمروایې چي دمشتري لپاره پخپله خوړل اوبل په خوړول حرام دي دارازدبل لپاره ،ځکه چي داباطله بیع ده اوددې حرمت متعدی دی ؟ (۲۴۷/ ۱۳۳۵هج)

ځواب: دزیدوینازیاته صحیح ده ،ځکه چي دابیع که څه هم باطله یافاسده ده خوپه داسي غټوتالابونویانهرونوکې چي ماهیان یې دچاملک نه دي چي څوک یې ونیسي دهغه ملک ګرځي قال فی الشامی [فانه لوصاده بعده ملکه الخ(۱) فقط والله تعالی اعلم.

دبائع دزانیوونکې ومخته ناپول اوتلل درانیوونکې لپاره کفایت کوي.

سوال: (۲۸۷) ولواشتری مکیلا کیلاحرم بیعه واکله حتی یکیله (کنز،باب المرابحة) ومن اشتری مکیلامکایلة اوموزوناموازنة فاکتاله اواتزنه ثم باعه مکایلة اوموازنة لم یجزللمشتری منه ان یبیعه ولاان یأکله حتی یعیدالکیل والوزن الخ (هدایه)

له دغوعبارتونوڅخه په ښکاره دامعلومیږي چي ترڅوبائع اومشتري ناپ اوتول ونکړي ترهغودغوشیانوخوراک حرام دی آیاداقیدعام دی یاچي مشتري موجودنه وي چي دبائع دناپولوپرؤخت مشتری موجودنه ووشرعًا څه حکم دی ؟(۱۳۸۰/ ۱۳۳۷هج)

ځواب : داهماغه وخت چي دمشتري ومخته یې بائع ناپ یاتول نه وي کړی اوکه یې دمشتري ومخته بائع ناپ کړی یاتللی وي نودغه ناپول اوتلل کفایت کوي لکه چي دهدایې والاددې څرګندونه کړې ده ولوکاله البائع بعدالبیع بحضرة المشتری فقدقیل لایکتفی به لظاهرالحدیث فانه اعتبرصاعین والصحیح انه یکتفی به لان المبیع صارمعلومابکیل واحدوتحقق معنی التسلیم ومحمل الحدیث اجتماع الصفقتین علی مانبین فی باب السلم ان شاء الله تعالی الخ(۲) فقط.

سوال: (۲۸۸) ولواشتری مکیلاکیلاحرم بیعه واکله حتی یکیله ومثله الموزون الخ(۳) له دې څخه معلومیږي چي په بیع کې دبائع اومشتري لپاره جلا ، جلاناپول اوتلل لازم دي بیله ناپولواوتللویې استعمال حرام دی په دې صورت کې څه حکم دی ؟ (۱۷۱۲/ ۳۲- ۱۳۳۳هج)

(۱) ردالمحتار(۴/ ۱۱۹) ، کتاب البیوع ، مطلب فی البیع الفاسد ط رشیدیه.
(۲) الهدایة ۳/ ۷۵کتاب البیوع قبل باب الربو.
(۳) کنزالدقائق مع البجر: ۲/ ۱۹۳- ۱۹۷کتاب البیع و فصل فی بیان التصرف فی المبیع.

ځواب: په دې کې داصورت دګتې دګنجائش لیکلی دی چي که بائع دمشتري ومخته ناپ اوتول وکړل ومشتري ته هغه شی وسپاري نودمشتري لپاره دخوړلواونوردبل وارناپولوضرورت نشته په هدایه کې راغلې دي [ولوکاله البائع بعدالبیع بحضرة المشتری فقدقیل لایکتفی به لظاهرالحدیث فانه اعتبرصاعین والصحیح انه یکتفی به لان المبیع صارمعلومابکیل واحدالخ (۱) اوپه درمختارکې راغلې دي وکفی کیله من البائع بحضرته ای المشتری بعدالبیع الخ(۲)

ځواب : که مشتري پخپله خوښه دوزن کوونکې اوکیل کوونکې مزدوري ورکړي نوداصحیح دی.

رانیوونکي که په خوښې وناپوونکې اوتلوونکې ته مزدوري ورکړي نوصحیح ده

سوال: (۲۸۹) که دبائع اومشتري خوښه وي چیدوزن کوونکې اوناپوونکې مزدوري به مشتري ورکوي نوداروادی ،که نه ؟(۵۲۸/ ۴۴- ۱۳۴۵هج)

په ناپ اوتول کې کمي کول حرام دی

سوال: ۲۹۰) درانیولوپروخت له مقررشوې وزن څخه زیات اودخرڅولو پروخت کم تلل جائزدي ،که نه ؟(۱۸۱۵/ ۱۳۴۰)

ځواب: داحرام اومکروه دی اوپه [ویل للمطففین] سورة کې پردې وعېدراغلی دی.

له مځکې خرڅولوورسته په حکومتي کاغذونو کې په رهن لیکلوبیع نه ماتیږی

سوال: (۲۹۱) یوسړی خپله مځکه دښکاره قانون دناوړتیااودشفعې دخرابۍ په وجه په حکومت کې درهن په طریقه رسمي کړه اوکورنۍ دبیع پانه دڅو ګواهانودګواهۍ سره لیکلې ده دابیع جائزده ،که نه

(۱) الهدایة: ۳/ ۷۵کتاب البیوع ، قبل باب الربو.
(۲) الدروالرد (۴/ ۴۸۱) کتاب البیوع ، مطلب فی تصرف البائع فی المبیع قبل القبض ط رشیدیه.

؟(۲۷۱۷/ ۱۳۳۷هج)

ځواب: په دې صورت کې کله چي ايجاب اوقبول دبيع وشول اوپه قطعي توګه رانيول اوخرڅول واقع شول نودابيع صحيح شوه کماقال الله تعالی [الاان تکون تجارة عن تراض منکم (سورة نساء آيت: ۲۹) نوله دې وروسته په حکومتي کاغذکې په رهن ورليکلوهغه بيع نه باطليږی اوپه حقيقت کې به دابيع وي رهن به نه وي فقط.

په ګروور کړې مځکه په ګرواخستوونکې خرڅول

سوال: (۲۹۲) زيدخه مځکه دڅلوروسوورو پوپه بدل وخالدته په ګروورکړه کله چي دګروپانه وليکل شوه نوله هغه وروسته خالدزيدته ددغې مځکې دخرڅولو وويل زيدراضي شواودابيع معامله يې په څلورسوه روپۍ وشوه خالدڅلورسوه روپۍ وزيدته ورکړې خودبيع پاڼه ونه ليکل شوه دامځکه دخالدپه هکله بيع دهکه رهن (ګرو) ؟ دخالدلپاره استفاده ځينی کول روادي ، که نه ؟(۱۳۰۹/ ۱۳۴۲هج)

ځواب: په دې صورت کې دغه مځکه پرخالدخرڅه شوه خالد ددې مالک شودمالک په حيث ټول تصرفات پکي کول اواستفاده ځيني کول دخالدلپاره صحيح دي فقط.

له مکان رانيولووروسته دمکان بيرته ورکولوداقرارپاڼه وليکله نوڅه حکم دی ؟

سوال: (۲۹۳) مايومکان له شيخ امام الدين څخه په ديارلس سوه روپۍ رانيوی اودهغه قباله مې پخپل نامه راواړوله اوپه دغه تاريخ کې يوه داقرارپاڼه (دناروافشارپه وجه) امام الدين په ماددې مضمون وليکله چي که بائع په لس کاله کې دننه ستاسوروپۍ سره دنوې تعميردلګښت درکړې نوددغه مکان دبيع پاڼه به بيرته دبائع په نامه کوي اوس چي کله پنځه کاله وروسته دنوې تعميراونوروپه وجه دمکان قيمت ډيرپورته شونوشيخ امام الدين وايې چي ديارلس سوه روپۍ واخله دبيع پاڼه زماپرنامه کړه دااقرارپاڼه روا ده ، که نه ؟(۱۸۰۲/ ۱۳۳۹هج)

ځواب: کله چي اصل دبيع پاڼه بېله کوم شرطه وه ، ځکه هغه معامله پوره اونافذه شوه مشتري ددغه مکان مالک

شوله دې وروسته چي پهناروافشار مشتري داقرارپاڼه ربيع ماتولوپه اړه وليکله په هغه سره په ياده شوې بيع کې هيڅ خلل واقع نه شودمشتري خوښه ده که نوموړی بائع شيخ امام الدين دخپل اقرارسره سم پوره قيمت سره له نوې تعميراونورودقيمت ونوموړی مشتري شيخ محمديوسف ته ورکړي نودې دغه مکان وشيخ امام الدين ته بېرته ورکړي اوکه يې نه ورکوي نوپرده هيڅ جبر(زور) نشته فقط.

مور که دنابالغ زوئ مځکه خرڅه کړې وي نوهلک له بالغېدووروسته بيع ماتولای شي

سوال: (۲۹۴) (الف) يوې کونډې ښځې دخپل نابالغ زوئ څه دکښت مځکه خرڅه کړه دهغې قيمت يې دځان اودزوئ په اړتياووکې ولګاووددې زوئ له بالغېدووروسته دغه بيع ماتولای شي ، که نه ؟

(ب) مځکه له مشتری څخه بېرته واخلي اوزرروپۍ دمحکمې دفيصلې په وجه نه اداکوي نوداسې مځکه شرعًا دده لپاره اخستل روادي ، که نه ؟(۱۹۶۲/ ۳۲- ۱۳۳۳هج)

ځواب: (الف) ماتولای يې شي(۱)

(ب) روادی فقط.

پلارچي دنابالغ زوئ لپاره کومه مځکه رانيوله دهغه مالک څوک دی ؟

سوال: (۲۹۵) اکبرحسين ۱۷۰۰ګزه مځکه دخپل نابالغ زوئ نصرت حسين په نامه رانيوله دبيع پاڼه يې دنصرت حسين په نامه وليکله خواکبرحسين په دغه مځکه کې درهن اونوروتصرفاتوکول نونصرت حسين ددې مالک شو ، که نه ؟ نضرت حسين وفات شوی دی نومالکان ددغې مځکې دده وارثان دي که څوک ؟(۲۹۸۳/ ۱۳۳۹هج)

---

(۱) ومورته دخپل نابالغ زوئ دجائداددخرڅولواختيارنشته ، ځکه دابيع باطله ده زوئ له بالغېدووروسته داختمولای شي قلت وهذالوالبائع وصيالامن قبل ام اواخ فانهمالايملکان بيع العقارمطلقًا (الدرالمختارمع الشامی (۵/ ۵۰۲) کتاب الوصی ط رشيديه).

ځواب: پهدغه صورت کې ۱۷۰۰ ګزه مځکه چي اکبرحسین دنالغ زوئ نصرت حسین په نامه رانیوله اودبیع پانه یې دهغه په نامه ولیکله ددې مالک نصرت حسین شواوداکبرحسین قبضه دنصرت حسین له لورې دولې والي په وجه وشوه نوددغې مځکې مالکان دنصرت حسین وارثان دي داکبرحسین نوروار ثان ددې مالکان نه جوړیږي فقط.

له مځکې خرڅولووروسته خرڅوونکي پکي کوم تصرف نشي کولای

سوال: (۲۹۲) زیداوعمردیوې مځکې سوداسره وکړه دثمن اونوروتولوپه اړه ددواړوخبره سره وشوه کله چي بائع اومشتري کورته راورسېدل نواوس بائع مځکه نه پرېږدي نوددغه مځکه دمشتري ملک شوه ،که نه ؟ اواوس بائع که په دغه مځکه کې دکښت اونوروڅه تصرف وکړي نوددې څه حکم دی ؟(۴۴۹/۴۴-۱۳۴۵هج)

ځواب: په دې صورت کې ایجاب اوقبول پوره شول اومشتري شرعًا ددغې مځکې مالک وګرځېدی اوس دبائع لپاره هیڅ تصرف دمشتري له اجازې پرته صحیح نه دی اوکښت اونورچي دی پکي وکړي ، مشتري ته دهغه دقطع کولو اختیارشته اودی ګنهګاردی.

خاوندکه دخپلې ښځې جائدادخرڅ کړي نوڅه حکم دی ؟

سوال: (۲۹۷) زیدخپل څه جائدادوخپلې ښځې ته په ولورکې ورولیکی وروسته یې دښځې له خبرولوپرته پخپله هغه پرعمرخرڅ کړشرعًا داسودا څرنګه ده ؟ اودده ښځه که دعوی وکړي ببېرته یې ځیني اخستلای شي فقط (۲۴۴۷/۱۳۴۰هج)

ځواب: دابیع دده دښځې پراجازه موقوفه ده که هغه اجازه ورنکړی نوباطله ده اودادې دبېرته اخستلودعوی کولای شي فقط.

دخاوندله وفات وروسته ښځې دولورپه عوض دخاوند
پاته شوی مکان خرڅ کړنوڅه حکم دی ؟

سوال: (۲۹۸) زیدوفات شویومکان اوڅه سامان یې پاته شودده دښځې دولور پور

دومره ووچي دزیدترټول سامان اومکان زیات ووپه داسي صورت کې که هنده دغه مکان برچاخرڅ کړي نوپه شریعت کې به داروا وي ،که نه ؟(۱۱۵۳/ ۲۹-۱۳۳۰هج)

ځواب: دزیددوارثانوله اجازې پرته ددغه مکان خرڅول صحیح نه دي اماکه وارثان پورله ځانه نه اداکوي نوبیاهنده که دامکان په پورکې واخلي خرڅولای یې شي کمایفهم من عبارة الشامی ، باب الوصی لانهم اذاکانواحضورالیس للوصی التصرف فی الترکة اصلاالااذاکان علی المیت دین اواوصی بوصیة ولم تقض الورثة الدیون ولم ینفذواالوصیة من مالهم فانه یبیع الترکة کلهاان کان الدین محیطا الخ(۱) له دغه عبارت څخه څرګنددی چي دپوراداکول دوارثانو کاردی که دوئ دمړي پورله خپل ماله څخه ادانکړي نوپه دغه وخت وصي یاپورورکوونکي ته اختیاردی دترکې دخرڅولونه داچي پورورکوونکی ئې دوارثانوله خبرولوپرته ترکه پخپل پورکې خرڅه کړي داتصرف جائزاونافذنه ګرځي فقط والله تعالی اعلم.

دقېمت دادائينې دوخت له معلومولوپرته سامان په پوررانیول

سوال: (۲۹۹) زیدله تاجرڅخه سامان په پوراخلي اودروپیوداداکولوورسره هیڅ وعده نه کوي شرعي حکم یې څه دی ؟(۵۴۱/۱۳۴۱هج)

ځواب: دقېمت دادائينې کومه موده مقررول پکارده کنې بیع فاسد یږي مګرداچي موده په عرف اوعادت کې معلومه وي.

دخنزیردرانیوونکې اوخرڅوونکې حکم

سوال: (۳۰۰) یومسلمان خنزیران رانیسي اوخرڅوي دداسي سړی شرعًا څه حکم دی اوڅه سزایې ده ؟(۷۳۳/۱۳۴۱هج)

ځواب: دخنزیررانیول اوخرڅول حرام اوباطل دي اوداسي ناوړه کارکوونکی سخت ګنهګاراوفاسق دی توبه کښل پرده لازم دي اوکه دی یې ونه مني نومسلمانان دې له ده سره اړیکې پرېکړي.

(۱) ردالمحتار (۵۰۲/۵) کتاب الوصایا، باب الوصی ط رشیدیه.

له خنزیر خرڅولوو روسته دهغه له قیمت څخه استفاده صحیح نه ده

سوال: (۳۰۱) یوسړی ښکاری دی دی ځنګلي خنزیران دخپل کښت دخوندي کولولپاره وولي پرخوړوونکویې خرڅوي ددې خبرې پوښتنه له ده څخه وشوه ده وویل چې په دغوروپیوټوپک رانیسم اوکله ناکله پایزار(څپلۍ) په ګندم په پښوکوم یې اودغه روپۍ دخوراک ،څښاک په شیانوپه جامواونوروکې احتیاطًا نه صرفوم په دغه ټوپک باندي چې دنورو حلالوحیوانانوښکارکوي هغه پخپله استعمالوي ددې په اړه شرعًا څه حکم دی ؟(۳۳۲۰/۴۱-۱۳۴۷هج) ځواب: دخنزیربیع باطله ده ،ځکه خرڅول دخنزیرروانه دي ،ځکه چې شریعت دې ته مال نه دي ویلې ،ځکه نوداخرڅول په قیمت باندي یې ټوپک یاڅپلۍ رانیول روانه دی خوپه دغه قیمت باندي چې یې کوم باروداونوررانیول په هغه چې یې کوم ښکارکړی دی دهغه خوراک حلا ل دی فقط.

دساه کښوونکې شیانومارکه (نښانه) جوړول او
دچاپه خاص مارکه وراچولومال تیارول

سوال: (۳۰۲) دغتوتجارانوداهم رواج دی چې دولایت له کارخانوسره معامله وکړي دخپل مال لپاره کومه خاص مارکه (علامه) مقرره کړي دامارکه زیاتره دساه کښوشیانووي بیاهغه مارکه کوم بل تاجرپرخپل مال باندی نه شي جوړولای که یې جوړه کړي نوقانونًا به مجرم وي اوتاوان به ورکوي اوپه آئنده کې به داسي کارنه کوي په اول سرکې ددغه خاص مارکې مال تاجران په ډیره کمه ګټه یاپه اصل قیمت خرڅوي کله چې مال په ملک کې پوره مشهورشي نوبیادخپلې خوښې ګټه پراچوي کله چې قانونًا کوم بل تاجردغه خاص مارکه پرخپل مال نشي اچولای ،ځکه که کوم بل تاجرکومه بله مارکه پراچوي دغه ډول یاله دې څخه هم ښه مال تیارکړي نوبیاهم رانیوونکی دې ته توجه نه کوي زموږپه کارخانه کې هم له ډیرزمانې داډول دبېلابېلومارکومال راځي اوس که موږنوې مال ته ارشونودې دبې ساه شیانومارکه پرجوړووخودساه کښوشیانوډیر مخکښیومارکوډیر شهرت موندلی دی ددغه شهرت موندونکومارکوپه وسېله زموږدکان ښه چلیږي اوس که دغه مارکې بندي کړونودکان کاردریږي اوپه لکونوروپیونقصان راځي که پرهمدې موجودمال دساه کښ دمارکې په پرېښوولوکومه بله دبی ساه شی مارکه واچووراوې غواړونوکه څه هم له مخکې څخه ښه اوغوره مال تیارکړوخوبیاهم دمخکې په څیرقیمت نشی موندل کیدای په داسي حال کې دساه کښ مارکې والامال داسي جاري ساتل صحیح دي ،که نه ؟ دارازکه کوم بل تاجرزموږمارکه پرجوړه کړي مال تیارکړي نوانګریزي محکمې ته مراجعه کول دهغه بندول اودده په دغه عمل چې کوم تاوان رسېدلی دی له ده څخه اخستل شرعًا روادی ،که نه ؟ یهودیان ،نصاری ،هندوان اونورقومونه اودارازمسلمانان که دایقین وکړي چې فلانی مسلمان تاجربه دخپلې مارکې دعوی ونکړي نویقېنابه دوئ دهغه دمارکومال تیارکړي چې نتېجه به داراووزي چې دهغه تجارت خوبه یایومخ ختم شي یابه یومخ کمزوری شي بینوا توجروا(۲۸۸۲/۱۳۴۱هج)

ځواب: دمارکې په صورت کې دساه کښ دعکس جوړولواودهغه باقي ساتلوګناه به ددغوتاجرانووي خوداصل مال په رانیولواوخرڅولوکې ددې په وجه حرمت نه راځي ،ځکه چې مقصوددتصویررانیول اوخرڅول نه دي هغه صرف علامه ده ددغه کارخانې دمال نوپرکوموشیانوچې یاده شوې نښانه ده دهغوئ رانیول اوخرڅول صحیح دي اوقیمت یې حلال دی.

اودلاضررولاضرارپه قاعده باندي نورتاجران ددغې مارکې له جوړولوڅخه منع کول کېدای شي لکه چې دکتابونوپه رسمي کولوکې همدغه غرض په پام کې وي چیکوم بل څوک داچاپ نکړي که څه هم په دې کې بحث اوتفصیل شته اواصل همدغه دی چې څوک ددغه کتاب له چاپولوڅخه منع نکړل شي خوکله چې دنوروغرض ده ته تاوان رسول وي یادده په چاپولوومخکنیوته نقصان رسیږي کوم چې لازم دی نوبیادلاضررولاضرارپه حکم دوئ منع کول کېدای شي همداسي په یاده شوې مارکه کې بلل پکاردي فقط.

حلا ل حیوانات له حلالولوو روسته خوړل اوله دوئ څخه
له خرڅولوو روسته استفاده کول

سوال: (۳۰۳) دحلا ل حیوانانو حلا لول دتجارت اوګټې په غرض اوددوئ دغوښې

اوخرمنی رانیول اوخرڅول روادي ،که نه ؟ درسول الله صلی الله علیه وسلم اوراشده خلفاووپه زمانه کې داډول رانیول اوخرڅول وو ،که نه ؟ داکارله کومه وخت څخه پیل شوی دی ؟(۱۳۴۲/۱۳۷۷هج)

ځواب: حلال حیوانان له حلالولووروسته خوړل اوله خرڅولووروسته یې ګټه خوړل دواړه کاره دسلفواوخلفوله انکارپرته راروان دي په داسي بدهي اومعروفوشیانوحاجت وکوم خاص دلیل ته اړتیانه وي اونه دپیل کېدووپوښتنې ته اړتیاشته ،ځکه چي کله آیت [احلت لکم بهیمة الانعام] (سورة مائده آیت : ۱) نازل شوله هماغه وخته حلت دحلالوحیوانانوثابت شواوکوم کارچي شرعًا درسول الله صلی الله علیه وسلم له زمانې څخه بېله انکاره جاري دی دهغه په اړوند کومې پوښتنې ته اړتیانشته فقط.

یوشي په کم قیمت خرڅول په رسید کې زیات لیکل

سوال : : (۳۰۴) یوشی په (۸۰) روپۍ خرڅ شواوپه رسید کې سل (۱۰۰) روپۍ ورلیکل روادی ،که نه ؟(۲۰۹۰/ ۱۳۱۳۴۳)

ځواب: داروادی.

سوال: (۳۰۵) دزیدحق په یوه مکان کې وواتلس کاله کیږي چي هغه خرڅ شوی دی اوس زیدمکان له مشتري څخه خپل حق غواړي مشتري ورته وایې چي ستاحق دډېرې مودې دتیریدوپهوجه ساقط شوی دی نودادده ویناسمه ده ،که نه ؟ اودحق په ساقطېدوکې کوم شرعی حدشته ،که نه ؟(۲۷۲/ ۴۴-۱۳۴۵هج)

ځواب : هیڅ حدنشته زیدخپلې برخې حقداردی دده حق نه دی ختم شوی [ان لحق لایسقط بتقادم الزمان(۱)(شامی) فقط.

دقیمت له معلومېدوپرته په پور خرڅول

سوال: (۳۰۶) (الف) غله اوس ورکول اوشپږمیاشتې وروسته یې نرخ معلومول روادی ،که نه.

(۱) الشامی (۵/۵۲۴) کتاب الخنثی ، مسائل شتی ط رشیدیه.

(ب) دیوې غلې نرخ څلورروپۍ من دی په پوردورکولوپه صورت کې په څلور روپۍ ،څلورآنی من ورکوي داشرعًا روادی ،که نه ؟(۴۸/ ۱۳۴۵هج)

ځواب: (الف) داروانه دی.

(ب) په ثمن مؤجل (په پوراخستلو) کې زیاتوب روادی : کمافی الهدایة الایری انه یزادفی الثمن لأجل الأجل(۱).

ددلال له بائع اومشتري څخه کمېشن اخستل

سوال: (۳۰۷) کمیشن اخستل له بائع اومشتري دواړوڅخه یاصرف له یوه څخه روادی ،که نه ؟ یوسړی دې ته ناروا وایې اودمسلم حدیث پېشوي کوم چي په مشکوة (مخ : ۲۴۷) کې راغلې دی عن جابررضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لایبیع حاضرلباد الحدیث(۲) شرعًا په دې اړه څه حکم دی ؟(۱۹۰۲/ ۱۳۴۳هج)

ځواب : داصورت شرعًا جائزدی په دې کې دناروالې کومه وجه نشته کله چي بائع اومشتري پخپله خوښه وده ته اجرت ورکوي نوداڅه پروالري ؟ فقهاؤدېته رواویلې دي اوددې تفصیل یې داډول کړی دی چي که دلال دمالک په اجازه پخپله داشی خرڅ کړی دی نودده مزدوري پربائع ده له مشتري څخه وده ته داخستلوحق نشته اوکه صرف ده کوشش کړی دی اوخرڅوونکی پخپله مالک دی نوپه دې کې وعرف ته کتل کیږي یعنی که عرف داسي دی چي ددلال اجرت صرف دبائع یاصرف دمشتري پرذمه وي نوهمدې ته اعتبارورکول کېږي اوکه دارواج دی چي دواړه ددې داجرت ذمواردي نوددې اعتباربه کیږي لنډه داچي په کوم ښارکې څرنګه رواج دی دهغه سره سم به عمل کیږي په درمختارکې راغلي دي: واماالدلال فان باع العین بنفسه باذن ربهافاجرته

(۱) الهدایة: ۳/ ۷۴،کتاب البیوع ، قبل باب الربو.
(۲) عن جابررضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: لایبیع حاضرلباد ، دعوالناس یرزق الله بعضهم من بعض رواه مسلم(مشکوة المصابیح ص: ۲۴۷ ، کتاب البیوع وباب المنهی عنهامن البیوع).

علی البائع وان سعی بینهماوباع المالک بنفسه یعتبرالعرف الخ (۱) اوپه شامي کي ترهمدې قول لاندي دی [فتجب الدلالة علی البائع اوالمشتری اوعلیهما بحسب العرف (۱) (نقل هذاعن جامع الفصولین) اوهغه حدیث چي په سوال کې یې رانقل کړی دی دهغه دجوازاوناروا توب سره هیڅ اړه نشته ،دهغه معنی خوصرف داده چي دکوم ښارداوسیدونکي لپاره مناسب نه دی چي هغه غله اونورپه داسي حالت کې چي ښاروال په وچ کالي اوتنګي کې واقع وي پرنورکلیو الو باندي ګرانه خرڅه کړي قال فی النهایة: صورته ان الرجل اذاکان له طعام وعلف واهل المصرفی قحط منهماوهولایبیعهامن اهل المصرحتی یتوسعواویبیعهامن اهل البادیة وهم یتضررون بذلک فهومکروه انتهی (۲) اوپه هدایه کې راغلي دي : هذااذاکان اهل البلدفی قحط وعوزوهویبیع من اهل البدوطمعافی الثمن الغالی الخ (۳) لنډه داچي په یادشوې صورت کې که کمېشن کار(دلال) پخپله مال راوغواړې خرڅوي یې نودده اجرت صرف پربائع دی او که صرف کوشش کوونکی دی لکه چي په عامه توګه وي نوبیاده ته حق شته چي دعرف سره سم له دواړوڅخه اجرت واخلي یایې له یوه څخه واخلي په دې کې کومه شرعي منع نشته اونه کوم حدیثددې مخالف دی فقط.

خرڅ کړی شي دمشتری له خوښې پرته بائع بېرته نه اخستلای شي ،نه یې په قېمت کې زیاتوب کولای شي

سوال: (۳۰۸) (الف) خرڅ کړی شی دمشتری له خوښې پرته بائع بېرته اخستلای شي ،که نه ؟ (ب) پرخرڅ کړل شوې شی باندي که دحکومتي دبیع پاڼې تکمیل نه وي شوی نوبائع په قېمت کې زیاتوب کولای شي ،که نه ؟ (۱۳۴۲/۴۷۲هج)

ځواب: (الف) دمشتري له خوښې پرته یې نشي اخستلای.
(ب) دمشتري له خوښې پرته په ثمن کې زیاتوب صحیح نه دی فقط.

بېله نرخ معلوموملوغله په پوررانیول

سوال: (۳۰۹) دارواج جوړشوی دی چي غله په پوربېله قېمت معلوموولوورکوي څلوریاشپږمیاشتې رووسته دمنې یاپسرلي له موسم وروسته لس پنځه کسان راجمع شي دسراودپای نرخ پرېږدي دمینځ نرخ قائموي مثلا کله چي په اول کې غله ورکړه نونرخ په شل سیروواوکله چي بیاورکړه نونرخ په اتلس سیروواوکله چي یې په اخیرکې ورکړه نونرخ په اوولس سیروونواوس دمینځ نرخ مقررېږي داډول معامله کول شرعًاروادی ،که نه ؟ (۱۳۳۰=۲۹ /۳۴۳هج)

ځواب: داډول معامله کول روانه دی بلکي لازم دي چي څومره غنم یې په قرض اخستي وي هغومره غنم اداکړي اوکه په قېمت یې اخستي وي نوکوم قېمت چي واقعي دغنم ورکولوپروخت دی اومقررشوی دی هغه دې ورکړي.

(۱) الدرالمختارمع الشامی (۴/ ۴۲) کتاب البیوع ، مطلب: فسادالمتضمن یوجب فسادالمتضمن ط رشیدیه) (۲) وبمعناه فی الجوهرة النیرة وبیع الحاضرمن البادی وهوان الرجل من اهل المصراذاکان له طعام وعلف واهل المصرفی قحط وهولایبیعهامن اهل المصرولکنه یبیعه من اهل البادیة بثمن غال فهذامکروه واماإذاکان اهل المصرفی سعة ولایتضررون بذلک فلابأس به (الجوهرة النیرة: ۱/ ۲۰۹ ، کتاب البیوع آخربیع الفاسد المطبوعة المجتبائي ،دهلی)
(۳) الهدایة: ۳/ ۴۷کتاب البیوع فصل فیمایکره.

دبیع سلم بیان

دبیع سلم جائزه طریقه

سوال: (۳۱۰) بیع سلم څه ډول رواده ؟ (۱۲۸/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

ځواب: بیع سلم داډول رواده چي قیمت مخکې ورکړي اومبیع دوې میاشتې یازیاته موده وروسته اخستل معلوم کړي اونرخ معلوم کړي چي مثلا غنم په یوه روپۍ لس سیره یادوولس سیره اخلم دارازد سلم ټول شرطونه په پام کې ونیسي اوتحقیق یې وکړي(۱)

دبیع سلم شرطونه

سوال: (۳۱۱) مثلا موږوچاته شل روپۍ مخکې ورکړې په دې سره مې په موسم کې دغنمونرخ درې منه وټاکی دااخستل روادي ،که نه ؟ (۵۱۵/ ۱۳۳۵هج)

ځواب: مخکې روپۍ ورکول په موسم کې دغنموپه معلوم نرخ سره داخستلو معامله صحیح ده ددې نوم په شریعت کې بیع سلم دی شرعًا ددې دجوازځوشرطونه دي هغه که پوره شي

(۱) اوس زیاتره شیان په ماشینانوتیارېږی اوپه هغوئ کې فرق ډیرلږوي دهغوئ ټول تفصیلات یادېدای شي ،ځکه دکوموشیانوچي په پوره ډول تعیین دعقدپر وخت کیدای شي په هغوئ کې بیع دسلم جائزده چي په هدایه کې راغلي دي: [وکل ماامکن ضبط صفته ومعرفة مقداره جازالسلم فیه لانه لایفضی الی المنازعة ومالایضبط صفته ولایعرف مقداره لایجوزالسلم فیه لانه دین وبدون الوصف یبقی مجهولاجهالة تفضی الی المنازعة (الهدایة : ۳/ ۱۰۰، کتاب البیوع ، باب السلم)

نودامعامله صحیح ده له هغوشرطونوڅخه داهم دي چي کومه غله اخلي دهغې جنس ، نوع اوصفت به اوس بیانوي چي مثلا که مې غنم اخستل نوداخبره وشي چي فلانی ډول غنم دداسي ،داسي صفت والااخلم.

دوهم دغنموداخستلووخت معلوم کړل شي چي دفلانۍ میاشتې په فلاني تاریخ غنم غواړم دریيم نرخ اوس معلوم کړي هرڅومره چي معلوم کړي مثلا اوس نرخ پهاته سیردی نوپه دیارلس یاڅورلس که دنرخ پخه خبره سره وکړي نوداصحیح دی څلورم داهم معلوم کړي چي کوم ځای به غنم وصول کړل شي اونوردغه ټولې خبره که په پام کې ونیولې شي نویاده شوې معامله صحیح کیږي کنې نه صحیح کیږي.

سوال: (۳۱۲) دبیع سلم شرطونه داسي لنډراته بیان کړئ ؟ (۱۲۵۰/ ۳۲- ۱۳۳۳هج)

ځواب: دغنمواونوروپه کوم جنس کې چي بیع دسلم کول وي دهغوئ وصف ، اونوردي بیان کړي چي داسي ،داسي ډول به وي اونرخ دې معلوم کړي چي دیوې روپۍ به دومره اخلم ټول قیمت دې اوس ورکړي داخستووخت دې مقررکړي اوځای هم چي په فلانیوخت ،فلاني ځای ته ماته راشه.

سوال: (۳۱۳) دبیع سلم څه شرطونه دي دتاریخ تعیینول ضروري دي که دموسم اومیاشتې معلومول بس دي ؟ (۹۲۰/ ۱۳۳۷هج)

ځواب: دبیع سلم شرطونه دادي : دجنس ،نوعي اوصفت بیانول ، داندازې ،نرخ اونوروبیانول داخستووخت اوځای اونورپه وخت کې تاریخ اومیاشت معلومول پکاردي یاداوویل شي چي دسوداله وخته په دوې یادرې میاشتې کې به مثلا مال وصول کړل شي

په بیع سلم کې ټول شرطونه په پام کې نیول ضروري دي

سوال: (۳۱۴) زموږبزګرد کبنت له تیارېدومخکې دکبنت دآبادۍ لپاره څه روپۍ غواړې اووایې چي مثلا ستاڅخه غنم رانیول غواړې غنم به زه درکړم په کومه بیعه باندي چي یې ته له بل څخه اخلي په هماغه بیع به یې زه درکړم یاله معلوم نرخ څخه یودوه سېره ورزیات کړي نرخ معلومولي داجائزدی ،که نه ؟ (۵۲۴/ ۱۳۴۱هج).

ځواب: دغنمونرخ اونوراوداخستلووخت که مقررشي روپۍ ورکړي نوصحیح دی دسلم ټول شرطونه په پام کې نیول ضروري دي ،ځکه چي دامعامله بیع دسلم ده نودغلې جنس ،نوع ،صفت ،نرخ اوداخستلووخت اونورټول په اول سرکې بیاونول پکاردي فقط.

دبیع سلم څوجائزصورتونه

سوال: (۳۱۵) دپنبووسوداپه بمبۍ اونورکې داډول کیږي چي په فلانۍ میاشت کې دفلانۍ سیمې پنبه سل یادوه سوه ګاټه (بنډله) په دې نرخ خرڅوو یایې رانیسواومخته پنبه اونورموجودنه دي صرف دخولې په بیانه سوداکیږي دارانیول اوخرڅول شرعًا جائزدی ،که نه ؟(۱۳۳۷/۲۷۵۸هج)

ځواب: دبیع سلم په طریقه داسي سوداصحیح ده خوشرط دادی چي نرخ داخستلوځای اووخت وټاکي اوصفتونه دپنبووچي داسي به وي بیان کړي اودټولوپنبووقېمت حالاورکړي بلکې دغه ټول شرطونه ولیکل شي.که دسلم دبیع ټول شرطونه پوره شي نویاده شوې بیع صحیح کیږي که څه هم پنبه تراوسه لاپیداشوې نه وي ،ځکه چي په بازارکې موجودیت بس دی فقط.

سوال: (۳۱۶) یوامام دبیع سلم مسئله په بهشتي زیورکې ولیده مخکې یې روپۍ ورکړې غنم یې دخام له حسابه په ۳۲روپۍ سیرپه دې اقرارواخست چي په یوه میاشت کې به یې واخلم اوتاریخ یې مقررکړداشرعًاروادي ،که نه ؟(۱۳۳۸/۱۲۴هج)

ځواب: بیع سلم رواومباح ده کوم امام که داسي وکړي نوپرده باندي شرعًا اوعرفاهیڅ مواخذه نشته قال فی الهدایة السلم عقدمشروع بالکتاب وهوآیة المداینة فقال ابن عباس رضی الله عنهما اشهدان الله تعالی احل السلف المضمون وانزل فیهااطول آیة الخ (۱) کوم خلک چي په سوداوبیع سلم کې فرق نه کوي دهغوئ پوهول پکاردي ترڅودیوحلال اوجائزکارپه ناروابللو ګنهګارنشي فقط

سوال: (۳۱۷) عمروخالدته سل روپۍ په دې شرط ورکړې چي دوه کاله وروسته ماته ددغوروپیوپه عوض دوه سوه منه وریجې راکړه داصورت جائزدی ،که نه ؟ (۱۱۲۵/ ۱۳۳۸هج)

(۱) الهدایة ۳:/۹۱-۹۲، کتاب البیوع، اوائل باب السلم.

ځواب: دابیع سلم ده که شرطونه دبیع سلم ټول موجودشي نوداصورت صحیح دی.

سوال: (۳۱۸) زیدوعمرته شل روپۍ په دې شرط ورکړې چي پنځه منه سناپه موسم کې غواړم اوس دسنامن په څلورروپۍ دی داجائزدی ،که نه ؟(۱۳۳۹/۱۰۲۷هج)

ځواب: که دسلم په طریقه اودسلم دشرطونوپه مراعت کولوسره دامعامله شوې ده نوجائزدی فقط.

سوال: (۳۱۹) زیدشکرقندرانیسي دشپږومیاشتوپه پورباندي یې خرڅوي دارنګه چي په موسم کې ددې په برابرغله غواړم داصورت جائزدی ،که نه ؟(۱۳۵۲/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

ځواب: ددې په جوازکې اختلا ف اوشبه ده ،ځکه نوبنه دادی چي دشکرقندو قېمت دې معلوم کړي ترڅوڅه شک په جوازکې پاته نشي.

سوال: (۳۲۰) په اوس وخت دغنمونرخ مثلا نهه سېره دی زیدله بکرڅخه اوس څه روپۍ واخستي پرموسم باندي مثلا دلسوسیروپه حساب باندي دورکولو خبره ورسره وکړه داجائزدی ،که نه ؟(۱۳۴۲/۱۲۲۱هج)

ځواب: دابیع صحیح ده ددې بیعې نوم بیع سلم ده اودبیع سلم دصحیح کېدوله شرطونوڅخه دادي چي قېمت حالاورکړي اونرخ دغلې ډول دوصولولووخت اوځای معلوم کړي.

سوال: (۳۲۱) زیدوعمرته وویل چي زه سل روپۍ تاته درکوم څلورمیاشتې وروسته څلورمنه پیازغواړم ،عمرقبوله کړه آیاداسي صورت جائزدی ،که نه ؟ (۱۲۴۹/ ۳۲-۱۳۳۳هج)

ځواب: داصورت چي په سوال کې لیکل شوی دی دبیع سلم دی اوصحیح دی.

سوال: (۳۲۲) مخکې روپۍ ورکول په زیات نرخ غله رانیول جائزدي ،که نه ؟(۱۳۵۴/ ۳۲-۱۳۳۳هج)

ځواب: حالاکه روپۍ ورکړي دغلې نرخ له اوس څخه زیات مقررکړي دبیع سلم په طریقه نوداصحیح دی په دې شرط چي دبیع سلم ټول شرطونه په پام کې ونیول شي اوحالاغله ورکول وروسته زیاته غله اخستل مقررول صحیح نه دي خوغله دلس سیره په حساب حالاورکول که دهغې دقېمت په روپیوغله په زیات نرخ دبیع سلم په طریقه مقرره کړي نوصحیح دی مثلا داسي وکړي چي شل روپۍ زماپرتاباندي دغلې قېمت جوړشودد غوشلو روپیوغنم په فلاني نرخ ،فلاني وخت کې درڅخه غواړم لنډه داچي که دبیع سلم ټول شرطونه پرځای شوې وي نوجائزدی.

دبيع څوناجائزصورتونه پّ بيع سلم بدلول

سوال: (۳۲۳) په دې سيمه کې عموماداررواج دى چي کښت ګرچي کله غنم ،پنبه اونورکري نوزياتره خلګ دکرنې پروخت اوځيني له کرنې څه موده وروسته پورتني شيان په دې شرط پرتجارانو خرحوي چي دکرل شوې مځکې چي څومره پيدااوارجوړشي هغه ټول په فلاني نرخ درکوم اوځيني دکرل شوې مځکې لحاظ نه کوي بلکي دوزن له لارې يې خرڅوي چي دپيداواردحاصلېدو پروخت دومره منه فلانى شى په فلاني نرخ درکوم ،څکه نوتجاران په همدغه شرطونوباندي ورسره دبيع پاڼه ليکي اوکه اړتياوي نوکښګرڅه روپۍ مځکې هم له تاجرڅخه اخلي داسي بيع جائزده اوکه نه ؟ اوپه داډول بيع ګټلې روپۍ حلالې دي ،که حرامې ؟ که ناجائزه دي نودجائزکېدوېې کوم صورت کېداى شي ؟(۱۳۷۳/ ۱۳۳۵هج)

ځواب: داصورتونه ناجائزدي اوروپۍ چي کومې راغلې هغه حلالې دي خوپکي پليتي ضرروشته دجوازصورت دبيع سلم په طريقه کېداى شي خودهغه شرطونه به په پام کې نيسي اودسلم دشرطونوتفصيل دفقهې په کتابونوکې موجوددى.

په فلوسوکې بيع سلم صحيح ده ، که نه ؟

سوال: (۳۲۴) يو سړى يوه روپۍ په پورورکوي اوداتلس انوپيسې له پوروړي څخه اخلي داډول که سل روپۍ وچاته په قرض ورکوي نوله هغه څخه ديوسل پنځويشت يايونيم سلوروپيوپيسي اخلي آياداصورتونه جائزدي ،که نه ؟(۱۹۲۵/ ۳۲- ۱۳۳۳هج).

ځواب: که دامعامله دبيع سلم په طريقه وي نوصحيح ده دهغه صورت دادى چي اوس يوه روپۍ ورکړى اوبل ته داووايې چي په يوه مياشت کې ياله دې څخه په زياته کې چي څومره موده مقرره کړي دومره فلوس ديوې روپۍ په عوض ستاڅخه اخلم داډول سل روپۍ ورکړي دومره پيسې ورسره معلومې کړي چي دپاوباندي سلويايونيم

سلووي نودبيع سلم په طريقه دامعامله صحيح ده (۱) کمافى الدرالمختار: ويصح (اى السلم) فيماامکن ضبط صفته الخ کمکيل وموزون وعددى متقارب کجوزوبيض وفلس الخ(۲) (واقره الشامى وصححه) اوکه په پورنه وي بلکي بيع حالاوي يعنى اوس روپۍ ورکړي اواوس پيسې هم ځيني واخلي بياهم کمى ،زياتوب صحيح دى کمافى الدرالمختار: وان وجداحدهمااى القدروحده اوالجنس حل التفاضل وحرم النساء الخ (۳) وفى الشامى سئل الحانوتى عن بيع الذهب بالفلوس نسيئة فاجاب: بانه يجوزاذا قبض احدالبدلين لمافى البزازية لواشترى مائة فلس بدرهم يکفى التقابض من احدالجانبين قال: ومثله مالوباع فضة اوذهبابفلوس کمافى البحرعن المحيط (۴) (ص: ۱۸۴، باب الربو.)

سوال: (۳۲۵) دلته داډول بيع سلم کيږي چي يوسړى ته څوروپۍ ورکړي چي داروپۍ ته واخله اوپه يوه مياشت يادوې مياشتې کې به ديوې روپۍ په عوض دشل يادوو يشتوآنوپيسې راکوې اوس پوښتنه داده چي پيسې که بل جنس وبولو سلم جائزدى ،که نه ؟ زماپه خيال پيسه بل جنس هيڅ کله نشي بلل کېداى ،څکه چي ددې نرخ حکومت مقررکړى دى ؟(۱۱۲/ ۱۳۳۵هج)

ځواب: قال فى الدرالمختار: فى بيع السلم ويصح فيماامکن ضبط صفته الخ کمکيل وموزون الخ وعددى متقارب کجوزوبيض وفلس الخ (۵) وفى الشامى ، فى باب الربواسئل الحانوتى عن بيع الذهب بالفلوس نسيئة فاجاب: بأنه يجوزاذاقبض احدالبدلين الخ (۲) له دغوعبارتونوڅخه څرګنددى چي په فلوسوکې سلم صحيح دى فقط والله تعالى اعلم.

(۱) دامسئله هغهٔ وخت وه کله چي فلوس (پيسې) ځانته کرنسى وي دروپۍ اجزاء نه وي اودروپيواوفلسونرخ هم پورته کښته کېدى خواوس پيسې دروپۍ اجزاء دي نواوس نه بيع دسلم جائزده نه کمې وزياتوب دفقهې ټول جزئيات کوم چي تردغه عنوان په لاندي جوابونوکې راغلې دي هغه ټول داول دوردي ۱۲ سعيداحمد پالنپورى.

(۲) الدرمع الرد (۴/ ۲۲۲) کتاب البيوع ، اوائل باب السلم ط رشيديه.
(۳) الدرمع الرد(۴/ ۱۹۹) کتاب البيوع ، مطلب فى الابراء عن الربوط رشيديه.
(۴) الشامى(۴/ ۲۰۵) کتاب البيوع ،مطلب فى استقراض الدراهم عدداً ط رشيديه.
(۵) الدرمع الرد (۴/ ۲۲۲) کتاب البيوع ، مطلب باب السلم ط رشيديه.
(۲) ردالمحتار (۴/ ۲۰۵) کتاب البيوع ، مطلب فى استقراض الدراهم عدداً.

سوال: (۳۲۲) ازاکثرعبارات کتب فقه بقول شیخین معلوم می شود که درفلوس مروجه بیع سلم جائزاست وبقول امام محمد رحمه الله معلوم مې شود که جائز نیست ، الحاصل بوجه اشتباه بیع مذکورباردرجوازوی تردد افتاده است شرعًا چه حکم است ؟ (۲۱۴/ ۱۳۳۵هج)

جواب: بیع سلم درفلوس جائزاست کماهومذهب الشیخین والروایة عن محمدرحمه الله قال فی الدرالمختاروعددی متقارب کجوزوبیض وفلس الخ وفی ردالمحتارقیل وفیه خلاف محمدلمنعه بیع الفلس بالفلسین الاان ظاهرالروایة عنه کقولهما (۱) (شامی ،باب السلم ۴/ ۲۰۳) وفی باب الربومنه تنبیه: سئل الحانوتی عن بیع الذهب بالفلوس نسیئة فاجاب بانه یجوز[واذاقبض احدالبدلین لمافی البزازیة لواشتری مائة فلس بدرهم یکفی التقابض من احدالجانبین قال : ومثله مالوباع فضة اوذهبابفلوس کمافی البحرین عن المحیط قال : فلایغتربمافی فتاوی قارئ الهدایة من انه لایجوزبیع الفلوس الی اجل بذهب اوفضة لقولهم : لایجوزاسلام موزون فی موزون الخ قلت : والجواب حمل مافی فتاوی قارئ الهدایة علی مادل علیه کلام الجامع من اشتراط التقابض من الجانبین فلایعترض علیه بمافی البزازیة المحمول علی مافی الاصل(۲) فقط.

دسوال (۳۴۲) ترجمه : دفقهې دکتابونوله زیاتوعباراتوڅخه معلومېږي چې په مروج فلوسوکې دشیخینو(امام اعظم اوامام ابویوسف رحمهماالله) له وینا سره سم بیع سلم جائزده اودامام محمد رحمه الله له قول سره سم ناجائزه ده ؟

لنډه داچې دیادې شوې بیعې دسودسره داشتباه په وجه ددې په جوازکې شک واقع کیږي په دې اړه شرعی حکم څه دی ؟

ځواب: په فلوسوکې بیع دسلم جائزه ده لکه چې دشیخینومذهب اودمام محمد رحمه الله هم یوروایت دی (لکه چې په درمختار، شامی اونوروکې ددې څرګندونه شته).

سوال: (۳۲۷) ویوسړی ته که مثلا دوولس روپۍ په دې شرط ورکولې شي چې څوورځې وروسته به دځورلسوروپیوپیسې یاپیسې اوروپۍ دواړې ورکوو نکې ته ورکوي داصورت شرعًا صحیح دی ، که نه ؟(۵۲۲/ ۱۳۳۹هج)

(۱) ردالمحتار(۴/ ۲۲۷) کتاب البیوع ،باب السلم رشیدیه.

(۲) الشامی(۴/ ۲۰۵) کتاب البیوع ،مطلب فی استقراض الدراهم عددا ط رشیدیه.

ځواب: که دسلم په طریقه دغه معامله وکړله شي مثلا داچې ددومره اندازې روپیودومره پیسې په فلاني وخت درڅخه غواړم نوپه فلوسوکې بیع سلم فقهاؤ جائزلیکلې ده په درمختارکې راغلې دي: ویصح فیماامکن ضبط صفته الخ وعددی متقارب کجوزوبیض وفلس الخ (۱) خودسلم دشرطونوپوره خیال ساتل ضروري دي اوداچې تول پیسې واخستلې شي نه داچې پیسې اوروپۍ ګډې وډې واخلي اونه داچې دځورلسوروپیوپیسې اخلم بلکې دپیسوتعین دې اوس وکړي چې په یوه روپۍ باندې دومره پیسې غواړم فقط.

سوال: (۳۲۸) څه فرمایې علماء ددین په دې مسئله کې چې په روپیوکې بیع سلم صحیح ده ،که نه ؟ یعنی یوسړی ویوپوروړي ته نن لس روپۍ ورکړي چې یوکال وروسته به دپنځوسوروپیوپیسې راکوي داډول بیع صحیح ده ،که نه ؟ په دې مسئله کې اختلا ف دی ،ځکه ځواب سره دکتابونودحوالوراته ولیکئ ؟(۱۵۸۰/ ۲۹-۱۳۳۰هج)

ځواب: صحیح دادی چې په روپیواوپه پیسوکې بیع سلم صحیح ده داډول چې اوس مثلا لس روپۍ ورکړئ چې یوه میاشت یادوې میاشتې یاکال وروسته دومره پیسې مثلا زریاپنځه سوه پیسې غواړم دادې نه وایې چې دپنځوسوو روپیوپیسې غواړم خوکله چې مقداراوشمېرد پنځوسوو روپیود پیسومعلوم وي دشامي په باب الربو۴/ ۲۰۳کې راغلې دي لواشتری مائة فلس بدرهم یکفی التقابض من احدالجانبین قال: ومثله مالوباع فضة اوذهبابفلوس کمافی البحرعن المحیط قال: فلایغتربمافی فتاوی قارئ الهدایة من انه لایجوزبیع الفلوس الی اجل بذهب اوفضة لقولهم لایجوزاسلام موزون فی موزون الخ(۲) وفی باب السلم من الدرالمختار(۴/ ۲۲۴) ویصح فیماامکن ضبط صفته الخ کمکیل وموزون ومثمن وعددی متقارب کجوزوبیض وفلس الخ(۳) والله اعلم

په نرۍ ګوړه کې بیع سلم صحیح ده

سوال: (۳۲۹) نرۍ ګوړه چې له ګنې څخه جوړیږي کبنت ګرېږي هغه وخت خرڅوي

(۱) الدرمع الرد (۴/ ۲۲۲) کتاب البیوع فی بدایة باب السلم ط رشیدیه.

(۲) الشامی (۴/ ۲۲۲)کتاب البیوع ، باب الربو ، مطلب فی استقراض الدراهم عددا ط رشیدیه.

(۳) الدرالمختارمع الشامی(۴/ ۲۰۵) کتاب البیوع ، اوائل باب السلم ط رشیدیه.

لکه چي دنیشکر(ګنې) نهال لږراغتې شوی وي نری ګوره په بازارکې خونه خرڅیږي خودکښتګروسره وي په داسي صورت کې بیع سلم کیدای شي ،که نه ؟(۹۲۰/ ۱۳۳۷هج)

ځواب : پهٔ نری ګوره کې یادشوی صورت کېدای شي خودسلم شرطونه پوره کېدل پکاردي.

سوال : (۳۳۰) په نری ګوره کې سلم کېدای شي اوکه نه ؟ دغه رنګه دوصولولو تاریخ مقررول عادة ناممکن دی ،ځکه فرضًا کوم خاص تاریخ وټاکل شواوهغه وخت که باران وشونومال نشي تیارېدای له ټاکلي تاریخ څخه مخکې یاوروسته که وصول کړله شي نوڅه تاوان دی ؟(۱۴۲۳/ ۱۳۳۷هج)

ځواب : په نری ګوره کې بیع دسلم صحیح ده (۱) خودسلم دشرطونوپوره کول لازم دي اودلاس ته کولوتاریخ دي دسوداکولوپورخت دسوداصحیح کېدولپاره مقررکړي بیاخواکه له هغه وخته وروسته یې ولاس ته کړي یامخکې یاپه سوکه ،سوکه.

له ګني کرلومخکې پکې بیع سلم کول

سوال : (۳۳۱) نن ،صبا دعرق درانیولواوخرڅولوچي کومه طریقه رواج شوې ده چیتراوسه یې لاګنی کرلی نه وي معامله وکړي روپۍ ورکړي اووایې چي داد عصیر(عرق ،جوس) سلم دی اودعرق وجودهروخت داډول ممکن دی چي دفیلانوپه وسېله په سلګونوکښتونه په هندوستان کې پرېښوول کیږي دغه رنګه دګني نوع په بازارکې دهندوستان په بېلابېلوبرخوکې هروخت دولاس ته کولوامکان لري نودغه وجوددسلم دجائزکېدولپاره بس کېدای شي ،که نه ؟(۹۶۰/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

ځواب : دعرق دراښیولواوخرڅولوچي کومه طریقه رواج شوې ده چي دعرق له وجوده مخکې دهغه بیع کیږي داباطله ده اودې ته دعرق سلم ویل اودهغه دوجودداحېله راایستل چي په سوال کې یې یادونه شوې ده بیع نشي جائزکولای ،ځکه چي په دغه صورت کې چي کومه دعرق سلم وګرځول شي نوداسلم په هغه عرق کې وي چي په دغه موسم کې وي اوښکاره ده چي هغه اوس موجودنه دی کمافی حنطة حدیثه قال فی الدرالمختارولافی حنطة حدیثه قبل حدوثهالا نها منقطعة فی الحال وکونهاموجودة وقت العقدالی وقت المحل شرط فتح(۲) وقال قبیله ولافی منقطع لایوجدفی الاسواق من وقت العقد

(۱) نری ګوره چي تول کال دکروندګروپه کروندوکي موجودوي ،ځکه پکي بیع دسلم جائزده.

(۱) الدرالمختارمع الشامي (۲۳۰/۴) . کتاب البیوع مطلب هل اللحم قیمی اومثلی ؟ط رشیدیه.

الی وقت الاستحقاق(۱) فقط.

په خښتوکې بیع دسلم کول

سوال : (۳۳۲) وبتي والاته مخکې روپۍ ورکړي خښتې په تیاروي داجائزدی ،که نه ؟(۱۲۸۱/ ۱۳۴۵هج)

ځواب : داطریقه دبیع سلم ده چي روپۍ مخکې ورکړي اوپه مقررکړي نرخ باندي ټاکلې خښتې واخلي اودسلم دټولو شرطونولحاظ وکړي نوداشرعًا جائزده.

په مېوه کې بیع سلم کول صحیح نه ده

سوال : (۳۳۳) دآمودباغ بیع کله کول پکاردي ؟ اودباغ بیع سلم کېدای شي ،که نه ؟(۱۲۵۰/ ۱۳۳۷هج)

ځواب : دآمواونورودباغ بیع هغه وخت پکارده چي مېوه یې ښه راغتې شي اوپخیږي داډول که بیع وکړي صحیح کیږي اوبیع سلم په کوم خاص باغ کې نشي کېدای اوپه عامه توګه هم په مېوه کې بیع سلم صحیح نه ده چي باقي نشي پاتېدای یعنی دسوداله وخت څخه اودلاس ته راوړلوتروخته پورې په بازارونوکې موجوده نشي پاته کېدای فقط.

په وریجوکې بیع سلم کله صحیح ده ؟

سوال : (۳۳۴) زموږپه ملک کې په وریجوکې بیع سلم کیږي حال داچي وریجې هروخت په بازارونوکې نه وي موجودې امادا خستلوپروخت موجودې وي په دې صورت کې بیع دسلم رواده ،که نه ؟(۲۴۵/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

ځواب : په وریجوکې بیع سلم هلته صحیح ده چي موجودیت دهغوئ په بازارونو کې همېشه وي کمافی الدرالمختارولافی منقطع لایوجدفی الاسواق من وقت العقدالی وقت الاستحقاق

(۱) الدرالمختاروالرد (۲۲۸/۴) کتاب البیوع و قبل مطلب: هل اللحم قیمی اومثلی ط رشیدیه.

قوله: من وقت العقد الخ دوام الانقطاع ليس شرطا الخ(۱) او د سلم د صحيح کېدو شرطونه هم په پام کې نيول ضروري دي او که د سودا پرو خت وريجې موجودې نه وي او د اخستو او مستحق جوړېدو پروخت موجودې وي بيا هم ياده شوې بيع سلم صحيح نه ده نو په سوال کې په يادشوې صورت کې په کوم ځای کې چي دا حالت دی چي يادونه يې شوې ده بيع سلم په وريجو کې صحيح نه ده فقط.

که مسلم فيه حاصل نشي نورب التسليم څه وکړي ؟

سوال: (۳۳۵) زيد و عمر ته سل روپۍ دبيع سلم لپاره ورکړې وي يعنی په سل روپۍ باندي يې د پنځوېشتو منو غنمو د اخستو خبره ورسره کړې وه او س د غنمو دنه پيدا کېدو په وجه غنم نشي ولاس ته راتلای نو اوس زيد د پنځوېشتو منو غنمو قېمت اخستلای شي ،که صرف سل روپۍ ؟ او که حکومت له سل روپيو څخه زياتې ځيني وروا خلي نو بيا يې هم اخستل صحيح دي ،که نه ؟(۳۲/۱۲۰۹- ۱۳۳۳هج)

ځواب: که غنم نشي وصولېدای نو کومې روپۍ چي يې ورکړې وي هغو مره بېرته ځيني اخستل پکاردي يعنی سل روپۍ اخستل پکاردي دانه چي د پنځو يشتو منو غنمو قيمت واخلي ، که څه هم هغه زيات وي دبيع سلم دمبيع نه پيدا کېدو په صورت کې همدغه حکم دی ، او که حکومت له سل روپۍ څخه زيات وروا خلي نو زياتوب دې بېرته ورکړي يعنی وروسته دې و مالک ته ورکړي ترڅو په اخيرت کې دده غاړې خلاصې وي.

سوال : (۳۳۶) زيد دبيع سلم په توګه په يوه روپۍ دغنمو دد و ولسو سيرو خبره کړې ده دغنمونه راشنه کېدو په وجه غنم نشي ورکولای د غنمو په عوض کې د وريجو اخستل صحيح دي ،که نه ؟(۲۸۲/ ۱۳۳۷هج)

ځواب: دغنمو په بدل کې وريجې اخستل په بيع سلم کې صحيح نه دي کمافی الحديث لاتأخذ الا سلمک اورأس مالک الحديث(۲) فقط.

(۱) الدروالرد (۴/ ۲۲۸) ، کتاب البيوع ، باب السلم ط رشيديه.
(۲) الدرمع الرد(۴/ ۲۳۴) کتاب البيوع ، مطلب هل اللحم قيمی اومثلی ؟ ورواه بمعناه ابوداؤد ، کتاب البيوع ، باب السلف لايحول وابن ماجه ، کتاب التجارات ، باب من اسلم فی شی فلايصرفه الی غيره والترمذی فی العلل الکبير: البيوع ، باب ماجاء فی السلف فی الطعام والتمر وحسنه الترمذی (الشامی (۴/ ۲۳۴)کتاب البيوع ملخصاط رشيديه).

سوال: (۳۳۷) مخکې مې روپۍ ورکړې ببيع سلم مې وکړه په دې شرط باندي چي دبيساکه په مياشته (هندي مياشته ده) کې به په يوه روپۍ ۱۲سيره غله راکوي دارازدروغنو(غوړو) ببيع سلم په مقرر کړې نرخ باندي ده دا بيع سلم شرعًا جائزده ،که نه ؟(۱۲۲/ ۱۳۳۷هج)

ځواب: دجنس ، نوعې ، صفت ، نرخ او نورو شرطونو د سلم په پام کې نيولو سره چي کومه بيع چي په معلومه غله او روغنو او نورو کې وکړله شي نو هغه سلم صحيح ده خو دا شرط لګول چي دغلې نه اداکولو په صورت کې به دهغه قېمت دبازار په نرخ مسلم اليه اداکوي عقد فاسدوونکی دی په حديث شريف کې راغلې [خذ سلمک اورأس مالک الحديث(۱) ددې حاصل دادي چي د مسلم فيه دنه حاصلېدو په صورت کې به هغو مره روپۍ اخلي څومره چي يې ورکړې وي.

سوال: (۳۳۸) که يو سړی وچاته لس روپۍ ورکړي او دلس منه غلې په موسم کې اخستلو خبره ورسره وشوه خو پيدا او رونه وشو نو دا سړی دلس منه غلې قېمت اخستلای شي ،که نه ؟ او که دلس منه غلې قېمت شل روپۍ شو نو څه حکم دی ؟(۱۳۴۲/ ۱۳۳۹هج

ځواب: په دغه صورت کې خپلې ورکړې پوره لس روپۍ اخستل پکاردي زياتې اخستل حرام او سود دی که يې زياتې اخستي دي نو هغه بايد بېرته ورکړي.

سوال: (۳۳۹) که غله پرو خت ادانکړای شي نو روپۍ په کوم حساب ځيني اخستل پکاردي ؟(۱۹۹۳/ ۴۲- ۱۳۴۷هج)

ځواب: کله چي په بيع سلم کې د غنمو اخستو خبره ورسره شوې ده نو دبائع څخه غنم اخستلای شي او که هغه غنم نشي ورکولای نو خپلې روپۍ چي ده ته يې ورکړې وي بېرته دې ځيني واخلي د غنمو مقرر کړی قېمت دبازار په نرخ ځيني اخستل روانه دي په حديث شريف کې راغلې دي [خذ سلمک اورأس مالک الحديث(۲) او دا صورة هم روانه دی چي د مقرر کړو غنمو قېمت دبازار په نرخ ولګوي د هغه قېمت غنم پرمخ اخستو خبره وکړي فقط

(۱) روی ابو سعيد الخدری رضی الله عنه عن النبی صلی الله عليه وسلم انه قال لرب السلم لاتأخذ الاسلمک اورأس مالک وفی رواية خذ سلمک اورأس مالک (بدائع الصنائع: ۴/ ۳۹۷ ، کتاب البيوع ، انواع الديون ، عقد السلم)
(۲) مخکنی حواله.

قوله: من وقت العقد الخ دوام الانقطاع ليس شرطا الخ(۱) او د سلم د صحیح کېدو شرطونه هم په پام کې نیول ضروري دي او که د سودا پروخت وریجې موجودې نه وي او د اخستو او مستحق جوړېدو پروخت موجودې وي بیا هم یاده شوې بیع سلم صحیح نه ده نو په سوال کې په یادشوې صورت کې په کوم ځای کې چي دا حالت دی چي یادونه یې شوې ده بیع سلم په وریجو کې صحیح نه ده فقط.

که مسلم فیه حاصل نشي نو رب التسلیم څه وکړي؟

سوال: (۳۳۵) زید وعمر ته سل روپۍ د بیع سلم لپاره ورکړې وي یعنی په سل روپۍ باندې یې د پنځویشتو منو غنمو د اخستو خبره ورسره کړې وه او س د غنمو د نه پیدا کېدو په وجه غنم نشي ولاس ته راتلای نو اوس زید د پنځویشتو منو غنمو قیمت اخستلای شي، که صرف سل روپۍ؟ او که حکومت له سل روپیو څخه زیاتې ځیني و رواخلي نو بیا یې هم اخستل صحیح دي، که نه؟ (۱۲۰۹/۳۲-۱۳۳۳هج)

ځواب: که غنم نشي وصولېدای نو کومې روپۍ چي یې ورکړې وي هغو مره بېرته ځیني اخستل پکاردي یعنی سل روپۍ اخستل پکاردي دا نه چي د پنځو یشتو منو غنمو قیمت واخلي، که څه هم هغه زیات وي د بیع سلم د مبیع نه پیدا کېدو په صورت کې هم دغه حکم دی، او که حکومت له سل روپۍ څخه زیات ورواخلي نو زیاتوب دې بیرته ورکړي یعنی وروسته دې و مالک ته ورکړي ترڅو په اخیرت کې د ده غاړې خلاصې وي.

سوال: (۳۳۶) زید د بیع سلم په توګه په یوه روپۍ د غنمو د دوولسو سیرو خبره کړې ده د غنمو نه راشنه کېدو په وجه غنم نشي ورکولای د غنمو په عوض کې د وریجو اخستل صحیح دي، که نه؟ (۲۸۲/۱۳۳۷هج)

ځواب: د غنمو په بدل کې وریجې اخستل په بیع سلم کې صحیح نه دي کما فی الحدیث لاتأخذ الا سلمک اورأس مالک الحدیث(۲) فقط.

(۱) الدر والرد (۴/ ۲۲۸) ، کتاب البیوع، باب السلم ط رشیدیه.
(۲) الدرمع الرد(۴/ ۲۳۴) کتاب البیوع ، مطلب هل اللحم قیمی اومثلی ؟ ورواه بمعناه ابوداؤد، کتاب البیوع ، باب السلف لایحول وابن ماجه ، کتاب التجارات ، باب من اسلم فی شی فلایصرفه الی غیره والترمذی فی العلل الکبیر: البیوع ، باب ماجاء فی السلف فی الطعام والتمر وحسنه الترمذی (الشامی(۴/ ۲۳۴)کتاب البیوع ملخصاط رشیدیه).

سوال: (۳۳۷) مخکې مې روپۍ ورکړې بیع سلم مې وکړه په دې شرط باندې چي دبیساکه په میاشته (هندي میاشته ده) کې به په یوه روپۍ ۱۲سیره غله راکوي دا راز د روغنو (غوړو) بیع سلم په مقررکړې نرخ باندې ده دا بیع سلم شرعًا جائزده، که نه؟ (۱۲۲/۱۳۳۷هج)

ځواب: د جنس، نوعې، صفت، نرخ او نورو شرطونو د سلم په پام کې نیولو سره چي کومه بیع چي په معلومه غله او روغنو او نورو کې وکړله شي نو هغه سلم صحیح ده خو دا شرط لګول چي د غلې نه اداکولو په صورت کې به د هغه قیمت د بازار په نرخ مسلم الیه اداکوي عقد فاسدوونکی دی په حدیث شریف کې راغلي [خذ سلمک اورأس مالک الحدیث(۱) ددې حاصل دادي چي د مسلم فیه د نه حاصلېدو په صورت کې به هغومره روپۍ اخلي څومره چي یې ورکړې وي.

سوال: (۳۳۸) که یو سړي وچاته لس روپۍ ورکړې او د لس منه غلې په موسم کې اخستلو خبره ورسره وشوه خو پیدا او رونه وشو نو دا سړی د لس منه غلې قیمت اخستلای شي، که نه؟ او که د لس منه غلې قیمت شل روپۍ شو نو څه حکم دی؟ (۱۳۴۲/ ۱۳۳۹هج

ځواب: په دغه صورت کې خپلې ورکړې پوره لس روپۍ اخستل پکاردي زیاتې اخستل حرام او سود دی که یې زیاتې اخستي دي نو هغه باید بېرته ورکړي.

سوال: (۳۳۹) که غله پروخت ادا نکړای شي نو روپۍ په کوم حساب ځیني اخستل پکاردي؟ (۱۹۹۳/ ۴۲-۱۳۴۷هج)

ځواب: کله چي په بیع سلم کې د غنمو اخستو خبره ورسره شوې ده نو د بائع څخه غنم اخستلای شي او که هغه غنم نشي ورکولای نو خپلې روپۍ چي ده ته یې ورکړې وي بېرته دې ځیني واخلي د غنمو مقرر کړی قیمت د بازار په نرخ ځیني اخستل روانه دي په حدیث شریف کې راغلي دي [خذ سلمک اورأس مالک الحدیث(۲) او دا صورة هم روانه دی چي د مقرر کړو غنمو قیمت د بازار په نرخ ولګوي د هغه قیمت غنم پر مخ اخستو خبره وکړي فقط

(۱) روی ابو سعید الخدری رضی الله عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم انه قال لرب السلم لاتأخذ الا سلمک اورأس مالک وفی روایة خذ سلمک اورأس مالک (بدائع الصنائع: ۴/ ۳۹۷، کتاب البیوع ، انواع الدیون ، عقد السلم)
(۲) مخکني حواله.

په غوړوکې بيع سلم کول

سوال: (۳۴۰) که یو سړی دبل چاسره په غوړوکې بيع دسلم وکړي اوروپۍ مخکې ورکړي دده سره دغوړوبيعه معلومه کړي مثلا په یوه روپۍ یوپوره سېرده لس روپۍ ورکړې دهغه سره دپنځوروپوغوړي وواله دي وروسته بائع خپله ګامېبنه خرڅه کړه اوس له ده څخه پنځه ووپۍ اخستل پکاردي که غوړې اخستل پکاردي که دپنځوروپيوپنځه سېره غوړي واخلي نوناروا خوبه نه وي ؟(۴۸۲/ ۱۳۳۷هج)

جواب: په دغه صورت کې بايدبائع پنځه سېره غوړي ورکړي په مقررکړې نرخ باندي خواکه دی له هره ځايه په هرخومره واخلي په دې کې هيڅ ناروا والی نشته اوکه رب السلم يعنی مشتري (رانيوونکی) خپلې پاته روپۍ ببرته واخلي اودبيع سلم معامله ماته کړي داهم صحيح دی لنډه داچي که خپلې روپۍ ببرته واخلي اوکه په مقررکړې نرخ غوړي واخلي دواړه کاره روادي.

په بيع سلم کې دمبيع موجوديت ضروري نه دی

سوال: (۳۴۱) ديو سړی سره کوم شی شته نه خودی هغه خرڅوي اووايې چي چي زه يې له بله ځايه تاته راوړم دهغه صورت دادی چي يو سړی په اووه نيمي روپۍ دمرچودمن خبره وکړي خومرچ له ده سره نشته دی وايې چي زه يې تاته دالورله ولايت څخه راوړم نوداسي سوداکول روادي ،که نه ؟(۴۸۲/ ۱۳۳۷هج)

ځواب: که دامعامله دبيع سلم په طريقه اودبيع سلم په شرطونووي نوصحيح ده ،ځکه چي په بيع سلم کې دمبيع موجوديت اوپه ملک کې کېدل شرط نه دي ،ځکه چي کله کوم شی په ملک کې نه وي دهغه خرڅول صحيح نه دي خوبيع سلم له دې مستثنی (وتلې) ده.

پورراُس المال ګرځول صحيح نه دي

سوال: (۳۴۲) څه فرمايي علماء ددين په دې مسئله کې چي زيدڅه غله په پسرلي کې رانيوله په دې غرض چي ټول کال به يې بچيان خوري بياا ته مياشتې وروسته يې اندازه وکړه نوغله زياته شوه

نوزيدخپله غله پريوبزګرباندي دهغه وخت دبازارپه نرخ خرڅه کړه اوهغه ددې قيمت سمدستي ادانکړنوزيدودغه بزګرته وويل چي په همدغوپاتوروپوباندی ستاسره بيع سلم کوم بزګرورسره ومنله اودبيع سلم دټولوشرطونوسره سم زيدخبره وکړه کله چي يې غله وتلله ومشتري ته يې ورکړه صرف دومره فرق يې ووچي دغلې سودايې وکړه په هماغه روپيوباندي بيع سلم کوي دابيع څرنګه ده ؟ آياجائزده ،که نه ؟ (۳۴۳/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

ځواب: کله چي بزګرسمدستي قيمت ادانکړنوداپرده پورشواوپورراُس المال ګرځول صحيح نه دي نوداډول بيع سلم صحيح نه ده کمافی الدرالمختار: فی حصة الدين باطل لانه دين بدين الخ(۱) فقط.

له کبنت تيارېدومخکې روپۍ په قرض ورکول ،غله رانيول

سوال: (۳۴۳) زيدپرغله باندي روپۍ په پوردکبنت له تيارېدومخکې وعمراوبکرته په دې اقرارورکوي چي په فلانی مياشت کې زه له تاسوڅخه په روپۍ باندي مثلا ۲۰ سېره غواړم دامعامله رواده ،که نه ؟ کله چي دبازارنرخ پورته اوکبنته وي (۱۱۷۹/ ۳۲-۱۳۳۳هج)

ځواب: که دغلې نرخ دروپيوورکولوپروخت پوخ مقررکړي چي په روپۍ باندي ۲۰ سېره يا ۳۰ سېره اخلم اونورشرطونه دسلم موجوددي نودامعامله صحيح ده.

دغلې له معلومولوپرته بيع سلم کول

سوال: (۳۴۴) کله چي کبنت تيارېدوته يوکال ياشپږمياشتې پاته دي نوچاته په دې شرط روپۍ ورکول چي کله کبنت وشي زه په يوه روپۍ باندي يومن يانيم من ياکوم نرخ هغهوخت دئ فلانی غله اخلم اوکه داشرط پرکبنېږدي چي که هغه وخت په دوې روپۍ من خرڅېدی نوزه په پاوکم دوې روپۍ من اخلم داروادی ،که نه ؟(۱۰/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

ځواب: دبيع سلم درواکېدولپاره څوشرطونه دي چي په هغوئ کې داهم دي چي هغه شی چي پکي يې بيع دسلم کړې ده په بازارکې به موجودوي که څه هم دهغه موسم لانه وي راغلی مثلااوس موسم دغنمونه دی اوفرض يې کړه چي اوس کرل شوې هم نه دي نوپه دې کې سلم کول داوخت

(۱) الدرالمختارمع الرد (۲۳۲/۴) کتاب البيوع ، مطلب هل اللحم قيمی اومثلی ؟ط رشيديه.

صحیح دی ،ځکه چي په بازارکې غنم همېشه پیدا کیږي وقس علیه اوله هغوئ شرطونو
څخه داهم دي چي نرخ مقررکړي مثلا په یوه روپۍ من یادوې روپۍ من نوداډول روانه
دی چي کوم نرخ هغه وخت وي دهغه سره سلم یې اخلم اودارازهم صحیح نه دی که هغه
وخت دوې روپۍ من دغلې وونوزه یې ستاڅخه په پاوکم دوې روپۍ من اخلم بلکې
بایدنرخ اوس مقررکړي که نرخ معلوم نکړي اودهغه وخت ونرخ ته حواله ورکړي نوبیع
حرامه اوناروا کرځي فقط.

سوال: (۳۴۵) که یوسړی څه روپۍ مخکې ورکړي جنس دغلې اونوروکیلي یاوزني څه
موده وروسته غواړي نورواد‌ی ،که نه ؟ غلام حیدروایې چي دامعامله هغه وخت صحیح
کیږي کله چي دهغه جنس مقدارداخستوځای اووخت وټاکي اوکه یې داوویل چي کومه
بیعه هغه وخت وي یعنی داخستوپرو خت وي هماغه اخلم نوداصحیح نه دی ،ځکه چي
دابیع دمجهول ده اومحمد سعیدوایې چي له مخکې څخه بیع معلومول صحیح نه دي
بلکې هغه وخت چي کوم نرخ وي هغه به اخلي له مخکې څخه دنرخ معلومول سودګرځي
په دئ دواړوکې دچاوینا صحیح ده ؟(۱۳۸۵/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

ځواب: دامعامله هغه وخت صحیح ده چي نرخ اونورمخکې مقررکړي غلام حیدرصحیح
وایې واومحمدسعیدته مسئله معلومه نه ده دی غلط وایې دابیع سلم ده ددې
دشرطونوپوره ،پوره خیال ساتل پکاردی ددې درواکېدوله شرطونو څخه دادي چي نرخ
اول مقررکړي اوجنس ، نوع ،صفت ،وخت اوځای ټول اول مقررکړي فقط.

سوال: ۳۴۶) زیاتره خلګ پرغله باندي روپۍ په قرض ورکوي په دې شرط باندي یې
ورکوي چي دکښت رسېدوپروخت چي کوم نرخ دغلې وي له هغه څخه به یو ،یادوه سېره
زیات اخلو یاچي په کوم نرخ ستاخوښه وي رایې کړه اوزیاتره خلګ نرخ مقررکړي روپۍ
ورکوي مثلا لس یادوولس سېره غواړم په دې کې کوم صورت روادی .؟ (۵۵۷/
۱۳۳۹هج)

ځواب: دبیع سلم دصحیح کېدوشرط داهم دی چي اوس نرخ مقررکړی داورونه دی چي په
موسم کې کوم نرخ وي له هغه څخه سېریادوه سېره زیات اخلم یاچي په موسم کې کوم نرخ
وي په هغه باندي یې اخلم یاچي ستاخوښه وي رایې داټول صورتونه ناروادي نرخ اوس
مقررول ضروري دی فقط.

په بیع سلم کې له موجوده نرخ څخه زیات نرخ مقررول

سوال: (۳۴۷) یوسړی بیع سلم کوي اودهغه اووه شرطونه چي دفقهې په کتابونوکې یې
یادونه شوې ده بیان کړي دبازارله نرخ څخه په دوه چنده نرخ اخستوخبره کوي زیدوایې
چي په بیع سلم کې دبازارله نرخ څخه دوه سېره زیات نرخ مقررول روانه دی یونیم دوچنده
مقررول ناروادی اوسوددی دزیدوینا سمه ده که غلطه ؟(۱۵۰۴/ ۴۷-۱۳۳۴هج)

ځواب: په بیع سلم کې کله چي دصحیح کېدوټول شرطونه په پام کې ونیول شي نوچیکوم
نرخ مقررشي دهغه سره سم دمسلم فیه یعنی مبیع وصولول صحیح دي زیدچي څه وایې
داصحیح نه دي اوله موجودنرخ څخه چي هرڅومره هم زیات مقررکړي صحیح دی فقط.

پرټاکلې کښت که غله نشي ورکولای نودآئنده کښت معامله کول

سوال: (۳۴۸) زیدوعمرته دغلې نرخ مقررکړدراروان کښت لپاره یې څه روپۍ ورکړي
خوعمرپه موسم کې غله نشي ورکولای نوعمردمقررشو نرخ سره وغلې ته ترون ورکړی
دهغه بیع قائمه کړه دراروان کښت لپاره یې نرخ مقررکړبیایې وعده وکړه اودارازدآئنده
لپاره ددغې معاملې تسلسل اوکاروایې شرعًا رواده ،که نه ؟(۹۷۲/ ۱۳۳۸هج)

ځواب: روانه ده.

له قبضې مخکې په مسلم فیه کې تصرف کول

سوال: (۳۴۹) زیدوعمرته دبیع سلم په توګه لس روپۍ ورکړې اوزیدوعمرته داوویل
چي کله مسلم فیه اداکوي هغه وخت به زه نه یم ته زماشی مسلم فیه دوکیل په حیث خرڅ
کړه یایې بل چاته ورکړه چي هغه یې خرڅ کړي بیاته دارنګه دبیع سلم په توګه معامله وکړه
چي څومره روپۍ راځي ټولې درسره ږده اوکله چي دمسلم فیه داداکولوموسم راځي
بیایې ته زماله لورې خرڅوه اوڅه چي درته راشي هغه بیادرسره ږده داسې معامله رواده
،که نه ؟(۱۹۲۴/۱۳۳۸هج).

ځواب: قال فی الدرالمختارولایجوزالتصرف للمسلم الیه فی رأس المال ولالرب السلم فی المسلم فیه قبل قبضه بنحوبیع وشرکة ومرابحة وتولیة ولوممن علیه الخ (۱) وفیه ایضاامره ای المسلم الیه رب السلم ان یکیل المسلم فیه فی ظرفه فکاله فی ظرفه ای وعاء رب السلم بغیبته لم یکن قبضا امابحضر ته فیصیرقابضابالتخلیة الخ (۲) ددې څخه معلومه شوه چې سوال کړشوی صورت صحیح نه دی.

دقرض دخه روپیوپه بدل بیع سلم کول

سوال: (۳۵۰) زیدوعمرته لس روپۍ په دې شرط باندې ورکړې چیپه راروان کښت باندې به نهه روپۍ اویومن وریجې راکړي اودمعاملې پروخت دوریجو من په شپږاووه روپۍ دی دامعامله رواده، که نه؟ (۱۱۹۵/ ۱۳۳۹هج)

ځواب: دامعامله روانه ده بلکې سوددی شرعی قاعده ده کل قرض جرنفعا فهوربوا (۳) اماکه په یوه روپۍ کې بیع سلم دسلم دصحیح کېدودشرطونوپه پام کې نیولوسره وکړي نوهغه صحیح ده فقط.

سوال: (۳۵۱) که کوم تاجرسل روپۍ په قرض ورکړي اوپوروړي ته ووایې چې مثلا نهه نوي روپۍ ماته راداکړه اودیوې روپۍ په عوض لس منه وریجې یاڅلورمنه سیپاروراکړه دامعامله جائزده، که نه؟ (۱۹۳/ ۱۳۴۰هج

ځواب: دڅومره روپیوپه عوض چې وریجې اونوراخستل غواړې دهغه معامله که جلا دسلم په طریقه وکړي اودسلم دشرطونوپکې خیال وساتي نوصحیح کېدای شي مثلا له سلوروپیوڅخه نوي (۹۰) روپۍ په پورورکړي اولس روپۍ دوریجوقیمت مخکې ورکړي اودوریجونرخ مقررکړي چې دیوې روپۍ دومره وریجې فلانی ډول په فلاني وخت کې غواړم نوداصورت صحیح دی.

سوال: (۳۵۲) یوسړی وبل ته پنځوس روپۍ ورکړي چې ته یوه میاشته وروسته وماته

(۱) الدرمع الرد ۴/ ۲۳۳) کتاب البیوع: هل اللحم قیمی اومثلی؟ ط رشیدیه.
(۲) الدرمع الرد (۴/ ۲۳۴) کتاب البیوع، مطلب هل اللحم قیمی اومثلی؟ ط رشیدیه.
(۳) عن الحکم عن ابراهیم قال: کل قرض جرمنفعة فهوربو (مصنف ابن ابی شیبه ۴/ ۳۲۳، کتاب البیوع والاقضیة، باب من کره کل قرض جرمنفعة، المطبوعة دارالکتب العلمیة، بیروت لبنان)

اته څلوېښت روپۍ راکړه اوددوروپیوپه عوض یوه ټوکره وریجې راکړه حال داچې دیوې ټوکرې وریجوقیمت پنځه روپۍ دی دامعامله رواده، که نه؟ (۲۳۵۵/ ۱۳۳۴هج)

ځواب: که دسلم په طریقه دوې روپۍ وچاته ورکړي داورته ووایې چې په دغه دوې روپۍ یوه میاشت وروسته یوه ټوکره وریجې یعنی فلانی ډول وریجې راکړه نودامعامله په طریقه دسلم صحح ده خودسلم دټولوشرطونوموجودیت ضروري دی اوله پنځوسوڅخه نورې اته څلوېښت به قرض وي هغه به ټولې ځیني اخلی داڅه پروانلري فقط.

پوردپورپه عوض خرڅول

سوال: (۳۵۳) زیدوعمرته خپله مځکه دکاله په لس روپۍ کرایه ورکړه اوداخبره یې ورسره وکړه چې دکال په پای کې ددغولسوروپیومثلا دیوې روپۍ په نرخ شل سېره راکړه دعمرورسره خوښه شوه اوس دکال په پای کې مثلا دوریجونرخ په یوه روپۍ پنځلس سېره دی نودامعامله رواده، که نه؟ (۱۳۵۹/ ۴۶- ۱۳۴۷هج)

ځواب: دابیع دپورپه بدل دپورسره وشوه، ځکه نوباطله اوناروا ده: فان اسلم مأتی درهم فی کربرمائة دینًا علیه ومائة نقدافالسلم فی حصة الدین باطل لانه دین بدین الخ (۱) (درمختار) فقط.

(۱) الدرالمختارمع الشامی (۴/ ۲۳۲) کتاب البیوع، باب السلم، مطلب هل باللحم قیمی اومثلی؟ ط رشیدیه).

دسودي مالونودرانيولواوخرڅولوبيان

سوال: (۳۵۴) غله دغلې په عوض په پورخرڅول صحيح نه دي که څه هم جسن بدل وي
يو سړی جواری لس منه په پورغواړي چي زه به وتاته داساړه (ديوې هندی مياشتې نوم)
په موسم کې شل منه سره غنم درکړم دامعامله شرعًا رواده ، که نه ؟ (۱۳۴۱/۹۶۶هج)

ځواب: داسي معامله که داډول وکړله شي چي څومره جواري ورکړي دهغه قيمت دې ورسره معلوم کړي بيادې په هغه قيمت دغنموپه معلوم نرخ سوداوکړي دوصولولووخت دې معلوم کړي نوصحيح دی نوردا غسي نسيئة (په پور) دغلې بيع په غله سره صحيح نه ده که څه هم جنس بدل وي(۱) فقط.

سوال: (۳۵۵) (الف) زدوبکرته دتجارت لپاره روپۍ ورکړې دوې برخې يې دځان معلومې کړي اويوه برخه يې دبکراودتاوان په صورت کې يې نيمه برخه اخستل مقررکړداجائزدی ، که نه ؟

(ب) زيدمني په موسم کې غله ديوې مياشتې په پوروبکرته داډول ورکوي چي په پسرلي کي اوربشي ياغنم ددې په برابرغواړم دابيع جائزده ، که نه ؟ (۱۳۴۲/۱۷۷۲هج)

ځواب: (الف) داتجارت په شريعت کې دمضاربت په نامه مشهوردی په دې کې ګټه په هغه تفصيل سره مقررول کومه چي مقرره کړله شوې ده جائزده خونقصان پرده (مضارب) اچول جائزنه دی په مضاربت کې چي تاوان هرڅومره وي هغه پررب المال (روپيو) والاوي.

(۱) وان وجداحدهمااى القدروحده (كالحنطة بالشعير) اوالجنس (وحده كالهروى بهروى مثله) حل الفضل وحرم النسا، ولومع التساوى فيحل .... كربربكرى شعيرحالا وهروى بهرويين حالاولومؤجلا لم يحل (الدروالرد(۴/ ۱۹۹) كتاب البيوع ،مطلب فى الابراء عن الربوط رشيديه).

(ب) ديوې غلې په مقابل دبل ډول غلې په رانيولواوخرڅولوکې کمی اوزياتوب خوروادی خوپورناروادی(۱) اودجوازحيله په دې صورت کې داده چي دمني دغلې قيمت مقررکړي داورته ووايې چي ددې قيمت ستاپه ذمه شوبياپه دغه قيمت دومره غنم اونخوداونورغواړم دوصولولووخت اومقداراونوردې معلوم کړي فقط.

دبيلابيلوجنسونوغلواونقدوپه پورتبادله جائزه نه ده

سوال: (۳۵۶) (الف) زيديوه روپۍ په پورورکړي څلورمياشتې وروسته يوه اتانی اودوولس آنی پيسې اخلي اِدوولس پيسې په پورورکړي يوه روپۍ نغده غواړې اووايې چي داسودنه دی ، ځکه چي جنس بدل شو

(ب) اوڅلورسېره غنم په پورورکړي شپږسېره اوربشې دوې مياشتې وروسته اخلي ياڅلورسېره وربشې ورکړي شپږسېره غنم اخلي اودې ته هم رواوايې آياداصورتونه روادي ، که نه ؟ (۱۳۴۳/ ۱۴۸۲هج)

ځواب: (الف ، ب) داصورتونه شرعًا ناروادي اودوزن سره اړه لروونکونغدو اوپه غله کې دجنس دبېلوالي په صورت کې که څه هم کمی اوزياتوب روادی اوتفاضل صحيح امانسيئة (پور) جائزنه ده لکه چي په حديث کې راغلي دي [فبيعوا كيف شئتم اذاكان يدابيد الحديث (۲) يعنی دجنس داختلاف په صورت کې چي څرنګه غواړئ په کمې اوزياتوب بيع کوئ کله چي لاس په لاس وي يعنی پورنه وي فقط.

پټاټې دغنموپه عوض په پورخرڅول

سوال: (۳۵۷) له زيدسره پټاټې دي ده پنځه سېره پټاټې وبکرته دارنګه ورکړې چي زه پنځه سېره غنم په پسرلي کې درڅخه غواړم نودامعامله صحيح ده ، که نه ؟ (۱۳۹۶/۳۲-۱۳۳۳هج)

ځواب: دپټاټو(آلوګانو) بيع دغنموپه عوض په پورروانه ده وان وجداحدهما ای القدروحده

(۱) مخکنی حواله (۲) عن عبادة بن الصامت رضى الله عنه قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم الذهب بالذهب والفضة بالفضة والبربالبروالشعيربالشعير والتمربالتمروالملح بالملح مثلا بمثل ،سواء بسواء ويدابيدفاذااختلفت هذه الاصناف فبيعوا كيف شئتم اذاكان يدابيد(الصحيح لمسلم۲/ ۲۵، كتاب المساقاة والمزارعة ، باب الربو).

اوالجنس حل الفضل وحرم النساء ولومع التساوی (۱) (درمختار) اماکه داسي وکړي چي زيد پنځه سيره پټاټي وبکرته ورکړي دهغوقيمت دده په ذمه کړي اوپه دغه قيمت باندي که په پسرلي کي پنځه سېره غنم په ټاکلې وخت اخستل مقررکړي نوصحيح کيږي په دې شرط چي دسلم ټول شرطونه پوره وي.

دغنموپه بدل اوړه رانيول

سوال: (۳۵۸) دغنموپه بدل کې اوړه رانيسي نوداتبادله رواده ،که نه ؟(۸۳۵/ ۲۹-۱۳۳۰هج)

ځواب: دتبادلې په طريقه دامعامله روانه ده ،ځکه چي فقهاءرحمهم الله دغنمو بيع په عوض دهغوئ دواړوپه هيڅ ډول روانه بولي لکه چي په درمختارکې راغلې دي : لايجوزبيع البرّ بدقيق اوسويق مطلقاولومتساويالعدم المستوى (۲) وفى الهداية ولايجوزبيع الحنطة بالدقيق ولابالسويق لان المجانسة باقية من وجه لانهمامن اجزاء الحنطة فلايجوزوان كان كيلا بكيل الخ(۳)

وريجې په جواروبدلول

سوال: (۳۵۹) وريجې له جواروسره دکمی اوزياتوب په صورت بدلول روادي ،که نه ؟(۲۷۰/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

ځواب: لاس په لاس په ورکولوکې کمی اوزياتوب صحيح دی اونسيئه (په پور) روانه ده كمافى حديث مسلم : فاذااختلفت هذه الاصناف فبيعواكيف شئتم اذاكان يدابيدالحديث(۴)

(۱) الدرمع الرد(۴/ ۱۹۹) كتاب البيوع ، مطلب فى الابراء عن الربوط رشيديه (۲) الدروالرد كتاب البيوع ، باب الربو ، مطلب فى استقراض الدراهم عدداط رشيديه.

(۳) الهداية ۸۲/۳، كتاب البيوع ، باب الربو.

(۴) عن عبادة بن الصامت رضى الله عنه قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم الذهب بالذهب والفضة بالفضة والبربالبروالشعيربالشعير والتمربالتمروالملح بالملح مثلا بمثل ،سواء بسواء ويدابيدفاذااختلفت هذه الاصناف فبيعواكيف شئتم اذاكان يدابيد(مشكوة المصابيح ص: ۲۴۴/، كتاب البيوع ، باب الربو.

په پوست کې موجودې وريجې دصفاوريجوپه عوض خرڅول

سوال: (۳۶۰) په پوست کې دموجودووريجوبيع دصفاوريجوپه بدل کې صحيح ده ، که نه ؟(۲۰۳۹/ ۳۲- ۱۳۳۳هج)

ځواب: په پوست کې موجودې وريجې که دصفاوريجوپه عوض خرڅې کړي نوپه هغه کې دفقهې له قاعدې سره سم داسي پکاردي چي صفاوريجې زياتې وي له هغووريجوچي په خورکې وي که داسي نه وي نودسوديادسوددشبهې په وجه معامله حرامه ده(۱).

نخودورکول په موسم کې دهغوئ په برابري غنم اخستل

سوال: (۳۶۱) يوسړی نخودورکړې دکښت درسېدوپرمهال دهغوئ په برابري غنم اخلي داخرنګه دی ؟(۲۲۵۲/ ۱۳۴۳هج)

ځواب: په مکيلاتواوموزوناتوکې نسيئه (پور) منع دی ،ځکه نوپه طريقه دبيع دامعامله نارواده(۲) فقط.

دجواروپه عوض غنم په پوربيع کول روانه ده

سوال: (۳۶۲) زيدوعمروته پنځه سېره غنم ياوريجې ورکړې تريومعلوم وخت پوري دجواري اونورودلسوسېروخبره يې ورسره وکړه داروادی ،که نه ؟(۵۹۱/ ۱۳۴۵هج)

ځواب: داصورت روانه دی پورپه دې کې نارودی که حالا ، لاس په لاس

(۱) ولاالزيتون بزيت والسمسم بحل حتى يكون الزيت والحل اكثرممافى الزيتون والسمسم ليكون قدره بمثله والزائدبالثقل (الدرالمختارمع ردالمحتار(۴/ ۲۰۸) كتاب البيوع ، قبل باب الحقوق فى البيع ط رشيديه.

(۲) وان وجداحدهماای القدروحده (كالحنطة بالشعير) اوالجنس وحده (كالهروى بهروى مثله) حل الفضل وحرم النساء ولومع التساوى وفى الشامى فيحل كرّ برّ بكرىّ شعيرحالا وهروى بهرويين حالا ولومؤجلا لم يحل (الدروالرد(۴/ ۲۹۹) كتاب البيوع ، مطلب فى الابراء عن الربوط رشيديه).

ښنځه سېره غنم په عوض دلسو سیرو جوارو او نورو ورکړي نو دا روا دی(۱) فقط

پرورډپراړه په عوض اوغله دغلې په عوض په پوراخستل

سوال: (۳۶۳) (الف) زوړ پروړ یا غله مثلا یو سړی وبل ته په پورورکړل او دایې ورته وویل چي کله نوی پروړ راشي هغه وخت ماته هم دومره راکړه نو دا معامله جائزده، که نه؟

(ب) که کوم سړی پروړ یا غله او نور یو من ورکړي په موسم کې دیو نیم من ځیني اخستو خبره ورسره وکړي نو دا روا دی، که نه؟ (۱۳۴۳/۲۱۳۳هج)

ځواب: (الف) د پور له لارې دا معامله صحیح ده او که د بیع معامله دا ډول په پور وکړي نو ناروا ده.

(ب) دا ناروا دی او ددې د روا کېدو دا طریقه کېدای شي چي پروړاو غله دې په قیمت ورکړي بیا دې په هغه قیمت باندي یو نیم من پروړ او نور واخلي.

په کمښت اوزیاتوب سره دپنبو او تار تبادله کول

سوال: (۳۶۴) د سپینسي سره پنبه بدلول په کمی او زیاتوب سره روا دي، که نه؟ (۱۰۸۵/۱۳۳۹هج)

ځواب: سپینسی ورکوي د پنبو سره په کمی او زیاتوب بدلول لاس، په لاس صحیح دی (۲)

شړشم اوکنجتي اونوروړ کول تیل اخستل

سوال: (۳۶۵) شړشم، کنجتي او نور وړ کول د هغه په عوض د ربیمه یا ځلورمه تیل اخستل جائزدي، که نه؟ او شړشم حالا ورکول دوې ځلورمیاشتې وروسته تیل اخستل شرعًا جائزدي، که نه؟ (۱۳۴۱/۱۵۹۳هج)

(۱) مخکنی حواله (۲) جازبیع کرباس بقطن وغزل مطلقا کیفما کان لاختلافهما جنسا کبیع قطن بغزل القطن فی قول محمد رحمه الله وهو الاصح حاوی (الدرالمختار) وفی الشامی قوله (وهو الاصح) والفتوی علیه کمافی الاختیار وفی البحر: انه الاظهر (الدرالمختار ورد المحتار (۲۰۵/۴) کتاب البیوع، مطلب فی استقراض الدراهم عددا ط رشیدیه).

ځواب: شړشم د هغه د تېلو په عوض یا کنجتي د هغوئ د تېلو په عوض تبادله کولو کې فقهاؤ دا شرط لیکلی دی چي تېل څه زیات وي له هغو تېلو څخه کوم چي په شړشمو یا کنجتو کې دي ترڅو تېل د تېلو په مقابل برابر شي او څه تېل د پوستکو په مقابل شي او پور په دې کې جائز نه دی بلکې لاس، په لاس بیع بایدوشي په درمختار او نورو کې راغلي دي: ولا الزیتون بزیت والسمسم بحل حتی یکون الزیت والحل اکثر ممافی الزیتون والسمسم لیکون قدره بمثله والزائد بالثفل الخ (۱) فی الشامی واعلم ان المجانسة تکون باعتبار مافی الضمن فتمنع النسیئة کمافی المجانسة العینیة وذلک کالزیت مع الزیتون والشیرج مع السمسم الخ (۲)

دکوموغلوچي کیلې یاوزني کېدل په نص دشارع معلوم نه دي
دهغوئ دغنموپه عوض په پوررانیول اوخرڅول حرام دي

سوال: (۳۶۶) زید تاجر غله، جوارې، او نور چي کیلي یا وزني کېدل یې په نص د شارع معلوم نه دي یو من نسیئه (پور) یعني په وعده ورکوي او دو عدې سره سم یو نیم من غنم ددې په عوض غواړې او دی وایې چي دا حلال او روا دي، ځکه چي کله شرعًا ددوي مقدار ثابت نه دی نو عرفا زموږ په ښارکې جوارې او نورو زني دي حال دا چي دزید په ښارکې غنم، او ربشې تولې غلې وزني دي زید غنم او او ربشې کیلي ګرځولې او جوارې او نوریې وزني ګرځولې دي د جنس او قدر د بدلون په ثابتولو تفاضل او نسیئه یعنی لاس په لاس زیاتوب او له مودې وروسته یې یو مخ صحیح بللې دي په عامو خلکو کې یې جائز ګرځولې دي او دا معامله په عامو خلکو کې ورځ په ورځ روانه ده نو موړی زید عمر منع کړی دی چي دا په هره وجه ناروا او سود دی، ځکه چي د ټولو غلو کیلي کېدل د شارع له نص څخه په قیاس ثابت او معلوم دي د عباده بن صامت رضی الله عنه حدیث: عن عبادة بن الصامت رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم الذهب بالذهب والفضة بالفضة والبر بالبر والشعیر بالشعیر والتمر بالتمر والملح بالملح مثلا بمثل،

(۱) الدرالمختار مع الشامی (۲۰۸/۴) کتاب البیوع، قبل باب الحقوق فی البیع ط رشیدیه.
(۲) الشامی (۲۰۷/۴) کتاب البیوع، مطلب فی استقراض الدراهم عددا ط رشیدیه.

سواء بسواء ويدابيد فاذااختلفت هذه الاصناف فبيعوا كيف شئتم اذاكان يدابيد(۱) رواه السنة من حديث عبادة بن الصامت الاالبخاری تمثيلې دی علماء ټول غلې پرهمدې قياسوي په عرف کې دغلوکيلي اووزني کېدلوته اعتبارنشته له غلوپرته خورما، سره زر، سپين زر،مالګه اونور،نورشيان عرفی ګرځووچي دهغوئ تمثيلا اواشارة معلومات نه وي اونص ته عرف هيڅکله بدلون نشي ورکولای اودامام ابويوسف رحمه الله په نزدپه مشهورعرف سره دشارع نص بدلېدای شي شايدچي دشارع په وخت کې به رواج کيلي وواوپه رواج کې دبدلون اجازه شته بياهم دزيدپه ښارکې غلې وزني دي په دې صورت کې هم ناروااوسودوايې وزيدته عمرلاښوونه کوي چي داطريقه ددرخيانو،هندوانوده له دې څخه ځان ساته اوتوبه وکاږه اومسلمانان مه شکوه اوناروارواج دسودپه نړۍ، که نه دی خپرول پکارچي دالله رب العزت دغضب باعث دی داحبله نه دي کول پکاردې عمل کوونکی فاسق اوحلال ورته ويوونکی کافردی اوزيدوايې چي شرعًا حلال اوپاک دی دې ته حرام ويوونکی فاسق اوکافردی بينواتوجروا(۹۲۲/ ۳۳/۱۳۳۴هج)

ځواب: دعمرويناپه دې اړه صحيح ده اوزيدخطادی دعرف که لحاظ وکړل شي لکه چي دامام ابويوسف رحمه الله قول دی اومحقق ابن همام هغه ته ترجيح ورکړې ده اوپه کافي کې يې ويلې دي الفتوی علی عادة الناس (۲) نولکه څرنګه چي جواري اونورعرفاوزني دي غنم ،اوربشي اونورهم وزني دي اوخاص دوزني سره ددوئ معامله کيږي نوعرفاقدردواړوجنسونويودی چي ورڅخه نسيئه (پور) حرام ګرځي کمافی کتب الفقه وان وجداحدهمااى القدر وحده اوالجنس حل الفضل وحرم النساء (۳) وقدروی دعواالربووالربية(۴) فقط.

(۱) الصحيح المسلم۲۵/۲، کتاب المساقاة والمزارعة ،باب الربو.
(۲) الدرالمختارمع ردالمحتار(۴/ ۲۰۳) کتاب البيوع ،باب الربو، مطلب فی استقراض الدراهم عدداط رشيديه.
(۳) الدرمع الرد (۴/ ۱۹۹) کتاب البيوع، مطلب فی الابراء عن الربوط رشيديه.
(۴) عن عمربن الخطاب رضی الله عنه ان آخرمانزلته آية الربووان رسول الله صلی الله عليه وسلم قبض ولم يفسرهالنافدعواالربووالربية(مشکوة المصابيح ص: ۲۴۲، کتاب البيوع ،باب الربو.

ديوې روپۍ اونهه منواوربشوپه عوض شل منه اوربشې اخستل

سوال: (۳۶۷) شخصی کسی رانه من جوويک روپيه قرض داد باين شرط که بعدچندين مدت بعوض ان نه من ويک روپيه مقروضه است من جوبايدداداين صورت جائزاست يانه ؟ (۲۱۹۸/ ۱۳۴۲هج)

جواب: اگر نسيئه بودی اين صورت جائزبودی چراکه ازبست من جونه من جوبمقابله جنس اوکرده باقی يازده من جوبمقابله يک روپيه شدی واين جائز است کمافی بيع درهمين ودينار بدرهم ودينارين بصرف الجنس بخلاف جنسه وفی الشامی ای تصحيحا للعقد(۱)

دسوال (۳۶۷) ترجمه: يوسړی ويوچاته نهه منه اوربشي اويوه روپۍ په پوروركړي په دې شرط باندي چي دومره موده وروسته به دنهه منه اوربشو اويوې روپۍ قرض په بدل کې شل منه اوربشې راکوې آيادااصورت جائزدی ،که نه ؟

ځواب: که دامعامله په پورنه وي نوداصورت روادی ،ځکه چي (دپورنه کېدو په صورت کې) له شلو منواوربشو څخه په نهه منه اوربشي دهغوئ دجنس په مقابل کې بلل کېدلای اوپاته يوولس منه اوربشي به دخپل مخالف جنس ديوې روپۍ په عوض کې وای اوداصورت جائزدی لکه چي په درمختارکې راغلې دي: ددوودرهمواويوه دينارببيع ديوه درهم اودوودينارو په عوض جائزده يوجنس دبل جنس دعوض ګرځولو په وجه اوپه شامی کې راغلې دي: يعنی دعقدد صحيح ګرځولو لپاره داسي کول ضروري دي فقط.

کېږه په پورخرخول اوڅلورمياشتې وروسته په روپۍ کې يوه آنه ګټهورباندي اچول سوددی

سوال: (۳۶۸) زيدمولوی دی دکپړې تجارت کوي دلسوآنومال په روپۍ کې ددووآنوګټې په حساب پردکاندارانوخرڅوي که ديوسړی سره دزيدروپۍ ترڅلورمياشتې واوړې نودی دهروڅلورومياشتووروسته پرپاته روپيوباندي په روپۍ کې يوه آنه ګټه اچوي دغه ګټه ورباندي اچول جائزدي

(۱) الدرالمختاروالشامی (۴/ ۲۲۲) کتاب البيوع، باب الصرف، مطلب فی بيع المفضض والمزرکش وحکم علم الثوب ط رشيديه.

،كه نه ؟(۳۲/۲۲۲۲-۳۲-۱۳۳۳هج)

ځواب: دغه ګټه ورباندي اچول او اخستل شرعًا صحيح نه ده بلكي حرام او سود دى.

تشه ډبه اودپټرورو قيمت وركول ډكه دپټرورو ډبه رانيول

سوال: (۳۶۹) په موټركې دكارېدوونكي پټرورد رانيولو طريقه په بازاركې داده چي تشه ډبه اودتېلو قيمت وركړي بله ډبه ډكه رانيسي دارانيول جائزدي ،كه نه ؟ (۱۴۹۲/ ۱۳۴۲هج)

ځواب: دا ډول رانيول او خرڅول جائزدي.

له هندورانيوونكي څخه هم سوداخستل روانه دى

سوال: (۳۷۰) مورډتارونو او نورو تجارت كووكوم مال چي زمونږ څخه هندوان رانيسي دهغه روپۍ په پنځه شپږمياشتې كې ډيرپه ګرانه اداكوي ،ځكه چي له دوئ څخه له اصل قيمت څخه زياتوب وركول نه غواړې اوكله چي مونږله دوئ څخه مال رانيسونودوئ يوه مياشت وروسته زمونږڅخه دروپيوسودغواړي مونږډيرپرېشانه اوورځ په ورځ پوروړي كيږونو زمونږلپاره له هندوانو څخه زياتوب اخستل روادي ؟(۳۳۰/ ۱۳۴۵هج)

ځواب: له هندوانو څخه هم سوداخستل روانه دى امادزياتوب داصورت كېداى شي چي په همدې حساب باندي دمال قيمت وزيات كړي ،ځكه چي داروادى چي دثمن مؤجل (پور) كېدوپه صورت كې قيمت ورزيات كړي(۱) (هدايه وغيره) فقط.

له بائع څخه قرض اخستل دمبيع قيمت په اداكول

سوال: (۳۷۱) مثلا دزيدسره يوآم دى عمرزيدته راغى دآم قيمت يې معلوم كړزيدآم قيمت شل روپۍ وروښووى عمرورته وويل داآم په شل روپۍ قيمت رانيول ماته منظوردى خوته ما

(۱) الايرى انه يزادفى الثمن لاجل الأجل (هدايه ۷۴/۳، كتاب البيوع ،باب المرابحة والتولية)

ته سل روپۍ ديوه كال لپاره په قرض راكړه اوله هغه څخه شل روپۍ دآم قيمت دروګرځووه ،ځكه نوزيدهغه آم اواتيا روپۍ وركړې داطمينان په غرض يې دسلوروپيوسندپه وليكى يادشوى صورت روادى كه په سودكې داخل دى ؟ (۲۴۷۳/ ۱۳۴۰هج)

ځواب: كه په حقيقت كې دغه آم دشلوروپيودى اودقرض په وجه دآم قيمت زيات نه دى نودامعامله صحيح ده (۱) فقط.

دكپړودنقشونواوګلانوحكم

سوال: (۳۷۲) زيدوايې چي دبنارس كپړې چي پكي خالص ګلابتون (۲) لګېدلي وي پرزرنګاره توره باندي يې قياس نشي كېداى چي ورڅخه ددواړو طرفه قبضه كولوشرط ضروري شي ځكه چي دبنارسي جامونقشونه اوګلان دعلامه شامى رحمه الله له تحقيق سره سم صرف توابع دي لكه چي دشامى په باب بيع الصرف كې دمفضض اومزركش ترقول لاندي يادونه كوي ليكي [بخلاف العلم فى الثوب فانه تبع محض (۳) نوشريعت دوئ ته اعتباروركول ساقط كړې دي لكه چي بياليكي ولاكذلك علم الثوب لان الشرع اهدراعتباره حتى حل استعماله (۳) اوله دې څخه مخكې يې هم ددغونقشونوپه اړه تحقيق كړى دى ان المعتمدعدم اعتباره فى المنسوج (۳) پرته له دې دتورې زرنګارې په بيع كې مقصودى ده لكه چي په شامى هم هلته راغلې دي فانه قائم بعينه غيرتابع بل هومقصودبالبيع كالحلية والطوق الخ (۳) اوددغوكپړودګلابتونو نقشونه په بيع كې مقصودى نه دي بلكي اصل مقصوددكپړوبيع ده داصرف توابع دي آيادزيددغه تقريرددواړو قبضه نه كولوته ګټه رسوونكې دي ؟اوزيد داهم وايې چي دبنارسي كپړوپه پورمعامله په عامه توګه علماء جهلاء اميران ، غريبان ټول كوي په دې كې له دواړوجانبونوورباندي دقبضه كولوپه شرط سره ډيرلوئ حرج راځي (۱۵۵۱/ ۳۲-۱۳۳۳هج)

(۱) كه يې دقرض په وجه دآم قيمت زيات كړى دى نوبيع عينه ګرځي چي په حديث كې ورباندي وعېد راغلى دى سعيداحمد.

(۲) ګلابتون دسپينوزرو ياسروزرو تارچي پرورېښمو باندي وپېچي دسپينو زرو ياسروزرو دتارونو كلاوه (فيروزاللغات)

(۳) الدرالمختارورد المحتار (۴/ ۲۲۵) كتاب البيوع ، باب الصرف ، مطلب فى بيع المفضض والمزركش وحكم علم الثوب ط رشيديه.

ځواب: ټول عبارت ددرمختاراوشامی په دې اړه دادي په درمختارکې راغلي دي: والاصل انه متى بيع نقدمع غيره كمفضض ومزركش بنقدمن جنسه شرط زيادة الثمن فلومثله اواقل اوجهل بطل ولوبغيرجنسه شرط التقابض فقط (۱) په شامي کې راغلي دي: تنبيه لم يذكرحكم العلم فى الثوب وفى الذخيرة واذا باع ثوبامنسوجابذهب بالذهب الخالص لابدلجوازه من الاعتباروهوان يكون الذهب المنفصل اكثروكان ينبغى ان يجوزبدونه لان الذهب الذى نسج خرج عن كونه وزنياولذالايباع وزنالكنه وزنى بالنص فلايخرجه عن كونه مال ربوثم قال وفى المنتقى ان فى اعتبارالذهب فى السقف روايتين فلايعتبرالعلم فى الثوب وعن ابى حنيفة وابى يوسف رحمهماالله انه يعتبروفى التاتارخانية عن الغياثية ولوباع دارافى سقوفهاذهب بذهب فى رواية لايجوزبدون الاعتبارلان الذهب لايكون تبعابخلاف علم الثوب والابريسم فى الذهب فانه لايعتبرلانه تبع محض وظاهرالتعليل ان ذهب السقوف عين قائمة لامجردتمويه ويدل عليه ماقدمناه آنفاعن الكافى من ان المموّه لايعتبرلكونه لايخلص وفى الهندية عن المحيط والدارفيهاصفائح ذهب اوفضة يبيعهابجنسهاكالسيف المحلى وحاصل هذاكله اعتبارالمنسوج قولاواحداواختلا ف الرواية فى ذهب السقف والعلم وان المعتمدعدم اعتباره فى المنسوج وقدعلم بهذاان الذهب ان كان عيناقائمة فى المبيع كمساميرالذهب ونحوهافى السقف مثلا يعتبركطوق الامة وحلية السيف ومثله المنسوج بالذهب فانه قائم بعينه غيرتابع بل هومقصودبالبيع كالحلية والطوق وبه صارالثوب ثوباولذايسمى ثوب ذهب بخلاف المموّه لانه مجردلون لاعين قائمة وبخلاف العلم فى الثوب فانه تبع محض فان الثوب لايسمى به ثوب ذهب ولايردماقدمه الشارح من ان الحلية تبع للسيف ايضافان تبعيتهاله من حيث دخولهافى مسماه عرفاسواء كانت فيه اوفى قرابة لكنهااصل من حيث قيامهابذاتهاوقصدهابالشراء كطوق الجارية ولاكذلک علم الثوب لان الشرع اهدراعتباره حتى حل استعماله لكن ينبغى انه لوزادعلى

(۱) مخکنی حواله.

لوزادعلى اربعة اصابع ان يعتبرهناايضا هذاماظهرلى فى تحريرهذالمحل فتأمل (۱) انتهى ددرمختارله قول اوذخيرې له روايت څخه په سروزروداوبدلوکپړو کې مطلقا دبيع صرف حکم معلوم شواودمنتقى له روايت څخه دکپړې په نقشونو کې اختلا ف ثابت شوبيادشامی په تحقيق سره دکپړې په نقشونوکې ترهغواعتبارنه کول ومنل شوچي دهغه استعمال شرعًا جائزوي که ترڅلورګوتې زيات وي نوهغه ته اعتبارشته اودبيع صرف حکم پکې جاري کيږي نوکله چي ځای داحتياط وي اودعواالربووالريبة(۲) راغلی دی ،ځکه داحتياط تقاضا خوداده چي په نقش کې هم دصرف حکم جاري شي اوکه په دې کې اعتبارنه ورکول معتمدومنل شي نوترڅلوروګوتوپه زيات هيڅ ګنجائش ددې نشته چي هغه ته دې هم معتبروويل شي په هرحال په عامه توګه په بنارسي کپړوکې ددواړوجانبودقبض کولوشرط باطلول اونامعتبربلل دهيچاپه نزدصحيح نه دي اودحراموپه حلالولوکې وعرف اورواج ته اعتبارنشته فقط.

دسپينوزروپه بدل کې که سپين زرورکړي نوبرابرې ضروري ده

سوال: (۳۷۳) دجاپان دسپينوزروسکه جاري شوې ده کومه چي غالبًا په قيمت کې ددې ځای دانګريزې دربيوروپوبرابره وي په وزن کې بېله ده کله دهغه ځای دسکې قيمت دلته درې روپۍ ،کله څلورروپۍ ،کله پاوکم درې روپۍ وي لنډه داچي قيمت کښته اوپورته کيږي نوکه په جاپاني سکه موږمال رانيوى نودهغه قيمت دلته آداکول غواړې چي دهغه سپين زردوزن په اعتبارزياتيږي داروادی ،که نه ؟ (۲۴۷/ ۱۳۳۹هج)

ځواب: دسپينوزروپه بدله کې که په سپينوزروورکولوکې مساوات ضروري دی کمی اوزياتوب حرام دی (۳) اماکه دناجنس په عوض کې ورکول شي نومعامله رواکيږي.

(۱) مخکنی حواله.

(۲) عن عمربن الخطاب رضى الله عنه ان آخرمانزلت آية الربووان رسول الله صلى الله عليه وسلم قبض ولم يفسرهالنافدعواالربووالريبة رواه ابن ماجه والدارمى (سنن ابن ماجه ص: ۱۲۴/ ابواب التجارات ، التغليظ فى الربو).

(۳) عن ابى سعيدالخدرى رضى الله عنه ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال لاتبيعواالذهب بالذهب الامثلا بمثل ولاتبيعواالورق الامثلا بمثل الحديث (الصحيح لمسلم ۲/ ۲۴ ، كتاب المساقاة والمزارعة ، باب الربو)

دسپينوزروپه ګڼه (زيور) کې که مس اونورورسره ګډوي نوهغه په کمي اوزياتوب خرڅول

سوال: (۳۷۴) په زېورکې مس ، سرپ ورګډوي نودازېورپه سپينوزرووي ، که نه ؟اوپه خرحولوکې يې کمی اوزياتوب صحيح کېږي ، که نه ؟(۲۸۴/ ۱۳۳۸هج

ځواب : که سپين زرزيات اوغالب وي اومس اونورومغلوب اوکم وي نوغالب ته په اعتبارورکولوهغه ټول زېورسپين زرشمېرل کيږي وغالب الفضة فضة (۱) (درمختاراونور) اوپه خرڅولوکې که دناجنس مثلا دپيسواونوروپه مقابله کې وي نوکمی اوزياتوب صحيح دی کنې نه دی فقط.

سره زراوسپين زرپه پورخرڅول

سوال : (۳۷۵) دهندوستان دغټوتجارانو دسرورزرواوسپينوزروبيع داډول کيږي چي مشتری مثلا زرتولې سره زردنن په تاريخ کې داته ورځې وروسته اخستوپه وعده په مقرر کړې نرخ باندې رانيوله خوقبضه پرمبيع باندې له ټاکلې مودې پای ته رسېدوباندې کوي دارانيول اوخرڅول روادي ، که نه ؟(۴۲۲/ ۱۳۳۹هج)

ځواب: يا ده شوې بيع صحيح نه ده بلکې حرامه ده کماوردفی الحديث المعروف(۲) فقط

په کمښت اوزياتوب سره دروپيواوپيسوتبادله کول

سوال: (۳۷۶) دوتې پېشه يعنی دروپيوپه بدل زياتې پيسې اخستل شرعًا روادي ، که نه ؟آيادافعل صرف دوتې والاپاره خاص دی که دهرسړی لپاره روادی ؟ دارازکه له صحابه ورضی الله عنهم اوتابعينورحمهم الله څخه چاداکارکړی دی دهغه څه نوم وواوچيري يې استوګنه

(۱) وماغلب فضته وذهبه فضة وذهب حکما (الدرالمختارمع الشامی (۴/ ۲۲۷) ،کتاب البيوع ، مطلب مسائل فی المقاصة ط رشيديه.

(۲)عن عبادة بن الصامت رضی الله عنه قال : قال رسول الله صلی الله عليه وسلم الذهب بالذهب والفضة بالفضة والبربالبروالشعيربالشعير والتمربالتمروالملح بالملح مثلا بمثل ،سواء بسواء ويدابيدفاذااختلفت هذه الاصناف فبيعواکيف شئتم اذاکان يدابيد (الصحيح لمسلم۲/ ۲۵کتاب المساقاة والمزارعة ،باب الربو)

کوله ؟(۴۳۳/ ۱۳۳۷هج)

ځواب: کومه معامله چې شرعًا صحيح وي په هغې کې دکوم شخص ځانګړتيانه وي مثلا کومه معامله دبيع چې صحيح وي هغه دهرچالپاره صحيح وي وتېوال که وي اوکه نه وي نودفلوسوبيع يعنی دپيسوبيع دروپيوسره په کمښت اوزياتوب سره صحيح ده (۱) ،ځکه چې جنس بدل دی اوکله چې جنس بدل شي نوکمښت اوزياتوب صحيح وي لکه چې حديث شريف دبېلابېلوجنسونوپخپل مينځ کې دبيع کولوپه اړه فاذااختفلت هذه الاصناف فبيعواکيف شئتم اذاکان يدابيدرواه مسلم (۲) راغلې دي يعنی چې کله داجنسونه بدل شي نوبياچې څرنګه غواړې بيع کوئ نوکه ديوې روپۍ پيسې دشپاړس آنوپرځای پنځلس آنې واخلي يايې ورکړي نوداصحيح دی اوکله چې په حديث شريف اوفقهې راويتونودې جوازثابت شونوبيادې خبرې وپوښتنې ته اړتيانشته چې له صحابه اوتابعينوڅخه چاداکارکړی دی اودهغه څه نوم وو؟ اوچيري يې استوګنه کوله ؟ داډول خبرې دناپوهۍ پوښتنې دي ،ځکه چې کوم شی دنبی عليه السلام په ارشادثابت اوجائزشواوفقهاؤهغه عملی کړاوهغه ته يې جائزو ويل نوبيادې ته څه ضرورت پاته شوچې داپيښېښه په هغه زمانه کې چاکړې وه ؟ دداسي بې معنی پوښتنوپه حديث اوفقه کې منع راغلې ده رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلې دي : من حسن اسلام المرء ترکه مالايعنيه(۳)

(۱) يادونه دې وي چې په پخوازمانه کې روپۍ دسپينوزرووي اوپيسې به له بل شی څخه جوړېدې ،ځکه ددوئ ترمينځ په کمښت اوزياتوسره بيع جائزوه خوپه اوس زمانه کې روپۍ له کاغذاونوروشيانو جوړيږي ،ځکه دپيسوسره دتبادلې په صورت کې کمی اوزياتوب نارواده ومشائخنالم يفتوابجوازذلک فی العدالی والغطارفة لانهااعزالاموال فی ديارنافلوابيع التفاضل فيه يفتح باب الربو(هداية: ۳/ ۱۰۹کتاب الصرف)

(۲)عن عبادة بن الصامت رضی الله عنه قال : قال رسول الله صلی الله عليه وسلم الذهب بالذهب والفضة بالفضة والبربالبروالشعيربالشعير والتمربالتمروالملح بالملح مثلا بمثل ،سواء بسواء ويدابيدفاذااختلفت هذه الاصناف فبيعواکيف شئتم اذاکان يدابيد (الصحيح لمسلم۲/ ۲۵کتاب المساقاة والمزارعة ،باب الربو)

(۳)عن ابی هريرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله عليه وسلم من حسن اسلام المرء ترکه مالايعنيه (جامع الترمذی ۲/ ۵۸ابواب الزهد ، باب ماجاء من تکلم بالکلمة ليضحک الناس)

سوال: (۳۷۷)مسلمانان دهندوانوله دکانونوڅخه دیوې روپۍ شپاړس آنې ماتې راوړي بیایې په پنځلس نیمې آنې خرڅوی داروادی ،که نه ؟(۱۲۴۲/ ۱۳۳۵هج)

ځواب: دروپۍ په مقابله کې چې کله پیسې وي نو کمښت اوزیاتوب صحیح دی نو دیوې روپۍ په مقابل که پاوکم شپاړس آنوپیسې یادپنځلس نیموآنوورکوي نوصحیح دی.

سوال: (۳۷۸) دروپیوپه عوض که دپیسومعامله وشی نوپاوکم شپاړآنی اخستل یاپاو باندي شپاړس آنی اخستل صحیح دي دي ،که نه ؟(۱۲۵۲/ ۱۳۳۵هج)

ځواب: دروپیوپه عوض که دپیسومعامله وشي نوپاوکم شپاړس آني یاپاوباندي شپاړس آني اخستل صحیح دي فقط.

سوال: (۳۷۹) په څورلس آني یوه روپۍ اخستلای شي ،که نه ؟(۳۲۲/ ۱۳۳۷هج)

ځواب: دیوې روپۍ په بدل دڅورلس آنوپیسې اخستلای شي ورکول اخستل داړول صحیح دي لاختلا ف الجنسین(۱) فقط.

په کمې اوزیاتوب سره دنوټ اوروپۍ تبادله کول

سوال: (۳۸۰) دلسوروپیونوټ په پاوکم لس روپۍ یاسوالس روپۍ خرڅول جائزدي که کمی اوزیاتوب سوددی ؟(۷۵۱/ ۱۳۳۷هج)

ځواب: نوټ په کمۍ اوزیاتوب اخستل اوورکول سوددی صحیح نه دی.

سوال: (۳۸۰) دنوټ په معامله کې زیاتره دکانداران کمی اوزیاتوب کوي مثلا دسلوروپیونوټ کله په پاوباندي اوکله په اته نوي روپۍ ورکوي اواخلي یې دغه کمښت اوزیاتوب صحیح دی ،که نه ؟(۱۷۲۹/ ۱۳۳۷هج)

ځواب: دنوټ په معامله کې زیادت اوکم اخستل دشریعت دقاعدې له مخې جائزنه دی خودمجبوریت

(۱) وان وجداحدهمااى القدروحده اوالجنس (اى وحده) حل الفضل وحرم النساء(الدرالمختارمع الشامی (۴/ ۱۹۹) کتاب البیوع ، مطلب فی الابراء عن الربوط رشیدیه).

په صورت که دنوټ په ماتولوکې پوره روپۍ څوک نه ورکوي نوخپل حق څه کم اخستل صحیح دي.

سوال: (۳۸۲) دنوټ دروپۍ په عوض خرڅولوکې کمښت اوزیاتوب جائزدی ،که نه ؟ اوپورهم صحیح دی ،که نه ؟(۲۲۷۲/ ۳۲-۱۳۳۳هج)

ځواب: نوټ په کمواوزیاتوروپورانیول اوخرڅول ناروااوسوددی کمافی الحدیث المشهورمثلا بمثل فمن زاداواستزادفقداربی(۱) ،ځکه چې نوټ په حقیقت کې دروپۍ سند دی نودادروپۍ قائم مقام دی که کمی اوزیاتوب وشي نومطلب داشوچې سل روپۍ بې دسلوروپیواوخلورآنوپه عوض خرڅې کړي اودانا جائزدی اوکه څه پیسې دروپیوسره ورسره وي نوصحیح دي اودنوټ اوروپیوپه معاوضه یې پورهم حرام دی کمافی حدیث یدابید(۱) فقط.

سوال: (۳۸۳) دنوټ دروپۍ سره تبادله بیع دصرف ده اوکه نه ؟ اوکوم شرطونه چې فقهاؤپه بیع دصرف کې لګولي دي هغه شرطونه به دلته هم وي اوکه نه ؟اوکه مثلا دبائع اومشتری ترمینځ دمبیع ثمن لس روپۍ مقررې شي اوبائع دلسوروپیوله نوټ اخستلوڅخه انکارکوي آیادنوټ پراخستلویې مجبورولای شي ،که نه ؟ اودغصب په صورت کې که نوټ هلاک شي نوغاصب به نوټ ورکوي که روپۍ ؟(۲۰۳۲/ ۱۳۳۷هج)

ځواب: په دې معنی بیع صرف ده چې کمښت اوزیاتوب صحیح نه دی اوپه حقیقت کې نوټ سنداوحواله دروپۍ ده اولس روپیوحقداردنوټ پراخستلو نشي مجبورولای اودنوټ دغصب په صورت کې به نوټ ورکوي اوروپۍ هم ورکولای شي.

سوال: (۳۸۴) نوټ په کمی اوزیاتوب اخستل مثلا دپنځوسوروپیونوټ په ۴۹ اخستل اوورکول جائزدی ،که نه ؟(۲۸۵/ ۱۳۳۸هج)

ځواب: نوټ په حقیقت کې ذروپۍ دهغه مقدارحکومتي سند دی چې په هغه کې لیکلې وي نوکمی اوزیاتوب اخستل اوورکول همدارازدي لکه چې دروپیوپه عوض کمی اوزیاتی روپۍ ورکولای اواخستلای شي نولکه څرنګه چې هغه سوددی

(۱) عن ابی سعیدالخدری رضی الله عنه قال : قال رسول الله صلی الله علیه وسلم الذهب بالذهب والفضة بالفضة والبربالبروالشعیربالشعیر والتمربالتمروالملح بالملح مثلا بمثل ،سواء بسواء ،ویدابیدفمن زادواستزاد فقداربی الحدیث(الصحیح لمسلم ۲/ ۲۵، کتاب المساقاة والمزارعة ،باب الربو).

داهم سوددی خو دنوټ په ماتولو کې دهغومره پوره روپیو پیدا کېدل گران دی ،ځکه نوټ ماتوونکی په کم اوزیاتوورکولو مجبوردی په دې وجه دکمواوزیاتو ورکو لو دضرورت په خاطراجازه کېدای شي په دې تاویل باندي چي دنوټ وال خپل څه حق پرېښودخو اخستل دکمواوزیاتوپه هیڅ حال کې صحیح نه دي هو که په مقابل کې ناجنس وي مثلا پیسې اونورې هم څه په مقابله کې وي نو دجنس دبدلېدوپه وجه کمی اوزیاتوب صحیح دی(۱) فقط.

سوال: (۳۸۵) دنوټونوپه کمی اوزیاتوب رانیول شرعًا روادی ،که منعه ؟ (۱۰۲۲/ ۱۳۳۸هج)

ځواب: نوټونه په کمی اوزیاتوب رانیول اوخرخول همداسي دي لکه پرنغدو روپیوباندي کمی اوزیاتوب اخستل اوورکول لکه څرنگه چي حرام دي داهم حرام دي ،ځکه چي په حقیقت کې نوټ دهغه مقداردروپیوسند دی کوم چي په دوئ کې لیکلی دی اصل مسئله همدغه ده اماپه اوس وخت خودنوټ پوره روپۍ هیڅوک نه ورکوي نودمجبوریت په وجه خپل څه حق پرېښوول دکمی په نامه څه پیسې ورکول ،نوټ په ماتول دضرورت په وجه جائزدي کماقیل الضرورات تبیح المحظورات(۲) وماضاق امرالااتسع(۳).

کمي اوزیاتوب ورکول اواخستل صحیح دي ،که نه ؟

سوال: (۳۸۶) پرنوټونو کمی اوزیاتوب ورکول جائزدي ،که نه ؟(۱۷۹۸/ ۱۳۳۷هج)

ځواب: پرنوټ کمی اوزیاتوب اخستل صحیح نه دی ،ځکه چي نوټ په حقیقت کې دهغوروپیوسند دی کومې چې په دې کې لیکلې وي نوعوض دهماغورو پیووي کوم چي په دوئ کې لیکلې وي نودبیع الذهب والفضة یدابیدمثلا ،بمثل (۴) په قاعده نغدې اونوټ بایدبرابروي اماکله چي دنوټ ماتولوپروخت نوټ اخستوونکی پوره

(۱) واذ وجداحدهمای القدروحده اوالجنس(ای وحده) حل الفضل وحرم النساء(الدرالمختاروالشامی(۴/ ۱۹۹) کتاب البیوع ، مطلب فی الابراء عن الربوط رشیدیه)
(۲) قواعدالفقه ، ص: ۹۸ ،قاعده: ۱۷۰.
(۳) الشامی(۴/ ۴۲) کتاب البیوع ، مطلب فی بیع الثمروالزرع والشجرمقصوداً ط رشیدیه (۴) عن ابی سعیدالخدری رضی الله عنه قال : قال رسول الله صلی الله علیه وسلم الذهب بالذهب والفضة بالفضة والبربالبروالشعیربالشعیر والتمربالتمروالملح بالملح مثلا بمثل ،سواء بسواء ویدابیدفمن زادواستزاد فقداربی الحدیث (الصحیح لمسلم ۲/ ۲۵، کتاب المساقاة والمزارعة ،باب الربو).فان باع فضة بفضة=

روپۍ ورکوي نودمجبورۍ په وجه څه کمی اخستل اوخپل څه حق پرېښوول صحیح دی خودزیاتوب اخستوونکې په هکله دغه زیاتوب اخستل صحیح نه دی(۱) سوال: (۳۸۷) پرنوټ کمی اوزیاتوب اخستل څرنگه دی که په مقابل کې فلوس وي نوجائزدی ،که نه ؟(۱۳۰۵/ ۱۳۳۷هج)

ځواب: پرنوټ کمی اوزیاتوب اخستل اوورکول جائزنه دی بلکي سوددی خوکه دنوټ پوره روپۍ څوک نه ورکوي نودمجبورۍ په وجه که خپل څه حق پرېږدي کمې روپۍ اخستلای شي خوزیاتوب اخستل دمسلمان لپاره په هیڅ حال کې حلال نه دی اوکه په مقابله کې څه پیسې وي نودجوازحیله کېدای شي.

سوال: (۳۸۸) کوم نوټ چي دیوې روپۍ یاله دې څخه زیات قیمت لري زیاتره په بازارکې پرهغه یوه پیسه یاڅه زیاتې دنوټ ماتولوپروخت اخلي ،ځکه نودکوم مسلمان لپاره ددې اخستل یاورکول شرعًا څرنگه د ؟ (۲۵۱۳/ ۱۳۳۷هج ځواب: پرنوټ کمی اوزیاتوب ورکول اواخستل اصلاناروادي ،ځکه چي داسوددی اودسودورکول اواخستل دواړه ناروادي(۲) خوددې مجبورۍ په وجه ې ببله کمولودنوټ روپۍ پوره نه ورکوي په دې وجه داکېدل چي خپل څه حق پرېږدم کم اخستل روادي کېدای شي خواخستل دزیاتوب دمسلمانانولپاره په هیڅ ډول صحیح نه دي ،ځکه چي په دې کې هیڅ مجبوري نشته فقط.

= اوذهبابذهب لایجوزالامثلا ، بمثل وان اختلفت فی الجودة والصیاغة ولابدمن العوضین قبل الافتراق (هدایة : ۳/ ۱۰۴کتاب الصرف)
(۱) ومشائخنالم یفتوابجوازذلک فی العدالی والغطارفة لانهااعزالاموال فی دیارنافلوابیح التفاضل فیه یفتح باب الربو(هدایه: ۳/ ۱۰۹کتاب الصرف.
(۲) وعلة الربو القدروالجنس وفی المعراج القدرعبارة عن العیار(سرکاري پیمانه)والجنس عبارة عن المعانی والاصل فی هذاالباب الحدیث المشهوروهوقوله علیه السلام الحنطة بالحنطة والشعیربالشعیرالحدیث وحرم الفضل والنساء بهما ای بالقدروالجنس لوجودإلعلة بتمامهاوالفضل الزیادة والنساء بالمدالتاخیر(البحرالرائق ۲/ ۲۱۲ کتاب البیع ، باب الربو) وعلته ای علة تحریم الزیادة القدرمع الجنس فان وجداحرم الفضل والنساء (الدرالمختارمع الشامی (۴/ ۱۹۹) کتاب البیوع ، مطلب فی الابراء عن الربوط رشیدیه).

سوال: (۳۸۹) دنوټ په بیع اوشراء کې کمی اوزیاتوب صحیح دی ،که نه ؟ لکه څرنګه چي دسپینوزروپه رانیولودروپیوسره څه پیسې ورسره کړي.رانیول یې صحیح دي داصورت دنوټ په رانیولواوخرڅولوکې په کمی اوزیاتوب سره صحیح دی ؛که نه ؟ (۴۸۰/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

ځواب: دنوټ په ماتولوکې کمی اوزیاتوب صحیح نه دی اوکله چي داپه حقیقت کې بیع اوشراء نه ده ،ځکه په دې کې هغه حېله هم صحیح نه ده کومه چي دسپینوزروپه رانیولواوخرڅولوکې کیږی فقط.

سوال: (۳۹۰) پرنوټ کمی اوزیاتوب اخستل اوورکول روادی ،که نه ؟ (۱۴۰/ ۱۳۳۷هج)

ځواب: اصلاکمی اوزیاتوب اخستل اوورکول جائزنه دی سوددی خوکله چي دنوټ په ماتولوکې بېله کمولوڅوک روپۍ نه ورکوي نودضرورت په وجه دې کمې روپۍ واخلي اوذافکردي وکړي چي دضرورت په وجه ماخپل څه حق پرېښودخوپه اخستلوکې دې احتیاط کوي یعنی پخپله دې زیاتوب نه اخلي فقط.

اشرفۍ ، ګنې اونوټ دروپیوسره په کمي اوزیاتوب بدلول

سوال: (۳۹۱) اشرفۍ چي دپنځلس روپیوده داپه شپاړس یااوولس روپیوچلول څرنګه دي ؟ (۱۲۲/ ۳۴۳۳هج)

ځواب: اشرفۍ دشپاړس یااوولس روپوپه عوض کې ورکول اواخستل جائزدي لاختلاف الجنس(۱).

سوال: (۳۹۲) په روپۍ اشرفۍ ،نوټ اونوروکې کمی اوزیاتوب جائزدی ، که نه ؟ (۲۸۲/ ۱۳۳۵)

ځواب: دجنس دبدلېدوپه صورت کې کمی اوزیاتوب روادی مثلا اشرفۍ په روپویاروپۍ په پیسوبدله کړي نوکمی اوزیاتوب صحیح دی اوپه پورناجائزدی اودنوټ په بدله کې چي کومې روپۍ واخستلې شي هغه باید هغومره وي څومره روپۍ چي په نوټ کې لیکلې وي مثلا دسلوروپونوټ په سل روپۍ ورکول پکاردي په دې کې کمی اوزیاتوب حرام دی (۲)

(۱) وان وجداحدهما ای القدروحده اوالجنس (ای وحد) حل الفضل وحرم النساء (الدرالمختارمع الشامی (۴/ ۱۹۹) کتاب البیوع ، مطلب فی الابراء عن الربوط رشیدیه)

(۲) وعلته ای علة تحریم الزیادة القدرالمعهودبکیل اووزن مع الجنس فان وجداحرم الفضل ای الزیادة والنساء بالمد: التاخیر(الدرالمختارمع الشامی(۴/ ۱۹۹)کتاب البیوع مطلب فی الابراء عن الربوط رشیدیه).

سوال: (۳۹۳) دنوټ روپۍ اوګنی (دسروزرویوه انګریزي سکه) په رانیولواو خرڅولو کې کمی اوزیاتوب اخستلای شي ،که نه ؟ (۱۱۳۳/ ۱۳۳۷هج).

ځواب: دګنی په مقابل کې روپۍ وي نودجنس دبدلون په وجه کمی اوزیاتوب صحیح دی مثلا دپنځلسوروپیوګنی په شپاړس اوولس روپۍ خرڅول یارانیول صحیح دی اودنوټ اوروپۍ په خپل مینځ کې تبادله کولوپه صورت کې کمی اوزیاتوب صحیح نه دی مثلا دلسوروپیودنوټ په مقابله کې پوره لس روپۍ ورکول اواخستل پکاردي فقط.

سوال: (۳۹۴) نغدې دیوې ګنی (اشرفۍ) په مقابل څورلس روپۍ اوپه پوردیوګنی په مقابل دیارلس روپۍ ددریومیاشتوپه وعده ورکول اواخستل روادي ،که نه ؟ (۲۷۴۲/ ۱۳۴۳هج)

ځواب: ددواړونقدودجنس دبدلون په صورت کې کمی اوزیاتوب صحیح دی مثلا یوګنی په څورلسویادیارلسونغدوخرڅول صحیح دي اونسیئه (پور) په دې کې صحیح نه دی مثلاً ګنی حالاورکړي اودهغه روپۍ وروسته اخلي یاروپۍ حالاورکړي اوګنی وروسته اخلي ذاروانه دی لکه چي دیدابید(۱) له قید څخه ښکاریږی فقط.

دسکې په خرڅولوچي کومه ګټه وشوه دهغې حکم

سوال: (۳۹۵) کومه سکه چي یووخت رانیسي بل وخت په خرڅولوچي کومه ګټه وشوه هغه رواده ؟ (۱۲۳/ ۱۳۳۹هج)

ځواب: که دناجنس سره تبادله وي نوکمی اوزیاتوب صحیح دی مثلا اشرفۍ چي په څومره روپۍ وغواړې خرڅولای یې شي خوشرط دادی چي نسیئه یعنی پوربه نه وي (۲)

(۱)عن ابی سعیدالخدری رضی الله عنه قال : قال رسول الله صلی الله علیه وسلم الذهب بالذهب والفضة بالفضة والبربالبروالشعیربالشعیر والتمربالتمر والملح بالملح مثلا بمثل ،سواء بسواء ،ویدابید فمن زادواستزاد فقداربی الحدیث (الصحیح لمسلم ۲/ ۲۵ ، کتاب المساقاة والمزارعة ،باب الربو).

(۲)وان وجداحدهما ای القدروحده اوالجنس (ای وحده) حل الفضل وحرم النساء (الدرالمختارمع الشامی (۴/ ۱۹۹) کتاب البیوع ، مطلب فی الابراء عن الربوط رشیدیه)

دسود، خمار اوبیمې بیان

دمسلمانانوله سودڅخه دژغورلولپاره اسلامي

بېنګ خلاصول اودسوددحلالوالې لپاره حېله کول

سوال: (۱) مسلمانان له هندوانوڅخه قرض اخلي دهغه دبندولولپاره بېنګ خلاص کړل شوخودبېنګ به اړه ډيرې خرچې راځي نوآيا که په دغه بېنګ کې کاغذچاپ کړوپه پوروړې باندي خرڅول دمثال په ډول کوم سړی چي لس روپۍ اخلي پرهغه باندي په لس آني اوکوم چي شل روپۍ اخلي پرهغه باندي په يوه روپۍ څلورآني خرڅول روادي، که نه ؟(۱۱۰۵/ ۴۲- ۱۳۴۷هج)

ځواب: په پورپه روپيوورکولوباندي کوم ډول ګټه اخستل په هره حېله چي وي روانه دی لکه چي راغلې دي کل قرض جرنفعافهوربو(۱) اودغه رنګه په حديث شريف کې راغلې دي انما الاعمال بالنيات ولکل امرئ مانوی الحديث(۲)، ځکه نودغه صورت کوم چي په سوال کې ليکلی دی شرعًا روانه دی دسودله شبهې څخه هم دپرهېزکولوحکم راغلی

(۱) عن الحکم عن ابراهيم قال: کل قرض جرمنفعة فهوربو(مصنف ابن ابی شيبه ۴/ ۳۳۳، کتاب البيوع والاقضية، باب من کره کل قرض جرمنفعة، المطبوعة، دارالکتب العلمية، بيروت لبنان)

(۲) عن عمربن الخطاب رضی الله عنه يقول: سمعت رسول الله صلی الله عليه وسلم يقول انما الاعمال بالنيات وانما لامرئ مانوی فمن کانت هجرته الی دنيايصيبهااوالی امراة ينکحهافهجرته الی ماهاجراليه (صحيح البخاری ۲/۱، باب کيف کان بدء الوحی).

دی لکه چي راغلې دي دعوا الربووالريبة(۱) نوداصورت روانه دی(۲) فقط.

دهندوانوله ظلم څخه دبچ کېدولپاره اسلامي بېنګ

خلاصول چي په ډيرلږسود قرض يې ورکوي

سوال: (۲) هندوان پرمسلمانانوسخت ظلمونه کوي، ځکه دافکرلروچي دمسلمانانوله لورې يوبېنګ چي په چنده بې خلاص کړواوپه ډيرلږسودونورو مسلمانانوته دارتياپروخت پورورکوودارواده، که نه ؟(۱۰۲۴/ ۱۳۴۵هج)

(۱) عن عمربن الخطاب رضی الله عنه ان آخرمانزلت آية الربووان رسول الله صلی الله عليه وسلم قبض ولم يفسرهالنافدعوا الربووالريبة رواه ابن ماجه والدارمی (مشکوة المصابيح ص: ۲۴۲، کتاب البيوع، باب الربو).

(۲) اصل فتوی خوهمدغه ده بيا له ځيني مفتيانوڅخه دجوازفتوی حاصله کړله شوه اودهغه سره سم کارشروع شوچي ترننه پورې چليږي اوپه دې لړکې له ۲۳تر۲۴رجب ۱۴۱۱سنه پورې يوفقهي غونډه دجمعيت علماء هندله طرفه راوغوښتل شوه چي بکي دزياتروډريغ داوو: فارم (دوعدې پاڼه) خومتقوم مال دی اودهغه رانيول به صلب دعقدکې شرط نه ده په دې وجه دفارمونورانيول داداروليپاره جائزده اوځيني بناغلواختلاف وکړچي دفارم حاصلولونکې مطلب خوفارم رانيول نه وي بلکې دادقرض حاصلولوذريعه ده، ځکه جائزنه دی امادخدمت داجرت (سروس چارج) په لړۍ کې دجوازرجحان ووخوددې کوم صحيح صورت دچاپه ذهن کې رانغلی اومادارايه ورکړې وه چي دبزرګانودورکړې له اجازې سره سم دفارم خرڅول يوه حېله وه چي دهغه دخرابيومختنه راتلوپه وجه سدا للباب (دمخنيوي لپاره) ناجائزورته ويل ضروري دي.

ددې تفصيل دادی چي حېله اصلا دقانون نرمي وي په کوم قانون کې چي نرمي نه وي خلک دهغه قانون وماتولوته مجبورشي خوحېلي پخپله قانون نه وي يعنی دهغوئ مستقلا استعمالول صحيح نه دي دحېلوجوازپه قرآن اوحديث ثابت دی په سورة ص آيت: ۴۴ کې يوه حېله راغلې ده چي تاسوپخپل لاس يوجاروراواخلئ په هغه يې ووهئ اوقسم مه ماتوئ اوپه حديث کې دعثکال (دخرماوودښاخ) په وسېله يوډيرکمزوری اونيمګړی سړی باندي دحدجاري کولو يادونه شوې ده (مشکوة ص: ۳۱۲کتاب الحدود) خودغوحېلوته که قانوني شکل ورکړل شي اوهرزناکارته داډول سزاورکول شي نوداپه هيڅ ډول هم نه رواکيږي داخبره صحيح ده چي فارم مال متقوم دی، ځکه چي داکوم قيمت خرڅول وغواړې خرڅولای يې شي خودادسوددحلالوالې په توګه استعمالول صحيح نه دي ۱۲ سعيداحمدپالنپوري.

ځواب: دسودمعامله خوپه شریعت کې په هیڅ حال کې روانه ده اولړاوډیرسود په حراموالي کې سره برابردی په حدیث شریف کې راغلي دي چې دیوه درهم سودله شپږدیرشوزناووڅخه په ګناه کې زیات دی ،ځکه داسي صورت وکړي چې سودوانه اخستل شي مسلمانان دې همت وکړي په چنده دې روپۍ راجمع کړي اوبېله سوددي قرض ورکړي دناوسومسلمانانومرسته دې داډول وکړي فقط.

سوال: (۳) دلته څومسلمانانوپه چنده بېنګ خلاص کړی دی اوداراده لري چي له هندوانوڅخه به قرض نه اخلواوله دغه بېنګ څخه قرض په سودورکول کیږي په داسي بېنګ کې شراکت روادی ،کهنه ؟(۱۳۴۲/ ۱۳۴۳ه ج)

ځواب: په کوم بېنګ کې چي په سودروپۍ ورکول کیږي په هغه کې شراکت روانه دی ،ځکه چي رسول الله صلی الله علیه وسلم پرسوداخستوونکې ،ورکوونکې اونوروباندي لعنت ویلی دی(۱) فقط.

دسودګناه

سوال: (۴) کوم سړی چي یوځل سودوخوري ګواکې له خپلې مورسره یې زرځله زناوکړه یاداچي په سود کې اویاګناهونه دي په هغه کې هغه کمه ګناه داده چي په کعبه شریفه کې زرځله دخپلې مورسره زناوکړي داخبره څرنګه ده ؟(۵۲۰/ ۱۳۳۸هج)

ځواب: دابن ماجه اوبیهقی روایت دی الربو سبعون جزءً ایسرهاان ینکح الرجل امه (۲)

ترجمه: دسوداویابرخې ګناوې دي ترټولوکمه دهغوئ داده چي څوک له خپلې مورسره زناوکړي اوپه بل روایت کې راغلي دي: درهم ربو یأکله الرجل وهو یعلم اشدمن ستة وثلثین زنیة رواه احمد(۳) (مشکوة) له دې پرته په نوروالفاظوسره روایت راته معلوم نه دی فقط.

(۱) عن جابررضی الله عنه قال: لعن رسول الله صلی الله علیه وسلم آکل الربوو موکله وکاتبه وشاهدیه وقال هم سواء (الصحیح لمسلم۲/ ۲۷، کتاب المساقاة والمزارعة ، باب الربو ، مشکوة المصابیح ص: ۲۴۴، کتاب البیوع ، باب الربو)

(۲) مشکوة ص: ۲۴۲ ، کتاب البیوع ،باب الربو ، سنن ابن ماجه ص: ۱۷۴ابواب التجارات ،باب التغلیظ فی الربو)

(۳) مشکوة ص: ۲۴۲کتاب البیوع ، باب الربو)

سوداخستوونکي اوورکوونکي دواړه په ګناه کې سره برابردي

سوال: (۵) یو مولوي صاحب پرسودورکوونکې مسلمان دلعنت حکم لګولی دی اوداچي سوداخستوونکی اوسودورکوونکی دواړه په ګناه کې سره برابردي اودلیل دحضرت جابررضی الله عنه په حدیث نیسي داحدیث صحیح دی ،که نه ؟که داحدیث صحیح دی نودآیت [لاتظلمون ولاتُظلمون] سورة بقره آیت: ۲۷۹) به څه جواب وي ؟ ،ځکه چي سودورکوونکی مظلوم دی نودی اوسود اخستوونکی به څرنګه برابروي ؟ (۱۳۷۵/ ۱۳۴۲هج)

ځواب: دجابررضی الله عنه روایت صحیح حدیث دی په صحیح مسلم کې روایت شوی دی دهغه الفاظ دادي [عن جابررضی الله عنه قال: لعن رسول الله صلی الله علیه وسلم آکل الربووموکله وکاتبه وشاهدیه وقال هم سواء رواه مسلم (۱) په دې حدیث کې پرسوداخستوونکی ،ورکوونکی دواړوباندي رسول الله صلی الله علیه وسلم لعنت ویلی دی نودواړه ددې حدیث سره سم ملعون اولعنت کول شوې دي په دې کې هیڅ شک اوشبه نه دي کول پکاراوداهم له حدیث څخه معلوم شوچیدواړه په ګناه کې سره برابردي که څه هم په مقدارد ګناه کې فرق وي یعنی پراخستوونکې زیاته ګناه ده (۲) اودآیت لاتظلِمون ولاتُظلمون (سورة بقره آیت: ۲۷۹) سره ددې هیڅ تعارض نشته چي وکوم تاویل ته اړتیاشي لکه چي دتفسیرپرماهرینوباندي پټه نه ده فقط.

په بېنګ یاډاکخانه کې دسوداخستولپاره روپۍ جمع کول جائزدي ،که نه ؟

سوال: (۲) (الف) دهندوستان موجوده حکومت یوه طریقه دحکومتي نوټ

(۱) الصحیح لمسلم ۲/ ۲۷ کتاب المساقاة والمزارعة ،باب الربو ، مشکوة المصابیح ص: ۲۴۴، کتاب البیوع ، باب الربو.

(۲) قوله: هم سواء ای فی اصل الاثم وان کانوا مختلفین فی قدره (مرقاة المفاتیح شرح مشکوة المصابیح ۲/ ۵۹ کتاب البیوع ،باب الربو ، مطبوعة: مکتبه امدادیه ، ملتان پاکستان).

جاري کړی ده چي په دې ډول ده چي یو سړی وحکومت ته څه قرض ورکوي حکومت پردغورو پوباندي دفیصدي په حساب سودورکوي دااخستل روادي ، که نه ؟

(ب) بله طریقه داده چي په حکومتي بېنګ کې روپۍ دامانت په توګه جمع کیږي پردې باندي هم سودورکوي ددا اخستل روادي ، که نه ؟

(ج) یوصورت دادی چي ځیني نامسلمانوډلودتجارت کمپنیانې اوبېنګونه خلاص کړې دي له خلګوڅخه قرض اخلي تجارت په کوي اودروپۍ والاته یومعلوم مقدارګټه یاسودورکوي پوښتنه داده چي دانګریزانودحکومت ترعمل لاندي دنامسلمانوپه بېنګ کې روپۍ ښوول چي ګټه یاسوداخستل دمسلمان لپاره روادي ، که نه ؟ (۱۱۹۷/ ۱۳۴۵هج)

ځواب : (الف ترج) دسواخستلواوخوړلوپه هکله په آیتونواوحدیثونوکې سخت وعېد(عذاب) راغلی دی یوځای په واحل الله البیع وحرم الربو(سورة بقره آیت : ۲۷۵) مطلقًا دسودحراموالی بیانیږي یوځای په فان لم تفعلوافاذنو بحرب من الله ورسوله (سورة بقره آیت : ۲۷۹) باندي وعیداوریدل کیږي په حدیثونوکې ویودرهم سودته له شپږدیرشوزناووڅخه سخت ویل کیږي اودسود واویایمې برخې ته یې له خپلې مورسره دزناکولوتشبېه ورکړېده والعیاذبالله تعالی قال رسول الله صلی الله علیه وسلم درهم ربویأ کله الرجل وهویعلم اشدمن ستة وثلاثین زنیة رواه احمدوغیره (۱) وعن ابی هریرة رضی الله عنه قال رسول الله صلی الله علیه وسلم الربوسبعون جزءًا یسرهاان ینکح الرجل امه رواه ابن ماجه وغیره (۲) لنډه داچي دداسي کبېره ګناه اجازه په شریعت کي په هیڅ وخت ، هیڅ حال اوهیڅ قوم ته نشي کېدای چيورباندي دومره سخت وعېدونه راغلې دي واقعتًا اوس هغه زمانه راغله چي په اړه یې رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلې ووچي پرخلګوبه داسي زمانه راشي چي هیڅ شخص به دسودله خوراک کولوڅخه خلاص نه وي که سودونه خوري نودهغه بخارات اواثربه ضرورورورسیږي عن ابی هریرة رضی الله عنه ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: لیأتین علی الناس زمان لایبقی

(۱) مشکوة ص: ۲۴۲کتاب البیوع ،باب الربو.
(۲) مشکوة ص: ۲۴۲کتاب البیوع ، باب الربو ، سنن ابن ماجه ص: ۱۲۴ ،ابواب التجارات ،باب التغلیظ فی الربو.

احدالا اکل الربوفان لم یأکله اصابه من بخاره ویروی من غباره رواه احمد وابوداؤدوابن ماجه (۱) په یوبل حدیث کې دسودخوروپه هکله سخت وعېدراغلې دی عن ابی هریرة رضی الله عنه قال : قال رسول الله صلی الله علیه وسلم اتیت لیلة اسری بی علی قوم بطونهم کالبیوت فیهاالحیات تری من خارج بطونهم فقلت : من هؤلاء یاجبرئیل علیه السلام قال هؤلاء آکلة الربورواه احمدوابن ماجه (۲) اورسول الله صلی الله علیه وسلم پرسوداخستوونکې اوورکوونکې اونورولعنت ویلی دی اوحضرت عمررضی الله عنه وایې : چي دسودله شبهې څخه هم ځان ساتئ دعوالربووالربیة (۳) نوضروري ده چي مسلمانان دغه سخت وعېدونه خپل مخته کښېږدي دسودله ټولوطریقواوصورتونوڅخه یومخ پرهېزوکړي اوله سودڅخه دمال دزیاتوب هیڅکله هېله ونه ساتي چي انجام دده تاوان دی کماورد: الربووان کثرفان عاقبته تصیرالی قلٍّ(۴) فقط.

سوال: (۷) په بېنګ کې په روپیوښوولوباندي ګټه اخستل جائزدي ، که نه ؟ (۳۲/۲۴۸۲-۱۳۳۳هج)

ځواب : پرروپیوګټه اخستل همدغه سوددی له دې څخه ځان ساتنه پکارده خوکومې روپۍ چي داخلې شوې دي پرهغوئ چي کوم څه دګټې په نامه درکول شي هغه صدقه کړئ اوپه آئنده کې له داخلولوڅخه اوله ګټې اخستلوپرهېزکوئ فقط.

سوال : (۸) په ډاک خانه کې دسوداخستلولپاره روپۍ جمع کول جائزدي ، که نه ؟ (۱۷۵۲/ ۱۳۴۲هج)

(۱) سنن ابی داؤدص: ۴۷۲ ، کتاب البیوع ،باب فی اجتناب الشبهات ، مشکوة ص: ۲۴۵کتاب البیوع ،باب الربو.
(۲) مشکوة ص: ۲۴۲کتاب البیوع ،باب الربووابن ماجه ص: ۱۲۴ ،ابواب التجارات ،باب التغلیظ فی الربو.
(۳) سنن ابن ماجه ص: ۱۲۴ ،ابواب التجارات ،باب التغلیظ فی الربو ،مشکوة المصابیح ص: ۲۴۲کتاب البیوع ،باب الربو.
(۴) عن ابن مسعودرضی الله عنه ان النبی صلی الله علیه وسلم قال : الربووان کثرفان عاقبته تصیرالی قلٍّ (مسندالامام احمدبن حنبل ۱/ ۳۹۵رقم الحدیث: ۳۷۵۳من مسندعبدالله بن مسعودرضی الله عنه)

ځواب: اصلا ناجائزوالی دی خوفقهاؤلیکلی دي چي که یې په ډاکخانه کې روپۍ جمع کړې دي نو دهغه سود هلته مه پرېږدئ بلکي ومسکینانو اوناوسوته دې ورکړي فقط.

سوال: (۹) په ډاکخانه یابېنک کې چي کومې روپۍ دخوندی کولو په غرض ښوول کیږی دحکومت له لورې چي پرهغه باندي کوم سودورکوي دمسلمانانو لپاره یې اخستل یاله اخستووروسته ومسکینانوته ورکول روادي ،که نه؟ (۱۸۹/ ۱۳۴۳هج)

ځواب: هغه دسود روپۍ واخلئ ومسکینانوته یې ورکړئ هلته یې مه پرېږدئ ،ځکه چي هلته په پرېښوولو کې داتاوان دی چي هغه روپۍ داسلام په مخالفت کې لګیږي.

سوال: په بېنک کې چي کومې روپۍ امانت ږدي اوکومه ګټه په دې وجه ورکوي دهغه اخستل صحیح دي ،که نه؟ داروپۍ دچاپه غوښتنه نه ورکول کیږي بلکي پخپله یې خلګ جمع کوي په دې فکرچی بېنک کوم خاص شخص نه دی شرعًا ددې په اړه حکم څه دی؟ (۱۰۰۱/ ۱۳۳۵هج)

ځواب: صحیح نه دی ،ځکه چي سودهمدغه دی چي روپۍ دروپیوپه مقابل څه زیاتي واخستلې شي (۱) اوکله چي دآئموو داختلاف په صورت (۲) په داسي کارونو کې احوط اختیارول پکاردي ،ځکه په همدې جانب کې زیات احتیاط دی اوهمدغه اختیارول پکاردي فقط.

دسودروپۍ په بېنک اونوروکې پرېږدوکه یې واخلو

سوال: (۱۱) له دوولسوکلونوڅخه زیاته موده کیږي چي سل روپۍ دضمانت په توګه دملازمت لپاره په کمپنۍ کې جمع کړې وي ددغوروپیوسود له کمپنۍ څخه واخلم وچاته یې ورکړم که یې له کمپنۍ څخه نه اخلم؟ فقط (۲۰۳۳/ ۱۳۴۲هج)

ځواب: دغه زیاتوب روپۍ چي دسود په نوم ورکول کیږي په کمپنۍ کې مه پرېږدئ بلکي له هغه ځایه یې راواخلئ پرمسکینانواوناوسوباندي یې صدقه کړئ فقط.

سوال: (۱۲) (الف) په بېنک کې چیکومې روپۍ جمع وي پرهغوئ چي کوم سودورکول کیږي هغه زه قطعي حرامې بولم خودسوددروپیوپه هلته پرېښوولو کې داوېره ده چي دوئ به داروپۍ

(۱) الربو: فضل مال بلا عوض فی معاوضة مال بمال وعلته القدروالجنس وحرم الفضل والنساء (البحرالرائق: ۲/ ۲۰۷، کتاب البیوع ،باب الربو)

(۲) یعنی په دارالحرب کي له نامسلمان څخه دسوداخستلو په مسئله کې.

داسلام په خلاف تبلیغاتو کې صرفې کړي شرعًا په دې اړه څه حکم دی؟

(ب) څه روپۍ دضمانت په توګه ومحکمې ته له کارشروع کولو مخکې ورکول غواړې اودملازمت له ختمېدووروسته دسوددروپیوسره بېرته ورکوي ددې دسود په اړه څه حکم دی؟ (۲۹۲۲/ ۱۳۴۲هج)

ځواب: الف ، ب) په دواړوصورتونو کې دسودروپۍ راواخلئ پرمسکینانوباندي یې صدقه کړئ هلته یې مه پرېږدئ ،ځکه چي په هلته پرېښوولو کې یې داوېره ده چي دوئ به داروپۍ داسلام په خلاف ولګوي فقط.

سوال: (۱۳) په بېنک کې په روپیوجمع کولو چي کوم سودورکول کیږي هغه ځیني علماء روابولې ددیوبند دعلماؤ څه رأیه ده؟ (۳۱۲۲/ ۱۳۴۲هج)

ځواب: دغه روپۍ چي دسودبه نوم ورکول کیږي له هغه ځایه واخلئ پرناوسوبا ندي یې صدقه کړئ هلته یې مه پرېږدئ ،ځکه چي هلته په پرېښوولو کې یې داوېره ده چي دوئ به داروپۍ داسلام په خلاف ولګوي ددې ځای دعلماؤ همدغه فتوی ده فقط.

سوال: (۱۴) دملیه اسلامیه مجلس بنګلورښاردوولس سوه روپۍ دمیسورپه بېنک کې دخوندی کولو په غرض جمع دي که دهغه له سودڅخه انکاروکړل شي نودنامسلمانو په تبلیغي اوخیراتي کارونو کې به صرفیږي ،ځکه نوکه دسودرو پۍ ځیني والخوپه کوم کارکې یې ولګوو؟ (۳۲۱/ ۱۳۴۳هج)

ځواب: په بېنک کې روپۍ ښوول اوسوداخستل شرعًا روانه دي اوپه آئنده کې له دې څخه پرهیزکول پکاردي ،ځکه چي پرسوداخستوونکې ،ورکوونکې ،لیکوونکې اوشاهد باندي په حدیث شریف کې لعنت راغلی دی اوویلې یې دي چي دوئ ټول په ګناه کې سره برابردي (۱) خوحالاچي دسود کومې روپۍ په بېنک کې جمع دي هغه هلته مه پرېږدئ ،ځکه چي هلته په پرېښوولو کې یې داوېره ده چي دوئ به داروپۍ داسلام په خلاف ولګوي بلکې راوایې اخلئ پرمسکینانو باندي یې صدقه کړئ فقط.

دسودپه اړه دیوې غلط فهمۍ ازاله

سوال: (۱۵) آیادارالعلوم دیوبندمفتی صاحب دافتوی ورکړې ده چي دبېنک سوداخلئ دخیر

(۱) عن جابررضی الله عنه قال: لعن رسول الله صلی الله علیه وسلم آکل الربو وموکله وکاتبه وشاهدیه وقال هم سواء (الصحیح لمسلم ۲/ ۲۷، کتاب المساقاة والمزارعة ،باب الربو، مشکوة المصابیح ص: ۲۴۴، کتاب البیوع ،باب الربو).

په کارونوکې لګولای شئ لکه چي په المان وخلافت کې چي خپورشوی دی ؟ (۲۲۰/ ۱۳۴۳هج)

ځواب : زماغرض له دې څخه دسوددجائزوالي فتوی ورکول نه دي ددې غرض صرف داووچي کوموخلکوپه بېنګ کې روپۍ داخلې کړې دي دوئ که دسودرو پی هلته پرېږدي نوهغه روپۍ داسلام په مخالفت اوعیسایانوپه مرسته کې لګیږي یاددوئ په وسېله مسلمانان عیسایان جوړوي ،ځکه داروپۍ هلته مه پرږدئ بلکي له هغه ځایه یې راوباسئ ومسکېنانوته یې ورکړئ ترڅوله دغه بلې ګناه چي ډېره سخته ده خوندي شئ نوښکاره ده چي له دې څخه داغرض هیڅکله نه دی چي په بېنګ کې روپۍ جمع کړئ اوسوداخلئ استفاده ځیني کوئ بلکي غرض هماغه دی کوم چي بیان شوچیکله دغه خلکوروپۍ داخلې کړې دي نوکه دسودروپۍ هلته پرېږدي نودیادې شوې ګناه سره به په یوه بله سخته ګناه کې اخته کیږئ ،ځکه دوئ ته ولیکل شول چي که دغه روپۍ هلته مه پرېږدئ اوله رااخستلووروسته یې ومسکېنانوته ورکړئ اوله هغې ګناه څخه توبه وکاږئ کومه چي له دوئ څخه دروپیوپه جمع کولوشوه به بین تفاوت ره ازکجااست تابه کجافقط والسلام علی من اتبع الهدی فقط.

سوال : ۱۲) د۲۵ستمبرسنه ۲۴ء په همدم ورځپانه کې دمولوي میرک شاه صاحب مرستیال مفتی یومضمون ستاسوهغه فتوی په اړه خپورشوی دی چي کوم تاسودبېنګ دسود دجائزوالي لپاره لیکلی دی کوم چي له دې څخه مخکې په همدغه ورځپانه کې یوچا خپورکړی وومحترم میرشاه صاحب دبېنګ دسوددجوازپه اړه ددارالعلوم دېوبنددعلماؤ دخیالاتوپه دووصورتونوکې څرګندونه کړې ده (۱) دسوداخستلوپه نیت په بېنګ کې روپۍ جمع کول (۲) دامانت په توګه دسود اخستلوله نیت پرته په بېنګ کې روپۍ جمع کول.

لومړی صورت یې ،ځکه له نظره اچولی دی اودهغه په اړه یې دهیڅ ډول خیال څرګندونه نه ده کړې چي دهندوستان په دارالحرب کېدوکې دهنددعلماؤاختلا ف دی په دوهم صورت کې چي کوم سودله بېنګ څخه ورکول کیږي دهغه اخستل پرناوسواو مسکېنانوباندي وېشل اوپرهغه باندي دثواب دامیدنه ساتل لیکلې دي آیاپه دوهم صورت کې سوداخستل په کومه وجه جائزدی ؟ (۵۸۷/ ۱۳۴۳هج)

ځواب : بنده ته چي په دې اړه کوم تحقیق دی هغه داچي په هندوستان کې له بېنګ اونوروڅخه سوداخستل مطلقًا ناروادی ،ځکه چي اول خودهندوستان په دارالحرب کېدوکې اختلا ف دی دوهم په دارالحرب کې هم دسودپه جوازکې

اختلاف دی دلته دحضرت عمرفاروق رضی الله عنه ارشاددعواالربواوالربیة(۱) دسودله شبهې څخه دخلاصېدوتاکیدکوي ،ځکه فتوی مطلقًا دسوددحرا مو الي ورکول کیږي لکه چي ددلائلودعموم چي تقاضاده نورداچي له دې ځایه په ځینووختونوکې لیکل شوې دي چې دکوموخلکوروپۍ په بېنګ کې جمع دي په هره اراده اونیت چي وي یعنی خواه که دسوداخستولپاره یې په خپله غلطي هلته روپۍ داخلي کړې دي یایې صرف دخوندي کولولپاره جمع کړې دي په هرحال هلته دسودروپۍ مه پرېږدئ بلکي له هغه ځایه یې راوباسئ پرناوسو اومسکېنانوباندي یې صدقه کړئ ،ځکه چي په هلته پرېښوولوکې دسوددغه روپیوپه اړه داتحقیق شوی دی چي هغه روپۍ وپادریانو(عیسوی ملایانو) ته ورکول کیږي چي دوئ دادمسلمانانوپه مرتد(عیسایې) جوړولواوعیسایې مذهب په مرسته کې لګوي اوښکاره ده چي داډېرسخت کاردی اوداسلام دد ښمنانودتقویت باعث دی ،ځکه تودمنلې شوې قاعدې : من ابتلی ببلیتین فلیختراهونهما (۲) په وجه داراجح وبلل شوچي دغه دسودروپۍ هلته نه پرېږدي بلکي له هغه ځایه یې راواخلئ پرناوسوباندي یې وویشئ اوپخپل کارکې یې مه صرفوئ له دې څخه ښکاره ده چي سوداخستل ناروادی اونه دسوداخستلودجوازفتوی له دې څخه ګټل پکارده بلکي په مقابل ددې چي دغه روپۍ دمسلمانانوپه مرتدجوړېدوکې ولګیږي دابېک دی چي دغه دسودروپۍ هلته نه پرېږدي اوله هغه ځایه یې راوباسي ومسکېنانوته یې ورکړي ،ځکه چي یوځای نه یوځای خوهغه ضرورصرفیږي نومسلمانانوته په خپل اختیارباندي دغه روپۍ دارتداداوکفرپه مرسته کې صرفېدوته پرېښوول په هیڅ توګه نه ښایې داوجه ده دهغې فتوی کومه چي له دې ځایه لیکل شوې ده اوورسره دالاربنوونه هم کیږي چي سوداخستل حرام دی ،ځکه نوکوم شخص دې په بېنګ اونورودسودپه کارخانوکې خپلې روپۍ نه جمع کوي فقط.

سوال : (۱۷) تاسوچي کومه فتوی دبېنګ دسوددجوازپه اړه ورکړې ده دهغې نقل که راولیږي (۲۹۷/ ۱۳۴۳هج)

ځواب : ددې اصل دادی چي دبمبی اونورودځینوکمیټیواوداوقافودسرمایې په اړه داپوښتنه

(۱) عن عمربن الخطاب رضی الله عنه قال : ان اخرمانزلت آیة الربووان رسول الله صلی الله علیه وسلم قبض ولم یفسرهاالنافدعواالربووالربیة (سنن ابن ماجه ص: ۱۲۴، ابواب التجارات ،باب التغلیظ فی الربو، مشکوة المصابیح ص: ۲۴۲، کتاب البیوع ، باب الربو) (۲) قال فی المحیط : والاصل ان من ابتلی ببلیتین یختاراهونهما وایسرهما (تکملة البحرالرائق ۹/ ۱۳۳کتاب الاکراه).

شوې وه چې د کمیټیو او قافو او نورو روپۍ چې په بېنګونو کې جمع دي او دهغوئ سود په لګونو روپۍ وي داکه هلته پرېږدونو هغه دمسلمانانو په عیسایې جوړولو او دعیسایې مذهب په مرسته کي لګیږي نو په داسي حال کې هغه روپۍ دسود هلته پرېږدو که یې له هغه ځایه راوباسو د کوم خیر په کارکې یا یې وناسو مسکینانو ته ورکړو نو ددې په ځواب کې ماورته لیکلې وو چې په ذکر شوې حالت کې دسود روپۍ هلته مه پرېږدئ بلکي له هغه ځایه یې راوباسئ وناوسوا و مسکینانو ته یې ورکړئ داډول فتوی له مخکې څخه حضرت مولانا ګنګوهي رحمه الله هم ورکړې وه خو دهغه دامطلب نه وو چې دسود د جائز کېدو فتوی ورکول شوه بلکي دا حکم په طریقه د: من ابتلی ببلیتین فلیختر اهونهما(۱) وونور اصل مسلک زموږ هماغه دی کوم چې له مخکې څخه دسود د حرام والی وود جواز فتوی نه اوس ورکول کیږي نه مخکې ورکول شوې ده او په بېنګ کې دسود په غرض ترروپو داخلولو مخکې اجازه ورکوله شوې ده بلکي داحکم دهغو خلګو لپاره لیکل شوی دی چې په بېنګ کې یې روپۍ داخلې کړي وي او هغه وخت یې پوښتنه نه وي کړې او اوس هلته په پرېښوولو دافتنه پیښیږي چې هغه دمسلمانانو په مرتد جوړولو کې صرفیږي نو په داسي وخت کې له دې پرته بله څه چاره شته چې پورتنی حکم ورو ښوول شي دافتوی یو وخت له دې ځایه لیکل شوې وه چې په ورځپاڼو کې خپره شوه ددې نقل په رجسټرونو کې دپلټنې وروسته مې بیاهم ونه موندی معلومه نه ده چې هغه له نقل کولو څخه پاته شوې وه که څه خبره وه؟ او نه هغه چاپ شوې شته بلکي اوس به له دې ځایه ددې تردید او داصل واقعې څرګندونه په اخبارونو کې خپور کړو فقط.

کله چې سوداخستل حرام دی نو دسود روپۍ اخستل

اوناوسوته ورکول څرنګه روادي ؟

سوال: (۱۸) تاسو سودناروا لیکلی دی چې سوداخستل خوله هیچا څخه روانه دی او بیاوایاست چې له بېنګ اونورو څخه سود واخلئ وناوسوته یې ورکړئ کله چې سودناروادی نو داسي ناروا روپۍ ومسکینانوته ورکول څرنګه کېدای شي ؟(۲۲۴۷/ ۱۳۴۳هج)

ځواب: سره دسودله ناروا والې چې کوم مه دافتوي ورکوله کیږي چې په بېنګ اونورو کې هغه روپۍ

(۱) قال فی المحیط: والاصل ان من ابتلی ببلیتین یختار اهونهما وایسرهما (تکملة البحر الرائق ۹/ ۱۳۳، کتاب الاکراه.

مه پرېږدئ بلکي له هغه ځایه یې واخلئ وناوسوا و مسکینانو ته یې ورکړئ ددې یوه خاص وجه ده هغه داچې هلته که هغه روپۍ پرېښوول شي نو معلومه شوې ده چې هغه روپۍ وپادریانوته ورکول کیږي چې دوئ دخپل مذهب خپرونه په کوي اودمسلمانانو په مرتد جوړېدو کې هغه روپۍ لګوي اودشریعت حکم دادی [من ابتلی ببلیتین فلیختر اهونهما (۱) یعنی کوم سړی چې په وومصیبتونو کې راګیر شي هغه دې اهون (سپک) په دواړو کې اختیار کړي نو دسوداخستل که څه هم ګناه ده خو نه داسي لکه چې دمسلمانانو په مرتد جوړلو او بې دینه کولو کې مرسته کول ،ځکه چې په دې کې اهونه طریقه اختیار کړله شي فقط.

له نامسلمان څخه سوداخستل

سوال: (۱۹) زید وبکر ته وایې چې ته ولې سود کوي ؟ مسلمان یې ناروا کار روا بولې بکر په ځواب کې ورته وایې چې سود په کومو ،کومووجواوله چا ، چاسره منع دی زه له هغه څخه ځان ګورم د کوم مسلمان څخه سود نه اخلم ، هود بې دینو خلګو څخه یې اخلم په ډاکخانه کې روپۍ جمع کوم حکومت په خوشحالي سودراکوي دوخت دحاکم په امرمې په سود پورور کړی دی چې دهغه په وجه حکومت په خوشحالي سودراکول قبول کړې دي دبکر لپاره دغه سوداخستل روادي ،که نه ؟(۱۰۲۸/ ۱۳۳۷هج)

ځواب: فتوی پردې ورکول کیږي چې سوداخستل مطلقاناروادی له نامسلمان څخه هم سوداخستل ناروادي په همدې وجه له چاڅخه سود مه اخلئ اوکه دمجبوریت په وجه واخستل شي نو هغه پرمسکینانو اوناوسو صدقه کړئ.

دمدرسې روپۍ په سېونګ بېنګ یاډاکخانه کې جمع کول

سوال: ۲۰) (الف) داسلامي مدرسې روپۍ دګټې په اراده په سېونګ بېنګ اوډاکخانه کې جمع کول روادي ،که نه ؟

(ب) دمدرسې روپۍ دصدقو ،زکوة ،نذراودقربانۍ دڅرمنو اونورو هم په یاد شوې غرض په ډاکخانه کې جمع کېدای شي ،که نه ؟

(ج) دالف اوب دناروا والې په صورت کومې روپۍ دصدقو اونورو چیکوم ذمه وارمثلا نائب

(۱)قال فی المحیط: والاصل ان من ابتلی ببلیتین یختار اهونهما وایسرهما(تکملة البحر الرائق ۹/ ۱۳۳، کتاب الاکراه.

مهتمم ته ببله تملیکه وصولې شوې دي اودغه روپۍ دیادشوې غرض لپاره لوړ کسان مهتمم اونوروغړې دمدرسې ځیني واخلي اودی یې ورکړي نودلاندي ذمواربه غاړې خلاصې وي، که به بندې وي؟ (۱۰۲/ ۱۳۴۳هج)

ځواب: (الف) له سپونګ بېنګ څخه چي کومه ګټه ورکول شي هغه سوددی، ځکه هلته په دې غرض روپۍ داخلول اوګټه ولاس ته کول ناروااوسوددی اوپه حدیث شریف کې راغلې دي [لعن رسول الله صلی الله علیه وسلم آکل الربو وموکله الحدیث(۱)

(ب) داهم ناروا ده.

(ج) دلاندي کس داذمواري ده چي ورته ووایې چي داروپۍ دصدقو، زکوة اونورودي اوداچي ددې په سپونګ بېنګ کې داخلول ناروادي په دې وینادهغه لاندي سرې غاړې خلاصیږي بیاغاړې دهغوي بندې دي کوم چي دانتظام واک لري اوکه دغه لاندي سړی یعنی نائب مهتمم داسي واجب صدقې، زکوة اونورودتملیک له حېلې (۲) وروسته دوئ ته وسپارې نوغوره دی ترڅودزکوة په دغه حېله دتملیک سره اداشي بیاچي څه وبال دی پرهغه چادی چي روپۍ داخلوي.

دخوندي کولوپه غرض په ډاکخانه کې روپۍ جمع کول

سوال: (۲۱) په ډاک خانه کې دخوندي کولوپه غرض روپۍ جمع کول روادي، که نه؟ (۱۵۸۱/ ۱۳۴۳هج)

ځواب: په ډاکخانه کې دروپیوجمع کولوداتاوان دی چي که سودوانه اخلي نوهغه وعیسایانوته ورکول کیږي اوهغه روپۍ دخلګوپه عیسایي جوړولو کې لګیږي اوکه یې اخلي نودسودګناه ده، ځکه هلته روپۍ نه دي داخلول پکاراو که چاپه غلطۍ سره داخلې کړي دي نودهغه سوددي هلته نه بریږدي بلکې له هغه ځایه دې رااخلي پرغریبانواومسکینانوباندي دې صدقه کړي پخپله دې نه کاروي فقط.

(۱) الصحیح لمسلم ۲/ ۲۷کتاب المساقاة والمزارعة، باب الربو، مشکوة المصابیح ص: ۲۴۴، کتاب البیوع، باب الربو.
(۲) حېله دتملیک هغه وخت حېله بلله کیږی کله چي په رشتیاتملیک وي کنې هغه حېله نه ده هسي چل دی په هغه سره هیڅ حلالوالی نه ثابتیږي ۱۲: سعید احمد پالنپوري.

په دارالحرب کې له کفاروڅخه دسوداخستوحکم

سوال: (۲۲) په لاربوبین المسلم والحربی فی دارالحرب عندابی حنیفة رحمه الله تعالی الخ (۱) باندي په دلیل نیولوسره زموږپه وطن کې په ډاګه اوښکاره خلګ له کفاروڅخه سوداخلي څه حکم دی؟ (۱۷۱۲/ ۳۲-۱۳۳۳هج)

ځواب: دامسئله دفقهې په کتابونوکې دارازلیکلې ده خوکله چي په دې کې اختلاف دی امام ابویوسف رحمه الله اوائمه ثلاثه ددې دحراموالې ویناکوي (۲) دلته په دارکې هم اختلاف دی، ځکه احتیاط په دې کې دی چي له سودڅخه پرهیزوکړل شي دسوددحرامولې ددلائلودعموم تقاضاهمداده نورستاسولپاره دچاسره جګړه کول فضول (بې فائدې) ده پخپله داسي عمل کوه یعنی دسوددپرېښوولواوڅوک چي ستاخبره مني هغه منع کړه چي سودمه اخلئ.

سوال: (۲۳) حضرت مولاناشاه عبدالعزیزصاحب، حضرت مولانامحمد قاسم نانوتوی، اوحضرت مولانارشید احمدصاحب رحمهم الله وهندوستان ته دارالحرب وایې په همدې وجه که څوک له کوم حربي کافرڅخه سوداخلي نوروادی، که نه؟ (۲۲۰/ ۱۳۴۱هج)

ځواب: داښکاره ده چي اول خودهندوستان په دارالحرب کې اختلاف دی اوبیاپه دارالحرب کې دسودپه رواوالې اوناروا والې کې اختلاف دی حضرت امام ابویوسف او ائمه ثلاثه رحمهم الله تعالی په دارالحرب کې هم سودحرام بولې، ځکه دسوددحلالوالې فتوی په هندوستان کې نشي ورکول کېدای اودحضرت شیخ الهندرحمه الله تعالی اودهغه داستاذبقیة السلف الصالحین حضرت مولانامحمد قاسم صاحب رحمه الله تعالی همدغه مسلک دی اوزموږد مشرانودخادمانوهم همدغه مسلک دی فقط.

(۱) العنایة شرح الهدایة مع فتح القدیر ۲/ ۱۷۷، کتاب البیوع و باب الربو، مطبوعة: المکتبة النوریة الرضویة بسکهرو باکستان.
(۲) ولابین المسلم والحربی فی دارالحرب خلافالابی یوسف والشافعی ومالک واحمدرحمهم الله تعالی (فتح القدیر ۲/ ۱۷۷کتاب البیوع و باب الربو، المکتبة النوریة الرضویة بسکهرباکستان)

سوال: (۲۴) په لاربوبین المسلم والحربی (۱) کې له حربي څخه مرادڅه دی ؟ آیاکفارمحاربین مراددي که مسلمانان هم ؟ ددارالحرب کېدوڅه شرطونه دي ؟ هندوستان دارالحرب دی ،که نه ؟اوپه ده کې سودرواکیږي ،که نه ؟(۱۰۲۹/ ۱۳۴۱هج)

ځواب: ددارالحرب په شرطونوکې اختلا ف دی اودامام اعظم رحمه الله تعالی په نزدپه دریوشرطونودارالاسلام دارالحرب ګرځي اوصاحبین (امام ابویوسف ، امام محمد) رحمهماالله په یوه شرط سره ددارالحرب کېدوحکم ورباندي کوي په درمختارکې راغلي دي [لاتصیردارالاسلام دارحرب الابامور ثلاثة باجراء احکام اهل الشرک وباتصالهابدارالحرب وبأن لایبقی فیهامسلم اوذمی آمنابالامان الاول الخ قال الشامی: وقالابشرط واحدلاغیروهواظهار حکم الکفروهوالقیاس هندیة (۲) نودتعریف دبېلوالي په وجه دهندوستان په درالحرب کېدواونه کېدوکې اختلا ف دی اوکله چي دهندوستان دارالحرب کېدل شکمن شونودسوددحلالوالی فتوی په هندوستان کې ورکول نه رواکیږي لماوردّدعواالربووالربیة (۳) اوپه لاربوبین المسلم والحربی فی دارالحرب (۴) کې له حربي څخه مرادددارالحرب اوسېدوونکی دی که کافروي ، که مسلمان وي اوخواکه فعلاجګړه کوونکی وي اوکه نه وي وحکم من اسلم فی دارالحرب ولم یهاجرکحربی فللمسلم الربومعه الخ (۵) (درمختار) له دارالحرب څخه هجرت هغه وخت ضروري دی چي دمذهبي فریضوله اداکولوڅخه خنډجوړشي کنې ضروري نه دی په همدې وجه محققین علماء له هندوستان څخه هجرت کول فرض نه دي بللي فقط.

(۱) هدایه ۳/ ۷۲کتاب البیوع آخرباب الربو.
(۲) الدروالرد(۳/ ۲۷۷) کتاب الجهاد ، مطلب فیماتصیربه دارالاسلام دارحرب وبالعکس ط رشیدیه.
(۳) عن عمربن الخطاب رضی الله عنه قال : ان اخرمانزلت آیة الربووان رسول الله صلی الله علیه وسلم قبض ولم یفسرهالنافدعواالربووالریبة (سنن ابن ماجه ص: ۱۷۴، ابواب التجارات ،باب التغلیظ فی الربو ، مشکوة المصابیح ص: ۲۴۲، کتاب البیوع ، باب الربو)
(۴) هدایه ۳/ ۷۲کتاب البیوع آخیرباب الربو.
(۵) الدرالمختارمع الشامی(۴/ ۲۱۰) کتاب البیوع ،باب الربو ، اخیرمطلب فی اسقراض الدراهم عدداط رشیدیه.

هندوستان دارالحرب دی ،که نه ؟ اوله نامسلمان څخه دسوداخستوحکم

سوال: (۲۵) هندوستان دارالحرب دی ،که نه ؟ اوله نامسلمانوڅخه سود اخستل څرنګه دي ؟(۲۲۲/ ۱۳۴۳هج)

ځواب : دهندوستان په دارالحرب کېدوکې اختلا ف دی ځیني علماء وایې چي پرهندوستان باندي ددارالحرب تعریف نه صادقیږي ،ځکه هندوستان دارالحرب نه دی اوددارالحرب په تعریف کي هم دامام ابوحنیفه اوصاحبینو رحمهم الله اختلا ف دی چي دفقهې په کتابونوکې یې یادونه شته ،ځکه په هندوستان کې له کفاروڅخه سوداخستل روانه دی ،ځکه چي دسودله شبهې څخه هم دخلاصېدوحکم راغلی دی کماورد: دعواالربووالربیة (۱) فقط.

له هندوانوڅخه سوداخستل

سوال: (۲۲) له هندوانواونورومذهبونووالاوڅخه نن ، صبادسودپه اړه څه حکم دی ؟(۸۴۷/ ۱۳۴۳هج)

ځواب: دسودپه اړه په آیتونواوحدیثونوکې سخت وعیدراغلی دی په یوه حدیث کې راغلې دي چي یودرهم دسودخوړل له شپږدیرش واره زناووڅخه ډیردی (۲) اوپه یوه حدیث کې راغلې دي چي دسواویابرخې دي په هغوئ کې ترهغو ټولودکمې برخې ګناه داسي ده لکه چي عیاذابالله له خپلې مورسره زناکول (۳) الله تعالی مودې خوندي کړي داحدیثونه په مشکوة شریف کې راغلې دي لنډه داچي دادمسلمانانولپاره دسودپه معامله کې یومخ پرهیزکول پکاردي له چاڅخه دي سودنه اخلي نه له کافرڅخه ، نه له مسلمان څخه.

(۱)سنن ابن ماجه ص: ۱۷۴، ابواب التجارات ،باب التغلیظ فی الربو ، مشکوة المصابیح ص: ۲۴۲، کتاب البیوع ، باب الربو)
(۲) عن عبیدالله بن حنظلة غسیل الملائکة رضی الله عنهما قال : قال رسول الله صلی الله علیه وسلم درهم ربویاکله الرجل وهویعلم اشدمن ستة وثلاثین زنیة رواه احمدوالدارقطنی وروی البیهقی فی شعب الایمان عن ابن عباس رضی الله عنهما (مشکوة ص: ۲۴۲کتاب البیوع ،باب الربو)
(۳) عن ابی هریرة رضی الله عنه قال: قال رسو ل الله صلی الله علیه وسلم الربوسبعون جزءً (وفی ابن ماجه : حوبًا) ایسرهان ینکح الرجل امه (مشکوة ص: ۲۴۲کتاب البیوع وباب الربو ، سنن ابن ماجه ص: ۱۴۲، ابواب التجارات ، باب التغلیظ فی الربو).

سوال: (۲۷) له کفاروڅخه سوداخستل روادي ،که نه ؟ (۲۴۷۲/ ۱۳۳۷هج) ځواب: دسودپه اړه په حدیث شریف کې راغلې دي [عن جابررضی الله عنه قال: لعن رسول الله صلی الله علیه وسلم آکل الربوموکله وکاتبه وشاهدیه وقال هم سواء] رواه مسلم (۱) یعنی رسول الله صلی الله علیه وسلم پرسوداخستوونکې ،ورکوونکې اوشاهدانوباندې یې لعنت ویلی دی اوویلې یې دي: چې دوئ ټول په ګناه کې سره برابردي اودابنکاره ده چې پرکومه ګناه لعنت راغلی وي هغه کبیره ګناه وي اوپه بل حدیث شریف کې راغلې دي درهم ربویأکله الرجل وهویعلم اشدمن ستة وثلاثین زنیة رواه احمدوالدارقطنی (۲) یعنی چې کوم څوک یودرهم دسودوخوري اودی په خبروي چې داسوددی له شپږدیرش زناوڅخه ډیربددی دګناه په اعتبارفقط.

سوال: (۲۸)زیددروژې اولمانځه پابندی اوکله ناکله امامت هم کوي خودی له نامسلمانوډلوڅخه سوداخلي داکارڅرنګه دی ؟ په ده پسې لمونځ روادی ،که نه ؟ اوپه نامسلمان بېنک کې په روپۍ جمع کولوسوداخستل څرنګه دي ؟(۸۷۵/ ۱۳۴۳هج)

ځواب: دسوداخستوونکې اوورکوونکې په هکله په حدیث شریف کې سخت وعېدراغلی دی رسول الله صلی الله علیه وسلم پرسوداخستوونکې ،ورکوونکې ،لیکوونکې اوشاهدي پرورکوونکې باندي لعنت ویلی دی (۳) اوپه یوه حدیث کې راغلې دي چې یودرهم دسودخوړل له شپږدیرش زناووڅخه ډیربددی (۴) اوپه یوه حدیث کې یې ویلې دي: چې دسوداویابرخې دي

(۱) الصحیح المسلم۲/ ۲۷کتاب المساقاة والمزارعة ،باب الربو، مشکوة المصابیح ص: ۲۴۴، کتاب البیوع ،باب الربو.
(۲) مشکوة ص: ۲۴۶کتاب البیوع، باب الربو.
(۳) عن جابررضی الله عنه قال: لعن رسول الله صلی الله علیه وسلم آکل الربوموکله وکاتبه وشاهدیه وقال هم سواء(الصحیح لمسلم۲/ ۲۲، کتاب المساقاة والمزارعة ،باب الربو، مشکوة المصابیح ص: ۲۴۴، کتاب البیوع، باب الربو).
(۴)عن عبیدالله بن حنظلة غسیل الملائکة رضی الله عنهما قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم درهم ربویاکله الرجل وهویعلم اشدمن ستة وثلاثین زنیة رواه احمدوالدارقطنی وروی البیهقی فی شعب الایمان عن ابن عباس رضی الله عنهما (مشکوة ص: ۲۴۶کتاب البیوع ،باب الربو)

په هغوئ کې ترټولو کمه برخه داسې ده لکه له خپلې مورسره زناکول (۱) والعیاذبالله نوپرداسې ګناه باندې مسلمان څرنګه جرأت کولای شي ،ځکه نومسلمانان له سودڅخه بایدیومخ پرهیزوکړي نه دې له کافرڅخه سوداخلي ،نه له مسلمان څخه اونه له بېنک څخه الله رب العزت توفیق ورکوونکی دی اوښکاره ده چې داسې سړی دامامت ورنه دی په ده پسې لمونځ مکروه دی فقط.

سوال: ۲۹) په هندوستان کې له هندوانوڅخه دمسلمانانولپاره سوداخستل روادی ،که نه ؟(۲۱۹۰/ ۱۳۴۲هج)

ځواب: فتوی دسوداخستوپرناروا والې ده په حدیث شریف کې راغلې دي رسول اکرم صلی الله علیه وسلم پرسوداخستوونکی ،ورکوونکې ، لیکوونکې ، شاهدجوړېدوونکې اونورولعنت ویلی دی (۲) اودهندوستان په دارالحرب کېدوکې اختلا ف دی اوبیاپه دارالحرب کې دسودپه جائزکېدوکې اختلا ف دی ،ځکه نوزیات احتیاط په دې کې چې یومخ سودوانه خلي فقط.

سوال: (۳۰) دمسلمانانولپاره په اوس زمانه کې له هندوانوڅخه سوداخستل شرعًا جائزدی ،که نه ؟اواخستوونکی ګنهګاردی ،که نه ؟(۲۳۷/ ۱۳۴۳هج)

ځواب: له هندوستان څخه سوداخستل هم دمسلمانانولپاره صحیح نه دی اودسودپه هکله ډیرسخت وعېدراغلی دی رسول الله صلی الله علیه وسلم پرسوداخستوونکې ، ورکوونکې ،لیکوونکې اوشاهدهم لعنت ویلی دی (۳) اوپه ځینې حدیثونوکې راغلې دي چې سوداخستل له دې څخه زیات دسخت

(۱) عن ابی هریرة رضی الله عنه قال: قال رسو ل الله صلی الله علیه وسلم الربوسبعون جزءً (وفی ابن ماجه: حوبًا) ایسره ان ینکح الرجل امه (مشکوة ص: ۲۴۶کتاب البیوع وباب الربو، سنن ابن ماجه ص: ۱۴۶، ابواب التجارات، باب التغلیظ فی الربو).
(۲)عن جابررضی الله عنه قال: لعن رسول الله صلی الله علیه وسلم آکل الربوموکله وکاتبه وشاهدیه وقال هم سواء(الصحیح لمسلم۲/ ۲۷، کتاب المساقاة والمزارعة ،باب الربو، مشکوة المصابیح ص: ۲۴۴، کتاب البیوع، باب الربو).
(۳) عن جابررضی الله عنه قال: لعن رسول الله صلی الله علیه وسلم آکل الربوموکله وکاتبه وشاهدیه وقال هم سواء (الصحیح لمسلم۲/ ۲۷، کتاب المساقاة والمزارعة ،باب الربو، مشکوة المصابیح ص: ۲۴۴، کتاب البیوع، باب الربو).

دي لکه چي څوک له خپلې مورسره زناوکړي (۱) وِالعیاذبالله نومسلمانان باید دداسي سختې ګناه له کارڅخه کلک پرهېزوکړي بلکي دسودله شبهې څخه هم ځان ساتل په کاردي لکه چي دحضرت عمررضی الله عنه ارشاددی: دعواالربو والربیة الخ(۲) فقط.

سوال : (۳۱) آیامونږله هندوانویانورونامسلمانوقومونوچي زمونږڅخه هغوئ ته سودورکول غواړي سوداخستلای شو، که نه؟(۸۰۲/ ۱۳۴۳هج)

ځواب : سودله هیچاڅخه اخستل روانه دي پرسودباندي په قرآنکریم اوحدیثو کې وعېدونه راغلې دي رسول الله صلی الله علیه وسلم پراخستوونکې، ورکوو نکې اونوروباندي لعنت ویلی دی: اودارنګه رسول کریم صلی الله علیه وسلم ویلې دي: چي دسودیودرهم خوړل له شپږدیرش زناووڅخه ډیربددی اوله دې څخه هم زیات یې داویلې دي چي دسوداویابرخې دي په هغوئ کې ترټولوکمه برخه داده لکه چي دخپلې مورسره زناوکړي والعیاذبالله تعالی الربوسبعون جزءً ایسرهاان ینکح الرجل امه رواه ابن ماجه والبیهقی(۲) فقط.

سوال : (۳۲) زیدوایې چي له هندوانو، عیسایانواونوروڅخه سوداخستل صحیح دی، عمروایې چي صَحیح نه دی دچاوینا صحیح ده؟(۱۵۲/ ۱۳۴۲هج)

ځواب : دزیدخبره صحیح نه ده عمرسم وایې سوداخستل له هیچاڅخه صحیح نه دی اودسودخورپه هکله سخت وعېدپه حدیث شریف کې راغلی دی رسول الله صلی الله علیه وسلم پرسوداخستوونکې، ورکوونکې اونورولعنت ویلی دی(۳) فقط.

سوال: (۳۳) له هندوڅخه سوداخستل روادی، که نه؟(۱۲۸/ ۱۳۴۳هج)

ځواب: سوداخستل له هیچاڅخه صحیح نه دی لکه چي په حدیث شریف کې راغلې دي: لعن رسول الله صلی الله علیه وسلم آکل الربوومو کله الحدیث(۳) فقط.

---

(۱) عن ابی هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم الربوسبعون جزءً (وفی ابن ماجه، حوبًا) ایسره ان ینکح الرجل امه(مشکوة ص: ۲۴۶کتاب البیوع وباب الربو، سنن ابن ماجه ص: ۱۷۴، ابواب التجارات، باب التغلیظ فی الربو).

(۲) سنن ابن ماجه ص: ۲۲۴ ابواب التجارات، باب التغلیظ فی الربو).

(۳)(الصحیح لمسلم ۲/ ۲۷، کتاب المساقاة والمزارعة، باب الربو، مشکوة المصابیح ص: ۲۴۴، کتاب البیوع، باب الربو).

دناوسه دمرستې لپاره سوداخستل

سوال (۳۴) دزیدلپاره په دې اراده سوداخستل روادی، که نه چي دی یې له اخستلووروسته وخپل اړاوضرورتمندزوم ته ورکړي؟(۲۷۷۰/ ۱۳۴۲هج)

ځواب : په یاده شوې اراده هم دزیدلپاره سوداخستل حرام دي اودسوداخستلو په وعېدکې داخل دی په دغه اراده سره دزیدلپاره سوداخستل نه حلالیږي فقط

وناچاره پوروړي ته له بېنک څخه په سودقرض وراخستل

سوال: (۳۵) یوسړی له ډیرې زمانې تجارت کوي اوله دې خواهاخواله تجارانو څخه په نغدواوپورشیان راوړي اوپخپله هم په نغدواوپورشیان خرڅوي، ګټه هم په تجارت کي وراچوي تجارت په مخ بیایې خودالله رب العزت په قدرت یوداسي وخت راغلی دی چي دزیات په پورخرڅولوپه وجه له کوموخلګوڅخه چي یې په پورراوړې ووهغوئ کلکه غوښتنه کوي اودی ناچاره دی په کوم ډول یې نشي اداکولای که په داسي وخت کوم دالله رب العزت بنده دالله درضالپاره دده ضامن شي اودځوورځومهلت ځیني وروا خلي یاده ته په سودباندي پوروا خلي نوداسي سړی وړدثواب دی که دعذاب؟(۸۸۴/ ۱۳۴۰هج)

ځواب: ومفلس پوروړي ته مهلت ورکول په حقیقت کې په یوه واجب کارکې مرسته کول دي قال الله تعالی [وان کان ذوعسرة فنظرة الی میسرة](سورة بقره آیت: ۲۸)، ځکه چاچي وخت ځیني وروا خستی اوپورېې وشاته کړهغه دلوئ ثواب حقدار دی په حدیث شریف کې راغلې دي والله فی عون العبدماکان العبدفی عون اخیه (۱) اودوهم صورت یعنی له بېنک څخه په سودقرض وراخستل جائزنه دي په دې وجه چي په دې کې په سودي معامله کې ورداخلېدل اوشاملېدل غواړې اوپه سودي معامله کې په هیڅ ډول هم ورداخلېدل

---

(۱) عن ابی هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من نفس عن مؤمن کربة من کرب الدنیانفس الله عنه کربة من کرب یوم القیامة ومن یسرعلی معسریسرالله علیه فی الدنیاوالآخرة ومن سترمسلماستره الله فی الدنیاوالآخرة والله فی عون العبدماکان العبدفی عون اخیه الحدیث (الصحیح لمسلم ۲/ ۳۴۵کتاب الذکروالدعاء والتوبة والاستغفار، باب فضل الاجتماع علی تلاوة القرآن وعلی الذکر).

اوواسطه جوړېدل منع دي کماوردفی الحدیث لعن رسول الله صلی الله علیه وسلم آکل الربوو موکله وکاتبه وشاهدیه وقال هم سواء رواه مسلم(۱) فقط.

دسودپه روپیوډېرسکني ورورواوخورمرسته کول

سوال: (۳۶) دډاکخانې سودوډېل سکه ورورواوخورته دناوسی. په توګه دسوددلفظ له ښکاره کېدوپرته ورکول روادي ،که نه ؟(۷۵/ ۴۴-۱۳۴۵هج)

ځواب: ورکولای يې شي.

دنامسلمان دسودپه روپیومسجداوعېدګاه جوړول

سوال: (۳۷) دهندوانودسودپه روپیومسجداوعیدګاه جوړول روادي ،که نه ؟اوپه هغه کې لمونځ صحیح دی ،که نه ؟اودانمایعمرمساجدالله الآیة (سورة توبه آیت: ۱۸) په خلاف دی ،که نه ؟(۳۲/۳۲۴-۱۳۳۳هج)

ځواب: دکفاروپه هکله سودحرام نه دی ،ځکه چي دوئ دفروعاتومکلف نه دي ،ځکه نوددوئ په چنده مسجداوعېدګاه جوړول صحیح دي اولمونځ په هغه کې صحیح دی اودانمایعمرمساجدالله په خلاف نه دی ،ځکه تعمیر(اوجوړوونکي)مسلمانان دي له کفاروڅخه چنده اخلي مسلمانان يې جوړوي.

دمسجداوعېدګاه دجوړولولپاره په سودقرض اخستل

سوال: (۳۸) په سل کې اته روپۍ په سودباندي پوراخستل چي مسجدیاعېدګاه په جوړکړي څرنګه دی ؟(۱۸۶۱/۱۳۴۲هج)

ځواب: دمسلمانانوپه مذهب کې سوداخستل اوورکول دواړه حرام دي اوپه سودپوراخستل ورباندي مسجداوعېدګاه جوړول صحیح نه دي په حدیث شریف کې پرسوداخستوونکي ،ورکوونکي ،لیکوونکي ،

(۱) الصحیح لمسلم ۲/ ۲۷، کتاب المساقاة والمزارعة ،باب الربو ، مشکوة المصابیح ص: ۲۴۴، کتاب البیوع ، باب الربو)

اوشاهدجوړېدوونکي باندي لعنت راغلی دی او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: هم سواء یعنی دوئ ټول په ګناه کې سره برابردي(۱) فقط.

دسودورکوونکوپه خوښه دسودروپۍ په مسجدکې مصرفول

سوال: (۳۹) دلته دبېنک انتظام شته ، مسلمانان له بېنک څخه روپۍ اخلي اوپه کال کې پرسل روپۍ باندي پنځلس روپۍ سودورکوي ، کمپنۍ په سل کې دوولس روپۍ اخلي اودرې روپۍ دکلي دخوکسانوپه نامه جمع کوي کله چي دبېنک انتظام ختمیږي نوځومره روپۍ چي دکلېوالوپه نامه جمع شوې وي هغه روپۍ دسودورکوونکوپه خوښه په مسجدکې مصرفېدای شي ،که نه ؟(۲۰۹۵/ ۱۳۴۳هج)

ځواب: دغه معامله پرسودباندي دروپیواخستلوشرعًا ناجائزده ،ځکه چي په حدیث شریف کې پرسوداخستوونکي اوورکوونکي لعنت راغلی دی(۱) خودسودورکوونکوپه رضاکومې روپۍ چي دکلېوالوپه نامه جمع شوې دي په مسجدکې يې لګول صحیح دي فقط.

دسودروپۍ په تبلیغ اوداسلام په خپرونه کې لګول

سوال: (۴۰) دځیني مسجدونوانتظام کوونکواوځیني اوقافومتولیانود مسجد و نواواوقافوآمدني دخوندي کولوپه غرض په بېنک کې کښېښوده خوکومې زیاتوب روپۍ چي بېنک والادسودپه نامه ورکوي هغه نه اخلي حال داچي دغه زیاتوب روپۍ که هلته پرېږدي نودعیسائیت دخپروني لپاره وعیسایې کارکوونکوته ورکول کیږي دغه روپۍ هلته پرېښوول شرعًا څرنګه دي ؟ اودغه روپۍ داسلام په تبلیغ اوخپرونه کې لګېدای شي،.که نه ؟(۱۳۴۵/۳۱۳هج)

ځواب: سوداخستل په شریعت کې حرام دی اودبېنک سودټول په حراموالي کې سره برابردي کمانطق به النص خوکله چي په بېنک کې دسوددروپیوپه پرېښوو لوهغه روپۍ دعیسایي مذهب په خپرونه کې

(۱) عن جابررضی الله عنه قال: لعن رسول الله صلی الله علیه وسلم آکل الربووموکله وکاتبه وشاهدیه وقال هم سواء (الصحیح لمسلم ۲/ ۲۷، کتاب المساقاة والمزارعة ،باب الربو ، مشکوة المصابیح ص: ۲۴۴، کتاب البیوع ، باب الربو).

ورکول کیږي نوبیا دمن ابتلی ببیلتن فلیختراهونهما (۱) په حکم داصورت باید خپل کړي چي له هغه ځایه روپۍ راواخلي پرناوسواومسکینانوباندي یې صدقه کړي ،ځکه چي دداسي حرامو روپیوپه شریعت کې همدغه حکم دی اوفقهاؤددې څرګندونه کړې ده اوداسلام په تبلیغ اوخپرونه کې که ولګول شي نودهغه داسي صورت جوړکړي چي مخکې دغه روپۍ وداسي سړی ته ورکړي چي دنصاب مالک نه وي بیادې هغه له خپل لورې داسلام په تبلیغ اوخپرونه کې ولګوي ترڅوصدقه هم شي اودتبلیغ کارهم وشي لکه چي فقهاؤدزکوة په اړه داحیله لیکلې ده(۲) (درمختار) فقط.

له نامسلمان څخه سوداخستل په کوم اسلامي کارکي لګول

سوال: (۴۱) (الف) کله چي مسلمانان له هندوانوتجارانوڅخه نغدې روپۍ یاتجارتي مال په قرض اخلي نوله دوئ څخه دسودسره اداکول غواړې اوکله چي مسلمانان وهندوانوته نغدې روپۍ یادتجارت مال ورکوي نوبیله سوده اصلي روپۍ ځیني اخلي آیاپه داسي صورت کې ومسلمانانوته اجازه شته چي دخپل مال سودواخلي په کوم اسلامي کارکې یې ولګوي لکه چي دبېنګ په اړه اجازه شته.

(ب) له هندوڅخه په سودمځکه په ګرواخستل دهغه دسودپه روپیواسلامي کارونه کول ،څرنګه دي ؟ (۱۲۸۹/ ۱۳۴۳هج)

ځواب: (الف ، ب) اصلادسودمعامله دهندواومسلمان له هیچاسره صحیح نه ده اوسوداخستل له هیچاڅخه روانه دی خوکله چي داسي معامله وشوه مثلا په بېنګ کې روپۍ داخلي کړلې شوي نوبیاداحکم ورکول کیږی چي دسودروپۍ هلته مه پرېږدئ بلکي له هغه ځایه یې راواخلئ وناوسومسلمانانوته یې ورکړئ دمن ابتلی ببلیتین فلیختراهونهما (۳) په حکم نوهمدغه حکم دهندوانوڅخه دسوداخستلواو

(۱) قال فی المحیط: والاصل ان من ابتلی ببلیتین یختاراهونهماوایسرهما (تکملة البحرالرائق ۹/ ۱۳۳، کتاب الاکراه.

(۲) وحیلة التکفین بهاالتصدق علی الفقیرثم هویکفن فیکون الثواب لهماو کذافی تعمیرالمسجدوتمامه فی حیل الاشباه (الدرالمختارمع الشامی (۲/ ۱۳) کتاب الزکوة ، مطلب فی زکوة المبیع وفاء، ط رشیدیه).

(۳) قال فی المحیط: والاصل ان من ابتلی ببلیتین یختاراهونهماوایسرهما (تکملة البحرالرائق ۹/ ۱۳۳، کتاب الاکراه.

له ګرومځکې داستفادې کولودی چي کله کومه معامله داسي وشوه چي بکي سوداخستل غواړې نودغهدسودروپۍ له کفاروڅخه واخلي وناوسومسلمانانوته یې ورکړي پخپله یې مه کاروئ.

دخیراتي کارروپۍ دزیاتوب پهغرض په سودورکول

سوال: (۴۲) نن ، صبا دمسلمانانودحال په پا م کې نیولوسره یوې ډلې دااراده کړې ده چي څه روپۍ په بېنګ کې جمع کړي اوددغوروپیوواک ویوې باوري ډلې ته ورکړي اوهغه ډله دروپیودزیاتولواوددفتراونورودمصرفونولپاره له پورورڅخه په لږو لږاندازه سوداخلي اودغه سودبه دچاملک نه ګرځوي آیادا عمل به شرعًا رواوي ،که نه ؟ که داناجائزه دی نودبېنګ دجوازکوم صورت شرعًا راوتلای شي ،که نه ؟ (۱۰۷۷/ ۴۴-۱۳۴۵هج)

ځواب: داصورت شرعًا جائزنه دی جائزصورت داکېدای شي چي دغه جمع شوې روپۍ په تجارت کې ولګوي سره دګټې اصل روپۍ زیاتې کړي اوټولو خلګوته یې په قرض بېله سوداخستنې ورکوي.

په ډاکخانه اوبېنګ کې پرجمع کړیوروپیوباندي سوداخستل اوله بېنګ څخه په سودقرض اخستل

سوال: (۴۳) (الف) په ډاکخانه اوبېنګ کې چي کومې روپۍ جمع کړي دهغودبېرته راایستلوپروخت چي کوم سودورکوي دهغه اخستل صحیح دي ، که نه ؟

(ب) له بېنګ څخه په سودباندي قرض اخستل څرنګه دي ؟ (۱۱۳۸/ ۱۳۴۳هج

ځواب: (الف ، ب) دسودحرمت عام دی کوم آیتونه چي دسودپرحراموالي دلالت کوي له هغوئ څخه په عامه توګه له بېنګ اونابېنګ څخه دسوداخستل حرام معلومېږی اودسودپه اړه چي کوم وعېدونه راغلېدي له هغوئ څخه هیڅ سوداخستونکی مستثنی نه دی په حدیث شریف کې راغلې دي درهم ربایأکله الرجل اشدمن ست وثلاثین زنیة (۱) یودرهم دسودله شپږدېرش زناووڅخه ډېربددی په یوه روایت کې راغلې دي چي دسوداویابرخې دي په هغوئ کې ترټولو کمه داسي ده

(۱) مشکوة ص: ۲۴۲ ، کتاب البیوع ،باب الربو.

لکه له خپلې مورسره زناکول (۱) والعیاذبالله تعالی اوداهم په حدیث شریف کې راغلي دي چي رسول الله صلی الله علیه وسلم پرسوداخستوونکې ، ورکوونکې لیکوونکې اوشاهدي ویوونکې باندي لعنت کړی دی اودایې هم ویلې دي هم سواء یعنی دوئ ټول په اصل ګناه کې سره برابردي (۲) له دې څخه معلومه شوچي په سودقرض اخستل همداسي ګناه لري لکه څرنګه چي سوداخستل ،ځکه نوپرمسلمانانولازم دی چي له سودی معاملو څخه پرهېزوکړي.

دمجبورۍ په وجه په سودقرض اخستل

سوال: (۴۴) قرض حسن پیداکېدل مشکل دي که مجبورشي په سودقرض واخلي نوڅه حکم دی ؟ هغه روپۍ چي په سودباندي واخستلې شي حلالې دي ،که نه ؟ (۳۲/۱۵۴۳-۱۳۳۳هج)

ځواب: دسودپه ورکولوقرض اخستل همداسي حرام دی لکه چي سوداخستل (۳) له دې څخه ځان ساتنه لازمه ده اوکومې روپۍ چي واخستلې شي هغه حلالې دي.

سوال: (۴۵) کوم ځای چي دمعاش هیڅ وسیله نه وي مثلا محنت ،مزدوري اونورخوپرته له قرض هیڅ چاره نه وي اوبچیان له لوږې مري په داسي صورت کې په سودقرض اخستل څرنګه دي ؟ (۲۴۱۴/ ۱۳۳۷هج)

ځواب : په حدیث شریف کې پرسوداخستوونکې ، ورکوونکې لیکوونکې ، شاهدي پرورکوونکې اونوروټولو باندي

(۱)عن ابی هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم الربوسبعون جزءً (وفی ابن ماجه: حوبًا) ایسره ان ینکح الرجل امه (مشکوة ص: ۲۴۶کتاب البیوع وباب الربو ،
سنن ابن ماجه ص: ۱۶۲، ابواب التجارات ، باب التغلیظ فی الربو
(۲)عن جابررضی الله عنه قال: لعن رسول الله صلی الله علیه وسلم آکل الربوومو کله وکاتبه وشاهدیه وقال هم سواء (الصحیح لمسلم۲/ ۲۷، کتاب المساقاة والمزارعة ،باب الربو ، مشکوة المصابیح ص: ۲۴۴، کتاب البیوع ، باب الربو).
(۳) ماحرم اخذه حرم اعطاؤه کالربوالخ (الاشباه والنظائرمع شرحه للعلامة الحموی ص: ۲۲۹الفن الاول ، القاعدة الرابعة عشر، المطبوعة: ادارة النشروالاشاعة بدارالعلوم دیوبند ، الهندسنه ۱۴۰۲ه)

لعنت راغلی دی (۱) خوکوم صورت اومجبوري چي په سوال کې لیکلې ده په هغه صورت کې په سودپوراخستل دضرورت په اندازه پکې ګنجائش شته (۲) شایدچي الله رب العزت به معافي وکړي خوترخپل وس پورې له دې څخه ځان ساتل پکاردي دمعاش حلال وسیلې هم ډېردي من جدوجد کوشش کول پکاردي اوپرالله تعالی باورکول پکاردي ومن یتوکل علی الله فهوحسبه (سورة طلاق ، آیت: ۳)

سوال: (۴۶) په سودقرض اخستل روادي ،که نه ؟ که کوم سړی لوږې دمجبورۍ یادعزت خوندي کولولپاره سودواخلي نوڅه حکم یې دی ؟ (۱۵۴۵/ ۱۳۳۸هج) ځواب : دسوداخستل اوورکول په حدیث شریف کې منع شوې دي اوپرسود اخستوونکې ،ورکوونکې ده مبارک صلی الله علیه وسلم لعنت ویلی دی اوداچي دواړه برابرُدي (۳) نورداضطرارحالت بېله خبره ده په هغه کې حرام هم حلالیږي.

سوال: (۴۷) دسخت ضرورت په حال کې په سودقرض اخستودجوازکوم صورت شته ،که نه ؟(۳/ ۴۶- ۱۳۴۷هج)

ځواب: په حدیثواوفقه کې کوم صورت دسوددپوراخستلودجوازنشته په حدیث شریف کې راغلې دي چي رسول الله صلی الله علیه وسلم پرسوداخستوونکې ، ورکوونکې ،لیکوونکې اووربادي شاهدي جوړېدوونکې باندي لعنت ویلی دی اوپه پای کې یې ویلې دي: هم سواء چي داټول په ګناه کې سره برابردي (۳) نودجوازشرعًا کوم صورت نشته نورکه په کومه مجبورۍ کې داسي وکړل شي نوپردغه ګناه دې توبه اواستغفاروکړي امیدشته چي الله رب العزت به دغه ګناه وروبخښي کماقال الله تعالی ولوانهم اذظلموا انفسهم جاؤک

(۱) عن جابررضی الله عنه قال: لعن رسول الله صلی الله علیه وسلم آکل الربوومو کله وکاتبه وشاهدیه وقال هم سواء (الصحیح لمسلم ۲/ ۲۷، کتاب المساقاة والمزارعة ،باب الربو ، مشکوة المصابیح ص: ۲۴۴، کتاب البیوع ، باب الربو)(۲) یجوزللمحتاج الاستقراض بالربح (الاشباه والنظائرمع شرحه للعلامة الحموی ص: ۲۴۹الفن الاول ، القاعدة الرابعة عشر، المطبوعة: ادارة النشروالاشاعة بدارالعلوم دیوبند ، الهندسنه ۱۴۰۲ه)
(۳) الصحیح لمسلم۲/ ۲۷، کتاب المساقاة والمزارعة ،باب الربو ، مشکوة المصابیح ص: ۲۴۴، کتاب البیوع ، باب الربو)

فاستغفروا الله واستغفرلهم الرسول لوجدوا الله توابا رحيمًا (سورة النساء آيت: ۶۴) فقط.

سوال: (۴۸) کله چې سوداخستل اوورکول دواړه حرام کړل شوې دي خوپه سل کې نوي کسان په تيره بياتجاران داسي دي چي په سودروپۍ واخلي کاروبارپه کوي اماله سوداخستلوڅخه قطعي پرهيزکوي ددې په اړه حکم څه دی؟ (۳۲۳۱/ ۴۶ - ۱۳۴۷هج)

ځواب: په حديث شريف کې پرسوداخستونکي، ورکوونکې، ليکوونکې شاهدپرورکوونکې اونوروباندي لعنت راغلی دی اوپه اصل ګناه کې يې ټولوته برابرويلي دي، ځکه دمسلمانانولپاره چيترڅوممکنه وي له سودڅخه قطعي پرهېزکول اوځان ساتل پکاردی خوکه کوم سړی دومره معذوره اومجبوره دی چي دسودله قرض پرته دده کارنه کيږي يعنی دده ژوندپه خطرکې دی دده لپاره ګنجائش شته.

له پوروړي څخه په سل کې يوه روپۍ دمياشتې سوداخستل

سوال: (۴۹) يوويشت کسانوپه ګډه يوه کمېټه جوړه کړه يعنی پرسړي باندي دپنځوس، پنځوس روپۍ له حسابه يوزرپنځوس روپۍ جمع کړي اودامشوره يې سره وکړه چي له دغه ونډه لرونکوڅخه چي دکوم يوه وقرض ته ضرورت شي هغه دې له جمع شويوروپيوڅخه دنوروبرخه لرونکوله رأيې سره سم واخلي اودبېرته ورکولوپروخت باندي به قرض سره په سل کې ديوې روپۍ دګټې دحسابه په مياشت کې ورکوي دغه رنګه په دغه کمېټه کې له ټولوبرخه لرونکوڅخه يوامېردمجلس، يونائب امير، يوناظم اويوخازن وي آياامير، نائب امير، اوخازن اونورددې جوړېد ل صحيح دي، که نه؟ (۴۸۱/ ۱۳۳۸هج)

ځواب: داتجويزدشرعې په خلا ف دی اودداسي کمېټې جوړول شرعًا صحيح نه دي، ځکه چي پرپوراخستوونکې دامقررول چي دی به دمياشتې په سل روپۍ کې يوه روپۍ زياتوب ورکوي داخاص سوددی اوحرام دی قال عليه الصلوة والسلام کل قرض جرنفعافهوربوا(۱) نوپه داسي کمېټه کې برخه اخستل چي پکې دسودمعامله وي دهيچالپاره صحيح نه دی اودمجلس امير، نائب اميراوخازن ددې جوړېدل دهيچالپاره روانه دي فقط.

عن الحكم عن ابراهيم قال: كل قرض جرمنفعة فهوربو (مصنف ابن ابی شيبة ۴/ ۳۳۳، كتاب البيوع والاقضية، باب من كره كل قرض جرمنفعة، المطبوعة: دارالكتب، بيروت، لبنان)

په سودله قرض اخستووروسته ونوروته په سودقرض ورکول

سوال: (۵۰) يوسړی له تاجرڅخه په سودقرض واخستی وبل چاته يې په هغه سودباندي ورکړنوله دوهم سړی څخه سوداخستل څرنګه دي؟ (۱۳۵۶/ ۱۳۴۲هج)

ځواب: صحيح نه دی په دې کې دوې ګناوې دي يوه دسوداخستلواوبله دسود ورکولو.

دسودپه قرض کړې تجارت دګټې حکم

سوال: (۵۱) که کوم سړی څه روپۍ په سودباندي په قرض واخستې اوتجارت يې په وکړنوددغه تجارت ګټه حلاله ده، که نه؟ (۹۴۵/ ۱۳۳۵هج)

ځواب: ددغه تجارت ګټه حلاله ده.

سوال: (۵۲) په سودچي قرض واخلي تجارت په کوي کومه ګټه چي ددغه تجارت وشي هغه حلاله ده، که نه؟ (۱۳۶۲/ ۳۲ - ۱۳۳۳هج)

ځواب: هغه ګټه حلاله ده.

دسودپه روپيودرانيولې مځکې دپيداوارحکم

سوال: (۵۳) زيدسودخوردی اوجائدادهم ډېرلري خوجائدادېې دسودپه روپيوجوړکړی دی ددغې مځکې چي کوم حاصل وي دهغه خوړل روادي، که نه؟ (۲۲۴۲/ ۱۳۴۳هج)

ځواب: دفتوی له مخې جائزدی خواحتياط په دې کې دی چي نه يې وخوري.

دسودپه قرض درانيولې مځکې دپيداوارحکم

سوال: (۵۴) له تاجرڅخه په سودقرض اخستل مځکه په رانيول څرنګه دي؟ اودداسي مځکې دپيداوارڅه حکم دی؟ (۱۴۷۰/ ۱۳۴۳هج)

ځواب: دسودپه قرض چي کومه مځکه رانيوله شي هغه په ملک کې داخلېږي خوکراهيت پکې شته دسودورکولوګناه به وي اوپيداوارددې حلال دی فقط.

په اصل اودسودپه روپیورانیولې مځکې څخه استفاده کول

سوال: (۵۵) که سودخورتوبه وکاږي نوپه سوداوپه اصل روپیوچي يې کومه مځکه رانیولې وه له توبې وروسته له هغې څخه استفاده کول روادی، که نه؟ (۲۰۱۸/ ۱۳۴۳هج)

ځواب: څومره اندازه چي سوددی هغه دې بېرته ورکړي اوکه يې ورکول کېدای نشي نودومره اندازه دي صدقه کړي هغه وخت دده لپاره له دغې مځکې څخه استفاده حلاله ده

په بېنګ کې دجمع کړپیوروپیوسوداخستل دخپل
پلاروپورورکوونکوته په سودورکول

سوال: (۵۲۰) زماڅه روپۍ په بېنګ کې جمع دي چي حکومت دهغه سود راکوي اوزماپرپلارڅه پورونه دي چي دکورپه کارونوکې صرف شوې دي نوآیاداروادی چي له حکومت څخه سودواخلم دخپل پلاروپورورکوونکوته يې په سودورکړم؟ (۲۲۰۳/ ۱۳۴۳هج)

ځواب: داصورت جائزنه دی په دې کې دوې ګناوې دي یوه دسوداخستلواوبله دسودورکولوفقط.

دسوددحساب، کتاب لیکلواودکافردملازمت کولوحکم

سوال: (۵۷) دسودي رسېدلیکلوڅه حکم دی؟ (۳۲/۱۸۹- ۱۳۳۳هج)

ځواب: سودي رسیدلیکل روانه دی لیکوونکی ګنهګاردی رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلې دي: [عن جابررضی الله عنه قال: لعن رسول الله صلی الله علیه وسلم آکل الربوموکله وکاتبه وشاهدیه وقال هم سواء رواه مسلم (۱) پرکوم فعل چي رسول الله صلی الله علیه وسلم لعنت ویلی وي اندازه دې ولګوله شي چي هغه کاربه څومره ناوړه اوبدوي فقط.

سوال: (۵۸) دسودسندورکول یادحساب پلټنه کول اولیکل صحیح دي، که؟ اودکافر

(۱) الصحیح لمسلم ۲/ ۲۷، کتاب المساقاة والمزارعة، باب الربو، مشکوة المصابیح ص: ۲۴۴، کتاب البیوع، باب الربو).

ملازمت روادی، که نه؟ (۳۲/۱۷۱۹- ۱۳۳۳هج)

ځواب: داسي ملازمت کول چي پکي دسودسندورکول غواړې یادسودحساب یاحکم لیکل وي ټول حرام دي اوپرټولودالله رب العزت لعنت راغلی دی دکافرملازمت صحیح دي خودشرعې په خلاف فعل به نه کوي اوهغه ملازمت چي پکي دشرعې په خلا ف کارکول غواړې ناروادی.

سوال: (۵۹) دسوداخستوونکې، ورکوونکې اودسوددسندلیکوونکې اونورو په اړه څه حکم دی؟ (۳۲/۲۴۷۱- ۱۳۳۳هج)

ځواب: په حدیث شریف کې راغلې دي چي رسول الله صلی الله علیه وسلم پرسوداخستوونکې، ورکوونکې، لیکوونکې شاهدي پرورکوونکې باندي لعنت ویلی دی اوویلې يې دي چي داټول په ګناه کې سره برابردي (۱) په بل حدیث شریف کې راغلې دي الربوا سبعون جزءً ایسرهاان ینکح الرجل امه (۲) دسوداویابرخې دي ترټولوکمه په هغوئ کې داده چي څوک له خپلې مورسره نکاح اووطې وکړي له دې څخه ددغه مرسته کوونکې ګناه معلومېدای شي.

له سودڅخه دتنخواه ورکوونکې نامسلمان سره ملازمت کول

سوال: (۲۰) بېله حلالې روزۍ اوګټې هیڅ عبادت نه قبلیږي اوپه اوس زمانه کې دحلال مال پیداکېدل مشکل دي له چنګۍ دشرابوله کارخانې اونوروڅخه ومامورینوته تنخواوې ورکول کیږي یاکفاروخپل مامورینوته له سودڅخه تنخواوي ورکوي نواونورپه دې صورت کې څه حکم دی؟ (۳۲/۱۷۲۰- ۱۳۳۳هج)

ځواب: ددې پوښتنې لنډځواب دادی چي ترخپل وسه دخپل کسب حلاله طریقه خپلوئ دې ته مه ګورئ چي زه دچامامور یم دهغه آمدني څرنګه ده؟ پخپله چي پرکوم کارنوکرېږې هغه په پوره ډول ترسره کوه اوهغه کاردشرعې په خلاف نه وي دهندوانوملازمت صحیح دی ددوئ سودخوري اونوردملازم لپاره تاواني نه دې لنډه داچي تقوی کول اوله شبهاتوڅخه ځان ساتل

(۲) عن جابررضی الله عنه قال: لعن رسول الله صلی الله علیه وسلم آکل الربوموکله وکاتبه وشاهدیه وقال هم سواء (الصحیح لمسلم ۲/ ۲۷، کتاب المساقاة والمزارعة، باب الربو، مشکوة المصابیح ص: ۲۴۴، کتاب البیوع، باب الربو) مشکوة ص: ۲۴۶ کتاب البیوع، باب الربوا. سنن ابن ماجه ص: ۱۴۲، ابواب التجارات، باب التغلیظ فی الربو

خو په دې زمانه کې مشکل دی ځرګند حرام مه کوئ.

په بېنګ کې ملازمت کول

سوال: (۲۱) په کوم بېنګ کې چې سودی معاملې وي په هغه کې ملازمت کول روادی، که نه؟ دلته ناوسه مسلمانانو له هندوانو څخه قرض اخستی هغوئ به په سل کې څلورپنځه روپی سود اخستی، ځکه والي وایې ځای پرځای بېنګونه جوړکړئ چې پکې صرف یوه روپی، نهه آنې سود مقررکړئ په داسې بېنګ کې ملازمت کول شرعًا روادی، که نه؟ (۱۳۴۴/ ۱۳۴۳هج)

ځواب: په حدیث شریف کې راغلې دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم لعنت ویلی دی پرسود اخستوونکې، ورکوونکې، کاتب اوشاهد باندې (۱) نو په کوم ملازمت کې چې دسود لیکل اوحساب کول غواړې ددغه حدیث په وجه هغه نوکري روانه ده اوسود که لږ ورکول غواړې اوکه ډیر په حرمت کې سره برابردي دغه ډول دلږ سود اخستل یاډیر اخستل مطلقاحرام دي په یوه حدیث کې راغلې دي چې یودرهم دسود خوړل دشپږدیرش زناوو څخه زیاته ګناه لري (۲) والعیاذ بالله.

له سود څخه دخلاصون لاره

سوال: (۲۲) (الف) یوسړی سود اخستی اوله اخستلو وروسته یې په خوښه هغه سود وبخښی آیاهغه سود بخښل کیږي، که به سود ورکوي؟ (ب) یوسړی دسود روپی واخستې اوپه خپلو اصلو اودسود په روپیوپې په ګډه تجارت کاوو خودا ورته معلوم نه دي چې څومره اصلي؟ که دسود روپی ځیني راایستل وغواړې نو څه صورت به یې وي؟ له یوچا څخه یې سود واخست که اوس بېرته یې ورکوي نو که

(۱) عن جابر رضی الله عنه قال: لعن رسول الله صلی الله علیه وسلم آکل الربو وموکله وکاتبه وشاهدیه وقال هم سواء (الصحیح لمسلم ۲/ ۲۷، کتاب المساقاة والمزارعة، باب الربو، مشکوة المصابیح ص: ۲۴۴، کتاب البیوع، باب الربو).

(۲) عن عبید الله بن حنظلة غسیل الملائکة رضی الله عنهما قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم درهم ربو یاکله الرجل وهو یعلم اشد من ستة وثلاثین زنیة رواه احمد والدارقطنی وروی البیهقی فی شعب الایمان عن ابن عباس رضی الله عنهما (مشکوة ص: ۲۴۲ کتاب البیوع، باب الربو)

هغه سړی موجودوي خو هغه ته به یې ورکړي خو که هغه سود ورکوونکی مړشویا چیری ولاړشي نو هغه روپی دکوم خیر په کارکې لګول پکاردي که څه په کول پکاردي؟ (۴۴۰/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

ځواب: (الف) په خوښی که یې هغه سړی وبخښي دسود اخستوونکې غاړې خلاصیږي. (ب) اندازه دې وکړي چې څومره په غالب ګمان ورته سود معلوم شي هغه دې بېلې کړي بېرته دې ورکړي یادې په وبخښي که هغه سړی مړوي نو دهغه وارثانو ته دې ورکړي یایې دې په هغوئ وبخښي فقط والله تعالی اعلم.

دسودي مال دپاکی طریقه

سوال: (۲۳) یوسړی په سود باندې ډیرمال جمع کړاو څه لږ کسب دحلالو لري ددې مال دپاکی څه صورت دی؟ اودغه ګډوډمال په مسجدونو اومدرسوکې لګول روادي، که نه؟ اودامام اومفتی لپاره له دې څخه مېلمستیا خوړل څرنګه دي؟ (۲۵۲/ ۱۳۳۸هج)

ځواب: ددې دپاکی داصورت دی چې دحرام مال په اندازه ومالکانوته یاددوئ ووارثانوته یې بیرته ورکړي یایې په هغوئ وبخښي اوکه دانشي کېدای نو پرمسکېنانو باندې دې صدقه کړي اوپه موجوده حالت کې پرمسجد باندې لګول ددغه حرام اوشکمن مال صحیح نه دی اومېلمستیا خوړل هم له دې څخه صحیح نه ده.

له سودخوری څخه دتوبې طریقه

سوال: (۲۴) زید سودخوري اودزید په اړه یواځې بکرداوېناکوي چې زیدله سودخوړلو څخه توبه کښلې ده اودآئنده لپاره یې نوې معاملې بندي کړې دي اوکومې روپی چې له توبې مخکې پرخلګوپاته دي دهغوئ دولاس ته راوړلو په کوشش کې دی خو په توبه کښلو باندې پرته دبکرله بیانه بل کوم مسلمان په خبرنه دی اوهغه مال چې په ناروا توګه یې ګټلی دی نه یې هغه تلف کړی دی په داسې حال کې کله چې زیدد کوم مسلمان ومخته توبه نه ده کښلې نو دزیدد مسلمان والې دزیږدتوبې کښلو اودپیداکړې مال په اړه څه حکم دی؟ (۳۳۴۱/ ۴۲-۱۳۴۷هج)

ځواب: سود اخستل کبیره ګناه اوحرام دی اودسود معامله کوونکی فاسق اوګنهګار اودکبیرې ګناه کوونکی دی خو مسلمان دی کافرنه دی، ځکه چې داهل سنت والجماعت دامذهب دی چې دکبیره ګناه کوونکی فاسق دی

کافرنه دی اودسودخورپه توبه کې داښی هم داخل دی چې له کومو خلګو څخه یې سوداخستی دی هغوئ ته دې بیرته ورکړي که دبیرته ورکول ممکن نه وي نودسوددمقداراوروپۍ دسوددي پرمسکېنانوصدقه کړي په درمختارکې راغلې دي [علیه دیون ومظالم جهل اربابهاوأیس من علیه ذلک من معرفتهم فعلیه التصدق بقدرهاالخ(۱)

په سودخوروتوبه ایستل دمسلمانانودډلې دینې ذمواري ده

سوال: (۲۵) دمسلمانانویوې ډلې پرمسلمانانوسودخوروباندي کورنی فشار واچوی له سودڅخه یې توبه په کښل وغوښتل، څکه نوله سودڅخه توبه هم وایستله خوځوکسانونه توبه‌کښلې ده اونه یې انکارکړی دی اوځیني خلګو داسي وویل چې نن خوموږ توبه ضرورکاږواماکوم سودچې موپرخلګوپاته دی هغه به ضروراخلواوځینوخلګوقطع نظرله توبې ایستلوڅخه دتوبې لپاره ورته ویوونکې خلګوباندي هم لرګي راواخستلوپه دې صورت کې ددرېیوډولو خلګوپه اړه څه حکم دی؟(۵۲۲/ ۳۳-۱۳۳۴هج)

خواب: دامربالمعروف اونهی عن المنکراقتضاء همداده کومه چې له سودڅخه په توبه ورباندي کښلوخلګووکړه اوس که یې څوک نه مني نوهغوئ پوه شول دتوبې ورته ویوونکوغاړې خلاصې شوې اوکومو خلګوچې نه توبه وکښه اونه یې انکاروکړهغوئ هم ګنهګاردي خوچاچې انکاروکړاوپه مقابله اودعوی راغلوهغوئ زیات ګنهګاردي اوکوم چې داوایې چې موږتوبه کاږواماپاته سودبه خاماخااخلودهغوئ توبه په ربښتیانه ده هغوئ هم دتوبې نه کښوونکې په کتارکې دي.

دبېنګ سودکه چااستعمال کړنوڅه به کوي؟

سوال: (۲۶) که چاله بېنګ څخه اخستی سودخوړلی وي نوهغومره روپۍ که ومسکېنانوته ورکړي اوتوبه وکاږي نوګناه به لیري شي؟(۱۳۵۲/ ۱۳۴۲هج)

خواب: ګناه به لیري شي ان شاء الله تعالی.

دسوداونوروحراموروپیومصرف

سوال: (۲۷) دیوسړی سره دسودروپۍ دي اوس داپه کوم مصرف کې ولګوي آیاله سودڅخه

(۱) الدرمع الشامی (۳/ ۳۵۳) کتاب اللقطة، مطلب فیمن علیه دیون ومظالم جهل اربابهاط رشیدیه.

له توبې کښلووروسته داروپۍ حلالیږی؟ دمسجدیادمدرسې په تنخواه یاد مسافرو دسفرپه خرڅ اونوروکې یې لګول څرنګه دي؟ که سوداصل مالک ته ورکول شي (۲۵۰۵/ ۱۳۳۷هج)

خواب: له توبې وروسته دسوروپۍ ومالکانوته یادهغوئ وارثانوته ورکړئ اوکه هغوئ موجودنه وي یامعلوم نه وي نوباید پرمسکېنانوصدقه شي په مسجدکې یې لګول صحیح نه دي اوپه مدرسه کې ومسکېنانوطالبانوته ورکول هم صحیح دي ومدرسینوته په تنخواه کې ورکول صحیح نه دي، مسافرکه محتاج وي نوهغه ته یې هم ورکول صحیح دي.

سوال: (۲۸) معلوم شوې دي چې دبېنګ اوډاکخانې دسودپه اړه چې کوم سوال دعلماء کراموترغورلاندي وودهغه فیصله وشوه که داصحیح وي نوپه دې فیصله داخاکساهم خبرکړئ(۱۴۵/ ۱۳۴۳هج)

خواب: له دې مدرسې څخه کومه فتوی دډاکخانې دسوددجوازپه اړه نه ده خپره شوې په عامه توګه دسودناروا والې فتوی له دې ځایه ورکوله کیږي اوداليکل کیږي چې دمسلمانانولپاره داسې کول صحیح نه دي چې په ډاکخانه کې دسوداخستلوپه قرض روپۍ داخلي کړي امادکومو خلګوروپۍ چې هلته داخلي دي هغوئ ته داویل کیږي چې دسودروپۍ هلته پکې مه پریږدئ، څکه هلته په پرېښوولوکې یې داسلام اومسلمانانوپه خلاف استعمالیږي، څکه نوداراواخلئ پرمسکېنانواوناوسویې صدقه کړئ کوم چې دداسې حراموروپیوحکم دی فقط.

دسودروپۍ وانګریزي زدکوونکومسکېنانوطالبانوته ورکول

سوال: (۲۹) دلمانځه اوروژوپابنده مسلماني ډلې خپلې روپۍ په بېنګ کې جمع کړې څه موده وروسته ودوئ ته ددغه روپیوسودورکول کیږي داډله داغواړې چې دسودروپۍ دانګریزي زدکوونکوځوانانوطالبانوپه مرسته کې ولګوي دپورته یادشوې صورت په اړه شریعت څه حکم کوي؟(۵/ ۴۴-۱۳۴۵هج)

خواب: ددغه روپیوشرعًا حکم دادی چې داروپۍ راواخلئ پرناوسواو مسکېنانوباندي یې صدقه کړئ، څکه چې اصلا خوسوداخستل حرام اوناروا دی خوهلته دده په پرېښوولوکې داتاوان دی چې له هغه ځایه داروپۍ وپادریانوته ورکول کیږي

کله چي هغه خلګ وانه خلي دکوموروپۍ چي هلته داخلي دي هغه پادريان بيادادخپل مذهب په خپرونه کي لګوي، ځکه داحکم بيانيږي چي داروپۍ هلته مه پريږدئ بلکي له هغه ځايه يي راواخلئ پرمسکينانوباندي يي صدقه کړئ چي. دداسي حراموماللونوهمداحکم دی نوکه هغه انګريزي زدکوونکي ځونان طالبان مسکينان دي نودوئ ته يي ورکول هم صحيح دي فقط.

دسودپرورکولوځوک مجبورول روانه دي

سوال: (۷۰) زيداوعمرنيم په نيمه په شراکت باندي په سودقرض واخست تجارت يي په وکړعمردخپلي برخي روپۍ سره دسوده وهندوته له چاځخه چي يي قرض اخستي وي ورکړي زيدحلاله اداکولوځخه مجبوروو بياعمردزيدسره دسوده وهندوته ورکړي تردووکلونوپوري زيدوعمرته سودورکاووعمروفات شودده ښځه له زيدځخه دسودغوښتنه کوي زيدپه اصل روپيوورکولوراضي دی آيادشرعي له مخي زيددغه سودپرورکولومجبوردی، که نه؟ (۹۲/ ۴۴-۱۳۴۵هج)

خواب: زيدپرسودورکولومه مجبوروئ اودده لپاره سودورکول روانه دی قال الله تعالی واحل الله البيع وحرم الربو (سورة بقره آيت: ۲۷۵) وفی الحديث لعن رسو الله صلی الله عليه وسلم آکل الربوو موکله الحديث(۱) فقط.

دسودخوردوارثانولپاره دسودمال حلال دی، که نه؟

سوال: (۷۱) دسودخوردوارثانولپاره دسودمال حلال دی، که نه؟ (۱۸۹/ ۱۳۴۳هج)

خواب: په دي کي درواياتونواختلا ف دی زيات احتياط دادی چي له چاځخه يي سوداخستی دی وهغوئ ته يادهغوئ ووارثانوته دي بيرته ورکړي يادي په دوئ وبخښي اوکه دانشي کيدای نودادي صدقه کړي په درمختارکي راغلي دي وفی حظرالاشباه الحرمة تتعدی مع العلم بهاالافی حق الوارث وقيده فی الظهيرية بأن لايعلم ارباب الاموال الخ وقال فی الشامی قوله (الاحق الوارث) ای فانه اذاعلم ان کسب مورثه حرام يحل له لکن اذاعلم المالک بعينه فلاشک فی حرمته ووجوب رده.

(۱) الصحيح لمسلم ۲/ ۲۷ کتاب المساقاة والمزارعة، باب الربو، مشکوة المصابيح ص: ۲۴۴، کتاب البيوع و باب الربو.

عليه وهذامعنی قوله وقيده فی الظهيرية الخ(۱) وتمام تحقيقه فيه.

دسودپه روپيودمال ټيکس (ماليه) اداکول

سوال: (۷۲) زماروپۍ په بېنک کي جمع دي زه دهغه په سوددمال ټيکس اداکولای شم اودارواودی، که نه؟ (۱۲۲۲/ ۱۳۴۵هج)

خواب: په بېنک کي په روپۍ جمع کولو سوداخستل حرام دی خودچاروپۍ چي په بېنک کي داخلي دي اوله بېنک ځخه ده ته سودورکول شي نودغه دسود روپۍ هلته بايدنه پريږدي چي هلته په پرېښوولوداروپۍ وعيسايانوته دخپل مذهب دتبليغاتولپاره ورکولي کيږي بلکي له هغه ځايه دي راواخلي ومسکينا نواوناوسومسلمانانوته دي ورکړي پخپل کوم کارکي يي مه لګوئ اودمال دټيکس په اداکولوکي هم ګنجائش شته.

دسودپرروپيوزکوة واجب دی، که نه؟

سوال: (۷۳) حکومت چي کوم قرضونه دجنګ پروخت اخستي وواوپه سل کي دپنځوروپيودسودورکولواقراريي کړی وودغه سوداخستل اوپخپل کارکي لګول کله چي دګذاري صورت نه وي جائزدی، که نه؟ اوپردغه روپيوزکوة واجب دی، که نه؟ دوجوب په صورت کي له اصلوروپوځخه به يي ورکوي که له سودځخه؟ اوله وصولولومخکي به هم واجب وي، که نه؟ (۱۲۲۲/۱۳۴۵هج)

خواب: لنډيزدجواب په دي اړه دادی چي سودپه قطعي بنصوصوحرامدی خوپه دغه صورت کي دي هغه روپۍ دسودهلته نه پريږدي بلکي له هغه ځايه دي راواخلي پرمسکينانوباندي دي صدقه کړي اوکيدای شي چي په اضطراري حالت کي پخپله هم پخپل کارکي ولګوي اوکه دغه روپۍ سم دستي راواخلي صدقه يي کړي نوپردي زکوة نشته اوکه يي راواخلي ټول کال يي پخپل ملک کي وساتي په دي شرط چي هغه دنصاب په اندازه وي نوزکوة واجبيږي له هرډول روپۍ ځخه چي ورکوي يي لنډه داچي له وصولولومخکي ددي زکوة نه واجبيږي فقط.

دمال په پوراخستلوپه وجه دمال پرقيمت سوداخستل

سوال: (۷۴) اوربدلي مودي چي سوداخستوونکی اوورکوونکي ته يوډول عذاب وي زيدتجارت کوي

(۱) الدروالشامی (۴/ ۱۴۲) کتاب البيوع، مطلب فيمن ورث مالاحراماط رشيديه.

اوله غټوسوداګرانو څخه مال په پوروَاخلي بیایې خرڅوي اودپورپه وجه هغه سوداګرله ده څخه دمال پرقیمت باندي سوداخلي ددې دجوازکوم صورت شته ، که نه ؟ (۳۲/۱۳۳۲-۱۳۳۳هج)

ځواب : داخوپه صحیح حدیث شریف ثابت دي چي سودخوړوونکی ، لیکوونکی ،خوړوونکی اوشاهدیې په ګناه اوعذاب کي سره برابردي (۱) که څه هم ددې په مقداراوکیفیت کي فرق وي ،ځکه نونغدي روپۍ که له سوداګرانو څخه په قرض واخلي پرهغه باندي یې سودمقررکړي اوسودورکول شي نوددې درواکیدوهیڅ صورت په شریعت کي نشته اماکه مال له دوئ څخه وایستل شي اوپه هغه کي دوئ له اصل قیمت څخه څه زیات دپورپه وجه ولګوي نوداصحیح دی زیدپه دغه معاملهکي بایدداوګڼي چي دپورپه وجه سوداګرماته دلسوروپیوشی په دوولس روپۍ راکوي داروادی فقهاؤدالیکلې دي چي که دپورپه وجه دمبیع زیات قیمت واخستل شي نواخستل اوورکول دهغه صحیح دي اودبائع اومشتري په هکله هغه حلال دی (۲) نودغوسوداګرانوته دې زیدداووایې چي خومره تاسوزیاتوب غواړئ دپورپه وجه هغه دمال په قیمت کي ورزیات کړئ مثلا زیدکه دلسوروپیومال له سوداګرانو څخه رانیوی اوهغه سوداګران دلسوروپیوپرځای دوولس روپۍ مثلاً ځیني اخلي نوزیددې دوئ ته داووایې چي زه دوولس روپۍ درکوم خوهغه به ددې مال قیمت وي کاشکې چي هغه سوداګران همداسې وکړي نورنوهغه چي هرڅه بولې بولې دې زیددې دوئ ته ووایې چي زه زیات قیمت درکوم نودسوداګرانوپه دې کي هیڅ نقصان نشته دوئ به هیڅ دلیل نه وایې فقط.

له روپۍ په پورورکولووروسته دتان پرسردوې آنې سودمقررول

سوال : (۷۵) یوسړی سودخونه اخلي خوروپۍ وجولاته ورکړي دیوه تان پرسر باندي دوې آنې مقرري کړي داصورت دمضاربت خونه معلومیږي آیاروا هم دی ، که نه ؟ (۷۳۲/۱۳۳۵هج)

ځواب: داصورت دمضاربت نه دی ،ځکه چي په دې کي په ګټه اوتاوان دواړو کي شراکت وي

(۱)عن جابررضی الله عنه قال: لعن رسول الله صلی الله علیه وسلم آکل الربو وموکله وکاتبه وشاهدیه وقال هم سواء (الصحیح لمسلم ۲/۲۷، کتاب المساقاة والمزارعة ،باب الربو، مشکوة المصابیح ص: ۲۴۴، کتاب البیوع ، باب الربو).

(۲) الایری انه یزادفی الثمن لأجل الأجل الخ (هدایة ۳/۷۴ کتاب البیوع ،باب المرابحة والتولیة).

یعنی ګټه دشرط سره سمه پردواړوویشله کیږي اوپه نقصان کي دمضارب محنت اودرب المال ضایع کیږي دغه رنګه ګټه سره شریکه وي یعني نیمی یادرېیمه اونور ،ځکه نوداصورت دمضاربت نه دی بلکې داځرګند دسودصورت دی چي روپۍ په قرض ورکړي دتان پرسرباندي یوه یادوې آنې مقرري کړي داهمداسې دی لکه چي دیوې روپۍ پرسریوه یادوې آنې مقرري کړي فقط.

په ګروله اخستې مکان څخه استفاده کول سوددی ، که نه ؟

سوال : (۷۶) زیدبکرمکان په ګرونیولی دی په کرایه باندي یې ورکړی دی اواستفاده ځیني کوي داکرایه په سودکې داخله ده ، که نه ؟ که داخله ده نوزید بایدڅه سزاوي ؟ (۳۵/۵۳-۱۳۳۶هج)

ځواب : داپه سودکې داخله ده داکرایه بایدوبکرته ورکړي اووزیدته پکاردي چي توبه وکاږي.

څرمن په پورخرڅول روپۍ وروسته وصولول سودنه دی

سوال : (۷۷) زیددڅرمنوتجارت کوي څرمن په پورخرڅه کړي وروسته روپۍ وصولوي آیاداهم سوددی ؟ (۱۱۳۲/ ۱۳۳۸هج)

ځواب: څرمن چي په پورورکول کیږي اوقیمت یې وروسته راځي داسودنه دی.

دمنی آړر (دروپیولیږلو) فیس په سودکې داخل دی ، که نه ؟

سوال : (۷۸) دمنی آړرفیس سوددی ، که نه ؟ اوپه همدې وجه منی آړرکول روادي ، که نه ؟ (۳۴۷/ ۱۳۴۰،۳۹هج)

ځواب : دضرورت په وجه دمنی آړرکولواولیږلودجوازفتوی ده که څه هم اصلاداً مکروه ووخودالضرورات تبیح المحظورات (۱) په حکم ورته مباح ویل کیږي په ډاګخانه کې

دجمع روپیوسودپخپله استعمالولای شي ، که نه ؟

سوال : (۷۹) ومسلمان ته په ډاکخانه کي دروپیوجمع کولوچي کوم سودورکول کیږي دغه

(۱) الدرمع الرد (۲/ ۲۷۰) کتاب الطلاق ، فصل فی الحداد ط رشیدیه.

سود پخپله استعمالولای شي ،که نه ؟ (۱۵۳۹/ ۱۳۴۰هج)

ځواب: کوم سود چي له ډاکخانې څخه ورکول کیږي هغه راواخلئ پرمسکینانو باندي یې صدقه کړئ پخپله یې مه استعمالوئ فقط.

دسود په نوم چي کومې زیاتوب روپۍ ورکول کیږي هغه پخپل حق کې وصولول

سوال: (۸۰) پرزید باندي دخالد پنځو کلونو ټیکس (مالیه) پاته ده اودقانون سره سم هغه له دریو کلونو څخه دزیاتو دعوی نشي کولای نه یې اخستلای شي نوکومې روپۍ چي له ټیکس څخه پرته دسود په نوم ملاوشي هغه اخستل روادي ،که نه ؟ کله چي پرزید باندي ددوو کلونو ټیکس پاته دی (۲۹۲۹/ ۱۳۴۱هج)

ځواب: دغه زیاتوب روپۍ چي دسود په نامه ځیني وراخستل شوې دي خالد دخپل پاته ټیکس په حق کې وصولولای شي اوداخستل صحیح دي ،ځکه چي خپل حق په هره طریقه وصولول جائزدي کماصرح به الفقهاء ان صاحب الحق له اخذحقه من ای جنس کان (۱) فقط.

دتجارت لپاره دروپوورکولومعلومه ګټه اخستل سوددی

سوال: (۸۱) زیدخپلې روپۍ پخپله یادنوروخلګوپه شناخت پرمسلمانانو یانامسلمانوداډول ویشي چي لس روپۍ سړی ته ورکړي چي دغه روپۍ په تجارت کې ولګوي استفاده ځیني کوي نه داچي بې ځایه یې ولګوي په کال کې دننه دوولس روپۍ ځیني اخستل داسي مقرروي چي دغه سړی به ونوموړي زیدیادده ودلالانوته ټول کال دمیاشتې یوه روپۍ ورکوي دامعامله جائزده که سودده ؟ زیددا تجارت حلال بولي (۱۴۹۷/ ۱۳۴۲هج)

ځواب: دامعامله په حلال تجارت کې داخله نه ده بلکي حرام تجارت او سود دی ،ځکه چي

(۱) فی الدر: واطلق الشافعی اخذخلاف الجنس للمجانسة فی المالیة قال فی المجتبی وهواوسع فیعمل به عند الضرورة وفی الشامی ان عدم جوازالاخذمن خلاف الجنس کان فی زمانهم لمطاوعتهم فی الحقوق والفتوی الیوم علی جواز الاخذعندالقدرة من ای مال کان لاسیمافی دیارنالمداومتهم للعقوق (الدرو الشامی (۳/ ۲۱۹) کتاب السرقة ، مطلب یعذربالعمل بمذهب الغیرعند الضرورة ط رشیدیه).

که کوم سړی بل چاته دتجارت په غرض روپۍ ورکړي نودامضاربت وي اوپه مضاربت کې حکم دادی چي کوم ګټه کارکوونکې ته وشي په هغې کې دمضارب برخه شریکه وي یعنی نیمه یادریمه اونوره برخه مقرره شي هغه وخت مضاربت صحیح کیږي اوکه دمضارب برخه په ګټه کې شریکه نه وي بلکي معلومې روپۍ وي لکه چي په بیان شوي صورت کې دي نودامضاربت فاسداوحرام دی په درمختارکې راغلي دي وشرطهاکون الربح بینهماشائعا فلو عین قدرًا فسدت الخ (۱) وفی باب الربومنه فدخل ربوالنسیئة والبیوع الفاسدة فکلهامن الربو(۲) اوکه دمضاربت اودمضاربت دشرطونوپه طریقه روپۍ نه ورکولې شي بلکي مثلا لس روپۍ ورکړي له لسوڅخه زیاتي اخستل مقررکړي لکه چي په بیان شوي صورت کې داهم صادقیږي ،ځکه چي ټول کال دلسوروپیو ،دوه ویشت روپۍ جوړیږي لس روپۍ اصلي اودوولس روپۍ دګټې نوعین سوداوحرام دی لکه چي په متفق علیه حدیث کې راغلي دي : لاتبیعواالذهب بالذهب الامثلا بمثل ولاتشفوابعضهاعلی بعض ولاتبیعوا الورق بالورق الامثلا بمثل ولاتشفوابعضهاعلی بعض ولاتبیعوا منها غائبا بنا جز متفق علیه (۳) فقط

دسودخوراوړه اودال دخپلواوړواودالوسره یوځای ګډپخول

سوال: (۸۲) دیوسردارصاحب خوراک داسي خلګوله کوره مقرردی کوم چي سوداخلي اودسردارصاحب دووډۍ زماپه کورکې پخیږي دغه اوړه اودال بدلول پکاردي ،که نه ؟ که یې بدل نکړي نوپرمابه په یوځای پخولودسودګناه وي ،که نه (۴۳۵/ ۱۳۴۳هج)

ځواب: پرتاهیڅ ګناه دسودنشته اوړه اودال که بدلوي اوکه نه همداسي یې دخپلواوړواودالوسره پخوه اودسردارصاحب برخه ده ته ورکوه.

دسودد نامه په بدلولوسره دسود حرمت نه ختمیږي

سوال: (۸۳) دلندن عیسایانوپه هندوستان کې یوه کمپنۍ جوړه کړې ده عیسایان ددې

(۱) الدرالمختارمع ردالمحتار(۴/ ۵۴۰) کتاب المضاربة ط رشیدیه.
(۲) الدرالمختارمع الشامی (۴/ ۱۹۲) کتاب البیوع اوائل باب الربوط رشیدیه.
(۳) عن ابی سعید الخدری رضی الله عنه ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: لاتبیعو الذهب بالذهب الحدیث (الصحیح لمسلم ۲/ ۳۴ کتاب المساقاة والمزارعة ،باب الربو).

ځوک ددې دلال شي په هغه باندي له
مالکان دي دې کمپنۍ. دااصول مقرر کړې دي چي
مخکې څخه روپۍ جمع کړي اوپردغه روپیوباندي په سل کې پنځه روپۍ بیرته ورکوي
دغه بیرته ورکول دهندوانوپه هکله په سودنوموي اود مسلمانانوپه هکله یې په انعام
نوموي ددې اخستل روادي ،که نه ؟(۵۰۲/ ۱۳۴۳هج)

ځواب: داسوددی دمسلمانانولپاره ددې اخستل اوپخپله استعمالول روانه دي فقط.

دمالک په ویناد مامورپه بینګ کې روپۍ جمع کول

سوال: (۸۴) (الف) بکرد زید ملازم دی زید ددې بلنه ورکوي چي دبېنګ په دغه بچت
کې برخه واخله چي ستا سود خواخوړۍ لپاره به اسکول (ښوونځی) کې جاري کړی دی په
دي کې به د کاله په سل کې اووه روپۍ سوددرکول کیږي بکرپکې برخه واخلي ،که نه ؟
(ب) که زید دبکرله تنخوا څخه دبېنګ دبرخې په اندازه دویشلوپروخت له مخکې څخه
دبکرله خوښې پرته پخپله دبېنګ لپاره وګرځوي نو دبکرلپاره څه حکم دی ؟ په پای کې
دروپیولاس ته راوړلوپه صورت کې چي کوم سودورکول شي دهغه څه حکم دی ؟
(ج) زیدوبکرته وایې چي ته دبېنګ په بچت کې برخه واخله اووروسته سودمه اخله
صرف خپلې روپۍ ځیني راواخله ددې په اړه څه حکم دی ؟(۸۲۸/ ۱۳۴۳هج)

ځواب: (الف) پخپل اختیارپه دې کې برخه نه دي اخستل پکار ،ځکه چي په ګناه کې
دهیچا اطاعت صحیح نه دی کماورد: لاطاعة لمخلوق فی معصیة الخالق(۱)
(ب) په دې صورت کې بکرنه ګنهګاریږي اوکله چي سودورکړي پرمسکینانو
مسلمانانودې صدقه کړي.
(ج) هلته دې نه پریږدي بلکي راوادي اخلي پرناوسومسلمانانودې صدقه کړي.

دډاکخانې دسوداودکیش سارټیفکیټ حکم

سوال: (۸۵) (الف) په ډاکخانه کې چیکومې روپۍ جمع کیږي پرهغوئ باندي له کاله
درې روپۍ سودورکوي دهغه اخستل روادي ،که نه ؟

(۱) عن الحسن قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لاطاعة لمخلوق فی معصیة الخالق (مصنف ابن ابی شیبة ۶/ ۵۴۹کتاب السیر، فی امام السریة بأمرهم بالمعصیة من قال: لاطاعة له).

(ب) دکیش سارټیفکیټ داطریقه رواج شوې ده چي په ډاکخانه کې یوکاغذپه اووه
نیمې روپۍ خرڅیږي پنځه کاله وروسته چي هغه کاغذډاکخانې ته بیرته وړي لس روپۍ
ورکوي آیاداجائزدی ؟(۹۱۱/ ۱۳۴۳هج)

ځواب: (الف ، ب) دادواړه صورتونه شرعًا ناروادي لکه چي راغلې دي [کل قرض
جرنفعا فهوربو(۱)] اودربوا حرمت په آیتونواواحادیثوثابت دی رسول الله صلی الله علیه
وسلم پرسوداخستوونکې ، ورکوونکې ، لعنت ویلی دی(۲) اوپه یوه حدیث کې راغلې
دي چي یو درهم دسودترشپږدیرشوزناووډیربددی (۳) اوپه بل حدیث کې راغلې دي چي
دسوداویابرخې دي په هغوئ کې ترټولو کمه داسي ده لکه چي له خپلې مورسره زناکول
(۴) والعیاذبالله تعالی اوسود کېدل ددغودواړومعاملوښکاره دي داهغه تجارت نه دی
چي حلال دی بلکي سوددی کوم چي حرام دی قال الله تعالی [واحل الله البیع وحرم
الربوا]سورة بقره آیت: ۲۷۵) فقط.

دکپړې دټول قیمت دپروخت نه اداکولوپه صورت کې دسودغوښتنه کول

سوال: (۸۶) بکراوزیدسره خپلوان دي زیدوبکرته وویل چي ماته څه کپړه راوانیسه
بکرله

(۱) عن الحکم عن ابراهیم قال : کل قرض جرنفعافهوربو(مصنف ابن ابی شیبه ۴/ ۳۳۳کتاب البیوع والاقضیة ،باب من کره کل قرض جرمنفعة المطبوعة دارالکتب العلمیة ،بیروت ،لبنان)

(۲)عن جابررضی الله عنه قال: لعن رسول الله صلی الله علیه وسلم آکل الربوومو کله وکاتبه وشاهدیه وقال هم سواء (الصحیح لمسلم۲/ ۲۷، کتاب المساقاة والمزارعة ،باب الربو، مشکوة المصابیح ص: ۲۴۴، کتاب البیوع ، باب الربو).
(۴)عن ابی هریرة رضی الله عنه قال: قال رسو ل الله صلی الله علیه وسلم الربوسبعون جزءً (وفی ابن ماجه: حوبًا) ایسره ان ینکح الرجل امه (مشکوة ص: ۲۴۶کتاب البیوع وباب الربو ،(۳) عن عبدالله بن حنظلة غسیل الملا ئکة قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: درهم ربایاکله الرجل وهویعلم اشدمن ستة وثلاثین زنیة رواه احمدوالدارقطنی وروی البیهقی فی شعب الایمان عن ابنب عباس رضی الله عنهما (مشکوة ص: ۲۴۶، کتاب البیوع ،باب الربوا)
سنن ابن ماجه ص: ۱۴۲، ابواب التجارات ، باب التغلیظ فی الربو.

هندوخخه په یوسل ، نوولس روپۍ کېږه وررانیوله اوداخبره سره وشوه چي که دې په درې میاشتې کې دننه روپۍ راداکړې نوسوداونوریوشی نه درڅخه اخلم وروسته سوددرڅخه غوارم داخبره بکرومنله زیدپه نژدې درې کاله سل روپۍ وبکرته ورکړې بکروهندوته یوشی نه دی ورکړی هغه مجبورشوډیرسودیې ورباندي واچاووحکومت ته یې عارضه وکړه بکروزیدته خبرتیاورکړه چی داسي معامله شوې ده اوس که څه خرڅ اونورراغلی ستاڅخه به اخستل کیږي لنډه داچي پرزیددسوداداکول لازم دي اوکنه ؟ (۱۷۱۲/ ۱۳۴۳هج)

ځواب : په دې صورت کې پرزیدباندي دسوداداکول واجب نه دي پرزیدباندي داصل قرض ورکول لازم دي اوله هغه څخه سل روپۍ ده ورکړې دي نورې نوولس روپۍ دې دی نورې ورکړي شرعًا له زید څخه دسود غوښتنه نشي کېدای فقط.

دمحکمې دکاروايې دزیاتوب دخرڅ وصولولولپاره په سود ورباندي اچولوسره عارضه کول

سوال : (۸۷) دجامع مسجد سکندرابادددکانونوکرایه دارانوپه خلاف عارضه کول دي نوڅه خرڅ بی ضابطه وي هغه عدالت دمدعی علیه څخه نه وراخلي نوایاسوداخستل چي عارضه وشي چي زیاتوب خرڅ وصول شي کنې دجامع مسجدبه ډیر نقصان وي (۱۲۲۲/ ۱۳۴۵هج)

ځواب : په سودورباندي په اچولوسره عارضه کول نه دي پکارکوم څه خرڅ چي دمسجدوشي هغه پروانلري ،ځکه چي په آئنده کې په دې کې دمسجدګټه ده چي دمسجددکانونه به خوندي شي فقط.

سوال : (۸۸) په پوروړې باندي دحتیاط په توګه په اسنادوکې سودولیکي که پوروړی پورادانکړي اوخبره ترمحکمې ورسیږي نوپوروركوونکی به خپلې اصلي روپۍ اودمحکمې خرڅ ځیني واخلي پهدې کې دمسلمان اونامسلمان سره یوډول معامله کیږي که بېله ؟(۲۴۱/ ۴۲ - ۱۳۴۷هج)

ځواب : سودي اسنادلیکل صحیح نه دي چي په حدیث شریف کې دسودپر لیکوو نکې ، اوشاهدي ویوونکې باندي هم لعنت راغلی دی اودپوروړې دضداودسرکښۍ په صورت کې که خبره ترمحکمې ورسیږي نوپوروركوونکی خپل اصل قرض اودمحکمې خرڅ له پوروړي څخه اخستلای شي اوپه دغومعاملوکې دمسلمان اونامسلمان هیڅ فرق نشته فقط.

دلاټرۍ حکم

سوال : (۸۹) لاټرۍ دې ته وايې چي یوه کمپنۍ ده دکمپنۍ مالک زریالس زره یاتردې زیات ټکټونه خرڅ کړل دهرټکټ قیمت یوه روپۍ دی اوپرهرټکټ باندي خپله شمېره لیکلې ده څومره ټیکټونه چي خرڅ کړل شول دهریوه شمېره دکمپنۍ مالک له ځان سره ساتي کله چي ټول ټکټونه خرڅ شي نودلاټرۍ خلاصلولوتاریخ مقرروي چي په فلاني تاریخ به لاټرۍ خلاصیږي اوس پرټاکلې تاریخ باندي هغه ټول ټکټونه چي داکمپنۍ مالک له ځان سره ساتلې ووهغه په یوه منګې یابل شی کې واچوي په یوماشوم باندي هغه ټکټونه راکاږي اوس چي دچانوم اودټکټ مخکې راووځي هغه ته روپۍ ورکوي کومې چي دټکټونوپه خرڅولوجمع شوې وي اوله همدغوروپیوڅخه دکمپنۍ مالک خپل کمېشن راګرځوي نواوس چي دچاپه نوم داروپۍ راووځي دهغه لپاره یې اخستل روادي ،که نه ؟(۱۰۹۷/ ۱۳۳۵هج)

ځواب : داخمار(جواری) ده شرعًا روانه دی دچانوم چي راووځي دهغه لپاره دغه روپۍ اخستل صحیح نه دي اونه دکمپنۍ دمالک لپاره کمېشن اخستل صحیح دی بلکې دچا ،چاروپۍ چي وي هغوئ ته یې بېرته ورکول پکاردي دکوم خیرپه کارکې ددې لګول صحیح نه دي اوهیڅکله داسي معامله مه کوئ کوم ، کوم چاچي یوه ،یوه روپۍ درکړې ده هغه ، هغه ته بیرته ورکړئ که هغه نه وي وورثانوته یې ورکړئ (کنې صدقه یې کړئ کمپوزر)

دلاټرۍ (دخسنمي) په وسیله دخرڅولوحکم

سوال : (۹۰) زیددخپل پلاردسوددقرض اداکولولپاره انجن خرڅول غواړې خودهغه په کم قیمت خرڅولوهم کوم صورت نشته اودقرض روپۍ خوسودي دي ،ځکه روپۍ زیاتیږی اوس دانجن دخرڅولویوصورت دادی چي دانجن قرعه (پچه ،هسکه) وشي آیادسودله قرض څخه دخلاصېدولپاره انجن دلاټرۍ په وسیله خرڅول پکاردي ، که نه ؟(۱۱۷/ ۴۲ - ۱۳۴۷هج)

ځواب : داصورت دبیع قطعی حرام اوباطل اوخوړل دخلګودمالودي په باطل سره چي

حرمت یې په نص ثابت دی او خماردی کوم چې څرګند حرام دی لنډه داچې په دې کې په ډیروو جودډیرو حرامو کارونو کول راځي زما په رأیه دا صورت له هغه څخه ډیر بد دی، ځکه نو دا په هیڅ ډول مه خپلوئ فقط.

دلاټرۍ ټکټ رانیول

سوال: (۹۱) پنځوس یا سل کسان که په ګډه ټکټ رانیسي او هغه یو شی دیو سړی په برخه کې راشي نو د دې اخستل روادي، که نه؟ (۱۷۲۳/ ۱۳۳۸هج)

څواب: دا ډول رانیول او خرڅول روانه دي په دې کې دو که ده او د خلګو حق وهل دي او په باطله وسیله باندي د خلګو مال اخستل دي قال الله تعالی [ولاتأکلوا اموالکم بینکم بالباطل الآ یة (سورة آیت: ۱۸۸) او په حقیقت کې قماردی له دې څخه پرهیز لازم دی او د چاپه نامه چې دا شی راووزي د هغه لپاره یې اخستل ناروادي.

سوال: (۹۲) ځیني دیورپ او سېدوونکو دا ډول کمپنۍ جوړې کړې دي چې په هغه کې دوئ مثلا یو شی په پنځوس روپۍ خرڅوي خو دا ډول چې پنځوس ټکټونه دیوې، یوې روپۍ پر خلګو ویشي چې د چانوم په هسکه کې راووځي هغه ته دیوې روپۍ د ټکټ په عوض کې هغه د پنځو سورو پیو شی ورکوي په دې کې برخه اخستل روادي، که نه؟ (۵۲۱/ ۱۳۴۳هج)

څواب: په دې کې برخه اخستل روانه دي دا قماردی فقط.

له فقیرانو او مسکینانو څخه دلاټرۍ شمېره پوښتل

سوال: (۹۲) له ملنګیانو او نورو څخه دلاټرۍ شمېره پوښتل چې په دې وار به دلاټرۍ شمېره څووي او کوم څه چې دوي ښیې هغه سم بلل څرنګه دي؟ (۱۱۷۲/ ۱۳۳۸هج)

څواب: پوښتل هم ناروادي او دا سم بلل هم ناروادي او دناپوهۍ فکردی فقط.

دقمار (جواری) حکم

سوال: (۹۴) قمار (خمار) کول شرعًا صحیح دی، که نه؟ او دداسي سړی شرعًا څه سزا ده؟ (۲۰۰۸/ ۱۳۴۳هج)

څواب: قمار کول حرام دی او هغه سړی فاسق دی.

سوال: (۹۵) (الف) یو سړی قمار وکړي د هغه په هکله شرعًا څه حکم دی؟

(ب) کومې ښځې چې قمار کوي د هغوئ سزا څه ده؟ او کوم څوک چې سره له دې چې مسلمان وي بیا هم د سود روپۍ خوري د هغه لپاره څه حکم دی؟ (۸۷۲/ ۱۳۴۵هج)

څواب: (الف) دی باید توبه وکاږي په آئنده کې دې هیڅکله قمار نه کوي او پر تیرو دې توبه وکاږي استغفار دې ووایې په حدیث شریف کې راغلې دي: چا چې له ګناه څخه توبه وایسته هغه پاک شو(۱)

(ب) قمار کول او سودخوړل حرام دي له دغو کارونو څخه توبه کول پکار دي او په ښځو باندي توبه ایستل پکار دي فقط.

دقماریو صورت او د هغه حکم

سوال: (۹۶) یوې تجارتي کمپنۍ اعلا ن خپور کړی دی چې څوک زموږ څخه د دریو روپو کتابونه رانیسي موږ هغه ته د دریو روپو کتابونه ورلیږو او هغه ته پنځه سوه روپۍ د انعام په توګه دا ډول ورکوو چې د ټولو رانیوونکو نومونه جمع کوو خسنۍ (قرعه) اچوو چې د چانوم په هسکه کې راووځي هغه ته به دغه روپۍ. له دغو کتابونو پرته ورکول کیږي دا صورت روادی، که نه؟ (۱۱۰۵/ ۱۳۴۵هج)

څواب: دا صورت د رانیولو او خرڅولو روانه دی، ځکه چې په حدیث شریف کې راغلې دي نهی عن بیع وشرط (۲) یعنی رسو ل الله صلی الله علیه وسلم په بیع کې د عقد د مقتضا په خلاف له کوم شرط لګولو څخه منع کړېده پرته له دې دا یو صورت د قماردی کوم چې حرام دی فقط.

(۱) عن ابی عبیدة بن عبدالله عن ابیه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: التائب من الذنب کمن لاذنب له (سنن ابن ماجه ص: ۳۱۳ ابواب الزهد ذکر التوبة) (۲) عن عمرو بن شعیب عن ابیه عن جده ان رسول الله صلی الله علیه وسلم نهی عن بیع وشرط البیع باطل والشرط باطل الخ (المعجم الاوسط للطبرانی ۳/ ۲۱۱ باب العین من اسمه عبدالله رقم الحدیث: ۴۳۶۱ المطبوعة: دار الکتب العلمیة، بیروت، لبنان).

دژوندبیمه (دخان ذمواري) کول حرام دي

سوال : ۹۷ـ مسلمانان چي دژوندبیمه کوي اوپه یوه مقرره اندازه خپله سرمایه جمع کوي چي ورڅخه ونامسلمان قوم ونته ډیره لویه ګټه اوپرلپسي سود ورسیږي شرعًا روادی ، که نه ؟ اودغه رنګه دخواجه حسن نظامی صاحب چي ددې تائیدوکړاومسلمانانوته یې مشوره ورکړه دده مشوره ورکول دالمستشار مؤتمن(۱) په رڼاکي رواوو ، که نه ؟ (۴۸۸/ ۱۳۴۵هج)

ځواب : دژوندبیمه کول حرام اوناروادي دشرعي قاعدوسره سم په دې کي قمار اوسوددواړه شته اودواړه په قطعی نص حرام دي دبیمې په قاعدوکي چي دکوموشرطونوپه تفصیل سره یادونه شوې ده له هغوئ څخه ځرګندی دي چي هغه شرطونه دشرعي قاعدوخلاف دي اوله هغوئ څخه قماراوسودلازمیږي قال الله تعالی انماالخمروالمیسروالانصاب والازلام رجس من عمل الشیطن (سورة مائده آیت:
وقال تعالی : یاایهاالذین آمنواتقواالله وذروامابقی من الربوا ان کنتم مؤمنین فان لم تفعلوافأذنوبحرب من الله ورسوله الآ یة (سورة بقره آیت : ۲۷۸- ۲۷۹) وقال تعالی : ولاتأکلواالربوا اضعافًا مضاعفة (سورة آل عمران آیت: ۱۳۰) فقط

سوال : (۹۸) دخان اوژوندبیمه کول روادي ، که نه ؟ ددې په عامه توګه داارواج دی چي کمپنی دډاکترله کتني ورروسته دیوسړی عمرمتعین کړي اوددې سره داشرط وي چي په دومره موده کي به دومره روپۍ اداکوي دهغه وخت وپای ته له رسیدوسره هغه روپۍ بېرته ورکوي که ترمعامله کولویوساعت وروسته هم وفات شي نودومره روپۍ به ووارثانوته ورکولې کیږي (۹۷۱/ ۱۳۴۳هج)

ځواب : دژوندبیمه صحیح نه ده په دې کي ډیرشرعي تاوانونه دي چي په فکرکولوسره معلومیدای شي یوسړی یوه چاپ شوې رساله دژونددبیمې په اړه اودهغه دجوازاوناروا په اړه سوال رالیږلی دی چي ماتوله په تفصیل سره وکته اونن مي دهغه هم جواب دناروا والي لیکلی دی.

سوال : (۹۹) په اوس زمانه کي دبیمې کمپنی دژوندبیمه کوي یوڅه روپۍ دیوې معلومې مودې لپاره

(۱) عن ابی هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم المستشارمؤتمن (سنن ابی داؤدص : ۶۹۹، کتاب الادب ، باب فی المشورة).

واخلي په پای کي دکتني سره بیرته ورکوي دجندی په دغوروپیودتجارت کارکوي روپۍ ورکوونکی که له وخت څخه مخکي وفات شي نودژوندون دبیمې پوره روپۍ کمپنی دده ووارثانوته ورکوي عام مسلمانان داروابولي برخه پکي اخلي داشرعًا روادی ، که نه ؟ (۹۴۰/ ۴۲- ۱۳۴۷هج)

ځواب : دژوندبیمه کول شرعًا روانه دی اوهیڅ صورت ددې دجوازپه شریعت کي نشته په دې کي دقماراوسوددواړوحراموکارونوکول راځي الله رب العزت دې مسلمانان له داسي دشرعې په خلاف عمل څخه خوندي کړي فقط.

دمرګ بیمه کول

سوال : (۱۰۰) دمرګ بیمه کول روادي ، که نه ؟ (۱۰۹۸/ ۴۲- ۱۳۴۷هج)

ځواب : دژونداومرګ بیمه کول شرعًا حرام دي اوپه دې کي قماراوسوددواړه دي هغه دواړه شرعًا حرام دي قال الله تعالی : انماالخمروالمیسروالانصاب والازلام رجس من عمل الشیطان الایة) سورة مائده آیت : ۹۰) له دغه آیت څخه دقمار ، انصاب ، ازلام اونوروحرمت اومرداري معلوم شوپه نوروآیتونواواحد یثونوکي دسودحرمت بیان شوی دی په یوه حدیث شریف کي راغلې دي چي یودرهم دسودخوری اخستل له شپږدیرش زناووڅخه ډیربداوناوړه دی(۱) والعیاذبالله تعالی فقط.

دخان ، مال اوجائدادبیمه کول

سوال : (۱۰۱) دکوم مکان یاخپل ځان بیمه کول شرعًا صحیح دی ، که نه ؟ (۱۵۱۵/ ۴۴- ۱۳۴۵هج)

(۱)عن عبیدالله بن حنظلة غسیل الملائکة رضی الله عنهما قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم درهم ربوایاکله الرجل وهویعلم اشدمن ستة وثلاثین زنیة رواه احمدوالدارقطنی وروی البیهقی فی شعب الایمان عن ابن عباس رضی الله عنهما وزادوقال من نبت لحمة من السحت فالناراولی به (مشکوة المصابیح ص : ۲۴۵- ۲۴۶، کتاب البیوع ، باب الربو، الفصل الثالث)

ځواب: دځان اومکان بیمه کول شرعًا ناروادي اوداقماردی چي په قطعي نص حرام دی (۱) فقط والله تعالی اعلم.

سوال: (۱۰۲) خپل دکان يي ويوه سړي ته په کرايه ورکړاوهغه خپل دکان پ دي کي ولګاوواوځومره مال اوسامان چي هغهته راوړی هغه يي داوسنی. زمانې درواج شويوقاعدوسره سم په کمپنۍ بيمه کړی چي په اوراونورو که سامان وسوځل شي نودهغه بيمه به ورکوله شي اوس پوښتنه داده چي ډيردکانداران بدمعاشي کوي اودبيمي دروپيوولاس ته کولولپاره دخپل دکان مال وسوځوي ببمه حاصلوي ددوي هيڅ تاوان نه کيږي که تاوان کيږي نودمکان دمالک کيږي په داسي حال کې دمکان دمالک لپاره هم دخپل مکان بيمه کول صحيح دي ؟ ترڅوپه اورکې دسوځېدوپه صورت کې دمکان ومالک ته هم بيمه ورکوله شي که دمکان دمالک لپاره بيمه کول

(۱) بيمه په دې وجه حرامه ده چي په دې کې سوداوقماردواړه دي مخکې دژوند اودجائداد په بيموکې دادواړي خبرې به وي ،خکه حضرت مفتی صاحب دواړي ناروالیکلې دي مګراوس دژوندپه بيمه کې خودادواړه تاوانونه شته اودجائداد په بيمه کې دادواړه تاوانه نشته ،خکه لائف انشورنس (دژوندبيمه) خوحرام دی خودجائداد(موټر،دکان ، سامان اونورو) بيمه جائزده په مېډيکل اکشورنس کې که سړی دبيمی له مدې پوره کولوڅخه مخکې مړشونودبيمې روپۍ ورکول کيږی که يې دبيمي موده پوره کړه اوڅه پيښنه ونشوه نوجمع کړې روپۍ سره دسوده ورکوي نوپه دې کې سودهم دی اوقمارهم چي معلوم نه دی دبيمي روپۍ به ورکو لې شي که جمع کړې روپۍ ،خکه دژوندبيمه ناروا او دجائداددبيمي داطريقه ده چي مثلا دموټربيمه يې وکړه که دبيمي په موده کې کومه پيښنه راغله نودکړې خبرې سره سم دبيمې روپۍ ورکول کيږي چي دکمپنۍ له لورې به يودول مرسته وي اوکه موده دبيمي پوره شوه کومه پيښنه نه راغله نوجمع کړې روپۍ ولاړې نوګواکي هغه ديوې کمپنۍ دغړې اومنبرجوړېدو فيس دی اودپيښنې راتلوپه صورت کې دبيمي روپۍ دکمپنۍ له لورې مرسته ده لنډه داچي په دې کې نه قماردی اونه سود،خکه دجائدادبيمه بايدجائزشي مفتيان کرام دې وربادي فکروکړي دغه ډول کوم مال چي دډاک اونوروپه وسيله راليږل کيږي اودهغه بيمه کيږي دهغه طرفته هم دجائداددبيمې په رنګه ده په هغه کې هم نه سودورکول کيږي ،نه قمارشته بلکي دبيمي روپۍ دسيکو رټي (خوندی کولو) معاوضه ده که مال هغه مقصودي ځای ته ورسېدی نودبيمې روپۍ يعنی دخوندي کولومعاوضه ولاړه اوکه نه ورسېدی نوډاکخانه اونوردمعلوموروپيواداکولوذمواري داهم دکمپنۍ له لورې يوډول مرسته ده دمال ضمان نه دی پردې باندي دې هم مفتيان کرام فکروکړي ۱۲ سعيداحمد پالنپوری

په هيڅ حال کې صحيح نه ده ؟ (۱۳۴۵/۴۴۸هج)

ځواب: دشرعی قاعدوسره سم دځان ،يامال ،يامکان اويادکان بيمه کول داټول په قمارکې داخل دي ددې دجوازهيڅ صورت په شرعي طريقه نشته.

سوال: (۱۰۳) په آئنده کې دخوندي کولولپاره دکوم جائدادبيمه کول شرعًا جائزدی ،که نه ؟(۱۳۴۵/۷۲۹هج)

ځواب: په شريعت کې ببمه دځان يامال اوياجائدادصحيح نه ده دداسي ګټې لحاظ مه کوئ چي دشريعت دحکم په خلاف وي که قومي ګټه وي اوکه ځاني دشريعت په مقابله کې کومه ددنياګټه مخته مه ږدئ فقط.

وقف کړی جائدادبيمه کول

سوال: (۱۰۴) (الف) يووقف جائدادکه بيمه کړويعنی که دغه جائدادته له اورياطوفان څخه تاوان ورسيږي نوددې تاوان ذموارېه زيدوي چي دهغه په عوض له کاله دبيمې اجرت وزيدته ورکول کيږی داډول له کاله مزدوري ورکول روادي ،که نه

(ب) وجائدادته که له اورياسېلۍ څخه تاوان وي نوله زيدڅخه دهغه نقصان قيمت اخستل روادي اوکه نه؟ (۱۳۴۵/۷۴۷هج).

ځواب: (الف اوب) بيمه کول شرعًا ناروادي نوله کاله اجرت ورکول روانه دي اوله زيدڅخه نقصان اخستل روانه دي.

تجارتي مال چي نوروملکونوته لېږل کيږي دهغه بيمه کول

سوال: (۱۰۵) دتجارت مال چي داوبود جهاز(کښتۍ) په وسيله نوروهېوادوته لېږي دامال که بيمه کړل شي نوجهازوال داډيرخوندي کوي لکه ډاکخانې والاچي بيمه کړي پاکټونه ډيرپه حفاظت سره رسوي په دې صورت کې به دمال بيمه

کول صحیح وي او که نه ؟ (۱۳۴۵/۴۴۸هج) .

ځواب : له شرعي قاعدې سره سم داجائزنه دی ،ځکه چي پراجیرباندي دضمان شرط ناروادی کمافی الدرالمختارولایضمن ماهلک فی یده وان شرط علیه الضمان لان شرط الضمان فی الامانة باطل کالمودع الخ(۱) فقط.

(۱) الدرمع الرد(۴۵/۵) کتاب الاجارة ، مبحث اجیرالمشترک ط رشیدیه.

خبرتیا

په دغه ټوک کې چي کوموکتابونوته حوالې ورکول شوې دي هغوئ دلاندنیو کتابخانو چاپونه دي.

دکتابونونومونه	دچاپ ځای
صحاح سته	مکتبه بلال دیوبند
موطائین	//
شرح معانی الآثار	//
مشکوة شریف	کتب خانه نعیمیه دیوبند
هدایه	الامین کتابستان دیوبند
فتاوی شامی	مکتبه رشیدیه کوټه
فتاوی هندیه	دارالکتب دیوبند
بدائع الصنائع	//
شرح وقایه	//
حلبی کبیر	//
طحطاوی علی مراقی الفلاح	//
البحرالرائق	زکریابوک ډپودیوبند